# جګړه او سوله

## لومړی ټوک

لیف نیکولایوویچ تولستوی
ژباړن:
دوکتور لطیف بهاند

مسکو
۲۰۱۲

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

**کتاب پیژندنه**:

د کتاب نوم: جګړه او سوله

لیکوال: لیف نیکولایوویچ تولستوی

ژباړن: دوکتور لطیف بهاند

ټوک: لومړی

طرحه او ډیزاین: سپین سهار

خپرندوی او مالي لګښت: د میـــدان وردګـــو ولایـــت والـــي محمد حلیم فدایي

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۱ل/ ۲۰۱۲ز

د خپرونو لړ: (۳۷)

لګښت د ښې حکومتدارۍ پر بنسټ د اجراآتو بودجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

لـه نړیـوال کـاروان سـره د افغانسـتان د یوځـای کوونکـو ارمانجنو قربانیو ته: محمود طرزي ته، محمد موسی شفیق ته او زما د فلسفي زده کړو استاد پوهاند دوکتور بهاوالدین مجروح ته ډالۍ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه

وختونه د رومي، خو ويل شوې خبرې همدا سې پاتېږي.
(تولستوی)

لکه څنګه چې د دې کتاب په سريزه کې يادونه شوې ده، دا نيمګړې ژباړه زما د اوږدو کلونو د کار پايله ده.

ما د ژوند وروستي **۲۵** کاله بهر تير کړي دي.د **۱۳۹۰** کال د زمري په مياشت کې کابل ته راغلم او له هماغه وخته مې هڅه پيل کړه چې دا ستومانه او شپو ځپلې ژباړه ژر تر ژره خپره شي.

له زياتو رسمي او غير رسمي ادارو سره مې د هغه د خپرېدو خبره ياده کړه، خو له بده مرغه ، هيلو مې د بې پروايۍ په تتو تيارو کې رنګ بايلود.

که څه هم په دې برخه کې د ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل او ښاغلي داکتر خوشال روهي هڅې يوې ښې پايلې ته نږدې وې، خو په دې وخت کې ماته ګران او دغوره استعداد خاوند هارون حکيمي ، يو ښه زيری راوړ.

دا زيری داسې و:داکتر صاحب بهاند ، د ميدان او وردګو محترم والي محمد حليم فدايي دا ومنله چې دا کتاب به خپروي.

تر هغه وروسته مو له څو تنو يارانو سره يو ځای له دغه فرهنګپال والي، محترم محمد حليم فدايي سره وکتل،د کتاب په اړه يې که څه هم پوره معلومات درلودل، خو بيا مو هم د کتاب د نورو ځانګړتياو او زموږ په ژبه کې د دغه شان يو شهکار د شته والي داړتيا په اړه د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواله وکړه.

ښاغلي فدايي، په ورين تندي او خورا لېوالتيا او د زړه له کومې ډاډ راکړ چې دا کتاب به دده په بښپړې پاملرنې خپرېږي.او دادی دا کار ترسره شو.

دلته غواړم په خپل ټول احساس او د زړه له کومې له محترم محمد حليم فدايي نه ددې لوی او ځندني کار د سرته رسولو له امله مننه وکړم .هغه ته ددې کتاب د خپرېدو مبارکي ووايم ،په رسمي ژوند کې ورته د برې او په کورني ژوند کې ورته د روغتيا او نيکمرغۍ هيله وکړم.

دغه راز په دې کار کې هغه پيرزوينې هېرولی نه شم چې محترم آدم خان سيرت،ددې کتاب د خپرېدو د چارو په سرته رسولو کې د زړه له کومې تر سره کړې دي.له هغه نه هم ډېره ډېره مننه.

د خيال مرغه مو لوړ
په مينه او درنښت

دوکتور لطيف بهاند
کابل
د ۲۰۱۲ کال د جولای ۱۴ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه یادونه

فرهنګي ډيپلوماسي ،له نورو هېوادونو يا خلکو سره د اړيکو فن دی.
په دغو اړيکو کې هغه قواعد ،اصول او ارزښتونه شمېرل شو ، چې په ملي او نړيواله کچه وګړي يا يو دولت ته په فرهنګي برخه کې لارښوونه کوي.
که څه هم کېدای شي د "لائوسه" په نامه چينايي يو فيلسوف د دی لارې بنسټ ايښی وي ، خو وروسته له هغه چې امريکايي "جوزوف نای " پر ۱۹۹۰م کال د " Soft power " نرم واک ،اصطلاح په نړيوالو سياستونو کې د برې لاره ونوموله ،دغه سياست رسمي بڼه پيدا کړه او زيات پلويان يې وموندل
.اوس زياتره ملتونه ددغه واک د اغيز خبرې کوي او دا واک د فرهنګ او فرهنګي هلوځلو او فرهنګي ډيپلوماسي له لارې د خلکو زړونو ته لاره موندل او پر هغو اغيز دی.
که څه هم له پخوا زمانو راهيسې او آن د څېنو هېوادونو لپاره لا تر اوسه هم د يوه ملت د فرهنګي اوښتون او بدلون لارې، جګړه،ګواښ او دهغو لاندې کول و او دي ، خو نن سبا دا کار د نرم قدرت يا فرهنګي ډيپلوماسۍ له لارې کېږي.
نرم واک د يوه ملت خلکو ،زړه او ذهن ته لار موندل دی.د نورو هېوادونو فرهنګپيژندنه،دهغو په کړو وړو عاداتو، دود دستور ،مذهبي عقايدو او ارزښتونو پوهېدنه، او بيا د خپل فر هنګ د غوړيدا ،د خپلو ملي ګټو لپاره دهغو هنري کارونه ، اود ورځني ژوند دښکلا له هغو ګټه اخېستنه به د هر پياوړي ډيپلومات دنده وي.
په دغو کارونو کې يوه هم د عملي او رسمي ديپلوماتانو له خوا فرهنګي هلې ځلې او کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې چارو له ډلې نه ،په ديپلوماسي ژوند کې يوه غوره هغه يې،د کوربه هېوادونو د ژبو او فرهنګ زده کول او په خپلو ژبو او فرهنګ کې دهغو ليکل او يا لږ تر لږه خپلو ژبو ته دهغو راژباړل دي.

کېدای شي علامه محمود طرزی (۱۸۶۵-۱۹۳۳)زموږ د هېواد د بهرني سياست بنسټ ايښودونکی لومړنی افغان ديپلومات وي چې د نورو ملتونو د هنري او علمي آثارو د ژباړې له لارې يې دهغو ملتونو د پېژندنې او د خپل ملت د خبرتيا لپاره آګاهانه کار کړی وي.

له نيکمرغه اوس زموږ مخې ته يو شهکار پروت دی.دا د روسيې د نولسمې پېړۍ د زرينو ادبياتو له ليکل شويو آثارو نه يو اثر ، د ليف تولستوی "جګړه او سوله "رومان پښتو ژباړه ده.

دا اثر زموږ د بهرنيو چارو د وزارت د يوه فرهنګي دوکتور لطيف بهاند له خوا هغه وخت ژباړل شوی دی چې ده په روسيه کې دنده درلوده.

که لږه تر لږه د بېلګې په توګه زموږ هر ديپلومات په بهر کې د خپلو رسمي چارو په وخت کې داسې يو کار وکړي چې يا دخپل هېواد يو اثر د کوربه هېواد ژبو او يا دهغو کوم هنري يا علمي اثر زموږ ژبو ته راواړي،خورا لوی کار به شوی وي.

زه په همدې هيله ، پښتو ژبې ته ددې کتاب ژباړونکي او تر هغه وروسته خپروونکو ته مبارکي وايم او د يوې ښې فرهنګي ديپلوماسي د غوړېدو په تمه يم .

په فرهنګي لېوالتيا

جاويد لودين

د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال

(c) ketabton.com: The Digital Library



((خدایه !

ما د ډېرې په خبر ویده کړه او د ډوډۍ په خبر مې راپاڅوه ! ))
(جګړه او سوله)

# مور، جګړه او سوله

د سولې او جګړې په رومان کې؛ تاریخ ، بشر پېژندنه ، اروا پوهنه، هنر او ګروهه سره اغېزل شوې دي. د دې ستر رومان نامتو لیکوال غوښتل یو څه ووایي ، د خپل بشري چاپېریال ، الهي قدرت ، انساني اختیار او تاریخي پېښو په اړه یې خپلو تصوراتو ته د فوران لاره لټوله، نو د همدې لپاره یې د تاریخي کرکترونو ترڅنګ تخیلي کرکترونه هم رامنځته کړل او د نړۍ د ادبیاتو یو ستر شهکار یې ولیکه.
تر دې وړاندې چې تولستوی د جګړه او سوله رومان پر لیکلو پیل وکړي غوښتل یې د ۱۸۲۵ کلونو د پېښو او ناکامه وسله والو پاڅونونو په اړه یو رومان ولیکي ، دی د یادو کلونو په اړه د څېړنې پر مهال شاته ولاړ او له ۱۸۰۵ ـ ۱۸۰۲ او بیا وروسته د۱۸۱۲- ۱۸۱۳ کلونو پر پېښو واوښت ، د فرانسې په وړاندې له اتریشیانو سره یو ځای د روسانو جګړه او بیا د مسکو ترڅنګ پورې د ناپیلیون رارسېدل یې وڅېړل او د خپل رومان تاریخي بستر یې همدغه زمانه وټاکله ، تر دې وروسته یې د دې ټولو پېښو په وړاندې د روسي ملت ژوند چارې او چارچلند رابرسېره کړل او دوه درې اشرافي کورنیو ته یې د یوه ملت رول لوبول ورپه غاړه کړل. د بېلابېلو کرکترونو رواني سپړنې ، چې لیکوال یې د رواني تجربو او انګېرنو د تمثیل لپاره ټاکي او بالاخره د بېلابېلو باورنو ، فلسفي افکارو او عرفاني تړاوونو په اړه د لیکوال تصورات

(c) ketabton.com: The Digital Library



او افکار لولو ، چې د رومان په پای کې د یوه غایب متکلم له خوا ارائیه کیږي.

جګړه او سوله د فورمالیسم او ناتورالیسم د فکري قطبونو ترمنځ فضا لري ، له یو شمېر اړخونو د فاوست تراژیدۍ ته ورته دی ، موږ ګورو چې تولستوی هم د لرغوني یونان هوسبازه ( هېلن ) بیا راژوندۍ کوي ، هماغسې چې د ګویته په فاوست کې هغه د ډاکتر فاوست د تېر ایستلو لپاره دا کار کوي ، د تولستوی هېلن ( په دې متن کې د روسي تلفظ پر بنسټ ایلېن بیزاو خوف ) هماغسې چې په یوناني اساطیرو کې له پاریس سره تړای ته تښتي او د بشریت د تاریخ یوه ستره او تباه کوونکې جګړه د هغې د دغې سپکسرۍ لپاره پیښیږي ، په هماغه شان د ګویته په تراژیدۍ کې د دې لامله ګرځي ، چې ډاکتر فاوست د هغې د ترلاسه کولو لپاره خپل روح پر مفستیو ( شیطان ) باندې وپلوري ، دلته هم هېلن له پییېر سره د دې لپاره واده کوي چې د هغه له پلاره په پاتې شوې پانګه کې ورشریکه شي ، خوغریزي تلوسه یې د نورو ترغېږو پورې رسوي او د یونانۍ هېلن په څېر په یوه پردي شاه زوی زړه بایلي. پییېر چې د جګړې او پېښو په وړاندې حساس او بوخت دی د خپلې میرمنې په خیانت تر پوهېدو وروسته له رواني پلوه بدلیږي ، هېلن یو ځل بیا د هغې ښځینه اروا ننبه ( سېمبول ) ده چې ګنمبرو ښي تمایلات لري ، د هنري ـ فلسفي او ادبي تاریخ په اوږدو کې دا د رېیم یا څلورم ځل دی ، چې هېلن د همدغسې یوه ښځینه تمایل رول لري.

ددې په وړاندې ښکلې ، حساسه او شوخه پېغلوټې ( ناتاشا ) ده چې له خپل کوژدن اندرې سره له ببکچې مینې سره سره د بولهوسه اناتول په مکارۍ تیروځي او له هغه سره د مینې تارځغلوي ، ددې فریب

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایله دناتاشا دمست او خوشاله ژوند پایته رسېدل او دیوې نوې ناتاشا زیږېدل دي ، چې یوډول عرفاني افکار وته پناه وړي. دتولستوی په نارینه وو کې له همدا سې یو ې ماتې سره پییر هم مخامخ دی ، په دې توګه ګورو چې هېلن او اناتول د ناتاشا او پییر په مخامخ قطب کې دجلاد او قرباني اړیکه جوړوي.

ډیر ځله چې دجګړې د ادبیاتو په اړه خبرې کیږي نو له روسي ادبیاتو څخه خامخا دتولستوی جګړه او سوله دشولوخوف د( ارامه دن) تر څنګ یادیږي ، جګړه څنګه داشرافو ژوند بدلوي ؟ جګړه ، ویره ، اظطراب ، زړه ورتیا او سیاستونه څنګه قوانین، اخلاق، عواطف او عقاید لوبوي ؟ څنګه افراد دروحي سقوط تر څنډو رسوي؟ ټولنیز نظم تباه کوي ، دجنایت حس پیاوړی کوي او د مادي ګټو لپاره دد سیسو او چل ول استعداد پیاوړی کوي ، تولستوی غواړي دازبات کړي ، چې دخیر او شر ترمنځ دتوپیر دغه څلور ځواکونه ( عقاید ، عواطف، قوانین او اخلاق ) دکړکېچ په عصر کې ازمویل کیدای شي. دجګړې او سولې په بستر کې تولستوی یو شمېر پوښتني رامنځته کوي او بیا یې دځوابولو هڅه کوي ، ولې دهېلن پلار خپله لور ددې لپاره واده ته هڅوي چې دخپل راتلونکي زوم ( پییر ) شتمني خپله کړي ؟ خو ددې پر وړاندې یومهال چې دروستوف کورنۍ غواړي دجګړې له لاسه ښارپریږدي او وتښتي ، نوددې پرځای چې خپله شتمني له ځانه سره یوسي دټپي سرتیرو دژغورلو لپاره هڅې پیلوي او په دې توګه خپله شتمني له یوه انساني کار څخه ځاروي. ولې یوځل پییر دخپلې ټولې بدمرغۍ لامل جګړه او دجګړې سرغنه (ناپلیون) ګڼي ، دکسات اخیستنې ځواک یې راویښیږي او غواړي په یوازیتوب سره ځان ناپلیون ته ورسوي او دتاریخ دغه نامتو فاتح ووژني ، خو مخکې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې خپلې موخې ته ورسيږي ،هغه مهال د فرانسوي سرتېرو لاس ته ورځي ، چې غواړي يوه نجلۍ له مرګه وژغوري ، د دې پوښتنو او ځوابونو په کشمکش کې د تولستوی اتلان او ضد اتلان د هماغو ځلورو ځواکونو په مرسته خوځيږي. مينه او عواطف ، حرص ،دوکه او چل ول ، ملي احساسات او يوه نړيواله دښمني ، اخلاقي مکلفيتونه او له خدای سره مينه ، د سختۍ پرمهال مطلق ځواک ته غاړه ايښودل او بالاخره کسات او بښنه پر رومان حاکم دي. دا ټول په يوه نارمل او ارامه ټولنه کې نه شي تشخيصېدای ، بلکې دا د کړکيچ ، جګړې او ناورين په زمانه کې د پيژندلو وړ دي ، د همدې لپاره تولستوی د خپل عصر يوې لويې پيښې او جګړې ته پناه وړې او خپل اتلان په هماغه زمانه کې ازمويي.

تولستوی په خپلو ګڼو اتلانو کې تر عقل ورهاخوا يو شمېر نور ځواکونه هم لټوي ، د جګړو او کړکېچونو د غه معاصر ليکوال په اسانه اجازه نه شي ورکولای چې په انسانانو کې د معنويت بشپړ مرګ ووينې ، يوځای پېبر بزوخوف دې باور ته رسيږي ،چې په ناتاشا کې يو داسې وينښ ضمير شته چې د هغې تر عقلي ځواکه ورپورته دی او ځکه يې له هغې څخه يوه محبوبه څېره جوړه کړې ده ، بل ځای د جنرال کوتوزوف هغه باور ګورو چې د ناپليون پر ماته يې تر لاسه کوي ، کوتوزوف فکر کوي ، چې د روسيې خلک ، زمکه او هوا به له ناپليون څخه کسات واخلي او لښکر به يې په کنګلينو ورشوګانو کې د مرګ نظارې ته کيني. تولستوی ، که څه هم ، د بشپړ عدالت په تبليغ پسې نه دی راوتلی او د خپلو اتلانو په انځورولو کې ډېر ځله ريالیستيک چلند کوي ، پر ته له دې چې د چارولو ډراماتيک يا هم خارق العاده پرمختګ او بدلون څخه مرسته وغواړي ، خو په دې ټولو کې د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باورونو او معنوي ارزښتونو شتون نه هيروي، چې په بشپړ قوت سره دده داتلانو اروايي نړۍ تر اغيز لاندې راولي او هغوی له دننه څخه بدلوي. تولستوی په لويو پېښو کې دلويو نومونو او ځواکمنو څېرو پر ځای دخلکو په ارادې ډيره تکيه کوي. عجيبه ده ، چې دهغه ګڼ اتلان دلويو کورنيو غړي دي مګر ستري پېښې او پرمختګونه ددوی پر اوږو نه ورباروي ، دغه ستر ليکوال دخلکو اراده دحماسې اصلي محور ټاکي او په دې توګه له خپل رومانتيک او شاعرانه بيان سره سره دعاج له برج څخه راکوزيږي او دخلکو په هياهو کې دبدلون څرک لټوي ، داښايي يو لامل وي ، چې پر ۱۹۱۰ کال مړ شوی دغه ليکوال ،چې پخپله يې هم يو نيمه اشرافي ژوند درلود او په کلکه يې تر پايه خپل اعتقاد هم ساتلی و ، کلونه کلونه وروسته دکيڼ اړخه رياليستو ليکوالو او ادبپوهانو دپاملرنې اودرناوي وړ ، ولس پلوی شخصيت ګڼل شوی دی.

دې ټولو ته په کتنه ،ګورو چې، دتولستوی کار او په تيره بيا دجګړې او سولې همدغه رومان افغانانو ته، په ځانګړې توګه ، زموږ همزولي نسل ته خورا مهم دی ، موږ چې دربڼيمې لسيزې په جګړه کې زيږو ، ژوند کوو او مرو ، ايا دجګړې دداسې عالي ادبياتو دپنځولو وس لرو ؟

زموږ په جګړه کې هغه معنويت چې تولستوی يې په اړه خبرې کوي چېرته دی ؟ زموږ په چاپيريال کې دخير وشر دتوپير هغه څلور ځواکونه ( عقيده ، قانون، عواطف او اخلاق ) چېرته او څنګه دي ؟ ايا دهېڅ لپاره دخپل هېوادوال وژل ، دپورته ارزښتونو په تله څنګه تللی شو ؟ايا موږ لاتراوسه داسې نړيوال يا ملي شهکار رامنځته کړی دی ، چې ديوه جګړه مار اروايي نړۍ راوسپړي او زموږ پوښتنې ته ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووايي چې په ظاهره يو انسان ولې دومره وحشي کيږي ، چې دخپل هېوادوال پرستوني دبېرحمۍ چاړه راکاږي اوماشومان په زانګو کې يا دمور په تي پورې نښتي ووژني. دتولستوی جګړه دهېواد لپاره ده ، خو زموږ دا ؟؟؟

موږ دجګړې نسل يو ، ادبيات هم لرو ، خو ايا په ريښتينې مانا مو دجګړې داسې ادبيات پنځولي دي ،چې په نړيواله کچه لوستونکي ولري ؟دا ټولې پوښتنې هغه وخت ځوابېدلای شي ، چې زموږ ځوان ادبي کول دجګړې او سولې په ځېر شهکارونه ولولي او په دې توګه دنړيوالو ادبياتو پراخه افق ته کړکۍ پرانيزي. هغه وخت چې ځوان ليکوال ، مفکر او هنرمند پښت دا زده کړي ، چې څنګه دخپلو اتلانو اروايي نړۍ ته ننوتلای شو او دهغوی شخصيت ، کړه وړه او ان برخليک لکه موم په خپل لاس کې واخلو ، شکل ورکړو او لوستونکي ته يې په يوه هنري –ادبي تابلو کې ځای پر ځای کړو .

نور يې نو وخت دی چې موږ نړۍ ته دادبياتو پلونه جوړ کړو ، نړۍ وپيژنو او بيا ځان وروپيژنو ، دداسې پلونو جوړولو لومړۍ هڅه دلويو شهکارونو او نامتو اثارو ژباړل او دخپلو غوره اثار ورژباړل دي. په همداسې نادره او قدروړ هڅو کې يوه ډيره ممتازه هڅه دښاغلي ډاکتر بهاند همدا ژباړه ده ، چې زه ورته په خپل وارسره مبارکي وايم. استاد بهاند په پوره حوصله ، دقت او مينه دنړۍ يو ستر شهکار راپښتو کړی او څومره چې دخپلې دې ژباړې په اړه له ماسره غږيدلی دی ، دژباړې په ټول بهير کې يې دروان له اتلانو سره ژوند کړی ، دهغوی اروايي نړۍ ته ورننوتلی دی ، له هغو سره يې فکر کړی او له ښکلاوو څخه يې خوند اخيستی دی. هغه يوازې مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه نه ده کړې ، بلکې رومان یې له فکري او معنوي پلوه هضم کړی ، ذهن ته یې سپارلی ، پیغام او ارزښتونه یې پېژندلي او دادی اوس یې مونږ ته رالېږدولی دی. د استاد بهاند ژبه روانه او بهانده ده ، نوموړی افغان لوستونکي ته ناول صمیمي کړی دی او هڅه یې کړې ده، چې وچه ژباړه پرې ونه زغمي ، د همدې لپاره یې زیار او هڅه ډېر قدر او درناوي وړ ده .

غواړم د ډاکتر بهاند د همدغې سترې هڅې په زور د دې عصر لیکوال او د ژباړې صلاحیت لرونکي همزولي و ننګوم چې د سترو شهکارونو په راژباړلو سره، نړۍ ته د افغاني فرهنګ پلو نه هسک کړي ، د جګړې ادبیات را وپنځوي او په دې توګه نړیوالو ته د افغاني رنځ او درد یو داسې انځور تر مخې کېږدي چې، که زمونږ په کړاو کې یې لاس ککړ وي، و لړزیږي او ښېښنه وغواړي ، مونږ د جګړې داسې ادبیاتو ته اړتیا لرو ،چې نړیوال د افغان ولس صبر ، اراد ې او لوړ معنویت ته سلامي کړي او د همدغو افغاني ادبیاتو په ژباړلو سره د نورو ژبو ژباړونکي داسې و نازول شي ، لکه نن چې ـ ښايي ـ مونږ خپل استاد بهاند ونازوو.

په تلو تلو کې زه خپل همزولی نسل د دې ستر شهکار لوستلو او له هغه څخه خوند او پند اخیستلو ته رابولم ، چې ورته دیوه سرمشق په توګه د پر مختګ او سترې ارادې یو مشال شي او په دې توګه د افغاني ادبیاتو د نومهالي پرتم تاداو په خپلو لاسونو کېښودلای شي.

په همدې هیله او تېنګار
دا تاسو او دا هم جګړه او سوله
څېړندوی عبدالغفور لېوال
۱۳۹۱ لمریز د زمري لومړۍ نیټه
کابل - د علومو اکاډمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددې ژباړې په اړه

جګړه او سوله يو شهکار دی. دا اثر يوازې په يوه ملت پورې اړه نه لري، هغه د نړۍ لسګونو ژبو ته ژباړل شوی دی ، نو ځکه ما وغوښتل چې زما همژبي هم هغه په خپله ژبه ولولي. که هغه کټ مټ د هغه د اصلي ژبې په شان نه وي، لږ تر لږه د هغه روح او مانا زما ژبې ته راولېږدول شي.

هېڅ ژباړه يا زياتره ژباړې د اصل خوند ساتلی نه شي، دا به هم استثنا نه وي، نو ځکه وايم: ما همدومره وکړای شول، که زما کوم همژبی يې تر دې ښه کولای شي، زه هغه ته هرکلی وايم او زما ټوله تجربه او ټولې هڅې به ورسره مل وي.

دا ژباړه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۹ کال پيل شوه.

ما مخامخ ژباړه کوله ، هغه مې په کمپيوتر کې ليکله. د ۳۰۰ مخونو په شا وخوا کې و چې زما د کمپيوتر هارد دسک مات شو او هر څه تالا والا شول.

يو څه موده مې پرېښوده، خو کال نيم کال نه وروسته مې بيا پيل کړه . ماته د رانېږدې داکتر داوود جنبش، پر له پسې ټينګار او هڅونه، د ګران ايمل پسرلي دې خبرې چې هر وار به يې پوښتل: هغه ژباړه څنګه شوه؟

د ګران زرين انځور ددې خبرې له کبله چې ويل به يې: په دې حوصله به دا لوی کتاب خدازده چې وژباړل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځینو یارانو ددې خبرې یاد چې ،هغه خو په روسي نه پوهېږي،ما به زړه کې ویل:ته خو پوهېږې،دا ګز دا میدان چا دې مخه نیولې؟

زما د خپل احساس سره مل ،دې او نورو ډېرو یادونو د ژباړې په کلونو کې ملګرتیا راسره کړې ده.

دوی ټولو نه د زړه له کومې مننه کوم.

د روسیې د نولسمې پېړۍ ټول آثار ،هماغه شان چې د نړۍ ټولو ژبو ته تللي ،زموږ ژبه دې هم ویاړمنه کړي،خو په هر حال ،بیا وایم که دچا دا ژباړه خوښه نه شوه،یا تیروتنه په کې دومره زیاتې وي چې د کتاب او موضوع روح ته یې تاوان رسولی وي،دا کتاب په دې ارزي چې بیا بیا او د بېلو بېلو ژباړونکو له خوا وژباړل شي.د زیاتو هېوادونو ژباړونکو دا کار کړی.همدا کتاب بېلا بېلو ژباړونکو په وار وار خپلې ژبې ته ژباړلی دی.یا په مجموعي کې ددوی په ژبه کې د یوه غوره اثر ،ژباړه وه،خو دوی بیا ژباړلی دی.

دا اثر اصلاً ما له روسي ژبې ژباړلی دی،خو د فارسي ژبې له هغې ژباړې نه هم ګټه اخیستل شوې ده چې محترم سروش حبیبي ،کړې او پر ۱۳۷۷ کال یې په تهران کې خپره کړې ده.

دغه راز په رومان کې داسې اصطلاحات،ترکیبونه، کرښې،جملې او پرګرافونه و چې د پوهېدو لپاره یې ما د جګړې او سولې،د فلم ځنې صحنې کتلې.کولای شم ووایم چې دا فلم ما په لسګونو واره لیدلی او ځېنې صحنې یې تر دې هم زیاتې ما لیدلې دي.

ددې اثر دا پښتو ژباړه چې اوس ستاسو مخې ته پرته ده،دهغې په ژباړه کې دځینو روسي او افغاني دوستانو مرستې نه هېریدونکې دي.

په رښتیا به دا ژباړه نه واي که له ما سره په ژباړه کې،دلغتونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شننه کې، د اصطلاحاتو په سپړنه کې، د روسي دود دستور په پوهېدنه کې، ماته د ګرانې، مهرباني، خواخوږي او پر ما د زړه سواندې مېرمنې وېرې ایوانوفنا یونکینا پرله پسې مرستې او ملګرتیا نه وای.

که څه هم مېرمن یونکینا خپله د اقتصادي علومو ماستره ده، خو د روس د نولسمې پېړۍ په ادبیاتو کې پوره او هر اړخیز لاسبری لري.

هغې ته د درناوي سر ټیټوم، د زړه له کومې مننه ترې کوم، نیکمرغي، روغتیا او جنتي ژوند ورته غواړم.

په روسیه کې د افغانستان د لوی سفیر، بې ساری روښان اندي، ځیرک، هېواد پال، رښتیني او صادق، دافغانستان په مینه لېوني، ښاغلی زلمی عزیز چې د درې کلنو په اوږدو (۱۳۸۹-۱۳۸۷) کې یې په خورا قدر او مهرباني زما دا کار او دا ژباړه یادوله او زه یې په پوره دوستۍ ستایلم.زه په رښتیا او د زړه له کومې دا وایم چې په پېژندګلوۍ او دوستۍ یې ویاړم.

خو له بد مرغه همالته، په هماغه ځای کې، په هماغه سفارت کې داسې دیپلوماتان هم و، چې زما تر مخې یې زما ستاینې کولې، د سلګونو هېوادوالو تر مخې او آن په رسمي لیکونو کې یې ماته غوره ،پوه او تر ټولو ښه ویل.خو له بدمرغه زما تر شا یې نه یوازې زما په کارونو ،زما په شخصیت او زما په ناځیزه پوهې ملنډې وهلې بلکې زما د کورنۍ په نامه یې هغه څه ویل چې بازاري خلک یې هم نه وایي .دوی په دې هم بسنه نه کوله ،دوی ان زما د راتلونکو رسمي کارونو خنډ هم کېدل.که څه هم ما دا امکان درلود چې د دوی د دوه مخو چارو او پټو بدو رسوایيو او بدنامیو ډنډوري جوړې کړم، دهغو د ریا پردې وشېرم، خو بیا مې ویل، دا زما کار نه دی.(بښنه غواړم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمحقق زلمی هېوادمل د هېواد پیاوړې فرهنګي څېره، په خپله ژبه او فرهنګ مین، په هغو لومړنیو کسانو کې و چې د دغې ژبارې پیل ته یې هرکلی وو ایه او پرله پسې یې د هغې بشپړولو ته هڅولی یم او خپله فرهنګي ملګرتیا یې هېڅکله رانه سپمولې نه ده.

ښاغلی غلام سخي غیرت، بل هغه افغاني فرهنګي دیپلومات و چې په رښتیا او د زړه له کومې یې زما د دې زیار او هلو ځلو درناوی کاوه او آن په رسمي غونډو کې یې له اندازې زیات د هغه قدرداني کوله.

په هغو کسانو کې چې د دې کتاب د خپرېدو لېوال و، یو هم ګران، مهربان اسد الله دانش لالا و. هغه به تل پوښتنه او د کار څارنه به یې کوله. ژباړه چې نیمایي ته ورسېده هغه زموږ له یوه ګډ دوست نه، ماته ګران داکتر، داکتر عبدالحمید بهیج، نه هیله وکړه چې دا کتاب په وار وار سره وګوري. ګران دانش ان د جګړې او سولې، د رومان فارسي متن، محترم داکتر صاحب ته واخیست او هیله یې ترې وکړه چې په برتلیز ډول یې وګوري؛ خو داکتر صاحب بهیج د خپلو قاموسونو، خپل پیر او خپلې مینې تر منځ سرګردانه و، په هغو کې ډوب و او لا تر اوسه هم په هماغه سمندر کې ډوب دی. هغه ته د قاموس او پیر افسانه زموږ تر رومانه اوږده، خوږه او مینه ناکه وه.

په مسکو کې افغان خبریال، خبیر، ملي شخصیت، کارپوه (د هغې په رښتینې مانا سره) دوکتور علي احمد کریمي، چې تل یې د ژباړې په کلنو کې نه یوازې هڅولی او ستایلی یم بلکې د روسي ادبیاتو او فرهنګ او ژباړې په برخه کې یې خپله ټوله پوهه او تجربې را سره شریکې کړې دي.

د روسیې د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې د انستیتوت د افغانستان د څانګې د غړي رسلان سیکویف، د مسکو د دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنتون د فارسي دري ژبې ځوانه استاده او زما زده کړه تاتیانا ، د روسيې د کيروا د پوهنتون د استادې تاتيانا او د کورسکايا د ښار د پوهنتون د استادې ويکتوريا مروزوا ، چې تل به يې، نه يوازې د ژباړه په برخه کې زما پوښتنو ته خورا مفصل ځوابونه لرل بلکې زما زغم، حوصله او کار به يې ستايه.

د روسيې د علومو اکاډمۍ د ختيځ پېژندنې د انستيتوت د ادبياتو دڅانګې غړې او مشرې افغان پېژندونکې، د پښتو ادبياتو، بې سارې متخصصې داکتر الفتينا ګراسيموا ، چې تل يې زما ځينو پوښتنو ته ځوابونه لرل او وروسته يې په خورامينه زما د ژباړې د متن لوستلو ته لېوالتيا وښوده.

د مسکو د نړيوالو اړيکو د انستيتوت د محصل او د پښتو ژبې زده کړې پاول چې له مانه يې د پښتو او فارسي دري زده کړې کولې او بيا يې له ماسره ددې کتاب د ځينو لغاتو او اصطلاحاتو په مانا او شننه کې مرسته کړې ده.

زما ګران استاد ، دافغانستان او په سيمه کې د ژبپوهنې مخکښ پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار، چې د زړه له کومې يې ددې کار د بهير پوښتنه کوله او آن د يوې برخې په لوستلو کې يې مخامخ مرسته هم وکړه.

زما استاد او د معاصر نثر او کره کتنې مخکښ محترم سعدالدين چې خپل دايمي طنزې ژبې يې کاروله او تل يې ، نه يوازې د فيسبوک دکوډګر مزي له لارې د کار پوښتنه کوله بلکې د تولستوی د بل اثر ،اناکارينينا ، د ژباړې سپارښتنه يې هم کوله.

خپل ورور پوهندوي اصف بهاند چې په مينه او لېوالتيا سره يې کتاب ولوست او د پام وړ ټکو ته يې زما پام ور واړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مشره لور مینه بهاند ، چې روسي ژبه یې لکه مورنۍ هغه زده کړې او تل په دې ژبه کې زما استاده پاتې شوې.

زما زوي، مړوند بهاند چې تل یې د ژباړې پوښتنه کوله او له دې امله یې د دغه اثر انګلیسي متن وا خیست او د لومړې برخې تر لوستلو یې راته وویل: پلاره، زموږ په همژبو کې به داسې څوک وي چې د دې اثر د لوستلو حوصله ولري؟

عارف خزان، چې یو څه موده یې، د تایپ په برخه کې خپله مرسته ،زما له هلوځلو سره ملګري کړې وه.

الهام هوتکي ،سره له هغه چې د وخت اټکل هېڅ کولای نه شي او وعده یې هر ساعت یا هېرېږي او یا یې هېره وي د دې کتاب په تایپ او کله ناکله هم د ژباړې په وخت کې له خپلو مشورو نه بې برخمن کړی یم.

د روس په پترزبورګ کې فرهنګي هېوادوال او په هغه ښار کې د افغاني فرهنګ یو ډېوه لګوونکي سید الله تنهی چې تل یې د ژباړې په اړه نظر ورکړی او په وار ار یې ملګرتیا راسره کړې ده.

په روسیه کې میشت استاد داکتر رحمن الدین سراجي چې له ما سره یې د روسي ژبې په زده کړه کې مرسته کړې او په دې کار کې یې نه یوازې تل پوښتنه کړې بلکې ښه مشاور او مرستندوي پاتې شوی دی.

د روسیې په کراسنادار ښار کې میشت فرهنګپال هېوادوال ،ډګروال حسین خان چې د کتاب د کمپوز په برخه کې یې مالي مرسته کړې وه.

له څېړندوي نبي صلاحي نه چې په ورین تندي او بې پایه لېوالتیا یې دا ټول کتاب په دقت او زغم ولوست.

له حفیظ الله جلالزي نه چې په مینې یې زما هیله ومنله او د کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه وروستۍ ټوکه ولوستل.

له ټولو نه،له هر یو نه، په وار وار سره د زړه له کومې مننه کوم او دا کار ددوی د زیار او هڅو پایله ګڼم.

ددوی او له هغو کسانو نه چې لـه ماسره یې د هر یـو مرستـه،روحي ملګرتیـا او هسـې هڅـونې د کتـاب دژبـاړې یـوه سـتونزه آواره کـړې او ددې کار په بشپړولو کې ښه مرستندویان پاتې شوي د زړه له کومې:

مننه،مننه،مننه،مننه،مینه،مینه،مینه،مینه او مننه....

البته هغه کسان هم لږ نه چې زما پـه دې کـار یـې ملنډې وهلي،هغـه یې دروغ ګڼلې او په خپلو بنډارونو او بزمونو کې به یې هم پـر مـا او هم د ژباړې پر کار دټوکو او مسخرو بنډارونه تودول.

له هغو نه هم مننه ،ځکه د هغو دې کار هم پـه مـا کـې د دقت او ژور پام روحیه راپاروله.

هیله لرم دا کار ،زموږ ژبې تـه د نړیوالـو شـهکارونو د ژبـاړې د پیـل په توګه بختور وګڼل شي او هغه دوستان چې په هره بهرنۍ ژبه پـوهېږي خپلې ژبې ته یو څه راوژباړي.

په دې لاره او تکل کې ستاسو د بري په هیله

مینه،مینه،مینه

دوکتور لطیف بهاند

کابل-افغانستان

د ۲۰۱۲ کال د جولای دریمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

ددې ژباړې د سريزې لومړۍ کرښې به دهغه د ليکوال د پېژندنې نه راپیل کړم:

نوم: ليف نيکولايوويچ تولستوی

د زوکړې نېټه: د ۱۸۲۸ م کال د سپتمبر ۹مه نېټه

د زو کړې ځای: د مسکو په ۱۲۰ کيلومترۍ کې د تولا دښار ګوټې د «ياسنياپلينا» سيمه.

د مرګ نېټه: د ۱۹۱۰ کال د نوامبر ۲۰مه نېټه

د خښولو ځای :د ياسنياپلينا» په سيمه کې دده د کور ځنګل

آثار:

۱ -جګړه او سوله

۲ -آناکارنينا

۳ -قزاقان

۴ -رستاخيز

۵-ماشومتوب

۶-،زلميتوب

۷-ځواني

۸-ابليس

۹-اعترافات او د مسکو سرشمېرنه

۱۰-د ماشومانو کيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱ -شیطان او پیسې
۱۲-هنر څه ته وایي؟
۱۳-درې پوښتنې
۱۴-تش دهل
۱۵ -مېږتون او کوتره
۱۶-سپېڅلی اختر
۱۷-د مرګ سرود
۱۸ -د ایوان ایلیچ مرګ
۱۹-بېګناه محکوم
۲۰ -ارباب او نوکر
۲۱ -حاجي مراد
۲۲ -د سیوا ستوپول داستانونه
۲۳-بې پایه مینه او نورې ډېرې لیکنې .

د هغه، بشپړ نوم لیف نیکولا یوویچ تولستوی (۱۹۱۰-۱۸۲۸) دی.

روس لیکوال، متفکر، پر خپل هېواد سرښندونکی سرتیری، ګراف لیف نیکولا یوویچ تولستوی، پلارېې نیکولای تولستوی او مورېې ماریا ولکونسکي نومېدل.تر ټولو پېژندل شوی روس لیکوال، متفکر، د روسیې د سوا ستوپول د جګړو سپاهي، روښان اندی، مقاله لیکونکی، مذهبي مشر، دداسې مذهبي مقالو او نظریو لیکوالو چې په دودویزو افکارو کې د نوې لاره خاوند بلل شوی دی.

دی د کورنۍ څلورم ماشوم و.

هغه د نړۍ له ډېرو سترو رومانونو نه دیوه رومان: "جګړې او سولې "لیکوال دی. هغه دا رومان د پنځو کلو په اوږدو (-۱۸۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸۶۹) کې ولیکه. د کتاب موضوع پر روسیې د ناپلیون د یرغل د زمانې پېښې، د روسیې د څلورو بډایو کورنیو د ژوند او د دغې جګړې پر وړاندې د روسي ملت د دربدا انځورونه دي.

هغه نه یوازې د روسیې امپراتورۍ د علومو اکاډمۍ غړی (۱۸۷۳)و بلکې یو ستر ټولنیز شخصیت هم و.

د هغه کورنۍ له خورا لرغونو او بډایو روسي کورنیو نه ده.لیکوال، خپل کتاب تر لیکلو ۷ کالو وروسته په ۱۸۷۶ کال کې خپور کړ.

دا کتاب د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو په میلیونو میلیونو وګړو لوستلی او دادی څه کم تر یوې نیمې پېړۍ وروسته هم خورا بېشمېره لوستونکي لري.

تولستوی، دا کتاب د خپلې مېرمنې صوفیا اندرییونا، په مرسته، اوه ځله بیا بیا ولیکه او په هغه کې یې بدلونونه راوستل.

دې لیکوال چې د قفقاز او کریمیا په جګړو کې خپله ګډون کړی او د جګړې ټولې ترخې، خوږې او غیر انساني اړخونو یې په خپله ازمایلي او لیدلي دي ،د جګړو خورا بې ساری انځورګر ګڼل کېږي،نو له دې کبله دده د کتاب پر ځانګړتیاوو دلیکنې پروخت، کره کتونکي په دې ټینګار کوي او وایي:

"هغه یوازینی لیکوال دی چې د جګړې رښتینې څېره یې په خورا قوت په لیکنه کې انځور کړې ده. "

که څه هم په دې ستر او بې ساري کتاب کې د لیکوال معنوي نظر دا دی چې هر څه او د پېښو تقدیر له ازله په آسمانو کې دی ، خو دی بیا هم د پېښو لپاره ځمکني دلایل لټوي.

تولستوی ، په ټول کتاب کې د ایمان پر بنسټ ،دټولو هلوځلو له لارې د ایمان او خدای په لټه کې دی. هغه د ایمان له برکته د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه لټوي. هغه به ویل چې ایمان د ژوند رښتینې معنې او له هغه نه خبرتیا ده.

دهغه لپاره ایمان ژوند دی ، د ژوند قوت دی. هغه ایمان او مینه سره ومرور ل.

هغه به ویل چې د خدای قدرت ستاسو په زړه کې نغښتی دی.

تولستوی پېژندونکي ،په دې باور دي چې دده دغه نظر پر مهماتا ګاندي (۱۸۶۹-۱۹۴۸) او مارتین لوتر ګینګ (۱۹۲۹-۱۹۶۸) اغیز کړی دی.

د هغه د "جګړې او سولې "په کتاب کې پېښې پر ثوبېلا بېلو بینسټونو راچورلي:

خدای پېژندنه ،انساني فردي شخصیت ، کورنۍ او دهغه روان ،ټولنیز کړه او د هغه لوړې ژورې ،سیاسي تاریخي دریځ او دملتونو ملي غوښتنې.

دا رومان د روسیې د هغو پېښو تصویر باسي ، چې له ۱۸۰۵ کاله تر ۱۸۱۳ پورې په دې هېواد کې پېښې شوې دي.

په دې پېښو کې دوه هغه یې د روس او فرانسې سترې ،خونړۍ جګړې دي:

۱- لومړنۍ جګړه "اوسترلیڅ "نومېږي. دا جګړه پر ۱۸۰۵ کال پر روسیې د فرانسویانو له یرغله سره سم پیل شوه او فرانسویانو وګټله.د همدې برې له برکته فرانسویان د روسیې خاورې ته ننوتل او ان تر مسکو ورسېدل.

۲-دویمه ستره جګړه د "بارادینو "هغه ده.دا جګړه پر ۱۸۱۲کال د مسکو په څنډو کې پېښه شوه. په دې جګړه کې فرانسویانو ماته وخوړه او بېرته تېښتې ته اړوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې جګړو مشران: د روسيې ټولواک ،لومړي الکساندر(۱۷۷۷-۱۸۲۵) او د فرانسويانو هغه ستر ټولواک ناپليون بناپارت (۱۷۶۹-۱۸۲۱)دي.

کتاب په يوې ماښامنۍ مېلمستيا کې د اناپالوفنې په نامه د يوې درباري مېنځې له هغې خبرې نه چې د روس او فرانسې د رارسېدونکې جګړې اټکل کوي، پيل کېږي.

هغه د دوه ټولواکانو د سيالۍ،دهغو د واک دلېوالتيا ،له هغو سره دهغه د ولسونو د مينې تصوير باسي.

په کتاب کې د روس د امپراتور تصوير په بې ساري ډول ښکلی او د فرانسې هغه په بې ساري توګه کرکجن دی.

په داستان کې د اتلانو بېشمېرتوب،د ديالوګونو اوږدوالي، دهغو خوږوالي،د اتلانو بې ساري تصويرونه،د کلماتو خورا خوږه کارونه او نور ډېر ډېر هنرونه دپام وړ دي.

دا رومان ډېرو کره کتونکو ،د روسي ادبياتو د روح شعر ګڼلی دی،هغه شعر چې د وياړونو او حماسو په ښه تخليق شوی دی. د داستان د هرې کرښې په لوستلو ،لوستونکي په دې پوهېږي او دا احساسوي چې له يوه ستر انځورګره مخامخ دي.

دا ليکوال د زرګونو ښېرو ،دبېشمېره ځايونو او د زرګونو حالاتو په منځ کې ځان ته هغه ښېرې،هغه ځايونه او هغه حالات ټاکي چې په هنري ډول دده دداستان يوه غوټه ترې جوړه او بله پرې خلاصه شي.

هغه ( تولستوی) يو لوی او بې ساری انځورګر دی.هغه چې کله يو تصوير باسي،دومره دقت،دومره پاملرنه،دومره په هر اړخيزه توګه او دومره په لېوالتيا هغه انځوروي چې هر څوک فکر کوي،دا هغه څه دي چې دی يې غواړي.د ساري په توګه کله چې دی يوه ښېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځوروي، هغه نه يوازې يوه څېره، بلکې د ليکنې په وخت کې، په څېره کې سترګې، د سترګو غځوالی، د سترګو رنګ، د سترګو خبرې، د سترګو جنګ، د سترګو زاری، د سترګو ځلا، د سترګو کتل، د سترګو غلچک، د غلچکو ګوزار، په سترګو کې پراته او پټ رازونه، له سترګو راخپريدونکې کرکه، له سترګو راوريدونکې رخه، په سترګو کې ځليدونکې عاطفه، د سترګو بانه، د ښو لنډوالی، اوږدوالی، د ښو ويشتل او نور نور د ټولنيز انساني ژوند او حالاتو تصوير ايستل او دغو حالاتو ته ژوند ښنل، ټول او ټول په خورا رنګينی او مينې په پام کې ساتي.

تولستوی، چې هرڅه او هر حالات را اخلي، هغه د ټولنيز بار تر ښنلو وروسته، د خپلې عاطفې او تخيل په درياب کې لمبوي او بيا يې د کرښو غېږ ته سپاري.

تولستوی، يوازې په جګړه او سوله کې د ۵۰۰ په شا او خوا کې اتلان لري. که څه هم د هغه اتلان هر يو خپل ژوند، کړه او کرکتر لري، خو بيا هم په هنري انځورګری کې کله ناکله سره ورته برېښي.

او دا دده د هنري استعداد او تخليقي توان ننښې دي.

هماغه شان چې کله کله داسې تصور کېږي چې د نړی زياتره حماسې څه کم او زيات سره ورته دي.

د ساري په توګه د فردوسي د شاهنامې اتلان په درې ډوله دي: اساطيري، پهلواني او تاريخي.

دلته په دې داستان کې هم اتلان درې ډوله دي: يو اولسي هغه، دويم عيني اصلي او واقعي څېرې او دريمه ډله يې د تولستوی د تخيل زېږنده اتلان دي.

ماکسيم ګورکي (۱۸۲۸ - ۱۹۳۶) د دې ليکوال په هکله وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه انسان ،په رښتيا يو ستر کار ترسره کړ او دغه کارته يې ، په خورا ښکلا او صداقت ديوې پېړۍ تجربه وروښله.

لومړي نيکولای روس باچا ، ناپليون ،سردار اندرې،نيکولای رستوف ،ستر قوماندان کوتوزوف،پېير بېزاوخوف،ناتاشا رستوفه، ماريا بالکونسکايا ،اناتول کوراګين،ساده سرتيری کراتايوف او نور...هغه اتلان چې ددې رومان اصلي موضوع پرې راچورلې.

ليکوال د خپل تخليق د الهام د سرچينې په اړه په خپله وېل:

"يو څه مې په ګوګل کې لګېدلي دي،چې تر نيکۍ نه هم زيات دهغه لېواله يم،هغه پرتم او لوړوالی دی. "

ليف نيکولايوويچ تولستوی ،لا د دوو کلو و چې مور يې مړه شوه. د نهه کلو و چې پلار يې هم مړ شو.

هغه وخت د بډايانو ماشومان ،بهرنيو روزونکو چې زياتره هغه يې فرانسوي وو ، روزل.تولستوی هم د خپلوانو او بهرنيو روزونکو تر څارنې لاندې وروزل شو .

دهغه مور او پلار پنځه ماشومان درلودل.دی د کورنۍ څلورم ماشوم و.ده درې ورونه ،چې ټول تر ده نه مشران وو او يوه خور چې تر ده نه کشره وه درلوده ، لکه څنګه چې مو وويل،دده مور او پلار ددوی په ماشومتوب کې مړشول.ددوی روزنه خورا لرو خپلوانو کوله.

د تولستوی ،کورنۍ پر ١٨٣٧ کال مسکو ته راولېږدېده. دی خپله تر ١٨٤٠ کاله پورې په مسکو کې پاتې شو او وروسته چې د هغوی ترور مړه شوه،دا کورنۍ د کازان(دا ښار اوس د روسيې د تاتارستان د جمهوريت پلازمېنه ده )ښارته کډه شوه.هلته يې د پلار له پلوه بله ترور اوسيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زده کړې:

د هغه لومړنۍ ښوونکې، یوه فرانسوۍ وه.د هغې ترور ،فرانسوۍ روزونکې او د ښوونځیو ځینو نورو ښوونکو هغه ته بشپړې زده کړې ورکړې.لکه چې یادونه وشوه ،د ۱۸۴۴ کال د اکتوبر په میاشت کې تولستوی د کازان دپوهنتون د ختیځو ادبیاتو په څانګې کې لوړې زده کړې پیل کړې.

په هغه ننددارتون کې چې په دې وروستیو کلنو کې د کازان په پوهنتون کې جوړ شوی و ،دا ښودنه کوله چې تولستوی،پوهنتون ته د شاملېدو کانکور په خورا لوړه درجه تېر کړی دی.هغه هلته دهغه پوهنتون د ختیځو ژبو په څانګه کې ،د تاتار-ترکې ژبه پیل کړه.

په نوبتي ازموینو کې ددغه ځوان د روسیې د تاریخ ،د مضمون نتایج د قناعت وړ نه و ،هغه ته د دغه مضمون د تکرار سپارښتنه وشوه ، نو هغه و چې ده ځان د حقوقو پوهنځي ته بدل کړ. هلته هم دی په دې مضمون کې پاتې راغي. هغه و چې پر ۱۸۴۷ کال یې پوهنتون پرېښود.

## د ادبیاتو اولیکنو پیل:

تولستوی، د پوهنتون تر پرېښودو وروسته ،پر ۱۸۴۷ کال ،خپلې پلارنۍ سیمې ته لاړ او هلته میشت شو.

هلته یې لیکنې پیل کړې.

دغه ځوان لیکوال، له خپلو بزګرانو او نورو مزدورانو سره د حاکم او بادار پر ځای نوي اړیکي پیل کړل.او له دې سره یې هممهاله د ژان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاک روسو(۱۷۱۲-۱۷۷۸) دآثارو مطالعې ته دوام ورکړ او کرار کرار يې له تمدن سره تربګني پيل شوه.

له دې سره همهاله هغه د موسيقۍ زده کړې ،انګريزي ژبې او دحقوقو لوستلو ته دوام ورکړ.

دده خاطرات او يونليک ښيي چې ده خيريه کارونه هم کول او په ۱۸۴۹ کال کې د خوارو بزګرانو ماشومانو لپاره يو ښوونځی هم جوړ کړ.

هغه ښه پيانو غږوله او کلاسيکه موسيقي يې ډېره خوښېده.

دهغه دخوښې موزيکانت يوګين سبستيان باخ ( ۱۲۸۵ - ۱۷۵۰ ) و.

د ۱۸۵۰-۱۸۵۱ کالونو په اوږدو کې يې خپله لومړۍ کيسه ((ماشمتوب ) )وليکله. او په ۱۸۵۱ کال کې يې د ((د پرونۍ ورځې تاريخ ) )کيسه وليکله.

يو کال وروسته په ۱۸۵۲ کال تولستوی،د ورور په بلنه قفقاز ته لاړ.هغه کومه ځانګړې هدف نه درلود ، په لومړيو وختونو کې يې هلته کوم رسمي کار نه کاوه.هغه يوازې له خلکو سره کتل او خپلې څېړنې کولې.

دا هغه وخت و چې په قفقاز کې روسي پوځ په جګړې لګيا و.

تر څه مودې وروسته،هغه په روسي پوځ کې چې په قفقاز کې په جګړه بوخت و ،د تانک د قوا و غړی شو.تر پوځي روزنې وروسته يې په هغو جګړو کې ګډون وکړ.

تولستوی ، په قفقاز کې دوه کاله پاتې شو ،خو کله چې هلته د کريمسکايا ،جګړه پيل شوه، د خلکو او خاورې په نامه يې په جګړه کې ګډون ته دوام ورکړ.دی تر ۱۸۵۵ کال پورې دجګړې په ډګر کې پاتې شو. هغه په جګړې کې آن د زړورتيا او مېړانې نښان هم واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده د یوه ښه افسر نوم وګاټه.

د دغه وخت په اړه د ده خیالات د هغه د "سواستوپول کیسي" په نامه په داستانونو کې خپاره شوي دي.

تولستوی، د "ماشمتوب" تر داستانه وروسته د "زلمیتوب" او بیا "ځوانۍ" په نامه داستانونه ولیکل.

کله چې روس دا جګړه بایلوده، دی پلازمینې پترزبورګ ته لاړ او هلته د روس له خورا ښو ادیبانو سره آشنا شو.

پر ۱۸۵۶ کال یې له پوځي خدمته د تل لپاره استعفا وکړه.

څومره چې دی مشهوریده او خلکو له ده سره خواخوږي ښودله، په هماغه کچه دی له خپل شهرته ستړی کېده او دا کار ددې سبب شو چې پرته له کومه دلیله د هېواد د پرېښودو تکل وکړ.

تر دوه درې میاشتو وروسته یې اروپا ته مخ کړه. هغه په فرانسې، سویس، آلمان او ایتالیا کې له لیکوالو، پوهانو سره ولیدل او د علمي او روزنیزو مرکزونو له کار او وګړو سره یې پېژندګلوي وشوه.

۱۸۵۲ کال و چې له پترزبورګه د "سفریمنیک" په نامه خپریدونکې مجلې چې روسي لیکوال نکراسوف نیکولای الکسیوویچ (د ۱۸۲۱ د نوامبر ۲۸ – د ۱۸۷۷ د دسامبر ۲۱) هغه چلوله، د هغه د "ماشمتوب" په نامه د داستان خپرول پیل کړل.

نکراسوف، د هغه د لومړنۍ لیکنې تر لیدو وروسته وویل:

"دا یو نوی استعداد دی او خورا هیله ورته کېږي."

لیف، دا وخت کوم مسلکي، ادیب نه و. ده نه د لیکوال په توګه بلکې د وزګارۍ په وخت کې یو نیمه لیکنه کوله. هغه یو ساده محصل، معمولي هېوادوال، ښوونکی او د بېلابېلو عقایدو مطالعه کوونکي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولستوی، تر دغه وخته هېڅکله د ادبياتو په هکله کومې ځانګړې يادونې نه لري.نوموړي به تل د عقيدې، اخلاقو ،ټولنيزو اړيکو او کله ناکله هم د تاريخ په اړه خبرې کولې.

دغه استعداد ، د ۱۸۵۲ کال د سپتمبر په مياشتې کې يو ناڅاپه ټولې، روښان اندي روسيې وپېژانده.هغه دا چې د سفريمنيک، مجلې، د "ماشمتوب "په نامه دهغه يو داستان خپور کړ.که څه هم هغه له دغه داستان سره ،آن خپل بشپړ نوم هم ليکلى نه و.هغه يو ازې په مستعار ډول ليکلي و: د :ل،ن،ت. خو ډير ژر ټول لوستونکي په دې خبر او پوه شول چې دا ليکوال ليف نيکولاوويچ تولستوی دی.

هغه اروپا ته په خپل سفر کې ،په لومړي سر کې فرانسې او د هغه پلازمېنې پاريس ته لاړ.هلته د ناپليون د شخصيت لمانځنې او بې پايه ازادۍ ،حيران کړ.هغه ادبي هنري محافل،موزيمونه او کتابتونونه وکتل. په دې سفر کې يې هغه ښار هم وکوت چې ژان ژاک روسو هلته ژوند درلود.

تر لومړي سفره وروسته ، ډير ژر اروپا ته په دويم سفر ووت. هلته يې په فرانسې او جرمني کې ولسي ښوونځي ،دهغه جوړښت او روزنيز نصابونه وکتل.بيا لندن ته لاړ ، هلته يې له روسي پوهان الکساندر ايوانوويچ ګيرڅن (۱۸۱۲- ۱۸۷۰ )او پېژندل شوي ليکوال چارلز ديکنز (۱۸۱۲- ۱۸۷۰ )سره ليدنې کتنې درلودې.

کله چې بېرته روسيې ته راستون شو ، خپل يو شمېر بزګران يې ازاد کړل. ټول خلک يې سره برابر وګڼل. هغه د بزګرو او ساده خلکو د ماشومانو لپاره ښوونځي پرانستل. ده خپله او دهغه څو اشنايانو په دغو ښوونځيو کې درس ورکاوه.

تولستوی، پر ۱۸۶۲ کال د ياسنياپالينا په سيمه کې روزنيزه مجله

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوویسته.په دې مجله کې ده روزنیزه مقالې او داستانونه خپرول ،خو دده دغه هڅې هغه وخت هومره دپام وړ ونه ګرځیدې.

## کورنی:

لیف تولستوی لا د زلمیتوب له کلونو د مسکو د یوه پېژندل شوي ډاکتر له کورنۍ سره چې په ختهٔ جرمنه وه ، پېژند ګلوي درلوده.

دغې کورنۍ درې لوڼې درلودې او ده غوښتل له مشرې هغې سره چې الیزاوته، نومېده واده وکړي،خو ناڅاپه دهغه اراده بدله شوه او منځنۍ هغه یې چې صوفیا اندرییوانا(۱۹۱۹-۱۸۴۴ )نومېده ،خوښه شوه.

په دغه وخت کې تولستوی، څلور دیرش کلن و ،خو پېغله صوفیا لا د ۱۸ کاله وه.دوی چې پر ۱۸۶۲ کال واده سره وکړ،لیف تر ښځې ۱۶ کاله مشر و.

هغوی تر ډېره پورې خورا ښه او نیکمرغه ژوند درلود.

صوفیا ، نه یوازې دهغه خورا ښه ملګرې،با وفا ښځه بلکې ده ته په کار او ادبیاتو کې ښه مرستندویه هم وه.

لـه واده سـره د لیکـوال نیکمرغـي پیـل شـوه.ددغـې ښـځې دپوهې،علمي شتمنۍ او هنري ذوق له برکته،لیف تولستوی لومړی په روسیه او بیا به نړۍ کې ستر شهرت او ویاړ تر لاسه کړ ،خو ددې ټولو سره سره د تولستوی او ښځې ترمنځ اړیکي تل خواږه نه و.یو نیمه خوابدي او شخړې رامنځ ته کېدې ، شر او شور به پورته وه.

دغې نیکمرغې جوړې ، تر ډېرو کالو ګډ ژونده وروسته،ځکه ونه شو کولای خواږه ژوند ته دوام ورکړي چې تولستوی دخپل ژوند بڼه او هیلې بدلې کړې،خو سره دې هم دوی ۱۳ ماشومان درلودل.

د ۲۰۱۰ کال د خبرنو له مخې اوس د نړۍ په ۲۵ هېوادونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولستوی نه وروسته دده د کورنۍ د دویم او دریم نسل تر ۳۵۰ پاتې شونکي ژوند کوي.دده د غه لمسیان، کړوسیان او پردیان هر دوه کاله وروسته د مسکو په څنډو کې، د هغوی په بلارنۍ مېنه کې، په یاسنیا پلیانا کې راټولېږي.

دوی نه یوازې لیدنې کتنې او د زړه خواله کوي بلکې کنفرانسونه او علمي غونډې هم جوړه وي.

تولستوی، له صوفیا سره د ګډ ژوند په لومړیو لس دولسو کلنو کې "جګړه او سوله "او د "انا کارنینا "ستر رومانونو ولیکل.

د غه ستر استعداد د دغو آثارو په کرښو کې خپل نبوغ و مروړه .همدا آثار وو چې ده ته یې نړیواله پېژندنه او ویاړ ور په برخه کړ او نن یې مونږ خپلو همژبو ته وړاندې کوو.

هغه د جګړې او سولې ،رومان په ۱۸۲۵ کال کې پیل او ۱۸۲۹ کال کې یې بشپړ کړ.

لیکوال، دا وخت د ۳۶ کلونو و.د ځوانۍ ،د ښه توان او تفکر غوره شېبې.

د داستان لومړي درې برخې یې ،بر ۱۸۲۸کال په روسکي ویستنیک ،نومې مجله کې خپاره کړل.دغو برخو بې شمېره مینه وال پیدا کړل او ډېر ژر یې نورې برخې هم کرار کرار خپرې شوې.

لیکوال، په دې اثر کې د ټولنې ټول وګړي، له ساده سرتیري نه نیولې بیا تر ټولواکه پورې انځور کړي دي .

هغه ستر کشش او جاذبه چې د روسي متن په لوستنه کې لوستونکي احساسوي ،هېڅ ژباړې ته ځکه لېږدیدای نه شي چې تولستوی هغه ،د روسي روح خورا وړو ځانګړتیاو ته په پام کې لیکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې او سولې د داستان ځانګړتیاوې:

هغه اثر چې د کلونه ګوزراونه ،نه هغه زړولي شي،نه یې هېرولی شي بلکې د هرې ورځې په تېریدو سره د هغه د پرتم ویاړ لاپسې زیاتېږي.

په دې اثر کې د یوه ملت د روان ،دهغه ویاړنې او غرور او دهغو ستاینې او ویرنې ، داسې غوټه او سپړل شوي دي چې هغه یې په یو ستر نه تکراریدونکي او بې سارې اثر بدل کړی دی.

د خورا وړو غوټو سپړل ، هنري شننه او رواني ځانګړتیاوو ته په پام سره دتاریخي پېښو ، انځورونه ددې اثر غوره ننبې دي .

ځینې نورې ځانګړتیاوې داسې یادولې شو:

۱-د لیف نیکولاوویچ تولستوی دا لیکنه ،هنر،فلسفه ،تاریخ او اخلاق سره رامروړي.

۲-د روسیې او نړۍ او تر غوره نه غوره رومان دی.

۳-دا یو شاعرانه رومان دی.نثر نه دی،شعر دی.ددې کتاب لپاره باید روسی ژبه زده کړل شی.

۴ -هغه د رواني سپړنې یو بشپړ جونګ دی.

۵-هغه یو ستره،نه هېریدونکی حماسه ده.

۶-له فرانسویانو سره د روس دملت د دوو جګړو ، یوه د استرلیځ( ۱۸۰۵-۱۸۰۶ ) او بله د برادینو او مسکو ته د فرانسویانو له خوا د اور ورته کول ( ۱۸۱۳-۱۸۱۲ ) تاریخ او انځورونه دي.

۷-دا رومان له جګړې سره هممهاله د څلورو روسې کورنیو د رستوف ، بالکونسکي ، بیزاوخوف او کوراګین د ژوند بهیر دی .

۸-تولستوی اصلا د څو کالونو په اوږدو کې ددې لپاره څېړنې وکړې او مواد یې راټول کړل چې د روسیې د یوه انقلابي غورځنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیکابریستانو په اړه یو کتاب ولیکي، خو همدا مواد وروسته ددې کتاب د لیکنې اساسي سرچینې شوې.

(دیکابریستانو پر ۱۸۲۵ کال د پادشاه په وړاندې پاڅون وکړ. دغه پاڅون په کلکه وځپل شو او خپله انقلابیان سایبیریا ته وشړل شول. دا ډله ځکه د دیکابرستانو په نامه یادېږي چې هغوی د دسامبر په میاشت کې چې په روسي ژبه کې د دیکابر په نامه ده یادېږي، پاڅون کړی و.)

۹-دا کتاب لکه چې ومو ویل څوک یو شاعرانه، څوک یو تاریخ او څوک هغه یو فلسفي اثر ګڼي.

په دې اثر کې ویاړنه او رواني هڅې او لېوالتیاوې په یوه خورا هنري بڼه له عرفاني هغو سره مروړل شوي او د ښکلي هنري نثر او کولای شو وو ایو په شاعرانه انداز پېیل شوي دي.

تولستوی، د تاریخي اضدادو سپړونکی دی.

هغه په دې رومان کې هرڅه داسې انځوروي چې هر لوستونکی یې په لوستلو داسې احساسوي چې دا پېښې پر ده تیرېږي.

۱۰-سره له هغه چې دا رومان د سترو نړیوالو سیالیو، د جګړې او روسیې د طبقاتي اخ او ډب انځور دی، خو هغه تر هرڅه لومړی د ځانګړو برخلیکو او په کورني ورځنی ژوند کې د ځانګړو وګړو د مینې، ویر، غم، مینتوب، وفا، بې وفاییو په تیره بیا مېړه او ښځې، د ماشومانو او مور او پلار رواني او ورځنی بیان دی.

دغه کورنی تصویر د کتاب د دوو ښځو: ناتاشا رستوا او ماریا بالکونسکایا په څیرو کې تر ټولو نه په غوره بڼه انځورېږي.

دغه دوه نجونې، لوڼې، ښځې او میندې، سره له هغه چې په داستان او ژوند کې خورا توپیر سره لري، خو بیا هم هر یوه په خپل ډول د کورني ژوند تر ټولو غوره او په زړه پورې بېلګې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا د داستان له پیله خوشاله او لا د تنکۍ ځوانۍ نه د ټولو پام ځانته وراړوي او په بې ساري توګه مینه ناکه بریښي، خو ماریا سره له ټولې تقوا او پرهیـزه دچا مینـه او پـام ور اړولـی نـه شـی.ماریـا تـل غمجنه،آرامه، په خیالو کې ډوبه او خدای ته په زاریو کې ده.ناتاشا دیوې شېبې لپاره هم یوازې نه پاتېږي،هغه له دې سره ربړدې شوې ده چې تل دټولو ورته پام وي،ټولو ته ګرانه وي،خو ماریا ځانته وایي:

"زه تل باخاره وم،زما خوښېږي چې یوازې و اوسم،زه نه بل ژوند غواړم،نه یې غوښتی شم او نه یې هیله لرم او ځکه چې زه بل هېڅ ډول ژوند نه پېژنم. "

بلې خواتـه د ناتاشې مینـه نـاک والـی برید نـه پېژني. پـر سـردار کوراګین تر مئینیدو پورې دهغې ژوند د خوښیو یو بې پایه سمندر دی،تر هغه پورې ددې په ژوند کې داسې شېبه نه شته چې په یو چا مینه نه وي،هغه تر ډېرو سختیو او ذهني سرګردانۍ وروسته خپلې رښتینې مینې ته رسېږي.ماریا تل د خدای دربار ته ګوري او په هرڅه کې دخدای مرستې ته سترګه په لاره وی،مینه په زغم کې لټوي.که ناتاشا دښکلا او ادا ننبه ده،ماریا هم له ښکلا بې برخې ده او هم له ادا ،خو لیکوال کرار کرار هغه په داسې دوو میندو بدلوي چې په ټولنه کې یې ساری نه شته.که تولستوی په دې ټینګار کوي چې انساني رښتینې ښکلا نه په څېره بلکې د ننه په زړه کې ده. ناتاشا د ژوند په پیل کې په کراره له یوه خیاله بل او له بله بل ته دانګي ، خو ماریا تر هرڅه لومړی هر څه ، تر خدایه، بیا تر پلاره ،بیا تر بې وزلو خلکو او د ژوند په پای کې تر خپلو ماشومانو ځار کړې دي.ماریا وایي:

"که چا له ما پوښتلي وای چې په ژوند کې زه تر ټولو زیات د څه شی هیله لرم،ما به ویلي وای چې هیله لرم تر ټولو بېوزلو ،بېوزله و واسم. "

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- د دې کتاب یوه بله ځانګړتیا او پرتم د هغه په ستر والي کې دی. کتاب په څلورو ټوکونو کې خورا اوږد لیکل شوی او پښتو متن یې هم تر ۲۵۰۰ مخه اوړي.

۱۲-لیکوال د خپل اثر له ټول ستر والي سره سره موضوعات: هنري، فلسفي، خیر او شر، مرګ او ژوند. مینه او کرکه، تمدن او فرهنګ، کلی او ښار هېواد پالنه او دوکماري په خورا ماهرت انځوروي او دا کار د یوه ښه انځورګر په توګه تصویروي.

۱۳- **یو لیکوال وایي**:

جګړه او سوله د ټولې هستۍ یو داسې انځور دی چې خلک په هغه کې هرڅه: نیکمرغي، پرتم، ماتم، غم خوښي، خوشالي او حماسه موندای شي.

"سامرست موام (۱۸۷۴ - ۱۹۶۵۱۲) انګریزي لیکوال داسي وایي: " زه په دې باور یم چې تر او سه پورې، انوره دو بالزاک ( ۱۷۹۹ - ۱۸۵۰ ) د نړۍ تر تولو پېژندل شوی رومان لیکونکی دی ، خو دا هم وایم چې د تولستوی د جګړې او سولې، رومان د نړۍ تر ټولو ستر رومان دی.

زه فکر کوم داسې یو رومان چې د جګړې په اړه دومره هر اړخیز او دداسې یو کړکیچن دوران په اړه لیکل شوی وی، دومره بېشمېره اتلان ولري. پخوا تر دې لیکل شوی نه دی او ګمان کوم چې بیا به هېڅکله و نه لیکل شي. دا یې په رښتیا او پر ځای ویلي چې: «جګړه او سوله» یوه حماسه ده. "

استراخوف، روسي کره کتونکی او د تولستوی دوست ،د کتاب په اړه دا څو کرښې لري:

"جګړه او سوله، د بشري ژوند یو بشپړ تصویر دی. د هغې زمانې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسیې یو بشپړ تصویر، دهغو ټولو شیزونو یو بشپړ تصویر چې په هغو کې خلک خپله نیکمرغي، پرتم، غم او خواري پیدا کولای شي.هوکې دا جګړه او سوله ده. "

خو خپله بل نیړ وایی.پر ۱۹۰۸ کال چې د تولستوي، شهرت نړیوال شوی و ،په خپله یې د ځان په اړه په خپلو خاطراتو کې لیکلي دي: "خلکو ته زه د ایلتو له امله ګران یم ذ جګړې او سولې او نورو داسې ایلتو له امله،هغوی ته دغه ایلتې خورا غوره ځه بریښي. "

هغه د روسیې د بدو ورځو ،هغو ورځو چې فرانسې دده خاوره او سپېڅلې مېنه لاندې کړې ده،انځورګر دی ، خو د تولستوی نیکمرغي په دې کې ده چې هغه بیا د خبل هېواد د ویاړ ورځې د فرانسې ماته ، د هغې د ویاړمن لښکر ماته،دهغې د هغه امپراتور تېښته چې ټولو اروپا یې لاندې کړې وه ،هم ولیدل. او دده د کتاب تر ټولو نه غوره ویاړونه دادي، چې ده ته ګران انځورونه او دهغه ګټندوی اتلان هم دده په دې پاڼو کې انځور شوي دي.

د اتلانو ځانګړتیاوې:

که څه هم په رومان کې د ۵۰۰ اتلانو خبرې کېږي خو که په دقیقه توګه هغه وشمېرل شي،هغه د ۵۸۰ تنو په شا او خوا کې وي.د کره کتونکو د وینا له مخې ددغه شمېره،۴۰۰ یې تخیلي او ۱۸۰ تنه رښتیني او تاریخي هغه دي.

بله ځانګړتیا یې داده چې هغه ټوله روسیه په یوه رومان کې انځور کړې ده: خدای، خاوره، مېنه، ټولواک، زوکړه او مرګ، خلک، ایمان، کرکه، خیر او شر، مینه، کشش، جګړه او سوله....

د روایاتو له مخې د جګړې او سولې په رومان کې اصلي اتلان زیاتره تولستوی، دهغو کسانو له مخې انځور کړي چې ده پېژندل:با

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقوا او خدا پالونکي ماريا دخپلې مور له مخې، مشر او مېلمه پال رستوف د نيکه له مخې ،نيکولای رستوف د پلار، اندرې بالکونسکي او پيير د ځان له مخې.ددې دواړو ، هېواد پالنه ،د مرګ او ژوند پوښتنې او دده روحي او رواني حالت ته ډېر سره ورته دي.او د اتلانو په اړه نور تفسير:

۱-مشر بالکونسکي ،د ايکاترينې د زمانې ستر سردار او پوځي مشر چې د هېواد مينه يې اډونه سوځي او په ژوند کې سخت سختګير دی.

زما(بهاند )د خوښې اتل او کردار په خاوره مين، خورا بوډا ،خو سخت ځيرک ،په ژوند او په کورکې ديکتاتور ،مستبد خو د يوه پياوړی نظم پلوي، هر څه ته په شک ګوري او غواړي هر څه په خپله لاس جوړ کړي، په تيره بيا خپل هېواد ،هغه پر خپله خاوره او هېواد دلېونتوب تر کچې مين دی.سره له دې خبرو په بې ساره توګه ټوکمار دی.

۲-دهغه زوی سردار آندرې.دا ځوان ،پياوړی، مستعد ،په خاوره مين، لوړ ،دنګ، پر ټولو اشرافي ادابو پوه،زړور ،د مستبد پلار زوي، پر کار او واک مين.لږلږ پر ځان مين، مغرور.

ښځه او آرام ژوند پرېږدي او جبهې ته ځي، دده جبهه ماتې خوري ،دی ورک کېږي او پلار ته يې د مرګ خبر راځي.خو دی يوه ورځ راستنېږي ،د راسنيدو سره سم يې ښځه پر اولاد مري او دي هر څه پرېږدي.

لکه چې وويل شول، هغه په لومړي يعنې په استريليخ نومې جګړه کې چې په ۱۸۰۲-۱۸۰۵وشوه ټپي کېږي ،خو بيرته رغېږي او په دويمه هغه کې چې په ۱۸۱۲ کال کې د مسکو په برادينو نومې سيمه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشوه، داسې ټپې کېږي چې د رغېدو تمه يې نه شته.

دوه واره مينېږي. د لومړۍ جګړې په بهير کې يې ښکلې ښځه مري او کله چې له جګړې راستنېږي، په سر کې مايوسه او ژونده سترې وي، خو وروسته هغه د رستوف په لور ناتاشا چې د مينې او ښکلا غوره بېلګه او د پېغلتوب مسته ننبه ده مينېږي.

دغه مينه ناکامېږي او خپله په دويمه جګړه کې تر ټپي کېدو وروسته په دې پوهېږي چې د ژوند اصلي موخه د خدای مينه ده .

۳-او شهزادګۍ ماريا د دغه مشر سردار (بالکونسکي) لور چې خپل ټول ژوند يې له پلاره چې له مسکو لرې په خپلو بې پايه جايدادونو کې ژوند کوي، ځار کړی دی، يوه مذهبي او با ايمانه پېغله ده چې له تقوا سره سره غواړي غوره کورنۍ ولري.

هغه په څېره بدرنګه خو کوډګرې ښکلې سترګې او سپېڅلی روح لري. شپه او ورځ د پلار په چوپړ او د خدای په لمانځنه لګيا وي.

۴-ناتاشا رستوا

د ددغه رومان د شعر او مينې ژبه او د ليکوال د مينې ټول مينه ناک انځورونه دهغې د ښکلا د انځورلو او په کلماتو کې د هغو د مرورلو په چوپړ کې دي.

دهغې ښکلا کوډګره او په ليدو يې هرڅوک له حيرته ګوته په غاښ وي.

هغه د ساده مينې او پاک زړوالي او پرنورو د باور هغه څېره ده چې ليکوال د خپل دغه ستر او اوږد رومان د ښکلا مالګه کړې ده. دناتاشا هرغلچک د کوډګره او ژوند ښښونکې مينې سر چينې دي.

دهغه يو مين (پېير )خو بيا وايي چې: دهغه ځلېدونکی ضمير په هغې کې دعقل کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغې ماشمتوب او تنکی پېغلتوب د روس او فرانس د جګړې له پیل سره هممهاله دی.

هغه لومړی پر سردار اندرې مینېږی، بیا د یوه دوکه مار، جوارګر خو ښکلي ځوان اناتول کوراګین دوکه خوري. دغه دوکه دا له ژونده بیزاره کوي او دومره له ځان او خلکو نه ځان ګوښه کوي چې له ژونده په مرګ خوشاله ده او له دې چې د سردار اندرې مینې ته یې سپکاوی کړی دی ، په هېڅ ډول ځان بښلی نه شي.دا نوغی او په جګړه کې د ځوان ورور پیتیا مرګ دا په بشپړه توګه د بدمرغی منګلو ته ور ارتېږي او ښکلا یې هم دغه غم او ماتم ترې اخلي.

له دې ټولو سره هممهاله د بډای پلار دیوالي کېدل او خواری هغه بل ګوزار دی چې ددغې کورنۍ پر بدمرغیو ورزیاتېږي.

د ورور (پیتیا )مرګ د هغې مور تر لېونتوبه رسوي ، خو همدا د مور پالنه هغه دې ته هڅوي چې مور ته او د هغه له امله ژوند ته پام وکړي.

تر جګړې او دغه غمه وروسته پېیر پر دې (ناتاشا )میینېږی او دا هم د هغه مینې ته په مینه ځواب وایي. هغه ښکلا بښونکې،ژوند بښونکې او دانساني سرکشه مستۍ نښه ده چې غړېدا ، خوځېدا ، خندا ، موسکا ، کتل او آن غم یې په هر چا کوډې کوی او بې ارادې پر هغې مینېږی.

**۵**-مشر ګراف ،ایلیا اندریوویچ ،د رستوف د کورنۍ پلار، یعني دناتاشا پلار دی. یو ډوډۍمار، مېلمه پال او خورا بډای سړی دی چې ټول ژوند یې په خورا لویو بنډارونو ،مېلمستیاوو او جرګو مرکو او دخپلو جایدادونو په ساتنه او ښکار تېرېږي.

**۶**-پېیر بیزاوخوف،د روسیې د یو ستر بډای نامشروع زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی.پلار يې د زده کړو لپاره بهر ته لېږي.د پلار شتمنۍ ته يې په زرګونو خلک تمه لري،خو هغه هر څه همدې نامشروع زوی ته پرېږدي.د ميراث د تر لاسه کولو مخکې ټول هغه ته په سپکه ګوري خو کله چې ميراث تر لاسه کوي د روسيې ټول اشراف يې په ستاينو لګيا وي او د دغه خلکو ټولې پېغلې له هغه سره د واده خوبونهويني.

پېير،خورا ساده،مهربان،سخي،سربښندونکی،تل له نورو سره مرستندوی او سره له هغه چې ژوند يې په فرانسه کې کړی،د ناپيلون د وژلو تکل کوي.

هغه د کوراګين د کورنۍ له ښکلې لور ايلين سره واده کوي،خو دا واده خورا بدمرغه وي.دی له خپلې دغې ښکلې ښځې نه چې ټوله روسيه په تېره بيا اشراف دهغې د ليدو هيله لري،کرکه لرلي.د ژوند لاره ترې ورکه وي،نو هغه ده چې د فراماسون د ډلې غړی کېږي خو دهغې ډلې دغړو تمه او دوکې هم دی حيرانوي...په آخره کې له ناتاشې سره واده کوي او نيکمرغه کورنۍ جوړوي....

## ۷-**کوتوزوف**:

تولستوی دجګړې د انځورولو يو بې سارې ماهر دي.هغه په خپله جګړه ليدلې،ګډون يې په کې کړی او په ټولو لوړو ژورو يې ښه بلد دی.هغه د جګړې له وير،درد ،سوز،د بايلوده له غم او د برې له خوښۍ سره ښه آشنا دی.

داسې برېښي چې ليکوال،د کتاب د ليکلو په وخت کې د هر ډزاو چاودنې غږ.خپله اوري او هر اتل او ډارن په سترګو ويني.په هغو اتلانو کې چې دی پرې وياړي ،يو هم کوتوزوف دی.

هغه له دښمنه د خپلې خاورې ژغورونکی ،يعنې کوتوزوف داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځوروي چې په رومان کې راغلې يو شمېر زياتې ښکلې حماسې کلمې او خبرې هغه ته پيرزو کېږي، دا اتل ،دی د هغه له ټولو ځانګړتياوو سره، ښو او بدو ،ګټونکو او بايلونکو شېبو ،زړورتياوو او بې پروايي سره، چې ساری يې په تاريخ کې نه شته انځوروي.

هغه ، کوتوزوف، د پوخ ،لوړو پوړو ته رسوي، له هغه ځايه راپرزوي، قوماندانې پردي قوماندان ته سپاري ،خو بيا يې د ولس په مرسته او د امپراتور له خوښې پرته د ټول پوځ قوماندانه وي. تولستوی دلته دا په ډاګه کوي چې يوازې د خپلې خاورې بچيان خپله خاوره ژغولای شي.

تولستوی کوتوزوف د آزادۍ سردار ګڼي. کوتوزوف که څه هم ناپليون ته مسکو تسليموي او ځان د خلکو غندنو ته سپاري ،خو دی نرۍ موسکا پر شونډو وايي: "د مسکو اشغال د فرانسويانو د برې پای دی او همداسې هم کېږي. "

دا قوماندان، د فرانسويانو د تېښتې په وخت کې بيا هم نه پرېږدي چې څوک پر هغو بريد وکړي او وايي:

"هغوی هسې هم تښتي، نو زموږ ستړي پوځ ولې په داسې يرغل کې مرګ ژوبله وکړي ، هر يرغل مرګ ژوبله لري. "

هغه خپل هېواد او خلکو ته برې راوړي او د خپلې ملي دندې د سرته رسېدو وروسته په کراره مري.

آناتول کوراګين ،دولوخوف، سردار واسيلي شهزادګۍ آنا ميخاييلونا ،ساده سرتيري کراتايف او نور .... هغه څېرې دي چې په رومان کې زيات راڅرګند يږي.

تولستوی ځينې شيان د شخصيت زوال ګڼي او له هغه ډلې نه دي زندان د انساني شخصيت د سپکاوي، تباهۍ او پرزيدو ځای ګڼي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي چې هرڅه اخلاقي بڼه ولري.
تولستوی د خپلې ټولنې د هغې زمانې د تضادونو سپړونکی دی.
تولستوی له دوو شیانو ډېر وېریده: خپل نابښکلتوب او مرګ.

هغه، خپله د ځان په اړه لیکي:
"ښه پوهېدم چې ښکلی نه یم، څېره مې بدرنګه ده، ډېر ځله ناهیلی کېدم. داسې مې انګېرله چې په نړۍ کې د هغو کسانو لپاره چې داسې غټې، بدرنګې شونډې او داسې خړې برندې سترګې ولري، هېڅ ډول نیکمرغي نه شته. تل مې خدای ته زارۍ کولې چې کومه معجزه تر سره او زه ښکلی شم. زه دې ته چمتو وم، ټول هغه څه چې لرم او یا به په راتلونکې کې ولرم، هغه ورکړم او ښکلی شم".
خو هغه لا په دې نه پوهېده چې تر دې نابښکلې څېرې او غټې پوزې لاندې څه ستر معنویت او په دې خړو سترګو کې څه زړه راښکوونکې جذابیت ویده دی.
ټول روایت په یوه خوله وایي او انځورونه هم دا څرګندوي چې تولستوی، له روغتیا نه برخمن، پیاوړی او خورا حساس و. په بې پایه کشش او جذبې کې ډوب او په نه تمامېدونکې ډول یې د زده کړې او ویلو لپاره یو څه لرل. داسې څه چې نه زړېدونکي او نه تکرارېدونکي و.
څېره یې تر ببرو وېښتو لاندې وه، هغه د ګڼو وېښتو خاوند او خدای اوږدې څنې او په بې ساره توګه خورا اوږده ږېره ورکړې وه. او داسې ویل کېږي چې کېدای شي د ګڼو ورځو، جګو بڼو، او دوو بریتو او وربښمنې اوږدې ږېرې لاندې به یې د خپلې څېره کومه نیمګړتیا پټوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږ ژبي او د کوډګرۍ وينا خاوند و. ښه اروا پوه، پياوړي او ماهر ښکاري، زيار من بزګر، لوګری، آس زغلونکی او د خلکو او کورنۍ ښه خدمتګار و. په وخت او وعدې ډېر ټينګ و.

تولستوی د خپلې هغې نيمګړتيا (ناښکلتوب) د پټولو لپاره چې ده له ځانسره انګېرله، خورا ښکلي او قيمتي جامې اغوستې. هغه چې لا د معنويت ژوند نه و پيل کړي او شپه او ورځ يې، ښکلا او ښکلو پسې ورکه وه، سخت په خپل ټولنيز اشرافي دريځ نازيده. نو له همدې کړو وړو نه و چې ځېنو هغه ځانغوښتونکي ګاڼه او بد يې ترې راتلل.

هغه وروسته د کليوالو په څېر کالي اغوستل او له پرتمين ژونده يې کرکه پيدا شوه.

ټوکمار، ژور، ځيرک، د زياتې مطالعې خاوند، په هر حال لکه چې يادونه وشوه، هغه له يو بل څيزه هم ډېر ډاريده او هغه مرګ و.

***

د جګړې او سولې، رومان يو پرتم دی، يوه څوکه ده، يو هسک دی او يو ژور سمندر چې هره څپه يې يو زيری لري، يوه خوښي لري، يا خوښي يا وير يا کوم غم، خو خبره په دې کې ده چې ددې کتاب ترلوستلو وروسته دا پوښتنه پيدا کېږي چې تولستوی ددې کتاب له ليکنې نه څه موخه درلوده؟ آيا ده غوښتل يوازې د روسيې د ۱۸۰۵ – ۱۸۱۳ کلنو د پېښنو، د جګړو، د ماتو او بريو تاريخي انځور وباسي او يا هسې خپل نا آرام روح آرامه کړي؟ هغه که له يوې خوا خپل کتاب ته د جګړې او سولې نوم خوښوي، په هغه کې پر روسيې د ناپليون د پوځ يرغل انځوروي، د مسکو ماتې او سوځېدل تصويروي او بيا د ناپليون د دغې نه ماتيدونکې لښکر رسوا ماتې ښکاره کوي. له بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا د اخلاقو او ایمان درس ورکوي.دا ټول د څه لپاره دي؟

ځیني منتقدین د جګړې او سولې داستان د روسیې د اشرافو تاریخ ګڼي. هر لوستونکی په هغه کې ویني او لولي چې په دې رومان کې د روسیې د دغو بډایانو لوړ ژوند ، خواړه او خوب، کورنۍ اړیکې، مېلمستیاوې او نڅاوې، ناندرۍ او پټې مینې او په خپل مینځ کې د دغو څو کورنیو سیالۍ ښیي. دغه کورنۍ په خپله د روسیې د ټولواک، بالکونسکي، رستوف او بیزاوخوف کورنۍ دي. که سړی لږ پام وکړي د روسیې د نولسمې پېړۍ د پیل تاریخ د همدغو څو کورنیو تاریخ دی. تولستوی هڅه کوي په خورا حماسي –ادبي بڼه د دغو کورنیو د ژوند روح بیان کړي. هغه روح چې ایمان یې بایللی یا یې هېر کړی او پر روسیې د رارسېدونکي او کېدونکي بهرني یرغل له وېرې د عیش او نوش، د نڅآوو بنډارونو ، د شرابو او مینو تر پردې لاندې خپل ژوند تېروي .

بله ډله بیا وایي چې جګړه او سوله ، د روسې د ملت د ناسیونالیستي روح بیان دی. هېواد پالنه ده. د روس د ساده پوځ ویاړ دی او د روسي پوځ د قوماندانانو کوتوزوف او اندرې بالکونسکي او د دوی د ټولواک هغه پرتمین احساس دی چې ټوله اروپا باید د هغه سپېڅلوالي ته ګونډه ووهي. د همدې ناسیونالیستي روح ځانګړتیا ده چې د روسیې ټولواک الکساندر د خپل ملت لپاره د خدای سیوری، د عدالت استازی او د ملت پلار ګڼل کېږي. هلته وینو چې ټولواک الکساندر ته د روسیې پوځ، د روسیې بډایان، د هغو بزګر د یوه ستر آسماني الهام په توګه ګوري او دښمن ناپلیون ته د یو دوکه مار، ډارن، ځان غوښتونکي او شیطان په بڼه کتل کېږي. د روسیې یو ناقد په دې اړه لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"داسې برېښي چې لیکوال په دې اثر کې د روسي ملت روح لکه د انګورو د یوه وږي په توګه نښتېځلي او دخپل ملت د غرور په جام کې یې ځاځکې ځاځکې څڅولی دی . "

ده په کله کله د خلکو د حال او د ټولنې د ژوند د ښو پلټنو لپاره ځانګړې تجربې کولې، لکه دا:

هغه په هغې سرشمیرنه کې چې پر ۱۸۸۲ کال په مسکو کې تر سره شوې ګډون کړی دی.ده په دې اړه چې ولې یې په دې سرشمیرنه کې ګډون کړی لیکلي دي:

"ما ددې لپاره په دې سرشمېرنه کې ګډون وکړ چې په دې پوه شم چې په مسکو کې څه شمېر وګړي بې وزلي دي.ما هیله لرله چې یو ډول نه یو ډول له هغو سره ،که د پیسو ورکول هم وي،ددې لپاره مرسته وکړم چې په مسکو کې خوار پاتې نه شي. "

کله ناکله د کتاب د ځینو کرښو له لوستلو وروسته(دغه شان کرښې کمې هم نه دي )داسې برېښي چې تولستوی ، د روس د ملت د پرتم او هېوادپالنې هسکې څوکې ایلوي او ددغه ملت ناسیونالستي روح آسمان ته هسکوي.

په هغه کې د کوتوزف نه ماتیدونکی روح او دهغه پرتمین پرتم، په هغه کې د روس د ټولواک، د لومړي الکساندر خواخوږي ،مهرباني او د اروپا د ژغورنې ویاړ،د روس د بزګرو کلیوالو، اشرافو،اعیانو او هسې ټولو وګړو نه ماتیدونکی غرور، په هغه کې د هر فرانسوي تالانګره څېره او دوکه مار ناپلیون د بېلابېلو دوکو او ناځوانیو انځورونه ،په هغه کې د اشرافي ژوند او پر هغو د ویاړ ښکارونه ،ټول هغه څه دي چې هر یو ، دهېواد پالنې،له خدای سره د مینې، دانساني اخلاقو او بشري ښیګڼو غوره بېلګې جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب دهرې کرښې په لیکنه کې د تولستوی، ټوله عارفانه پوهه، د هغه اشرافي دریځ، د هغه ناسیونالیستی احساس چې د مشر سردار بالکونسکی په ژړاوو او د کوتوزف په زغم او له هیواد ، شاه او خدای سره د هر روس کلیوال به مینه کې نغښتل شوي دي او دده د روح په حماسې ګانه ګانل شوي دي، څنګ په څنګ دروميي او دکتاب د حماسه والي سندرې غږوي.

خو د کتاب ترلوستنی او پلتنې نه وروسته دا سې څرګندیږي چې لیکوال نه یوازې د روسي ملت هیواد پالنې، دروسي اشرافیت، دروسي نهلیزم، د روسي کلیوال ژوند بلکې دخیر او شر، دمرګ او ژوند موضوع هم د خپلو اتلانو په چارو کي لټوي او دې پوښتنو ته ځواب پیدا کوي:

ژوند څه شی دی؟مینه څه ده؟

مرګ څه شی دی؟

ولی له ژوند سره مینه او له مرګه ویره لرو ؟

ګناه څه شی دی؟او ګناه څه ده؟

له څه شی سره باید مینه ولرو او له څه شی کرکه؟

موږ د څه لپاره ژوند کوو ؟

زه څوک یم؟

هغه څوک یا څه شی دی چې نړۍ او فلک یې په فرمان چلیږي؟

او لنډه دا چې هغه موږ ته مینه را زده کوي.مینه له ټولو سره، له هغو سره چې له موږ سره مینه لري او له هغو سره چې له موږ سره کرکه کوي، مینه له دوستانو سره او مینه له دښمنانو سره، هغه څه چې خدای یې موږ ته راښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه د تولستوی لپاره جګړیزه پیاوړتیا یا د سرتیرو لړوالی یا زیاتوالی نه دی، جګړه دهغه لپاره یوازې ماتې او بري نه دي بلکې جګړه دهغه لپاره، د پراخو پرګنو روحي پیاوړتیا او د هغوی د ارادې یووالی دی.

دغه راز د جګړې ویر، دجګړې ماتم، دجګړې غم، دجګړې ورانی او تالان، دجګړې اور او ایره کول، دجګړې کرکه، دجګړې غیر انساني څېره، دجګړې دماتې ویر، دجګړې وینې او دجګړې تر تولو چور بل اړخ: دجګړې دګتلو ویاړ او غرور دا هغه څه دي چې مونږ یې دلته لولو.

هغه په دې اثر کې ربښتیاني او خیالي اتلان دواړه لري. هغه نه یوازې ددغو اتلانو ورځنی ژوند انځوروي، بلکې هغه له هغو سره د انسان، تاریخ، ژوند، شر او خیر، عدالت او انساني برخلیک په اړه عرفاني او فلسفي خبرې کوي.

د ۲۰۱۰ کال په یوې ښکلې باراني ورځې وچې نړیوالو آژانسونو خبر ورکړ:

"د روسیې د ستر لیکوال لیف تولستوی ستر شهکار جګړه او سوله د نیوزیک مجلې د نړۍ د ټولو ملتونو او دټولو زمانو تر ټولو ستر اثر غوره کړ.

ددې لیکنې له مخې دغه اثر د سلو آثارو په منځ کې لومړی ځای ګټلی دی .

ددې خبرې لامل د تاریخ په اوږدو کې پر نړیوال فرهنګ ددې اثر اغیزه او د لوستونکو زیاته لېوالتیا. "

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مرګ د سفر پیل

## ښځې ته وروستی لیک

له دې کبله ډېر خواشینی یم چې هر څه د اسې شول، خو ما احساس کړه او دا ومنه چې همداسې ده، ما وبښه چې بل ډول مې نه شو کولای.

زما حالات، نور نو په کورکې خورا نه زغمېدونکي شوي و. په دې او نورو دلایلو زه نه شم کولای په هغو شرایطو کې ژوند وکړم، په هغو خورا بدایو او خورا اصراف کوونکو شرایطو کې لکه چې تر اوسه مې ژوند کاوه.

اوس به زه خپله ټوله هڅه وکړم هسې ژوند وکړم چې ټول پاخه عمري او زما په شان زاړه وګړي یې په دود یزه او معمولي ډول کوي.

هغوی پرتمین ژوند پرېږدي. هغوي یوازې، په ارامه، په کراره او له نورو نه لرې ژوند کوي.

مهرباني وکړه، که زما له تګه خبره او پوه شوې چې زه چېرې یم، ما پسې به نه راځي. ستا دغه راتګ به ستا او زما حالات لا پسې خراب کړي، ته به راشې، خو زما په پرېکړې کې به هېڅ بدلون را نه ولي.

له تا نه د هغو ۴۸ سپېڅلو کلو ګډ ژوند چې له ما سره دې کړی دی، مننه کوم، او هیله لرم ما د هغو ټولو ګناهانو په خاطر وبښې چې ستا پر وړاندې ما ملامتوي. دغه راز زه هم تا د ټولو هغو ګناهونو له امله د زړه له کومې بښم چې تا زما پر وړاندې ملامتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاتــه مشــوره درکــوم لــه هغــو نويــو حــالاتو ســره ځــان برابــر کــړې چې زمـا تـګ بـه تـا ورسـره مخـامخ کـوي.کـه غـواړې ماتـه څـه ووايـې يـا کـوم خبـر راکړې، هغـه زمـوږ لـور ساشـا ،تـه ووايه، هغـه بـه خبـره وي چې زه چېرې يم.هغـه بـه هرڅـه چې لازمـه وي ماتـه راولېږي، خـو دا خبـره چـې زه چېـرې يـم، تاتــه ويلـی نـه شـي، ځکه هغـې لـه ماسـره ژبه کړې ده چې هېڅ چاته ونه وايي چې زه چېرې يم.

ليف تولستوی

د اکتوبر ۲۸

زمـا کـالي او خطـي نسـخې بـه ټـولې ټـولې کـړې او ماتـه بـه يـې راولېږي،ما په دې اړه لور ته ،ساشا ته سپارښتنه کړې ده.

ل.ت.

د ۱۹۱۰ کال د نوامبر په لسمه ليف تولسـتوی، خپله دا وعـده چې د خپل ژونـد وروسـتي کلونـه بـه د خپلـو عقايـدو لـه غوښـتنو سـره سم پـه کراه، يوازې او آرام ژوند کوي، پرځای کړه.

هغه له خپل.داکتر د.پ.ماکوفيڅکي ،سره مل په پټه له خپل کلي ياسنيا پلينا نه ووت.

ليکوال د ژوند وروستی مزل پيل کړ.د دوه ورځو پـه اوږدو کې لـه خپلې سيمې ووت ،هلته يې د شـاموردينو پـه سيمه کې لـه خپلې خـور ماريا تولستوی سره وکتل، همدلته يې يوه لـور الکسـاندره هـم ورسـره يو ځای شوه،دا د نوامبر ۱۳ مه وه او د کزلوفسکي ريل تمځای و.

تولستوی او ملګري په چټکۍ په رارسېدونکي ۱۲شمېره ريـل کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناستل.دا سې چټکې چې ټکټونه يې هم اخېستي نه و.ټکټونه يې په بل تمځای کې وا خيستل.که څه هم دغه سفر کومه ځانګړې موخه نه لرله،خو د هغه تکل دا و چې د نوفاچرکاس ښار ته به ځي،هلته به پاسپورت اخلي او بيا به بلغاريا ته روانېږي او که دا کار ونه شي ،نو ققفاز ته به ځي.

خو له بد مرغه په لاره کې پر تولستوی سخته تبه راځي،ناروغه کېږي او د سختې ناروغي له امله له ريل نه ښکته شي.

دا د استاپوا ،ريل تمځای و . د نوامبر شلمه نېټه وه.د دغه تمځای مشر هغه وپېژاند او دا ناروغ يې خپل کور ته يوړ.تولستوی هاملته مړ شو.د ۱۹۱۰ کال د نوامبر شلمه ورځ و.

د نوامبر په ۲۳ يې د خپل وصيت له مخې د خپل کور د باغ په څنډو کې،همالته د ياسنياپلينا په سيمه کې خښ کړ.

د هغه په ځنازه کې له رسمي چاروا کو نه چا ګډون کړی نه و او آن ويل کېږي چې مذهبي مراسم هم ترسره شوې نه دي،خو د هغې د مېرمنې صوفيا تولستوی په هغه ليک کې چې پر ۱۹۱۲ کال ليکل شوی او د ۱۹۱۳ کال د دسامبر پر ۲۲ خپور شوی راغلی دی:

"ددې په حضور کې يو مذهبي مشر د تولستوی ځنازه وکړه. "

دغه راز هغې ليکلي دي:

غواړم دا څرګنده کړم چې تر مرګ دمخه يې هېڅ کله دا هيله نه ده څرګنده کړې چې دده ځنازه دې و نه شي ،که څه هم لا پر ۱۸۸۵ کال کې يې په خپل وصيتليک کې ليکي و:

که امکان لري،خښ مې کړي،خو له ملايانو او مراسمو پرته، که دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـار د خښـوونکو لپـاره سـتونزمن او ګـران وي، نـو پرېـږدي چـې پـه معمـولي ډول مـې خښ کـړي، مګـر چـې څومره ارزان او بـې خرڅه وي، هومره به ښه وي.

## د ليکوال په اړه د نورو نړيوالو څېرو ويناوې:

ديمتيري ميريژکوفسکي:

•د هغـه څېـره دبشـريت څېـره ده.کـه د کـومې بلـې نـړۍ او سـېدونکو زمورږ له نړۍ پوښتلي واى ،ته څوک يې؟بشريت کولاى شو ،تولسـتوى ته اشاره وکړي او ځواب ورکړي: دا زه يم.

مهماتا ګاندي:

تر هرڅه نه زيات په تولستوى کې زه دې خبرې حيران کـړى يـم چـې هغه خپلې ويناوې په عمل مدللې کړې او د رښتيا پـه خـاطر يـې هـر ډول قربان زغملې ده...هغه دخپلې زمانې تر ټولو نه سپېڅلى انسـان و.د هغـه ټول ژوند پرله پسې هڅې وې، هغه د رښتيا د موندلو په هڅو کې خپـل ژوند بايلودى.

تولسـتوى هېڅکلـه دا هڅـه نـه ده کـړې چـې رښـتيا پټـه کـړي، هغـه بدله کړي، هغه پرته له هغه چې له ټولنيز او معنوي واک ته وډار شي ،له هر ډول سازشه پرته په ډاګه رښتيا غوښته.

الکساندر مان:

تولستوى لا تر اوسه هم د وجدان غږ ګڼـل کېـږي.هغـه د هغـو کسـانو لپاره يوه ستره پناه ده چې په اخلاقي معيارونو ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" وختونــه د رومي، خــو ويــل شــوې خبــرې همدا ســې پــاتېږي. " تولستوی

د کتاب څلور غوره کورنۍ:

لومړۍ کورنۍ: ، د رستوا

۱-ګراف اليا اندريوويچ، د کورنۍ پلار.

۲-ګرافينه نتاليا رستوا ، د اليا ښځه.د کورنۍ مور.

۳-ګراف نيکولای ايليچ رستوف، د کورنۍ مشر زوی.

۴-ويره الينيچنيا رستوا ، د کورنۍ مشره لور.

۵-ګراف پيتر ايليچ رستوف، پيتيا ، د کورنۍ کمکی زوی.

۶-نتاليـا رسـتوا ، د کـورنۍ کمکـۍ لـور، د انـدرې مينـه او د پيـېر دويمه ښځه.

۷-سونيا ، د ګرافينې خورځه، په دې کورنۍ کې لويه شوې ده.

۸-اندريوشه رستوف، د نيکولای زوی.

دويمه: د بالکونسکي کورنۍ:

۱-سردار نيکولای اندريوويچ بالکونسکي، مشر سردار، د روسـيې د ستري ټولواکې ايکاترينې زمانې جنرال، د کورنۍ پلار.

تولستوی، په هغه کې د مور له خوا د خپل نيکه تصوير باسي .

۲-سردار اندرې نيکولايوويچ بالکونسکي، د کورنۍ زوی.

۳-شـهزادګۍ ماريـا نيکولايـوويچ، د بالکونسـکي لـور او انـدرې خور.هغه وروسته د نيکولای رستوف سره واده وکړ.

وايي چې تولستوی، په هغې کې د خپلې مور انځور کړی دی.

۴-ليزا ، د سردار اندرې بالکونسکي لومړنۍ ښځه، چې پر ماشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(نیکولای)مړه شوه.

۵-کمکی سردار،نیکولای اندریوویچ بالکونسکي،د اندرې زوی.

دریېمه: د کوراګین کورنۍ:

۱-کوراګین واسیلي سرګیوویچ،د کورنۍ پلار،د پېیر لومړنی خسر.

۲-کوراګین اناتولي (اناتول) د کورنۍ زوی.

۳-کوراګین ایپولیت،دویم زوی.

۴-کوراګینه الینه،د واسیلي مېرمین.

۵-کراګینه ایلنا،ایلین.ګرافینه بېزاوخوفه. د پېیر لومړنۍ ښځه.

څلورمه: د بېزاوخوفې کورنۍ:

۱-ګراف کیریل ولادیمیریوویچ بېزاوخوف.د روسیې تر ټولو لوی بډای،د پېیر بېزاوف پلار.

۲-ګراف پېیر بېزاخوفُ،پیټر کیریلیوویچ.

**د ماموتوتافوفه**:

۱-مامونوتوا،کاتویشه،کاترینه سیمیونووا،د کراف بېاوخوف پېیر،خورځه.

۲-مانوتوا،ولګا،،د ګراف بېاوخوف پېیر،خورځه.

۳-مانوتوا،صوفیا،،د ګراف بېاوخوف پېیر،خورځه.

کاراګین:

۱-ژولیا، کاراګین. د ماری لوفوفنا لور.

۲-ماری لوفوفنا کاراګین.

ټولواکان:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-لومړی الکساندر، دروس څار او ټولواک.
۲-ناپلیون بناپارت،د فرانسې ټولواک.
۳-فرانس،د اتریش ټولواک.
روسی او بهرني مشر پوځیان:
۱-پتر ایوانوویچ بګراتیون.
۲-بارکلي دوتولي.
۳-بېرګ الفون کارلوویچ،د وېرې رستوې خاوند .
۴-دینیسوف واسیلي دیمتریوویچ.
۵-کوتوزوف ،میخایل ایلاریوونوویچ.
ځینې نور اتلان:
۱-ژارکوف،د کوتوزوف د سواره پوځ افسر.
۲-الین،دپاولګراد دپوځ افسر.
۳-ماک،جنرال،د اتریش د پوځ عمومي قوماندان.
۴-میشو ،ډګروال،دپترزبورګ او مسکو تر منځ استازي.
۵-نیسفیڅکي،د کوتوزوف دقوماندانې افسر.
۶-پوفول،جنرال.
۷-تلیانین،دپوځ بریدګی.
۸-تول،د استرلیځ په جګړه کې،بریدګی.
۹-توشین،د تانک دپوځ تورن.
۱۰-شوبیرت کارل بګدانیچ،دپالولګراد د غنډ افسر.
پارتیزانان:
۱-لیخاچوف،د دینسوف،د قزاقي ډلې نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-لوفايسکي، د دينيسوف، د پارتيزاني ډلې نه..
۳-تيخون شيرباتي، يو بزګر پارتيزان.

## د رومان نورې غورې څېرې:

۱-انا پاولوفنا شيرير، د روس د ملکې خورا نېږدې خورلنډه.

۲-انا ميخايلوفنا دروبڅوکيا، پخوانۍ مخوره او د لويې کورنۍ خاونده.هغه اوس خواره شوې ده او د خپل زوی باريس دربڅوکيا، غمخوري کوي.

۳-باريس دروبڅکوي، د انا ميخايلوفنا زوی.

۴-پلتون کاراتايوف، روسي ساده سرتيري.هغه له پېير بېزاو خوف سره په بنديخانه کې اشنا شوی دی.

۵-تورن توشين، د تانک د قواوو تورن.

۶-فيدر دولوخوف، د سيميونوفسکي دګارډ افسر.هغه د پارتيزاني غورځنګ مشري کوله.

۷-واسيلی ديميتريوويچ دينيسوف، د نيکولای رستوف ملګری.

۸-ماريا ديميتروفنا اخروسيووا، د رستوف د کورنۍ خورلڼه.

## د کتاب ځينې غوره ويناوې:

ټولې هغه معناوې چې سترې اغيزې لري، تل خورا ساده وي .
زموږ ښې ځانګړتياوې تل زموږ تر بدو هغو نه ،زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ته زيات تاوان رسوي.

ټولې هغه معناوي چې ستري اغيزې لري،تل خورا ساده وي .

نيكمرغه هغه څوک دی چې په خپل كوركې نيكمرغه وي.

وختونه درومي ،خو ويل شوي خبرې همدا سې پاتېږي.

ټولې نيكمرغې كورنې يو بل ته سره ورته دي،خو هر بدمرغه كورنۍ په خپل ډول بدمرغه ده.

كه ټولې جګړې د عقيدو لپاره واى ،اصلا به جګړې نه كېداى.

دا ټول ننګ او شرافت هسې خبرې دي.

-كله چې ستا ټول ژوند ،دابديت په وړاندې له يوې شېبې نه زيات نه دي،نو ولې ددغې شېبې له امله دومره عذاب په ځان زغمې؟

--هېڅ بشر نه څه موندلى او نه يې څه جوړكړى دى.موږ په هېڅ شى پوهېداى نه شو، يوازې په دې پوهېداى چې نه پوهېږو. او دا د انسانى پوهې تر ټولو لوړه پوله ده.

-زه هېڅكله نه شم كولاى دا دعوا وكړم چې حقيقت ته رسېدلى يم، هېڅوک په يوازې ځان نه شي كولاى حقيقت ته ورسېږي. هغه معبد چې د خداى د ستاينې او لمانځنې وړتيا پيدا كوي خښته په خښته لوړېږي او ودانېږي، دغه لمانځتون، له آدامه تر دې دمه، د ډېرو انسانانو په هڅو پوړ پر پوړ لوړ شوى او لا اوس هم لوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-آسماني حکمت او حقیقت لکه رانه انګبین دا سې دي چې موږ غواړو خپله تنده پرې ماته کړو، آیا موږ کولای شو، په خپل ناولي ځان کې دغه شان رانه انګبین راواخلو او قضاوت پرې وکړو؟ یوازې د خپل ځان او روح د سپېڅلتوب له لارې تر یوې اندازې پورې د دغو ځکل شویو رڼو انګبینو سپېڅلتیا وساتو.

--د دې پوهې او علم زده کړې او منلو لپاره، انسان باید خپل زړه هر ډول ناولتیا نه سپېڅلی کړي، هغه نوی کړي او ددې کار لپاره تر پوهې نه مخکې باید ایمان ولرو او د هغه د کمال هڅه وکړو. دغه ارمان ته د رسېدو لپاره، باید د خدای ځلا چې موږ یې وجدان نوموو په ځان کې ځای او ونغاړو.

-زموږ په لمانځتونو او معابدو کې د تقوا او ګمراهی د کچو او درجو نه پرته، بله درجه نه شته. هر کله که امتیاز رامنځ ته کېږي، هلته ده چې د انسانانو تر منځ د برابرۍ زړې او بنسټ رنګېږي.

-دښمنان دې ښه او له خواخوږۍ نه پرته، په بل ډول، له هغو نه غچ مه اخله. هر وخت چې په دې توګه لوړ آسماني قوانین مراعات کړې، د لرغوني پرتم ورکې شوې ښې به بیا پیدا کړې.

.-هر هغه اصلاحات چې د زور له لارې ترسره شي، هغه د درناوي وړ نه دی، ځکه تر هغه پورې چې انسانان خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاح شوي نه وي، هېڅ توان نه شي کولای د اهریمن د ناولتیاو او بدیو د مخې خنډ شي، نو ځکه عقل زور زیاتی ته اړتیا نه لري.-۱۹۲مخ

-په تاریخ کې تقدیر ته ځان سپارل د غیر منطقي پدیدو (یعنې هغه پدیده چې عقل سره اړخ نه لري) د سپړنې لپاره حتمی برېښي. څومره چې هڅه کوو د تاریخ دغه شان پدیدې د عقل په تله وتلو، په هماغه اندازه هغه زموږ لپاره غیر منطقي او ناپېژندلي پاتې کېږي.

بس همدومره

په مینه او ادبي تلوسې

دوکتور لطیف بهاند

کابل-افغانستان

د ۲۰۱۲ کال د جولای څلورمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

- ګرانه (سرداره) ! ژنیوا او لوکا ، د بناپارت د کورنۍ له شتمنیو پرته بل څه نه دي، خو په هر حال، زه غواړم لا د مخه تاسو ته ووایم ،که تاسو لا تر اوسه هم دا و نه منئ چې، جګړه را روانه ده، که تاسو نور هم ځان ته دا اجازه ورکړئ چې، د دغه بې ایمانه (زه په رښتیا په دې باور یم چې هغه بې ایمانه دی ) له هر ډول بېلا بېلو ببولالو او هر وحشت نه ملاتړ وکړئ، نور نو زه تاسو نه پېژنم، نور نو تاسو ، خپل ملګری نه شم ګڼلی، نور نو لکه هغه شان چې،تاسو یې انګېرئ، زما وفادار مریی نه یاست. ښه ده ، ښه ده. سلام ـ سلام، هر کله ـ هر کله، وینم چې زما له خبرو مو ګېڼې په زړه در ننوتـه، وډار شوئ، مهرباني وکړئ، کېنئ او د زړه خواله پیل کړئ.

د ۱۸۰۵ز.کال د جون په میاشت کې، د ملکې مارینا فېدروفنا خورا ګرانې، همرازې، مخورې، ځېرکې او نېږدې خورلنډې انا پاولوفنا په دغې یادې شوې وینا ، د خپلې مېلمستیا لومړني راغلي مېلمه او یو ډېر اغېزمن چارواکي سردار واسیلي ته، هر کلی ووایه. انا پاولوفنا ، چې له څو ورځو راهیسې ټو خېده او د دې د وینا له مخې، په والګي ـ ګریپ(ګریپ چې په هغو ورځو کې نوې کلمه وه او له څوتنو مخورو پرته، لا د بل چا په ژبه نه یادېده ) اخته شوې وه. په هغه بلنلیک یې چې په سره رنګ لیکل شوی و او نن سهار یې، بې له توپیره د ټولو مېلمنو په نامه لېږلی و ، لیکلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګران سردار ( ګرانې سردارې )که تاسو نن مابنام کوم خورا ښه څه نه لرئ او که تاسو له یوې خوارې او ناروغې سره د مابنامنۍ تېرول نه ډاروي، نو د مابنام د اوو او لسو بجو ترمنځ به ستاسو په لیدو، په بې ساري توګه خوشاله شم.
انا شیریر

نوي را رسېدلي سردار چې، ښکلې، ګنډل شوې، پرتمېنې درباري جامې یې اغوستې وې، اوږدې جورابې، سګک لرونکي بوټ یې په پښو او تېتر یې په ځلېدونکو ستورو ګاڼلی و، بې له هغه چې د کورښې، د دغه تاوده هرکلي نه ځان بایلي، په ورین تندي یې وویل:
- اې خدایه څه اورنی برید !

هغه په روانه، خوږې فرانسوي ژبې خبرې کولې. هغه ژبه چې زموږ نیکونو او غور نیکونو نه یوازې ویله، ان فکریې هم پرې کاوه. د هغه له ژبې او د کلمو له ادآ او پرتمینوالي نه داسې څرګندېده چې، د دربار او لویو مخورو کورنیو په ترانو کې رالوی شوی دی. هغه انا پاولوفنې ته ور نږدې شو، خپل خریلی، عطرجن، بې وېښتو سر یې د هغې په وړاندې ټیټ او د هغې د لاس تر ښکلولو نه وروسته، پر یوې څوکۍ ډوله کټ کېناست. بې له هغه چې خپل غږ بدل کړي، په داسې حال کې چې په سره ژبه کې یې د خواخوږۍ او نزاکت تر شا، د پېغور ښې څرګندېدې، وویل:
-ګرانې ! تر هر څه دمخه د خپلې روغتیا په هکله راته وغږېږئ، په دې اړه زما ټولو اند ښښنو ته اورونه ورته کړئ او ارام مې کړئ.
انا پاولوفنا وویل:
-کله چې د انسان روح نا ارامه وي، څنګه کېدای شي د هغه حال ښه وي؟ په دې وخت او زمانه کې آن دیوه لږ احساس لرونکی هم نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای ارامه پاتې شي. ښه ورک یې که، هیله لرم چې تر شو مه د مه پورې زما په مېلمستیا کې پاتې شئ.

سردار وویل:

- نو د انګریز د سفیر مېلمستیا به څنګه شي؟ نن خو چارشنبې ده، زه باید هلته هم ځان ور ښکاره کړم، زما لور د همدې لپاره، په ما پسې دلته راتلونکې ده، چې ما هلته له ځان سره بوزي.

- ما داسې تصور کاوه چې، د نن ورځې مېلمستیا بدله شوې ده. زه داسې انګېرم چې، دغه مېلمستیاوې او دا اورلوبې، نور نو د زغملو نه دي.

سردار واسیلي بې له هغه چې په دې ډاډه وي چې، څوک یې خبروته غوږ دي او کنه ،د کوک شوي ساعت په څېر په پرله پسې توګه غږېده او ویل یې:

-که په رښتیا سره چا دا تصور کولای شو ،چې تاسو د هغې مېلمستیا د ځنډولو هیله مند یاستئ ،چا به په هغه کې بې خیالي نه وای کړې.

-نور مې نو مه ځوروئ، تاسو خو په هر څه خبر یاست،دا راته ووایاست چې، د نوواسېلڅووف د یادښتونو په اړه مو څه پرېکړه وکړه؟

سردار په غملړلي او خواشیني غږ وویل:

- څنګه یې درته ووایم؟چې څه پرېکړه یې کړې ده، هغوی دا جاج اخیستی دی چې، بناپارت خپلو ببړېیو ته اور ورته کړي او زه داسې انګېرم چې، موږ هم چمتو یو ، خپلو هغو ته اور ورته کړو (یانې خپله لاره یې خپله بنده کړې ده ).

سردار واسیلي،تل دیوه خورا ښه لوبغاړي په څېر چې کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرغوني ننداره لوبوي، په ډېرخير، پام او ارامتيا خبرې کوي، مګر اناپاولوفنا شيرير، سره له هغه چې د څلوېښت کلنۍ خونه يې رنګه کړې وه، اوس هم لکه د اور سرکشه لمبه، له شور او خوځېدا نه ډکه وه او د پاوليوو نه د ډک مړوند په شان شرنګها يې کوله.

له شور او خوځېدا نه ډکوالي ښودنه، د اناپاولوفنې د ټولنيز دريځ يوه برخه وه،ان، هغه وخت چې دې د دغه شان ښودنې تکل هم نه لاره، ددې لپاره چې ديارانو او اشنايانو دخوښۍ سره سمه وي، هغې به دغه شان شر او شورجوړا وه.

د اناپاولوفنا پر شونډو وېده موسکا ، چې پرله پسې به ددې پر شونډو راويښېده او راخورېده،که څه هم دهغې عمر وهلې څېره سره اړخ نه لګاوه،که څه هم هغه په خپلې دغې نيمګړتيا ښه پوهېده ،خو هغې هم دنازولي ماشوم په څېر چې دخپلو نازونو په نيمګړتيا پوهېږي ،خو نه غواړي،يا نه شي کولای، له هغه نه لاس واخلي ،له هغې نه لاس نه اخيست.

.د تودو مرکو په لړکې چې، خبره سياست ته ورسېده، اناپاولوفنې اور واخيست او سره لمبه شوه:

- اوف نور نو د اتريش نوم مه راته ياده وي.که څه هم په سياست زما سر نه خلاصېږي، مګر اتريش هېڅکله جګړه نه غوښتله او اوس يې هم نه غواړي. هغه موږ ته خيانت کوي. روسيه بايد په يوازې ځان د اروپا ژغورونکې وي.زموږ مشري په خپل دې لوړ دريځ پوهېږي او هغه ته به وفامنه وي. دا هغه يوازيني څه دي چې، زه پرې ګروهمنه (عقېدمنه ) يمه. زموږ مهربان، پاک نيته او خيرخواه ټولواک ته د نړۍ تر ټولو لوی پور او ونډه ور په برخه شوې ده. هغه دومره پوه او خير غوښتونکی دی چې، خدای به هغه هېڅکله. ددغه انقلاب او د هغه د اوه سري مار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژلو کې چې، د ولسونو په وژلو يې د وحشت ننداره جوړه کړې ده، يوازې پرېښوېږدي. يوازې موږ يو چې، بايد د وينو غچ او پور واخلو. اوس له تاسو پوښتنه کوم: څنګه او چاته کولای شو، په تمه شوو؟ انګلستان ته ! هغه په خپل سوداګر طبيعت، نه پوهېږي او نه کولای شي، د ټولواک الکساندر د روح په پرتم پوه شي. هغه د مالتا په ماتې کې نندارچي پاتې شو. انګلستان غواړي لاس تر زنې نندارچي پاتې شي او د سياسي کړو او راکړې ورکړې تر شا، خپلې پټې اند ښښنې ولټوي. هغوی نووا سيلځووف ته څه وويل؟ هېڅ، هغوی په هېڅ پوه نه شول. هغوی نه شي کولای، په دې پوه شي چې، زموږ ټولواک د ځان لپاره هېڅ نه غواړي، هغوی دا نه شي درک کولای چې، زموږ د ټولواک ټوله سرښندنه، د نړۍ د ژغورنې او د خلکو له نيکمرغۍ پرته بل څه نه دي. هغوی څه ژبه وکړه؟ هېڅ، هغوی چې څه وعدې هم وکړې، هغو ته يې درناوي ونه کړ. پروس خو لا د مخې دا منلې چې بناپارت نه ايليدونکی او ان ټوله اروپا هم نه شي کولای، د هغه په وړاندې ودرېږي. زه اوس په دې برخه کې د هېچا په کړو او خبرو باور او ايمان نه لرم. د پروس دا تش په نوم ناپېيلتوب چې اوس... ټول د هغه په اړه ډنډورې غږوي، له دامه پرته بل څه نه دي. زه يوازې په خدای او تر هغه وروسته پر خپل مهربانه او ګران ټولواک، د هغه پر بختور برخليک او روڼ تندي ايمان لرم. زه ايمان لرم چې هغه به اروپا وژغوري.

هغه ناڅاپه چپه شوه. په يوې موسکايې په خپلو تېرو اورنيو خبرو ملنډې ووهلې او پر خپل اورني طبيعت يې ولکه ټينګه کړه..

سردار وخندل او وې ويل:

- زه داسې انګېرم، که زموږ د مهربان او ګران شهزاده، پر ځای يې تاسو لېږلې وای، ،تاسو به په خپلو دې خوږو خبرو دا توان لرلای چې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مور سره د يوځای کېدو لپاره د پروس د پاچا خوښه د سترګو په رپ کې تر لاسه کړئ؟ هو ،تاسو که ماته يوه پياله چای راوړئ.

- سمدلاسه.

هغې هغه کوله ببرته کراري او ارامي خپله کړي،هغې وويل:

- رښتيا نن ،ماته ،دلته دوه خورا په زړه پورې،مخور راځي.د هغو نه يو تن،سردار مورتيمار نومېږي(چې د فرانسې د يوې خورا مخورې کورنۍ چې د مونورانتۍ له لارې د دروګانونو کورنۍ ته رسېږي) وينه لري.هغه له هغو ښو او ډاډ ور کډوالو له ډلې دی او بل هغه ابات موريوو ،تاسو خو د هغه د بې ساري هوښيارتيا په اړه اورېدلي دي؟ خبرياست ! هغه ټولو اک هم خپل حضور ته منلی و ،هرومرو به مو اورېدلي وي.

سردار وويل:

- عجيبه ده ،ډېر به خوشاله شم.

او زياته يې کړه:

- وواياست.

دا يې داسې وويل ته به وايې چې همدا اوس کوم څه ورياد شوي وي.داسې چې ګواکې هغه څه چې ده يې پوښتنه وکړه، دې ځای ته د ده د راتګ اصلی هدف وي.

سردار وويل:

-ګوره دا رښتيا ده چې مورملکه هيله لري او سپارښتنه يې کړې ده چې، بارون فونکه ،په وين، کې د لومړي سکرتر په توګه وټاکل شي؟ هغه خو يو ډېرنالايق سړی دی.

سردار واسيلي هڅه کوله،همدا ځای چې ډېرو ،د اعليحضرتې ماريانا فيدروفنا ،له لارې بارون ته،دهغه د ورکولو هلې ځلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې، خپل زوی ته تر لاسه کړي.
انا پاولوفنا، خپلې سترګې او بانه په ناز وترل.دهغې دې اداء، دا مانا لرله چې، نه دا په خپله، دا علیحضرت ټولواک، دتکل او ذوق دتللو سیاله ده او نه بل څوک ددې په کچه بولي چې. دهغه په اړه وغږیږي، خو هغې په غمجن او ساړه غږ وویل:
-ښاغلیه ! بارون فونکه، اعلیحضرت ټولواکې ملکې ته د هغه د خور له خوا دټاکنې لپاره وریاد شوی دی او همدا چې، د اعلیحضرت ملکې مور نوم یې پر شونډو شو، دهر وار په څېر یې چې د اعلیحضرتې نوم یادوه، دا وار یې هم د یوې بې پایه، رښتینې او ژور درناوې او سر ښندنې نښې په څېره کې را څرګند شوې او د هر بل چا په څېر چې، دخپل بادار یا خاوند یادونه کوي، په دې هم دغم دوړو لمن وغوړوله او وې ویل:
- علیاحضرتې هیله څرګنده کړه چې، بارون فونکه ته خواخوږي څرګنده شي.
تر دې خبرې وروسته یې بیا دغم سیوری پر سترګو راخور شو.
سردار په بې پروایئ، چوپتیا غوره کړه. انا پاولوفنا په خپل ځانګړي ښځینه ظرافت او نازکخیالۍ چې، د درباریانو ځانګړتیا وي ،هیله لرله چې، له یو پلو، د شهزاده پام له اعلحضرتې سره د هغه دخبرو د تون او له هغې سره دخبرو د ادابو نه د سرغړونې ګناه ته ور واړوي او له بله پلوه، هغه ارام کړي، خو له دې سره سره یې په خواخوږۍ وویل:
- رښتیا که ستاسو دکورنۍ په اړه درته ووایم، له هغه وخته چې ستاسو لور، بنداړونو ته تګ راتګ پیل کړی دی، ټول یې په خپلو کړو او ښکلا میئن کړي دي، هغه خبره سمه ده چې خلک وایي، هغه پر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه لمر داسې ځلېږي.

سردار، دمينې او مننې په ښه دهغې پر وړاندې ددرناوي سر ټيټ کړ.

انا پاولوفنا، تر يوې لنډې چوپتيا وروسته نوره هم سردارته ور نېږدې شوه، په يوې مينه ناکې موسکا سره يې چې، پر شونډو خوره وه، په دې پلمه چې د اعيانو په مېلمستياوو کې نور نو سياسي خبرې اترې او مرکې پای ته رسېدلي او اوس د خوږو خبرو، ټوکو ټکالو او د زړه خوالې وخت دی، داسې دوام ورکړ:

- زه زياتره داسې فکر کوم چې، ځينې وختونه د خدای دبندګانو تر منځ د نيکمرغۍ او برياليتوب د وېش په وخت کې بې انصافي شوې وي. د ساري په توګه، ولې تقدير تاسو ته داسې دوه ښکلي، خواږه او ښايسته ماشومان در په برخه کړي دي. وروسته يې خپلې وروځې پورته واچولې او په غوځه يې وويل:

-ستاسو کشر زوی اناتولي يادوم، هغه زما نه خوښېږي، ولې نه پوهېږم چې، څنګه خدای تاته داسې ښايسته زوی درکاوه؟ هوـهو، دا دلمر په شان ښکاره خبره ده، حال دا چې تاسو د هغه په قدر نه پوهېږئ، نو له دې امله، د هغو ددرلودلو وړتيا نه لرئ.

ددې خبرو له پای ته رسېدو سره سم يې په څېره کې خوښي او پر شونډو د شور او مستۍ، موسکا خوره شوه.

سردار، وويل څه وکړم؟ که لافاتر(د سويس داتلسمې پېړۍ روحاني شاعر) ژوندی وای، ويلي به يې و:

- زما پر تندي د پلرولۍ نښې ليکل شوي نه دي.

اناپاولوفنا، بيا خبرې پيل کړې او وې ويل:

-ښه ده، راځئ ټوکې پرېږدئ، غواړم له تاسو سره څو ډانګ پېښلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې وکړم، پوهېږئ ستاسو دکشر زوی له لاسه مې لړمون خوړین دی.خبره دې زما او ستا ترمنځ وي(بیا یې پر څېرې دغم دوړې راکنډک شوې )دعلیاحضرتې په حضور کې ،دهغه په اړه دخواخوږی او ستاسو په ګټه څه یادونې شوې دي.

سردار چې چپه خوله او تریو تندی ناست و، هېڅ یې نه ویل. اناپاولوفنا هم چپه پاتې شوه، خوخبریال غلچک یې پر هغه سترګې خښې کړې او ځواب ته سترګې په لاره وي.

-تاسو څه غواړي؟زه څه وکړم؟ما دیوه پلار په څېر هرهغه څه چې مې له لاسه کېږي،د هغو د روزنې لپاره کړي دي،مګر دهغو دواړو نه هسې یابوګان جوړ شول، خو ددوی په منځ کې تو پیر دادي چې ایپولیت ،ارام یابو دی او اناتولي،مست یابو.

هغه چې له اندازې لوړه او بې خونده موسکا کوله،خوله یې جینګه او دخندا وړ ګرځېدلې وه، دوام یې ورکړ:

-دهغو ټول تو پیر همدا و چې درته ومې ویل.

له دې خبرو سره یې یو ځای ګونځو دهغې له خولې نه غېږ.تاو کړه، تندی او څېره یې لا پسې خواشینې او دنه زغم کړل.

اناپاولوفنا ،په خیالو کې ډوبه شوه ،په داسې حال کې چې سترګې یې وغړولې،هغه ته یې ور واړولې او وې ویل:

-د تاسو په شان کسان ولې پلار برېږي؟ که تاسو پلار نه وای ،مابه نه شو کولای په تاسو کې کومه نیمګړتیا پیدا کړم.

-زه ستاسو مریي یم اوکولې شم، یوازې تاسو ته دزړه له کومې ووایم چې، زما ماشومان ،زما په غاړه کې ځنځیر او زولنې دي. دوی زما د ګناهانو هغه صلیب دی چې، باید په غاړه یې وګرځوم، هو زه خپل زړه ته همداسې وایم، څه وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې خبرو نه وروسته چپ شو او په یو خوځون یې د خپل تریخ تقدیر تسلیمي څرګنده کړه.

اناپاولوفنا چې چرتونو اخیستې وه، وې ویل:

تاسو کله خپل دې بې لارې زوی، اناتولي ته د واده کولو ،فکر نه دی کړی؟ وایي چې زړې پېغلې نورو ته دواده کولو ناروغي لري، هغې زیاته کړه:

-که څه هم ما دا ناروغي لا احساس کړې نه ده، خو یوه داسې پېغله پېژنم چې، د پلار په کورکې،ډېره بد مرغې ده، هغه د بالکونسکي دکورنۍ یوه شهزادګۍ ده او له مورې سره خپلوي لري.

سردار واسیلي بې له هغه چې ځواب ورکړي، په خپلې ځیرکتیا او پیاوړې حافظې سره چې، د درباریانو او اعیانو ځانګړتیا ده، د سر په یوې خوځېدا وښودله چې، پوه شوی او د هغه په اړه فکر کوي. هغه یوه شېبه وروسته ناڅاپه او په ښېړه وویل:

- دادې، زړه ته لوېږي چې، ددې اناتولي کالنی خرڅ څلوېښت زره روبله کېږي.

له ورایه څرګنده ده چې سردار د خپلو غملړو خیالونو مخه نیولې نه شوه ،نو ځکه یې خبره اوږده کړه:

-که خبره همداسې اوږده شي،نه پوهېږم، پنځه کاله وروسته به څه پېښېږي؟دا هم دتاسو بډایانو دیوه سردار د پلارولۍ خوند دی. دا راته ووایه چې دهغې پلار شتمني لري او کنه؟

دهغه پلار ډېر بډای،سخت او بخیل دی. هغه په کلي کې ژوند کوي.دا هماغه سردار بالکونسکي دی چې لا دخدای بښلي ټولواک د واکمنۍ په وخت کې یې، د((پروس دشاه ))نوم ګټلی و.هغه ډېر هوښیار،ځیرک او باسواده دی، مګر ډېر عجیبه عادتونه لري، نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کبله له هغـه سره ژونـد کـولډېر ګران کـار دی. دهغـه لورلکـه د غـره کاڼی خورا بد ژوند لري او بد مرغه ده.

دهغه دا لور له ده سره ډېر بد مرغـه ژونـد لـري. دهغـه ورور څو مـوده دمخــه، لــه لیــزا مــانین ســره، واده وکــړ، دی اوس دکوتوزوف، یــاور دی، هغه نن شپه دلته راتلونکی دی.

سردار ناڅاپه د هغې په خبرو کې ورننوت،د هغې لاس یې ونیوه او معلومه نه وه چې، ولې یې هغه ښکته خواته ښکته کړ او وې ویل:

-ګرانـې انـت ! راتـه غـوږ شـه ! کـه دغـه کـار دې راتـه جـوړ کـړ،زه بـه دژونـد تـر پایه، سـتا مریـي پـاتې شـم. دا پېغلـه هـم د یـوې مخـورې کورنۍ ده، هم بډایه ده.دا ټول هماغه څه دي، چې زه اړتیا ورته لـرم. نـور نو څه غواړم؟

ددې خبرې د پـای تـه رسـېدو سره سم یې پـه یـوې چټکـې خوځېـدا چې، لـه مینې او چـوغلۍ نـه ډکه وه،دملکې د مینځې لاس راونیـو او ښکل یې کړ. وروسته یې غلچک بلې خواتـه واوښت او پـه داسـې حـال کې چې په خیالو کې زنګېده، دمینځې لاس یې یووار بیـا کېښـکود او پـه نرمه څوکۍ کې یې ډډه ولګوله او سترګې یې په نامعلوم ټکي خښـې کړې.

انا پاولوفنا ،چې ځانښودنه یې کوله، وویل:

-زغـم کـوه ! زه بـه نـن ماښـام،داندرې بالکونسکي لـه مېرمنې،لیـزا سـره وغږېږم،غـر چـې څـومره لـوړ وي پـر سـر یـې لاره شـته.زړه پېغلـه بـه،ستاسو دکورنیو دستونزو پـه اوارې کې یـو وار بیـا خپـل کـار پوهنـه وازمایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

د انا پاولوفنا ، په مېلمستون کې کرار کرار ګڼې ګوڼې زور اخیسته. مېلمستیاته د پترزبورګ ترټولو مخور او پېژندل شوي خلک راغلي وو.

خلکو که څه هم د طبیعت، عمر او ډلو له پلوه توپیر درلود ، خو د ټولنیز دریځ له پلوه، یو ډول وو. دهغو په ډله کې ،د سردا واسیلي لور، ایلین چې خدای بې ساري، ښکلا ور په برخه کړې وه، خپل پلار پسې راغلې وه چې له هغه سره په ګډه ،دانګریز د سفیر مېلمستیا ته لاړه شي. هغې، ښکلی، سپین اوږد کمیس چې د درباري نجونو دویاړ نښان یې پر ټټر ځلېده، اغوستی و.له دې سره جوخت،د پترزبورګ تر ټولو نه زړه وړونکې ښکلې ځوانه او کوچنۍ شهزادګۍ بالکونسکایا چې ښکلې او ځوانه ښځه وه هم راغلې وه. ویل کېدل چې د پترزبورګ تر ټولو نه زړه وړونکې ښکلا بلل کېږي. تېر ژمی واده شوې وه او د امېدوارۍ له کبله چېرته نورو مېلمستیاوو ته نه ځي. د دې ترڅنګ د سردار واسیلي زوی ، سردار ایپولیت چې خپل مېلمانه کوربنۍ ته وروپېژندل هم، مورتیمار سره د مېلمنو په منځ کې لیدل کېدل.ابات موریوو او نور ډېر کسان هم راغلي وو.

انا پاولوفنا په داسې حال کې چې نویو راغلو مېلمنو ته هرکلی وایه،ویل به یې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ایا تاسو زما ترورېئ جانه، نه ده لیدلې؟ او که له هغې سره پېژند ګلوی نه لرئ؟

دې ټولو مېلمنو ته لاربنوونه کوله چې، له هغې زړې، جدي او کوچنۍ بوډۍ سره ستړې مشې وکړي چې، د دې مېلمستیا تر ټولو مشره او خورا درنه مېرمن ګڼل کېده. کرار کرار د مېلمنو راتګ زیاتېده او هغې ټول په نامه او د کورنۍ نوم سره یادول. ټول مېلمانه له هغې بوډۍ سره تر ستړې مشې، خواره مشې وروسته، لویې کوټې ته خورېدل. هغوی له هغې زړې اونا معلومې بوډۍ سره چې هېڅ نه پېژندله، تر ستړې مشې وروسته له هغې لرې کېدل او ځان ته یې ځایونه خوښول. اناپاولوفنا په غمرلې او خواشیني او از مېلمنو ته هر کلی وایه.

زړې ترور، په پرله پسې او په یو ډول خوځنه بڼه او خبرو له ټولو مېلمنو سره د روغبړ په ترخ کې د هغو د روغتیا، د خپلې روغتیا چې د خدای له برکته نن ښه وه او د ټولواک د روغتیا په هکله غږېدله.

که څه هم له دغې بوډۍ سره ستړې مشې سخته ستومانه کوونکې وه، خو هېڅا هم له نزاکته په روغبړ کې تلوار نه کاوه، هغوی له حیا نه هېڅ نه ویل، مګر هڅه یې کوله چې د مېلمستیا تر پایه پورې هغې ته بیا ورنېږدې نه شي.

ځوانه شهزادګۍ، بالکونسکایا د خپل ګنډ اوبدلو سیخونه، په سرو زرو ګنډل شوې ګلابې کڅوړې کې، له ځان سره راوړې وو. هغه راغله.

د هغې ښکلې پاسنۍ شونډه چې نازکو ویښتو توره کړې وه، داسې لنډه وه چې، تر غاښو پورې نه رسېده، مګر بیا هم څومره چې هغه په مهربانۍ خورېده او ان تر کوزنۍ هغې یې ورکوزېده. د هغې د شونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلنډ والي نېمګړتيا ،لکه هغه شان چې د خورا ښکلو ښځو ،نېمګړتيا وي،دهغو ښکلا لا پسې ښکلوي،دهغې پاسنۍ لنډې شونډې او نېمه وازې خولې هم د هغې ښکلا لاپسې ښکلې کوله.ټولو هغو کسانو به چې دغې امېدوارې ،زغم مننونکې ،پنډ ګېډې ښځې او پوره روغې راتلونکې مور ته کتل، دخوښۍ احساس يې کاوه.له هغې سره تر ځوښېو غړېدا وروسته،سپين ږېرو او غمجنو تريو تنديو زلميانو ته داسې برېښېده چې، ګواکې دوی خپله هغې ته ورته کېږي.

هر هغه څوک چې له هغې سره غږېدلي وو او له هرې کلمې سره يې،د هغې کوډګره موسکاګۍ او ځلېدونکي سپين برېښېدونکي پرله پسې غاښونه ليدلي وو ، ځان يې ترټولو نيکمرغه انګېره او ټولو نورو هم همداسې انګېرله.

کوچنۍ شهزادګۍ په لنډو ،مګر چټکو ګامونو وخوځېده او کڅوړه په لاس له ميزه ورتېر شوه،په خوښې يې دخپل کميس لمنه ورټوله کړه او پر سپينې، اوږدې ،کټ رنګي څوکۍ کې د سپينو زرو له سماوار سره کيناسته اوداسې يې انګېرله،هر هغه څه چې دا کوي،دهغې اودټولو هغو کسانودخوښۍ سبب کېږي چې، له دې نه چاپېره وو.

هغې چې خپله دکار کڅوړه غوړوله ،شونډې پرانستې او وې وويل:

- ما خپل اوبدل شوی ګنډ له ځانسره راوړی دی.

دې دکور مېرمنې ته مخ وروا ړاوه او وې ويل:

-ګوره انا !له ماسره له کنايو ډکې ټوکې مه کوه.تا خو ماته ليکلي و چې، ستاسو مېلمستيا به ډېره وړه وي. ته ګوره ! چې زما جامې په څه حال دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې لا سونه هسې پرانستل چې، ګریوان، ټټر او لمن یې له ورایه ننداره جوړه کړه او ولیدل شوه چې، ملا یې په یوه ښکلي زرین پلن دستمال تړلې ده.

انا پاولوفنا چې دهغې خبرې واورېدې، داسې ځواب یې ورکړ:

-ارامه اوسئ لیزا ! په هر حال، تاسو تر ټولو ښه یاستئ.

شهزادګۍ په هماغه خوند او رنګ خپلو خبروته دوام ورکړ او خوا ته ناست جنرال ته یې مخ وروا ړاوه او وې ویل:

-تاسو پوهېږئ چې زما خاوند ،ما دبېلتانه منګولو ته سپاري او خپله د مرګ غېږې ته روان دی ،بیا یې سردار واسیلي ته مخ وروا ړاوه:

.تاسو ماته ووایئ،دا لعنتي جګړه د څه لپاره ده ؟

هغې پرته له هغه چې د سردار واسیلي ځواب ته سترګې په لاره شي ،دهغې له ښایسته لور ،ایلین سره خبرې پیل کړې.

سردار واسیلي وروسته په ډېر ټیټ اواز ،انا پاولوفنې ته وویل:

- دا وړه شهزادګۍ څه بې ساري خوږه ده

تر کمکۍ شهزادګۍ نه وروسته،یو پنډ ،عینکي ځوان چې نوي یې وېښته جوړکړي وو ، راووت. ځوان دهغه وخت په دود رنې،ښکلې جامې او نری کوټ اغوستی و.دا ځورب ځوان د ایکاترینې د زمانې د یوه لوړ پوړې چارواکي،ګراف بېزاوخوف نومي سردار نامشروع زوی دی چې اوس په مسکو کې ،په مرګنی حال پروت دی. دغه ځوان په همدې وروستیو وختونوکې تازه له بهره راغلی دی.هغه هېڅکله او هېڅچېرې کار نه و کړی دا لومړی ځل و چې دخلکو منځ ته راغلی و.انا پاولوفنا ، یوازې د سر په ښورېدو ،هغه ته داسې هرکلی ووایه،لکه ځوک چې د کلي یوه خوار او وزګار سړي ته هرکلی وایي ،خو ددې ساړه هرکلي سره سره دانا پاولوفنا په څېره کې یو داسې ډار او سخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسوسه چې په چا کې دیوه لوی غیر وجداني څه په لیدو، راڅرګندېږي، راپیدا شول.

پېیر، د ټولو هغو نارینه وو په منځ کې چې هلته وو، د پام وړ و، نو داناپاولوفنا، دا ویره په دې مېلمستیا کې کېدای شي، له نورو نه دداسې یو توپیرېدونکي او ځېرک ځوان او دهغه دغلچکو له کبله و.

اناپاولوفنې چې هغه یې تر خپلې ترور پورې بدرګه کاوه او په پټه پټه او وېرني غلچک یې له ترور سره غلچکونه بدلول، هغه ته وویل:

-ښاغلیه پېیره! تاسو ډېره مهرباني وکړه چې ددغه راز یو ناروغ پوښتنې ګرو ېږنې ته راغلي یاست؟

پېیر، چې ترسترګو لاندې یې څه کتل، له هغه سره جوخت شوندۍ و لاندې بنګېده، خو ځوک نه پوهېدل چې هغه څه وایي. په پای کې یې په داسې حال کې چې د یوه ډېر نېږدې چا په توګه په ډېرې خوښۍ او موسکا، وړوکې شهزادګۍ ته ددرناوي سر ټېټاوه، زړې ترور، ته ورنېږدې شو. د انا پاولوفنې ویره او ډار بې ځایه نه و، ځکه پېیر، بې له هغه چې د ځان د روغتیا په هکله، د هغې معظمې، وینا ته غوږ ونیسي، له هغې لرې شو، خو اناپالوفنا په ډېر تلواراو ډار پر هغه داسې غږ وکړ:

_تاسو! اباته موریوو، نه پېژنئ؟ هغه ډېر په زړه پورې سړی دی.

_ هوکې ما د ټینګې سولې په هکله، د هغه د وړاندېز اوربدلي دي، دا ډېره په زړه پورې خبره ده، خو غواړم وو ایم چې ایا دا، داسې امکان لري؟

اناپاولوفنا، دهغې په ځواب کې وویل چې:

- تاسو همداسې فکر کوئ؟خو، پېیر، ته یې په خپلو ځانګړو کړو او چارو کې هرکلی پیل کړ. هغه بې له هغه چې د چا خیال وساتي، خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې پېيل کړې.د څو شېبو مخکې په شان يې بيا بې له هغه چې د ترور خبرو ته غوږ ونيسي،خپلې کيسې، افسانې او پوښتنې پيل کړې.هغه په خپلو خبرو د کور مېرمن چې بايد د مېلمنو هرکلی کړی وای،بوخته يې ساتلې وه. هغه ،هغې ته سر ټيټ کړ،د هغه پر وړاندې ودرېد او غوښتل يې چې له انا پاولوفنا سره دا خبره سپينه کړي، ولې دا تصور کوي چې ،اباته موريوو ،د ابدي ژوند خيال لري؟

انا پاولوفنا ،په موسېدو ،موسېدو وويل:

-په دې اړه به وروسته وغږېږو....

اناپاولوفنا د اوبدلو دفابريکې داسې يوې مشرې ته پاتې کېده چې خپل کارکوونکي کارته ګماري ،خپله هلته ګرځي راګرځي، خو همهاله بې له هغه چې هغوته وګوري هغوی څاري او د هغو هر غږ او شر اوشور اوري.هغه د هر غږ په اورېدو هغې خواته ور اوړي او سمدلاسه هلته ځان ورسوي.

اناپاولوفنا ، په دې مېلمستيا کې هم همداسې ګرځېده او هر څه يې څارل.هغې به هر چېرې ته چې لږه چوپتيا او يا شر او شور جوړ شو ،ځان نېږدې کاوه،هغه به يې پوهول او يا به يې د مېلمنو د ځای په بدلون ټول سم کړل ،خو د دې ټولو بوختياوو اوښېګڼو سره سره داسې برېښېده چې ګواکې د پيېر، له کړو ډېره نا ارامه او په اند ېښنه کې وه.هغه ،هغه وخت او هغه شېبه د مورتيمار، ډلې ته ور نېږدې شوه ،چې پيېر،دې ډلې ته نېږدې خبرې کولې.د پيېر لپاره چې په بهر کې روزل شوی و،دااپاولوفنا دا مېلمستيا لومړنۍ ،مېلمستيا وه چې روسيې ته د راتګ له وخته ده، په هغه کې ګډون کړی و.هغه په دې پوهېده چې دلته د پترزبورګ ټول روښان اندي هم راټول شوي دي، هغه له دې وېرېده چې په دې ښکار کې کومه عاقلانه وينا ترې پاتې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي،نو له دې کبله د پېير سترګې د ماشومانو په څېر ځلېدلې.هغه چې کله په دې مېلمستيا کې د راټول شويو خلکو ډاډمن حالت او نوراني څېرو ته کتل او له هغو نه يې د کومې نوې او عاقلانه خبرې انتظار لاره.په پای کې هغه موريوو ، ته ځکه ورنېږدې شو چې د هغه خبرې ورته ډېرې په زړه پورې ښکاره شوې.هغه هلته په دې تمه تم شو او ودرېد چې دی هم خپلې د زړه خبرې وکړي،داسې چې هر ځوان د هغه د ويلو هيله لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

د انا پاولوفنې د غـه مېلمسـتيا پـه خورا درب جوړه شوې وه.ټنګ ټکور او نابرابر شر او شور له هرې خوا او بې له ځنډه اوربدل کېده. کـه پر ګونځمخي والاحضرتې ترور او د هغې څنګ تـه ناسـتې بـوډۍ ،چې له دې ټنګ ټکور او شور نه ډک بنډار سره يې څنګ نـه لګـاوه، سـترګې پټې کړو ،مېلمستيا تـه راغلي مېلمانه پـه دربو ډلو ويشل شوي وو:

پـه لومړنۍ ډله کې چې، زياتره يې نارينه وو ،ابات موريوـ تـه خلک غوږ غوږ وو.

دويمه هغه ډله وه چې، پـه هغې کې د سـردار واسـيلي د لـور، ښـکلې شهزادګۍ ايلـين او سـور غومبورې شـهزادګۍ بالکونسـکايا ،پـه شـاو خـوا ځوانـان راټـول شـوي وو ،او دربيمـه هغـه ډلـه وه چـې، د هغـې پـه وړاندې مورتيمار او اناپاولوفنا ويناوې اورولې

<u>مورتيمار(سردار)</u>، چې ځان يو پـېژندلې څېره ګڼله، د ښـې څـېرې او خوږ طبيعت خاوند و ،داچې دښې روزنـې خاونـد و لـه خورا کمينـۍ نـه يې خپله پوهه پر نورو هغو کسانو پېرزو کوله چې پـه بنډار کې راټـول شوي وو.انا پاولوفنا غوښتل هغه ديوه خوږ ژبې او ځانګړي چا پـه توګـه خپلو مېلمنو تـه ور وښيي.د اناپـاولوفنې دا کـار هغـه څـه تـه ورتـه و چـې کوم اشپز پـه پخلنځي کې هغه غوښـه چې د هيڅـا نـه خوښـېږي د خـوږو خوږو پـه څېر مېلمنو تـه وړاندې کړي،انا پاولوفنا هم نن لومړي سردار، او وروسـتـه آبـات موريـو ،د ځـانګړو نازکخيـالو وګـړو پـه څېـر خپلـو مېلمنو تـه ور وپېژندل. د مورتيمار ،پـه ډلـه کـې بې لـه ځنـده او ناڅاپـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیرخوګه اینګینسکي(سردار) د وژنې خبرې پیل شوې، سردار ویل:
- ګیرخوګه اینګینسکي، د خپلې ځانغوښتنې قرباني شوی دی او د بناپارت تربګنی، دهغه پر وړاندې خپل ځانګړي دلایل لرل.
انا پاولوفنې وویل:
- اه ! ښه به وې چې موږ ته یې ووایئ ! هغه داسې وانګېرله چې د (( ښه به دا وي چې موږ ته یې ووایئ )) خبره هغې ته د پنځلسم لویي د وختونو حال وریادوي.
(سرادر)، د درناوي په ښه سر ټیټ کړ او په ډېرې خواخوږۍ یې پر شونډو موسکا خوره شوه.انا پاولوفنا مېلمانه د سردار، شا وخوا ته راټول کړل او هغو ته یې بلنه ورکړه دهغه خبرو ته غوږ شي،د یو چا په غوږ کې یې وویل:
- ستر ګیرخوګه اینګینسکي، په خپله سردار، پېژانده.
بلکې هغه ته یې بیا یادونه کوله چې سردار خورا خوږ ژبی دی.
دربیم ته یې ویل چې هغه د تودې او زړه راښکونکې وینا خاوند دی.
په دې توګه هغې سردار هم دیوې الو شوې خوږې ټوټې غوښې په شان په یوه تاوده کپړي کې چې په سبو ښکلی شوی وي په خورا ښې ساري شان ښندار ته وړاندې کړ.
سردار چې خوږه موسکا یې پر شونډو خوره وه، غوښتل خپله کیسه پیل کړي. په دې وخت کې انا پاولوفنې، ښکلې شهزادګې ته چې د یوې ډلې کړۍ یې جوړه کړې وه ،وویل:
- ګرانې ایلین ! ته هم موږ ته رانېږدې شه.
شهزادګۍ ایلین وموسېده او د خورا ښکلې ښځې د نه بدلېدونکې ،نه وبدېدونکې،مالګینې موسکا سره چې د راتګ په وخت کې یې پر شونډو خوره وه، پاڅېده.(پاڅېدویې، پاڅول سل افتونه) دخپل سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږد ،نازک سپین د نخا او بنداونو ځانګړي کميس له شغهار سره وځوځېده. له ځلېد ونکو بربنډو اوږو ، درمندو يو خوا ته خورو ويښتو او د ګڼو ګاڼو له شرنګا ،په مستو خماري سترګو ، بې له هغه چې چاته وګوري د هغو نارينو په منځ کې چې د تېرېدو لاره يې ورته پرانسته، تېره شوه.

هوکې، هغه، د درمند ګڼو ،ځلېدونکوکوڅيو ،سپينو ،مرمرينو ،اوږد واورېښو غميو او مستو خمارو سترګو سره ،دهغو نارينو له منځه تېرېده چې دې ته يې، په بې ساري ګڼه ګوڼې کې لاره جوړوله.بې له هغه چې چاته وګوري، خوږې موسکايې ،ټوله ته، تود هرکله وايه.هغې ته په کتو سره داسې برېښېده چې دا ،ټولو ته د دې د ښکلا د ستاينې په بدل کې، خپلې وتلې اوږې او د ورځنې دود له مخې لوڅ او تر زياتې اندازې بربنډ شوى ټټر، ډالۍ کوي.هغه د انا پاولوفنا خواته راغله او داسې تصور کېده چې د ګډا دغې ننني مېلمستيا ته يې په خپلې خوځېدا پرتم وروبښاه.ايلين داسې ښکلې وه چې د هغې په خوځېدا کې نه يوازې د هېڅ ډول بې حيايئ څرک نه لګېده بلکې په هغې کې داعيانتوب او دنورو د زړه راښکون، ځانګړې اغېز،له ورايه څرګند و.داسې تصور کېده چې هغه په لوى لاس غواړي د خپلې ښکلا پرتم څه کم کړي،ولې نه کېده،ځکه هرچابه چې هغه ليدله،دهغې ښکلا ته به ګوته په غاښ و ،ګواکې له کومې کوډګرې افسانوي ښکلا سره مخامخ دى او ويل به يې:

- دې ته ښکلا وايي، څه ښکلې ښځه !

سردار داسې و لکه چې ديوې زړه راښکونکې منظرې پر وړاندې حيرت وهلى پاتې وي.هغه وروسته خپلې اوږې پورته او سترګې ښکته اچولې وې.کله چې ايلين دهغه ترمخې کيناسته،ده هڅه کوله هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل يو رنګې ،دايمي موسکا په منګولو کې راونيسي ،يو درناوي يې وکړ او وې ويل:

-ګرانې اغلې ! وبرښېږم چې وينا به مې ددغه شان اوربدونکو د اوربدو ښکلا ونه لري.

شهزادګۍ خپل لوخ،غوښن مړوند پر ميز ولګاوه، هېڅ داسې څه يې ونه موندل چې دهغه ځواب ووايي. هغه چې نرې موسکايې پر شونډو لوبېدله،کوم څه ته سترګې په لارې وه.په دې ټوله موده کې به يې کله ناکله خپلو غوښنو منګولو ته چې په کراره يې پر ميز ايښې وې،کتل او کله کله خو به يې بيا تر هغه خپل ښکلي، لوڅ او بربنډ ټټر ته کتل او هلته به يې دخپلو نورو ښکلاوو په منځ کې،خپل د الماسو ځلېدونکي غمې ځاى پر ځاى کول،ځو واره يې دخپل اوږده له پاولوډک کميس ګونځې او ځونډې سم او راټول کړل،خو هره شېبه به چې د ويناوالوو ،مېلمنو يا کوربنو خبرو څه اغېز پرې وکړ،بې له ځنډه به يې انا پاولوفنې ته ور وکتل او له کتو سره سم به ددغې مينځې څېرې دملکې ټولواکې د څېرې بڼه غوره کړه،خو تر څو شېبو نه وروسته به يې خوږې موسکا پر شونډو د سپرلي وږمه وچلوله او ارامه به شوله.

تر ايلين وروسته کشره شهزادګۍ هم دچاى له ميزه، دې خواته راغله.هغې پر سردار غږ وکړ او وې ويل:

- لږ ځنډ شئ چې کڅوړه مې راوړم.له دې سره هممهاله يې دسردار ايپوليت خواته وکتل:يعني څه؟ تاسو څه فکر کوئ؟ ښه به دا وي چې زما کڅوړه راته راوړئ.

کشرې شهزادګۍ په موسېدو موسېدو هرچاته هر څه ويل، ناڅاپه يې د بنډار ارامي،نا ارامه کړه ،خوکله چې پر خپل ځاى کيناسته.په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا ښې ادا سره يې چې خپل کميس له هر پلوه راټولاوه، وويل:

- اوس ارامه يم.

هغې هيله وکړه چې اوس نو وياندکولی شي، خپلو خبرو اترو ته دوام ورکړي.دې هم خپلو اوبدلو ته دوام ورکړ.

سردار ايپوليت چې دهغې کځوړه راوړې وه، هم هغې پسې دې ډلې ته راغی، لاس لرونکې څوکۍ يې دهغې خواته ورپورې وهله او دهغې خواته کېناست.

سردار ايپوليت، دهغه غيرمعمولي ورته والي له کبله چې له خپلې خور سره يې لاره، خو د ورته والي سره سره بيا هم خورا شاهل برېښېده، ډېر دپام وړ ګرځېدلی و.د څېرې هر څه يې دخور هغې ته ورته وو، مګر همدا ټول دخور په څېره کې دهغې دمينه ناکې، ژوند بښوونکې، له مينې ډکې موسکا، له نورونه دتوپير لرونکې ونې، دلرغونو يونانيانود الهاوو ښکلاوو ته ورته ښکلا له برکته، په بې سارې توګه ښکلې برېښېدل، حال دا چې، د ورور په څېره کې همدا ټول د يو غم لړلي غبار په بڼه، دغم څپې خپرولې.له هغه نه دخواشينۍ لړې راتاوې وې.اندامونه يې خوار، سترګې او پزه يې وتلې او خوله يې داسې وه چې ګواکې کړه وي.دې ټولو يوځای په ده کې يو ناڅرګند غم رامروړلی و.ددې تر څنګ د هغه دلاسونو او پښو خوځېدا هم ځان دده له واکه ايستلي وو.

هغه دشهزادګۍ تر څنګ کيناست او په چټکۍ يې خپلې عينکې د خپلو سترګو مخې ته ونيوې، داسې برېښېده چې ګواکې، له دغو عينکو پرته دی غږېدای نه شي، هغه وويل:

-وګورم چې د ارواحو کيسه نه وي؟

وياند دده دخبرو په اورېدو اوږې پورته واچولې او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه ګرانه ! نه ! دا سې خبره نه ده.
سردار ایپولیت وویل:
-زه له اروا حېزه کیسو نه کرکه لرم.

دهغه له غبرګه څرګنده وه چې دی ،وروسته له خبرو پوه شوی دی چې څه یې ویلي دي. په داسې ډاډ یې خبرې کولې چې چا دا تصور نه شو کولای چې دده دا خبرې له ځرکتیا او هوښیارۍ دي او که د سر له کدوالي او پوچوالي نه ؟....

سردار ،هم هغه پېښه، چې په دې وروستیو وختونو کې ټولو هغه یو بل ته ویله، په ډېره خوږه ژبه اوروله، هغه دا چې:
ګېرڅوګه اینګینسکي، په پټه د پېغلې ژرژ(ممثله )دلیدلو لپاره پاریس ته تللی وه.ګېرڅوګه اینګینسکي، په ناڅاپه توګه د خپلې مئینې ( ژرژ، لوبغاړې) په کورکې له ناپلیون بناپارت سره چې هغه هم ددې ( ژرژ، لوبغاړې) لېوال او مینه وال دی، مخامخ کېږي.دلته ناڅاپه ناپلیون دهغې ناروغۍ له کبله چې لرله یې ،بېسده کېږي او لوېږي.په دې توګه هغه خدای دا اینګینسکي منګولو ته سپاري، مګر هغه له دې بخت نه هېڅ ګټه نه اخلي.وروسته ناپلیون دهغه ددې لطف بدل، دهغه په وژلو ،ادا کوي.

ددې پېښې بیان ،خورا خوږ او نه هېرېدونکی و ،په تېره بیا دهغې شېبې انځور بیان چې دواړه سیالان یو بل پېژني.ددې پېښې دهمدې ټکي اوربدل تر ټولو زیات د ښځو دپام او لمسون وړ و.
انا پاولوفنا ،په یوه پوښتنېزغلچک ،کمکۍ شهزادګۍ ته وکتل او وې ویل:
- ډېره په زړه پورې وه.
کمکۍ شهزادګۍ هم، خپلو اوبدلو ته دوام ورکړ او په کراره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل:

- بې درکه کیسه وه.

کمکۍ شهزادګۍ چې ستن په ګنډ کې منډله، په خپل دې غږ يې، غوښتل ووايي چې دغې کيسې ته غوږ نيولو دا له کار ويستلې وه.

سردار، په يوې منښيزې موسکا ،ددې خاموشۍ ستاينه وکړه او غوښتل يې چې څه ووايي، مګر په دې وخت کې انا پاولوفنا چې کله کله يې پيير ته چې ددې له نظره يو احساساتي او ډېر تود ځوان و ،ورکتل.دې وليدل چې هغه د کاتوليک کليسا له يو پاپ ابات سره په خورا بې احتياطۍ او لوړ اواز غږېږي.هغې ځان هغوی ته ددې په ګمان دناڅاپي مرستو لپاره ور ورساوه.رښتيا هم چې، پيير، هغه روحاني ته د سياسي انډول په اړه خبروکې خپل نظر سپړلی و او ابات دغه تود وينی والګي وهلی ځوان ته په دې اړه خپلې شننې شنلې وې.دواړه په ډېر شوق او ذوق او بې هر ډول تکلف نه غږېدل.دواړه يو بل ته په ځير غوږ وو.دا هماغه ښه حالت او فضا وه چې د انا پاولوفنا نه خوښېده.

ابات ويل:

- د اروپا د ستونزې اواري ،هلته د قواوو انډول او دخلکو حقوقو ته ،غاړه ايښودل دي.ددې چارې د سرته رسولو لپاره، بايد يو واکمن هېواد ، لکه روسيه چې په نړۍ کې په غچ اخېستلو ، زورزياتي او په بې ساري ظلم پېژندل شوې د اروپا ديووالي په نامه مخکې شي. د ټلوالي بې سارې مشري وکړي او د اروپا انډول او نړيواله سوله وژغوري.

پيير وويل:

- ښه ،دغه شان انډول به څنګه منځ ته راشي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې وخت کې انا پاولوفنا راورسېده.برند برند يې پېير ته وکتل او له ايتالوي روحاني نه يې پوښتنه وکړه:

- د پترزبورګ هوا څنګه زغمئ؟ ددغه ايتالوی څېره په ناڅاپه توګه دښه والي او خوښۍ خواته ،هغه شان يې چې له ښځو سره په خبرو کې بدلون کاوه ،بدله شوه او وې ويل:

- ددې ښار له اوسېدونکو ،په تېره بيا له مېرمنو سره له ليدو کتو نه،فضل او کمال دومره نيکمرغي را په برخه کړې ده چې له حيرانۍ نه يې لا تر اوسه ما ،دهوا په هکله د فکر کولو وخت پيدا کړی نه دی.

انا پاولوفنا نه غوښتل چې آبات او پېير، يوازې سره پاتې شي،په داسې حال کې چې هغوی يې څارل، له نورو مېلمنو سره د يوځای کېدو پلو ،بدرګه کړل.

په همدې شېبه کې يو بل تن تالار ته راننوت.نوی رارسېدلی ځوان سردار اندرې بالکونسکي،دکشرې شهزادګۍ خاوند و.سردار بالکونسکي که څه هم چندان جګ ونی نه و ،خو هغه دښکلې څېرې،او ځانګړي تند طبيعت خاوند و.په هغه کې هر څه له ستومانه او غمړلو کتو نه نيولي تر ارام او موزونه ګام اخيستو پورې،هېڅ څه،دهغې له مستې،چالاکې او خوځېدونکې ښځې سره سخت اړخ نه لګاوه. دا له ورايه څرګنده وه چې هغه ،د اوسنۍ مېلمستيا ټول ګډونکوونکي نه يوازې پېژني بلکې له هغو نه داسې کرکه لري چې دهغو ليدل خو څه کوې چې اورېدل يې هم پر هغه خواشيني پارونکي اغېز کوي. داسې برېښېده چې ددغو ټولو څېرو په منځ کې چې په ده کې د غم او کرکې زړې کرې،هغه تر ټولو نه زيات دده دخپلې ښکلې ښځې څېره ده،نو له دې کبله هغه له دغه ښکلې سينګار شوي مخ نه ،مخ واړوه او د اناپاولوفنا د لاس تر ښکلولو نه وروسته يې، په ځيراو غونجو ستر ګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول بندیار له نظره تېر کړ.

انا پاولو فنا هغه ته وویل:

ستر سرداره ! اوربدلي مې دي چې جګړې ته روان یاست.

بالکونسکي ځواب ورکړ:

جنرال کوتوزف لوربېنه کړې ده او زه یې خپل یاور ټاکلی یم. هغه دفرانسویانو په څېر د کوتوزف په وروستي سیلاب زوف ښه فشار راوړ.

_ لیزا ! مېرمن به مو څنګه شي؟

-هغه به کلي ته لاړه شي.

_دا به لویه ګناه نه وي چې موږ ټول د خپلې ښکلې ښځې له دیدن نه بې برخې کړئ؟

ښځه یې چې لکه د زرو د ګونګري په شان شور کاوه او له نازه ماتېدله ،ته به وایې چې څوک له پردیو سره غړېږي ،مېړه ته وویل:

-اندرې ! تا نه دي اوربدلي چې سردار موږ ته د پېغلې (ژرژ) او ناپلیون په اړه څه یوه خوږه کیسه واوروله؟

سردار اندرې وروځې برندې کړې او مخ یې واړوه. پېیر چې مېلمستون ته د رارسېدو له شېبې نه سردار اندرې په مینه او مهربانۍ څاره ،هغه ته ورنېږدې شو او د هغه مړوند یې کلک راونیو.سردار اندرې،بې له هغه چې وګوري، دکوم چا له خوا یې د خپل لاس په نیولو داسې تندی تریو کړ چې ګواکې وایې دا څوک دی چې دی له لاسه نیسي، ،خو کله چې یې د (پېیر )له موسکا ډکه خوله ولیدله، پر شونډو یې داسې د خواخوږۍ او مینې موسکا را خوره شوه چې هېڅ چا یې تصور هم نه شو کولای.هغه پېیر ته وویل:

- عجب ! اوس تاسو هم د لویانو بنډارونو ته تګ راتګ پیدا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی؟

پيير ځواب ورکړ:

- خبر شوم چې تاسو دلته راځئ.

هغه يې کوله د هغه د خبرو خندا نه شي ،نو ځکه يې په کراره هغه ته وويل:

- اجازه ده ،مانيامنۍ له تاسو سره وخورم؟

سرداراندرې په خندا کې ورته وويل:

- نه اجازه نه شته !

او د هغه د لاس په کښېنکودو يې هغه پوه کړچې اجازې ته اړتيا نه شته.هغه غوښتل نور څه ووايي ،مګر په دې وخت کې سرادر واسيلي له خپلې لور سره مل پاڅېدل.نارينه هم له هغوی سره يوځای پاڅېدل چې لاره ورته پرانيزي.

سردار واسيلي په مهربانۍ ... مه پاڅېږه، وويل:

-... تاسو به ما ډېر وبښئ ! دا د سفير بدمرغه مېلمستيا ،نه يوازې ما ستاسو د ديدن له دوامه بې برخې کوي بلکې ستاسو په شيرينوويناووکې هم دخندا سبب کېږي.بيا يې انا پاولوفنې ته مخ وروااړوه او وې ويل:

ډېر خواشينی يم چې ستاسو ددې لذت ښوونکي بنډار پرېښودو ته اړ يم.

د هغې لور شهزادګۍ ايلين،چې د خپل اوږد ښکلي کميس ګونځې يې په کرار کرار او ناز سره راټولولې او يوه نه هېرېدونکې او له هر وخت نه په ياد پاتېدونکې موسکايې پر شونډو خوره وه،د څوکيو تر منځ تېره شوه.کله چې دا زړه وړونکې ښکلا د پيير له څنګه تېرېدله،په داسې ډول يې هغه ته کتل چې سترګې يې د شور او مينې له لېوالتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او محبته وحشت وهلې برېښېدې.

سردار اندرې وويل:

-خورا ښکلې ده !

پېير زياته کړه:

-هو کې ،ډېره !

سردار واسيلي چې کله د پېير له خنګه تېرېده ،دهغه لاس يې راونيو او انا پاولوفنې ته يې وويل:

-دا ياغې اېړ لړ راته وروزئ، دا ده يوه مياشت کېږي چې زما په کورکې اوسي،خو دا لومړى ځل دى چې زه هغه وينم.هغه زياته کړه:

-د يوه ځوان لپاره د هوښيارو ښځو تر بنډاره،بل ښه ځه په دنيا کې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

اناپاولوفنا وموسېده او وعده يې وکړه چې د (پېير) سمه پالنه او خواخوږي به کوي، ځکه دا په دې پوهېده چې هغه د پلار له پلوه له سردار واسيلي سره خپلوي لري
هغه زړه بوږنه ی چې تر او سه پورې د ترور تر څنګ ناسته وه، په چټکۍ او تلوار پاڅېده او ځان يې د سردار واسيلي مخې ته ور ورساوه. د هغې له څېرې هغه مخکنۍ ارامي او ځانښودنه ورک شول.د هغې پر مهرباني خو غمځپلې څېرې ګېنۍ او ويره راخواره وو. هغې چې ځان له هغه نه مخې کاوه، وې ويل:
- ګرانه سرداره !
تاسو به ماته د ما د بوريس په اړه څه وواييئ؟
هغې د خپل زوی نوم باريس ،د الف، پر ځای و (و) د توري په ځانګړي فشار سره بوريس يادووه.(اصلا دا نوم باريس دی).زه نوره نه شم کولای په پترزبورګ کې پاتې شم،تاسو راته وواياست زه خپل هغه خوار ،بې کسه او بې روزګاره زوی ته څه زېری رسولی شم؟
سره له هغه چې سردار واسيلي له کومې تلوسې او مينې پرته، د هغې بوږنه ی خبرو ته غوږ و ،او آن د بې صبرۍ نښې يې له ورايه په څېره کې ښکندې وې ،مګر بوږنه ی په خورا خواخوږۍ او مينې موسېدله او ان دا چې د هغه لاس يې راونيو ،د هغه د تنګ خنډ شوه او ورته وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نو تاسو ته به دا څه ګرانه وي، چې اعلحضرت ته یوه خبره ورسوئ، هغه به سمدلاسه په کارد کې وګمارل شي.

سردار واسیلي په کراره ځواب ورکړ:

- ګرانې شهزادګۍ !تاسو باور وکړئ ،هر هغه څه چې زما له لاسه کېږي ،هغه به زه تاسو ته وکړم، مګر ماته به ډېره ګرانه وي، چې اعلحضرت ته ووایم، خو که زما مشوره منئ، له ټولو اکه ددغه شان هیلې لپاره به ښه دا وي چې د سردار ګولځین له لارې، رومیانځوف نه غوښتنه وشي. دا کار به تر ډېره عقلي ښه ولري.

دا بوډۍ، شهزادګۍ روبځکایا ،وه. هغې د روسیې یوې ډېرې مخورې کورنۍ، پورې اړه لرله، مګر اوس ډېره بې وزلې وه. نور نو دهغې، پخوانی پرتم تللی او د اعیانو او مخورو ښهارونو او مېلمستیا ته یې لار ،نه لرله.هغه اوس راغلې وه چې د خپل یوازینی زوی لپاره د امپراطورۍ په ګارد کې ځای پیدا کړي. هغه د انا پاولوفنې مېلمستیا ته هم بې بلنې ځکه راغلې وه چې هلته له همدې سردار واسیلي سره د کتنې ویاړ پیدا کړي. دهمدې کتنې په هیله یې د سردار ببولالو ته غوږ نیولی و.هغه ،د سردار واسیلي داسې غوڅ او په ډاګ ځواب سرسامه کړې وه ،د هغې ځلېدونکې ،هیلمنده څېره ،ددې ځواب په اورېدو ،په خواشینۍ کې ډوبه شوه ،مګر دې حالت څو شېبو نه زیات دوام پیدا نه کړ .دهغې سرسام حالت ترڅو شېبو وروسته په یوې موسکا ربدله او له موسکا سره غبرګ یې د سردار واسیلي لاس را ټینګ او په خورا نرمۍ یې هغه ته وویل:

-ګوره سرداره ! ما هېڅکله له تانه کومه هیله نه وه کړې.له دې نه وروسته به هم له تانه کومه هیله ونه کړم، هېڅکله مې له تا سره د خپل پلار مینه دریاده کړې نه ده ،مګر اوس تاته په خدای قسم درکوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پر زوی رحم وکړئ، زه به تاسو خپل غمخور وګڼم.هغې همدلته لا پسې ننواتې زیاتې کړې او په کرار عذر یې وویل:

ګورئ !خوا بدي کېږئ به نه، له ما سره به هرو مرو ژبه کوئ.ما له تاسو نه لا مخکې ګولخین ته ویلي و ،هغه را سره مرسته ونه کړه.زما هیله داده چې تاسو د پخوا په شان مهربانه اوسئ. هغې د دې وروستیو خبرو په وخت کې هڅه کوله وخاندي، ولې اوښکو یې پر سترګو کې باران جوړ کړي وو.

شهزادګۍ ایلن ،چې دروازې ته نږدې خپل پلار ته سترګې په لاره وه ،خپل ښکلی سر یې ،لکه دلرغونو مجسمو په څېر پخپلو ښکلو اوږو راواړوه او وې ویل:

-پلاره !ناوخته شوه !

په مخورو او اعیانو کې اغېز داسې پانګه ده چې په هڅې او هاند باید دهغه د ورکېدو مخه ونیول شي. سردار واسیلي په دې خبره ښه پوه و. دایې له ځانسره غوټه کړې وه ،که د هرچا په غوښتنه او هیله لویانو ، مشرانو ،چارواکو او مخوروته لمن وغوړوي، ډېر ژر به داسې وخت راورسېږي چې دخپلو اړتیاوو په وخت کې به یې څوک خبره نه اوري، نو له همدې کبله هغه په ټولنه کې له خپل اغېزه زیاته ګټه نه اخیسته،خو د خوارې شهزادګۍ دروبڅکایا د وروستۍ هیلې له امله یې په زړه کې څه نا ارامي احساسوله.هغې، ده ته دا هم ورپه یاد کړه چې په دولت کې دده لومړنۍ دنده ترلاسه کول،په رښتیا دهمدې ښځې دپلار له برکته شوي و.له دې سره جوخت دده دې ته هم پام شو چې دا د دروبڅکایا ،دهغو ښځو له ډلې نه ده چې یو وار په زړه کې د یوه کار د سرته رسېدو پرېکړه وکړي،تر هغه یې چې تر سره کړې نه وي،بیا یې ،نه پرېږدي.ددې ترڅنګ که دداسې ښځو کار ترسره نه شي، هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمتو دي، د ورځنۍ سرخوږۍ او ان خندونو د پیدا کولو سبب شي. ددې وروستۍ خبرې په پام کې نیولو سره لږ نرم شو، په ډېر ارام او سندریز غږ یې، چې خواشیني ترې اورېدل کېدله، وویل:

-ګرانې انامخایلوفنا! که څه هم د تاسو دهیلې سرته رسول زما له توانه لرې خبره ده، خو ددې لپاره چې وښیم، تاسو ماته څومره ګرانه او د خدای بښلي پلار یاد ته مو څومره درنښت لرم، دا نه کېدونکې کار به ترسره کړم. ستاسو زوی به ګارد ته بدل شي. دا دي ددې وعدې د سرته رسولو دنښې په توګه، ستاسو لاس کېښکاږم، څنګه اوس راضي شوئ؟

_اې ماته ګرانه! ته ډېر مهربانه او زموږ یوازینی غمخوریاست. ماله دې نه پرته، له تاسو نه بل انتظار هم نه درلود، تاسو مهربانه یئ.

سردار، نور نو غوښتل لاړ شي، مګر شهزادګۍ غږ پرې وکړ:

-یوه شېبه، یوازې دوه خبرې نورې هم لرم. وروسته له هغه چې هغه ګارد ته راشي. هغه په شک کې شوه، ځنډ یې وکړ، مګر غږېدا ته یې دوام ورکړ:

ستاسو خو اړیکې له میخایل الاریونوویچ، سره ډېر ښه دي، ښه به داوي چې هغه ته سپارښتنه وکړئ چې باریس خپل یاور وټاکي. زه به هغه وخت بالکل بېغمه شم، او بیا به...

د سردار واسیلي پر شونډو یوه ترخه موسکا خوره شوه او وې ویل:

-دا وعده نو نه شم درکولئ. تاسو پوهېږئ، له هغه وخته چې کوتوزف د وسلوالو پوځونو سترقوماندان ټاکل شوی دی، ټولو داسې ځان ترې تاو کړې دی لکه منجیله، ګورئ! څنګه غندل کېږي. هغه پخپله ماته وویل چې د مسکو ټولو مخورو او چاروا کو ژبه سره کړې چې خپل نازولي به، دده یاوران او مرستندویان ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه، نه داسې نه کېږي، ګران او مهربانه! تر هغه پورې چې ماته دې وعده هم رانه کړئ، کله دې پرېږدم.

د سردار، ښکلي لور، په هماغه نرم او خواږه اواز بیا غږ وکړ:

-پلاره! نا وخته شوه.

ـ ښه، د خدای په امان، تر بیا لیدو...؟

ـ تاسو به سبا ته هرمرو، اعلحضرت سره ګورئ؟

ـ هرمرو، ولې د کوتوزوف وعده نه کوم.

انا میخایلوفنا، د ځوانو پېغلو تېې، په شان ورته موسکا سره چې یو وخت په ځوانۍ کې په هغه ویاړېده، مګر اوس یې د هغې له پړسېدلي مخ سره اړخ نه لګاوه، خبره اوږده کړه او وې ویل:

-ښه به داوي چې هرومرو وعده وکړئ، واسیلي، هرومرو.

داسې بریښېده چې انا میخایلوفنا خپل عمر هېر کړی وي او د عادت له مخې یې له خپلو ټولو ښځینه، اداګانو ګټه اخیسته، خو همدا چې هغه ووت، د هغې څېرې بیا خپلې لومړنې بڼې ته راغله، د سړو او غم څپې پرې راخورې شوې، هغه د مېلمنو هغې ډلې ته ورنېږدې شوه چې هلته سردار خپلې کیسې کولې. بیا دیې ښودله چې خبرو ته غوږ غوږ ده، خو په زړه کې دې ته سترګه په لاره وه، چې څنګه او څه وخت نوره پاڅېږي او لاړه شي، ځکه د هغه څه لپاره چې راغلې وه، هغه خو تر سره شول.

په دې وخت کې انا پاولوفنې وویل:

-د ایتالیا د میلان د ښار د دې تاج اېښودلو د وروستۍ کمیډۍ په هکله څه ویلې شئ؟ د دې نوو لوبو په اړه چې د ژینوا او لوکا د ښارونو خلک راځي او خپلې هیلې ښاغلي بناپارت ته ډالۍ کوي. ښاغلی بناپارت هم د شاهۍ او واک پر پالنګ ناست دی او د خلکو او ملتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلې پوره کوي.دا په رښتیا ،ډېره لویه، پېچلې او د تعجب وړ خبره ده.نه،نه ،دې ته لږ ځیرشئ،اخر باید لږ فکر وکړئ.سړی لېوني کېږي،دا سې تصور کېږي چې ګواکې دې خلکو هسې خپل عقل له لاسه ورکړی دی.

سردار اندرې چې اناپاولوفنې ته کتل،وموسېد او وې ویل:

-دا تاج ماته خدای راکړی دی. وا د هغه چا پر حال چې هغه ته لاس وروړی.(دا هغه توري دي چې ناپلیون بناپارت،د تاج اېښوولو په شېبه کې ویلې و او ویل کېږي چې هغه ددې تورو د اداکولو په وخت کې خورا ښکلی او پرتمین برېښېده )اندرې دا خبرې یوځل بیا دهغو په اصلي یعني ایتالوي ژبه تکرار کړې:

دا تاج ماته خدای راکړی دی،وا د هغه چا پر حال چې هغه ته لاس وروړي.

انا پاولوفنا دوام ورکړ:

- هیله لرم چې داهغه وروستی څاڅکی و چې جام یې ډک کړ،نور نو ټولواکان نه شي کولای ،هغه څوک وزغمي چې ټول ګواښوي.

سردار، په ډېر ادب خو ناهیلۍ وویل:

-ټولواکان ؟اغلې ! تاسو دټولواکانو یادونه وکړه؟ البته زه د روسیې په اړه نه غږېږم،مګر دغه شان ټولواکانو لکه،شپاړلسم لویي،شهزادګۍ الیزابتې(د شپاړلسم لویي خور ) ، څه وکړل؟هېڅ !

هغه خپلو خبرو ته په ډېرې تلوسې دوام ورکړ:

-باور وکړئ چې دا د بوربون،کورنۍ ته دهغو دخیانت د بدل ډالۍ ده. ټولواکان خپل سفیران استوي چې د تخت له ښکېلاکګرو (غاصبانو ) سره خواخوږي وکړي.

هغه له سپکاوي نه یو سوړ اسویلی وویست او بېرته یې پر خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې ځنګ بدل کړ....

سردار، خبروته په داسې ژبه دوام ورکاوه چې ګواکې غوږونه یې دچا دخبرو د اورېدو پورې نه دي، بلکې داسې یې اننګېرله چې په دې برخه کې دی تر ټولونه د ژورې پوهې خاوند دی او دی یوازې د خپلو خبرو او ذهني بهیر څارنه کوي، هغه وویل:

-که ناپلیون یو کال نور هم دفرانسې پر تخت پاتې شي، حالات به ډېر نازک او کړکیچن شي، دفرانسې ښه ټولنه به په دوکو، په تېروتنو، په تېریو، شړلو او وژلو دتل له پاره نابوده شي او هغه وخت به...

هغه اوږې پورته واچولې او لاسونه هم ورسره جګ کړل. پېیر غوښتل چې څه ووایي، ځکه دغو خبرو خوند ورکړی و، خو اناپاولوفنا هغه تل تر سترګولاندې څاره، نو دهغه دخبرو په منځ کې ورننوته او په هغې خواشینۍ چې تل یې د امپراتور ټولواک د کورنۍ دغړو دنومونو په یادولو، په غږېدا کې پیدا کېږي، وویل:

ټولواک الکساندر فرمایلي دي چې دفرانسې دحکومت ټاکنه، خپله فرانسویانو ته ورپرېږدئ.

هغې له ټولواکپال کډوال سره دخواخوږۍ په نښه زیاته کړه:

-هر هغه ملت چې ځان له غاصب واکمن نه وژغوري، بېشکه چې دقانوني ټولواک په پناه کې به ژوند کوي.

سردار اندرې وویل:

- په دې خبرې باور خورا ګران دی، ښاغلی سردار په رښتیا حق لري ووایي چې خبره ډېره کړکېچنه شوې ده، زه هم تصور کوم چې پخوانو حالتو ته به ستنېدل خورا ګرانه خبره وي.

پېیر، په تریو تندي او ترخه ژبه بیا خبرې پیل کړې او وې ویل:

-ټول مخور او درباریان دبناپارت پلوی شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار پرته له هغه چې پيير ته وګوري، وويل:

-دا خبرې د بناپارت پلويان کوي.په دې ورځو کې د فرانسوي ټولنې د خيالاتو ځرګندول او خپرېدل خورا ګرانه خبره ده.

سردار اندرې په ملنډو وويل:

دا بناپارت ويلي دي.له ورايه ځرګنده وه چې سردار د هغه نه خوښېږي، که څه هم هغه ته يې نه کتل،مګر دا ويناوې د هغه پرضد وې. له لږ څه ځنډه وروسته يې بيا د ناپليون د ويناوو يادولو ته دوام ورکړ:

- ما هغوته د ويار لاره وروښوده،هغه دوی خوښه نه کړه،ما هغوی ته خپله سرښندنه وړاندې کړه ،خو هغوی د پرګنو خبرې کولې.

.نه پوهېږم چې ده تر کومه، دا حق لاره چې دا رنګه خبرې وکړي.

سردار چې د هغه خبرې نه منلې، په ځواب کې وويل:

-هېڅ، ان د ګيرځوګه، تر وژلو وروسته د هغه خورا نېږدې پلويان هم ،هغه د خپل اتلولۍ ور نه ګڼي.هغه اناولوفنې ته مخ ورواړوو او يادونه يې وکړه:

-ان که کوم وخت هغه ،دځينو لپاره يو اتل هم و ،خو دګيرځوګه تر وژنې وروسته په اسمان کې د شهيدانو شمېر يو تن زيات او د ځمکې د اتلانو په شمېر کې يو تن کم شوی دی.

اناپاولوفنا او نورو لا په خپلو موسکاووا او سرښورونو د سردار د خبرو ستاينه، نه وه کړې چې پيير د هغو خبرو ته ورننوت.

که څه هم اناپاولوفنا لا له مخکې دا احساس کړې وه چې کېدای شي هغه اپلتې ووايي،مګر د هغه مخه يې نيولای نه شوه.

ښاغلي پيير وويل:

- دګيرځوګه اينګينسکې اعدامول (پانسي) يوه ستره دولتي وړتيا او دملي ګټو لپاره ډېره وړ وه،نو زما په عقېده د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژل، دبناپارت د روح د پرتم، ثرګندونه کوي او دا ځکه چې ددغه شان يو مسووليت له منلو وبرېدلی نه دی.

اناپاولوفنا په ډېرې ګبنهی او وېرې تر شونډو لاندې وويل:

-يا خدايه، يا خدايه.

کمکۍ شهزادګۍ چې داوبدلو سيخونه خپلې خوا ته را نږدې کول، وويل:

-ښاغليه پېيره !يعنې څه، څنګه تاسو د خلکو په وژنه کې د روح پرتم وينئ.

له هرې خوا شر او شور پيل او د ګنې ګونې اوازونه پورته شول:

-اه، اوه، داڅه وايي؟...

شهزاده ايپوليت چې په رغوو يې خپل ځنګنونه تپول په انګرېزي وويل:

-افرين، افرين.

سردار يوازې او يوازې اوږې پورته واچولې او بس.

پېير، چې په ډېر پرتم د خپلو عينکو له شا، ټولو ته کتل او په داسې يو غږ چې ناهيلۍ ترې ثرګندېدې، وويل:

- زه دا خبرې ځکه کوم چې د بوربن کورنۍ له انقلابه وتښتېده او ملت يې اړ دوړ ته پرېښوده، يوازې ناپليون و چې انقلاب يې درک کړ، هغه يې بري ته ورساوه، نو ځکه يې نه شو کولای، ټول ملت دېوه تن تر ژونده ځار کړي.

اناپاولوفنا پر هغه غږ وکړ او وې ويل:

-ښه به نه وي چې تاسو هغه بل ميز ته لاړ شي.

مګر، پېير، بې له هغه چې د هغې خيال وساتي، ځواب يې ورکړ:

-نه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خپلې خبرې لا پسې اوږدې کړې او لا يې په ډېرې خوښۍ او تلوسې وويل:

-ناپليون، له دې کبله ستر دی چې تر انقلاب هم لوړ شو، د انقلاب نيمګړتيا او بدۍ يې وځپلې، د خلکو لپاره يې د هغه ښېګڼې راڅرګندې کړې او د بيان او مطبوعاتو ازادي يې خوندي وساتله.ده يوازې له همدې کبله پر واک ولکه وکړه.

سردار وويل:

که د واک تر ولکې وروسته، هغه، له واکه د خلکو دوژلو لپاره کار نه وای اخيستی او هغه يې قانوني ټولواک ته سپارلی وای، ما به هغه وخت، هغه ستر بللی وای.

_هغه نه شو کولای دا کار وکړي، ملت يوازې له دې کبله هغه ته واک وسپاره چې هغه، هغوی د بوربن د کورنۍ له ولکې نه وژغورل، ده په همدې چارې کې خلکو د هغه سترتوب وليد.

ښاغلي پيېر، خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

-د انقلاب چاره، ستره چاره ده.

هغه په دغو لمسوونکو خبرو چې په هغو کې د هغه تودې خو ناهيلې غوښتنې څرګندې وې، هڅه کوله په يو وار د زړه براس وباسي.

اناپاولوفنا وويل:

-انقلاب او ټولواک وژنه ستره چاره ده، تر دې وروسته... او بيا يې خپله خبره هغه ته وريادہ کړه:

-نه غواړئ هغه بل ميز ته لاړ شئ؟

سردار چې لنډه موسکا يې پر شونډو راخوره شوه، وويل:

- د ژان ژاک روسو ټولنيز تړون.

-زه د ټولواک د وژنې خبره نه کوم، زما هدف د انديښنو خبرې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پېغور سره مل يوه بل غږ، دهغه خبرې ور پرې کړې:
-هو کې !د تالان، ټولواک وژنې، اودمرګ ژوبلې اند ښنې.
ـالبته چې دا ټولې تندلارې چارې وې، د انقلاب سترو الی په دې کې نه و ،د انقلاب ستروالی په بشري حقوقو، دخلکو په ژغورنه او دهغوی په برابری کې و.ناپليون دا ټول کړه او دهغو چارې په ټول قوت سره خوندي کړل.
سردار په ډېره سپکه او ترخه ژبه،داسې چې ګواکې په پای کې يې پرېکړه کړې ،ددغه زلمي دخبرو ټول اپلتوالی په غوڅه ورته په ډاګه کړي،وويل:
ـازادي او برابري دهغـه دهـل غـږ دی چې بـدنامی او رسـوايی لا پخوا ټولو ته څرګندې شوې دي. څوک دي چې ازادي او برابري به يې نه خوښېږي؟ زموږ خپل ژغورونکی(حضرت عيسي ) لا پخوا د برابری او ازادی روزنـه کولـه.تاسو فکـر کـوئ چـې تـر انقلابـه وروسـته خلـک نيکمرغـه شـول، بـرعکس، دا مـوږ وو چـې د ازادی غوښـتونکي وو او بناپارت هغه نابوده کړه.
سردار اندرې، چې خندل يې، کله پېير، کله سردار او کله هم کـوربنې ته سترګې اړولې.
انا پاولوفنا ،د پېير ددغو خبرو په پيل کې،دخپلو ټولو ټولنيزو تجربو سـره سـره ،د هغه،لـه وينـا نـه وېرېـدلې وه،خـو کلـه چـې يـې وليدل،د پېير د ټولوځيرو او تندو ، ويناوو له اورېدو وروسته چې ددې له نظره چور کفر وې ،سردار بياهم خپله ارامي ساتلې اوپه دې هم پوه شـوی دی چـې ،خبـره هسـې لـه جوړېدو وتلې ده،پـه سـپينه او ډانـګ پېبلې يې له سرداره پلوی څرګنده کړه او وې ويل:
-ګـران او ښـاغلي پېير ،نـو دا راتـه ووايـه څنګـه هغـه سـړی، د ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی په نامه یادوئ چي کولای شي ګیرڅوک خو څه چي ،آن بې ګناه سړی هم بې له دلیل او بې محکمې ووژني.

سردار وویل:

زړه مې و ،وپوښتم ،چي ښاغلی د برومر داتلسمې نېټې په اړه څه ویلي شي؟ ایا دا دوکه نه ده؟ دا د دوکې او غولولو داسې یو دام دی چي دیوه ستر نارینه له کړو سره هېڅ نېږدې والی نه لري.

کمکۍ شهزادګۍ چي اوږې یې پورته اچولي غږ وکړ:

ولې د هغو برمتو (اسېرانو ) په هکله څه نه وایي ،چي په افریقا کې هغه وژلي دي؟ دا ډېره وحشتناکه ده.

سردار ایپولیت وویل:

-هر څه چي وایي ،هغه دې ووایي ،هغه ډېر بې اصله او بې نسبه سړی دی.

پېیر نه پوهېده چي ژرکوم سیال ته ځواب ووایي ،ټولو ته یې وکتل ، وموسېده ،موسکایې دنورو موسکاوو تـه ځکه ورتـه نـه وه چي ډېره تصنعي وه.کله چي یې شونډې خنداتـه جوړېدې،ناڅاپـه یـې څېره ځېرمنه او حتې لږشان ته ،خواشینې شوه ، غم په کې راخورېده او پر ځای یې بله څېره چي دماشومانوڅېرې تـه ورتـه او خورا زړه راښکوونکې وه راڅرګندېده ،داسې څېره چي لږ شان ته ساده او په هغې کې دننواتو ننبې رابرېښېدې.

سردار چي دلومړي ځل لپاره هغه لیده ،په بشپړه توګه په دې پوه شو چي دغه وطني یاکوبیځ (سیاسي ډله ) ،هومره ګواښمن او وحشتناکه نه دی لکه دهغه ویناوې چي ګواښمنې دي.

په دې وخت کې پر ټولو یوه چوپتیا راخوره شوه.

سردار اندرې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاسو څنګه غواړئ چې په يووار تاسو ټولو ته ځوابونه وواييئ؟زه داسې انګېرم چې د يوه دولتي چارواکي او د يوه ځانګړي وګړي کړه بايد دي وه ټولواک او لوی سردار له کړو نه جلا وګڼل شي.

پېير، چې د دغه شان يوې مرستې له رارسېدو نه خوشاله شو، وويل:

-هوکې هوکې...دا همداسې ده..

سردار اندرې ،خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

-له دې نه سترګي پېښدای نه شي، چې ناپليون د يو ستر انسان په توګه د ارکول د پله د يافا په روغتون کې.پر کولرا ديوه اخه ناروغ د لاس په کېښکو دلو سره ديوه ستر سړي دريځ تر لاسه کړ. خو له بله پلوه،هغه داسې کړه هم تر سره کړي چې د ښنلو نه دی.

سردار اندرې چې د تګ تکل يې کړی و ،پاڅېده او د خوځېدو په تکل يې خپلې مېرمنې ته اشاره وکړه او له ورايه څرګندېده چې په دې ډول يې غوښتل د سردار پېير،د بې ځايه خبرو بده اغېزه را نرمه کړي.

سردار ايپوليت،ناڅاپه پاڅېد او د لاسونو په ښورولو يې د ټولو د تګ مخه ونيوله.هغوی ته يې د کيناستو بلنه ورکړه او وې ويل:

-اه،پوهېږئ نن مې يوه ډېره په زړه پورې،خوږه مسکوي ټوکه اورېدلې ده.هغه بايد هرمرو تاسو واورئ او خوند ترې واخلئ.

سرداره ! تاسو به ما وبښئ.زه که دا ټوکه په روسي ژبه ونه وايم ټول مرچ او مالګه يې ورکېږي.

هغه د هغو فرانسويانو په لهجه داسې روسي ويل پيل کړل چې ګواکې يو ازې يو کال يې په روسيه کې تېر کړی وی.هغه په داسې خوند اورنګ،مينې او تلوسې د اورېدونکو پام ځان ته هغه شان چې ده غوښتل ور واړوو، ټول ځای پر ځای ودرېدل او له خوځېدا نه پاتې شول.ټوکه داسې وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-په مسکو کې يوه مېرمن ژوند کوي، هغه خورا ښخيله او موزۍ ده.هغې غوښتل چې دوې مينځې ولري.د هغې مينځې بايد د جګې ونې خاوندانې وي.هغه هم ډېرې لوړې، دا د دې غوښتنه او هيله وه.هغې وويل...

دلته و چې سردار ايپوليت چوپ شو.چورت کې لاړ، دا سې بريښېده چې نه پوهېږي څه ووايي.

هغه وويل:

-ونجلۍ !

خپلې ځانګړې مينځې ته يې وويل:

-راشه او د مينځو دا ځانګړې جامې واغونده او له ما سره لاړه شه،زما د ګاډۍ شا ته کېنه چې د هغه ديدن ته لاړ شو.

نور نو ويکنت، د اورېدونکو د خندا پر وړاندې د درېدو توان نه لاره او له هغو مخکې ده خندل.د دې خندا په خلکو خورا بده ولګېده، خو له دې سره سره زياتره اورېدونکو او له هغې ډله نه هغې زړې بوډۍ او اناپاولوفنا هم وموسېدل.

-مېرمن وخوځېده، خو ناڅاپه سخت باد را ولګېده، د نجلۍ خولۍ يې يوړه او د هغه درمند ويښتان هم جړ جړ او ګډ وډ کړل.

کله چې ټوکه دلته را ورسېده، نور نو هغه نه شو کولی د خپلې خندا مخه ونيسي، هغه د خپلې خندا په څپو کې وويل:

-او ټول خلک پوه شول...

ټوکه هم دلته پای ته ورسېده، ، خو څوک پوه نه شول چې هغه څه غوښتل.ولې يې دا ټوکه هغه هم په روسي ژبې وويله، مګر له دې سره سره اناپاولوفنې او د ښه‌‌ار زياترو کسانو له هغه نه ځکه مننه وکړه چې په خپلې ښکلې وينا يې د پيير ناښکلې وينا هېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**جــګړه او سوله**

تـر دغـې ټـو کې وروسـته خبـرې بلـې خواتـه واوښـتې او پـه پـای کـې ټولو ،ددغې اوپخوانیو او راتلونکو نڅایزو مېلمستیاوو په اړه داسې خبرې کولې چې هغه به څنګه ،چېرې کله او دچا کره وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

مېلمنو له اناپاولوفنې، دهغې له دې زړه وړونکې مېلمستيا ،له تود هرکلي او په ورين تندي تر مننې وروسته ،کرار کرار په وتلو پيل وکړ.
پيير يو ډېر شډل ځوان و ،خوځېدا يې هم کږه وږه وه. هغه تر نورو لږ د جګې ونې، څورب ځان او غټو سر اولاسونو په لرلو ،دخلکو په وينا نه شو کولای په عادي بڼه، بهډارونو او مېلمېستياوو ته ورشي، په تېره بيا هغه نه شو کولای هسې په عادي توګه له هغه نه ووځي.تر وتلو مخکې د کومې ځانګړې خبرې ويل دده لپاره ډېره په زړه پورې و.
تر دې بر سيره، هغه تل ګبنۍ اخيستی او په تلوار کې و.د ساري په توګه، کله چې هغه د وتلو په تکل پاڅېد ،دخپلې خولۍ پر ځای يې، د کوم جنرال، درې کنجه په بڼکو ،ګاڼل شوې خولۍ ،رااخيستې وه او داسې يې ښودله چې هېڅ څه ته يې پام نه دی.هغه له هغې خولۍ نه تاج ډوله بڼکې اېستلې وې.دده دې کار ترهغه پورې دوام پيدا کړ چې جنرال له هغه هيله وکړه ،خوله يې ورته وسپاري.خو دهغه دا ټول تلوار، ګبڼی، الـه ګوله او کمزورتيا ،بهډارونو او مېلمستياووته دهغه ښايسته ننوتل او ښکلې خبرې، هغه څه وه چې دده دلومړيو ګناهونو پور يې پرې کاوه.
انـا پاولوفنا ، هغه ته مخ ورواړوه او پـه ورين تندي يې چې د رښتينو عيسويانو ځانګړتيا ده، هغه ته دا وښودله چې ټول ناوړه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وربښلي دي.هغې چې سر ښوراوو ،وويل:
-ښه ګرانه ! ښاغليه پيېره ! هيله لرم چې بيا مو ددېدن نصيب وشي،خو ای کاشکې چې مو په خپلو اند ښنو کې ،بيا کتنه کړې وای.
مګر پيېر دهغې ځواب ورنه کړ،هغې ته په درناوي، درناوي کې يې ،خپله موسکا بيا پر شونډو خوره کړه،هغه موسکا چې د هېڅ شي ځرګندونه يې نه کوله مګر داچې:
زما اند ښنې او عقايد چې هرڅه وي،وي به،مګر وګورئ چې ډېر پاک زړی او رښتين ځوان او ويا ړمن يم.
ټول اوريدونکي او دهغو له ډلې نه اناپاولوفنا ،ددې موسکا په اصلي معنې ښه پوه شول.
سردار اندرې له هغه دالانه چې جامې په کې ويستل او اغوستل کېږي،ورتېر شو ،خپلې اوږې يې دچوپړخواته واړولې او ددې لپاره لږ څه ورټيټ شو چې کوټ ور واغوندي.هغه په ډېرې بې پروايئ ،دخپلې مېرمنې د پرله پسې غوښتنو له امله دسردار ايپولت خبرو ته چې د کاليو اغستلو لپاره دالان ته راغلی و ،غوږ نيولی و.سردارايپولت دښکلې امېد وارې شهزادګۍ ترڅنګه ولاړ و او دخپلو لاسي عينکو له شا يې په خوند خوند هغې ته کتل او نه يې شو کولای له هغې سترګې بلې خواته واړوي.
کشرې شهزادګۍ دخدای په امانۍ په ترڅ کې انا پاولوفنا ته وويل:
-مهرباني وکړئ انا جانې،چې ساړه مو ونه شي،او زياته يې کړه:
-ارامه اوسئ.
اناپاولوفنا ددې مېلمستيا په لړکې په دې هم بريالۍ شوې وه،له لېزې سره د خپلو هغو خيالونو په اړه چې د سردار اناتول لپاره،دهغې دمېره دخور ريباري وه ،خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انا پاولوفنا، يوځل بيا په کراره وويل:

زما ټوله هيله تاسو ګرانې ته ده، هغه ته به هرومرو په دې اړه وليکئ او وروسته به بيا راته ووايئ چې پلاريې په دې هکله څه وايي؟ دليدو په تمه.

هغې دا خبرې وکړې او د کاليو له کوټې نه ووته.

سردار ايپوليت، کشرې شهزادګۍ ته ورنږدې شو، خپل سريې د هغې اوږو ته ورټيټ کړ او په بنګېدو بنګېدو يې هغې ته څه وويل.

د شهزادګۍ او ايپوليت چوپړانو د هغو د خبرو د پای ته رسېدو په تمه يو شال او بل کوټ په لاس ولاړ وو، هغوی سره له هغه چې په هېڅ نه پوهېدل، د هغوی خبرو ته چې په فرانسوي غږېدل، غوږ نيولی وو. خو د هغو خبرې دا ښودنه کوله چې ګواکې په هرڅه پوهېږي، مګر نه غواړي په څه شي پوه شي.

کشره شهزادګۍ د تل په شان په موسکا غږېده او په خندا، خندا يې خبرې اورېدې.

سردار ايپوليت وويل:

ځومره خوښ يم چې د سفير کره نه يم تللی، ځومره ستومانه کوونکې به وه. دلته هرڅه په بې ساري توګه ښه او په زړه پورې وو. دا سې نه و؟ ګوره ډېر ښه نه وه؟

شهزادګۍ خپله خوږه، نازکه لنډه پر نرو وېښتو ګاڼل شوې شونډه را لوړه کړه او ځواب يې ورکړ:

-وايي چې د نڅاوو بنډار هلته ډېر ښه دی، ټولې ښکلې ښځې هما لته را ټولې شوې دي.

سردار ايپوليت چې په بد مستۍ خندل، چوپړ يې پورې واهه، په ډېرې شدلې يې له هغه نه شال را واخيست او د شهزادګۍ پر اوږويې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور وغوړاوه او وې ویل:

-ټولې نه ، ځکه تاسو هلته نه یاست، ټولې نه.

وروسته له هغه چې یې شال، د شهزادګۍ پر اوږو ور وغوړاوه، دا معلومه نه شوه، چې سهواً و، که لاسي، هغه خپل لاس ونه دا سې ښکته واچول چې ګواکې دی هغه ځوانه ښځه کېښکاږي.

شهزادګۍ، په ډېر لطافت او نزاکت او همیشنۍ موسکا پر شونډو، د هغه له غېږې ځان را وویست او خپل خاوند ته یې سترګې ورواړولې. شهزاده اندرې سترګې سره تړلې وې، دا سې تصور کېده چې هغه ډېر ستومانه او خوبولی دی. په دا سې حال کې چې ښځې ته یې نه کتل، له هغې نه یې وپوښتل: چمتو یې؟

سردار ایپولیت خپل لنډ کوټ چې دده تر ځنګنو هم نه رسېده، واغوست. هغه که څه هم دده د تنګ خنډ کېده، خو د ورځني دود سره یې ځنګ لګاوه. په زینه کې یې ښکته مخه کړه او په شهزادګۍ پسې یې چې یوې مینځې مرسته ورسره کوله ګاډۍ ته وخېژي، منډه واخیسته. هغه په دا سې یو ډول چې د ژبې واک یې هم لکه د پښو هغو ترې تللی و، په ډېرې سختۍ یې چیغه کړه:

ـ ګرانې شهزادګۍ دلیدو په تمه!

شهزادګۍ خپله لمن او کالي راټولول او په ګاډۍ کې کیناسته. مېړه یې خپله توره راووېسته او پر هغې یې لاس تېراوه. سردار ایپولیت په خپلې چوغلۍ د مرستې او چوپړ په پلمه د ټولو د زوربېدو او نا ارامۍ سبب و. سردار اندرې چې سردار ایپولیت یې ګاډۍ ته د ختلو خنډ شوی و، په وچه او ترخې روسي ژبې وویل:

-اجازه راکړئ! ښاغلیه! چې تېر شم.

په هماغه خو دا وار، په خوږه او مهربانه ژبه یې، پېیر، ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو ته ستر ګه په لاره یم ،ښاغلیه ،پښیره !

ګاډیوان اسونو ته متروکه ور غبرګه کړه او دګاډۍ ارابې په چورلیدو شوې.

سردار ایپولیت چې سردار ته تر کوره د رسولو ،وعده ورکړې وه، د زینو پر سر ورته ستر ګه په لار ولاړ و او په ځند ځند خندا یې کوله. سردار ورو ستـه لـه هغـه چې لـه سردار ایپولیت سره په ګاډۍ کې کیناست، وویل:

ـدا باید ووایم چې ستاسو دا نازولې شهزادګۍ خورا ښکلې ده.ویلې شم چې بې اندازې.هغه دخپلو ګوتو څوکې مچې کړې او وې ویل:

کټ مټ لکه دفرانسویانو په شان !

سردار ایپولیت په کبرجن او لوړ اواز وخندل.

سردار دوام ورکړ:

- ایا ته په دې پوهېږې چې هغه په هغې ساده څېرې په زړونو څه اورونه بلوي؟زما یې هغه خوار مېړه ته زړه خوږېږي، هغه خوار پوځي چې تصور کوي د واک لوړو کړیو ته یې لاس رسېدلی دی.

ایپولیت بیا خپله غیر طبیعي خندا پیل کړه او د کړس کړس خندا په منځ کې یې وویل:

-ستا یادېږي چې ویل به دې چې روسۍ ښځې ،فرانسویانو ته نه رسېږي؟نه دا سې نه ده، سړی باید په خبره پوه شي.

پښیر ،چې د کور تر خاونده مخکې ،کورته رسېدلی و ،دهغه ملګري په شان چې دکوربانه په شان په کورکې بلد وی،مخامخ د سردار اندرې دفتر ته ورغی.پر هغه لوموړي څه چې هلته دهغه سترګې ولګېدې،هغه کتاب و چې د سزار یادښتونه نومېده.هغه یې را واخیست، پر کټ اوږد

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېوت، څنګل يې ولګوله، کتاب يې په منځ کې پرانست او د هغه په ويلو يې پيل وکړ.

سردار اندرې خپل دفترته د ننوتلو سره سم، خپل دواړه واړه او سپين لاسونه سره ومښل او وې ويل:

-تا په دې پېغلې شيرر، څه راوستي دي، اوس نو هغه، په رښتيا ناروغه ده.

پېير، له خپل ټول ځوربوالي او درونوالي ،په ډېره واوښت، داسې چې تا ويل ګواکې کټ يې هم په ننواتو او زګيرويو راوستی وي.خپل مخ يې چې د مستۍ او شور ښېي په کې راڅرګندې وې، د سردار اندرې خواته ورواړوه، وې خندل او وې ويل:

-خير، دا ،ابات ،ډېر په زړه پورې سړی دی.افسوس، افسوس چې په پېښو پوره نه پوهېږي.زما په عقيده ،د ټينګې سولې راوستل، نا شونې خبره نه ده ،خو زه نه شم کولای هغه تاسو ته ووايم ،يوازې، څه ووايم...شونې ده ،خو نه د سياسي انډول له لارې.

له ورايه څرګنده وه چې سردار اندرې د دغه تشو خبرو لېوال نه دی،نو وې ويل:

-ګرانه !دا نه کېږي چې په هرځای کې ،هر هغه څه ووايي چې په زړه درځي.

هغه تر لږ ځند او چوپتيا وروسته وپوښتل:

- ښه ده،اوس نو ته راته ووايه ،تا څه پرېکړه کړې ده؟ غواړئ چې شاهي ګارډ ته را شې او که غواړې چې ډيپلوماتي کارونو غوره کړې؟

پېير، پر کټ کې کيناست، پلتری يې ووهلې او وې ويل:

- ته يې تصور هم نه شي کولای ،لا تر اوسه هم نه پوهېږم. که رښتيا راباندې وايې نه مې دا او نه مې هغه ،يو مې هم نه خوښېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مګر ته باید په پای کې پرېکړه وکړې، پلار دې تاته سترګې په لاره دی.

پېیر ،لا دلسو کالو و چې د آباته په نامه له خپل یوه روحاني استاد سره بهر ته لېږل شوی و او تر شل کلنۍ پورې له وطن نه لرې پاتې شوی و.مسکو ته تر راستنېدو وروسته یې پلار آباته رخصت کړ او خپل ځوان زوی ته یې ویلي و:

- اوس لاړ شه، پترزبورګ ته، سترګې دې ښې پرانیزه او ځان ته دې یوه دنده غوره کړه.هر هغه پرېکړه دې چې وکړه، هغه زه منم،دا یو لیک دی چې سردار واسیلي ته لیکل شوی دی،دا هم پیسې ،هرڅه دې چې وکړل، ماته یې ولیکه چې زه دې له کړو وړنه خبر واوسم.هر چېرې چې وې،زه مرسته درسره کولای شم.

درې میاشتې کېدې چې ،پېیر،دخپلې راتلونکې دندې په غوره کولو لګیا و.هغه هر پلو ،هرځای ګرځېده او هرچا ورته. خو هېڅ پرېکړه یې نه وه کړې،دادې اوس سردار اندرې،دهمدې کار دغوره کولو په اړه او ځانګړتیا له هغه سره غږېده.پېیر، په خپل تندي لاس تېر کړ او وې ویل:

-هغه باید ماسون (روحاني-سیاسی ډله )وي.دده موخه هغه آبات و چې په پرونۍ مېلمستیا کې یې لیدلای و.

سردار اندرې یوځل بیا هغه په دې اړه له خبرو نه منع کړ او ورته وې ویل:

_دا هسې تش خیالونه دي،ښه به دا وي چې دځېنو غوره خبرو په اړه خبرې وشي.ته د سورلیو ګارډ ته ورغلی وې؟

_،نه !نه وم ،خو ماته یوڅه په خیال کې راګرځېدلي دي، غواړم دهغه په هکله له تاسو سره وغږېږم.دادی اوس له ناپلیون سره جګړه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ده، که دا جګړه د خپلواکۍ په لاره کې وای، زه به تر ټولو د مخه پوځ ته تللی وای، مګر اوس د نړۍ تر ټولونه د ستر سړي پر وړاندې د انګلستان او اتریش تر څنګ دریدل به ښه کار نه وي.

-سردار اندرې د، پیېر، ددې ماشوم ډوله خبرو تر اوریدو وروسته، یوازې اوږې پورته واچولې او له کړو نه یې داسې څرګند یده چې ګواکې وایي، ښه به دا وي چې دغه شان احمقانه پوښتنو ته ځواب و نه ویل شي. ربښتیا هم دغه شان ساده پوښتنو ته، له هغه ځوابه پرته چې سردار اندرې ورکړی وای، بل ځواب به ګرانه خبره وه، خو سردار اندرې زیاته کړه:

-که ټولې جګړې د عقیدو لپاره وای، اصلا به جګړې نه کیدای.

پیېر، وویل:

-دا به څومره غوره وای که داسې وای.

سردار اندرې له ملنډو ډکه موسکا وکړه او وې ویل:

-دا به ربښتیا هم غوره کار وای، خو ددې کار سرته رسیدل، هیڅ کیدونکي نه دي.

پیېر وپوښتل:

-ښه نو، تاسو د څه لپاره جګړې ته ځئ؟

هغه له یوې شیبې چوپتیا وروسته خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

-ولې جګړې ته ځم؟ زه نه پوهیږم. همداسې لازمه ده. له دې پرته، زه ځکه جګړې ته ځم، دغه ژوند چې اوس یې زه دلته لرم، دا زما نه خوښیږي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

په ګاونډ کوټې کې د ښځو د جامو شرهار او شور او ځوږ شو. سردار اندرې ته وا ګوا کې له خوبه را پاڅېدلی وي، ور پېږدېد او څېره یې هماغه ښه غوره کړه لکه چې د اناپا ولوفنا په مېلمستیا کې وه. پېیر، خپلې پښې، له کټه وځړولې، شهزادګۍ کوټې ته راننوته. هغې کالي بدل او ښایسته تازه کورنۍ جامې یې اغوستې وې، خو دا جامې هم د هغو نورو جامو په شان، په بې ساري توګه ښکلې او زړه راښکونکې بریښېدې. سردار اندرې، پاڅېد او په ډېر ادب یې هغې ته څوکۍ ور وا ړندې او برابره کړه.

شهزادګۍ په چټکۍ او ځانګړې تلوار پر څوکۍ کیناسته او د تل په شان یې په فرانسوي ژبه وویل:

ـ زه تل په دې خیال کې یم چې، ترور، ولې مېړه نه دی کړی؟ تاسې ښاغلې که هوښیار وای له هغې سره به مو واده کړی و. تاسو ما وبښئ، زه د اسې فکر کوم چې د ښځو په هکله تاسو په هېڅ هم نه پوهېږئ. تاسو ښاغلیه پېیر! څومره تېینګار او اړودوړ کوئ.

پېیر، بې له هر ډول شرمه (په دې بڼه چې یو ځوان یې په ځوانۍ کې کوي) شهزادګۍ ته وویل:

-تصادفاً مې ستاسو له مېړه سره هم په دې اړه ډېرې خبرې کړې چې ولې جګړې ته ځي؟

شهزادګۍ د دې خبرو په اورېدو سره ورېږدېده او د اسې وانګېرل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه چې ګواکې د پېیر خبرو د دې پر زړه مالګه دوړولې وي.

هغې وویل:

-اخ ! زه هم همدا وایم.زه نه پوهېږم په هېڅ ډول مې په دې سر نه خلاصېږي چې نارینه ولې نه شي کولای بې جګړې او شخړې ژوند وکړي ؟ولې موږ ښځې هېڅکله هېڅ نه غواړو او هېڅ ته اړتیا نه لرو؟ راشئ او تاسې پخپله قاضي شئ.زه هم تل هغه ته وایم چې هغه همدا اوس د قوماندان (یاور)لاسمل دی،نور نو ،تر دې نه ښه منصب څه غواړي؟ټول هغه پېژني او درناوی یې کوي.څو ورځې دمخه مې د اپرکسیانو ،په کورنۍ کې واورېدل چې یوې مېرمنې یې پوښتنه کوله:

-دا ددوی هغه پېژندل شوی سردار اندرې دی،.باور وکړئ،رښتیا وایم،دایې وویل ،په خندا شوه،او زیاته یې کړه:

-د ټولو ښځارونو د سر تاج دی.په ډېرې اسانۍ سره کولی شي د معظم ټولواک ((یاور ))شي.پوهېږئ چې اعلحضرت ،پرهغه څه مهرباني پیرزو ، کړې ده. اعلحضرت دده په هکله له ترور ،سره خبرې کړې.کله چې له ترور سره غږېده .هغې وویل چې، ددې کار سرته رسول به ګرانه خبره نه وي.ستاسو نظر په دې اړه څه دی؟

پېیر ،سردار اندرې ته وکتل،خو پوه شو چې آشنا یې ددغو خبرو په اورېدو چندان خوشاله شوی نه دی،نو ځواب یې ورنه کړ،خو وې پوښتل:

_تاسو څه وخت ځئ؟

-اخ،مه مې پوښته ! ددې تګ په هکله مې مه پوښته ،اصلا نه غواړم په دې اړه څه واورم.

شهزادګۍ په هماغه ناز او ادا چې په مېلمستیا کې له سردار ایپولیت سره غږېدله،اوس په خپل کور او کورنۍ کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير، هم دهغې غږی ګڼل کېده او بايد داسې نه غړېدای، وويل:
-نن مې فکرکاوه چې ډېر ژر به ،دې په زړه پورې اړيکو ته دپای ټکی کېښـودل شي، هو کې ! تـه پـوهېږئ اندرې،لـه دې نـه چې ورتېـر شو ،اندرې پوهېږئ،پـه دې وخت کې يې د ميړه خواتـه پـه معنـي داره غلچـک وکتـل ،هغـه تـه يې شا ور واړولـه او پـه لړزېدلي نـرم اوازيـې وويل:
-زه وېرېږم،وېرېږم.
دهغې مېړه هغې ته داسې وکتل چې ګواکې دی لـه دې نـه پـه حيـرت کې دی چې په دې کوټه کې له ده او پېير پرته بل څوک هم شـته. ،خـو پـه ساړه نزاکت يې له خپلې ښځې وپوښتل:
-ليزا.زما خو هېڅ سر نه خلاصېږي،ته له څه شي نه وېرېږئ؟
ليزا وويل:
ګورئ !نارينـه څـومره ځانغوښـتي دي.ټول، هغـه ټول ځانغوښـتي او کبرجن دي.خدای خبر چې هغـوی پـه خپلو کومـو هوسـونو پسـې روان دي،زما هغه يې ځي او ما دژوند ټولو نادودو ته يوازې او يوازې په يوه کلې کې بنديوانه پرېږدي.
سردار اندرې په کراره هغې ته وويل:
-په ياد دې اوسه !له خپل پلار او خور سره دې پرېږدم.
-څه تـو پيـر لـري؟ بې لـه خپلـو دوسـتانو چـې هـر چېـرې يـم، يـوازې يم.بيا وايي نه پوهېږي،چې ولې وېرېږم؟
نوريې نو په ژبه کې کرکه له ورايه راڅرګنده شوه،نورې،نو پاسنۍ شونډه، څېرې ته دخوښۍ نښې نه ښنـلې،بلکې دځناور رنګه کرکې بڼه يې پيدا کړې وه.يوه شېبه خاموشـه پـاتې شـوه،ته بـه وايـې چـې د خپلـې امېدوارۍ په اړه يې د پېير ،په مخکې له شرمه څه نه شو ويلای،حال دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټول راز په همدې خبره کې نغښتی و.

سردار اندرې چې خپلې ښځې ته سترګې ګنډلې وې، په کراره وېـو ښتل:

-خو بیا هم زما په دې سر خلاص نه شو او پوه نه شوم چې له څه نه وېرېږې؟

شهزادګۍ چې له ډېرې غصې تکه سره شوې وه، په ډېرمات زړه او ناهیلۍ یې لاسونو پاس واچول او وې ویل:

-نه اندرې! باید دا ومنې چې ډېر ډېر بدل شوی یې.

سردار اندرې په ځواب کې وویل:

-داکتر دې، تاته لارښوونه کړې ده، چې ببګایې د وختـه وېده کېږه، ښه به دا وي چې لاړ شې او وېده شې.

شهزادګۍ هېڅ و نه ویل، خو ناڅاپه یې لنډه او په نرو وېښتو پاسنۍ ښکلې شونډه په رېږدېدو شوه. په دې وخت کې سردار اندرې پاڅېد، اوږې یې پورته واچولې او د کوټې بلې خواته لاړ.

پېیر، د خپلو عینکو له شا نه، په سادګۍ او حیرت، کله شهزادګۍ او کله هم سردار ته کتل، ځان یې وخوځاوه، داسې خوځېدا چې تصور کېده چې هغه هم غواړي پاڅي، مګر هغه، له خپل دې تکل نه تېر شو او بیا په خیال کې ډوب شو.

کشرۍ شهزادګۍ ناڅاپه وویل:

ښه ده! ښاغلي پېیر چې دلته دی، وي دې. د ښکلې او نازولې خبرې ښه یې، ژړغونې غوندې شوه او دوام یې ورکړ:

-اندرې له ډېرې مودې راهسې غواړم. له تا نه دا پوښتنه وکړم چې له ما سره دې په کړو وړو کې ولې داسې بدلون راغلی دی؟ اخر ما له تا سره څه بد کړي دي؟ ایا ته چې پوځ ته ځې، ما یوازې پرېږدې، په ما دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه نه خوږېږي، وو ایه ! دڅه په خاطر؟

سردار اندرې یوازې دومره وویل:لیزا !

د سردار اندرې په دې خبره کې هم هیله نغښتې وه او هم ګواښ، خو له ټولو نه مهمه لا دا وه چې داندرې په دې خبرو کې یو ډول ډاډ هم نغښتی و چې ګواکې کېدای شي شهزادګۍ له خپلو کړو وړو نه خپله پښېمانه شي ،خو شهزادګۍ په ډېر تلوار خپله خبره اوږده کړه:

- ته له ماسره داسې غږېږي چې ګواکې له کوم ناروغ او یا له کوم ځلور پنځه کلن ماشوم سره .زه هر څه وینم، ایا ته لا شپږ میاشتې مخکې همداسې وې؟.

سردار اندرې تر پخوا لا خبرې ځېږې کړې او وې ویل:

-لیزا !زه له تا نه هیله کوم، بس کړه.

پېیر، چې ددې ناندریو په اورېدو لا پسې ګبنۍ اخېست او له واکه وت، پاڅېد او شهزادګۍ ته ور نږدې شو.داسې برېښېده چې د اوښکو دلیدو زغم نه لري او هېڅ پاتې نه وه چې خپله په ژړا شي.

-شهزادګۍ ارامه شئ، تاسو خیال کوئ چې زه...تاسو ته ډاډ درکوم، پر ما همداسې تېر شوي...ولې...ځکه چې...نه، وبښئ، زه دلته هسې پردی... ارامه اوسئ...دخدای په امان.

سردار اندرې، دهغه لاس راونیوه.او وې ویل:

_نه، پېیر، ودرېږه ،شهزادګۍ دومره خوا خوږې او مهربانه لري چې نه غواړي ما نن شپه ستا دبنډار له ویاړه بې برخې کړي.

په داسې حال کې چې د شهزادګۍ په لېمو کې د اوښکو باران راشېوه شو ،وې ویل:

-وینئ؟وینئ چې هغه یوازې او یوازې دخپل ځان په خیال کې دی.

اندرې په لوړه او ترخې ژبې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-لیزا !

دهغه غږ نور نو دومره لوړ و چې دهغه د زغم دپای ته رسېدو ښودنه یې کوله .

خو ناڅاپه د شهزادګۍ تریو تندی او وېرژله څېره بېرته بدله، ښکلې اوله نازه را ډکه شوه.دهغې ډارن حالت بېرته دخواخوږۍ او څېره یې زړه راښکوونکې شوه.تر ښکلو او وحشت ځپلو سترګو لاندې یې خپل خاوند ته وکتل..هغې په یولاس دخپل کمیس ګونځه شوې لمن راټوله کړه،مېړه ته وروړاندې شوه، هغه یې پر تندي ښکل کړ او وې ویل:

- زماخدایه !زماخدایه !

سرداره اندرې،له خپل ځایه پاڅېده،په ډېر ادب یې دیوه پردی، په څېر د خپلې ښځې لاس ښکل کړ او وې ویل:

-شپه په خیر ،لیزا !

دواړه دوستان همداسې چپه خوله ناست وو.نه یوه شونډه ښوروله او نه هغه بل ژبه خوځوله.پېېر، پرله پسې اندرې ته کتل او سردار اندرې په خپلو ښکلو لاسونو ،خپل تندي مښه.

تر ښایسته ځنډه وروسته ،هغه پاڅېد ،سوړ اسویلی یې وویست، د وره خواته وخوځېد او وې ویل:

- درځئ چې ماښامنۍ وخورو.

هغوی یو ښکلي او پرتمین خوړنتون ته ورننوتل.په دې ځای کې هرڅه او هرشی،له دسترخوانه نیولې،لاسپاکونو ،سپینزري کېړي،تر پیالو ، چینیو او هرڅه هرڅه پورې لا تر اوسه دیوې نوې واده کړې ځوانې جوړې شوې کورنۍ نښې څرګندولې.د ډوډۍ په نمیایي برخه کې وه چې سردار اندرې څنګلې پر میز کېښودې او داسې بریښېده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به وايي له ډېرو وختونو راهسې يې کوم درونند پېټی د زړه پر سر ايښې وي او غواړي چې په يو وار هغه لرې او يايې ناڅاپه لرې غوځار کړي. په ډېرې عصبي بڼې او ګړنۍ يې چې لاتراوسه هېڅکله، پېير، خپل ملګری، داسې نه و ليدلی، په خبرو پيل وکړ:

ـ ګرانه ملګريه ! غواړم تا ته يوه لارښوونه وکړم. هېڅکله واده مه کوه. هېڅکله ! تر هغه به واده نه کوې چې پوه شوی نه يې چې خپل ټول هغه ارمانونه نه دي پوره کړي چې پوره کول يې غواړې. تر هغه وخته به ښځه نه کوې چې خپله د خوښې ښځه لا درته ګرانه وي او هغه دې ښه پېژندلې او ليدلې نه وي او کنه سخت به تېروتلی وې، داسې تېروتنه چې بيا به هېڅکله نه سمېږي. هغه وخت به ښځه کوې چې عمر دې خوړلی وي، زوړ شوی يې او بل هېڅ کار دې له لاسه نه کېږي او کنه ، هر هغه د درناوي او ګرانښت لوړ څه چې په تا کې شته، هغه به هسې تالاوالا شي. هر څه به دې په بې معنې او بېکاره کارو غوندې عبث وي. هو کې، هو کې، داسې په حيرت مه راته ګوره، که دې واده وکړ بيا به په هرګام کې داسې انګېرې چې تا ته هر څه پای ته رسېدلي او ټولې لارې ستا پر وړاندې تړلې، تا ته به له سترو مېلمستياوو پرته هر څه پای ته رسېدلي وي ، هغه وخت به ته يو دريځ لري ، هغه دا چې ته به له مينځو، مرييو، چوپړانو او تشو ککريو سره په يوه جاله کې لاس په نامه ولاړ وې... نو هغه وخت به بيا څه ګټه ولري...

د دې خبرو په پای ته رسېدو هغه په ډېر قوت لاسونه او سر وښورول او داسې يې وښودله چې هر څه تېرېږي.

پېير، عينکې له سترګو لرې کړې. د عينکو د لرې کولو سره د هغه د مخ بڼه هم داسې بدله شوه چې په هغه کې د لاسپېڅلتيا او مهربانۍ نښې څرګندې شوې. هغه په ډېر حيرت خپل ملګري ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

- زما مېرمنه خورا ښکلې ده، هغه يوه له هغو ښځو نه ده چې کېدای شي له هغې سره په ښه نامه او عزت ژوند وشي. مګر اې خدايه! همدا اوس زه دې ته چمتو يم چې د دنيا هرڅه چې لرم، هغه له دې ځار کړم چې بېرته يوازې او بې واده شم. هو کې پېيره! دا چې ته تر ټولو نه راته ګران يې، ته لومړنی او يوازينی څوک يې چې تا ته دا سې د زړه داغونه راسپړم.

سردار اندرې، د دغو خبرو په وخت کې هغه بالکونسکي سردار ته چې د اناپاولوفنا په مېلمستيا کې و، هېڅ ورته والی نه درلود، هغه سردار ته چې هلته دانا پاولوفنا پر څوکۍ په مينه غزېدلی و، د لرليدو په پلمه به يې سترګې تنګولې او په غاښ چيچنې غاښ چيچېنې به يې يو نيمه فرانسوي خبره کوله.

د هغه د نا ارامې څېرې، هره مرانده او هره برخه له ډېره قهره جلا جلا، رېږدېدل. د هغه سترګې چې مخکې له هغه نه، د دوتشوو او له اوره خالي ځالو ته پاتې کېدې، اوس له رڼا او لمبو نه ډکې برېښېدې. داسې څرګندېده چې څومره يې د ژوند چېنه په ورځني ژوند کې سړه او له کاره لوېدلې وي، په دغو شېبو کې، رنځورو او له تبې نه ډکو شېبو کې، په خورا بې سارې ښه ابشېږي.

هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ او وې ويل:

- ته نه پوهېږې چې زه دا خبرې ولې کوم؟ ګوره! د ژوند ټوله کيسه په همدې خبرو کې پرته ده. ته د بناپارت، د هغه د سترو چارو او کړو وړو په هکله غږېږې (که څه هم، پېير، د بناپارت په اړه نه و غږېدلی) ته وايې بناپارت، بناپارت چې کله د هڅو له توفانونو نه ډک و، ګام په ګام د هدف په لور پرمخ تلو، هغه وخت ازاد و. هغه وخته يې له خپل هدفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته، بل څه نه پېژندل، نو همدا علت و چې خپل هدف ته ورسېد. اوس راشه یوه ښځه هم ځان پورې وځړوه، په خپلو لاسو او پښو کې کړۍ واچوه او ځان له ازادۍ نه بې برخې کړه. هره هغه هیله، هڅه او توان دې چې په زړه کې وي، هغه به لکه د یو دروند پېټي په شان ستا په اوږوو دروندوالی کوي او د پښېمانۍ لمبې به دې په عذابوي. دا مېلمستیاوې، دابنډارونه او په هغو کې ویل کېدونکې غیبتونه، ببولالې، دانڅاوې، ټېټوالی، پاسوالی او په هغو کې ځانغوښتنې دداسې کوډو، کړۍ دي چې نه شي کېدای له هغه نه ځان وژغورم. زه اوس جګړې ته روان یم، داسې سترې جګړې ته چې د تاریخ نه یاد بېږي، حال دا چې زه په هېڅ نه پوهېږم او د هېڅ چا په درد نه خورم، هسې ببولالې غړوم او یو ښه لاپو یم او د اناپاولوفنا په مېلمستیا کې هم خلک زما خبرو ته غوږ غوږ وي.

سردار اندرې وروسته خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ:

- دا احمقه ټولنه، چې له هغې پرته زما ښځه ژوند نه شي کولای. توبه، توبه، له دې ښځو توبه، ای کاشکې ته په دې پوهېدای چې دا نیکې ښځې یا تش په نوم ښځې یعني څه؟ زما پلار رښتیا ویل چې کله د ښځو رښتینه څېره برالا شي، له ځانغوښتنې، ځانستاینې او بربادۍ پرته هلته بل څه نه شته، هو دادې ښځې. کله چې په ورځنې ژوند کې هغو ته ګورې، داسې بربښې چې په دې راز کې یو څه نغښتي، یو څه شته، مګر نه، کله چې لږ ښه ورته ځیر شې، هېڅ، هېڅ، هېڅ،...

سردار اندرې، خپلې خبرې داسې پای ته ورسولې:

-هو کې زما ګرانه! ښځه به نه کوئ، هېڅکله به ښځه نه کوئ.

پییر، وویل:

ډېره د خندا وړ ده، تاسو خو بلکل په ځان ملنډې وهئ، تاسو ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوړه او بېکاره ګڼئ، خپل ژوند له لاسه وتلی او بایللی بولی. نه، نه، دا سې نه ده، ستاسو راتلونکې په مخکې ده. او تاسو...

هغه خپلې خبرې نیمګړې پرېښودې او ونه یې ویل چې تاسو؟ څه؟ خو دژبې له خوږوالي نه یې داسې څرګندېده چې ترکومې اندازې پورې خپل ملګری ورته د درناوي وړ دی او دهغه راتلونکې ته څنګه سترګې په لاره دی.

پېیر له ځانسره وویل:

- هغه څنګه کولای شي دا خبرې وکړي؟ پېیر، سردار اندرې څکه د ټولو ښېګڼو غوره ښه باله چې هغه، هغه ښېګڼې درلودې، چې پېیر دهغو له لرلو نه بې برخې و. هغه ښېګڼې چې د ستاینې په غوره بڼه د ویناېز هنر او ارادې ښېګڼې بلل کېدې. پېیر، تل دبېلابېلو خلکو د کړو پر وړاندې د اندرې د ارامۍ، د حافظې د توان، د هغه د پراخې او هر اړخیزې مطالعې (هغه هر څه لوستنه، په هغو پوهېده او د هر څه په اړه یې معلومات لرل) او له هر څه زیات د هغه د کار کولو او زده کولو ځانګړتیاوو ته په حیرت کې و. که څه هم زیاتره وخت پېیر، په سفسطه او خیالبافۍ کې (چې دی یې ډېر لېواله و) د اندرې له ناتوانۍ نه تعجب کاوه، خو بیا هم دغه ځانګړتیا هغه، دهغه نیمګړتیا نه بلکې د پوهې لوړتیا ګڼله.

آن په خورا نېږدې او ساده دوستانه اړیکو کې لږه خوږژبې او ستاینې په کار دي، لکه هغه غوړ چې د کوم څرخ د ښې خوځېدا لپاره په کار وي.

سردار اندرې وویل:

-زه یو تباه شوی یمه. دما په اړه څه غږېږئ؟ راځه دتا په هکله وغږېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چې چپه خوله و، زغمښوونکو خیالونو یې موسکا پر شونډو راخوروله، هغه موسکا چې په شېبه کې یې بیا اغېز د پیر په مخ راڅرګند و.

د پییر شونډې چې یوې خوښوونکې او ژغورونکې موسکا نه خلاصېدې، وو یل:

-زما په اړه به څه وو ایئ؟زه څوک یم؟یو ارموني زوی.

ددې وروستي خبرې په ویلو سره ناڅاپه هغه ځیګري ډوله سور شو.دا سې بریښېدل چې دا وینا وې په اسانۍ دهغه پر ژبه جاري شوي نه دي:

- نه نوم او نه شتمني. ښه ده،نو څه کولای شو؟رښتیا خبره داده چې...خو هغه دا ونه ویل چې رښتیا خبره څه ده.سمدلاسه زه ازاده او ښه یم، خو په دې مې په هېڅ ډول سر نه خلاصېږي چې څه پیل کړم؟نو ځکه غواړم په غوڅه او سپینه له تاسو سره مشوره وکړم.

سردار اندرې، په خوږو او مهربانو سترګو هغه ته کتل. سره له هغه چې کتل یې دوستانه او له خواخوږۍ سره مل و، خو په هغو کې تر پییره د ځان ښه ګڼلو انځور له ورایه بریښېده، هغه زیاته کړه:

- ته ما ته له دې کبله هم ډېر ګران یې چې د موږ د ټولې او غوره ډلې په مینځ کې یو ژوندی سړی یې. په خپله وایې چې کوم شکایت نه لرې. دا نو ډېره ښه ده، هر کار دې چې خوښېږي، هغه در ته غوره کړه. دا مهمه نه ده چې څه کار، مهمه دا ده چې هر څه او هر چېرې وې چې ته هلته او په هغه کې خوښ واوسې.مګر،مګر یو کار وکړه او هغه دا چې: د دغه کوراګین له کورنۍ سره دې خپل تګ راتګ پای ته ورسوه.. بل دا چې، د ژوند او سنۍ لاره دې لږه بدله کړه.دغه ډول ژوند چې ته یې کوې، دا عیاشي،دا مستي او د سواره پوځ له افسرانو سره ناسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړه ،له تا سره هېڅ نه ښايي.

پيير، اوريې پورته واچولې:

- نو څه وکړم ګرانه ! ښځې، ښځې...

اندرې ځواب ورکړ:

- پوهيږم، ښې ښځې خو ښځې وې، خو هغه ښځې چې د کوراګين کورته تګ راتګ لري،...ښځې او شراب نه، په دې نه پوهېږم.

پيير، د سردار واسيلي کوراګين کره مېشت و. او د هغه د زوی اناتول په ټولو بې باکيو، عياشيو او مرداريو کې ورګډ و. دا هماغه اناتول و چې د په لار کېدو په هيله يې د سردار اندرې د خور ريباري ورته کېده.

پيير لکه چې کوم ډېر مهم او بختور خيال يې په تصور کې را ژوندی شوی وی، وويل:

- پوهيږئ ! سپينه يې درته ووايم، له ډېرو وختونو راهيسې په همدې چرت کې يم، هېڅ نه شم کولی، د دې ژوند په اړه څه پرېکړه او کوم سم فکر وکړم. سرسامه يمه او له ټولو نه بد تره چې جيب مې هم تش دی. اناتولي، همدا نن مانښام يې مېلمه کړي يم، خو زه نه غواړم هغه ته ورشم.

- نو له ما سره ژبه وکړه چې نه ورځئ.

- بس ژبه ده، سمه د ميړانې ژبه.

******

وخت د شپې له يوې نيمې بجې نه اوښتی و چې پېير، د خپل انډيوال له کوره ووت. د پترزبورګ د جون د مياشتې يوه سپينه شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. او د پترزبورګ له رنځو شپو نه، هغه شپې چې تياري نه شي کولای لمن وغوړوي. پېير، يوه ګاډی يې ونيوه چې کورته لاړ شي. خو هرڅومره چې کورته نږدې کېده، په دې ډاډه کېده چې په دې شنه سهار يا قضا مازديګر ته ورته رڼې شپې کې ويده کېدل ناشوني دي. ډېر لرې لرې په تشو واټونو کې، هر څه ښه ليدل کېدل. د لارې په اوږدو کې ور په زړه شول چې د کوراګين د کورنۍ په ننني ماښامني مېلمستيا کې به له دود سره سم، د جوارۍ (قمار) بنديار ښه جوړ وي. هغه کسان چې په جوارۍ او شراب څکلو کې به روږدي وي، هغه به ټول را ټول وي. د مېلمستيا په پای کې به دا بنديار د ده د زړه د خوښې په لوبې پای ته رسيږي.

په زړه کې يې وويل:

- ښه به دا وي چې يو وار کوراګين ته ور تېر شم. خو ناڅاپه يې ور په ياد شول چې له سرداره اندرې سره يې ژبه کړې ده چې نور به د ګوراکين کور ته هېڅکله نه ورځي، خو هماغه شېبه لکه چې د نا ژبو وګړو عادت دی، په خورا ضعيف النفسۍ وغوښتل يو ځل بيا، د اشنا هوسناک او هرزه ژوند خوند وڅکي. په دې يې زړه ته ډاډ ورکړ چې دا هېڅ پروا نه لري چې اندرې ته يې د خلکو په څېر په مېړانه ژبه کړې ده، ځکه هغه په دې دليل ځان قانع کړ، مخکې له هغه چې زه د سردار اندرې سره ژبه وکړم، ما سردار اناتول ته وعده ورکړې وه چې کور ته ورځم. وروسته يې دا هم په زړه کې ور وګرځېدل چې دا وعدې، دا ژبې او دا قولونه هسې تش نسبې ورځني خيالونه دي چې هېڅ معنی نه لري. هغه له ځان سره وويل:

- بله خبره دا ده چې، ژوند هېڅ اعتبار نه لري، کېدای شي، سبا ته ومرم، يا له کومې ناوړه بدمرغه پېښې سره مخامخ شم، بيا به نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرافت پاتې وي، نه ژبه او نه وعده. په دغه شان بېلا بېلو دلايلو يې ځان قانع کړ، د هغه لپاره د دغه راز دليلونو او بهانو جوړول چې د هغه وعدې هسې تشې خبرې کړي ،ورځنۍ خبرې وي.ده دا وار هم خپلې ټولې وعدې، هېرې کړې او بالاخره، د کوراګين کور ته ورسېد.

دی،د هومره نه سترې مانۍ د وتلې څنډې مخې ته ورسېد.د امانۍ د سورو پوځونو ديوې قطعې تر څنګ پرته وه. هلته اناتول ژوند کاوه. هغه کرار کرار په زينو د مانۍ هغه پلو ته چې رڼا وه ور وخوت او په يوه پرانتې دروازې ورننووت. هلته هېڅوک نه ليدل کېدل،هرې خوا ته تش کنډولي ،نري کوټونه او کلوشې،خواره واره پراته وو، د شرابو بوی او لرې لرې د خلکو د ګڼه ګوڼې غږونه او شر و شور اورېدل کېده.

ډوډۍ او لوبې پای ته رسېدلې وې، مګر مېلمانه لا نه وو تللي. پيير خپل کوټ وارتېر او لومړنۍ کوټې ور ننووت. د سترخوانونه لا غوړېدلي وو. يوه چوپړ په دې هيله چې څوک يې نه ويني نيم پاتې جامونه پر سر اړول. له دريېمې کوټې د شهواني زګيرويو ،مستې خندا ،آشناډوله آوازونه او د يوه ابېږ غړمباري اورېدل کېدې. د اتو تنو په شاوخواکې ځوانان دکړکۍ مخې ته را ټول او ګڼه ګوڼه يې جوړه وه. درې تنه نور پر ابېږ اخته وو، يوه يې ابېږ له ځنځيره نيولی او داسې يې هغه کشاوه چې بل يې پرې ډاراوه.

يوه نارې وهلې:

- ما په ستيفن سل روبله کېښودل.

بل يې نارې وهلې:

- پام چې څوک يې و نه ساتي.

دريېم چغې وهلې:

-زه شرط وهم، چې دولوخوف يې ګټي، کوراګينه ! ته خو خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي اوسه.
ښه میشکا نور یې نو پرېږده ،شرطونه ووهل شول.
څلورم بیا نارې وهلې،چې یو ګړز وکړه،او کنه بای دې لوده.
د کور خاوند چې جګه ونه او ښکلې ځواني لرله، نازک کمیس په غاړه،پرانستې ټټر د دغې ګڼه ګونې په مینځ کې ولاړ و او نارې یې وهلې:
- یاکوفه ! راوړه، یو بوتل راوړه.
وروسته یې وویل:
- ښاغلو صبر وکړئ،د خدای لپاره !.
بیا یې مخ پېیر ته وروااړاوه، او وې ویل:
- دا هم پتروشا ، زما ګران ملګری !
د دغو ټولو مستو نشئیانو د شر وشور په منځ کې دیوه منځوني،روڼ شین سترګي سړي ،لوړو نارو او نشه والي ځانته پام وروااړوه .هغه د کړکۍ له څنګه نارې وهلې:
- دې خواته راشه او په دې لوبه کې منځګړی اوسه !
د دې غږ خاوند دولوخوف و.د سیمینوفسکي د قطعې افسر.هغه چې له اناتول سره اوسېده. په جوارۍ او توره وهلو کې یې خورا لوی نوم لاره.
پېیر چې موسېده او په خوښۍ یې شاوخوا کتل،وپوښتل:
-په هېڅ مې سر نه خلاصېږي، څه خبره ده؟
اناتول غږ وکړ:
-ودرېږئ، هغه لا نشه شوی نه دی، راوړئ، یو بوتل راوړئ.
هغه له میزه یو جام را واخیست، هغه یې ډک کړ ،پېیر ته ور وړاندې شو او هغه یې څکلو ته وروبوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لومړی باید جام پورته کړئ.

پېير، پيل وکړ، يو جام، بل جام او بل، تر ستر ګو لاندې يې هغه مست مېلمنانه ځارل او د هغو خبرو ته يې غوږ نيولی و چې بيا يې د کرکې خواکې ګنه ګونه جوړه کړې وه. اناتول، پر له پسې هغه ته جام ډکاوه او ور ته ويل يې چې:

- دولوخف له انګريزي ستيفنس نومي مانو سره چې په دې مېلمستيا کې ګډون لري شرط تړلی دی چې هغه يعني دولوخف، به د دغې کړکۍ نه چې د ودانۍ په دريم پوړ کې دی، په داسې حال کې يو بوتل تر پايه څکې، چې دواړه پښې به يې د باندې ځوړلې وي.

هغه چې وروستی جام ورته ورکاوه، وې ويل:

ژر، ژر، ښوره ! په سر يې واړواه، تر هغه چې کنډول تش نه کړې، کله دې پرېږدم.

پېير وويل:

-نه، نور يې نه غواړم، اناتول يې له مخې لرې پورې واهه او د کړکۍ خوا ته ورورړاندې شو.

دولوخوف، چې انګريز له لاسه نيولی و، په داسې حال کې چې زياتره وخت يې اناتول او پېير ته کتل، د شرط، ټول شرايط يې په لوړه او خوږه ژبه، بيان کړل.

دولوخف، منځنۍ ونه، غوټه غوټه ويښته او شنې سترګې لرلې.هغه د ۲۵ کالو برېښېده. ده هم د ځمکني پوځ د ټولو افسرانو په څېر بريت خرئيل. نو له دې کبله د هغه خوله چې د هغه په ټول بدن کې د پام وړ وه، له ورايه ښکارېده. د هغه د شونډو کرښه ډېره ښايسته او د هر ليدونکي پام يې ځان ته ورګرځاوه.د هغه د پاسنې شونډې منځنۍ برخه چې د ټونګې بڼه يې پيدا کوله داسې پر لاندنۍ هغې را پربوتې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکې د خولې دواړو کنجونو کې يې د دوو موسکاوو دايمي تصوير جوړاوه. دغې خولې او شونډو، په تېره بيا خماري، ځير او ژور، د هغه څېرې ته هغه شان يو حالت ورباښه چې هېڅ امکان يې نه لاره، پام ځان ته ور وانه ړوي.

دولوخف، بډای نه و او نه يې کوم ځانګړي اړيکي او يا تړولنيز اغېز لاره. که څه هم هغه له اناتول سره چې د کال تر لسو زرو پورې روبله يې هسې خرڅول، اوسېده، مګر هغه داسې ژوند کړی و چې ټولو آشنايانو او نا آشنايانو، له اناتوله هغه ته زيات درناوي کاوه. هغه د هرې لوبې، لوبغاړی او د ټولو لوبو ګټونکی و. هغه به چې هر څومره څکل، عقل يې له لاسه نه ورکاوه. کوراګين او دولوخف، په دې پړاو کې د سن پترزبورګ په عياشانو کې، تر ټولو پېژندل شوي نومونه ياد بدل.

يو بوتل نوي شراب يې سره راوړل. دوو چوپړانو، هڅه کوله د کړکۍ چوکاټ چې د کړکۍ د بهرني سر، په ښکته خواکې ناستې ته خنډ جوړاوه، مات اولرې کړ. داسې برېښېده چې د دغه چوپړان هغو، نارو، سورو او سپارښتنو لا پسې ورخطا کړي و چې له هرې خوا پر دوی وربدلې. اناتول، ديوه ګټندوی په څېر، کړکۍ ته نېږدې شو، زړه يې غوښتل چې کوم شي مات کړي. چوپړان يې پورې وهل او چوکاټ يې وښوراوه، خو دړه له ځايه هم و نه ښورېده. ده ايينه ماته کړه.

هغه پېير ته مخ وروااړاوه او وې ويل:

- راځه زوروره!، وګوروچې ته څه کوې؟

پېير، چوکاټ ته منګولې ورته کړې، د کړکۍ د ګوګل له تل نه خرپهاری اوچت او هغه د بلوطو له کلک لرګی نه جوړ شوی چوکاټ يې له بېخه را وويست.

دولوخوف وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-درلرې یې کړئ او کنه بیا به سره وایي چې له کوم څیز نه مې لاسونه ټینګ کړي وو.

اناتول وویل:

-اې انګریزه !تا خو ویل چې باتې وهې،وادې وربدل؟او س څنګه راضي شوې؟

پېير،بې له هغه چې جام په لاس له دولوخوفه ،سترګې بل پلو واړاوي، کړکۍ ته نږدې شو ، هغې کړکۍ ته چې په رڼه اسمان کې یې د شنه سهار او ژیړې مازدیګر ځلا له ورایه ښکاربده،هغه وویل:

-ښکاري چې راضي شوی دی...

دولوخوف بوتل په لاس کړکۍ ته ور پورته شو ، هلته ودربد او مخ یې مستو مېلمنو ته ور واړاوه، او په چغو چغو یې هغو ته وویل:

_ غوږ شئ.

ټول چوپ شول.

- زه شرط وهم، پنځوس ایمپریالۍ شرط وهم.(هغه په فرانسوي غږبده،ددې لپاره په فرانسوي چې انګریز یې په خبرو پوه شي،خو دهغه د فرانسوي چندان مزه نه وه ).

مخ یې په مېلمستیا کې حاضر انګریز ته ور واړاوه:

زه په پنځوس ایمپریالۍ شرط وهم، که غواړې سل ؟

انګریز ځواب ورکړ:

- نه.هماغه پنځوس سم دي.

- ډېر ښه، زه په پنځوس ایمپریاله شرط وهم،زه د شرابو دغه بوتل بې له هغه چې له شونډو لرې کړم،ټول په یو وار څکم،همدلته ددې کړکۍ نه بهر کښنم او هغه څکم. (هغه ټېټېږي او د کړکۍ د شاد دیوال وتلځای ښیي ) همدلته کښنم او بې له هغه چې کوم ځای ټینګ کړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شم یو بوتل همداسې په یوه سا تر پایه وڅکم، مني یې؟
- انګریز وویل: ډېر ښه.
اناتول انګریز ته مخ ور واړاوه، هغه یې د کوټ له ټټر نه را ونیو. (دا چې د انګریز ونه ډېره ټیټه وه) تـه بـه وایـې چې لـه پاسـه هغـه تـه ګوري، هغه ته یې په انګریزۍ ژبه د شرط، شرایط بیا بیا واورول.
دولوخف، جام ددې لپاره په کړکۍ وټکاوه، چې د مېلمنو پـام ځانـه ته ورواړوي او چیغه یې کړه:
صبر وکـړئ، کوراګینـه، غوږ شئ، کـه څوک دماغوندې بوتـل تـش کړي، زه هغه ته سل ایمپریاله ورکوم.
انګریز سر وښوراوه، خو دا څرګنده نه شوه چې په دې نوي شرط کې هم ګډون کوي که نه؟ اناتول انګریز نـه پرېښود. سره لـه هغـه چې، هغه د سر په ښورولو دا څرګندوله: چې پـه هر څه پـوه شوی دی، مګـر اناتول هغه ته د دولوخوف خبرې په انګریزي ژباړلې. یو ډنګر ځوان چې د سورو پوځیانو له ډلې نه و، (دا په اروپا کې یوه پـوځي ډلـه وه چې پـه زړورتیـا کـې پیژنـدل شـوې وه) چې نـن شـپه یـې شـرط بـایللی و، پـاس کړکۍ ته ور وخوت، له کړکۍ نه یې سر وویست او ښکته یې وکتـل، هلته یې ښکته د پلو د لارې تیرېږ ولیدلې، چیغـه یـې کـړل او وې ویـل: وای، وای.
دولوخف، غږ پرې وکړ:
-دریش، او افسر یې چې د څپلیو سګکونه یې یو پـه بـل کـې بند شوي وو، له کړکۍ نه ښکته کوټې ته راوارتېږه.
دولوخف، ددې لپاره چې د شرابو بوتل په آسانۍ را واخلي، هغه یې د کړکـۍ پـه تـادرۍ کـې کېښـود. پـه خـورا احتیـاط او کـراره د کړکـۍ منځنۍ برخې ته ور وخوت، پښې یې ښکته ځوړندې کـړې، لاسـونه یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کړکۍ دوارو خواو ته اندازه کړل، هر څه یې وآزمایل او کرار کېناست. لړ ښۍ او بیا کېڼې خوا ته وخوځېد او بیا یې ځان وآزمایه. لاس یې را ښکته کړ او بوتل یې را واخیست. که څه هم هوا پوره رڼه شوې وه ولې بیا هم اناتول دوه شمعې راوړې او د کړکۍ دوارو خواو ته یې کېښودې. ټول د کړکۍ خوا ته ور ټول شوي وو. انګریز له ټولو وړاندې ولاړ و. پییر، خندل، خو هېڅ یې نه ویل. د مېلمنو یو تن چې تر ټولو په حال او ځیرک بریښېده، خو د وحشت او وېرې نښې یې په څېرې کې څرګندې وې، په خورا خراب طبیعت، ناڅاپه تر نورو نه ځان وړاندې کړ او په داسې حال کې چې هڅه یې کوله د دولوخف ګریوان ته لاس ور واچوي، وویل:

- ښاغلو، دا احمقانه چارې دي، ځان په لوی لاس وژني.

اناتول هغه ودراوه، او وې ویل:

- ګوره، چې لاس ور نه وړئ، که هغه وډار کړئ، پوهېږې چې وروسته بیا څه کېږي. هو، هغه به ځان له لاسه ورکړي، پوه شوئ؟

دولوخف بیا د کړکۍ دوارو خواو ته لاسونه ولګول، او په داسې حال کې چې خپل ځان یې لا پسې ټینګاوه، او خپلې خبرې یې د خپلو نازکو او سره مروړلو شونډو په مینځ کې ژولې، ټولو ته سر وښوراوه او وې ویل:

- آن، که یو تن هم زما ددې کار خنډ شي، یا کومه خبره په کې وکړي، له همدې کړکۍ نه به یې لاندې وارتیرم، پوه شوئ؟

دا خبره یې چې پای ته ورسوله، اورمېږ یې تاو او لاسونه یې ښکته کړل، بوتل یې را واخیست، لوړ یې کړ او شونډو ته یې ور پورته کړ، سر یې شا خوا ته وګرځاوه، او خپل وزګار لاس یې د انډول د ساتنې لپاره پورته کړ. له هغو چوپړانو نه یو تن چې د ماتو شویو ښیښو د ټوټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولولو لګیا و، مخامخ یې کړکۍ او د دولوخف شا ته کتل او ځای پر ځای وچ پاتې و. اناتول داسې منګ و چې ته به وې په ویښه وېده دی. انګریزي د پربړ شونډي مېلمه له ځنګه کتل. هغه سړی چې دولوخف ته یې له ورنېږدې کېدو راستون کړی و، ځان د کوټې کونج ته رسولی او په یوه کټ کې مخ په دیوال پروت و. پېیر چې پر شونډو یې موسکا ورکه شوې وه، خپله ویرژلې څېره یې په لاسو پټه کړې وه، ټول چوپ وو. پېیر یو وار لاسونه له سترګو لرې کړل. دولوخف هماغه شان ناست و، مګر سر یې دومره د شا خوا ته زیات ګرځېدلی و چې جر جر وینښته یې د کمیس له غاړې سره لګېدل. د هغه، هغه لاس چې بوتل یې نیولی و، کرار کرار پسې لوړېده، مګر له ډېرې هڅې رېږدېده. بوتل چې په کومې چټکۍ تشېده، په هماغې چټکۍ د هغه لاندې برخه پورته تله او څکوونکې(د دولوخوف) سر لاد شا خوا ته ځړېده.

پېیر په زړه کې وویل:

- دا څومره اوږده شوه؟ ده ته داسې وبرېښېده چې ګواکې نیمه ګړۍ تېره شوه. په همدې وخت کې ناڅاپه، دولوخف په ملا کې د شا پلو وخوځېد، او لاس یې په عصبي ډول ورېږدېد. دغه ټکان دې ته بس و چې د ده ټول ځان چې د کړکۍ د تا درۍ پر یوې نرۍ دړې ناست و، بې انډوله کړي. ټول بدن یې ښکته خوا ته تکل کړی و، لاس او سر یې د انډول په هڅه لا پسې په رږدېدو شول. یو لاس یې چېرته د بندېدو په دې هیله پورته خوا ته لاړ چې کوم ځای کې ټینګ شي، مګر بې له ګټې بېرته را ولوېد. پېیر، بېرته سترګې پټې او له ځانه سره یې وویل چې نور به یې هېڅکله بېرته نه خلاصوي. خو ناڅاپه یې داسې وانګېرله چې د هغه ګرد چاپیره هر څه په خوځېدا شوي دي، سترګې یې پرانیستې وې او لیدل یې چې دولوخف، د کړکۍ د تادرۍ، پر سر ولاړ دی، رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې الوته دی، خو خاندي.

-درواخله !تش دی !

دولوخوف دا وویل او بوتل یې، انګریز ته ورواړتیږه. هغه په چټکۍ بوتل ونیو. دولوخوف چې له کړکۍ نه کوټې ته را ګام کړل، د هغه د سا له څپو نه د شرابو بوی اوریدل کېده.

د افرین او خورا ښه ،چیغې،له هرې خوا اوریدل کېدې،دغه ته شرط وایي،بلا کوي،بلا.

انګریز له جیبه بکس را ایستلی و او پیسې یې شمېرلې. دولوخف، چې وروځې یې برندې نیولې وې، آرام ولاړ و. پییر، په چټکۍ کړکۍ ته ور ګام او چیغه یې کړل:

- ښاغلو، څوک چمتو دي چې له ما سره شرط ووهي؟ زه هم دا کار کولای شم. اصلا شرط ته اړتیا نه لیدل کېږي، همداسې بې شرطه غږ وکړئ چې یو بوتل راوړي. کټ مټ، همدا چاره زه هم سرته رسولی شم، هلۍ یو بوتل راوړئ.

دولوخف په خندا وویل:

- پرېږدئ، پرېږدئ، اوس به وګورو چې څه کوي.

له هرې خوا نه هر ډول او بېلا بېل غږونه واورېدل شول:

- لېونی شوی دی، هېڅوک دې نه پرېږدي، لا به کړکۍ ته نه یې رسېدلی او په وینو کې به سرسام شوی یې.

پییر، چې له مستۍ نه مست و، چغې یې وهلې:

- غواړم وې څښم،هغه چې سخت نشه و ،په خورا کلکه یې میز ته ګوزار ورکړ او د کړکۍ پلو څښېده.

هغه یې له لاسه سره راونیو، مګر دی داسې غښتلی و، چې هر څوک به ورنږدې کېدل، هغه به یې داسې ببرته پورې وهل چې مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه.

اناتول وویل:

- داسې په اسانۍ یې نه شي کولي راتم کړي، پربیږدئ چې په تېر اېستو یې راتم کړو.

ده پر هغه غږ وکړ:

-ګوره !زه له تا سره شرط وهم، مګر سبا ته، ځکه اوس ټول خلک غواړي خپلو کورونو ته لاړشي، اوس موږ ځو د...کره.

پېیر لا پسې چیغه کړه:

-ځو ،خو دا اېږ هم له ځانسره بیایو.

هغه اېږ ته غېږ ورکړه ،هغه یې کېښکود ،پورته یې کړ او له هغه سره د کوټې په منځ کې په ګډېدا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

سردار وا سیلي، خپله هغه وعده چې د اناپالوفنا په مېلمستیا کې یې له شهزادګۍ دروبڅکایا سره د هغې د یوازیني زوی باریس د کار په اړه کړې وه، پر ځای کړه. د هغه په هکله ټولواک ته وړاندېز شوی و او هغه او د نورو هیلمندو برخلاف د دویم برېدمن په رتبې د سیمونوفسکي د ګارد په یوه کنډک کې ګمارل شوی و، خو د ټولو هڅو سره سره باریس نه د لوړپوړو افسرانو او نه د کوتوزوف د یاورانو ډلې ته لاره پیدا کړای شوه.

انامیخایلوفا د اناپاولوفنا تر مېلمستیا وروسته سمدلاسه، مسکو ته راستنه او مخامخ د خپلو بډایو خپلوانو، د رستوفیانو کورنۍ کره لاړه. هغه په مسکو کې تل همالته اوسېدله. د هغې نازولی بورنکای (باریس) چې په دې لنډو ورځو کې د مور په هڅو په خورا ښه قطعه کې منل شوی و، هغه له ماشومتوبه، په همدې کورنۍ کې را لوی شوی و او له کلونو راهسې یې په همدې کور کې ژوند کاوه. دغه قطعه لا د اګست په لسمه له پترزبورګه خوځېدلې وه. باریس چې د کالیو او نورو کېړو د اخیستلو لپاره په مسکو کې پاتې شوی و، باید دلارې په اږدو کې د رادزیفیلوف، په سیمه کې هغه ته ځان رسولی وای.

په هماغه ورځ د رستوف کورنۍ دوې کالیزې لمانځلې. د کورنۍ د مور او د هغو د کشرنۍ لور. دا دواړه ناتالیا نومېدې. دوی، د نوم د ورځې جشن لمانځه. لویه مېلمستیا وه. څو آسیزه ګاډیو، له سهاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارکۍ ویونکو ډلې د پاوارسکایا، واټ ته چې د رستوا دکورنۍ ماڼۍ هلته ولاړه وه، رسول. دا ماڼۍ په ټول مسکو کې خورا پېژندل شوې ماڼۍ وه. ګاډیو نه یوازې مېلمانه راوستل بلکې هغوی یې بېرته خپلو ځایو ته رسول. ګرافینې رستوا او د هغې مشره لور د مېلمنو له هرې ډلې سره چې څو شېبې به د مبارکۍ لپاره کېناستل او بېرته یې خپل ځایونه نویو رارسېدلو مېلمنو ته پرېښودل، د هرکلي په لوی مېلمستون کې ناستې وې.

ګرافینه رستوا (ګرافینه او ګراف -د روسیې په امپراتورۍ کې د سردارانو ،خانانو ،اربابانو او نوابونو په شان ټولنیز دریځونه و ) پنځه یا شپږ څلوېښت کلنه بر ښښېده. د هغې له ډنګرې څېرې نه چې د ختیځ خلکو ته ورته وه، دا له ورایه څرګندده وه چې د پر له پسې ماشوم زېږونې له کبله (دولس ماشومان یې زېږولي وو ) خورا ،خواره شوې وه. د خوارۍ له لاسه کرارې خوځېدنې او نرمې غږېدا ،هغې ته داسې حالت وربښلی و چې د هر چا درناوي یې ځان ته زیاتاوه.

شهزادګۍ انامیخایلوفنا دروبڅکایا ، چې د کورنۍ غړې ګڼل کېده ، هم له هغو سره ناسته وه ، مېلمنو ته یې هر کلي وایه او په خبرو اترو یې کې ګډون کاوه. تنکیو پېغلو او زلمیانو چې نه غوښتل یې د مېلمنو په هر کلي کې ګډون وکړي، بلې کوټې کې را ټول شوي وو.

ګراف رستوف به نه یوازې ټولو رارسېدونکو مېلمنو ته هر کلي وایه بلکې د تګ په وخت کې به یې هغوی تر وتلو بدرګه کول او هر یو به یې غرمنۍ ته رابلل، او ویل به یې:

ګرانه، د ځان او د خپلو دوو ګرانو له خوا چې د هغو په ویاړ دا مېلمستیا جوړه شوې ده، ستاسو د راتلو له امله مننه کوم.

هغه ټولو ته، د هغو ټولنیز دریځ او عمر ته له پامه پرته، که به تر ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په ټيټ دريځ کې و که لوړ، ګران ويل. هغه همدا سې پر له پسې ويل:
- هېر مه نه شئ، ګرانه. که ننني غرمنې ته رانه شئ، زه به خوا شينی شم.
تاسو به له موږ سره غرمنۍ کوئ، د ټولې کورنۍ په نامه د زړه له کومې له تاسو نه هيله کوم چې موږ ته وياړ راوبښئ ګرانه!
د هغه خوشاله، چاغه خريل شوې څېره، د دغو يورنګه او تکراري خبرو د ويلو په وخت کې چې ټولو ته درناوي او يو ډول ټينګ لاس ورکولو يې ملتيا کوله، د ټولو لپاره يو ډول تکراريې بڼه پيدا کړې وه او هېڅ ډول بدلون نه په کې ليدل کېده.
ګراف به چې هر وار کومه ډله مېلمانه بدرګه کړل، يو ياڅو تنه ښځينه يا نارينه پاتې مېلمنو ته په بېرته راګرځېدو سرسم به يې، لاس لرونکې څوکۍ پورې وهله، دهغه چا په شان به چې خوښېږيې او يا غواړي وخت په خوښۍ تېر کړي، په خوښۍ کېناست، لينګي به يې سره خلاصول، لاسونه به يې پر ځنګنونو کېښودل، خپل لاس او پښې به يې په انډول کې ساتل، د راتلونکې ورځې دهوا اټکل به يې کاوه، کله به په روسي او کله به يې هم په خورا بدې خو په ډېر ډاډ په فرانسوي ژبې د مېلمنو د حال پوښتنه کوله او له دې سره به يې په خورا ستومانتيا خو د مېلمه پالنې په روحيې، پر خپل تک شين سر، څه لږ پاتې سپين او نرې ويښته په خورا ځېرتيا سمول. تر هرکلي وروسته به يې مېلمانه، ډوډۍ ته وربلل. کله کله به يې چې دا چاره له پيل نه راپيلوله، د چوپړانو دناستې، له هغه دالانه چې دنارنج بڼ ته ورته و، تېرېده او هغه مرمرين او لوی مېلمستون ته به ورغی چې د اتيا تنو لپاره به په کې د ډوډۍ ميز جوړېده او دهغو چوپړانو څارنه به يې کوله چې د ميزونو او پرهغو د سپين زرو، چنيو او ښکليو دستمالونو په جوړولو او ټولولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



به لګیا وو.هغه به دیمتري واسیلوویچ چې یو سیال سړی او دده یاور او دټولو چارو څارونکی و ، ځانته رابالـه او ویل به یې:

-ګوره میتنکا ! پام کوه چې هر څه خورا ښه وي.

هغه چې په ډېرې مینې جوړ شوي لوی میز ته کتل،ویل یې:

-او ! هو کې ! همدا ډېر ښه دی.په میز جوړولو کې تر ټولو غوره د خوړولو ټولول دي.

هغه چې ډاډمن اسویلي ویسته،بېرته دهرکلیو کوټې خواته وخوځېد.

په دې شیبه کې د سردار یو غټ چوپړ چې خورا پلن اوڅورب او تل به یې په تګ راتګ کې دهغه ملګرتیا کوله،دمېلمستون مخکې رانښکاره شو او غږ یې وکړ:

-مارینا لوفوفنا کوراګینه او دهغې لور !

ګرافینې تر لږ فکره وروسته، خپله زرینه تنباکو مروړه چې د خاوند څېره یې په کې وهلې وه،بوی او په پزې کې یې د تنبکو تر اچولو نه وروسته وویل:

-دا مېلمستیاوې مې نور نوله ژونده باسي. ښه ،ښه ! دا به یوه له وروستیو مېلمستیاوو نه وي چې جوړه وي‌یې.

دغه ښځه چې د ځانغوښتنې یوه بې سارې نښنه وه، په غم لړلي آواز چې ګوا کې ویل یې: ښه ده... مهرباني وکړئ.

په دې وخت کې یو جګه، څوربه د ځانګړې ادا مېرمنه، سره له خپلې ګردمخې خندنۍ لور سره چې د کمیسونو شغهاریې له لرې اورېدل کېده، مېلمستون ته راننوتې.

- اه ! ګرانې ګرافینې،مودې مودې کېدې چې ناروغه وه...د رازموفسکې د کورنۍ په ښه‌ډار کې... ګرافینه اپره کسینه..زه خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشاله شوم...

دښځو د غړېدا شر او شور چې په چټکۍ یې خبرې کولې او دیو بل خبرو په منځ کې سر لوېدې، دهغوی خبرې چې د میزو اوڅوکیو د وړاندې وروسته کولو سره مل وې، تر هغه به اوږدېدې چې دوی به سترګه په لاره وې چې په هغو کې د لومړني ځنډ نه ګټه واخلي او داوږدو کمیسونو دشغهار په شور کې پاڅي او ووایي:

- له لیدو نه مو دزړه له کومې...ګراني مورې ستاسو روغتیا... اغلې اپره کسینه. او تر دې نه وروسته بیاهم د اوږدو کمیسونو په شغهار او شر وشور کې د جامې اغوستلو دالان ته ورتېر شي، خپل درانه یانري کوټونه واغوندي او دکورونو په لور وخوځېږي.

په مېلمستیا کې سخته ګونګه، شر او شور، اړ دوړ او شور ماشور روان و، خو د مېلمستیا ټولې خبرې، د هغې ورځې په یوه مهم خبر را تاوېدې. دا خبر د زاړه، پېژندل شوي بډای د دویمې کاترینې د زمانې تر ټولو نه د خورا ښکلي نارینه زاړه سردار، بېزاوخوف د ناروغۍ او د اناپاولوفنا شریر، په مېلمستیا کې د هغه د نا مشروع زوی پېیر، د ناوړه کړو په اړه وې.

یوې مېلمنې وویل:

- څومره مې په دې خوار سردار، زړه سوځي. د هغه روغتیا هسې هم مزه نه وه، خو. اوس یې چې زوی داسې ګلان کرلي، د هغه روغتیا به لا پسې خرابه شي او کېدای شي هغه له پښو وغورځوي.

ګرافینې(ګرافینې) وپوښتل:

- څه خبره ده؟

هغې داسې ښودله، چې ګوا کې داپه دې نه پوهېږي چې دا مېلمانه د څه په اړه غږېږي، حال دا چې، له پنځلس واړو نه یې زیات واورېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغوی ټول د سردار بېزاوخوف د ناروغۍ په لاملونو خبرې کوي.
ګرافینې وویل:
- دا اوسنۍ ښوونه او روزنه، بالکل بل ډول ده. دا ځوان له هماغه ورځې چې بهر ته تللی و ،هماغه شان په خپل حال پاتې شوی دی. اوس لا خلک وایي چې هغه په دې وختونو کې په پترزبورګ کې داسې رسوایي جوړه کړې وه چې پولیس اړوتل هغه تر څارنې لاندې له هغه ښاره وشړي.
ګرافینې وویل:
-عجیبه ده، ښه غربږئ، دا څنګه پېښه وه.؟
شهزادګۍ انا میخایلوفنا، د نورو د خبرو په منځ کې ور ودانګل او وې ویل:
- هغه ډېر بد دوستان ټاکلي دي.چې بد ګرځي بد به پرزي. د سردار واسیلي زوی،هغه او بل کوم دولوخف نومي افسر ،درې واړوو، خدا زده، څه بدنامۍ پیل کړي دي.دوه تنه یې جزایي شول. دولوخف له افسرۍ نه ،د سربازۍ رتبې ته ټيټ شوی دی، د بېيزاوخوف زوی یې مسکو ته شړلی ،خو داناتول کوراګین ګناه د هغه د پلار په لحاظ ورته ببښل شوې ده، مګر سره له هغه هم د پترزبورګ نه ویستل شوی دی.
ګرافینې پوښتنه وکړه:
- دا نو دوی څه کړي دي؟
مېلمنې وویل:
- دوی له داړمارانو هېڅ کم نه دي، خدای دې سرې ترې ساتي، په تېره بیا له دولوخفه، هغه خو د ماریا ایوانوفنا دولوخوفي، زوی دی. خورا درنه مېرمن ده، خو هغه څه کولای شي. هغه درې تنو، کوم اېږ خدا زده له کومې را پیدا کړی،هغه یې ځان پسې کومې کراچۍ کې کېښولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيا يې د لوبغاړو ښځو کورته وروستلی دی، جنجالونه جوړشوي، خلک اړوتي، له پوليسو مرسته وغواړي. مګر هغوی د پوليسو سرمامور، له هماغه ابږ سره شا په شا تړي او کوم لوی مردار ډنډ ته وراړتيږي. ابږ لامبي او سرمامور هم له هغه سره اوړي را اوړي.

ګراف چې له خندا نه يې بډوډې کلک کړي وو، وويل:

- ګرانه ! دا نو عجيبه کيسه ده. د سرمامور حال ښه دننداروو.

- اخ ! دا څه وايئ ښاغليه سرداره.

خو ښځو بې ارادې خندل او خندا يې درولی نه شوه.

مېلمنې دوام ورکړ:

- په يوډول نه ډول هر ښنګه چې و، د پوليسو سرمامور يې سره وژغوره.

هغې دوام ورکړ:

-داهم د ګراف کبريل ولاديميرو ويچ بېزا او خوف زوی په داسې هوښياری ننداريزې لوبې جوړوي. څو مره يې د هغه د ښې ښوونې او روزنې په اړه سره ويل چې داسې دی او هسې دی. ګورئ چې د بهرنۍ روزنې پای چېرې ورسېد ! هيله لرم چې دلته څوک د هغه په بداېتوب تېر نه وزي او خپل کور ته د هغه د تګ راتګ لاره خلاصه نه کړي. چا غوښتل چې له ما سره يې پيژندګلوی وشي ! هېڅکله او په هېڅ ډول به دې پيژندګلوۍ ته غاړه کېنږدو. خدای دې نه کوي، زه پېغلې لورګانې لرم.

-ګرافينه لږه تېته شوه او له هغو نجونو نه يې چې لاتر اوسه داسې ښودل چې ګواکې څه نه اوري، مخ واړاوه او وې پوښتل:

- تاسې له څه نه داسې وايې چې دا ځوان ډېر بدای دی؟ د مشر ګراف اولادونه خو ټول له بې نکاح ښځو نه پيدا شوي دي. هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



میراث حق نه لري. ویل کېږي چې پېیر هم همدا اسې دی، ارمونی دی.
مېلمنې دوا ړه لا سو نه جګ کړل او وې ویل:
-دا سې انګېرم چې ارموني ما شو مان یې له شلو او ښتي دي...
شهزادګۍ انا میخا یلوفنا یې بیا خبرو ته ورننو ته او دا هڅه یې کوله چې له لو یانو او اعیانو سره خپله پیژند ګلوي نورو ته ور ښکاره کړي، په ډېره خوږه خو زارۍ وزمه بڼه یې وویل:
- اوس به زه درته ووایم، ټول خلک پوهېږي چې ګراف کېریل ولاد یمیرو ویچ څه ډول سړی دی. له هغه نه په رښتیا دخپلو ما شو مانو شمېره له یاده وتلې، خو دا پېیر، هغه ته تر ټولو ګران و.
ګرافینې وویل:
- خورا زوړ ښایسته سړی و. ما وروستی ځل همدا پرو سږکال ولید، د هغه په رنګ ښکلی نارینه ما کله نه و لیدلی.
انا میخا یلوفنا، خبره ور غبرګه کړه:
-اوس بالکل بدل شوی دی. غوا ړم ووایم چې سردار و اسیلي، دښځې له پلوه د هغه د ټولو شتمنیو میراث تر لا سه کوي. خو پلار ته، پېیر ډېر ګران و. د هغه روزنې ته یې هم ځانګړې پاملرنه کړې وه. آن ټولواک ته یې هم لیکلي و..هېڅوک اوس نه پوهېږي ،خدای مه کوه، که هغه په رښتیا ومري( اوس د هغه حالت دومره ژوبل دی چې هره شېبه د هغه وروستې سا ته سترګې په لاره دي.آن دا کتر لورن یې(فرانسوي طبیب ،چې د پترزبورګ د مخورو دارو درمل به یې کاوه ) له پترزبورګ نه ده ته راوستی دی، خو دا اوس لا پوره څرګنده نه ده، که هغه ومري، د هغه دا بې پایه شتمني به چا ته رسي؟ پېیر ته، که سردار و اسیلي ته؟ څلویښت زره کسان او میلیونها و روبله نغدې. زه پوره له دې نه خبره یم.ځکه سردار و اسیلي په خپله ما ته ویلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و چې کېپريل ولاديميرو ويچ خو زما د مور د ماما د زوی ماما کېږي. او هغې دا خبرې په داسې بې پروايۍ کولې، چې ګواکې هغې ته هېڅ اهميت نه لري او زياته يې کړه:

-هغه د بوريا ديني پلار هم دی.

مېلمنې وويل:

سردار واسيلي پرون شپه مسکو ته رارسېدلی دی، ويل کېږي چې هغه د پلټنې کوم ماموريت ته روان دی.

ګرافينې وويل:

- مګر خبره دې زما او ستاسو تر منځ وي، دا يوه هسې پلمه ده. هغه، د دې لپاره راغلی دی چې له نېږدې نه د ګراف کېريل ولاديميرو ويچ حال وګورې چې په رښتيا همداسې ژوبل دی چې خلک وايي که څنګه؟

ګراف، چې کله پوه شو، چې مېلمنه د هغه خبرو ته غوږ نه نيسي، مخ يې د نجونو پلو ورواړاوه او وې ويل:

- ګرانه، مګر هغه ننداره به، خورا په زړه پورې وه. هو، زه همداسې فکر کوم. زه داسې انګېرم، چې د پوليسو سرمامور، ښه د خندا او ننداري وړ و. زه به يې اوس تاسو ته پېښبې وکړم.

په دې وخت کې يې لاسونه ګواکې داسې ښورول لکه سرمامور چې به له اېږ سره په اوبو کې ښورولي وي. بيا يې کړس کړس خندا پيل کړه. له دې خندا سره، د هغه څورب او لوی بدن، د هغو کسانو په شان چې له ډېرو خوړو او څکلو ټند شوي وي په ځانګړي توګه رېږدېده. هغه تر خندا وروسته وويل:

مهرباني وکړئ، غرمه به له موږ سره تېره کړئ.

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

يوه چوپتيا خوره شوه. ګرافينې مېلمنې ته کتل هغې چې خوره موسکا کوله، دا يې هم نه پټوله که مېلمانه همدا شېبه پاځي، لاړشي او ووځي، هېڅوک به هېڅکله له هغه ګيله هم نه کوي. د مېلمنې لور چې خپله لمن لا د مخې را ټوله کړې وه، په پوښتنيز غلچک يې مور ته کتل، په دې وخت کې ناڅاپه د څنګ له کوټو نه د نارينه او ښځينه چټکو منډو دا سې آواز واورېدل شو چې د دوی خوا ته را راوان دي. د هغو د يو تن پښه په کومه څوکۍ کې ونښته او ولوېده. يوې ديارلس کلنې نجلۍ چې د خپلې نازکې او نرۍ لمنې لاندې يې څه پټ کړي و، په منډه منډه تالار ته را ننوته، خو کله چې د تالار منځ ته را و رسېده، ودرېده. دا سې ښکارېده چې هغې د خپل تګ اندازه نه ده لګولې او په خپل وخت درېدلې نه وه، ځکه معلومېده چې هغې دالان ته د را ننوتلو هيله نه لرله. په همدې وخت کې يوه زده کوونکې چې سوربخن غاړی کميس يې پر غاړه و، د ګارډ يو افسر، يوه پنځلس کلنه نجلۍ او يو ژيړ رنګه هلک چې د ماشومانو کرتۍ يې پر غاړه وه، د دالان د وره په خوله کې را ښکاره شول. ګراف، پاڅېد، وخوځېد، غېږ يې پرانيسته او په منډه له راغلې نجلې نه يې لاسونه تاو کړل، په لوړه يې وخندل او چيغه يې کړل:

- دا هم د ننني کاليزې او بنډار خاونده، زما ګرانه ناتاشا!

ګرافينې چې د خورا سخت دريځۍ ځانښودنه يې کوله، وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ګرانې، هر کار خپل وخت لري.
هغې خاوند ته مخ ور واړاوه، او وې ویل:
-نتالي، ته هغه ډېره نازه وې.
مېلمنې کمکۍ نجلۍ ته وویل:
- سلام ګرانې، جشن مو مبارک شه! وروسته یې ګرانې ته مخ ور واړاوه او زیاته یې کړه:
- ډېره ښایسته نجلۍ ده.

تور سترګې،لویه خوله ،نه چندان ښایسته نجلۍ خو ډېره خوځنده وه. ښکلې،ماشوم ته ورته اوږې یې چې په منډو کې کمیس ترې ښویېدلې و بربنډې شوې وې، تور، ګونځې ګونځې کاکل یې له تندي نه شا ته وهلی و، مړوندونه یې نازک او لوڅ وو، په لنډ پرتوګ کې یې نري خو ډنګر ورنونه یې له ورایه برېښېدل، په داسې حال کې چې د بوټونو بندونه یې پرانتي و ،په دا منګ داسې خوږه او زړه وړونکې برېښېدله چې نور نجلۍ ماشوم او ماشوم لا پېغله نه ګڼله کېږي.

ځان یې د پلار له غېږې راوویست او مور ته یې ور منډه کړه. بې له هغه چې د مور ویناوو ته غوږ شي، ځان یې د هغې پر اوږو، په پراته تور شال کې ومروړه او په خندا شوه. هېڅ نه و ښکاره چې ولې خاندي، خو په خندېدو خندېدو کې یې په ژولې ژبه د هغې نانځکې په اړه خبرې کولې چې تر خپلې ګونځې شوې لمنې لاندې یې راویستې.
- ګورئ، زما نانځکه، ګو... ر... ئ.

ناتاشا، نور نه شو کولای خبرې وکړي، هر څه یې تر پامه زیات خندني برېښېدل. په مور یې ځان ور وارتېره. او داسې په لوړ اواز یې خندل چې ټول، آن هغه وچه او غمجنه مېلمنه هم بې واکه په خندا شوه.

مور یې په یوې ترخه خوله،له ځانښودنې نه په ډک ډول هغه له ځانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې کړه او وې ويل:

- څه، څه، له دې ځايه لاړه شه. هغې چې مېلمنې ته مخ اړاوه، وو يل:

- دا مې کمکۍ لور ده.

هغې د کومه شېبې لپاره د مور له تور شاله سر را وويست او تر ستر ګو لاندې يې د خندا او ژړا په مينځ کې هغې ته وکتل او بېرته يې ژر مخ پټ کړ.

مېلمنې، ځان اړ وګڼه چې د دې کورنۍ پېښې ستاينه او دا يې ښه وګڼله چې په يو ډول نه يو ډول د هغې سره لېوالتيا ښکاره کړي، نو هماغه و چې ناتاشا ته يې مخ ور واړاوه او ورته وې ويل:

- وګوره، را تـه وو ايـه، ګرانـې ! دا ماشوم (نانځکـه) ستاسو څـه کېږي، دا سې ښکاري چې لور دې ده.

د ناتاشې هغه څه خوښ نه شول چې د غـه مشره مېلمنـه پـه غـرور خو ،د ماشومانو په ژبې له دې سره غږېږي، نو ځکه يې ځواب ور نه کړ، مګر هغې ته يې برند برند وکتل.

په دې وخت کې، د ځوان نسل ډله، باريس هماغه د ګارد افسر د شهزادګۍ اناميخايلوفنا زوى، محصل- نيکولاى د ګراف مشر زوى، او سونيا - د سردار ۱۵ کلنـه خورځـه او د هغـوى تـر ټولـو کـوچنى زوى پتېروشه، ټول په مېلمستون کې ځاى پر ځاى شول. هغوى په برالا تو ګه هڅه کوله خپل هغه شور او خوښي چې د هغو له هر غړي نه ورېده په ډير نزاکت وساتي. دا ښکاره وه چې تالار ته له بلې کوټې نه پـه تلوار تر راتګه مخکې ،هلته د دوى خبرې او کيسې تر هغه څه او خبرو نه چې دلتـه د ښـار د آوازو، د هـوا د حـالتو او د ګرافينـې اپرېکسـني پـه اړه کېدې،خورا په زړه پورې وې. هغوى کله نا کله کولاى شول يو بـل تـه ور وګوري او نه يې شو کولاى د خپلو خندا او.مخه ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه زلمیان، محصل او د ګارد افسران وو ،هغوی له ماشومتوبه ملګري، هم منګه او ښکلي وو ،خو یو بل ته هېڅ ورته نه وو

باریس، ښکلی، لوړ او ژیړ څېني و ، هر غړی یې ډېر ښکلی، یو له بل سره جوړ، ښکلې څېره او آرامه طبیعت یې درلود. نیکولای منځنۍ ونه او ورین تندی، وېښته یې ګونځ ګونځ ،پر پاسنۍ شونډه یې د وېښتو نرۍ کرښه را پیدا شوې وه. د ځوانۍ شور او مستي یې له څېرې ورېده. نیکولای مېلمستون ته د رارسېدو سره تک سور شو. داسې برېښېده چې په زړه کې څه کري او ریبي،خو د ویلو لپاره څه موندي نه شي چې وې وایي، مګر باریس سمدلاسه، خپله آرامتیا بېرته پیدا کړه، په ډېرې آرامۍ او ټوکماره ژبه یې وویل:

- دا نانځکه مور ،لا دځوانۍ او پېغلتوب له هغه وختونه پېژني، چې پزه یې لا داسې کړه شوې نه وه، او که حافظه یې له دې سره ملګرتیا وکړي کولای شي وو ایي چې په دې وروستیو پنځو کالونو کې داسې زړه او ژوبله شوې ده چې سر یې، بې ارادې داخوا اخوا ترې خوځېږي.

هغه چې دا خبره وکړه، ناتاشې ته یې وکتل، مګر ناتاشا له هغه مخ واړاوه او خپل کشر ورور ته چې سترګې یې د بې غږه خندا له زوره سره ورغلې وې،وکتل. هغه د هغه زور له کبله چې پر ځان یې راوړی و ، رېږدېده. همدا چې د زغم او توان اندازه یې پای ته ورسېده، د مور له څنګه یې ودانګل او په هغې چټکۍ چې ځومره یې پښو کولای شو ،له مېلمستونه د کوټې پلو ته منډه کړه، خو باریس نه خندل، په داسې حال کې چې موسکا یې پر شونډو خوره وه، مور ته یې وویل:

- مور جانې، داسې ښکاري چې تاسو هم چېرته تلئ، ګاډۍ ته اړتیا شته؟

مور یې په موسکا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو ، ورشه، ورشه، ګاډی برابره کړئ.

باریس په آرامۍ له تالاره ووت او په ناتاشا پسې لاړ. دوی پسې غبرګ، هغه ځورب وړوکی هلک چې، د مېلمستیا دپای ته رسېدو له امله یې په تندي کې د خفګان نښې ښکارېدې، هم ور منډه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

د ځوانانو په ډلې کې، د ګرافینې، د مشرې لور نه پرته(چې څلور کاله تر خپلې خور نه مشره وه او د چټو پېغلو چم يې کاوه)، هغه مېلمنه، نيکولای او د ګراف خورځه سونيا هم په مېلمستون کې پاتې وو. تورسترګې سونيا په ملانرۍ ډنګره، ميناتوره ځنوره، تر اوږدو ښو لاندې ملال کاته، اوبدل شوې دوه واره تر سر تاو شوې توري کوڅۍ، تاند مخ، نرۍ غاړه، په تېره بيا بربنډو دنګرو لاسونو او د ښکليو مړوندونو ژېړ رنګ يې، له ليمو سره سيالي کوله. په څپه ايزه تګ، د نرمو، ښکلو غړو په چټکۍ او ځيرکتيا خوځېدا، هغه پيشونګوري رايادوو چې ډېر ژر به هغه په يوه شيطانې او دوکمارۍ پشو بدلېږي. پر شونډو خوره موسکا يې په بنډار کې له روانو مرکو او خبرو اترو سره د ګډون دلېوالتيانښه وه، خو هغې د پيغلتوب، اوږدو ګڼو ښولاندې غلچک، په سودايي توګه جګړې ته تلونکي د ماما زوی ته ورګنډلی و. د هغې غولونکې موسکا، ان يو شېبه هم څوک نه غولول. ټولو ته څرګنده وه چې هغې له دې کبله پيشو له ځانسره راوړې وه چې په دې پلمه په چټکۍ هغه وتښتي او د ناتاشا او باريس په څېر د خپل ماما له زوی سره له تالاره ووزي او دوی خپل جلا بنډار پيل کړي.

ګراف، مېلمنې ته مخ وروا ړاوه او خپل زوی نيکولای ته يې په اشارې کې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوکې، ګرانې! وګورئ، د هغه همزولي، باریس افسر شوی او له هغه نه غواړي چې د هغه ملګرتوب پرېږدي، نو ځکه اوس هیله لري پوهنتون او ما غونډې زوړ پرېږدي او عسکری ته لاړ شي. حال دا چې که ده غوښتلای په ډېرې آسانۍ به هغه ته د بهرنیو چارو په وزارت کې ښه غوره او د پام وړ کار پیدا شوی وای. وروسته یې خپلو خبرو ته په پوښتنيز ډول دوام ورکړ:

-آخر دا څه ملګرتوب دی؟

مېلمنې وویل: هوکې، ویل کېږي چې د جګړې داوربل غږ هم شوی دی.

ګراف وویل:

- هوکې، له پخوا راهیسې دا خبرې کېږي، هو، دا خبرې پر له پسې روانې دي، دا خبرې همداسې له تشو خبرو نه زیاتې نه شوې او وروسته یې خپله خبره بیا تکرار کړه:

- هوکې، ګرانه! دا څه ملګرتوب دی چې د هغه لپاره سړی د سپرو پوځ ته لاړ شي، هوکې، هوکې؟

مېلمنه مېرمن چې نه پوهېده څه ووایي، سر یې ښوراوه او چوپه پاتې شوه.

نیکولای، چې د دې خبرې په اورېدو، سره لمبه شو، ګواکې هڅه یې کوله چې غواړي ځان له دې بدنامیو وژغوري، نو غږ یې وکړ:

- دا خبرې ملګرتوب پورې اړه نه لري، زه خپله داسې انګېرم چې زه خدای پوځي خدمت ته پیدا کړی یم او له هغه سره مینه لرم.

هغه دا خبره وکړه او دوو نجونو ته، مېلمنې او د ترور لور ته چې دواړو هغه ته د ستاینې سترګې ګنډلې وې، وکتل.

ګراف وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نن د ګروال شو بېرت، د پاولوګارد د سواره پوځ د فرقې قوماندان د غرمنۍ لپاره دلته راځي. هغه دلته خپلې رخصتۍ تېروي او بیا هغه هم له ځانه سره بیایي.

هغه خپلې اوږې پورته واچولې او ښکاره وه چې دې خبرې سخت خواشینی کړی دی او غواړي هغه په ټوکو واړوي، هغه وویل:

-ښه نو رڅه وکړو؟

نیکولای وویل: ګرانه پلاره!

-ما خو در ته وویل، که ته په رښتیا ماته پوځ ته د تګ اجازه نه را کوي، پاتې کېږم، خو زه په دې پوهېږم چې له پوځي خدمته پرته بل هېڅ زما د لاسه نه کېږي. له ما نه، نه ښه دیپلومات جوړېږي او نه به دولتي خدمت وکړیپی شم، ځکه زه خپل احساسات پټولی نه شم.

ده چې دا خبرې کولې، د زلمیتوب په یوه ښکلي انداز یې، سونیا او مېلمنۍ پېغلې ته کتل....

زاړه ګراف وویل:

- ښه ده، ښه ور ته وګورئ، سر تر پایه سره لمبه او خوټېږي. بناپارت ټول لېوني او سرسام کړي دي، ټول دې سودا اخیستي دي چې دا سړی څنګه له برېدګیتوبه امپراتورۍ ته رسېدلی دی.

ګراف، پرته له هغه چې یې د میلمنۍ له ملنډو ډکې موسکا ته پام شي، زیاته کړه او وې ویل:

-څه ووایم، خدای دې وکړي.

مشران ټول د بناپارت په هکله غږېدل. ژولیه، د کاراګین لورچې خوږه موسکا یې پر شونډو خوره وه، ځوان رستوف ته مخ ور واړاوه او وې ویل:

- افسوس، افسوس چې تاسو د پنجشنبې په ورځ د ارخاروفو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمستيا کې نه وئ. .بې له تاسو زه هلته خورا خفه وم.

ځـوان، چې د نجلـۍ دغو ،تومـارکوونکو خبـرو لېـونی کـړی و ، پـه داسې حـال کـې چـې پـر شـونډو يـې د ځـوانۍ زړه وړونکـې موسـکا راخورېده، ځان هغې ته ور نېږدې او له نورو نه جلا يې له ژوليه سره چې موسېده ،د زړه خواله پيل کړه. د هغه دې ته هېڅ پام نه و چې د رخې هغه چاره چې دده همدې بې ارادې موسـکا تېـره کـړه وه، د سونيا زړه چې دروغجنه موسکا يې کوله او سره لمبه شوې وه، ځنګه پرهـر پرهر کړ. هغه، د خبرو په مينځ کې سر لږ پورته کړ او هغې ته يې ور وکتل. سونيا چې نه شو کولای د خپلو اوښکو مخه ونيسي يو مرګنی خو هوسناک غلچـک هغـه تـه وروليـږه او هماغـه دروغجنـه موسـکا يـې پـر شـونډو پاڅېده او لـه مېلمسـتونه ووتـه. د نيکـولای شـوق او ذوق ناڅاپـه ورک شول.هغه په خبرو کې دلومړني ځنډ په پيدا کېدو ، په ګېنې له کوټې نه ووت او د سونيا په لټه کې شو.

انا ميخايلوفنا ، له کوټې نه وتونکِ نيکولای ته، اشاره وکړه او وې ويل:

- وای، وای، چې ددې ځوانانو رازلکه پـه تـورو جـامو کـې سپينه بخۍ ،څومره له ورايه ښکاري !دماما او ترورلور او زوی تـل، اور او اوبه دي.

ګرافينې وويل: هو کې !

وروسته له هغه چې مېلمستون تـه دلمر راغلې ځلا ددغو ځوانانو سره ګډه پناه شوه ،ته بـه وايي ګرافينې غوښتل هغې پوښتنې تـه چې دايې پرلـه پسې سودايي کړې وه او هېڅـا لـه هغـې نـه ،نه وه کـړې، ځواب جوړ کړي ،وې ويل:

- څومره رنځونه ،څومره دردونه او غمونه وزغمل شول چې اوس يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ثمر خوند او خوښي ووینو ، مګر رښتیا خبره داده چې اوس تر خوښې نه اندیښنې او ویره زیاته ده. هره ورځ ،ورځ تر ورځ ویره او اندیښنې ،ډار او ډار.هو دا دعمر هغه منګ دی چې پېغلوټو او تنکو زلمیانو ته ګواښ ورپېښوي.

مېلمنې مېرمنې وویل:

-دا ټول په روزنې پورې اړه لري.

ګرافینې وویل:

-هوکې، رښتیا ده، تر ننه پورې زما ماشومانو شکر د خدای دی ما خپل دوست ګڼي او په ما پوره ډاډ او باور لري.

ګرافینې،هم د نورو زیاترومیندو او پلرونو په څېر تېروتنه کوي او داسې ګڼي چې ګواکې ماشومان یې له دوی نه هېڅ راز نه پټوي،هغې خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ:

- پوهېږم چې زما د رازونو لومړی محرم به زما لونې وي او نیکولینکا که په خپل اورني او شوقي طبیعت کومه ورځ کوم شیطانت وکړي،ودې کړي، کوم ځوان دی چې نه یې کوي. د هغه شیطنت چې هر څه وي.خو د پترزبورګ دښاغلو هغو ته به ورته نه وي.

ګراف،هره جړه او سخت کړکېچ،په دې وینا چې ویاړمنه ده، ویاړمنه ده زلمیو !آواره ګڼله، په همدې پلمه چې هر څه به ښه او خورا ښه شي، د خپلې مېرمنې د خبرو د ښو ګڼلو لپاره یې وویل:

- هو ،ډېر ښه ماشومان دي، هېڅ ساری نه لري،ګوره ،هغوی غواړي دګارد غړي شي.ډېره ښه ده ،شي دي. ګرانه !نو څه پروا لري؟

مېلمنې مېرمنې خبره غبرګه کړه، ستاسو کشره لور څه د ناز ټوټه او دباروته دانه ده.

ګراف وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کې !دباروته دانه، هغه کټ مټ ماته شوې ده، که څه هم زما لور ده او زما له خوا به یې ستاینه په ځای نه وي، خو رښتیا ،رښتیا دي، هغه به ژر سندرغاړې شي، یو ایتالوی ښوونکې مو ورته ګمارلی دی چې ویې روزي، بلـه سالوموني (د نولسمې پېړۍ په پیل کې په مسکو جرمنه سندرغاړې) به شي.

- تر اوسه به لا وخته وي، وایي په دې منګ د اواز روزنه، آواز ته تاوان رسوي.

ګراف ځواب ورکړ:

-څنګه وخت دی، هېڅ وخت نه دی، څنګه پخوا زموږ میندو په دولس کلنۍ دیارلس کلنۍ کې ودونه کول.

ګرافینې چې پټه موسکایې پر شونډو خوره او دباریس مورته یې کتل، وویل:

-هغه لا همدا اوس په باریس مینه ده، تاسو ګورئ؟

او وروسته یې ګواکې هغې پوښتنې ته ځواب لټاوه چې تل ددې خیال پرې بوخت و، خبرو ته یې دوام ورکړ:

-نو ګورئ؟ که ما هغه تر سختې څارنې لاندې نیولې وای، په هغې مې بندیز لګولی وای،...خدای پوهېږي هغوی به په پټه څه نه وای کړي(د ګرافینې موخه دا وه چې ښکلول به یې سره ) خو اوس زه د هغې په هره خبره او راز پوهېږم.هغه به ماښام ته راشي او هرڅه به راته ووایي.کېدای شي چې زه هغه ونازوم، دا ښه ده، ځکه ما مشره تر سختې څارنې لاندې نیولې وه.

مشرې لورېې ،ښکلې ګرافینې، وېره، چې موسېده،وویل:

-هو کې ! زه یې چوربل ډول روزلې یم، خو موسکا ،هغه شان چې تل به د وېرې، څېره ،ښکلوله دا واریې ښکل نه کړه. برعکس یې د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعـت لا پسـې ختـه او رنـګ یـې والوتـه.وېره، پـه رښـتیا ښایسـته، هوښیاره، په زده کړو کې خورا ښه،دښې روزنې خاونده وه.دهغې آواز خورا خوږ او زړه راښکونکي و ،هغه څه چې هغې وویل تول رښـتیا او پر ځای،مګر دا عجیبه وه چې ولې مېلمنې او ګرافینې داسې هغې تـه مخ وروا ړوو چې ګواکې،ولې وېرې داسې خبرې وکړې چې دوی یې نارامه او حیران کړي وو.

مېلمنې وویل:

- هرڅوک تـل هڅـه کوي،لـه لومړیو ماشومانو سره لـه ځیرکتیـا او هوښـیارۍ نـه کـار واخلي او پـه دې توګـه کـوم سـتره چـاره چې تـر نورو توپیر لري ترسره کړي.

ګراف وویل:

-غـاړه بـه نـه بندوم،ګرانـه !زمـوږ ګرانـې ګرافینـې، وېـره تـر سـختې ځارنې لاندې وروزله،نو ،څه وواېو ؟او وروسته یـې پـه داسې حـال کـې چې وېرې ته ،په ستانیزه ښه سترګه کېښکودله، زیاته کړه:

-نو ګوره چې څومره ښه شوه.

مېلمانه پاځېدل،لاړل او ژبه یې وکړه چې غرمنۍ ته راستانه شي.

ګرافینې د مېلمنو تر بدرګې وروسته وویل:

-داځینې هم عجب عـادت لـري چې یـو وار کېنا سـتل بیـا دې خدای هغوی پاځوي.

-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

کله چې ناتاشا ،له مېلمستونه ووتله، منډه يې کړه، خو له ګلخانې وړاندې نه لاړه.هغه په ګلخانې کې ودرېده او په کوټه کې روانو خبرو ته دغوږ نيولو په ترڅ کې، باريس ته سترګې په لاره پاتې شوه.نوځکه يې پښې پرځمکه ټکولې، حوصله يې په تمامېدو برېښېده او نېږدې و چې له دې کبله په ژړا شي چې باريس ولې سمدلاسه هغې پسې نه دی راوتلی ،خو بالاخره د کوم ځوان دعادي،ارامو ،خو نه چټکو ګامونو غږ واورېدل شو.ناتاشا په چټکۍ د دوو ګلدانو منځ ته ځان ورساوه او هملته پټه شوه.

باريس د کوټې په منځ کې ودرېد ، داخوا هغه خوا يې وکتل،په ګوته يې له لستوني نه خلی وواهه، هينداري ته ورنېږدې او په هغې کې يې خپلې ښکلې څېرې ته وکتل.ناتاشې په خپل ګوګل کې سا بنده او له خپل ځارځی نه يې د هغه ځارنه کوله.باريس،څو شېبې د هينداري ترمخې ودرېد ، وموسېد او دروازې ته نېږدې شو.ناتاشا غوښتل پر هغه غږ وکړي،خو وروسته يې له ځان سره وويل:

-پرېږده چې ما ولټوي.

همدا چې باريس له ګلخاني راووت،سونيا په خورا اورنې او ژړغونې حالت له بلې دروازې راووته.ناتاشا له خپل هغه تکل نه چې هغه ته ورګام کړي تېره او دا يې ښه وګڼله چې په خپلځار ځای کې داسې پټه پاتې شي چې ګواکې کومه کوډګره خولۍ يې پر سر کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول هغه څه ويني چې په نړۍ کې تېرېږي، خو هېڅوک دا نه ويني. هغې له دغه حالت نه کوم نا پېژندلی خوند اخيست.سونيا چې تر شونډو لاندې څه ويل د مېلمستون د دروازې خواته کتل.نيکولای، په دې وخت کې له دروازې نه راووت.

نيکولای د سونيا په ليدو ،هغې ته ورمنډې کړل او وې ويل:

-سونيا په تاڅه شوي دي؟د باور وړ نه دي.

سونيا چې سلګۍ وهلې، وويل:

-هېڅ، هېڅ، پرېږ مې ږدئ، پرېږ مې ږدئ.

-نه،نه،زه پوهېږم، څه شوي دي.

-ښه ده !ښه ده !چې پوهېږئ،نو ښه به دا وي چې ورستون شي.

نيکولای چې هغه له لاسه راونيوه،وويل:

-سونيا يوه خبره واوره !څنګه ته کولای شې چې په تشو خيالونو ځان او ما دواړه داسې وزوروئ.؟

سونيا خپل لاس هماغسې د هغه په منګولو کې پرېښود او ژړا يې بس کړه.ناتاشا چې سا يې په ګوګل کې ټېنګه کړې وه، پر ته له هغه چې وخوځېږي، په ځلېدونکو سترګو يې له خپل ځار ځای نه هرڅه ځارل او له ځانسره يې تصور کاوه:

-اوس به څه کېږي؟

نيکولای وويل:

زما په ژوند کې هېڅ نه دي په کار،يوازې ته ماته هرڅه يې، دا به زه تاته وښيم.

- دغه څه چې ته وايې،زما هېڅ نه خوښېږي.

نيکولای،هغه ځانته رانېږدې او ښکل يې کړه،وې ويل:

-نه به وايم،نه به وايم،سونيا ،ما به وبښئ.ناتاشا په دې وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر وکړ او وې ویل:

-اخ ! څه خوند کوي، څومره ښه.

کله چې سونیا او نیکولای له کوټې ووتل، ناتاشا هم هغوی پسې ووتله، په خورا ځیرکتیا او پام یې باریس خپلې خواته را وغوښت او وې ویل:

-دلته راشه !....دې خواته، دې خواته !

هغې، هغه ګلخانې ته، ددوو سترو ګلدانو منځ ته، هغه ځای ته چې هغه پټه شوې وه، بدرګه کړ.

باریس چې خندا یې پر شونډو خوره وه، هغې پسې روان و.

باریس له هغې وپوښتل:

- دا څه دي چې ما ته یې ویل غواړئ؟

ناتاشا یو ډول وار خطا شوه. دا خوا او هغه خوا یې کتل، نانځکه یې چې همالته پرته وه، را واخیسته او وې ویل:

- راشه او زما نانځکه مچو کړه.

باریس په خورا ځیر، د هغې ملالو سترګو او تاندې څېرې ته وکتل، خو هېڅ یې و نه ویل.

ناتاشا وویل:

-نه غواړي هغه مچو کړئ؟ چې داسې ده، نو په ما پسې راځه.

هغې دا وویل او د ګلانو په مینځ کې وړاندې لاړه.

خپله نانځکه یې هلته لرې د ګلانو په مینځ کې وارتیږله، باریس یې بیا له لستوڼي راونیو او په بنګهاري یې وویل:

- ما ته را نېږدې شه، نور هم را نېږدې !

د هغې په سره شوې څېره کې، د ګېنې او بري ګډې نښې څرګندې وې، تر سترګو لاندې یې هغه ته کتل، موسکا یې پر شونډو خوره وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې يې د خوښۍ له اوښکو ډکې وې، په داسې يو غږ چې متې اوربدل کېده، هغه ته وويل:

- نه غواړې ما مچ کړئ؟

باريس تک سور شو او وې ويل:

- څومره د خندا وړ يې.

هغه نور هم هغې ته ورخم شو، څېره يې لا پسې سره او پرته له چې څه وکړي، سترګې په لار پاتې شو.

ناتاشا ناڅاپه د ګلدانو پاسني پوړ ته ور ودانګل، داسې چې تر هغه نه لوړه ودرېده، لاسونه يې له هغه داسې تاو کړل، چې ډنګر او لوڅ مړوندونه يې د هغه په اورمېږ کې سره غوټه شول، وروسته يې په کرارې خوځېدا خپلې څڼې شاته واچولې او د هغه شونډې يې مچې کړې. تر مچې وروسته، د ګلدانو په منځ کې، د ګلځانګو او ګلپاڼو شا ته ور وخوځېده، د ګلانو شا ته لاړه، سر يې ښکته واچواه او ودرېده.

باريس وويل:

-ناتاشا، تاسو پوهېږئ، چې ما ته ګرانه ياست، خو....

ناتاشې ورزياته کړه: تاسو په ما مين ياستئ؟

- هو. مين يم، مګر مهرباني وکړئ، هغه څه ونه کړو چې اوس... څلور کاله نور...نو هغه وخت به ستا ريباري کوم.

ناتاشا تر لږ فکره وروسته په خپلو تاندو نريو ګوتو وشمېرل:

- ديارلس، څلورلس، پنځلس او شپاړلس، ژبه کوئ. ژبه؟ همداسې؟

د خوښۍ او ارامۍ يوې نرۍ موسکا د هغې سره ابشېدلې څېره، لا پسې وځلوله.

باريس ځواب ورکړ: ټينګه ژبه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو !هو همدا اسې !ژبه ده.

نجلۍ وویل: د تل لپاره؟ د مرګ تر شیبې پورې؟

خپل لاس یې د هغه په ثنګل کې وروا چوه، پـه کراره او داسې حال چې نیکمرغـي یـې لـه څېرې وربدلـه، لـه هغـه سـره ثنـګ پـه ثنـګ، د مېلمسون په لور وخوځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

ګرافینه، له دې هرکلیو ،داسې ستومانه شوې وه چې نور یې نو مخامخ د هېڅچا دلیدو هیله نه لرله، نو ځکه یې چو پړانو ته سپارښتنه وکړه چې مبارکۍ ته راتلونکي را رسېدونکي مېلمانه، دې سره له کتنې پرته، مخامخ غرمنۍ ته بدرګه شي.

ګرافینې، غوښتل چې دخپل ماشتومتوب دمنګ له خورلنې، شهزادګۍ انا میخایلوفنې سره چې له پترزبورګه د راستنېدو وروسته یې لا په مړه ګېډه لیدلې نه وه، یو په یو د زړه خواله وکړي. انا میخایلوفنا په ژړغونې او مالګینې خبرې ،د ګرافینې څوکۍ ته ورنېږدې شوه او وې ویل:

- غواړم له تا سره سپینې او دانګ پېبلې خبرې وکړم. ته خو پوهېږې، چې زما او ستاسو د زړو دوستانو له ډلې نه یوازې یو څو تنه ګوته په شمار ژوندي پاتې دي، نو ځکه ،ستا دوستي ماته ډېره ګرانه او په هغې داسې ویاړم.

انامیخایلوفنا ،سترګې د*وېرې*خوا ته وروا ړولې او چوپه پاتې شوه.

هغې، چې دخپلې خورلندې لاس کېښکود خپلې مشرې لور، وېرې ته چې له ورایه بریښېده، تر دې نه کشره لور ورته ګرانه ده، په تریو تندي وکتل او وې ویل:

- ستا شاله په هېڅ سر نه خلاصېږئ ؟ایا ته نه وینئ، چې ته دلته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار نه يئ؟ لاړ شه، خپلو خويندو ته ورشه! او يا....

ښکلي وېرې چې د سپک کړل شوي چا په شان موسېده، خو داسې يې وښوده چې د مور خبرې يې کوم سپکاوی نه دي ګڼلي نو وې ويل:

- مور جانې! که دې د مخه ويلي وای، زه به هماغه شېبه وتلې وای.

وېره، تردې خبرې وروسته د خپلې کوټې په لور وخوځېدله، خو د کمکۍ کوټې نه د تېرېدو په وخت کې يې پام شو چې دوه ځوانې جوړې د دوو کړکيو مخې ته ناستې دي. هغه ودرېده او له سپکاوي ډکه خندا يې وکړه. ژوليا د نيکولای تر څنګ ناسته وه. نيکولای هغې ته خپل لومړنی ليکل شوی شعر ډالۍ کاوه. باريس او ناتاشا د بلې کړکۍ خوا ته ناست وو. خو کله چې وېره کوټې ته راننوته چوپ شول. سونيا او ناتاشې په ملامتو خو نيکمرغو غلچکونو وېرې ته کتل. دغو دوو مينو نجونو ته کتل، خورا، زړه راښکونکې او په زړه پورې وو، مګر داسې وبرېښېده چې وېرې، دهغو په ليدو کوم غوره اغېز احساس نه کړ، هغې وويل:

-په وار، وار مې درته ويلي دي چې زما هېڅ شي وا نه اخلئ، مګر تاسو خپله کوټه او خپل هرڅه نه لرئ؟ددې وينا سره سم يې له نيکولای نه خپله مشوانۍ راواخيسته.

نيکولای چې ښکه په مشوانۍ کې کېښوده، وې ويل:

- سمدلاسه، سمدلاسه!

ويرې خبرو ته دوام ورکړ:

- ستاسو ټول کړه، ټول، بې ځايه کړه دي. وګورئ! کله چې يو ځای او داسې په ډله ايزه توګه مېلمستون ته را ننوتلئ چې ستاسې پر ځای ټول ناست مېلمانه وشرمېدل.

هغه څه چې هغې ويل، ټول رښتيا و، نو ځکه هېڅ چا هڅه نه کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغې ځواب وو ايي. هغو ځلور تنو يوازې په خپل منځ کې يو بل ته تر سترګو لاندې کتل. ويره چې مشوانۍ يې په لاس همدا سې په کوټه کې ولاړه پاتې وه، وويل:

-په دې عمر، په دې منګ د ناتاشې او د باريس يا ستاسو د دواړو تر منځ به څه راز وي؟ دا ټولې بې معنې او دملنډو وړ خبرې دي.

ناتاشا له ټولو نه د ملاتړ په نښه په خورا کرار او از غږ وکړ:

- ويرې! نو دا تا پورې څه اړه لري؟

دا سې برېښېده، چې ناتاشا تر بل هر وخته نن پر ټولو خورا خوږه او مهربانه وه.

ويرې وويل:

-دا خبري ډيرې احمقانه خبرې دي، ستاسو پر ځای زه په دغو کارو شرمېږم. دا څه راز، دا څه خبرې دي؟

ناتاشا يو وار لکه چې اور يې اخيستی وی، وويل:

- هر څوک ځان ته يو راز لري، موږ کله، ستا او بېرګ په اړيکو کې کله غږېدلي نه يو؟

ويري وويل:

- زه داسې انګېرم، چې تاسو ځکه غږېدای نه شئ، چې زما په کړو کې هېڅ کله کوم احمقانه څه نه شته. اوس نو صبر وکړئ چې زه مې مور جانې ته وو ايم، چې ته د باريس سره څه کارونه کوي.

باريس وويل:

له ماسره د ناتاليا ايلينشينه، اړيکي خورا ښکلي او ښه دي. زه نه شم کولای له هغې هېڅ ډول سر ټکونه ولرم.

ناتاشا په خواشيني سپک شوي او لړزېدلي آواز وويل:

- ښه دي، نور نو بس دي باريسه، تاسو نو داسې ديپلوماسي مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي.(د ديپلوماسۍ کلمه دماشومانو تر منځ دهغو په ځانګړې معنې سره دود وه )

ناتاشا چې په چټکۍ او پر له پسې خبرې کولې، ويرې ته مخ ور واړاوه او وې ويل:

-ته به په دې هېڅ کله پوه نه شي، ځکه چې تا ته هېڅوک، هېڅ کله ګران نه و، ته زړه نه لرې. ته پوهېږئ ته څه شي يئ؟ ته مېرمن "ديجينليس " غوندې يې.(دا نوم ډېر بد نوم و، چې نيکولای پر ويرې اېښې دی) ستا په تومنه کې تر ټولو نه د خوند چاره، دا ده چې نور وزوروې، اوس ځه، څومره دې چې توان رسي، بېرګ ته نازونه کوه.

- هر څه چې وي په مېلمستياوو کې زما سترګې په بډايو ځوانانو پسې نه چورلېږي...

په همدې وخت کې نيکولای خبره واخيسته او وې ويل:

ښه ده ويرې ! څه دې چې زړه غوښتل هغه دې وکړل، څومره دې چې بد او ښکنځل زده وو، هغه دې ټولو ته وويل، ټول دې تر سپږمو راوستي دي.

نيکولای تر يوې شېبې ځنډه وروسته ټولو ته بلنه ورکړه او وې ويل:

- درځئ چې ځو، نور نو خپلې کوټې ته ولاړ شو.

هغوی څلور واړه، د مرغانو د يوې ترهېدلې ډلې په شان يو ځای پورته شول، وخوځېدل او له کوټې ووتل.

د هغو د پاځېدو سره يو ځای ويرې غږ وکړ:

- دا زه وم چې سپکې سپورې مې واورېدې، ما چا ته سپکې سپورې نه دي ويلي.

له کوټې نه بهر د مستو خنداوو کړسهاري په منځ کې دا غږ اورېدل کېده چې ويل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مېرمن دیجینلیس، مېرمن دیجینلیس.

ښکلې وېرې، چې پر ټولو ناوړه او بد اغېز ښندلی و، وموسېده، او بې له هغه چې ددې په اړه شویو ویناوو ته پام وکړي، د هیندارې مخې ته ودرېده، خپلې څنې او شال یې جوړ کړل او د خپلې ښکلې بشرې په لیدلو، له پخوا لا سره او آرامه شوه.

په مېلمستون کې خبرې اترې او مرکې تودې وې.

ګرافینې رستوا وویل:

آه ګرانې! زموږ په ژوند کې هر څه داسې د خوښې او هیلو وړ نه دي، زه په ډاګه وینم، داسې خرڅونه او لوبې چې موږ یې کوو، ډېر ژر به چاره اړوکو ته ورسېږي. او کله هم که کلي ته لاړ شو، فکر کوئ، ته وا موږ به استراحت وکړو؟ هېڅکله! دا ټول بېځایه ځانښودنې دي، ...او خدای پوهېږي څه لوبې دي! زه هېڅ نه پوهېږم چې ولې یوازې زما په ژوند او حال وغرېږو؟ راځې چې لږ ستا په اړه، ستا د کارونو او دا چې څنګه...، زه چې کله تا ته ګورم آنتې، ته حیرانېږم، په داسې پاخه عمر، مسکو او پترزبورګ ته تګ راتګ کوي، دلته او هلته ګرځې، ټول وزیران ګوري او کتنې ور سره کوي، دا څنګه یې حوصله لري؟ زه په رښتیا نه پوهېږم، چې دا ټولې چارې ته څنګه سرته رسوئ؟ اوس ما ته ګوره! زه خو یو هم نه شم کولای.

شهزادګۍ انا میخایلوفنې ځواب ورکړ:

اخ! ګرانې! خدای دې نه کړي چې په تا راشي، له داسې یو زوی سره چې د لمانځنې تر پولې در ته ګران وی، بې پناه، بې پلاره، په غمونو او خواریو کې ډوبه، کونډه او یوزای پاتې شي.

وروسته یې لږ په ویاړ سره دوام ورکړ:

-په دغه حالت کې انسان هر څه زده کوي، د ژوند سختیو ما ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه را زده کړل. هر کله چې د دغه لويانو نه د يوه ليدو ته اړيږم، يو ياد ښت ورته ليکم:

فلانۍ سرداره هيله لري له تاسو سره وګوري... بيا يې خپله ځارم، که يې ځواب را نه شي، دويم ځل، دريم، څلورم ځل همداسې تر پايه پورې. لنډه دا چې دومره او تر هغه پورې ليکونه او غوښتنې ليکم، چې زما غوښتنه ترسره شي. هېڅ په دې فکر نه کوم چې هغوی څه فکر کوي.

ګرافينې وپوښتل:

- ښه دا را ته ووايه چې د بورنکا (باريس) کارونه دې څنګه جوړ کړل؟ ښه، زوی خو دې اوس د ګارد افسر کړ، خو زما نيکولای جان، همداسې يو ساده افسر ګوتې پاتې دی. هغه هېڅوک نه لري چې غمخور يې شي. له تا سره په دې برخه کې چا مرسته وکړه؟

شهزادګۍ اناميخايلوفنا، ټول هغه سپکاوي چې دې خپل هدف ته درسېدو لپاره، ليدلي وو، چور هېر کړل او په ډېرې مينې يې ځواب ورکړ:

-سردار واسيلي! هغه له ما سره ډېر مهربانه و، زما تر غوښتنې وروسته يې سمدلاسه، پخپله له ټولو اک سره په دې اړه خبرې وکړې....

ګرافينې وپوښتل:

- دا را ته ووايه چې سردار واسيلي به ډېر زوړ شوی وي؟ ما له هغه وخته چې د رومانځوف په کور کې مو، هغه ننداره ښودله، بيا نه دی ليدلی. داسې ګومان کوم چې زه به يې چور هېره کړې يم. او په يوې موسکا يې په ياد راوړل او وې ويل:

- هغه، هغه وخت يې په ما پسې ډېرې منډې وهلې او رانه تاوېده راتاوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انا میخایلو فنا ځواب ورکړ:

نه، هماغه شان چې و ، هماغه شان و . هماغه شان مهربان او مېلمه پال دی. لوړ دریځ ته رسېدلی، خو د پخوا په څېر ساده او خوږ دی او غوره کې شوې نه دی. هغه ما ته وویل:

-ګرانې شهزادګۍ ! ډېر زور ېږم چې تاسو ته ستاسو د شان وړ خدمت نه شم کولای.

هغه تل ما ته دا خبره تکراروله:

-تاسې یو ازې او یو ازې ما ته سپارښتنه وکړئ. نه، نه، هغه خورا ښه سړی او مهربانه خپلوان دی.

مګر ناتالیا !ته خو مې له زوی سره، زما په بې پایه مینې ښه خبره یې، ګومان نه کوم چې داسې کار به نه وي چې زه یې د هغه د نیکمرغۍ لپاره ترسره نه کړم.

انا میخایلو فنا، خپل غمیزه سند ریزه ښه لړه بدله کړه او په غمجن ټیټ آواز یې دوام ورکړ:

-وایي تشه لاسه ته مې دښمن یې، تش لاس له مانه هم د بخت مرغه الوزولی دی. ما چې هر څه درلودل، په دې دعوا مې خرڅ کړل، پایله یې هم هېڅ ښکاره نه ده. ته یې تصور هم نه شې کولای. همدا اوس یوه ټنګه، یوه ټنګه د هغې په رښتیانۍ معنې سره نه لرم. آن نه پوهېږم چې باریس ته کالي په څه واخلم. هغې خپل دستمال له جیبه را وویست او په ژړا شوه. دا اوس پنځه سوه روبلو ته اړتیا لرم، خو په جیب کې له **۲۵** روبلو نه زیات څه نه لرم. ته نه پوهېږئ چې خدای په ما څه بد مرغۍ رواستې دي، زه په دغه حالت کې یم. یو ازې او یو ازې یوه هیله لرم، هغه هم ټول امید ګراف کیریل ولادیمیروویچ بېزاو خوف ته دی او بس. که هغه هم د خپل دیني زوی لاس نیوی ونه کړي، د هغه د خرڅ غم و نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوري، ته خو پوهیږئ چې هغه د باریس د یني پلار دی. که دا کار و نه شي، ټولې خوارۍ او زارۍ به مې اوبه یوسي. ځکه ما وویل چې آن هغه ته کالي او د اړتیا وړ شیان هم را نیوای نه شم.

- ګراف همداسې ژړل او په چوپه خوله یې د څه په هکله فکر کاوه.

شهزادګۍ وویل:

- زیاتره وخت دا سې فکر کوم، کېدای شي دا ګناه وي، پوهېږم، اما څه وکړم؟زیاتره وخت فکر کوم چې سردار، کېریل ولاد یمیرو ویچ بېزا او خوف یوازې ژوند کوي..دا د دومره شتمنۍ...د څه په تمه ژوند کوي؟ په دې عمر، هغه ته له ژونده یو دروند پېټی جوړ شوی دی، خو زما د باریس لپاره ژوند نوی پیل کېږي.

هغې خپلې خبرې او ږدې کړې:

- کېدای شي، هغه خپل دیني زوی باریس ته یو څه پرېږدي. یو څه شتمني.

ګراف پاڅېده، خدای ښه پوهیږي، زما ګرانه !باور مې نه شي، دا بډای او مخور خلک ډېر ځانخوښي دي، خو سره له دې هم زه له باریس سره په ګډه ورځم او خپلې ټولې ستونزې په سپینه او په ډاګه ورته وایم. پرېږده هر څه چې وایي وایي دې. که ربښتیا ووایم اوس مې د زوی ژوند دې خبرې پورې اړه لري.

تردې خبرې نه وروسته وخوځېده او وې ویل:

-اوس دوه بجې دي، ډوډۍ په څلورو بجو خوړل کېږي، وخت شته کولئ شم ورشم.

د یوې پترزبورګۍ چټکې مېرمنې په توګه چې باید څنګه له وخته ګټه واخلي، انامیخایلوفنا څوک خپل زوی پسې ولېږل او له هغه سره ګډه دا هم ووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ګرافینې ته چې تر دروازې پورې یې دا بدرګه کوله وویل:

- د خدای په امان ګرانې ! او په داسې زارۍ ډوله یې چې زوی یې وا نه وري ور زیاته کړه:

ګرانې ! دعا به راته کوئ چې بری مو په برخه شي.

ګراف، هم چې د خوړنتون تر وره پورې بدرګې ته راغلی و، وویل:

-ګرانه ! تاسو د ګراف کېریل ولادیمیرو ویچ دیدن ته ځئ؟ که یې طبیعت جوړ و، نو زما له خوا یې بښنه، هم ډوډۍ ته را وبولئ. پخوا به هغه زموږ کره راته، له ماشومانو سره به یې د نڅا بنډارونه جوړول، هرو مرو یې را وبولئ، ګرانه !

اوس به نو ګورو چې تاراس به نن موږ ته څه نوي راوښیئ، (یعني آشپز تاراس څه نوي پخوي) وایي نن موږ ته داسې ډوډۍ را کوي، چې لا تر اوسه آن د ګراف ارلوف په کورنۍ کې هم چا خوړلې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

ګرانه باریسه!

دا خبره انامیخایلو فنا هغه وخت خپل زوی باریس ته وکړه چې د دوی ګاډی، له سَوارۍ(د غنمو پاتې برخه) نه په پوښلې کوڅې تېره او د ګراف کېریل ولادیمیرو ویچ بېزاو خوف د کور لوی انګړ ته ورننوته.

مور خپله خبره تکرار کړه او خپل زوی ته یې وویل:

ګرانه باریسه!

بیا یې خپل لاس له نري، زاړه، پراخ باراني کوټه راوویست او په ډېرې خواخوږۍ یې د زوی پر لاس ورکېښود.

- ګرانه باریسه، مهربانه او ځیرک اوسه. هر څه چې نه وي، ګراف کېریل ولادیمیرو ویچ ستا دیني پلار دی، ستا راتلونکی ژوند، هغه پورې تړلی دی. دا په یاد ولره ګرانه، له هغه سره مهربانه اوسه. زه پوهېږم که ته وغواړې، ته همداسې کولای شې...

زوی یې ډېر سوړ ځواب ورکړ:

کاشکې په دې ډاډه وای چې دا ټولې خبرې له سپکاوي او خوارۍ نه پرته بل څه پایله لري، ښه به وای. اوس بې غمه اوسه، ځکه ما له تا سره ژبه کړې، نو دا کار ستا د خیال د ساتنې لپاره کوم.

که څه هم ساتونکي د کوم چا پرتمینه ګاډی د وره په مخ کې ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیـده، مـور او زوی یـې چـې د ځـان لـه پېژنـد ګلوۍ پرتـه ،مخـامخ لـه هیندارو نه کتاره شوي د هلیز ته چې دواړه خواو وې یې پـه تـاقچو کـې پـه ابښـودل شـویو مجسـمو ګاڼـل شـوې وې،ورننوتل،پـه ثـار ثـار وثارل.هغه د شهزادګۍ زوړ کوټ ته په پوښتنیز غلچک وکتل، او وې پوښتل:

- د چا لیـدو تـه راغلـي یا ست؟ د شـهزادګیو کـه ګـراف؟ سـاتونکی همدا چې پوه شو چې دوی د سردار دیدن ته راغلي دي،وې ویل:

- د والاحضرت حال نن ښه نه دی، هغوی هېڅ ثوک نه مني.

باریس په فرانسوي ژبه وویل:

- چې داسې ده، نو ځئ چې بېرته ځو.

مور یې بیا لاس د هغه پر لاس ور کېښود.ګواکې غوښتل یې چې پـه دې ډول هغه آرام او یا پـاتې کېـدو تـه وهڅـوي. تـر هغـه وروسـته یـې پـه زارۍ وویل:

- زما ګرانه !

باریس چوپ شو ، بې له هغه چې کوټ وباسي، بیـا یـې پـه پوښـتنیز بڼه مور ته وکتل.

انا میخایلوفنا ، په ډېره نرمه او مهربانه ژبه ساتونکي ته وویل:

- پوهېږمه قربان ! پوهېږمه چې سردار کېریـل ولادیمیـروویچ، ډېـر ناروغه دی... زه اصلاً د همدې لپاره راغلې یم، زه یـې خپلوانـه یمـه... زه نه غواړمه هغه نا ارامه کړمه،قربان...زه یـوازې غـواړم، سردار واسیلي سـرګیوویچ وګـورم. هغـه خـو همدلتـه ولاړ دی؟ هیلـه لـرم چـې هغـه تـه ووایاست، مهرباني وکړئ.

ساتونکي په ډېرې بې پروایۍ ،برېوسه ښېره او تریو تندي هغـه پـړی چې څه شي پورې پاس تړلی و ، کش کړ، مخ یـې واړوه او هغـې چوپړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې او ږدې جورابې، بوټ او لنډ کوټ يې اغوستی و او له دويم پوړ نه په زينو کې په چټکۍ راښکته کېده، غږ وکړ:

- شهزادګۍ دروبتځکايا، د سردار واسيلي سرګيوويچ ديدن ته راغلې ده.

مور د خپل وريښمين، رنګ کړل شوي کوټ ګونځې سمې او ځان يې په مخامخ ديوال کې لګېدلې لويې هينداره کې ښه وځاره، دهغې، هغه بوټونه په پښو وو، چې پوندې يې سوليدلې وې، په ډېرې چټکۍ پورته پر هغې زينې پورته وختله چې په قالينو ښکلې شوې وه.

بيا يې دخپل زوی د آرامولو لپاره د هغه پر لاس، لاس تېر کړ. دې لاس تېرونې، نه يوازې د هغه د ارامۍ بلکې زوی ته دا هم وريادول چې:

-ګرانه ! په ياده لره چې له ما سره دې ژبه کړې وه؟

زوی يې سترګې ښکته واچولې او همداسې په کراره په هغې پسې روان و. دوی هغه دهليز ته ورننوتل چې يوه دروازه يې د سردار واسيلي کوټې ته د ورننوتلو لپاره ځانګړې شوې وه.

کله چې مور او زوی د دهليز منځ ته رسېدلي وو او غوښتل يې له هغه سپين ږيري چوپړه چې ددوی هرکلي ته پاڅېدلی و، د واسيلي کوټې ته د ننوتلو دلارې پوښتنه وکړي، ديوې دروازې يو برنجي لاستی وچورليد او سردار واسيلي چې د بخملو کورني کالي يې اغوستي، پر ټټر يې يو ستوري لګېدلی، له يو تور څښي نارينه سره مل د باندې راووت. دا سړی په پترزبورګ کې پيژندل شوي ډاکټر، ډاکټر لورن و.

سردار واسيلي وويل: نو، همداسې ده؟آه !

ډاکټر چې لاتينی کلمات يې په فرانسوی لهجې د(ر) توری يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(غ) ادا کاوه، وویل:

-زما سرداره ! انسان واجب الخطا دی.

-ډېر ښه !ډېر ښه !

سردار واسیلي، د انامیخایلوفنا او د هغې د زوی په لیدو سره دملا په خمېدو ،له ډاکټر سره خدای په اماني وکړه او بې له هغه چې څه ووایي، په پټه خوله، په پوښتنیز حالت هغوی ته ورنېږدې شو. د زوی یې دې ته پام شو چې څنګه دمور په سترګو کې،ناڅاپه د یو ژور غم نښې را څرګندې شوې،خو سره له هغه هم دده پر شونډو یوه نه خوځېدونکې موسکا راښکاره شوه.

انا میخایلوفنا ، ګواکې چې د سردار واسیلي سوړ او له سپکاوي ډک کتل یې نه وي لیدلي، وویل:

-هو کې !، په څه له خواشینۍ نه ډک وخت کې مو له سردار سره دیدن په برخه شو ، په هر حال د ګران ناروغ روغتیا څنګه ده؟

سردار واسیلي په پوښتیونېزه څېره او د تعجب تر حده پورې لومړی انا میخایلوفنا او وروسته د هغې زوی باریس ته وکتل.

باریس، په درناوي ټیټ شو.سردار د باریس دې درناوي ته هېڅ ځواب ورنه کړ،خو انامیخایلوفنا ته یې مخ ورواړو او دهغې پوښتنې ته یې د سر اوشونډو په خوځېدا داسې ځواب ورکړ، چې دناروغ حال خورا کړکېچن او وحشتناکه دی.

انا میخایلوفنا ، په حیرت،وویل:

-عجبه ده؟دا څنګه کېدای شي؟ خورا وحشتناکه ده.

تر دې وروسته یې په داسې حال کې چې خپل زوی باریس ته اشاره کوله،وویل:

-دا زما زوی دی، هغه غوښتل خپله له تاسو نه مننه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باریس یو ځل بیا د درناوي په نښه سر ټیټ کړ.

خو مور یې یادونه وکړه:

-ګرانه سرداره باور کوئ او کنه؟مور. هېڅکله هغه څه هېرولئ نه شو چې تاسو زمونږ لپاره تر سره کړي دي.

سردار واسیلی چې د خپل کمیس غاړه جوړوله، په هغه ادا او اواز چې په مسکو کې د انامیخایلوفنا د ملاتړ لپاره څرګنداوه او تر هغه لا زیات څه چې په پترزبورګ کې یې د اناپالوفنا په بنډار کې څرګند کړی و، وویل:

-ډېر خوشاله یم، هغه څه مې کړي چې ستاسو د خوښی سبب شوي دي.

په دې وخت کې یې باریس ته مخ ورواړوه او زیاته یې کړه:

-ډېر خوښ یم چې تاسو دلته خپلې رخصتی تېروئ؟ښه به داوي چې په خپلو کړو کې زیارمن، بې ساری او رښتین واوسئ.

باریس، پرته له هغه چې یا د سردار له ځېرېږ ژبې نه خپه شي، یا په خپله وینا کې له هغه سره د خبرو کومه نښه څرګنده کړی، په خورا آرامی او ادب، چې آن د سردار پام یې هم ځانته ورواړوو، په ځیر هغه ته کتل، ځواب یې ورکړ:

-ګرانه والاحضرته ! فرمان ته سترګې په لاره یم، چې خپلې نوې دندې ته لاړ شم.

-تاسو له خپلې مور سره اوسېدلئ؟

-نه، زه د ګرافینې رستوې، په کور کې ژوند کوم. خپلې خبرې یې، بیا حضرت سردار، په ویلو پای ته ورسولې.

انا میخایلوفنا وویل:

-دا هماغه ناتالیا شین شین ده، چې له ایلیه رستوف سره یې واده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې دي.

سردار واسیلي په خپل همــاغه نا سند ریزه آواز وویل:

- پوهېږم، پـوهېږم، خو زه هېڅکلـه پـه دې پـوه نـه شـوم، چې څنګـه ناتالیـا دا ومنله، چې لـه دغـه نـاولي اېږ سره واده وکړي، هغـه خو یـو سرسامه او ورځ چاری سړی دی. مـا اورېدلي، چې جـواري (قمـار) هـم کوي. انامیخایلوفنا چې یوه داسې خوږه موسکا یې په شونډو خوره وه چې ګوا کې دا ښه پوهېږي چې ګراف رستوف، دهمدغـه شـان قضـاوت وړ دی، مګر دا د خوار بوډا دخیر غوښتنه کوي ،وویل:

-هو، مګر هغه ډیر مهربانه سړی دی،ګرانه !سرداره !

ګرافینې، ترڅو شېبو چوپتیا وروسته،په داسې حال کې چې دهغـې په ژړغوني څېره کې د یو ژور غم ښنې را څرګندې شوې ،وویل:

- اوس ډاکټران څه وایئ؟

سردار وویل:

-دومره هیله نه لري.

- ما غوښتل یو ځل بیا دهغې مهربانۍ له امله مننه وکړم،چې لـه مـا او باریس جان سره یې لرله.هغه خو دهغه دیني پلار دی.

هغې دا خبره پـه داسې یـوه ژبه وکـړه چې ګـوا کې دا خبر بـه سـردار واسیلي خورا خوشاله کړي.

سـردار واسـیلي چې پـه درنـو خیـالونو کـې ډوب و ،وروځـې لـږ څـه برندې کړې. انا میخایلوفنا داسې وانګېرله چې سردار لـه دې وډار شـو چې پـه هغـې کـې د سـردار بېزاوخـوف پـه میـراث کـې دبـل سیـال ښنـې ویني، نو ځکه یې د هغه د خیال د آرامولو لپاره په تلوار وویل:

- که له ماماجان سره زما د زړه له کـومې مینـه او خوا خوږي نه وای ( هغې دماما جان کلمه په ډیر ډاډ او ښه وویله ) ... زه د هغه په طبیعت ښـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم، مهربانه، مخامخ. مګر له شهزادګانو پرته اوس بل څوک د هغه په شا او خوا راټول نه دي، هغه ټول ځوانان او بې تجربې دي... خپل سر يې سردار ته ور وړاندې کړ، او په زګېروېز غږ يې وويل:

- سرداره، دا راته ووايه چې وروستني ديني مراسم يې پر ځای کړي دي؟ دا وروستۍ شيبې خورا درنې او د پام وړ دي. که رښتيا يې حال دومره خراب وي، بايد هرو مرو هر څه په ځای او چمتو شي. موږ بښځې بايد، سردار... تر يوې خوږې او مالګينې موسکانه وروسته دوام ورکړ:

- ګرانه سرداره ! دا موږ ښځې تل پوهېږو چې دا خبرې څنګه وويل شي. دا پر ما پوره ده چې هغه بايد ووينم، که څه هم دا کار به زما لپاره خورا دروند او ګران وي، خو زه د ژوند د ترخو د زغملو سره روږدې شوې يمه.

سردار د هغې په نيت ښه پوه شوی و او په دې هم پوه شوی و چې بيا هم لکه دانا شيرير د مېلمسيتا په شان داوار هم له اناميخا يلوفنا نه ځان ژغورل څه اسانه خبره نه ده. هغه وويل:

ګرانې ! اناميخايلوفنا ! تاسو فکر نه کوئ چې د دغه شان يوې کتنې زغم به هغه ته ډېر ګران نه وي؟ ښه به دا وي چې تر ماښامه پورې صبر وکړو، ډاکټران د ښه حالت اټکل نه کوي.

-ګرانه سرداره ! په دغه شان شېبو کې بايد د صبر خبرې و نه شي. لږ فکر وکړئ، خبره د هغه د روح په ژغورنه کې ده، اخ، دا د يوه مسيحي لپاره يو پور دی.

د کوټې په هغې کوزنۍ خوا کې يو ورپرانيستل شو، د سردار د خورځو نه، يوه ترې راووتله. دې شهزادګۍ غمجنه او سړه څېره درلوده. د هغې ټټر خورا لوړ او د هغې اوږدې ملا له پښو سره هېڅ انډول نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار واسیلي هغې ته مخ ورواړاوه او وې پوښتل: هغه، ځنګه دی؟

شهزادګۍ، انامیخایلوفنا ته داسې وکتل لکه یوې پردۍ ته چې ګوري، خو وې ویل:

- حال هماغه شان دی چې و ، خو له هغه شر او شور نه چې دلته دی تاسو څه انتظار لرئ؟

انامیخایلوفنا چې یوه نا لیدونکې موسکا یې پر شونډو خوروله، په کراره د سردار خورځې ته ورنږدې شوه او وې ویل:

-آخ ګرانې ! هېڅ مې و نه پېژندلې.

تر هغه وروسته یې د سترګو په یوې ادا او خواخوږۍ وویل:

-زه له تاسو سره د بابا په چوپړ کې د مرستې لپاره راغلې یم،زه تصور کولای شم چې تاسو څومره زغم ګاللی دی.

شهزادګۍ،بې له هغه چې ځواب ورکړي،آن کومه موسکا یې هم پر شونډو ونه لیدل شوه،هماغسې سمدلاسه ووته.

انا میخایلوفنا ،دستکش له لاسه وویستل، دیو ګټندوی په شان پر لاستي لرونکي څوکۍ کې کېناسته او سردار واسیلی ته یې بلنه ورکړه چې د دې تر څنګه کېني.

هغې په خندا خپل زوی ته وویل:

- باریسه، زه ګراف ته ورځم او ته به پیبر، ته ورشې. ګرانه ! هغه ته درستوف د کورنۍ د مېلمستیا خبر هېره نه کړئ. بیا یې مخ سردار ته ور واړاوه، او وې ویل:

هغو غرمنۍ ته وربللی دی،خو فکر نه کوم چې ورشي.

سردار چې ښکاربده طبیعت یې خوراګډوډ شوی، وویل:

برعکس ډېر به خوشحاله شم چې ما له دې ځوانه وژغورئ، هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږې پورته اچولې زياته کړه:
ټوله ورځ دلته راته ناست وي، ګراف يې هېڅکله پوښتنه نه ده کړې.
ځوان چوپړ ،ښکته خواته وخوځېد او له بلې زينې نه يو پوړ پورته لاړ او پيتر کېريلوويچ يې بدرګه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

پېير ،ونه شو کړای ځانته په پترزبورګ کې دريځ پيدا او خوښ کړي او په رښتيا دکومې وژنې په تور ، مسکو ته وشړل شو. هغه کيسې چې دده په اړه، د سردار رستوف په کور کې شوې وې، ټولې رښتيا وې. هغه په هغې ډله کې ګډون درلود چې د پوليسو سرمامور يې له اېږ سره تړلی و. دی دا ځو ورځې کېدې چې مسکو ته راغلی او دتل په شان د پلار کره مېشت او استوګن و. که څه هم ده تصور کاوه چې په پترزبورګ کې دده له کړو او کيسو ټول مسکوخبر او هغه ښځې چې ده ته په ښه سترګه نه ګوري او له پلاره يې راتاو دي،له دغو ټولو نېمګړتياوو نه به په ګټې اخيستو سره پلار دده پر وړاندې ولمسوي،مګر بيا هم مسکو ته په رارسېدو ،مخامخ د پلار کور ته لاړ. هغه کوټې ته چې په دو ديزه توګه به هلته شهزادګانې يعنې د سردار خورځې ناستې وې،ورننوت.ده له هغو سره يې ستړې مشې وکړه.هغوی درې تنه وې.او درې واړه په اوبدلو او دکتاب په لوستلو بوختې وې. مشره هغه يې چې انا ميخايلوفنا ته ورو تلې وه، په لوړ اواز نوروته کتاب لوست. منځنۍ هغه يې ،چې نرۍ ملا لرله، د سپېڅلتيا لېواله او چټه ځېره پېغله وه،دوو کوچنيو خويندو څه اوبدل، دواړه ښکلې او زړه راښکونکې وې،خو ددوې يوازينی توپير هغه خال و چې د يوې پر شونډو وېده و.

دې خال د هغې څېرې ته مالګينه او زړه وړونکې ښکلا ښښله. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير سره د هغوی ليدنې داسې حالت درلود چې ګواکې څوک له اديرې نه کوم راتښتېدلی مړی او يا د کوم نري رنځ له ناروغ سره مخامخ شوی وي.مشرۍ شهزادګۍ ،د هغه په ليدو ، له لوستلو پاتې او له وېرې نه په ډکو سترګو يې هغه ته په وحشت کتل.کمکۍ خور چې پر شونډو يې خال نه لاره، کټ مټ د مشرۍ خور په شان حيرانه وه ،مګر تر ټولو ځوانۍ خور چې خال او موسکا يې پرشونډو وو ،ددې لپاره چې خپله خندا پټه کړي، سر يې لا پسې تيټ کړ، هغې څکه خندل، چې تصور يې کاوه، راتلونکې رارسېدونکې شيبې به ډېرې خندنۍ وي....په دې وخت کې پېير وويل:

- سلام ! د ترور لور، اوس مې شاله ،نه پېژنئ؟

- زه تاسو ډېر ښه پېژنم، خورا ښه.

پېير په ناآرامۍ خو د تل په شان بې تلوسې وويل:

- د ګراف روغتيا څنګه ده؟ زه کولای شم هغه وګورم؟

- ګراف له ځاني او روحي پلوه ډېر نا آرامه دی او داسې ښکاري چې تاسو هم اوس پوره هڅه کړې ده، هغه روحا لا پسې په عذاب کړي.

پېير، تکرار کړه:

- زه کولای شم، سردار ووينم او کنه؟

- هو ،که تاسو غواړئ هغه ووژنئ،ببخښې يې ووژنئ،يعني تکل موکړی چې هغه ووژنئ، هو کولای شئ.

او ددې لپاره چې هغه ته څرګنده کړي چې هغوی بوختې دي او بوختيايې هم د هغه د پلار لپاره له چوپړه پرته بل څه نه ده ،او دی غواړي په خپلو کړو هغوی وزوروي.

هغې خور ته وويل:

- ولګا !ته لاړه شه، وګوره، چې د ماما جان شوروا چمتو ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنه، ځکه د هغه د ډوډۍ وخت دی.؟

ولګا له کوټې نه ووتله. پېیر، چې په دې خوښ و چې د ستړګي خښې کړې وې، همداسې ولاړ پاتې شو او تر دروازې ورو سته يې وويل :

-ښه ! چې نو داسې ده، زه مې خپلې کوټې ته ځم، هر وخت يې چې د ليدو امکان پيدا شو، ما ته خبر را کړئ.

هغه ووت، خو د خال دارې خور د خندا کړسهارې، هغه پسې انګازې جوړې کړې.

يو ه ورځ وروسته، سردار واسيلي راورسېد او د سردار په کور کې استوګن شو. هغه پېير، راوغوښت او ورته وې ويل:

- زما ګرانه !په دې پوهېږئ؟ که ته دلته هم وغواړئ خپلو هغو د پترزبورګ کيسو او ډنډورو ته دوام ورکړې، پای به يې تاته ډېر ناوړه تمام شي. د سردار ناروغي خورا بده ناروغي ده، د هغه ليدو ته هېڅ اړتيا نه شته.

له دې نه وروسته، هېڅ چا له پېير سره څه کار نه لاره، ، ټوله ورځ به يو ازې همالته په دويم پوړ کې په خپله کوټه کې، مېشت و.

کله چې باريس د هغه کوټې ورغی، هغه په خپله کوټه کې ګرځېده، خو کله کله به کوم کونج کې ودرېد ، ديوال ته به يې داسې ګواښونه کول چې ګواکې،د تصور شوي دښمن ټټر په توره توره وهي.

خو کله به يې چې د عينکو له شا نه برند وکتل،بيا به يې په ګام وهلو پيل وکړ، اوږې به يې پورته واچولې، لاسونه به يې وښورول، داسې به غږېده چې څوک به نه پرې پوهېدل،چا ته به يې ګوته نيوله او ويل به يې:

- د انګلستان خبره پای ته رسېدلې، ښاغلی پيټ، ملت او خلکو ته په خيانت تورن دی. هغه لا د پيټ ،د محکوميت حکم بشپړ کړی نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې شپه کې يې ځان د ناپليون پر ځای داسې تصور کړ، چې له خپلو اتلانو سره يو ځای د (پادوکاله له تنګۍ ـ د فرانسې او انګلستان ترمنځ پروت سمندرګی) نه اوښتې او لندن يې لاندې کړی دی. دی د خيالونو په همدې تال کې زنګېده چې په دې وخت کې يې خپلې مخې ته يو ډنګر، لوړ، ځوان افسر وليد، د هغه په ليدو ودرېد، پيېر، باريس، له څورلس کلنۍ نه وروسته نه و ليدلی او چوريې هغه په ياد هم نه و، خو سره له دې يې هم، هغه په خپلې ځانګړې مهربانۍ له لاسه راونيو او په خوږه موسکايې د هغه هرکلی وکړ.

باريس په خوږه موسکا او آرامه ژبه وويل:

- زه مو په ياد يم! له ادې سره د ګراف ليدو ته راغلی يم. مګر ښکاری چې روغتيا يې خورا د انديښنې وړ ده.

پيېر چې هڅه کوله، دا ځوان ورپه ياد او هغه وپېژني، ځواب يې ورکړ:

- هو، هو، وايي چې حال يې ښه نه دی او د هغه خپل خپلوان هم هغه په کرار نه پرېږدي.

باريس احساس کړله چې پيېر هغه و نه پيژاند، خو ده هم دا وړ و نه ګڼله چې ځان ور وپېژني. مګر بې له هغه چې وشرمېږي مخامخ يې د پيېر سترګو ته وکتل. تر يوه پوره ځنډ نه وروسته يې چې د پيېر د ګبنۍ او تلوسې سبب شو، وويل:

- ګراف رستوف ورته وويل:

- تاسو ته بلنه ورکړم، نن غرمه د هغو مېلمانه ياست.

پيېر په خوښۍ ځواب ورکړ:

- او هو، هو کې! ګراف رستوف، نو تاسې د هغه زوی ياستئ؟! ايليا؟ تصوريې کوئ، تاسو مې لومړی هېڅ و نه پيژاندئ، يادېږئ مو، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمن ژاکو سره، ((د مرغيو غرونو )) ته تلو ، له هغه وخته، ډېره موده تېره شوې ده.

باريس چې کراره او له ملنډو ډکه موسکا يې کوله، وويل:

- تاسو تېروتي ياستئ، زه باريس نومېږم او د شهزادګۍ انا ميخايلوفنا دروبځکايا زوی يم، ايليا ،درستوف د پلار نوم دی. د هغه زوی نيکولای نومېږي او مېرمن ژاکو خو زه هېڅ نه پيژنم.

پيير، خپل سر او لاسونه داسې ښورول چې ګوا کې، غومبسو يا مياشو په هغه يرغل کړی وي.

- آه، دا څه وشوه ! زه په هر څه کې تېروتلی يم، په مسکو کې خپل او خپلوان دومره ډېر دي چې سړی په کې سرسامه کېږي. ښه نو تاسې باريس ياست.. ښه ده چې اوس هر څه روښانه او موږ سره پوه شوو. ښه ! تاسو د فرانسې په شمال کې د بولونسکې دبندر د عملياتو په اړه څه وايئ؟ که ناپليون له سمندرګي نه واوړی، د انګلستان حال به ډېر بد شي، داسې نه ده؟ زه داسې انګېرم چې دا يرغل کېدونکی دی، په دې شرط چې فيلانيوف تېر نه وزي.

- باريس، نه دبولونسکې د يرغل په اړه په څه پوهېده. نه يې ورځپاڼې لوستې چې په دې پوه شي او دا لومړی ځل و چې د فيلانيوف نوم اوري. په هماغه آرامه او له ملنډو نه، په ډکه ژبه يې وويل:

-موږ دلته په مسکو کې تر سياست نه زيات په مېلمستياوو او غيبتونو اخته يو. هغه څه چې تا يې يادونه وکړه، زه هېڅ نه پرې پوهيږم او د هغو په هکله فکر کوم، ده خپلې خبرې اوږدې کړې:

- په مسکو کې خلک په چغليو او اپلت ويلو لګيا دي. په دې ورځو کې خو ټول ستا او سردار په اړه خبرې کوي.

پيير، د خپل اوربدونکي د خيال د ساتنې په سودا کې، يوه خوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسکا وکړه، په دې وپوهېده چې داسې څه یې له خولې ونه وزي چې وروسته یې د پښېمانۍ سبب شي، مګر باریس چې مخامخ د هغه دوو سترګو ته کتل، په ځیر، څرګندې او لوړې خبرې کولې، هغه زیاته کړه:

- هو کې، مسکو پرته له غیبته بل کار نه لري او ټول په دې سودا کې دي چې سردار به خپله شتمني چا ته په میراث پرېږدي. که څه هم کېدای شي، هغه له مونږ ټولو نه زیات ژوند وکړي، هغه څه چې زه د زړه له کومې له خدای نه ورته غواړم.

پېیر، داومنله او وې ویل:

- هو کې، دا ټول د نه زغم او د خواشینۍ وړ دي.

خو، له دې ویرېده چې دا ځوان افسر داسې کومو خبرو ته ور پرې نه وزي چې بیا خپله په کې بند شي

باریس، چې لږ سور شوی و، بې له هغه چې خپل غږ بدل کړي تر لږ ځنډه وروسته یې، وویل:

- تاسو داسې تصور کوئ چې اوس ټوله مشغولتیا په همدې کې ده چې هرڅوک، هڅه کوي، له دغه بډایه یو څه میراث تر لاسه کړي.

پېیر، په زړه کې وویل:

-دا همداسې دي.

- او ما د ناسم تصور د څرګندولو لپاره په لوی لاس غوښتل تاسو ته ووایم چې تاسو ډېر تېروتلي یاست، که تاسو ما او زما مور په دغه ډله کې شمېرئ، سخت تېروتلي یاستۍ. مونږ خورا بې وزله خلک یو، لږ تر لږه د خپل ځان په اړه در ته ویلی شم، زه په تېره له همدې کبله چې ستا پلار بډای دی، نه غواړم ځان ستاسو خپلوان وګڼم. زه او مور مې له هغه نه د څه شی هیله نه لرو. او نه د څه شي د منلو په خیال کې یو.

پېیر، ترډېره وخته نه پوهېده، خو کله چې پوه شه، له څوکۍ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپاڅېد ، په هغې چتکۍ چې دده ځانګړتیا ده.له قهره په ډکې او تر باریسه لا په سرې شوې څېرې په شرمېدلي اواز وویل:

- عجیبه خبرې دي ! ایا زه ...ښه !چا کولای شو تصور وکړي... زه ډېر پوهیږم...

خو باریس بیا د هغه خبرو ته ور منډه کړه:

- ته به ما وبښئ، خو زه خوشحاله یم چې د زړه خبرې مې درته وکړئ... دا زما عادت دی او هغه دا چې هر څه په ډاګه او سپینه وایم. اوس را ته ووایه چې سردار رستوف ته څه ووایم؟ تاسو د هغه مېلمستیا ته راځئ او کنه؟

باریس ته وبرېښېده چې یو لوی بار یې له خپلو اوږو ارتېږلی او بل ته یې سپارلی وي،بیا یې د پوره ارامۍ او خوښۍ احساس وکړ.

پېیر،چې کرار کرار آرامېده، وویل:

- غوږ شه، ته عجیبه سړی یې، هغه څه چې تا اوس وویل، ډېر په زړه پورې و ، ډېر، داسې بریښي چې ما نه پېژني. ډېر کلونه وشول چې موږ یو بل نه دي لیدلي... له ماشمتوبه... تاسو کولای شئ په ما ډاډه اوسئ... ، زه ستاسو په تکل ښه پوهېږم، ډېر ښه پوهېږم. ما به دغه کار نه وای کړای، زه د داسې یوه کار زړه هم نه لرم، خو ښه ده زه ډېر خوشحاله یم چې له تاسو سره مې وپیژندل.تر یوې شېبې چوپید و نه وروسته یې موسکا پر شونډو خوره شوه او وې ویل:

-عجیبه ده، تاسو زما په اړه عجب تصور او انګېرنه لرله.

وې خندل او وې ویل:

-نوښه؟ په راتلونکې کې به یو بل ښه وپېژنو. د باریس لاس یې کېښکود او وې ویل:

-په دې پوهېږئ کنه؟ ما لا تر اوسه یو وار هم سردار نه دی لیدلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زه غوښتی نه یم...دیوه انسان په توګه مې، ډېر زړه پرې سوځي،نه پوهېږم، څه باید وکړو؟

باریس چې موسېده، وپوښتل:

- تاسو فکر کوئ چې ناپلیون به وکولای شی چې خپل پوځ له سمندرګی واړوي؟

پېېر، پوه شو چې باریس غواړي خبره بدله کړي، ده چې هم دا غوښتل، نو د بولونسکې د عملیاتو د ګټو او تاوانونو په اړه یې خبرې پیل کړې.

کوم چوپړ راغی او باریس ته یې وویل چې مور دې غواړي. شهزادګۍ غوښتل ستنه شي. پېېر، چې په ډېرې مینې د خپلو عینکو له شا باریس ته کتل، د هغه لاس یې په کلکه کېښکوده او ژمنه وکړه چې له ده سره د زیاتې آشنایۍ لپاره د رستوف مېلمستیا ته ورشي...پېېر، د باریس تر وتلو وروسته ډېر وخت په خپله کوټه کې دا خوا آخوا ګرځېده، نور یې خیالي دښمن په تورو نه ویشت، بلکې د هغه، مهربان، هوښیار او مېړني ځوان له یادو سره موسېده.

هغه شان چې د ځوانۍ په پیل کې، په تېره بیا چې کوم ځوان یوازې وي، داسې پېښېږي د هغه هم، د دغه ځوان پر وړاندې په زړه کې یوه مینه پیدا شوې وه او پرېکړه یې وکړه چې له هغه سره دوستي پیل کړي.

سردار واسیلي، شهزادګۍ بدرګه کوله. شهزادګۍ په یو دستمال، خپلې اوښکې پاکولې او ویل یې:

- وحشتناکه ده، هېڅ تصور یې نه شي کېدای، اما زه په هر شېبه کې چې کېږي، خپل پور ادا کوم. راځم او هره شېبه تر سهاره پورې د هغه پر پالنګ کېنم. هغه باید یوازې پرې نه ښودل شي، هره شېبه ډېره ارزښمنه ده. زه پوهېږم چې سرداران ولې په دې پوهېږي، هیله لرم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای به خپله رحم وکړي او زه به وکولای شم کومه لاره پیدا او هغوی به قانع کړم. خدای مو مل او مرستندوی او سه. د خدای په امان ګرانه شهزاده.

سردار واسیلي ځواب ورکړ:

- خدای په امان ګرانې !

هغه دا وویل او بېرته ترې راستون شو.

کله چې دوی دواړه په ګاډي کې کښېناستل، مور زوی ته وویل:

- اخ، اخ، خورا بد حالت کې دی، هغه هېڅوک نه پېژني.

زوی یې وپوښتل:

- زه په دې نه پوهېږم، چې له پېر سره یې اړیکي څنګه دي؟

- وصیت لیک به هر څه روښانه کړي، ګرانه ! زموږ ژوند هم په هغه پوري تړلی دی.

- مګر ته ولې داسې فکر کوئ چې هغه به موږ ته هم یو نیم څه را پرېږدي؟

-اخ ! اخ ! ګرانه ! دا ځکه چې هغه داسې شتمن او موږ داسې بې وزلي یو.

- مګر، دا خو پوره دلیل نه شو، خو مورجانې.

مور یو اسویلی وویست او وې ویل:

-ای زما خدایه، زما خدایه، څنګه هغه په عذاب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

کله چې اناميخايلوفنا له زوی سره يوځای د ګراف ولاد يميروويچ بېزاو خوف، کورته لاړه، ګرافينه ( سرداره ) رستوا ، ډېر وخت يوازې پاتې وه، شېبه په شېبه يې په سترګو دستمال تېراوه.خو په پای کې يې زنګ کېښکود ، په خورا ترخه ژبه يې هغې چوپړې ته چې په ډېر ځنډ يې د دې زنګ ته ځواب ورکړی و ، وويل:

- وګورم ګرانې، څه شوي دي؟ نه غواړئ دلته خدمت وکړئ؟ بل ځای درته پيدا کړم که څنګه؟.

-د خورلنډې، ډېرې او د سپکاوي تر کچې خوارې، د ګرافينې خوا ، خورا ورشنه کړې وه،د دغې خواشينۍ اغېز د هغې په حالت کې داسې راڅرګند بده، چې هغې به د چوپړانو سره په خبرو کې د «ګرانه» په ځای «تاسو» ويل.

چوپړې ځواب ورکړ:

- ډېره ښښنه غواړم.

- له ګرافه نه هيله وکړئ چې ماته راشي.

ګراف، په درنو چټکو ګامونو ، د تل په شان، د يوه ملامت او ګنهکار په څېر خپلې ښځې ته ورغی او وې ويل:

- ښه نازولې ګرافينې ! ته پوهيږې ګرانې چې قره قوش به له «ستو له مرديو» سره پاخه کړئ (هغه خواړه چې په شرابو کې پخيږي) ما يې مزه څکلې ده. پيښمانه نه يم ،تاراسکا (د دوی اشپز ) مې په زر روبله

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیست. ((په هغه زمانه کې چې دغه پېښې انځورېږي په روسیه کې بزګر له ځمکو سره یوځای خرڅېدل او بډایانو هر ثوک په پیسو اخیستلای شول-ژباړن)) ارزي ! ارزي !

هغه د خپلې مېرمنې څنګ ته کېناست او د ځوانانو غوندې یې لاسونه پر زنګنو کېښودل، خپل ماش وبرنج څڼې یې په یو ټکان سره ګډې وډې کړې او وې ویل:

- زما ګرانې ګرافینې، سپارښتنې کوه !

- هغې چې د هغه پر واسکټ تور داغ ته ګوته نیوله، په موسکا یې زیاته کړه:

-دا څه شې دي، ګرانه؟ دا کېدای شي «ستو له مرديو» سره وي. هوکې ،ګرانه سرداره !، ته را غوږ شه ! زه پیسو ته اړتیا لرم. د دې خبرې سره سم د ګرافینې په څېرې کې د غم څپې را خورې شوې.

- ای زما شهزادګۍ !په دواړو سترګو... په خورا مینې او خواخوږۍ یې له خپل جیبه لوټونه را وویستل.

ګرافینې، خپل نازک دستمال راوویست، هغې چې د میړه د واسکټ، داغ پاکوه، ویل یې:

- نه ګرانه ګرافه !، زما زیاتې پیسې په کار دي. زه پنځه سوه روبله غواړم.

سمدلاسه، سمدلاسه. آها ،کوم یو ثوک دلته شته، ده په ډېر ډاډ د هغه چا غوندې داسې غږ وکړ چې ګوا کې د شونډو په ښوربدو به سمدلاسه ثوک ورته لاس تر نامه شي، او بیا یې غږ وکړ:

-میتینکا ته ووایئ چې دلته راشي.

میتینکا چې د کومې لویې درنې کورنۍ ماشوم او د سردار په کور کې روزل شوی و او اوس یې د ټولو چارو مشري کوله، په ارامو ګامونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې ته راننوت.

ګراف دغه درانه ځوان ته چې کوټې ته راننوتلی و، وویل:

- ګرانه، غوږ ونیسه، زما لپاره به...

او لږ ځنډ وروسته یې دوام ورکړ: هو کې! اوه سوه روبله راوړه، هو! هو! مګر، پام کوه چې هغه د تېرو وار په شان زاړه او څیرې لوټونه را نه وړې. زما د ګرافینې لپاره نوي لوټونه په کار دي.

ګرافینې چې په خواشینۍ اسویلي ویستل وویل:

- هو کې، میتینکا! مهرباني وکړه چې لوټونه نوي او پاک وي.

میتینکا وویل:

-د ګراف حضورته! سپارښتنه وکړئ، د څه وخت لپاره وړاندې شئ؟

- ښښنه غواړم، هیله لرم ووایم... په دې وخت کې یې پام شو چې د سردار سا په تنګېدو شوه، دا تل د هغه د خواشیني کېدو نښه وه، میتینکا زیاته کړه:

- تاسو بېخي آرامه اوسئ. که وغواړئ همدا اوس به چمتو شئ؟

- هو کې! هو. همدا اوس یې راوړئ. او ګرافینې ته یې وسپارئ.

کله چې هغه ځوان له کوټې ووت، ګراف په خندا وویل:

-زما دا میتینکا د سرو زرو ټوټه ده او جوړه نه لري، هغه ډېر پوه سړی دی. د هغه ژبه د «نه کېږي» خبره نه پېژني. زه هېڅکله د «نه کېږي» د کلمې د اورېدو زغم نه لرم، ځکه غر چې هر څومره لوړ وي، پر سر یې لاره شته.

ګرافینې وویل:

اخ، ګرانه! پیسې! ګرافه! څه غمونه دي چې په دې نړۍ کې د دې پیسو له لاسه په زړونو منګولې نه لګوي، زه دغو پیسو ته ډېره اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرم.

ګراف وويل:

- زما نازنينې ګرافينې جانې ! ټول پوهيږي چې تا سو څومره لوی لاس او پراخ زړه لرئ.

هغه د خپلې ښځې د لاسونو تر ښکلولو وروسته، د خپل کار کوټې ته ستون شو.

کله چې انا ميخايلوفنا د بېيزاوخوف له کوره بېرته راستنه شوه، د ګرافينې مخې ته پر ولاړ ميز، تر يوه نازک دستمال لاندې، پيسې پرتې وې. ټول نوي لوټونه.خو دانا ميخايلوفنا دې ته پام شو چې د ګرافينې خوا په کوم شي خورا شنه ده.

ګرافينې وپوښتل:

- ښه ګرانې ! وايه څه خبرې دي؟

- اخ، نه پوهېږم چې په څه وحشتناک حالت کې دی، نور نو بې سده دی، حال خورا خراب دی، هېڅوک نه پېژني، زه يوازې يو څو شيبې ورسره کېناستم، دوه خبرې مې هم و نه کړې...

ګرافينې، پيسې له دستمال لاندې را وويستلې، په داسې يو حالت کې چې سره شوه او دغه حالت، ددې ددغه منګ سره، نه ځوانۍ او نه ډنګر مخ سره اړخ نه لګاوه، وويل:

-تروري جانې ! ته او خدای چې زما دا سوغات به اخلئ.

انا ميخايلوفنا ، سمدلاسه په خبره پوه او لږ ددې لپاره ورکړه شوه چې په يوه غوره شېبه کې په خوا خوږۍ له ګرافينې غېږ راتاو کړي.

- دا زما له خوا باريس ته ورکړه، پر برېده ځانته دريشي پرې وګنډي.

اناميخايلوفنا چې ژړل، له هغې نه غيږ تاو کړې وه، ګرافينې هم ژړل، دواړو ژړل. هغو دواړه ځکه ژړل چې دوی دواړو ملګرې او دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهربانې دي، چې دوی دواړه دځوانۍ ملګرې دي،دوی ځکـه ژړل چې دوی دواړه پر یوه سپک څیز لکه پیسو خپل سپېڅلي زړونه اختـه کړي دي او لــه دي کبلـه یـې هـم ژړل چـې د دواړو ځـوانۍ تللـې دي، خـو د اوښکو دې باران دواړو ته خوند ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

ګرافینه رستوا ،له خپلو لوڼو او یو شمېر ډېرو مېلمنو سره په مېلمستون کې ناست وو. ګراف، ځینې نارینه مېلمانه د خپل دفترکوټې ته بوتلل او هلته یې هغه خپل ترکي ( پیپونه- د تنباکو څښولو پیپ ) چې په ډېر خوند او رنګ یې هلته را ټول کړي وو ، د هغوی مخې ته کېښودل. کله کله به ووت، او پوښتنه به یې وکړه:

-راغله کنه؟

ټول د ماریا دیمتروفنا اخروسیموا ،راتګ ته چې ،د اعیانو په ټولنه کې (د ګوابښمن ښامار ) نوم ګټلی و ،سترګې په لاره وو. دغې مېرمنې ته، نه د بډایتوب یا ټولنیز دریځ له کبله، بلکې د هغې له ساده ګۍ او په ډاګ ویلو له امله درناوي کېده. د څار کورنۍ ماریا دیمتروفنا پېژندله، ټول مسکو او پترزبورګ له هغې سره اشنا وو او دواړه ښارونه د هغې، کړو ته په حیرت کې وو. ټولو به په پټه د هغې په سپین سترګیو خندل او د هغې په اړه به یې ټوکې ټکالې او ملنډې جوړولې، مګر د دې سره سره له یو مخې ټولو د هغې درناوي کاوه.

د ګراف، له لوګیو نه په ډک دفتر کې ټولې خبرې د هغې جګړې په اړه راچورلیدې چې تګلاره یې لا د نوامبر په میاشت کې خپره شوې وه.که څه هم دغه خبرتیا ،لا چا لوستې نه وه، خو د هغې له خپرېدو ټول خبر وو.ګراف د داسې دوو تنو په ګاونډ کې پر څوکۍ ناست و چې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړېدل او پرله پسې یې پیپونه دودل. خپله ګراف چې نه یې څه ښبنول او نه یې خبرې کولې، خپل سر کله یو خوا او کله بله خوا تـه تـاواوه. د خپلو هغو مېلمنو له خبرو نه چې ده خبرو او مرکـو تـه هڅولي وو او د هغـو لـه پیپ ښبنولو نه یې، چې ده خپله ورته لګولي وو، خوند اخیست.

لـه دغـو دووتنـو مرکچیـانو نـه، یو تن، یـو غیـر پـوځي، نرۍ، رېـږه خریلی، ژېړ رنګی، ګونځمخی سړی و چې زړښت یې پر ځوانۍ لاسبرې کاوه، خو په کالیو اغوستو کې تر ټولو ځوانانو نه مخکې برېښـېده. تـه وا، داسې چې په خپـل کـور کـې ناست وي، پرڅوکۍ یې پلتـرۍ وهلـې وې، کهربایي پیپ یې د شونډو په کونج کې منډلی و او بې لـه هغـه چې ګـوتې وروړي، هغـه یـې ښبنـاوه، دود یـې دوداوه او ژوره یـې سـا یـې ویسته.

دابـد ژبـی سـړی، د ګرافینـې تـرورزیـي و، زوړ مجـرد او شیشـین نومېده. د هغه د ترخې ژبې کیسې د مسکو پـه مېلمسـنونو کـې هـر چا اورېدلې وې. هغه له خپلو اورېدونکو سره په ویاړ او کبر غړېده.

هغـه بـل سـړی، تازه اوتانـد د ګـارد پوځي و، چـې څېـره یـې ځلېـده، د کـالیو تنـې یـې تړلـې او ویښـته یـې پـه ډېـر ځیـر سـره ږمـنځ شـوي وو. کهربایي پیپ یې، د خولې په منځ کې ایښی، په سرو شونډو یې هغه په لنډه، لنډه سا ښبناوه او کړۍ کړۍ لوګی یې له ښکلې خولې پو کاوه.

دا هماغه د سیموفسکې د فرقې ساتمن و چې باریس باید لـه هغـه سره فرقې تـه لاړ شي. دا هماغـه څوک و چې ناتاشې، پرخپلې مشـرې خور ګرافینې ویرې، دملنډو لپـاره دهغـه کـوژدنی نومـولی و. هـو کې دا بېرګ و. ګراف، د دواړو تر منځ ناست و او پـه ډېـر ځیـر یې دهغـو خبرې اورېدې. کـه د بوسـتون لـه لوبو سره دهغـه پرلبوالتیـا وو سـترګې پټې شي، ګراف، تر ټولو نه زیات، دده او هغه د خبرو لـه اورېـدو سره لیـونۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه لرله. د ده به داسې خبرې هغه وخت لا پسې ډېرې خوږېدې چې وینا وال به یې نا ندریو ته سره ورسول. شینشین، له ملنډو نه په ډکه ژبه چې د هغه د خبرو دود و، غږېده، هغه چې په روانه فرانسوي ژبه خبرې کولې، د روسي ژبې خورا کلیوالي ترکیبونو او اصطلاحاتو به یې خپلې وینا ته ورګډول او ویل به یې:

-ښه، پلار که !ښاغلیه ! حضرت الفونس کارلیچ، تاسو تکل کړی دی چې د دولت له خرخونو نه ځان ته ګټې او د خپل جیب پړ سولو ته کومه لاره پیدا کړئ؟

- خیر، پیتر نیکولایوویچ، یوازې غواړم دا په داګه کړم چې د سپاره پوځ د ګټو کچه تر پلیو هغو ډیره لږه ده. او س تاسو خپله زما د حالت اټکل وکړئ، پیتر نیکولایوویچ.

ببرګ، تل، خورا ځیرې، رښتیې، ارامې او په پوره پام خبرې کولې. هر وخت به چې خبرې او اترې د داسې څه په اړه وې چې په ده پورې به یې اړه نه لرله، دی به چپ پاتې کېده. هغه، په ساعتونو ،بې له هغه چې نا آرامه شي یا د بل چا د نا آرامۍ سبب شي، کولای شول چپ پاتې شي، مګر په هره هغه شېبه کې چې به، بیا خبرې ده پورې اړه پیدا کړه، ببرته به یې په خبرو پیل کاوه او له هغو نه به یې سخت خوند اخیسته.

- نیکولای پتروبچ ،زما حالت هم تصور کړئ،که زه په پوځي سپور ټولي کې سرتېری یا ان د برېدګي په رتبه کې هم وای،اوس به مې په هرو دریو میاشتو کې له دوسوو روبلونو نه لږې پیسې اخیستې،خو اوس دوه سوه دیرش ګټم.

هغه، په خوږې او له خوښې سره مل موسکا ، شینشین او ګراف ته داسې کتل چې ګواکې دی داسې انګېري چې دده برې ،دنورو پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړو لپاره تل د ژوند بنسټيزه برخه جوړوي.

ببرک خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

-خو اوس چې ګارد ته رابدل شوی يم، تر هر څه دمخه مشرانو ته نېږدې يم. په ځمکني پوځ کې خالي بستونه خورا پرېمانه شوي دي او تر ټولو لا دا تصور کړئ چې څنګه مې په دوسو و ديرش روبلو هم ګوزار کړې او هم مې زېرمه کړې ده. هغه چې له خولې کړی، کړی لوګی ويست زياته کړه:

-له دې پيسو نه مې لا پلار ته هم يو څه ورلېږم...

ګراف، په کړس کړس وخندل، د نورو مېلمنو چې کله دې ته پام شو چې شينشين غزېږي، رانېږدې او غوږغوږ شول. ببرک چې نه يې د شينشين په خبرو کې پټو ملنډو ته پام و او نه يې خپلو خبرو ته د نورو بې پروايي احساسوله، خپلو کيسو ته دوام ورکړ او وې ويل چې څنګه دې ګارد ته په رابدليدو سره، تر خپلو ټولو همرتبو نه مخکې ترفيع کړې ده. هغه دا هم ويل چې په جګړه کې کېدای شي د دوی کوم قوماندان ووژل شي او هغه يې په ډېرې اسانۍ ځای ونيسي، دغه راز څنګه د دوی په کنډک کې، دی ټولو ته ګران او پلار يې هم ترې خوشاله دی.

داسې برېښېده چې ببرک د دغو ټولو کيسو له ويلو ښه خوند اخلي، هغه د خپلو ټولو کيسو په وخت کې دا ګمان نه کاوه چې د نورو خلکو هم کېدای شي دې ته ورته ګټې وي، خو هغه ټولې دا کيسې دځانپالنې او سادګۍ په داسې خوند او رنګ کولې چې، ټول اورېدونکي له حيرته ورته ګوته په غاښ وو.

شينشين چې پښې له څوکۍ نه ځوړندې او هغه يې په اوږو ډباوه، ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښه پلاره ! هېڅ باک يې نه شته چې تاسو چېرې واوسئ، پلي او که سواره پوځ کې ،زه تاسو تـه يـو اټکـل کوم،هغـه داچـې تاسو هـر چېـرې خپله لار موندلې شي.

بېرګ له خوښۍ نـه وموسېد ،ګراف مخکې لاړ او نـور ټول مېلمانـه هغه پسې مېلمستون ته لاړل.

***

نور نو ترغرمنۍ نه مخکې،هغه وخت رارسېدلی و چې مېلمانه ټول راټول وو ، هغوی دبسم الله بلنې ته سترګې پـه لاره وو ،سره لـه هغـه چې په دغه شان شېبو کې ځوک اوږدو مرکو او خبرو ته زړه نه ښـه کوي،خو له دې سره همهاله چا دچپ پاتې کېدو هڅه هم ددې لپاره نـه کولـه چې وښيي،هغوی ډوډۍ ته دناستې لپاره تلوار نه لـري.کوربنو هـره شـېبه د دروازې خواتــه کتــل او کلــه ناکلــه بــه يــې يــو بــل پــه ســترګو کــې پوښتل.مېلمنو هڅه کوله په دغو کتنو کې دې پوښـنې تـه ځـواب پيـدا کړي چې:

- ايا کوم خپلوان ته سترګې په لاره دي چې ناوخته کړې يې ده او يـا کومو خوړو ته سترګه په لاره دي چې لا پاخه شوي نه دي.

پېير،د غرمنۍ د پيل په درشل کې راورسېد او د مېلمستون په منځ کې داسې يو ځای پر ځوکۍ کېناست چې دتګ راتګ لاره يې چور بنده کړه.

ګرافينې، غوښتل هغه خبروته اړ کړي،خو هغه دعينکو لـه شـانه پـه داسې سادګۍ خپل شا وخوا ته کتل چې ګوا کې دچا پـه لټـه کې دی.د ګرافينې، پوښتنو ته يې هم په ډېره سختۍ،په يو ډول او لنډ ځوابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل. هغه بې له دې نه چې ځان ته یې پام شي، شرمناکه او یوازې و. زیاتره مېلمانه چې له ابې سره د هغه له کیسې نه خبر وو، په ډېر ځیر او شوق د غه لوی، څورب او ارام سړی ته کتل او دې ته حیرانه وو چې څنګه هغه د پولیسو له سرمامور سره هغه شان ټوکه کړې ده؟

ګرافینې له هغه نه وپوښتل:

- تاسې تازه مسکو ته راغلي یاست؟

پېیر، چې دا خوا او خوا یې کتل، ځواب ورکړ:

-هو کې !اغلې !

- زما مېړه مو نه دی لیدلی؟

پېیر، په هسې بېځایه خندا وویل:

- نه آغلې !

- داسې ښکاري چې څو موده مخکې په پاریس کې وئ؟ ګومان کوم، هغه په زړه پورې ښار دی؟

- هو کې، ډېر په زړه پورې دی.

ګرافینې، انامیخایلوفنا ته وکتل. انامیخایلوفنا پوه شوه چې ملګرې یې د دې هیله لري چې له دې ځوان سره خبرې اترې پیل کړي. هغه د پېیر، څنګ ته کېناسته او د هغه د پلار په اړه یې غږېدا پیل کړه. خو هغې هم د ګرافینې، په شان ،له لنډو ځوابونو هو او نه،نه پرته بل څه له هغه نه وا نه ورېدل. مېلمنانه ټول پخپل منځ کې په تودو خبرو اترو بوخت وو.هرې خوا ته یې داسې خبرې،لکه،رازموفسکې همداسې دی، ... تاسو نه پوهېږئ، څومره په زړه پورې وه، ... دا ستاسو وړده، ... اورېدې.

په پای کې ګرافینه پاڅېده او لویې خونې ته چې دمېلمنود انتظار کوټه وه لاړه، خو ژر یې غږ وا ورېدل شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ماريانا ديميتروفنا له خيره سره راغله؟
يوه زړه زورونکې ښځينه آواز يې په ځواب کې وويل:
- هوکې، زه په خپله يم ! او له دې غږ سره جوخت، ماريا ديميتروفنا په خپله را څرګنده شوه.
له خورا زړو کسانو پرته، ټولې پيغلې او آن مېرمنې هم ،له ځايه پاڅېدې.
ماريانا ديميتروفنا ،د وره په خوله کې ودرېده، پر پراخو اوږويې، د سپينو ويښتو پر کړيو خپل پنځوس کلن سينګار کړی سر لا پسې لوړ او ټول مېلمانه يې وڅارل. او په ډېر تلوار يې د خپل کوټ پراخ لستوڼي چې ګواکې پورته کوي يې، ښه وهل. هغه بې له هغه چې خبرو ته يې فرانسوي ورګډه شي، تل په سوچه روسي ژبه غږېدله.
هغې په لوړ ،درانه او پر نورو غږونو اغېز من غږ، وويل:
- د جشن ګرانې خاوندې ! جشن مو مبارک شه ! ستاسې سيوری دې د ماشومانو له سره لرې نه وی.
هغې ،ګراف ته چې ددې لاسونه يې مچول، مخ ورواړاوه، او وې ويل:
- ای ګنهګاره بوډا ! په مسکو کې خو به په تنګ شوی نه يې.دلته دا سې ځای هم نه شته چې سپې وجنګوئ؟ ښه، نو څه کولای شئ، ګرانه پلاره ! هغې پېغلو ته تر اشارې وروسته وويل:
- غواړئ نه غواړئ، بايد مېړونه ولټول شي.
هغه چې له ډاره پرته او په خوښۍ دناتاشا د لاسونو ښکلو ته ورنږدې شوې وه ،هغه يې د لاس په تېرولو ،ونازوله، او وې ويل:
- ښه،نو ، زما قزاقې؟ (ماريانا ديميتروفنا ناتاشې ته قزاقې نوم ورکړی و. ) زه پوهېږم چې هغه د اور لبمه ده، خو سره له هغه هم ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانه ده.

هغې له خپلې لوېې کځوړې نه، يو جوړ ياقوتي اوښکۍ، چې ناک ته ورته جوړې شوې وې، راويستلې او هغه يې ناتاشا ته چې له خوښۍ نه ځلېدله، ورکړې. مګر سمدلاسه يې له هغې نه مخ واړاوه. په نازک او نرم غږ يې، چې د دوکې ننبې په کې ځرګندې وې، پيېر، ته وويل:

- اې، اې، مهرباني وکړئ، دلته راشئ ! ځنډ مه کوئ، تاسو ته وايم، هيله کوم دلته راشئ !

هغې په ګواښمن ډول، لستوني لا پورته بډ وهل.

پيېر، چې په ساده ګۍ د عينکو له شا نه په هغه سترګې خښې کړې وې، ور نږدې شو.

- راځه، راځه مهرباني وکړه ! زه يوازيني ځوک وم چې ستا پلار ته مې، کله به چې يو نيم امکان پيدا شو ، هر څه په ډاګه ويل، تا ته خو لا وايم چې وايم.

هغه چپ و ، ټول چوپ وو ، ټولو يو څه احساسول او يو څه ته سترګې په لاره وو ، ټولو دا د کومې پېښې پيل انګېره.

- ډېر ښه ! څه به ووايم، ښه ځوان دی... پلار يې د ځنکندن په حال پروت دی او هغه لا هماغه شان خپلو بې لاريو ته دوام ورکوي، د پوليسو مشر په اېږ پسې تړي. د شرم او بېحيايۍ خبره ده. د دې پر ځای چې جګړې ته تللی وای، ښه به و.

ماريا ديميتروفنا ، مخ واړاوه، ګراف ته يې چې له خندا يې بډوډي نيولي و ، لاس ورکړ او وې ويل:

- ښه، اوس ددې وخت را رسېدلی دی چې ميز ته لاړ شو.

ګراف او ماريا ديمتروفنا مخکې، تر هغه وروسته ګرافينه او د سورو پوځونو هغه ډګروال روان و ، چې نيکولای بايد له هغه سره خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډ ته تللی و ای. انامیخایلوفنا له شینشین سره روانه وه، بېرګ وبرې ته لاس ورکړی و او موسکا یې پر شونډو خوره وه، ژولیه کاراګین له نیکولای سره میز ته نږدې شول، هغو پسې نورې رنګارنګې جوړې روانې او کتار یې د مېلمستون تر بلې خوا پورې غځېده، بیا ماشومان چې جلا جلا وړاندې تلل او تر هغو وروسته بیادکورنیو ښوونکو او روزونکو کتار جوړ کړی وو.

د څوکیو او میزونو د وړاندې وروسته او بېځایه کېدو غږ چې چوپړانو او مینځو په خورا لېوالتیا سمول، په مېلمستون کې انګازې جوړولې، په همدې شېبه کې و چې سازیانو هم خپلو نازولو ته ګوتې وروړې او د خوږې نغمې غږ یې پورته کړ. مېلمانه کرار کرار سره ځای پر ځای شول.لا څوشېبې تېرې نه وې، چې د مېلمنو د خبرو اترو، ټوکو ټکالو، د هغو کاشوغو او چړو او د چوپړانو د تګ راتګ او منډو غږ په ساز او اواز لاسبری وکړ.

د میز، یوې برې خوا ته ګرافینه ناسته وه.د هغې ښي خوا ته ماریانا دیمتېرتوفنا او چپې هغې ته یې انا میخایلوفنا او یو شمېر نورې مېلمنې ناستې وې.

د همدې میز بل سر ته ګراف، د هغه کین لاس ته د سواره پوځ ډګروال او ښي لاس ته یې شینشین او نور نارینه میلمانه لیدل کېدل.

د اوږده میز یو خوا ته د پاخه عمرځوانانو ځای نیولی وو، وېره د بېرګ تر څنګه او پېیر د باریس خوا ته او د همدې میز بلې خوا ته ماشومان او ښوونکي ،ځای پر ځای وو.

ګراف، د ګڼو لوړو خمونو، کرستال جامونو او د میوو د ډکو شاکاسو له منځه، خپلې مېرمنې ته چې لوړه نیغه شنه پټاره خولۍ یې په سر وه کتل او په ډېره لېوالتیا یې خپل څنګ ته ناستو مېلمنو ته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان يې هم نه هېراوه جامونه ډکول ګرافيني ،هم بې له هغه چې د مېلمه پالنې دندې هېرې کړې، د اناناس د لوړ او غټ بوتل له شا نه په تلوسې او ګبنې او ځانګړې معنې لرونکي ډول خپل ميړه ته کتل.هغې ته داسې بربښېده چې د مېړه د مخ سوروالی او د سپينو ويښتو څنګ ته د ځلېدونکي سر ځلېدل يې له دوديز ډول نه زيات شوی وی. د ميز په هغه سر کې چې ښځې د پره وې،شر او شور يو رنګ او ارام، خو په هغه بل سر کې چې نارينه ټول وو ، د غږېدا او خندا اوازونه شېبه په شېبه په زياتېدو وو. په تېره بيا د سواره پوځ ډګروال د بې سارو خوړلو او څکلو نه داسې سور سور شو چې ګراف،هغه د نورو مېلمنو دهڅونې لپاره،د خورا بېلګيز مېلمه په نامه ونوموه.

بېرګ چې مينه ناکه موسکا يې پر شونډو خوره وه، وېرې، ته د مينې رازونه سپړول او ويل يې چې:

- مينه، نه ځمکنی بلکې،يو اسمانی احساس دی.

باريس چې مخامخ ده ته له ناستې ناتاشې سره سترګې جنګولې،خپل نوي ملګري.پېير،ته نوې رارسېدونکې څېرې ورپېژندلې.

پېير، ډېر لږ غږېده،نويو څېرو ته يې کتل او زيات يې خوړل..

ناتاشا چې مخامخ ده ته ناسته وه، په پر له پسې توګه يې سترګې په باريس خښې کړې وې.باريس ته د هغې کتل ،دهغې د يارلس کلنې نجلۍ غلچک ته ورته و چې څو شيبې د مخه يې د لومړي ځل لپاره له دغه هلک سره مچو کړې وي او زړه يې پرې بايللی وي. ناتاشې، دغه شان غلچک ،کله کله هم پېير،ته ورلېږه. پېير،غوښتل د دغه خندا وړ نجلۍ، خندنيزو غلچکو ته وخاندي،خو نه پوهېده چې پر څه وخاندي.

نيکولای چې له سونيا نه لرې،د ژولي کاراګين خوا ته ناست و ،بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له هغې سره په يوه نا بللې موسکا خبرې کولې. که څه هم سونيا په ظاهره خندل، خو له خبرې يې دا څرګندېده چې، په زړه کې يې د تېربدونکې رخې د زهر د خوتېدو کيسه روانه وه. کله به يې رنګ وتښتېده او کله به سره شوه. هغې په ټول قوت سره غوږ ونه لاپسې، تېره کول چې وا وري، نيکولای او ژوليا د څه شي په اړه غږېږي. دماشومانو ښوونکو په ډېرې نا قرارۍ شا و خوا څارل او د هغو کسانو پر وړاندې يې ځان غبرګون ته چمتو کاوه چې ماشومان ازاروي.

جرمن ښوونکي هڅه کوله چې د ټولو خوړو او شرابونو نومونه د دې لپاره ياد ته وسپاري چې بيا يې په خپل ليک کې خپلو خپلوانو ته وليکي، نو له دې کبله که کوم وخت به يو نيم چوپړ دده د ميز له څنګه د تېربدو په وخت کې ،له ده سره ونه درېده، سخت به خوابدي شو. هغه به تندی تريو او وروځې په يې برندې برندې کړې، دا به يې ښودله چې دی د شرابو د لاس ته راوړلو لېوال نه دی، خو دی په دې خوابدی دی چې، هېڅوک په دې نه پوهېږي، چې شراب ده ته نه د تندې د ماتولو ،نه د بخيلۍ بلکې ددې لپاره دپام وړ دی چې په رښتيا هغه غواړي دهغو په کيفيت او توپير پوه او په دې اړه خپله پوهه زياته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

د نارينو د ميز په کوزنۍ برخه کې خبرې دم په دم تودېدې. ډګروال ويل چې د جګړې تګلاره په پترزبورګ کې خپره شوې او د هغې يوه ځانګړې ګڼه چې د ډاکې په لاس ستر قوماندان ته ليږل شوې وه، ده هم ليدلې ده.

شينشين وويل:

- نه پوهېږم کومه بلا موږ له ناپليون سره جګړې ته هڅوئ؟ هغه په يو ګوزار د اتريشيانو غرور مات او له دې ويريږم چې اوس زموږ وار نه وي.

دغه روسي الماني ډګروال، چې غټ، جګه ونی ،تندمزاجه، وياړمن پوځي او هيوادپاله و ،د شينشين له خبرو خوابدي غوندې شو.هغه چې، لکه د بهرنيو په څېر (يه) په (اِ) او نرم توري يې سخت ادا کول، وويل:

- پوهېږئ ولې؟ ځکه چې ټولواک تر ما او تاسو نه ښه پوهيږي. ګرانه ښاغليه ! هغه ښاغلي په خپلې وينا کې يادونه کړې ده، نه شي کېدای هغه ګواښ ته بې تفاوته وګوري چې روسيه ګواښوي،هوکې امنيت ته، دهېوادنوم،دامپراتورۍ دريځ او سپېڅلي ټلوالو ته...خو دا هېڅ ثرګنده نه وه چې ولې يې د ټلوالو په کلمې ټينګار وکړ. داسې ټينګار، چې ګواکې دهغه ټوله موخه په همدې کلمې کې نغښتې وه ،دخپلې نه اشتباه کوونکې حافظې دځانګړتيا له مخې يې چې رسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادښتونه یې له یادو ،یادول،د جګړې د اوربل د خبرتیا لومړې کرښې بیا تکرار کړل:

...«د ټولواک هیله او یوازینی او نه بدلیدونکې موخه په دې کې ده چې، په اروپا کې د سولې د پوره ټینګښت لپاره، همدا اوس د پوځونو یوه برخه له پولونه بهرته وخوځول شي او د دې پرېکړې د سرته رسولو لپاره نورې هڅې پیل کړي».

هغه خپل جام په سر واړوه او د خپلو خبرو د تایید لپاره یې د ګراف خوا ته ور وکتل او د یوه نصحیت کوونکي په توګه یې وویل:

- هو کې، درنه ښاغلیه ! له دې کبله.

شینشین تندی تریو کړ او په داسې حال کې چې موسکایې پر شونډو خوره وه، په فرانسوي او روسي ګډه ژبه یې وویل:

ګرانه سرکاره، دا عالي متل دی اوربدلی دی:

-ناست به وې په کورکې خپلې زغنې به دې اوبدلې.

شینشین خبرې اوږدې کړې او وې ویل:

دا متل زموږ له حال سره ښه برابر دی. سوروف یې له خپل ټولواک سره، تری تالان کړ،زه له تاسو نه پوښتنه کوم،هغه سوروفان مو چېرې دي؟

ډګراوال چې میز یې په سوک واهه،وویل:

- موږ باید د خپلې وینې تر وروستي څاڅکې پورې جګړه وکړو او خپل ژوند تر خپل ټولواک نه ځار کړو. هغه وخت به هر څه جوړ شي. موږ څو کولای شو باید خبرې کمې وکړو.د "کولای " شو ټکې ته یې ښه زور ورکړ، بیا یې ګراف، ته مخ ور واړاوه، او وې ویل:

- موږ د سپاره پوځ زاړه یاران، پېښې داسې څېړو.

په دې وخت کې یې مخ نیکولای ته چې د جګړې د خبرو په اوربدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له بل چا سره مرکه پرېښې وه او په تولې ځير کتيا يې ده ته کتل او په شروشور کې ده ته غوږ غوږ و، مخ ور واړاوه او وې ويل:
-ښه زلميه !تاسو ځوان سواره يې ټنګه ښېږئ؟
نيکولای چې له ګېنې نه يې اور اخيستی و، قاب يې په لاس کې چورلاوه او د شرابو کندولي يې په داسې غوټه خو مايوسې برابرول چې ګواکې همدا اوس له يوه سترګوابې سره مخامخ دی، ځواب ورکړ:
-په پوره توګه ستا خبرې منم، دی، په دې باور دی چې روسان دوه لارې لري، يا بايد ومري او يا بريالي شي.
تردغې خبرې وروسته دی هم دنوروپه څېر په دې پوه شو چې، په دې وخت کې دده، دغه وينا خورا رسمي او دده تر کچې لوړه ويل شوې، نو ځکه بې ځايه او بې وخته وه.
ژوليا، چې د هغه له څنګه لږ هغه خوا ناسته وه، يو سوړ اسويلی وويست او وې ويل:
-ستاسې خبرې خورا ښکلې وې، خورا ښکلې.
سونيا، دنيکولای د غږېدا په وخت کې تولـه ورږدېده او تر غوږو تکه سره شوه له غوږو نيولې ترغاړې او اورمېږه پورې.
پېير، چې د ډګروال خبرو ته په ځير غوږ غوږ و د مننې سر يې ښوراوه او وې وويل:
- دغه ته ويا ړ وايي.
ډګروال بيا ميز په سوک وواهه او چيغه يې کړه:
- افرين ځوانه !د سواره پوځ رښتيني افسر بايد همداسې وي.
په دې وخت کې دميز لـه هغې خوانه، ناڅاپه د مارينا ديميتروفنا، ناولی آواز واورېدل شو چې ويل يې:
-دا څه خبره ده چې داسې شر او شور مو جوړ کړی دی؟ هغې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سواره پوځ پوځي ته مخ وروا ړاوه او وې ویل:

په تا څه شوي چې دومره میز ډوبوئ؟ دا څه داسې میزونه ټکوئ؟ چاته داسې اور اخیستي یئ؟ څه فکر کوي د فرانسي پوځیان دي مخې ته ولاړ دي، ، چې داسې ګوا ښونه کوئ؟

د سواره پوځ پوځي، په موسکا غږ وکړ:

-زه، رښتیا وایم.

ګراف،د میز له بلې خوا را چغې کړې، ټول یوازې او یوازې د جګړې خبرې کوئ، ګوره،مارینا دیمتروفنا ! زما زوی جګړې ته روان دی.جګړې ته !

د میز له بلې خوانه بیاد ماریا دیمیتروفنا ، آواز بې له هغه چې کومه لېوالتیا په کې احساس شي،را اوچت شو:

- زما څلور زامن پوځ ته تللي دي، دا خو د زوریدو خبره نه ده، څه چې خدای کوي، هغه به کیږي. که د خپل کور په بړستن کې هم پروت وي،د مرګ نه هیریږې. د جګړې په ډګر کې هم خدای مهربانه دی

- سمه ده، رښتیا وایي.

او په بېلابېلو ډلو کې بیا خبرې تودې شوې. دمیز په یو سر کې د ښځو ډله اود میزپه بل سر کې د نارینو ډله.

د ناتاشا ، کشر ورور، هغې ته وویل:

- وینئ ! ولې پوښتنه نه کوئ؟ګوره ! نه،پوښتنئ؟

ناتاشا ځواب ورکړ:

- پوښتم، پوښتم.

دهغې څېره چې ناڅاپه لکه اور تکه سره شوې وه، په کې دمایوسۍ او خوښۍ نښې څرګندې وې. هغه،پاڅېده ،پیېر ته یې چې دې ته مخامخ ناست و ،په کتو کې د غوږ نیوو بلنه ورکړه او خپلې مور ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل:

- مورجانې !

پر تول میز د هغې له ګوګل نه را پورته شوي ماشومانه غږ، انګازې خپرې کړې.

ګرافینې په ډېر ډار وپوښتل:

-څه وایئ؟

خودا چې د لور په څېره کې یې د شیطانۍ نښې ولیدې، په ګوانښمنه او د نه منلې په توګه یې سر او لاس وښورول.

پر ښځه ار چوپتیا خوره شوه.

دناتاشې اواز لا پسې زغرد شو او نګازه یې وکړه:

-مور جانې ! کوم شیریخ به وي؟

ګرافینې غوښتل تندی تریو کړي، خو و یې نه شو کولای، ماریانا دیمیرتوفنا خپله د شهادت ګوته، د ګوانښ په توګه ناتاشې ته وښوروله او وې ویل:

- اې قزاقې !

زیاترو مېلمنو چې په پوښتنیز ډول یې د هغې مور او پلار ته کتل، نه پوهېده چې دناتاشې ددې کړو په بدل کې څه وکړي.

ګراف وویل:

- اوس به له تا سره ګورم.

ناتاشې په دې ډاډمنه وه چې د هغې د کړو به په خوښۍ هرکلی کېږي، په لا ناز، زړورتیا او خوښۍ یې چیغه کړه:

-مورجانې ،څه فکر کوئ،شیر یخ به راوړي؟

سونیا او څورب پیتیا چې له خندا نه یې به وډۍ خوږ شوي وو ، ځانونه پټ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا چې بیا پيير او خپل کشر ورو ته وروکتل، په بنګهاري يې وويل:

- ودې ليدل چې ومې پوښتل.

ماريانا ديميتروفنا وويل:

- شيريخ شته، خو، تاته يې څوک نه درکوي.

ناتاشا چې نور، له چا نه، نه ډاريده، له ماريا ديميتروفنا نه هم و نه ډار شوه، هغې ته يې وويل:

ماريانا ديميتروفنا کوم شيريخ به راوړي، زما خو، غوړ رنګه هغه نه خوښيږي.

-د ګازرو له خوند سره.

ناتاشې، چې اوازيې چيغوته ورته کېده، چيغه کړل:

-نه!

مارياديمترفنا راته ووايئ کوم شيريخ، زه غواړمه پوه شم، کوم؟

ماريا ديمتروفنا او ګرافينې وخندل او له هغوی سره ټول نورمېلمانه هم په خندا شول. ټولو خندل، خو نه د ماريا ديميتروفنا ځواب ته، بلکې دهغې نجلۍ حيرانوونکې زړورتيا او ځيرکتيا ته چې داسې دماريا د يميتروفنا په وړاندې دربدلې وه.

ناتاشا، ترهغه پورې په کرار نه شوه چې د انانس(ميوه) لرونکي شيريخ د راوړلو زيری يې وانه وريد.

دانانس لرونکي شيريخ تر راوړلو مخکې شامپاين راوړل شول، سازيانو بيا سازونه وغږول، ګراف، له ګرافينې سره ښکلول، مېلمنو چې ګرافينې ته مبارکې ويله، دميز پر سر يې ګراف او خپل منځ کې جامونه جنګول. چوپړانو دميزونو-څوکيو او په نورو ځينو ځايو کې د ډوډۍ په جوړولو کې تلوسه او لېوالتيا زياته کړه او مېلمانه له پخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لا تاندو شویو، لا سرو شویو او لا خوښو شویو ځېرو ببرته مېلمستون او د ګراف کوټې ته راستانه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

د قطعو د پاڼو او لوبو لپاره میزونه سم شول. د لوبو د سیالۍ ډلې جوړې شوې. د ګراف، مېلمانه څوک په لوی مېلمستون، څوک په کمکي مېلمستون او څوک هم په کتابتون کې ځای پر ځای شول.

ګراف، چې تېولو ته موسېده، په چټکۍ یې خپلې قطعې په لاس کې اړولې راړولې او په خورا سختۍ یې له هغه خوب سره منګولې نرمولې، چې له ډوډۍ وروروسته دی ور سره روږدی و. د ګرافینې په خوښه او بلنې، ځوانان د وړې پیانو او چنګ شا و خوا ته ورټول شول. تر هر چا دمخه ژولیا د ټولو په بلنې له چنګ سره کېناسته او ... بېلا بېلې نغمې یې وغږولې. تر دې وروسته، هغې د نورو پېغلو په مرسته، له ناتاشې او نیکولای نه چې د ټولو په منځ کې د موسیقۍ د ښه ذوق د خاوندانو په نامه پېژندل کېدل، غوښتنه وکړه چې یو څو سندرې ووایي. ناتاشې، چې نور نو هغې ته نه د پروني ماشوم بلکې د یوې پېغلې، په توګه کتل کېدل او په دې هغه ویاړېده هم، په ډېرې ځان غوښتنې وویل:

-ووایئ، څه ووایم؟

نیکولای ځواب ورکړ:

- د کلوچ، په نامه دمینې سندره.

ناتاشې وویل:

- نو راځئ، ژر کوئ. باریسه ! دې خواته راشه، او رښتیا ، سونیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې ده؟

هغې، دې خوا هغې خوا وکتل، خو چې خپله ملګرې يې تر سترګو نه شوه، په منډه د باندې ووتله، ځان يې د سونيا کوټې ته ورساوه، هلته يې هم پيدا نه کړه، نو د ماشومانو د لوبو کوټې ته يې مخه کړه، سونيا هلته هم نه وه. ناتاشا، پوه شوه چې سونيا، به په دهليز کې د ولاړ صندوق تر شا وي. دا دلارې په ځنګ کې ولاړ صندوق، د رستوف د کورنۍ د تنکو پېغلو د زړه خوالې ځای و. دوی هر کله هلته کېناستل او خپلې کيسې به يې کولې. په رښتيا هم سونيا ګلابي کميس په غاړه چې نازک او ښکلي لاسونه يې تر مخ تاو کړي وو، پر صندوق يې خيرنه او ځيرې توشکه غوړولې او دا پر هغې، پر مخ پرته وه. داسې يې ژړل، چې بربنډې نازکې اوږې يې دژړا له زوره رېږدېدې. د ناتاشې مخ چې په هغه ورځ، د دې د نامه دجشن په وياړ، په خوښيو او شر او شور کې ډوب او تاند و، ناڅاپه بدل او مات شو. د خوښۍ ځلا يې له سترګو ورکه او له نڅا ودرېده. اورمېږ يې ورېږدېد او شونډې يې بړوسې شوې.

- سونيا وو ايه څه شوئ؟ څه خبره ده؟

ناتاشې، خپله لويه خوله جينګه کړه، د خولې له جينګېدو سره د هغې څېره لا پسې بد رنګه شوه. په همدې شېبه کې، بې له هغې چې پوه شي، يوازې له همدې کبله چې سونيا ژاړي، د ماشوم په شان يې په ساندو پيل وکړ. سونيا غوښتل سر پورته او هغې ته ځواب وو ايي، مګر وس يې نه کېده او خپل مخ يې پټاوه. ناتاشا، هسې د پښو پر سر په هماغې شين رنګې توشکې ناسته او خپله خورلنډه يې په غېږ کې کېښکودله او ژړل يې. په پای کې سونيا، زړه او قوت را ټول کړل، پاڅېده له سترګو نه يې اوښکې پاکې او په خبرو شوه:

- نيکولای، تريوې اونۍ وروسته ځي، د هغه دلېږدولو فرمان...لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخته لا سلیک شوی دی... هغه خپله ما ته وویل...

هو کې، ما به نه ژړل (هغې، هغه کاغذونه چې په لاس کې یې وو، راوغورول، هغه د نیکولای شعرونه وو )ما به هر څه زغملي وای، ما به هېڅ نه ژړل، مګر نه پوهېږم...هېڅوک نه پوهېږي، چې د هغه په زړه کې څه دی...

او بېرته په ژړا شوه. د هغې ژړا، د هغې د پاک، سپیڅلي او روڼ روح څرګندونه و.

بیا یې هڅه وکړه چې د خپلو ساندو مخه ونیسي او وې ویل:

- سخ په تا... کېدای شي ته د اسې وانګیرې چې زه له تا سره رخه لرم... ته ما ته ګران یې... باریس هم را ته ګران دی...هغې په زړه کې وویل:

- هغه خورا خواخوږی دی...هېڅ څه ستاسو د نیکمرغۍ خنډ نه دي، خو نیکولای خو زما د ترور زوی دی...(په روسانو کې د کاکا، ماما او ترور له زامنو او لوڼو سره نکاح ناروا ده) باید خپل ستر پاپ اجازه ورکړي... کنه اجازه نشته.له دې که تېرشو فکر نه کوم، مور جانه (سونیا، ګرافینه خپله مور ګڼله او د مور په نامه یې یادوله)ونه وایې چې زه د نیکولای راتلونکې نه بربادوم. یا به ووایې چې زه سخت زړې یم او یا د چا ښه هېروم، هغه به حق ولري، خو رښتیا خبره دا ده چې په خدای قسم (پر ټټر یې صلیب انځور کړ) هم هغه او هم تاسې ټول را ته ګران یاستئ. ولې یې وازې ویره... هغه هم نه پوهېږم ولې؟ نه پوهېږم ما هغه ته څه بد رسولي؟ زه له تاسو ټولو مننه کوم. زړه مې غواړي هرڅه تر تاسو ځار کړم، مګر هېڅ نه لرم، وایي، تشه لاسه ته مې د ښمن یې.

سونیا، نور نه شو کولای وغږېږي، سر یې په لاسونو او بیا په سر وبړدي کې پټ کړ.ناتاشا هغه دلاسا کړه، خو د هغې له خبرې، له ورایه څرګنده وه، چې هغه د زړه له کومې د خپلې خورلنډې په درد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غم، پوهېږي.

ناڅاپه يې چيغه کړه:

- رښيا ده، رښتيا ده.

ته به وايې چې د سونيا د ټولو اورنيو غمونو رښتينې علت يې موندلی دی:

ــ هرو مرو تا ته له غرمې وروسته، ويرې، څه ويلی دی؟ همدا سې نه ده؟

- هو کې، دا شعرونه نيکولای په خپله ليکلي دي او نور ما په خپله ليکلي. ويرې، هغه زما پر ميز پيدا او وې ويل:

- هغه به مورجانې ته وښيئ.

او دا يې هم وويل چې، دچا دښو درناوي نه کوم، دا چې مورجانه به هېڅکله اجازه ورنه کړي، هغه له ما سره واده وکړي، هغه به له ژوليا سره واده کوي.ته خو ګورئ ! هغه ټوله ورځ، له هغې سره...نو ناتاشې !نو ولې؟ د څه لپاره؟

تر دې خبرو وروسته ژړا لا پسې زياته شوه.ناتاشا هغه را پورته، په غېږکې يې ټينګه.له خندا نه په ډکې خو لې او له اوښکو په ډکو سترګو يې د هغې خواخوږي کوله:

-ګرانې سونيا ! ته د هغې خبرې مه منه ،د زړه سره ! د هغې خبرې مه منه. ستا په ياد دي چې موږ دواړه له نيکولای سره د څوکۍ پر سر څه وويل؟ ستا په ياد نه دي کنه؟ يو ماخوستن نا وخته شومه دم و، ګوره ! موږ ټولو پرېکړه وکړه چې څنګه به کوو ؟ زما له ياده وتلي چې څنګه؟خو دومره مې په ياد دي چې، هرڅه ښه او د هرڅه اجازه شته. ته وګوره ! چې شينشين لالا ، د خپلې ترور له لور سره واده کړی دی او موږ خو ،د ترور د ترور لونې کېږو. او باريس خو ويل چې دا هېڅ خنډ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري.ناتاشې،دوام ورکړ:

-ته پوهېږئ، ما هرڅه هغه ته وويل، هغه خورا پوه او ښه هلک دی. هغه له هر څه نه خبر دی. ته مه ژاړه، مه ژاړه، زما ګرانې، مهرباني د زړه سرې سونيا.

بيا يې په خندا هغه مچو کړ او دوام يې ورکړ:

-ويره خورا بدنيتـه نجلۍ ده. بلا دې پـه پسـې وي. توکل پـه خدای وکړه. ټول کارونه جوړېږي. مورجانې تـه هم هغـه نـه وايـي، نيکولای بـه خپله ورتـه ووايي. هغه ،د ژوليا په خيال کې هم نه دی.

هغـه يـې پـر سر مـچ کـړه. سـونيا ، پاڅېـده، پيشـونګوری،بيا مست شو ، سترګې يې وځلېدې،داسې برېښېده چې چمتو ده،لکۍ وښوروي او د پـخوانی عادت په څېر،هرڅه په خپلو منګولو وچورلوی.

په چټکۍ يې خپل کالي جوړ او څڼې برابرې کړې او وې ويل:

- ته همداسې فکر کوئ؟ رښتيا وايئ؟ ته او خدای همداسې ده؟

ناتاشې چې د خپلې خورلڼې لـه کوڅيـو نـه را وتلي ويښـتـه سـمول، وې ويل:

-رښتيا وايم، په خدای باور وکړه، رښتيا وايم.

او دواړو پـه ګډه وخندل.

- ښه، نو درځه اوس به د چېښې، سندره وبولو.

- درځه.

ناتاشا ناځاپه ودرېده او وې ويل:

-پوهېږئ، هغه څورب پېير، چې د ميز پر سر زما مخې تـه ناسـت و، ډېر د خندا وړ سړی دی،هغه چې هر وار رایادېږي، خندا راځي.

دا خبره لا پای ته رسېدلې نه وه،چې ناتاشا ،د هليز ته منډې کړې.

سـونيا ، هغـه ښکـې وځنـډلې چـې جـامو پـورې يـې نښـتې وې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرونو کاغذونه يې لوړ پر ډنګر تېر وتو مبل، په ارامو او له خوبنيو په ډکو ګامونو او ګلابي اننګو، ناتاشې پسې، د دهليزله لارې مېلمستون ته ننوتله. د مېلمنو په پر له پسې غوښتنې ، ځوانانو هغه(کلوچ) يا چينې په نامه سندره وويله ، سندره په بې ساري توګه د ټولو خوښه شوه. وروسته بيا نيکولای، هغه سندره چې نوې يې زده کړې وه، وويله:

دروسي متن ۸۴مخ
ښکلې شپه، د سپوږمۍ تر رڼا لاندې
د نيکمرغۍ تصورېې کولي شي
چې لا نړۍ کې يو څوک پاتې،
چې خيالو کې د تا ډوب دی
په نازکو نرمو ګوتو
بياد چنګ په اوربل لوبې کوي
په زړګي کې مينه او لېوالتيا را خوټېږي
او تا ځان ته ورغواړي،
خو افسوس ،افسوس چې دا وصل د سترګو رپ دی
افسوس چې سپرلی او لمر دواړه بې وفا دي

هغه،لاد سندرې وروستۍ بند ،پای ته رسولی نه وچې په مېلمستون کې ناستو زلميانو، سمدلاسه د پښو دډېډو له زوره ځمکه په ريږد ېدا راوسته او د سازيانو دغاړو د تازه کېدو انګازه هم خوره شوه.

پېير، په حجره کې کې ناست و. شينشين، په دې پلمه چې پېير تازه له بهر نه راغلی دی،د پېير لپاره بې خونده، سياسي خبرې اترې له هغه سره تودې کړې. ځينې نور هم له هغوی سره يو ځای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موسیقۍ د پیلېدو سره سم، ناتاشا حجرې ته را ننوتله او مخامخ پییر ته ورغله، په خندا مګر په سپین سترګۍ یې وویل:

- مورجانې وویل چې تاسو نڅا ته را وبولم.

پییر وویل:

- ډاریـږم چې د نڅا ، پـه خوځـېدا کـې تېـر نـه وزم، خـو کـه تـه مـا تـه لاربنوونه کوې هغه بیا بله خبره ده.

هغـه خپلـې شـډلې منګـولې ورټیټـې او تنکـۍ پښغلـې تـه یـې ور وړاندې کړې.

پییر، په دې هیله چې نورې جوړې هم جوړې او سازیان سازونه سر کړي، د خپلــې کــوچنۍ تنکــۍ جــوړې تــر څنــګ ســترګې پــه لار ودرېد. ناتاشا له دې کبلـه لـه خوښۍ نه پـه جامو کـې نـه ځایېده چې لـه ځانه مشر، هغه هم لـه بهـره راغلي یو چاسره، د ټولو مخکې غږېږې او نڅېږي.

د هغې په لاس کې هغه ببوزۍ (پکه) وه چې په ښځه ار کې یوې ښځې د ساتنې لپـاره هغـې تـه سـپارلې وه، هغـې یـه یـوه ځـانګړې تو ګـه پکـه ښوروله (خدای خبر چې هغې د غه ښورېدا چېرې زده کړې وه) او د هغـې له شا نه یې خپل د نڅاله جوړې سره خبرې کولې.

مشـره ګرافینـه چـې کلـه لـه تـالاره تېرېدلـه، د هغـې پـه لیـدو یې پـه موسکا، موسکا وویل:

- وګورئ ! وګورئ !

ناتاشا، تکه سره شوه، وموسېده او وې ویل:

- ته څه وایې مورې؟ څه شوي دي؟ دلته ! څه د تعجب وړ دي؟

پـه هغـې حجـرې کـې چې، ماریـا دیمیتروفنـا او ګـراف نڅېـدل، (ایکوسز) د چټکې نڅـا د دربیم وار پـه نیمـای کې، د څوکیـو د دېخـوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخوا کولو شروشور پاڅېد ،زيات شمېر مېلمانه،په تېره بيا ګران او پاخه عمري،تر څه ناستې وروسته سره وښورېدل،د پيسو کڅوړې يې په جيبو کې ځای پر ځای منډلې(هغوی خو قطعي په پيسو کولې ) او د ډېرې خواته خوځېدل. دټولو مخکې،په ډېرې خوښۍ او ورين تندي، ماريا ديميتروفنا او ګراف روان وو.ګراف،د بالت د نڅاګر په شان په داسې يوې ادا چې دخوښۍ او ټوکې نښې په کې څرګندې وې،ملا کږه او ماريا ديميتروفناته لاس ورکړ.هغه چې ټټر ډالۍ کړی و او يوې موسکا چې رندانه او دخوښۍ ځيرکتيا ترې ورېده ،د هغه څېره ځلوله. همدا چې د (ايکوسز )چټکه نڅا پای ته ورسېده، دسازيانو د پام رااړولو لپاره يې،لاسونه سره وپړکول،په لومړني ويلن غږونکي يې غږ وکړ او وې ويل:

-سيمون ! ته د دانيلو کيوپر ،نغمه غږولئ شئ؟

دا هغه نغمه وه چې دګراف خورا خوښېده او په ځوانۍ کې هغه دې نغمې ته ډير نڅېدلی و.( دانيلو کيوپر،دچټکې خوځېدا نڅا ده ).

ناتاشا داچور هېره کړې وه چې له ځانه مشره سره ناځي،داسې په ملا ماته شوه چې سر او تاو شوې کوڅۍ يې ځنګنو ته وررسېدې، دهغه دلوړې خندا کړسهاری په ټول صالون کې انګازې ګډې کړې او خپله يې تر هغه نه په لوړ اواز په پرمېلمنو چيغه کړل:

-وګورئ ! پلار ته مې وګورئ ! غواړي وناځي !

په رښتياهم ،ټول هغه کسان چې په صالون کې وو ،په خورا خوښۍ او لېوالتيا ،د خوشاله بوډا لورته سترګې اړولې وې.ګراف،په نڅا کې دخپلې محترمې جوړې،ماريا ديمتروفنا تر څنګ،چې تر ده لوړه، ولاړ وه، هغه خپل مړوندونه د نڅا نغمې ته ښورول،په داسې حال کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوریې یې هسکې نیولې وې، په ځانګړي اندازې یې چورلولې، پښې یې دنڅا نغمې ته په پام سره په ځمکې وهلې او په هغې موسکا، چې دده څېره یې لا غوړوله، نندارچیان هغه څه ته چمتو کول چې راتلونکو شو شېبو کې پېښېدل.همدا چې د ترپاچکا( یو ډول نڅا ده ) تـه ورتـه،د دانیلو کیوپر سـندریزه اونڅالمسـونکې نغمـه وغږېـده،د دېـرې،د دروازو دواړه خواوې،یو خوا له نارینو او بله خوا له ښځینه چوپړانو را ډکې او ټولو له موسکا نه په ډکو خولو د کوربانه ننداره کوله.

دچوپړانو له ډلې نه یوې مینځې په لوړ اواز غږوکړ:

- نو زموږ بابا ،باز دی !باز !

ګراف،خـورا ښـه،نڅېده،دی خپلـه هـم پـه دې پوهېـده چـې ښـه نـاڅي،خو د نڅا جـوړې یـې نـه شـو کـولای او نـه یـې غوښـتل چې ښـه ونـاڅي.هغـه جګـه ونـه ولاړه او خپـل درانـه او قـوي لاسـونه یـې ښـکته ځوړند کړي وو(خپله وړه کڅوړه یې ګرافینې ته ورکړې وه )خو یـوازې د هغې ځیړه ،خو ښکلې څېره نڅېدلـه.هغـه څه چې دګراف،پـه ټولـه لنډه ونـه کـې ښـکارېدل،دماریاناديمترفنـا ،یوازې پـه خنـدنۍ څېـره او خوځېدونکې مخ پورته پزه کې راڅرګندېدل ،خو هغه څه چې ګراف،کـه ګـراف بـه دخپلـې احسـاس ښښـونکې لپوالتیـا او دخپلـو پښـو پـه چټکتیا ،ښکلې خوځېدا ،پاځېدو او کښېناستو کې نندارچیان دځان لپواله کول، ماریا دیمتروفنـا هـم دخپلې ټولې حیاا و جدیتـه سـره،پـه کراره خوځېدا ،نرۍ نرۍ اوږو ښورولو او پـه نڅا کې د لنډو کېناستو او پاڅېـدو او زړه وړونکـو نرمـو چورلکونـو د مېلمنـو پـه زړه تـالان جوړاوه...ټولو مېلمنو په لېوالتیا او مینې،ګراف او ماریادیمتروفنا تـه سترګې ګنډلې وې. ناتاشې،دټولو حاضرینو لسـتونو تـه چې هسـې هـم بې دهغې لـه سپارښـتنې نـه پـه دغـې نڅېدونکې جـوړې سـترګې خښـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وې،لاس ور اچاوه چې ددې دپلار نښاته وګوري.ګراف،د نڅا په ځندنيو شېبو کې ژوره سا بدلوله او دلاسونو په پړکولو يې سازيان لا د چټکو نغمو غږولو ته هڅول. دی پخپله لا په چټکۍ،لا پسې چټکۍ او لا پسې چټکۍ،په خورا مينې او مستۍ دلېونتوب ترکچه نڅېده او د ګوتو او پوندو پر سر به د ماريا ديمتروفنا تر شا اوخوا وچورليده. هغه ،خپله جوړه د نڅا تر پای ته رسېدو وروسته دهغې د ناستې تر ځايه بدرګه کړه.دهغې پر وړاندې يې درناوي وکړ...په خولو کې لوند لوند ،دنندارچيانو په تېره بيا د ناتاشې دلاس پړکولو په شر اوشورکې يې خپل ښی مړوند پرانست او کږې رنګه يې وښوراوه.دواړه نڅاګر ودرېدل ،ژورې سا يې ووېستلې او په دسمالونو يې خپلې خولې پاکولې.په دې وخت کې ګراف وويل:

-هوکې ګرانو ! او زموږ په وخت کې ټول دغه شان نڅېدل.

ماريا ديمتروفنا ،چې لستوني بډوهل او په سختۍ يې اوږده او ژوره سا ويسته ،وويل:

-بچک دې مړشه، دانيلو کيوپر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

په هغې شپه کې چې، د رستوف، د کورنۍ په صالون کې، سازيانو له ډېرې ستومانۍ يې د شپږم انګلز په نامه د ناسمې غږېدونکې کمپوز نوې ناسمې نغمې ته مېلمانه نڅېدو ته، هڅول او ستړو اشپزانو او چوپړانو دمابښامنۍ چمتوالی نيوه، پر ګراف بېزاوخوف، د زړه د ناروغۍ شپږم ګوزار راغلی و. داکترانو، نورنو د هغه درغېدو، تمه نه لرله. ناروغ د پټې خولې دعا ته هڅول شوی و، پرهغه د دعا ويل پيل او هغه يې وروستي منيځلو او هغه پورې اړوندو دعاګانو ته چمتو کاوه. په کورکې هغه ګڼه ګوڼه او ګڼهۍ پيل شوې وه چې د دغه شان يوې پېښې د درشل په وخت کې رامنځ ته کېږي. له کوره بهر د ګور او کفن او تدفين کسانو چې هڅه يې کوله ځان په ګاډيو کې له رارسېدونکو ويرجنو نه دلويو دروازو تر شاپټ کړي، د ګراف دخښولو لپاره ديوه قيمتي تابوت او کفن د جوړولو دفرمايش د ترلاسه کولو لپاره سترګې په لاره وو. د مسکو پوځي لوی قوماندان چې د ټولواکې دويمې ايکاترينې په وخت کې لوی او نامتو سړی و او په پرله پسې ډول يې د ګراف د حال د خبرتيا لپاره خپل ياوران يو په بل پسې رالېږل، دا وار خپله راغلی و چې د ګراف بېزاوخوف، جاج واخلي او ښښنه تر ې وغواړي. د هرکلي په پرتمينه کوټه کې سخته ګڼه ګوڼه وه. پوځي قوماندان له نيم ساعته وخته وروسته چې يو په يو يې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغ سره تېر کړي و، راووت، ټول ناست کسان یې درناوي ته پاڅېدل، قوماندان چې هغوی ته د درناوي سر ښوراوه هڅه یې کوله چې څو مره ژر کېږي د داکترانو، روحانیونو او دناروغ دخپلوانو له سترګو نه چې ده ته یې سترګې ور اوښتې وې، ځان پناه کړي. سردار واسیلي چې په دې څو ورځو کې ژېړ او ډنګر شوی و، د بدرګه کېدو په حال کې یې څو واره په پټه د پوځي قوماندان په غوږ کې څه وویل.

هغه د پوځي قوماندان تر بدرګه کېدو وروسته، په صالون کې یوازې پر څوکۍ کېناست، پښه یې په پښه واړوله، څنګلې یې په ځنګنو کېښودې او سترګې یې په لاسونو پټې کړې، سردار واسیلي، یو څو شېبې په همدې حال پاتې شو، پاڅېد او وروسته دده د دودیز حال برخلاف، په چټکو ګامونو، ګبنۍ حالت، له وحشت نه په ډکو سترګو دا هغه خوا، له اوږده دهلیزه واوښت او د ودانۍ دنیمایي شا ته د مشرې شهزادګۍ کورته لاړ.

په تته او نیمه تیاره کوټه کې ناست کسان، په نابرابر بنګهاري خپل منځ کې یو له بل سره غږېدل او هر وار چې به دروازه په کراره خلاصېده، هغې ته به څوک ورننوتل او یا به ترې راوتل، په خورا انتظار او پوښتنیز غلچک به یې د هغو خواته کتل.

یو سپین ږیری چې له روحاني خبرې نه یې نور ورېده، هغې بوډۍ ته چې تر څنګه یې ناسته وه او په خورا حیرانۍ او سادګۍ یې ده ته غوږ نیولی و، وویل:

-هر بنده ته یو برید ټاکل شوی دی او له دې بریده تېری ناممکنه دی.

بوډۍ چې ګواکې د روحانیت په اړه یې هېڅ معلومات نه لرل او د روحاني، د روحانیت درجه یې په پام کې ساتله، وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-فکر نه کوئ چې پر هغه د شهادت ویل څه ناوخته شوی دی؟
روحاني په خپل شنه سر چې څو تاره ویښته یې پرې خورا سم کړي وو ،لاس تېر او وې ویل:
-دغه دعا ،دکلیسایي مراسمو خورا مهمه برخه ده.
د صالون په بله خوا کې کوم یوه وپوښتل:
-دا څوک و؟ پخپله پوځي قوماندان؟خپله راغی،څه ځوان دی،آه؟
-هو کې له شپیتو یې عمر اوښتی او خلک یې ځوان بولي. داسې ویل کېږي چې ګراف نور نو هېڅوک نه پېژني،سره غواړي پر هغه شهادت وویل شي.
-زه یو څوک پېژنم چې اوه واري یې شهادت پرې ویلی دی.
منځنۍ شهزادګۍ،په ساندو او ژړا د ناروغ له کوټې راووته او د داکتر لورن څنګ ته چې په خورا پرتم د ددویمې ایکاترینې تر تصویر لاندې ناست او څنګلې یې پر میز ایښې وې،کېناسته.
داکتر ددې پوښتنې په ځواب کې چې هوا څنګه ده،وویل:
-خورا ښه !خوراښه هوا ده !خورا ښه هوا ده شهزادګۍ او بله خبره خو داده چې مسکو خو یوه کلي ته ورته دی.
شهزادګۍ یو سوړ اسویلی وویست او وې ویل:
-همداسې ده !ایا هغه ته اوس کوم شربت ورکولی شئ؟
داکتر لورن، لږ په چرت کې لاړ .
-هغه خپله دوا خوړلې ده؟
-هو.
داکتر ،خپل بریګه نومی ساعت ته وکتل او وې ویل:
- په یو ګیلاس ایشېدلو اوبو کې دپزې د یو وار نصوارو په اندازه، کرمو تاري، نومه دارو واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو الماني داکتر چې ځيني توري يې په خپله لهجه ناسم ويل، يوه ياور ته وويل:

-لاتر اوسه هېڅکله داسې نه دي شوي چې څوک دې، د زړه له دريېمې حملې نه ژوندي راوتلی وي.

ياور، وويل:

-خورا ژوند زړی او مست سړی و، خو په زګيروي يې وويل:

- اوس به د هغه دا شتمني او جايدادونه چا ته رسي؟

-الماني ځواب ورکړ:

-سودا يې مه کوئ؟ميراث خواره يې پيدا کېږي.

ټولو بيا دروازې ته وکتل.منځنۍ شهزادګۍ هغه شربت چې د لورن په سپارښتنه جوړ کړی و، نارغ ته وروړ.الماني داکتر، لورن ته نږدې شو او په خپلې ناسمې فرانسوي لهجې يې وپوښتل:

-کېدای شي تر سبا سهاره پورې ژوندی پاتې شي؟همداسې نه ده؟

داکتر لورن، چې شونډې سره کېښکودې، خپله ګوته په خورا غوڅه بڼه د خپلې پزې پر وړاندې د نه په نښې وښوروله، په کراره، خو په داسې موسکا چې په هغې کې له ځانه د هسې رضايت نښې ځرګندې وې چې ګواکې د ناروغ په حال خورا ښه پوهېږي، وويل:

-همدا نن شپه او بس!

هغه د دې خبرې سره سم ووت.

په دې وخت کې سردار واسيلی، د شهزادګۍ د کوټې دروازه بېرته کړه.کوټه تته غوندې وه، هلته د سپېڅلو شمايلو پر وړاندې دوه شمعې لګېدلې او د ننه د کوټې نه، د ګلانو او څکول شويو تنباکو بوی راته.کوټه له ښکلو الماريو، څوکيو او کتونو ډکه وه.د پاسته او لوړ کټ پر سر، يوه سپينه روجايي ليدل کېده. په دې وخت کې ديوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونګري د غپا غږ هم واوريدل شو.

-اوهو ! دا ته يې د کاکا زويه !

هغه پاڅېده او خپلې ځنې يې چې تل آن همدا اوس، داسې ږمنځ، جوړې او په غوړو غوړې شوې وې چې ويلې به دې، هغه له ککرې سره يوه ټوټه دي، سره بيا جوړې او وې پوښتل:

-څه پېښه ده؟ څه شوي دي؟ زه لا د وخته داسې ډاره شوی وم.

سترې شهزاده چې د شهزادګۍ پر ځای پر څوکۍ کښناست، ځواب يې ورکړ:

-نه !نه ! هېڅ نه دي پېښ شوي، حال هماغه دی چې و. کاتيوش ! (د کاترينې د نوم لنډه بڼه)زه راغلم چې له تا سره وغږېږم. دا کوټه دې څنګه توده کړې ده، مګر په هر حال، راځه کينه چې سره وغږېږو.

شهزادګۍ چې ځان د خبرو اورېدو ته چمتو کاوه. په نه بدليدونکې، حيرانۍ او منګ شوې بڼې د شهزاده مخې ته کښناسته او وې ويل:

-ما تصور کاوه چې څه پېښ شوي نه وي، د کاکا زو !غوښتل مې وېده شم، خو نه کېږي.

سردار واسيلي د هغې لاس راونيو او د عادت له مخې يې، ښکته کښېنکود او وې ويل:

-ښه نو !راته وايه ګرانې !

داسې بربښېده چې د غه خبره (ښه نو !راته وايه )د نورو ټولو هغو خبرو په شان ده، چې آن د هغې له يادونې پرته ، دواړه ښه پرې پوهېدل، چې څه دي.

شهزادګۍ، له خپل بې ډوله ځان ،نريو اوږدو لينګيو ، وچې ملا ،په مړاوو ، پړسېدلو او خړو سترګو ، بربند بربند کتو ، مخامخ شهزاده ته ځير وه. بيا يې سر وښوراوه، اسويلی يې وويست او سپېڅلي شمايل ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل. د هغې د غه حالت هم کېدای شو ناروغ ته د خواخوږۍ او لېوالتیا نښه او هم د خورا ستومانتیا او ژر استراحت ته د هیلې نښه وګڼل شي.

سردار واسیلي چې د هغې د غه حالت د ستومانتیا نښه ګڼله، وې ویل:

-تصور کوئ چې زما حال ښه دی؟ د یوه بار وړونکي آس په څېر سا نه شم اېستلی، ټوټه، ټوټه یم، خو بیا هم غواړم کتویشا !له تا سره وغږېږم.

هغه هم خورا سپین او په ډاګ غږېده.

سردار واسیلی، چې شو او د هغه غومبوري، کله یوې او کله بلې خوا ته په رېږېدو شول. د هغه بشرۍ ته یې د اسې ناخوند ه، بڼه ورکړه چې، هېڅکله، په هېڅ مېلمستیاوو کې د سردار واسیلی مخ هسې چانه و لیدلی. د هغه سترګې هم هغه خپل همیشنی حالت نه درلود، کله به بې حیا ټوکېده او کله به له ډاره ډکې د ېخوا اخوا غړېدلې.

شهزادګۍ، چې خپلو ډنګرو وچو منګولو کې خپل سپی په ځنګنو نیولی و، په خورا ځیر یې د سردار واسیلي سترګو ته کتل، خو داسې برېښېده که تر سهاره هم سترګې په لارې پاتې شي، خو بیا به هم په پوښتنه چوپتیا ماته نه کړي.

سردار واسیلي، چې ښکارېده د خپل ګوګل د اخ او ډب تر اغېز لاندې یې خپلې خبرې را جوړې کړې، زیاته کړه:

-کاترینې سیمینوفنې ! په دغه شان شېبو کې لکه همدا اوس، باید د هر څه په اړه هر اړخیز فکر وشي، باید د راتلونکي په اړه فکر وشي، د تاسو په اړه... ته خو په دې پوهېږئ چې تاسو ټول ماته لکه د خپل اولاد په شان ګران یاستئ.

شهزادګۍ، همداسې په ځیر، خو بې احساسه هغه ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار واسیلي، پرته له هغه چې هغې ته ور وګوري، په خورا خواشینۍ، میز له ځانه پورې واهه او خپلې خبرې یې اوږدې کړې:

- او بالاخره، زما د کورنۍ په هکله هم باید فکر وشي، ته پوهېږې، کاتیوشې !، تاسې درې خویندې، د مامنتوف لونې، بله زما ښځه، موږ د ګراف یوازیني وارثان یو. پوهېږم، پوهېږم، د دغه شان شیانو په اړه تا ته فکر کول او غږېدا څومره ګرانه ده، خو ما ته هم تر تا نه اسانه نه ده. مګر ګرانې، زما چې اوس عمر شپېتو ته نږدې دی، د هر ډول پېښې د پېښېدو امکان شته دی. پوهېږې دا زه وم چې پېیر، پسې مې سړی ولېږه، خپله ګراف، د هغه تصویر ته مخامخ اشاره کوله او هغه یې ځانته ورغوښت.

سردار واسیلي، چې په پوښتنزه، شهزادګۍ ته کتل، خو په دې پوه نه شو چې د هغې په دې خبره سر خلاص شو چې ده هغې ته وکړه او یا هسې دا ده ته ګوري...

هغې ځواب ورکړ:

-د کاکا زو !زه یو څه له خدایه غواړم ،پاک الله دې زموږ پر ناروغ رحم وکړي او د هغه سپېڅلي روح ته دا توان ورکړي چې په ارامه له دې...

سردار چې په خپل شنه سر لاس تېراوه او له خورا خواشینۍ نه یې هغه میز چې پورې وهلې و ،بېرته ځانته ورنږدې کړ، په تاو تریخوالي وویل:

-هو کې همداسې ده ! همداسې ! خو بالاخره ... بالاخره ...خبره په دې کې ده چې ته هم پوهېږې، هغه دا چې ګراف، پروسږکال ژمی، وصیتلیک لیکلی او په هغه کې یې اصلي وارثانان چې موږ یو ،بې برخه کړي او ټوله شتمني یې پېیر، ته ور کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ، په کراره ځواب ورکړ:

- پربږده چې ليکلې يې وي، هغه نه شو کولای شتمني د پيير، په نامه کړي، هغه خو د هغه نامشروع زوی دی.

سردار واسيلي چې ګېنۍ اخيستی و، ځان يې ميز پورې ونښلاوه، خپلې خبرې يې لاتودې او چټکې کړې او ناڅاپه يې وويل:

- خو که هغه ټولواک ته ليک ليکلی وي او په هغه کې يې هيله کړې وي، چې پيير، د هغه مشروع زوی وګڼل شي، بيابه څه کېږي؟ تـه پوهېږې؟د ګراف خدمتونو تـه په پام سره د هغه غوښتنې ته درناوی کېږي.

شهزادګۍ، ومسېده، د هغه چا غوندې ومو سېده چې انګېري، له هغه چانه زيات پوهېږي، چې ورسره غږېږي.

سردار واسيلي، د هغې لاس راونيو او وې ويل:

-راشه چې له بلې دې خبر کړم، ليک ليکل شوی و، که څه هم هغه ټولواک ته استول شوی نه دی، خو ټولواک له هغه نه خبر دی. اوس خبره په دې کې ده چې ليک له منځه وړل شوی دی او کنه؟ که لـه منځـه وړل شوی نه دی، هره هغه شېبه چې دا کار پای ته ورسي - سردار واسيلي اسويلی وويست او په دې توګه يې غوښتل دا څرګنده کړی چې د ده دا خبره "چې دا کار پای ته ورسي" نه يې مو خه څه وه...

هغه خبرې اوږدې کړې:

-دګراف کاغذونه به سره لاندې باندې کړئ، وصيتليک او ليک به ټولواک ته واستول شي، د هغه ليکل شوې هيلې ته په درناوي هرڅه منل کېږي او پيير به، لکه مشروع زوی ټوله شتمني ترلاسه کوي.

شـهزادګۍ پـه ملنډو ومو سېده، داسې چې ګواکې لـه دغې خبرې پرته هرڅه کېدای شي، وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-او زموږ برخه؟

-ماته ګرانې کاتیوشې !خبره داسې سپینه ده لکه لمر.خبره چې داسې ده، هغه دټولې شتنمي یوازینی وارث دی او تاسو ته هېڅ هم نه رسېږي.ماته ګرانې ! ته باید په دې پوه شي چې ایا وصیتلیک او لیک، لیکل شوي وو او کنه ! که لیک ،لیکل شوی و ،هغه له منځه وړل شوی او کنه؟ او کنه هغه ولې هېر شوی،ته باید هرومرو پوه شي چې هغه چېرې دی او باید پیدا یې کړې، ځکه چې...

شهزادګۍ له درده په ډکې موسکا ،بې له هغه چې ملال کاته بدل کړي،دهغه خبرې پرې او وې ویل:

- یوه دا لا پاتې وه، تاسو فکر کوي زه ښځه یم او ښځې په څه نه پوهېږي، خو هر څه چې وي،دومره پوهېږم، چې نامشروع زوی وارث کېدای نه شي،هغې زیاته کړه:

-یو ارموني.

هغې چې دارموني کلمه په فرانسوي ویلې، داسې وانګېرله چې په دې ټوګه یې دسردار دخبرو بابېزوالي پوره ثابت کړی دی.

-ګرانې کاتیوشا ! اخر ته ولې نه پوهېږئ؟ ته داسې هوښیاره او بیا نه پوهېږې.که ګراف، ټولواک ته لیکلي وي او په هغه کې یې دا غوښتنه کړې وی چې دهغه زوی دی مشروع وبلل شي،نور نو، پېیر،پېیر،نه ،بلکې هغه به ګراف بېزاوخوف او دوصیت لیک له مخې به دټولې شتمنۍ اصلي وارث وي.

او که وصیتلیک او لیک، له منځه وړل شوي نه وي،تاته پرته له دې چې ته ښه او دثواب وړ ښځه یې بل هېڅ نه پاتېږي،هغه څه چې زه درته وایم،یوه رښتینې خبره ده.

شهزادګۍ... په یوې ادا سره زیاته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه، پوهېږم چې وصيتليک ،ليکل شوی، خو په دې هم پوهېږم چې هغه اعتبار نه لري، خو زه خپه په دې يم چې تاسو پر ما د احمقې ګمان کوي، دکاکا زو.

سردار واسيلي په خورا تلوار وويل:

-ماته ګرانې، کاترينې سيمينوفنا ! زه دلته د دې لپاره نه يم راغلی چې يوب ل تـه کـړې او زړه زورونکې خبرې وکړو ،بلکې د دې لپاره راغلی يم چې لـه يـوې خپلې،ښې، مهربانې،رښتينې او پـه رښتيا خپلوانې سره، دهغې دګټو پـه اړه وغږېږم. دا لسم وار دی چې درتـه وايم،کـه د ټولـواک پـه نامـه ليـک او د پېير، پـه ګټـه ليـک شـوی وصـيتليک، دګـراف د کاغـذو پـه مـنځ کـې پيـدا شـي، نـه مـا احمقګوټي، نه تا او نه دې خويندو ته، هېڅچا تـه هم، هېڅ ډول ميراث نه رسېږي. که زما خبرې نه منئ، دهغو کسانو خبرې ومنئ چې پـه دې کار پوهېږي، هغه ديميتري انوفرييوويچ، چې، دهغـو دکـورنۍ مدافع وکيل دی، يادوم. هغه هم داسې وويل.

داسې وبرېښـېده چې دشهزادګۍ، پـه خيـالاتو کـې ناڅـاپي او ژور بدلون راغلی وي، تاندو شونډو يې رنګ بايلود(سترګې يې پـه خپـل حال پاتې شوې ) کله چې يې خبرې پيـل کـړې، ژبـه يې داسې بنده بنده کېده چې دې ته خپله هم د نه منلو وړ نه و. دې زياته کړه:

-دا به ډېره ښه وه، ما نه څه غوښتل او نه څه غواړم.

هغې له ځنګنو نه ،خپل وړوکی کونګری ښکته کـړ، دخپـل کميس ګونځې يې سره سمې کړې او وې ويل:

-دې ته وايي مننه ،دې ته وايي شکريه، هغه هم له هغه چانه چې خپل ټول ژوند يې له هغه نه ځـار کـړی و. ډېـر ښـه ! ډېـر ! ګرانـه سرداره غـواړم ووايم چې زه خپله خو هېڅ شي نه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار واسيلي ځواب ورکړ:

-سمه ده !خو ته يوازې نه يې، ته خويندې هم لرې.

مګر شهزادګۍ، دهغه دا خبره نه منله.هغې وويل:

-هو کې زه لا له پخوا نه پوهېدم،خو هېره کړې مې وه چې په دې کورکې له سپکاوي ،دوکې، رخې، لمسون، ناشکرۍ او تربګنۍ پرته دبل څه تمه نه کېږي...

سردار واسيلي چې غومبوري يې له پخوا نه لا زيات رپېدل،وويل:

-ته په دې پوهېږئ او کنه چې هغه وصيتليک چېرې دی؟

-هو کې،خو زه احمقه وم،په خلکو مې باور درلود ،له هغو مې ځان،ځاراوه،خو ګټه هغه څوک کوي چې دوه مخي او په زړه ناپاکه وي،زه پوهېږم،پوهېږم چې دا دچا لمسون او لاس دی.

-شهزادګۍ دپاڅېدو تکل وکړ ،مګر سردار هغه له لاسه راونيوه.

شهزادګۍ ،دهغه چا حالت غوره کړی و چې ناڅاپه له ټول بشريت نه ناهيلې شوې وي،هغې په ځير،ځير خپل مرکچي ته کتل.

-تراوسه پورې لا ناوخته شوې نه ده،زما ګرانې !ته پوهېږې، کاتيوشې ! داټول نه په لاسي بلکې په بې پروايۍ کې،د قهر او دناروغۍ په شېبو کې ترسره شوي او بيا يې له ياده وتلي دي.د زړه سره ! زموږ دنده داده چې دهغه دا تېروتنې راسمې او د هغه د ژوند وروستۍ شېبې ورته داسې ارامې کړو چې هغه ته ددغو تېروتنو د سرته رسېدلو اجازه ورنه کړل شي،هغه بايد په داسې خيالو کې مړ نه شي چې فکر وکړي،ځيني هغه کسان يې بدمرغه کړي...

شهزادګۍ دملاتړ په توګه،دهغه خبره پرېکړه:

- هغه کسان چې خپل هرڅه يې تر ده ځار کړي و.

شهزادګۍ دا خبرې دهغه دخبرو د لاپخوالي لپاره وکړې او بيا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅه وکړه چې پاڅي، مګر سردار د هغې مخه ونیوه، دې وویل:

-خو هغه هېڅکله د هغو په قدر پوه نه شو، یو سوړ اسویلی یې وویست او زیاته یې کړه:

- زه په دې پوه شوم چې په دې دنیا کې باید ښو ته سترګې په لاره نه شو، په دې دنیا کې نه شرافت شته او نه حقیقت.په دې دنیا کې باید چالاکه او ظالم واوسئ.

-ښه ده !ښه ده ! ته اوس په کراره شه، زه پوهېږم چې ته څومره پاک زړه لرې.

-نه !نه !زما زړه له کرکې ډک دی.

سردار خبره اوږده کړه:

-زه په دې پوهېږم چې ته پاک زړه لرې، زه د تا د دوستۍ په قدر پوهېږم او له تانه هم دا هیله لرم چې ته هم ما ته په دې سترګې وګورې.تر اوسه لا وخت شته، کېدای شي دیوې شپې ورځې په اوږدو کې، کېدای شي یو ساعت، ښه به دا وي چې ته ما ته هرڅه ووایې، پر هر هغه څه چې ته د وصیتلیک په اړه پوهېږې، په تېره بیا په دې باید پوه شي چې هغه چېرې دی؟ مورږ به اوس هغه را واخلو او ګراف ته به یې وښیو.هغه هرومرو هغه هېر کړي او دی هم غواړي هغه له منځه یوسي.ته پوهېږئ زه یوه هیله لرم چې په خورا رښتیني ډول د هغه ټولې سپارښتنې تر سره شي.زه د همدې هیلې د ترسره کولو لپاره دلته راغلی یم.زه دلته د دې لپاره راغلی یم او هغه دا چې له تاسو سره مرسته وکړم.

شهزادګۍ وویل:

- اوس زه په ټولو پوه شومه، زه پوه شومه چې دا دچا دوکې دي.

-خو خبره په دې کې نه ده، د زړه سره.

-هو کې !خبره ستاسو په هغې سن پطرزبرګ والي، ستاسو په هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانې انا میخایلوفنا کې ،په هغې شیشکې کې ده...

-ښه به داوي چې وخت له لاسه ور نه کړو.

-اخ !څه وو ایم.همدا پروسږکال ژمی و چې دلته راغلله او دګراف په غوږوکې یې زموږ په اړه هغه مرداري ببولالې،په تېره بیا د سوفیا په اړه هغه ډنډورې وغږولې، نه ،نه،زه نه شم کولای، هغه دلته رایادې کړم چې د ګراف ناروغي یې لاپسې دوچنده کړه او تر دوه اونیو خو یې له موږ سره خبرې څه چې ببخې یې موږ ته نه کتل.دا همهاغه وخت و چې دغه د کرکې وړ او مردارلیک ولیکل شو ،ما داسې تصور کاوه چې دغه کاغذ کوم اعتبار نه لري.

-خبره په همدې کې ده،نو تا ولې پخوا په دې اړه ماته هېڅ نه ویل؟

شهزادګۍ بې له هغه چې پوښتنې ته سترګه په لاره شي،وویل:

-دا لیک دهغه،په هغې ښکلې کڅوړه کې دی چې تر خپل بالښت لاندې یې کلکه ساتي.اوس زه پوهېږم.هغه، داسې ګبنۍ اخیستې وه چې ببوا که یې چیغه کړه:

-که کومه ګناه لرم،هغه به همدې مکارې او دوکمارې ښځې پر وړاندې د کرکې ګناه وي.زه نه پوهېږم،هغه ولې دلته داسې له دوکو نه ډکه ښکتته پورته کېږي؟ زه به ورسره ګو رم.وخت به یې راشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

په هغو شپېو کې چې د هرکلي او د شهزادګۍ په کوټې کې د غه خبرې اترې روانې وې، هغه ګاډۍ چې پېير(ابېر پسې لېږل شوې وه )او انا ميخايلو فنا(خپله يې ښه ګڼلې وه چې ورسره راشي) ،په کې سپاره وو ،د ګراف بېزاو خوف،دانګړ منځ ته راننوته.کله چې تر کړکيو لاندې پر پرتو سوارو ،د ګاډۍ دتايرونو غږ نرم شو ،انا ميخايلوفنا ،هڅه وکړه چې خپل مل ،په خوږو ، پستو او هيلمندو خبرو ارام کړي، هغه ته يې مخ وروا ړوه، خو وې ليدل چې هغه دګاډۍ په کنج کې ويده دی،نو راويښ يې کړ. راويښ شوی پېير،انا ميخايلوفنا پسې غبرګ له ګاډۍ نه راښکته شو او راښکته کېدو سره سم له خپل نامشروع پلار ،زنکندن په حال کې پلار سره دکتنې چرت يوړ.دې ته يې هم پام شو چې دوی نه دماڼۍ له مخکنۍ لويې دروازې نه، بلکې د ودانۍ د شا له دروازې نه ننوتلي دي.

له ګاډۍ نه د راښکته کېدو په وخت کې يې هغو دوو تنو ته پام شو چې جامې يې ددې کور او سېدونکو ته ورته نه وې(دخوارانو جامې)او د دروازې له خوا نه يې ،دديوال سيوري ته ځان پناه کړ.پېير،څو شېبې ودرېد ،دا خوا هغه خوا يې وکتل او دديواله د دواړو خواوو په سيوري کې يې ،دغو دووتنوته ورته نور څو تنه وليدل،خو نه انا ميخايلوفنا ،نه دهغې ګاډيوان او نه له دوی سره مل چوپړ چې نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای هغوی ونه ویني ، یوه هم هغوته پاملرنه ونه کړه. پېيېر ، له ځانسره وویل چې ددې خلکو شتوالی به دلته یوه عادي خبره وي او باید همداسې وي. هغه انا میخایلوفنا پسې وخوځېد. انا میخایلوفنا په چټکو ګامونو ، پر هغو له تېرو نه جوړو نریو زینو چې په تته رڼا ، رڼې شوې وې ، پورته وخوت او پېيېر ته یې چې له دې نه شاته پاتې شوی و ، غږ وکړ ، چې چټک شي. پېيېر ، اصلا نه پوهېده چې دی ولې ګراف ته ورځي او له هغه نه زیات چې په دې ببخي نه پوهېده چې ولې دوی ودانۍ ته د شا د زینو له لارې ننوتل ، خو د انا میخایلوفنا ډاډمن حالت او چټکو هڅو ته یې چې کتل ، له ځانسره به یې وویل:

- دا باید همداسې وشي.

لا د زینو نیمایي ته ورسېدلي نه وو ، چې څو تنه چوپړان سطل په لاس ، په خورا چټکۍ ، د اسې چې د تېرو پر زینو د هغو د بوټو آوازونو انګازې کولې ، راښکته کېدل او نېږدې و چې له دوی سره ټکر شي. چوپړانو چې د دغې مور او زوی له لیدلو هېڅ تعجب نه و کړي ، دوی ځانونه ، د دې لپاره د دیوال خواته کړل چې مور او زوی ته لاره پرېږدي.

انا میخایلوفنا ، د دغو چوپړانو نه دیوه نه وپوښتل:

- د شهزادګیو د کوټو لاره همدا ده؟

چوپړ ، په داسې لوړ او زړورتیا چې ګواکې اوس نو د هرڅه او هر کار اجازه شته ، هغې ته ځواب ورکړ:

- دلته ده ادکې ، د چپ لاس دروازه.

پېيېر ، چې کله د زینو ګرځني ته ورسېد ، له ځانسره یې وویل:

- کېدای شي چې ګراف به زه نه یم غوښتي ، ښه به دا وي چې زه خپلې کوټې ته تللی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انا میخایلوفنا ،ددې لپاره تم شوه چې پییر، هغې پسې ورورسېږي، بیا یې خپل لاس،دهغه پر لاس ور کېښود او د سهار په څېر یې بیا وویل:

-ګرانه !باید ووایم،چې تر تانه زه زیاته زوریږم،خو ښه به دا وي چې مېړنی اوټینګ واوسئ.

پییر،چې دعینکو له شا نه په خورا مهربانۍ انامیخایلوفنا ته کتل،وپوښتل:

-رښتیا ،ښه به دا نه وي چې زه لاړ شم؟

انا میخایلوفنا یو سوړ اسویلی وکړ او وې ویل:

-ته باید ټول هغه بد هېر کړې چې له تاسره په ژوند کې شوي دي. فکر وکړه چې هغه ستا پلار دی..کېدای شي هغه د زنکندن په حال وي،خو ماته تل د زوی په شان ګران وې،پر ما ډاډه اوسه،زه ستا ګټندویه یم.

د پییر،سر په هېڅ نه خلاصېده،له پخوا نه ده ته لا په ډاګه وبرېښېده چې داټول باید همداسې شي چې وایي او همداسې غوړېږي

یې انامیخایلوفنا پسې چې نوره یې نو دروازه پرانیستې وه، روان و.

دروازه،د ودانۍ دشا سرای ته ور خلاصېده. هلته په یوه کنج کې، یو بوډا چوپړ ناست و او جورابې یې اوبدلې.پییر،د ودانۍ،دغې نیمایي ته هېڅکله نه و راغلی اوآن ددې تصور یې هم نه شو کولای چې هلته څه شته.انامیخایلوفنا ،له هغې مینځې نه چې په ډېر تلوار یې هڅه کوله ،له هغو نه مخکې شي (او دې له نازه هغه زما ګرانې کوترې وبلله )د شهزادګیو د روغتیا پوښتنه وکړه او پییر یې په هغه دهلیز کې چې په تېږو ګانډل شوی و ،وړاندې تګ ته هڅاوه.په دهلیز کې،لومړنۍ چپه دروازه د شهزادګیو ،کوټې ته ور خلاصېده. هماغې،مینځې چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلوار تر دوی نه مخکې شوې وې (په دغه وخت کې ټول کارونه په تلوار سره کېدل) دغه دروازه هم ځان پسې نه وه پورې کړې، پیېر او انا میخایلوفنا دهغې له مخې نه د تېرېدو په وخت کې هسې په ناخبره توګه دننه دغې کوټې ته ورپام شو او وې لیدل چې مشره شهزادګۍ او سردار واسیلي سره ناست او خبرې کوي.سردار واسیلي،دهغو په لیدو ،په تلوار او خواشینۍ وخوځېد او د شا خواته یې ځان پر ثوکۍ ورواچوه.شهزادګۍ له خپله ځایه پاڅېده،په بې ساري قهر یې دروازه ووهله او کلکه یې وتړله.د شهزادګۍ دغه کړه دهغې همیشنۍ ارامۍ ته هېڅ ورته نه و او هغه وحشت چې د سردار واسیلي په بشره کې راڅرګند شوی و ،دومره دهغه له ورځني حالت سره توپیر درلود چې پیېر ،ودرېد او دخپلو عینکو له شا نه یې خپلې لارښوونکې ته وکتل.خو انا میخایلوفنې،هېڅ تعجب ونه کړ،یوازې یوه نرۍ موسکا یې پر شونډو راخوره شوه،سوړ اسویلی یې وویست،ګواکې غوښتل یې ووایي چې ،له دې پرته یې بله هیله نه درلوده.

هغې،د پیېر، دکتو په ځواب کې وویل:

-ښه ګرانه ! ښه به داوي چې مېړنی اوټینګ واوسئ.دا زه یم چې ستا دګټو ساتونکې یم.ددې خبرو سره جوخت یې،خپل ګامونه لا چټک کړل.

پیېر،نه پوهېده چې څه خبره ده او له دې نه لا مهمه دا چې په دې خو یې هېڅ سر نه خلاصېده چې(ستا دګټو ساتونکې یم)،څه معنې لري.خو په زړه کې به یې ویل،دا لازمه ده چې داټول باید همداسې شي.هغوی ددهلیز له لارې،یوه تنې کوټې ته،دګراف،دهرکلیو کوټې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور رسېدل او ورننوتل. دا یوه له هغو پرتمینو، سړو کوټو نه یوه کوټه وه چې پېیر ددې ودانۍ پر دروازې ترراننوا ته، سمدلاسه یې پېژانده، ځکه هغه به تل ددغې ودانۍ دلویې دروازې له لارې هلته راته. ددې کوټې په منځ کې یو تشناب لیدل کېده، د تشناب شاوخوا ته پرتې قالینې لمدې وې. چوپړ چې مجمر په لاس کې و، د کشیش لاسمل چې دوی ته یې پاملرنه نه کوله، د ګوتو پر سر روان وو، دوی ته مخامخ له کوټې راووتل. پېیر او انا میخایلوفنا، پېیر، ته اشنا دهرکلیو هغې کوټې ته ورننوتل چې په ایټالوی دود یې دوه کړکې او باغچې ته یوه وتلې دروازه لرله. په کوټه کې د دویمې ایکاترینې (دروسیې ستره ټولواکه) لوی تصویر چې دهغې له سره تر پښو ښودنه یې کوله، ځوړند و.

په صالون کې، هماغه مخکني خلک چې تقریبا په هماغه حالت ناست وو، په پټه پټه یو له بل سره غږېدل. صالون ته دهغوی په راننوتو سره ټول چپ شول. هغوی، د انامیخایلوفنا ژیړې څېرې او له اوښکو ډکو سترګو او ښوروبلوړ پېیر ته چې سرېې ښکته اچولی او په خورا اطاعت هغې پسې روان و، وکتل.

د انامیخایلوفنې، په څېرې کې له ورایه څرګندېده چې خورا تاکو ونکې شېبې رارسېدلې او دیوې ځیرکې سن پترزبورګۍ ښځې په څېر په ټینګه او پوهې، پرته له هغه چې پېیر، له ځانه لرې کړي، په خورا زړورتیا، داسې زړورتیا چې تر سهارنۍ هغه نه لاپسې زیاته شوې وه، کوټې ته ننوته.

هغې دا احساسوله چې تر شا یې هغه څوک را روان دی چې د زنکندن په حال کې ناروغ یې دلیدو هیله لري، نوځکه، له هغه سره په کېدونکې دیدن ډاډه وه. په یوه چټک غلچک یې په کوټه کې ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول کسان وځارل، دګراف، ځانګړي کشیش ته یې پام شو، پرته له هغه چې درناوی یې کړی وي، تا به ویل چې ګواکې په ملاماته شوه، په ارامو او لنډو ګامونو هغه ته ورننوت دې، لومړی یې دهغه او وروسته یې دهغه څنګ ته د ولاړ بل کشیش دعا واخیسته او هغوی ته یې وویل:

- دخدای شکر دی !دخدای شکر دی چې راورسېدو، موږ، ننوت دې خپلوان یې ډېر ویرېدو. هغې په کراره زیاته کړه:

- دغه ځوان، دګراف زوی دی، هې هې څه سخت ساعت دی.

تر دې خبرو وروسته، هغه داکتر ته ورننوت دې شوه او وې ویل:

-مهربان داکتره !دغه ځوان دګراف زوی دی... څه هیله شته او کنه؟

داکتر پرته له هغه چې څه وواییې، آسمان ته یې وکتل او اوږې یې پورته واچولې. انامیخایلوفنا هم داکتر ته ورته اوږې پورته واچولې، سترګې یې وتړلې او دداکتر له خوا نه، پېیر ته ورننوت دې شوه. په ډېر درناوي، په خورا خواخوږۍ او له خواشینۍ نه په ډکه ژبه یې، پېیر، ته وویل:

- دخدای رحم ته امید ولره. هغه ته یې یوه کوچنۍ څوکۍ وروښوده چې پرې کېښني او سترګه په لارې پاتې شي، خپله په کراره دهغې دروازې خوا ته وروخوځېده چې ټولو په ځیر ځارله او دروازه یې په داسې یو غږ چې په سختۍ تر غوږو رسېده، ورپسې پورې شوه.

پېیر، چې په خپلو ټولو چارو کې یې، دخپلې لارښود دې سپارښتنې منلې، د هغې څوکۍ خواته چې هغې ورته ښودلې وه، وخوځېد. همدا چې انامیخایلوفنا، د دروازې شاته پناه شوه، دهغه دې ته پام شو چې په کوټه کې ناست کسان په خورا ځیر او له خواخوږۍ نه په زیات پام ده ته سترګې ګنډلي دي. هغه، احساس کړه چې ټول له یو بل سره په پټه پټه څه وايي او ده ته یې تر سترګو لاندې کله په وېرې او کله په درناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشارې کولې.هغه ته يې داسې درناوي کاوه چې تر دې دمخه هغه ته چا نه و کړی. يوې،ناپېژندل شوې مېرمن چې له روحانيونو سره غږېده پاڅېده او هغه ته يې بلنه ورکړه چې دهغې پر ځای کېني.يوه ياور ،په چټکۍ هغه دستکش چې له ده لوېدلی و، راپورته او هغه ته يې وړاندې کړ،هغه وخت چې د داکترانو له څنګه تېرېده،ټول دوی ته د درناوي په نښه چپ او ددې لپاره چې پېير ته لاره پرېږدي لرې په څنګ شول.پېير خو لومړی غوښتل په بله څوکۍ کېني چې ددغې مېرمنې خنډ نه شي،غوښتل يې خپله دستکش راپورته او دا کتران خو اصلاً دده دلارې خنډ نه و،چې لاره بدله کړي،خو ناڅاپه يې له ځانسره وويل چې نه،ښه نه ده.هغه داسې وانګېرله چې نن شپه دی داسې څوک شوی دی چې اړ دی،ټولو هغو نادودو ،دودونو او تشريفاتو ته درناوي وکړي چې دا خلک يې له هغه نه دهغو د سرته رسولو هيله لري،نو له دې کبله دی بايد ټول هغه څه ومني چې خلکو ده ته د درناوي په نښه کول.بې له هغه چې څه ووايي،له ياور نه يې دستکش واخيست او پر هغې څوکۍ کېناست چې هغې مېرمنې ورته ښودلې وه. خپل غټ لاسونه يې په خلاصه بڼه لکه دمصر مجسمه په خورا سادګۍ پرزنګنونو کېښودل او په زړه کې يې بيا تېره کړه چې تر ده نه به دا نور خلک ښه پوهېږي چې دا ټول کارونه بايد همداسې چې کېږي،ترسره شي.که هغه غواړي چې دی په دې الـه ګولـه کـې ځان ورک نـه کـړي...نـو ښـه بـه دا وي،هغـه څـه بـه کوي،چې نوريې ده ته لارښوونه کوي.

لا دوې دقيقې تېرې نه وې چې درې ستوري په ټټرستر قوماندان، سردار او اسيلي،په لوړسرا وشاهانه خوځېدا کوټې ته راننوت.هغه له سهاره، لا ډېرنګر برېښېده ،کله چې يې په کوټه کې دا خوا هغه خوا وکتل او هلته يې پېير وليد ،داسې ښکارېده چې سترګې يې تر ورځنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بڼې غټې او پراخې شوي دي.هغه ته ورنېږدې او د هغه لاس يې راونيو (هغه څه چې پخوا يې هېڅکله نه کول) د هغه لاس يې د اسې ښکته کېښکود چې ګواکې غواړي، د هغه زور وازمايي او وې ويل:

-غم مه کوئ !غم مه کوئ ! زړورشه ګرانه ! ته يې راغوښتي يې ...ښه ده ،ښه ده...دا يې وويل او غوښتل يې چې لاړ شي ،مګر پېير ،ښه وګڼله له هغه نه وپوښتي:

- د...روغتيا څنګه ده ،شک يې درلود ،ځکه نه پوهېده چې د زنکندن په حال ناروغ ګراف،وبولي او کنه؟ځکه هغه ته پلار ويلو نه هم، هسې شرمېده.

سردار ځواب ورکړ:

-نيم ساعت دمخه يې هم يوه حمله تېره کړه ،هوکې يوه بله حمله، غم مه کوه ! زړه ورشه ګرانه !

پېير ،په داسې پرېشانۍ کې ډوب و چې د حملې د کلمې په اورېدو سره يې تصور وکړ چې کوم چا په بل چا برېد کړی دی.حيران حيران يې سردار واسيلي ته کتل او وروسته په دې پوه شو چې ناروغۍ ته حمله وايي.سردار واسيلي په تګ تګ کې داکتر لورون ،ته څو خبرې وکړې او د پېښو دمنګولو په سر کرار کرار دروازې ته نېږدې شو.هغه د ګوتو په سر تګ نه شو کولای، نوځکه يې د منګولو په سر تګ،ګام اچولو ته ورته کېده.هغه پسې مشره شهزادګۍ ،بيا روحانيون او د هغو مريدان ،چوپړان، مينځې او نور خلک دروازې ته نېږدې شول.د دروازې له شا نه د اله ګولې او ګڼه ګوڼې غږ اورېدل کېده ،خو په پای کې انا ميخايلوفنا ،هماغه شان رنګ الوتې چې دعا يې ويله له دروازې راووته او لاس يې د پېير پر لاس کېښود او وې ويل:

-د خدای رحم بې پايه دی ،اوس شهادت ويل پيل کېږي ،راځه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه !

پېير، په پاسته فرش وخوځېد له دروازې تېر شو او وې ليدل چې ددې لارښودونکې، هغه ناپېژندلې ښځه او د مينځو او چوپړانو نه هم ځوتنه تېول داسې ده پسې را روان دي چې ګواکې دې کوټې ته نور د راننوتلو لپاره اجازه په کار نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

پېير، دغه لويه کوټه چې لوړو دايروي ستنو او دهغه په سر دايروي قوسونو په دوو برخو ويشلې وه او ديوالونه يې په ښکلو پارسي قاليلينو ګاڼل شوي وو، ښه پېژندله.

د ستنو شا ته چې يوې خواته يې له سره لرګی نه، په وريښمنو پردو کې مروړ شوی، جوړ لوړ کټ ولاړ و او بلې خوا ته يې هغه لويه هينداريزه طاقچه وه چې سپېځلي شمايل په کې ځای پر ځای شوي وو، ، په سره رڼا داسې روښانه شوي و، لکه کليسا چې د ماښامني عبادت په وخت کې روښانه کېږي. تر سپينو ځلېدونکو سپېځلو شمايلو لاندې د والتروفسکي يوه څوکۍ ولاړه وه. پر هغې څوکۍ (تکيه لرونکې څوکۍ) واورين سپين بې ګونځو بالښتونه چې ښکاريده، نوي بدل شوي، اېښودل شوي وو او د هغه پر سر، پېير، ته اشنا، دهغه پلار ګراف بېزاو خوف ناروغ بدن چې تر ملا پورې د شنه راڼه څادر لاندې پټ و، پروت و. هغه له خپلو هماغه سپينو او زمري غوندې اوږدو څڼو سره چې تندی يې ورته سينګاراوه، هغه له خپلو هماغه پر سور ژيړ مخ ژورو ګونځو سره چې دهغه څېرې ته يې ځانګړې ښکلا ښښله، مخامخ د هماغه سپېځلو شمايلو لاندې ځای پر ځای شوی و. دهغه دواړه څورب او شډل لاسونه، له څادره راوتلي او پر څادر پراته وو. يو زوړ بوډا چې د څوکۍ له شا نه ددې لپاره راخم شوی و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګراف،د سر چپه لوېدلي دښي لاس د غټې او شهادت ګوتو ترمنځ موميايي شمع کېږدي. روحانيونو چې پاک او خورا ښکلې قيمتي جامې يې اغوستې او اوږدې څڼې يې پرې راپرتې وې،شمعې په لاس په کراری، خو په ډېر پام او ځيرکتيا سره دعاګانې لوستې.دهغو نه لږ شا ته دوه ځوانې شهزادګۍ چې دستمالونه يې سترګو ته نيولي وو ،ولاړې وې،دهغو تر ټولو مخکې مشره شهزادګۍ،هماغه کاتيوشا ،چې کرکجنې او برندې سترګې يې يوه شېبه يې هم له سپېڅلو شمايلو نه ،نه شلولې ولاړه وه،ځکه هغې ګواکې غوښتل ټولو ته دا څرګنده کړي، که يوه شېبه هم هغه له هغو سترګې واړوي،دا به دخپلو کړو ځواب ونه شي ويلای. انا ميخايلوفنا ،چې څېرې يې ديوه ژور غم او خواخوږۍ څرګندونه کوله،له وره سره د ناپېژندل شوې ښځې تر څنګ ولاړه وه.د دروازې بل څنګ ته،سردار و اسيلي، لاس لرونکې څوکۍ ته نږدې،دهغې بخمل شوې څوکۍ شا ته چې،شا يې ځان خوا ته راګرځولې وه ،ولاړ و.هغه دخپل چپ لاس څنګله،چې شمعه يې په لاس کې وه،پر څوکۍ ايښې وه، په ښي لاس يې پر تندي او ټټر دعيسوي صليب په ايستلو درناوي پرځای کاوه او هرځل به يې چې ګوتې تندي پورې رسېدلې ،سترګې به يې داسمان پلو تلې. د ارام متقي او الهي ارادې ته دتسليم نښې يې په څېره کې څرګندې وې.بشرې او خوځېدا يې دا ښودل،په هره کچه چې تاسو دغه احساسات درک کولي نه شي،هومره به تاسو ته ګرانه تمامېږي.

دهغه شا ته،ياوران،بيا داکتران او تر هغه وروسته نارينه چوپړان ولاړ وو ،نارينه او ښځې لکه په کليسا کې چې وي،جلا جلا ولاړ وو.که څه هم ټول په پټه خوله پر ځان دصليب نښې ويستلې،خو دکليسا د زنګونو او روحانيونو ددعا اوازونو انګازې جوړې کړې وې.هر وار به

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کليسا زنګونه او د دعاګانو اوازونه په کرار شول ، د خلکو د ګامونو د جګېدو او ځای پر ځای کېدو غږونه به اوربدل کېدل.اناپاولوفنا ، په خورا ځانښودنې، داسې ځانښودنې چې ګواکې ښيي چې په دې پوهېږي چې څه کوي، د کوټې له بر سره په ټولې کوټې کې تېره او پېيرته ورغله او هغه ته يې شمع ورکړ.هغه شمع ولګاوه، خو دا چې خلکو ته د زيات پام له امله يې خيال ګډ وډ شوی و ، په هماغه لاس کې يې چې شمع نيولې وه، د صليب اېستل هم پيل کړل.

کمکۍ شهزادګۍ، سوفيا ، سره اننګې، خال په شونډو چې خندل يې، هغه ته کتل.هغه چې موسېده ، مخ يې په دستمال کې مروړلی او تر ډېرې پورې يې نه لوڅاوه، خو همدا چې بيا يې پېير، ته وکتل په خندا شوه.هغه ځان کې دا توان ونه ليد چې د هغې په ليدو ، ونه خاندی، خو دا يې هم نه شو کولای چې هغه ته ونه ګوری، نو ځکه يې دا ښه وګڼله چې د لويې ستنې شا ته ځان پناه کړي.د مراسمو په منځ کې ناڅاپه، دروحانيونو د دعا اوازونه بند او په بنګهاري يې يو بل ته څه وويل.بوډا چوپړ چې د ګراف لاس نيولی و، پاڅېد او ښځو ته يې څه وويل.انا ميخايلوفنا ، وړاندې شوه، په ناروغ ورخمه او د ګوتې په اشارې يې داکتر لورن ځان ته ور وباله.فرانسوي داکتر(چې ستنې ته ډډه لګولې وه، سره له هغه چې شمع يې په لاس کې نه و ، خو کړو وړو يې د هغه پردی د درناوي څرګندونه کوله چې، غواړي وښيي د مذهب له توپير سره سره، د دغو مراسمو په اړتيا ښه پوهېږي او هغه ته درناوي کوي ) ديوه پاخه تجربه لرونکي په شان ، په درنو ، خو بې غږه ګامونو ، ناروغ ته نږدې ورغی، په خپلو ښکلو او نازکو ګوتويې د هغه ازاد لاس له شنه څادره را لوړ، مخ يې واړاوه او د هغه نبض يې ونيو او په چرت کې لاړ.ناروغ ته يې کوم شربت ورکړ، يو څو شېبې د ناروغ په شاوخوا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا الـه ګولـه جوړه خو هرڅوک ډېـر ژر پـخپلـو ځـایونو کېناسـتل او ددعاګانو اوازونه پورته شول. په مراسمو کې دځنډ راتګ په وخت کې دپېیـر، دې تـه پـام شـو چـې سـردار واسـیلي، پـه داسـې حالـت کې چې، پوهېږم چې څه کوم او وا پرهغو چې نه پـوهېږي، لـه خپلـې څوکۍ نه پاڅېد، ددې پـر ځـای چې نـاروغ تـه ورشـي، دهغه لـه څنګـه تېـر او لـه مشرې شهزادګۍ سره یوځای د ګراف دخوب دکوټې پـه بـر سر کې، د لوړ اېښودل شوي کټ خواته چې وریښمینې پردې پـرې راځوړندې وې ،ورغی او دواړه دکوټې دشا له دروازې نه په ګډه ووتـل، خو د مراسمو دپـای تـه رسـېدو نـه مخکـې بیـا یـو پـه بـل پسـې جوخـت، بېرتـه خپلـو ځایونو ته راستانه شول. پېیر، دې پېښې ته هم هومره پاملرنه وکړه، لکه هغه نورو ته یې چې کړې وه، ځکه هغـه لـه ځـان سره دا پرېکـړه کـړې وه، هـره هغـه څـه چـې نـن شـپه دې ویني، هغـه بایـد ټول ددې لپـاره وي چـې اړتیایې لیدل کېږي او باید همداسې شي.

د کلیسا د زنګونو اوازونه ارام شول او د کشـیش هغـه غـږ دهغـه پـه ځای انګازن شـو چـې نـاروغ تـه یې د رارسـېدونکې پوښتنې او ځـواب مبارکې ویلې. نـاروغ همـا غـه شـان بېسـده او بـې هـرډول خوځښـدا پـروت و. دشـا وخـوا خلـک ټول پـه خوځښدا او ډګـامونو او سـاندو آوازونـویې چې پـه هغـو کـې د انامیخـایلو فنـا اواز لـه لـرې اوربـدل کېده، لـه هـرې خوانه پورته وو. پېیر، دهغې غږ واورېده چې هغه وایي:

-هغه باید هرومروکټ تـه یـوړل شـي، دلتـه دهغـه پرېښـودل بـه ښـه نـه وي...

داکتران، شهزادګان او چوپړان، داسې له نارغه تاو شوي ووچې نور نو پېیر، د ګراف، هغه سپینې یال ډوله ، سرې بخـوني، ژېړې شـوې څنـې چـې د ټولـو مراسـمو پـه اوږدو کې، سـره لـه هغـه چـې نورو څېروتـه هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل، دده له سترګو نه لرې کېدې، نه لیدې. د هغه خلکو له احتیاط چې دده د پلار څوکۍ نه تاو شوي وو، تصوریې وکړ چې هغه پورته کوي او کټ ته یې وړي.

د یو چوپړ له ګېنې نه ډک غږ یې واورېد:

زما لاس در کلک کړه، کنه لویږي.

یو بل نارې کړې:

-لږ ښکته!

ځینو نورو غږونو بیا ټینګار کاوه چې:

-لږ نور هم، لږ نور...او یوه بل...

د هغو کسانو د ساه ویستلو او پښو اوازونه لا پسې داسې درند بدل، تا به ویل چې ګواکې هغه بار چې دوی وړي، درونه والې یې ددې له توانه خورا زیات دي.

ناروغ وړونکو چې انا میخایلو فنا هم د هغو په ډله کې وه د پېير، مخې ته ورور سېدل او هغه یوه شېبه د هغو له شا او اوږو له منځه، دناروغ، ځورب پراخ ټټر، خلاصې تنې او سوروري اوږې، سپینې، یال ډوله، سرې بخونې، ژېړې شوې څنې چې خلکو تر ترخګ لاندې نیولی او پورته کړي یې وو ولیدل. د هغه دا څېره، پراخ تندی، وتلي اننګي، شهواني ښکلې خوله او شاهانه ساړه کتل، آن د مرګ په را رسېدو هم هېڅ بدل شوي نه وو او هماغه شان و، لکه درې میاشتې مخکې په شان، د هغه وخت په شان، چې هغه پېير، سن پترزبورګ ته لېږه او ده هغه لیدلی و، خو دا دي د هغه سر او س د پېير، د سترګو په وړاندې، نا خوځنده او بېواکه، د لېږدونکو له ګېنو اخیستو ګامونو سره ټکان خوړ، رېږدېده او د هغه مړو او سړو کتو، نه شو کولای په کوم ځای ودرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅو او اله ګولي څو دقیقې نورهم د هغه د کټ په شا و خوا کې دوام پیدا کړ. د ناروغ تر لیږدولو وروسته چوپړان خواره واره شول. انامیخایلوفنا، لاس د پییر، پر لاسونو ورکېښود او وې ویل:

-درځه !چې ورشو !

پییر، د انامیخایلوفنا، سره په ګډه، هغه کټ ته ور ننږدې شول چې (تکیه لرونکې څوکۍ) ناروغ په یوه پرتم سره پر هغه کټ پروت و چې څو دقیقې مخکښې یې(غسل) مراسمو پورې یې اړه درلود، هغه داسې پر کټ غځېدلی و چې سریې لوړ پر سروبړدې تکیه و. د هغه لاسونه، پر شنه وریښمین ټوکرداسې لوېدلي و وچې رغویې ښکته پراته وو. کله چې پییر، ور ننږدې شو، ګراف هغه ته مخامخ وکتل، خو د هغه د کتو معنې، هغه معنې او مفهوم و چې څوک پرې پوهېدای نه شو. یا دا چې دې کتو په پوره توګه هېڅ نه ویل، یا دا چې سترګې ددې لپاره دي چې چېرې کتل کېږي، هلته وکتل شي او یا دا چې د هغه سترګو او کتو دومره زیات ویل چې پوهېدل یې ګران و. پییر، چې نه پوهېده، څه وکړي، ځای پر ځای وچ پاتې شو. په پوښتنیز ډول یې خپلې لاربنودې، انا میخایلوفنا ته وکتل.

انا میخایلوفنا، په تلوار د سترګو په اشاره د ناروغ لاس ورو ښود او په لپو کې یې مچه وروليږله. پییر، سره له هغه چې ویرېده، پر هغه پراته څادر کې ونه ننبلي، خو بیا یط هم په سختۍ اورمیږ ور اوږد کړ، د هغې سپارښتنه یې پر ځای کړه او خپلې شونډې یې د هغه پر وچ او پاسته لاس ورکېښودې. خود ګراف نه لاس او نه یې د څېرې کومه برخه، یو هم ونه ښورېده. پییر، یوځل بیا، انامیخایلوفنا ته، په دې معنی وکتل، چې څه وکړم ؟ انامیخایلوفنا، په سترګو کې، هغه لاس لرونکې څوکۍ ته وکتل چې د کټ تر څنګه ایښې وه. هغه هم بیا د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره و منله ،پرځوکۍ کېناست. خو سترګو یې همدا پوښتنې لرلې، ایا دا کار چې ده وکړ ښه ده، که څنګه؟ انا میخایلوفنا ، سر د هو او منني په نښه وښوراوه. پییر، بیا د مصر د مجسمې په شان د ساده ګۍ ښه غوره کړه او ظاهرا یې په دې افسوس کاوه چې په دې غټ، ځورب،ناچالاکه او درانه ځان یې د کوټې دومره لوی ځای نیولی دی او خپل ټول روانې توان یې دې هڅې ته سپارلی چې څومره کېږي کمکی ښکاره شي. هغه ګراف،ته کتل، خو د ګراف سترګې په هماغه ځای نښتې وې چې څو شیبې د مخه پییر، هلته ولاړ و او ده ورته کتل. انا میخایلوفنا ، په خپلې دې درېدا او دغه شان حالت سره غوښتل دا وښیي چې د پلار او زوی د دغه وروستی دیدن د پرتمینو شیبو له درد او ویرې نه پوره خبره ده. دغو کتلو دوې دقیقې دوام و نه کړ،خو پییر، تصور وکړ چې څو ساعته تېر شوي دي. ناڅاپه د ګراف، په ځېرې او ګونځنۍ څېره کې یوه رېږدېدا پیدا شوه، رېږېدا یې لا پسې زیاته او ښکلې خوله یې تاوراتاو غوندې شوه، (په همدې شېبه کې د لومړي ځل لپاره د پییر،زړه ومنله چې پلار یې څومره مرګ ته نېږدې دی) د هغه،همدې تاو راتاوخولې نه، نه پوهېدونکی او بېچلی خرهاری واورېدل شو. انا میخایلوفنا چې په خورا ځیر د ناروغ سترګې څارلې،هڅه یې کوله پوه شي، هغه څه غوښتل، یو ځل یې پییر،بیا یې د شربت پیالې ته اشاره وکړه اوکه په زګیروي زګیروي یې یو وار د سردار واسیلي نوم یاد کړ او یا کېدای شي هغې برستنې ته اشاره کړې وي. د ناروغ په سترګو او بشره کې د شک نښې ځرګندې شوې، هڅه یې وکړه هغه چوپړ ته وګوري چې لا تر اوسه یې ترسر پورې ولاړ و.

چوپړ په کراره وویل:

- غواړي په بل اړخ واوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيير، چو پړ سره د مرستې لپاره پاڅېد.

هغه، د دې لپاره ور وړاندې شو، چې د ګراف، درونند ځان مخ په ديوال واړوي.

کله چې يې ګراف، په بل اړخ اړاوه، يو لاس يې شا ته ولوېد ،هغه هسې بې ګټې هڅه کوله، چې هغه د ځان خوا ته ور ټول کړي. ايا د خپل زوی د هغه وحشتناک غلچک په معنې چې د ده بې ځانه لاس ته يې کتلي و، پوه شو او کنه؟ او يا په دې شېبه کې کوم بل څه دده په مړه کېدونکي سر کې ور تېر شول؟ خو هغه، خپل فرمان نه وړونکی لاس او د پيير، څېره کې بربښېدونکي وحشت ته او بيا لاس ته کتل او پر شونډويې داسې دردناکه ،زورزنکې موسکا چې دده طبيعت سره يې اړخ نه لګاوه او ګواکې په خپلې ناتوانۍ ملنډې وهي،را خوره شوه..

پيير، د دې موسکا په ليدو په ګوګل کې رېږدېدا او په پزه کې يو سوز احساس کړ او ونښکو د هغه سترګې تتې کړې. دا هغه حالت و چې ده هېڅکله د هغه تمه نه لرله. په دې وخت کې يې ناروغ په اړخ ،مخ په ديوال وروا اړاوه او هغه يو سوړ اسويلی وويست.

انا ميخايلوفنا ،د بلې شهزادګۍ په ليدو ،چې په خپل وار د ناروغ سره د يوې شپې د تېرولو لپاره راغلې وه، وويل:

-پربوت، ځي چې ځو.

او پيير له کوټې نه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

د هرکليو په تالار کې، له سردار واسيلي او مشرې شهزادګۍ نه پرته چې د ايکاترينې تر ستر انځور لاندې ناست او د کوم څه په هکله يې توده مرکه درلوده، نور نو بل هېڅ څوک نه و. همدا چې هغوی پيير او د هغه لاربښوده وليدل، چوپ شول. پيير، داسې وپتېيله چې شهزادګۍ کوم څه پټ کړل، کېدای شي همداسې ورته بريښېدلي وي، نو ځکه يې وويل:

- د دې ښځې د ليدلو زغم نه لرم.

سردار واسيلي، انا ميخايلفونا ته مخ ورواړاوه، او وې ويل:

- کاتيوشا، سپارښتنه کړې ده چې په کمکي تالار کې، د چای ميز جوړ شي. ګرانې ميخايلوفنا! مهرباني وکړئ، يو څه وڅکې، کنه له ورږې نه به ژوبله شئ.

هغه، پيير ته څه ونه وويل، خو د هغه لاس يې راونيو او د هغه مټ يې لږ په احساس ورکېښکود. پيير او انا ميخايلوفنا په ګډه کمکي تالار ته لاړل.

د کمکي ګرد تالار په مېنځ کې ډاکټر لورن د هغه ميز تر څنګ ولاړ و چې چای او ساړه خواړه پرې ټول شوي وو. هغه چې له يو ښکلې نازکې چينايي پيالې نه چای څکه، په ډېره نرمه ژبه يې وويل:

- د يوې شپې ترشو کېدو وروسته، بيا حال ته راتګ لپاره، د دغه ښه روسي چای د يوې پيالې نه پرته بل هېڅ شي داسې ښه مرسته نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای. ټول هغه کسان چې هغه شپه د ګراف بېزاو خوف په کور کې پاتې وو، د همدې میز شا و خوا ته راټول شوي وو.

د هرکلي دغه ګرده کمکۍ کوټه، سره د هغې له بې شمېره هینداره او وړو میزونو سره د پېیر ښه په یاد وه. هغه وخت به چې د ګراف په کور کې د نڅا او موسیقۍ بنډارونه وو او دده نڅا نه وه زده، هغه دا ښه ګڼله چې په همدې وړه هینداریزه کوټې کې کینې او د مېلمستیا لپاره دراتلونکو هغو ښځو او پېغلو ننداره وکړي چې، ښکلې جامې په غاړه ،پر جګو غاړو او بربنډو اوږو پرتې مرغلرې او ګاڼې به د همدې کوټې له لارې تېرېدې او دغو ځلېدونکو هنېدارو ته په رسېدو سره به چې ددوی تصویرونه به یې څو واره پرله پسې ښودل د خپلو ښکلاو په کتو ښکلا ییزه تنده ماتوله. اوس دغه کوټه د تل په خلاف تته وه، په نیمه شپه کې یوازې دوه مړ ژواندې شمعې په کې لګېدلې او د میز پر سر د خوړو او چایو له ګډوډو پرتو قابو پرته هلته بل څه نه لیدل کېږې، هلته په ښکلو جامو کې ناستو بېلا بېلو ،ډول ډول خلکو ،خبرې اترې سره کولې، خو په خپلو خوځېدا وو او هرې خبرې کې یې دا نه هېرولـه چې د خوب په کوټه کې څه تېرېږي او څه کېدونکي دي. پېیر، سره له هغه چې ډېر وږی و ،خو څه یې ونه خوړل. هغه خپلې لارښودې ته په پوښتنیزې ډول وکتل ،ویې لیدل چې هغه د پښو په سر د هرکلو د کوټې خوا ته چې هلته یوازې سردار واسیلي او مشره شهزادګۍ پاتې وو ،روانه ده، دی هم وخوځېد ،له ځانسره یې وویل چې دا کار هم باید همدا سې وشي، تر لنډه ځنډ وروسته هغې پسې وروخوځېد. انا میخایلوفنا د شهزادګۍ تر څنګ ولاړه وه، دواړه په خپل منځ کې په ګښهۍ، یوځای ،خو په ساندیزه بڼه غږېدل.

دا سې ښکارېده چې مشره شهزادګۍ ،لا دګښهۍ په هماغه حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې د خپلې کوټې د دراوزې د پورې وهلو په وخت کې وه، هغې وویل:

-ګرانې شهزادګۍ !هیله لرم اجازه ولرم، خپله دا پرېکړه وکړم چې څه ښه دي او څه ښه نه دي.انا میخایلوفنا چې د ګراف کوټې ته یې تلونکې لار، د هغې پرمخ وتړله، هغه یې د خوب کوټې ته ننوتلو ته پرېنښوده، په کراره، خو ډاډمنه ژبه یې وویل:

- نو ګرانې شهزادګۍ !فکر نه کوي، دغه کار به په دې شېبو کې چې کاکاجان تر دې اندازې ارامۍ او خواخوږۍ ته اړتیا لري، د هغه لپاره د زغم وړ نه وي؟

د هغه لپاره د دې دنیا په اړه خبرې، هغه هم په دې شېبو کې چې د هغه روح بلې دنیا ته د الوتلو چمتوالي...

سردار واسیلي، د خپل عادت له مخې، پښه په پښه اړولې ، پر څوکۍ ناست و.لو بدلي غومبوریې په چټکۍ رېږدېدل، خو داسې بریښېدل چې د بشرۍ کوزنۍ برخه یې تر برنۍ هغې لو یه شوې ده.هغه ،هغه نارینه ته پاتې کېده چې د دوو ښځو مرکې ته هېڅ پام نه کوي، مګر وې ویل:

- پوه نه شوم چې څه؟ پرېږدئ، هر هغه څه چې د کاتیوشې، زړه غواړي، هماغه وکړي، تاسو خو پوهېږئ چې ګراف ته هغه څومره ګرانه ده.

مشرې شهزادګۍ چې د ګراف ځانګړې کڅوړه یې په لاس کې وه، سردار واسیلي ته اشاره وکړه او وې ویل:

- دا هېڅ نه پوهېږي چې په دې کاغذ کې څه لیکل شوي دي، خو دا په دې پوهېږي چې رښتینی وصیتلیک، له هغه سره په دفتر کې دی او دا هسې کوم هېر شوی لیک دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې غوښتل چې دانا میخایلو فنا له څنګه تېره شي، خوانا میخایلو فنا، دهغې مخکې ودرېده، لاره یې بنده کړه، لاس یې وروارتېرو او داسې کلکه یې کښوړه راونیوله چې دژر پرېښېدو هیله یې نه وه، هغې زیاته کړه:

-ګرانۍ شهزادګۍ ! زه له تاسو نه هیله کوم، تاسو ته عذر کوم، مهرباني وکړئ، پر هغه رحم وکړئ...

شهزادګۍ که څه هو چوپه وه، خو د کښوړې د ترلاس کولو لپاره اخ وډب روان و، داسې برېښنده چې شهزادګۍ څه نه وایي او که ووایي د انا میخایلو فنې په زړه به نه وي. انا میخایلو فنې، کښوړه، سخته نیولې وه، خو سره له هغه هم دهغې اواز خپل نرموالی، خواخوږي او خوږوالی ساتلی و، هغې وویل:

-پېیره !زما ګرانه !دې خواته راشه، زه داسې فکر کوم چې هغه د دې کورنۍ له غړیتوب نه ویستل شوی نه دی، همداسې نه ده سرداره !

شهزادګۍ، ناڅاپه داسې چیغه وکړه چې غږیې آن په مېلمستون کې واوارېدل شو اوخلک یې په وېره کې واچول:

- وا د ترور زویه تاسو، ولې چوپه خوله یاست یې ! تاسو، ولې آن هغه وخت چپ یاستئ، چې خدا زده ولې هرڅوک، خپل او پردي ځان ته د مور په کورنیو چارو کې دلاسوهنې حق ورکوي او دزنکندن په حال کې سړي د کوټې تر شا نانداری جوړوي، له ځانسره یې وویل:

-نو دوکه ماره ښځه !

او په ټول قوت او کرکې یې، کښوړه را کش کړه، انامیخایلو فنا، وړاندې لاړه، څو ګامه له کښوړې سره د دې په هیله وړاندې لاړه چې کښوړه پرېښږدي او بل لاس یې هم تر کښوړې تاو کړ.

سردار واسیلي، پاڅېد، په ګوابښمن اواز او حیرانتیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ای، های، تاسو ته وایم، دا دخندا وړ ده، دخندا ، تاسو ته وایم، پرېږدئ، پرېږدئ !

شهزادګۍ کڅوړه پرېښوده.

-تاسو يې هم پرېږدئ !

مګر د اناميخايلوفنا غوږونه کاڼه وو.

-تاسو ته وایم، پرېږدئ. دا په ما ، زه خپله ځم او هغه پوښتم. اوس مو خوښه ده؟

انا ميخايلوفنا وویل:

-ګرانه سرداره ! تاسو ته وایم، ددغه شان مبارکو مراسمو تر سرته رسېدو وروسته، ښه به دا وي چې هغه آرام پرېښودل شي.

هغې ، پېير، ته مخ ورواړه چې ببخي ددوی څنګ ته نږدې شوی و او په حيرانۍ يې نه يوازې د شهزادګۍ کرکجنې څېرې ته چې نور نوله نزاکته وتلې وه بلکې د سردار واسيلي له قهره رېږدېدونکو غومبورو ته يې هم کتل. هغه ليدل چې د سردار غومبوري څنګه الوزي، مخ يې ورواړاوه، او وې ويل:

- راشه پېيره !تاسو څه وايئ ؟

سردار واسيلي په غوڅه وويل:

دا په ياد لرئ چې د خپلو دې کړو ځواب به په خپله وايئ، تاسو په خپله هم نه پوهېږئ چې څه کوئ؟

شهزادګۍ ناڅاپه اناميخايلوفنا ته لاس ورواچاوه، د هغې له منګولو يې کڅوړه راوويسته او وې ويل:

-شيشکې !دوکه مارې ښځې !

سردار واسيلي سر ښکته واچاوه او منګولې يې د حيرانتيا په نښه سره خلاصې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې، دروازه، هماغه دروازه چې له ډېره وخته راهسې، پېبير، هغه ته سترګې ګنډلې وې او تل به په خورا نرمۍ وازه او پورې کېده، په داسې يو شرق را وازه شوه چې پر ديوال ولګېده. منځۍ شهزادګۍ په ډېر تلوار، شرو شور او ګبنۍ چې لاسونه او سر يې ښورول، ترې را ووته او چيغه يې کړل:

-دا تاسو څه کوئ؟ دهغه زنکندن دی، وروستۍ سا باسی او تاسو زه يوازې پرېښې يم.

مشرې شهزادګۍ کڅوړه وارتيږله. انا ميخايلوفنا، په چټکۍ خمه او هغه شي يې چې تر اوسه، پرې لاس و ګريوان و، را پورته او په خورا چټکۍ دګراف، د خوب کوټې ته ورننوتله. مشره شهزادګۍ او سردار واسيلي هم د منځنۍ شهزادګۍ چغې را په سد کړل او هغې پسې لاړل. لا څو دقيقې نه وې تېرې شوې چې تر ټولو نه د مخه، مشره شهزادګۍ په الوتي رنګ چې شونډې يې ژوولې له کوټې را ووته. د پېبير، په ليدو يې، په څېره کې نه مهارېدونکې کرکه ځرګنده شوه او وې ويل:

- ښه ده، اوس نو خوشحاله اوسئ، تاسو همدې شېبې ته سترګې په لاره وئ! هغې چې ساندې وهلې، خپل مخ يې په دستمال پټ کړ او په ژړا ژړا له کوټې ووتله.

تر هغې وروسته سردار واسيلي له کوټې را ووت، په لړزېدلو او ښوېدلو ګامونو يې ځان تر هغې اوږدې څوکۍ ورساوه چې پېبير، ډېره پرې لګولې وه، پر هغه ورولوېد او سترګې په لاسونو پټې کړې.

د پېبير، پام شو چې د هغه رنګ تښتېدلی او داسې برېښېده چې ژامه يې د تورې تبۍ په اور کې سوځي او سخته رېږدي. هغه د پېبير، څنګل را ونيوله او وې ويل:

-آه، ګرانه زويه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه په خبرو کې د اسې يو ربنتينتوب او ناتواني احساسېدله چې پېير، تر دې نه مخکې هېڅکله په هغه کې نه وه احساس کړې.

-څه لو يه ګناه تر سره کوو، څو مره يو بل دوکه کوو، نه پوهېږم دا ټول د څه لپاره؟ زه يې زوی، عمر مې شپيتو کالو ته رسېدلی. آخر ما ته ... هرڅه په مرګ پای ته رسېږي...هرڅه... مرګ وحشتناکه دی. او هغه وژړل.

انا ميخايلوفنا تر ټولو ،وروسته،له کوټې را ووته، په آرامو او بې غږه ګامونو پېير ،ته ور نېږدې شوه او هغه ته يې وويل:

- پېيره !

پېير په پوښتنيز ډول هغې ته وکتل .

انا ميخايلوفنا دغه ځوان په تندي مچ ،اوښکو يې دهغه مخ لوند او خپله چو په شوه.

هغې،تر لږ ځنډه، وروسته وويل:

-هغه،له موږه لاړ.

پېير، د عينکو له شا نه هغې ته وکتل.

-راځه چې ځو ،هڅه يې وکړه چې وژاړي او د زړه براس په اوښکو ښه وباسي.

هغه يې تياره تالار ته بدرګه کړ. پېير، په دې خوشحاله و چې هلته يې چامخ نه ليد. انا ميخايلوفنا له هغه نه ووته، خو کله چې ببرته راستنه شوه، ګوري چې هغه لاسونه تر سرلاندې ايښي او په کلک خوب ويده دی.

بله ورځ سهار انا ميخايلوفنا، پېير ته وويل:

- هو کې د زړه سره ! دا زموږ د ټولو په تېره بيا ستا لپاره يوه ستره ورکه ده. خو خدای به ستاسو پناه و اوسي. تاسو ځوان او دادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس، هیله لرم چې د ستړې شتمنۍ خاوند یاست. لا تر اوسه وصیتلیک، لاکتل شوی نه دی. زه تاسو پوره پېژنم او ډاډمنه یم چې دغه شتمني به تاسو سرسام نه کړي. خو دا هم په یاد لرئ چې دغه شتمني په خپله یو لوی کړکېچ او دروند پېتی په تاسې دراړوي. باید زړور او مېړنی و اوسئ.

پېیر، چوپ و.

-کېدای شي، وروسته کومه ورځ، تاسو ته ووایم، که زه دلته نه وای، خدای خپله ښه پوهېږي چې څه به پیښ شوي وای. پوهېږئ خدای ښیلي تره مې، تر دا درې ورځو مخکې هم، له ما سره ژبه کوله، چې باریس به نه هېره وي، خو اجل وخت ور نه کړ، د زړه سره ! زه هیله لرم چې تاسو د خپل پلار نیت ته درناوي ولرئ.

د پېیر، په دې خبرو هېڅ سر نه خلاصېده. هغه چې له شرمه تک سور شوی و، په چوپه خوله شهزادګۍ انا میخایلوفنا ته کتل. انا میخایلوفنا، وروسته له هغه چې خپلې ټولې خبرې هغه ته وکړې، پاڅېده او د ګراف رستوف کور ته لاړه او وېده شوه.

بله ورځ سهار چې له خوبه را پاڅېده، په ډېره هراړخیزه توګه یې د ګراف بېزاوخوف د مرګ کیسه، د رستوف د کورنیو غړو او ټولو آشنا یانو ته بیان کړه، هغې ویل چې:

-ګراف بېزاوخوف، هغه شان مړ شو چې دې غوښتل. د هغه د ژوند پای نه یوازې غمجن نه و، بلکې ټولو ته دپند او زده کړې وړ و. د پلار او زوی وروستی دیدن داسې زورونکی، غمجن او اغېز ښندونکی و چې بې اوښکو یې یادېدل ګران دي، دا نه شو کولای ووایو د دغو دوو نه د کوم یو کړه او حالت ددغه ویر او ماتم په وخت کې دستاینې وړ و.. د پلار کړه چې تر وروستۍ شېبې پورې یې ټول پیژندل او په یاد یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو او زوی ته یې زورونکې خبرې کولې، که د پېپېر حالت چې لیدو یې په زړه کې د غم او ویر زړې کرل او د ی خپله کونګ او د مړي په شان و ،خو سره له دې یې هم هڅه کوله چې خپل بې پایه او نه بیانېدونکی درد او غم پټ وساتي چې د حق ته رسېدونکې پلار د ازار سبب نه شي.هغې کیسه کوله چې:

د ګراف او پېپېر، په شان د زاړه پلار او ګلالي زوی لیدل په دغه شان یو شېبه کې، که څه هم ډېر ګران او زورېدونکې دي، اما خورا ګټور او د روح د سرلوړۍ سبب کېږي.

هغې د مشرې شهزادګۍ او سردار واسیلي د کړو غندنه هم هېره نه کړه،خو دا کار یې خورا په پټه او په بنګهاري کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۲

لـه مسـکوه لـرې سـهيل تـه، پـه لېسـې ګوريـه، يـا غرنـی ځنګـل کـې سردار نيکولای اندرېوويچ بالکونسکي ،هره ورځ ځوان سردار اندرې او د هغې مېرمنې شهزادګۍ ته د راتلو لارې څارلې،خو دغه پر له پسې انتظار، د دغه بوډا سردار په کورنۍ کې د ژوند دودېز نظم تـه څـه خنډ نـه پېښـاوه. سـتر جنرال، سـردار نيکـولای انـدرېوويچ بالکږنسـکي د اعيانو په منځ کې د ((پروس د ټولواک))، پـه نامـه پيژنـدل شـوی و. د پاول د واکمنۍ له وخته ،چې کلي ته تبعيد شوی و ،لـه لـور شـهزادګۍ ماريا او له خپلې مينځې پېغلې بوري ين، سره په خپلې غرنۍ ځنګليزه مېنـه کـې آرام او بـې شـره و شـوره ژونـد درلـود. کـه څـه هـم هغـه د نـوي ټولواک په وخت کې اجازه پيدا کړې وه چې پلازمېنې ته راستون شي، مګر هغه دا ښه ګڼلې وه چې همدلتـه ګوښـې پـه کلي کـې خپـل ژونـد تـه دوام ورکړي،هغه به ويل،دی خو هېڅکله،هېچاته اړتيا نه لري،خو کـه څوک د هغـه د ديـدن تـږی وي، ځـان بـه لـږ غونـدې پـه عـذاب کـړي او د مسکو په يوسلوپنځوس ورست(د اندازه کولو کچه)کې به ده پسې،په غرنيو ځنګلو کې پروت کلي ته ورشي،هغه به ويل:

- د انسـان د ټولو نيمګړتيـاوو سـرچينې يـوازې دوې دي: بېکـاري او په خرافاتو باور. هغه دا هم ويل چې د انساني ښيګڼو سرچېنې هم دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. يو کار بل عقل .د خپلې يوازينۍ لور ماريا روزنه يې خپله کوله او ددې لپاره چې په هغې کې ددوو اصلي ښېګڼو روح وروزي، خپله يې، هغې ته الجبر او هندسه ورزده کول. دکار او هڅو په مرستې به يې دهغې د ورځني ژوند کړه وړه ټول په خپله برابرول. هغه خپله هېڅکله نه وزګاربده، يا يې خپلې خاطرې ليکلې، يا به يې دالجبر پېچلې پوښتنې سپړلې،. کله به يې دنصوار کوتې جوړول، يا به يې په خپل باغ او پاليز کې خولې تويولې او يا به يې دهغو بې پايه ودانيو دجوړلو څارنه کوله چې دده په جايداد و کې يې، جوړېدل پای ته رسېدونکي نه و. څنګه چې نظم دکړو اصلي جرړه ده ،نو دغه ښېګڼه د هغه په ژوند کې دهغې په بشپړې معنې خپل ځای درلود. دسترخوان ته دهغه راتګ،نه يوازې په يو او نه بدليدونکي ډول،نه يوازې په يوه او نه بدليدونکي ساعت بلکې په يوه او نه بدليدونکې اوټاکلې شېبې ترسره کېدل.له ټولو هغو وګړو سره چې ده کړه وړه درلودل، له لورنه نيولې او بيا ترچوپړانو او مېنځو پورې خورا ځيږ او سخت ګيره و ، نو له همدې کبله ،بې له هغه چې سخت زړی اوسي، د ټولو په زړه کې يې ځان ته داسې درناوی او وحشت پيدا کاوه چې دهغه پيدا کول د ډېرو او آن د ډېرو سخت زړو او بې رحمه وګړو لپاره ګرانه خبره وه. که څه هم له رسمي چارو نه پخوا لرې شوی و او اوس يې په هېڅ ډول دولتي چاروکې رسمي دنده نه لرله، دهغه ولايت چې د سردار جايداد ونه هغه پورې اړوند و ،هر مشر چارواکي به خپله دنده ګڼله چې دده درناوي ته ورشي او هماغه ډول لکه دباغوان،مهندس يا شهزادګۍ ماريا په څېر، دکار له دفتره دهغه دمبارک راوتلو ترټاکلي وخت پورې،دخوړنځي ترڅنګه،دچوپړانو او مينځو د ناستې په ځای کې، دهغه راوتلو او يا ليدو ته سترګې په لاره پاتې شي. کله به چې دده دکار د کوټې لوړه او لويه دروازه وازه او ددغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا نا لوړه، عمروهلې، خولۍ په سر، پودر هلې څڼې او مخ را ځرګند ه شوه، خريلې ككره، كوچنيو وچولاسونو، رالويد لوګڼو سپينو وروځو، سرې برندو ځلېدونكو سترګو چې د مستۍ او ځوانۍ كيسې يې كولې، د هر چاپه زړه كې د ويرې او درناوي يو شان احساس را پاراوه.

دځوانانو د راتګ د ورځې په سهار، شهزاګۍ ماريا د دود سره سم په خپل وخت د سهارنې سلام د منني لپاره د چوپړانو كوټې ته ورغله،له ډاره يې پر ټټر او تندي صليب انځوراوه. هغه به هره ورځ په همدې ډول دې كوټې ته تله او هيله يې درلوده، چې دعا يې قبوله او د دې دغه سهارنۍ كتنې په خير او خوښۍ تمامې شي.

زوړ پودر وهلى چوپړ، په كراره خوځېدا پاڅېدا او په پسهاري يې، وويل:

- هيله كوم، مهرباني وكړئ.

د خراطۍ د ماشين يو رنګه غږ د وره له شا نه اورېدل كېده. شهزادګۍ، د دروازې هغه ور چې په خورا آسانۍ او نرمۍ ببرته كېده، د ځان خوا ته را پورې كړ او د هغې تر مخې ودريده.

سردار د خپل ماشين شا ته لګيا ،داخوا ،هغه خوا يې كتل او خپل كار ته يې دوام وركاوه.

د كار پراخ دفتر،له شيانو ډک وو او داسې بربښېده چې پرله پسې كارول كېږي.

سترميزاو پر هغه پراته كتابونه او نقشې،لوړې كلي لرونكې ،له كتابونو ډكې هيندارېزې الماری، په ولاړې دليكلو لوړ ميز چې پرانستې كتابچې پرې پرتې وې،دخراطۍ ماشين او پر هغه ګډوډ پراته ډول ډول وسايل،دميز شاوخوا ته دلرګو (ارې بوره او تراش شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دړې )ټول د يوې پرله پسې، رنګارنګ او منظمې هڅې نښې وې.

په سپينو زرو او بدل شويو تاتاري موزوکې د هغه د نه چندان لويو پښو له خوځېدا او پرکېړو او ډول ډول وسايلو ، د هغه د وتلو متو او وچو لاسونو له لاسبرۍ نه د سردار د ځوان زړښت د قوت تاند توب له ورايه ښکارېده. سردار ، د ماشين د څو واره څرخېدو وروسته، پښه له رکابه لرې، خپله چاړه يې پاکه او پـه هغې چرمې کڅوړې کې چې د ماشين له څرخ سره تړلې وه، واچوله. د ميز خوا ته لاړ او خپلې لورته يې ورغږ کړ. هغه هېڅکله خپل ماشومانو ته د خيرد عا نه کوله. اوس يې هم يوازې، خپل غومبوري چې نـن خريلي نه و ، هغې ته ور وړاندې کړ او اجازه يې ورکړه چې هغه يې مچو کړي. د خپلې لوربشرۍ ته ښه ځير شو ، په ډېره غوڅه مګر مهربانه او خواخوږۍ يې هغې ته وويل:

- تبه خو به دې نه وي؟...ښه ده ، کينه.

د هندسې هغه کتابچه يې را واخيسته چې ده په خپل قلم ليکلې وه ، په پښه يې خپله څوکۍ پورې وهله، پـه چټکۍ يې د خپلې خوښې مخ پيدا ، په کلکو نوکانو يې له يوه بند نه تر بله پورې هغه په نښه او بيا يې ماريا ته وويل:

–دادې هم د سبا لپاره !

شهزادګۍ، پرميز پرتې،خپلې کتابچې ته سر ورخم کړ.

بوډا ناڅاپه، له هغې کڅوړې نه چې پر ميز پرته وه ، يو ليک چې پـه ښځينه ليک ليکل شوی و ، را وويست، هغه يې پر ميز وارتيره او وې ويل:

-ودربره،دا ليک ستا لپاره دی.

د ليک په ليدو ،د شهزادګۍ پر بشرې سره داغونه راخواره شول، په تلوارېې ليک را واخيست او پر هغه يې سر ورټيټ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار، په یوې سړې موسکا چې لاپا خه خو ژیړ بخن غاښونه یې ترې بربښېدل، وپوښتل:

دا ،د الویزې، دئ؟

شهزادګۍ په خوراحیا او لوړسر،یوه مړ ژواندې موسکا وکړه او وې وویل:

-هو کې،د ژولې دی.

سردار خپله غړېدا لا پسې ځیږه کړه او وې ویل:

- دوه نور لیکونه به نه خلاصوم، خو درېیم هغه به ولولم، ویرېږم چې ډېرې ببولالې سره و نه وایئ. درېیم هغه یې لولم.

شهزادګۍ چې له پخوا نه لا پسې سره شوه،لیک یې هغه ته ونیوه او ځواب یې ورکړ:

-دادی !وې لولئ پلار جانه !

سردار، لیک شا ته وواهه، په لوړ مګر لنډ غږ یې چیغه کړل:

- درېیم، ومې ویل، درېیم.

ځنګل یې پر میز کېښوده او هغه کتابچه یې چې هندسي رسمونه په کې انځور شوي وو ، ځان ته را وړاندې کړه.

خپل یو لاس یې په هغې لاستی لرونکې څوکۍ کېښود چې لور یې پرې ناسته وه، پر کتابچې داسې ور خم او سر یې ورنیږدې کړ چې شهزادګۍ ځان دتنباکو او د پلار د کمیسه دهغه پخواني بوی، په کړې کې ایسار ولید چې دا ورسره له پخوانه رږدې وه، بوډا وویل:

- ښه والا حضرتې ملکې !دا دوه دوه مثلثونه سره ورته دي، هیله لرم پام وکړې چې دلته د ABCزاویه ...

شهزادګۍ په خورا وحشت، د خپل پلار سترګو ته چې ددې د سترګو په وړاندې ځلېدې، کتل.دهغې په غومبورو او اننګو کې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



داغونه لا پسې زیاتېدل، په هېڅ شي یې سر نه خلاصېده، هغه ډېره ویربده،د همدې ویرې له کبله و چې د پلار پر خبرو چې هر څومره به، څرګندې او سپړل شوې وې، پوه نه شي. او س دا نه وه څرګنده چې نیمګړتیا ، د چا وه، د ښوونکي او که د زده کوونکې ،خو یوه خبره پوره څرګنده وه چې دا پېښه او کړه وړه هره ورځ تکراربدل. د شهزادګۍ پر سترګو یوه توره پرده را غوړېده.نور یې نو ،نه څه لیدل او نه یې څه اوربدل، مګر یوازې یې د زاړه، ځیږ او سخت زړي پلار څېره،د ځان تر څنګه احساسوله او د هغه ستما او خوشبوي یې اوربده. د هغې یوازینۍ تلوسه به همدا وه چې څنګه د پلار له کوټې ځان وژغوري او په یوازې ځان خپله کوټه کې په آرام خیال خپل لوستونه ولولي. بوډا به په قهربده، چغې او سورې او هماغه څوکۍ یې چې خپله پرې ناستو ، په شر و شور سره وړاندې وروسته پورې وهله راپورې وهله. له دې ټولو سره سره به یې هڅه کوله چې قهر یې ښکاره نه شي، مګر ددې هڅو سره سره، بیا هم د هغه بد خلق له ورایه څرګندېده، خبره به شر و شور ښکنځلو او کله کله آن د کتابچې څیرلو یا ارتېړلو ته هم رسېده او چیغه به یې کړې:

-شهزادګۍ تېروتلې ده.

سردار کتابچه پورې وهله، په قهر یې مخ واړاوه، او چیغه یې کړه:

- وای چې څومره بې عقله ده.

سمدلاسه پاڅېد ،لږ وګرځېد ،په دواړو لاسونو یې د شهزادګۍ څڼې و نازولې، بېرته کېناست، هغې ته ورنښږدې شو او خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ:

- نه، شهزادګۍ ،نه.

کله چې شهزادګۍ،خپله، له پوښتنو نه ډکه تړلې کتابچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواخیسته اونورنو وتو ته چمتو وه، سردار غږ پرې وکړ:

-زما آغلې !ریاضی ستره پوهه ده،زه نه غواړم چې ته زموږ احمقو مېرمنو ته ورته واوسې. زغم ولره، مینه به دې ور سره پیدا شي.

هغه،دهغې غومبوري ونازول او وې ویل:

-حماقت له ککرې وباسه.

هغې بیا د وتلو هڅه وکړه،خو هغه، په اشارې ودروله ،له لوړ میزنه یې چور نوی او لا نه پرانستل شوی کتاب راواخیست او وې ویل:

-دغه دې درواخله،دادې،نه پوهېږم،الیوزې، د رازونو،کومه کلي یې درته رالېږلې ده،مذهبي ده.زه دچا پر مذهبي اعتقاداتو کار نه لرم...ما هغه هسې وکوت ،درواېې خله ،درځه،وځه !

لاس یې پر اوږې ور کېښود او خپله یې هغې پسې،ور، ور وتاړه.

شهزادګۍ ماریا ،له هغې وېرې اوخواشینۍ سره چې یوه شېبه هم له هغې نه،نه لرې کېده او دهغې نا ښکلې او رنګ الوتې څېره یې لا ناښکلې کوله، بېرته خپلې کوټې ته راستنه شوه،دلیک لوست، دخپل لیک لوست د میز تر شاچې په میناتوري عکسونه ګاڼل شوی و او پر هغه کتابونه او کتابچې پرتې وې، کېناسته. د شهزادګۍ، پلار چې څومره بانظمه و ، په هغه اندازه دا بینظمه وه .هغې په تلوار دهندسې کتابچه کېښوده اوپه تلوار یې لیک پرانست.دا لیک دهغې دماشومتوب دوختونو ،د خورلنډې لیک و:

دالیک ،دهغې د هماغې خورلنډه ژولیه کاراګینه و ،چې دګرافینې رستوې، د کالیزې په ورځ ،ددوی کورته راغلې وه،هغې لیکلې وه:

ګرانې او مهربانې خورلنډې !ستا بېلتون څومره ګران او زورونکی دی. هرڅومره چې زړه ته وایم چې زما نیمایي ځان اونیکمرغي له تا نه دي،دهغه لرې واټن سره سره چې موږ سره بېلوی،زموږ زړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشلیدونکي مزي سره یو کړی دی، دټولو هغو لذتونو او خوږو سره چې زه یې چاپېره کړې یم، زړه مې د ازل په وړاندې پاڅون کوي او نه شم کولای پر هغې خواشینۍ لاسبری پیدا کړم چې زموږ تر بېلتانه وروسته یې، زما د زړه په تل کې جرړې کړې دي.ولې موږ د تېر اوړي په شان، ستا د لوېې کوټې په شنه بخن کټ کې ،هغه کټ کې چې زموږ درازونو ځاله وه،یوځای نه یو؟ ولې، د درې میاشتو پخوا په شان نه شم کولای، ستا له خواږه او مهربانه غلچلک نه چې له ارامۍ سره سره به یې زما دزړه ترتله لاره وهله ،د زړه قوت واخلم. له هغه غلچکه چې ماته خورا ګران او ددې لیکنې په شېبه کې زما ترسترګو رپې.

شهزادګۍ چې تر دې ځایه لیک ولوست،یو سوړ اسویلی یې وویست او هغې سترې هینداراې ته چې ددې ښې خواته په دیوال کې ولاړه وه،وکتل،خو هلته یې له یوې ناښکلې څېرې، خوار او ډنګر ځان نه پرته بل څه و نه لیدل.هغې پخپلو همیشنو له غمه ډکو سترګو ،له پخوانه لا په زیاتې ناهیلۍ په هینداره کې خپل ځان ته وکتل او وې ویل:

- هغه،دا له ما سره دخواخوږۍ لپاره وایي. مخ یې له هینداراې راواړاوه او لوستلو ته یې دوام ورکړ،خو ژولیه ،دخپلې خورلنډې د خواخوږۍ لپاره دروغ نه ویل. دهغې سترګې په رښتیا ملالې، لویې، ژورې او دومره ښکلې وې چې(کله کله به له هغو نه د شغلو په شان ځلا وربدله) د هغې د بشرې د ناښکلتوب سره سره یې ،دهغې دڅېرې ښکلا زړه راښکونکې کوله،خوشهزادګۍ ،دخپلو سترګو ښکلا ، د خپلو سترګو هماغه طبیعي حالات هېڅ کله لیدلی نه شو چې کله به یې د ځان په اړه فکر کاوه. ددې څېره به هم دنورو ټولو هغو کسانو په شان هینداراې ته د کتو سره سم،ناښکلې او لاسي برېښېده.هغې دلیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستلو ته دوام ورکړ:

په مسکو کې ټولې خبرې اترې یوازې په جګړه راچورلې.زما له دوو ،ورونو نه یو اوس بهر او بل هغې فرقې سره مل دی چې دهېواد پولو ته رسېدونکې ده.زموږ ګران ټولواک ،هم پترزبورګ پرېږدي او خلک وایي چې هغه تکل لري،خپل ګران ژوند دجګړې له ګوابښ سره مخامخ کړي. خدای دې وکړي،دا له کرس نه (دځای نوم دی )راپیدا شوی ( دیو ) چې د اروپا ارامی ته یې ګوابښ ورپېښ کړی دی،دهغې فرښتې په مرسته چې پاک الله په خپلې بې پایه مهربانی او کرم سره ، زموږټولواکی ته ګمارلې ده،را وپرزوي.زما له ورونو پرته دغې جګړې،زه دخپل زړه له یوې بلې ټوټې نه هم بې برخې کړې یم.زه نیکولای رستوف یادوم.هغه ځوک چې دخپلې ټولې ځانغوښتنې سره یې بیاهم پوهنتون پرېښود او پوځ ته لاړ.هوکې ګرانې ماریا !د زړه له کومې درته وایم چې په دې کم عمر پوځ ته دهغه تګ،ماته لوی او نه هېرېدونکی ژورغم دی.دا هماغه زلمی دی چې تېر اوړی یې ماتاته ستاینه کړې وه ،هغه دومره ددرناوي وړ او دهغه ځوانی هسې په سپېڅلتیا کې بې سارې ده چې دهغه ساری زموږ د زمانې ددې زړو زړونو شل کلنو په منځ کې ډېر لږ پیدا کېږي.دهغه زړه خورا خواخوږی، حساس او دټولو لپاره په رښتینې توګه لوی دی.هغه له داسې سپېڅلو او شاعرانه خیالونو نه ډک دی چې له ما سره دهغه اړیکې دعمر له لنډوالي او تاند توب سره سره، زما دخوار اوپه دې ځوانی کې دډېر رنځېدلي زړه له خورا خوږو لذتونو نه و.زه به کوم وخت وکولای شم تاته زموږ دخدای په امانی دشېبې او ټولو هغوخبرو په اړه چې په هغه شېبه کې ویل شوې وې،د زړه غوټه پرانیزم.دا لا تراوسه خورا تاند او تازه دي،اخ اخ...ګرانې،خورلنډې !ته نیکمرغه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ته دغه اورنی سوځونکی لذت نه پېژني او زغملی دې نه دی، دغه سوځونکی غم، په دې ډېره ښه پوهېږم چې ګراف نیکولای، ددې لپاره خورا زلمی دی چې ماته پرته له دوست نه بل څوک واوسي، خو دغه خوږه دوستي او دا دومره شاعرانه او سپېڅلي اړیکي زما د زړه اړتیا وه. زه له دې راضي یمه، خو که له دې تېر شو، د ګراف بېزاوخوف د مرګ او دغه میراث، هغه خبره ده چې اوس ټول مسکو پرې غړېږي. تصور یې کولای شي، درې شهزادګیو ته هسې تش په نوم یو څه رسېدلي، سردار واسیلي ته هېڅ ور په برخه شوي نه دي، خو، پېیر، پېیر ته نه یوازې، ټول میراث ور سېدلی دی، بلکې دروسیې تر ټولو نه د زیاتې شتمنۍ او جایدادونو، ګراف بېزاوخوف، د قانوني زوی په نامه پېژندل شوی دی. ویل کېږي چې سردار واسیلي په دې لوبه کې خورا د شرم وړ نه لرلې ده، نو ځکه یې اوس پترزبورګ ته ستړګې پناه کړې دي.

د زړه له کومې غواړم ووایم چې ددې وصیتلیک، میراث او ویش په اړه مې په هېڅ څه، سر نه خلاصېږي، خو دومره پوهېږم له هغه وخته چې دغه ځوان چې مونږ ټولو هغه د تش پېیر، په نامه پېژانده، د روسیې تر ټولو نه د لویې شتمنۍ خاوند او ښاغلي بېزاوخوف نوم ګټلی دی، د هغه په وړاندې چې زما له نظره یو سپک او ټیټ سړی دی، د ټولو هغو میندو په خبرو او کړو کې چې پېغلې لوڼې لري، ستر بدلون راغلی دی او زه رښتیا وایم چې د دغه حال له لیدو نه سخته زوروېږم. لکه هغه شان چې دا دوو کالو راهسې ماته د ملنډو یا ددوکې له مخې کوژدني خوښوي، دا سې ځینې کوژدني چې زه اصلا هم هغه نه پیژنم او د مسکو د تش په نامه ریبارانو لپاره خو دادي اوس شهزادګۍ بېزاوخوفه، هم شوې یم. خو ته پوهېږې چې زه ددغه شان نامه د ګټلو، هیله هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرم.ربنتیا د ودونو په اړه.ایا تاسو په دې پوهېږئ چې څو موده د مخې ټولو ته منل شوې ترور، انا میخایلو فنا، ماته ډاډ راکړ، هغه هم په خورا پته چې تاسې ته یې د کوژدنې د پیدا کولو یادونه کړې.پوهېږئ دا څوک دی،دا د سردار واسیلي زوی، اناتولي دی.د هغه کورنۍ غواړي له یوې بډایې او پوهې پېغلې سره د واده له لارې، هغه نیکمرغه کړي.او د هغه مور او پلار، ته خوښه کړې یې.زه نه پوهېږم چې ته په دې اړه څه وایې، خو ما دا خپل پور ګڼه چې تا ته هغه ووایم، هو کې ربنتیا، دا سې ویل کېږي چې هغه خورا ښکلی او د ښځو لېواله دی.دا هغه څه و چې ما د هغه په اړه اورېدلي دي.

نور به ببو لالې بس کړم.ربنتیا د لیک دویم مخ هم ډک شو او مورمې څوک راپسې رالېږلي چې د ماښامنۍ لپاره د آپرا کسین کره لاړ شوو.یو عرفاني کتاب درته دراستوم.دې کتاب دلته خورا نوم ګټلی دی، که څه هم په هغه کې دا سې خبرې شته چې د انسان د ناتوانه مغزو لپاره د هغو پوهېدنه ګرانه ده، خو بیا هم یو غوره کتاب دی چې د هغه لوستنه د انسان زړه ارامو ي او روان ته یې قوت ښیي.د خدای ښه دې وي.پلار ته دې زما درناوي او پېغلې بوري ین ته زما سلامونه ورسوه.د زړه له کومې دې کېښکارېم.

ژولیه

یادښت: د خپل ورور او د هغې د زړه وړونکې ښځې په اړه راته یو څه ولیکه.

***

شهزادګۍ، لږ په چورت کې لاړه او په چورت کې، موسکۍ شوه (په دې موسکا سره یې، بشره چې د ځلېدونکو سترګو په ځلا کې ځلېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه ،بدله او ښکلې شوه )ناڅاپه پاڅېده او په درنو ګامونو دخپل میزخوا ته لاړه. یو کاغذ یې راواخیست او په چټکۍ یې لاس پر هغه وچورلېده، دادي د هغې ځواب:

ګرانې او درنې خورلنډې !

ستا د ۱۳مې نېټې لیک ماته خورا خوښي راوبښله.زما ګرانې شاعر وزمې !داسې بریښې چې لا تر اوسه هم درته ګرانه یم.له دې ښکارې ،هغه بېلتون چې دومره یې تاسې ،غندنه کوئ، په تاسو خپل دودیز اغېز نه دی کړی.تاسو دبېلتون او خپلو نه دبېلیدو نه شکایت کوي،نو که ماکولای شوای څه به مې ویلي وای،زه له ټولو هغو نه چې راته ګران دي،جلا شوې یمه.اخ !که د دین آرامي نه وای،ژوند به خورا زورونکي وای.کله چې له هغه ځوان سره دخپلې لېوالتیا خبره کوي،نوبیا ولې زما غلچک، ویشتونکی او نه منونکی ګڼې؟ په دې برخه کې زه یوازې دخپل ځان په اړه سخته یم.د نورو دغه شان احساس ته په درنښت ګورم،خو له دې چې هېڅکله ما دغه شان یو احساس لرلی نه دی،مننه یې راته ګرانه ،مګر دهغو غندنه ،نه کوم.خو یو څه وایم هغه داچې زما په ګمان هغه مینه چې حضرت عیسي ښودلې ده،له خپلو سره مینه او له پردیو سره مینه،دهغې مینې تر احساسه، خورا خوږه او زړه راښکونکې ده، چې دیوه ځوان ښکلې سترګې یې دتاسو په څېر،د یوې شاعر مزاجې ،نازک خیالې او ګرانښت وړپېغلې په زړه کې را ویښوي.

د ګراف بېزاوخوف،دمرګ خبر،ستاسو دلیک تر رارسېدو نه دمخه موږ ته رارسېدلی او زما پلار یې خورا خواشینی کړی و.هغه وایي چې هغه د پرتمینې پېړۍ دپای لخوا دویم استازی و چې له موږه لاړ او تر هغه وروسته اوس دده وار دی،خو هغه به دده په توان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول هغه څه وکړي چې ده ته دغه وار ډېر ناوخته ورسېږي. خدای دې موږ له دغه شان غم نه په امان کې وساتي.

د پېیر پـه اړه ستا نظر ځکـه نـه مـنم چې هغـه زه لا لـه ماشـمتوبه پېژنم. ماته داسې برېښېده چې هغـه سپېڅلی زړه لري او دا هغـه څه دی چې زه یې تر ټولو نه زیات په خلکو کې غوره ګڼم. او هغـه څه چې ده تـه دمیراث په نامـه رسېدلي، په دې برخه کې دده او سردار واسیلي کړو وړو ته اړه لري، دواړه د خواشینۍ وړ دي. اه !ماته ګرانې !په دې برخه کې داسماني استازي خبره ډېره په حق ده چې وایي:

-د ستنې له سوري نه د اوښ تېرېدل به تر هغـه څه نه آسانه وي چې یو بډای د خدای دربار ته ورسېږي. دا خبره پـه وحشتناکه توګه ربښتیا ده. سردار واسیلي او پـه تېره بیا پېیر خو ښېخي درحم وړدی چې پـه دې ځوانه ځوانۍ کې دداسې بې پایه شتمنۍ دغه دروند پېټی دده پـه اوږو وربار بږي. دا خوار به له څه سختیو سره لاس ګریوان کېږي. که چا له مانه پوښتي وای چې پـه دې نړۍ کې د څه شي هیله لري، ما بـه ورتـه ویلي وای چې غواړي، په ټولو بېوزلو کې، دبېوزلو، بېوزلی واوسي.

ګرانې !د هغه کتاب نه چې تاسو راته رالېږلي او وایي چې هلتـه یې شروشور ګډ کړی دی، هم په زړګونې مننې کوم. ستاسو دوینا له مخې په هغه کتاب کې دډېرو ښېګڼو تر څنګ، ځینې داسې ټکې هم شته چې دانساني ناتوان عقل لپاره دهغو سپړل ګران بریښي. زما پـه اند د بې مفهومـه کتـاب لوستنه یـو بېثمره کـار دی، ځکـه دهغـه لوستل بـه ،لوستونکي ته هېڅ ډول نتیجه را نه وړي. هېڅکله پـه دې پوه نه شوم چې ځینې خلک ولې دعرفاني کتابونو دلوستلو...ښـه بـه دا وي چې انجیل او دهغـه دقدسیانو سپړنه ولولـو او دهغـه داسرارو د جـرړو دستونزو په سپړنې پسې ونه ګرځو، ځکه موږ بېنوا ګنهګاران، څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې زړه وکړو ،څنګه د دې هیله وکړو چې د دې جسماني ولکې نه او دهغه اغېز نه منونکي حجاب له شا نه چې ځان یې زموږ او ابدیت ترمنځ ځوړند کړی دی،دلوی خدای په اسرارو او دهغه په سپېڅلو رازونو پوه شو ؟ښه به دا وي دهغوغوره اصولو په لوستنه بسنه وکړو چې اسماني ژغورونکې یې ،په دې نړۍ کې،زموږ د کړو وړو او کړنلارې دغوره والي لپاره سپارښتنه کړې ده.په دې تکل کې واوسو ،دهغو په رڼا کې خپل ژوند جوړ ،برابر...

پلار مې ماته پرته له دې یادونې چې د سردار واسیلي لیک یې تر لاسه کړی او ډېر ژر به یې دیدن ته راشي، د ریبارانو په اړه هېڅ څه نه دي ویلي.خو زما ګرانې او درنې خورلنډې !هغه څه چې واده او بیا زما د واده پورې اړه لري،غواړم ووایم چې،نکاح زما په اند یو خدایي تړون دی چې باید هغه ته غاړه کېښودل شي.که خدای پاک اراده وکړي او ماته د ښځتوب او مورولۍ دندې راوسپاري،که هرڅو مره هغه ګرانې وي اودهغه چا په وړاندې ،دخپلو احساساتو له پامه پرته، چې مېړه توب یې زما نصیب شوی،خپلې ټولې دندې به په خورا صداقت او ایمانداری سرته رسوم.

ماته مې د ورور لیک رارسېدلی دی،په هغه کې یې لیکلي چې دی به له خپلې ښځې سره یو ځای لیسیه ګورې،(د دوی کلي )ته راځي،خو دهغه د راتګ دغه خوښي به خورا لنډه وي،ځکه هغه د دې لپاره موږ دبېلتون منګولو ته سپارې چې په هغې سوځوونکې جګړې کې ګډون لپاره لاړ شي چې یوازې خدای پوهېږي څنګه او ولې په موږ راتپل شوې ده.یوازې هلته،ستاسو ،دلویانو ستر او پرتمین ښارونه نه دي چې د جګړې خبرې په کې کېږي،دلته د بزګرو په کړو وړو کې،د صحرا په سوله ایزه اود طبیعت په ارامه غېږ کې،چې ښاریان دهغو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته، د کلي تصور کوي، هم د جګړې شخړې او تريخ درد احساس اورېدل کېږي. پلار مې د پوځونو دوړاندې او يا شا ته تګ او يا لېږدولو پرته بله خبره نه لري، هغه خبرې چې زما سر هېڅ نه پرې خلاصېږي. پرون نه هغه بله ورځ ، کله چې د کلي په کوڅه کې په خپل ورځني ګرځېده اخته وم، يوې ډېرې زورونکې پېښې سره مخامخ شوم. په کلي کې يې هغه زلميان راټول کړي وو چې پوځ ته لېږل کېدل، تاکه د دغو سرتېرو د ميندو ، ښځو او ماشومانو حال ليدلای وای او د هغو ژړا او ساندې دې اورېدلې وای، ويلي به دې وای چې د خدای مخلوق د خپل ژغورونکي هغه روزنه او قوانين چې مينه کول او له دښمنۍ او ازار نه ځان ساتنه ده، هېر کړي دي او بله دا چې د دوي لپاره د يوبل دوژلو په فن کې مهارت او کارپوهي تر ټولو نه غوره چاره بلل کېږي.

د خدای په امان ګرانې او مهربانې خورلنډې ! ...

هو کې، هيله لرم چې زموږ ژغورونکی ، هغه لوی پرودګار دې، تا په خپل امان کې وساتي.

ماری پېغله بوري ين، په خپل ژوندي، تند او خواږه غږ چې د شمالي فرانسويانو په شان يې د(ر) توری، په (غ)ادا کاوه، په خندا خندا ، شهزادګۍ ماريا ته چې په خپل غم لړی دنياګۍ کې ډوبه وه...وويل:

-اه، شهزادګۍ !ليک ليکې !ما خپل ولېږه، مور ته مې ليک وليکه.بيا يې خپل غږ لږ راټيټ کړ او زياته يې کړه:

-شهزادګۍ بايد ګوا ښمنه يادونه درته وکړم. سردار له ميشل ايوانوف سره سخته ناندرۍ وکړې...

هغې د ناندرۍ کلمه خورا غوړه او په خوند ادا کړه، هسې چې ګواکې غوښتل يې خپل غږ خورا سندريز کړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-له میشل ایوانوف سره یو سخته ناندرۍ ! طبیعت یې خورا خرابه دی، خورا خواشینی دی، ځانته دې پام کوه، پوهېږئ...

شهزادګۍ ماریا ځواب ورکړ:

-آه !ګرانې !ما په وار وار سره ټینګار کړی دی چې زما د پلار د بنه او یا نا بنه طبیعت په اړه ماته څه مه وایئ، زه هېڅکله ځانته د هغه په اړه د قضاوت اجازه نه ورکوم او هیله نه لرم چې بل څوک هم ځانته د غه شان اجازه ور نه کړي.

وروسته ته یې خپل ساعت ته وکتل او وې لیدل چې پنځه دقیقې له هغه وخته تېرې شوې دي چې دا باید د وړې پیانو تر شا ولاړه وای، په تلوار تالار ته لاړه.سردار د خپل دودیز مهال ویش له مخې د غرمې له دولسو نه تر دوو بجو پورې ویده کېده او شهزادګۍ به په دې وخت کې وړه پیانو غږوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۳

بوډا چوپړ په خپله کوټه کې ناست و ،دخوب او وېښتيا حالت کې ډوب و او د سردار خرهاري ته چې د خپل کار په لوی دفتر کې ويده و ، غوږ نيولی و. د کور له لرې لرې صالون او د تړلو دروازو له شا نه د پيانو د غږېدا غږ، چې غږونکې ،دديونسکوف سونات، د يوي نغمې ستونزمنې برخې، په پر له پسې تر شلو وارو نه زيات تکرارولې، اوربدل کېده.

په دې وخت کې، د کور مخې ته يوه ګاډۍ را اورسېده. سردار اندرې له هغې نه را کوز شو او خپله ګلالۍ او ګل اندامه مېرمن يې لاس نيولې له هغې راکوزه او ترځانه مخې يې ولېږله.تيخون نومې سپين ږيري چوپړ د تل په شان سينګار کړی و ،خپله خولۍ يې د درناوي په نښه له سر نه لرې کړه ،په ملا مات شو او وې ويل:

-حضرت سردار استراحت کوي او بيا يې په تلوار ور پورې کړ.تيخون په دې پوهېده چې نه د سردار د زوی رارسېدل او نه به بله کومه بېړنۍ پېښه وکولای شي دمشر سردار د ژوند په نظم کې بدلون راولي او غوره خو دا وه چې د سردار اندرې هم د تيخون په شان په همدې خبره ښه سرخلاصېده.او د دې لپاره چې دا ښرګنده کړي چې د ده د دومره نشتوالي په وخت کې يې د پلار په عادتونو کې کوم بدلون راغلی نه دی، خپل ساعت ته يې وکتل او مېرمنې ته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-شل دقيقې وروسته به راپاڅي... اوس راځئ چې شهزادګۍ ماريا ته ورشو.

کشره شهزادګۍ لږ څوربه شوې وه خو سترګې او لاندنۍ لږ ټيټه شوې شونډه يې چې د خندا په وخت کې يې دغه نيمګړتيا لا پسې ښکلې کوله او په مالګينه توګه پورته راتله، هماغه شان وه، چې وه.

دې خوا ته، هغې خوا ته يې وکتل او دهغه مېلمه په توګه چې د هرکلي په وخت کې د کوربانه ستاينه او پالنه کوي، شونډې پرانيستې او وې ويل:

-دا خو يوه ماڼۍ ده !ماڼۍ !درځئ درځئ... درځئ....

هغې، هماغه شان چې په ښکلي انداز يې هر څه ثارل، خپل مېړه، تيخون او هغه چوپړ ته چې د دوی ملګرتيا يې کوله وموسېده او وې ويل:

- دا څوک هلته پيانو غږوئ؟ ماري؟ نو راځئ کرار کرار به ځو، چې ناڅاپه ورننو ځو.

سردار اندرې په خواشينۍ خو ډېر ادب خپلې مېرمنې پسې روان و. کله چې د بوډا له څنګه تېرېدل او لاس يې ور ته مچول، وې ويل:

-تيخونه زوړ شوی يې.

د هغې کوټې له يوه ورنه چې د کلارمن دغږېدو غږ ترې راته، يوه ژيړ څېې، ښکلې فرانسوي راووته.دا ميډغله بوري ين وه چې غوښتل يې له ډېرې خوښۍ نه والوزي، هغې وويل:

دا د شهزادګۍ لويه نيکمرغه ده. بالاخره، پرېږدئ چې خبره يې کړم.

شهزادګۍ له هغې سره د روغبړ او ښکلولو په لړ کې وويل:

- نه، نه، هيله کوم، ... تاسو ميډغله بوري ين ياستئ ! زه تاسو د خپل مېړه د خور له ستاينو او له تا سره د هغې له مينې نه پيژنم. موږ غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغې ته بې خبره او ناڅاپي ورننوزو.
هغوی، د هغه تالار وره ته ورنيږدې شول چې پرله پسې له هغه نه د غږېدونکې نغمې غږ راته. سردار اندرې تصور کاوه چې کوم بد نوغي ورپېښېدونکی دی، ودرېد او وروځې يې برندې کړې. د شهزادګۍ کوټې ته ورننوت، سندريز آواز په ټپه ودرېد. لومړی د يوې چيغې او بيا د شهزادګۍ ماريا درانه ګامونه او په پای کې د روغبړ او ښکلولو خواږه آوازونه واورېدل شول. کله چې سردار اندرې کوټې ته ورننوت، دواړه شهزادګۍ ماريا او ليزا د اندرې ښځه، چې يو واريې پخوا د لنډې شېبې لپاره د اندرې په واده کې سره ليدلي و، يو بل سره غيږ په غيږ وې، او لکه دوه پخوانۍ خورلنډې چې له اوږدې جلاوالې وروسته يې ليدلي وي، سره ښکلول. پېغله بوري ين، د هغو تر څنګ ولاړه وه، خپل لاسونه يې سره سولول او د ښه نيت يوه داسې موسکا يې پر شونډو خوره وه چې تصور کېده، د خندا او ژړا تر مينځ ورکه وي. سردار اندرې اوږې پورته پورته اچولې او د يوه موسيقي پوهان په شان يې، سترګې او وروځې داسې برندې کړې وې چې د غږېدونکې نغمې کوم سر بې سره واوري. شهزادګيو يو بل سره پرېښودلې، خو بيا يې هم له لاسه سره نيولي وو، داسې تصور کېده، د وخت د چټکه تېرېدو له وېرې همداسې يو بل کېښکاږي، نوځکه يې په پرله پسې لاسونه سره نيولي وو. ،ديو بل د ښکلو په لړ کې يې، بيا لاسونه يو د بل له لاسو راوويستل چې بيا سره ښکل کړي، تر هغه وروسته، هغوی بيا په ژړا پيل وکړ. سردار اندرې چې داسې انتظار نه درلود، هک پک و. هغوی بيا غاړه غړی شول. پېغلې بوري ين هم په ژړا شوه. سردار اندرې نور نو آرامه و. خو داسې يې ګڼله چې د شهزادګيو ژړا يوه هسې طبيعي خبره وي، داسې خبره چې دوی يې د بل ډول سرته رسېدو تصور هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو کولای.

ناڅاپه دواړه په خندا شوې او همهال يې خبرې پيل کړې، کمکۍ شهزادګۍ وويل:

- آه ګرانې ماريا !... آه ماريا ، تاسو ډنګره شوې ياستئ... نه !نه که چاغه شوې ياستئ؟ په دې وخت کې پېغله بورې ين د هغوی په خبرو کې راننوته او وې ويل:

- ما له ورايه مېرمن شهزادګۍ وپېژندله.

شهزادګۍ په ګبنۍ وويل:

- ما ته وايه چې زه يې اصلاً په فکر کې نه وم. زه اندرې، تا ته مې هيڅ پام شوی نه و.

سردار اندرې د خپلې خور لاس کښېکود ،له هغې سره يې ښکل کړل او وې ويل چې هغه لا تر اوسه هماغه شان ژړغونې ده، که څنګه؟

شهزادګۍ ماريا مخ ورور ته وو واړاوه او د اوښکو دځلېدونکې پردې له شا يې. په مينه، تاوده او خواږه غلچ ورور ته کتل.

شهزادګۍ پر له پسې غږېده. پاسنۍ نازکه،نرۍ په نيمګړيتا ښکلې شوې شونډه يې چې کومه شېبه را ښکته کېده او چېرې چې يې اړتيا ليدله، د هغې د ښکلې،نرۍ نرۍ لاندنې شونډې سره به غبرګه شوه او بيا د غاښونو له ځلا او د سترګو له خوښۍ سره مل دموسکا په بڼه دهغې پر شونډو راخوره شوه هغې ډول ډول کيسې کولې، يو نقل يې دا وه چې د سپاسکويه په غونډيو کې يوه داسې بده پېښه شوې وه چې د دې امېدوارۍ ته يې ګواښ ور پېښ کړی و. دا کيسه خلاصه نه وه چې وې ويل:

-دې خپلې ټولې جامې په پترزبوزګ کې پرېښې دي، اوس خدای پوهېږي چې دلته به څه اغوندي. دا يې هم وويل چې اندرې چور بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی، تر هغه وروسته يې يادونه وکړه چې کاتيا اديـنځوې، لـه يـوه بوډا سره واده کړی دی، خو دا يې په ډېرې مينې وويل چې د هغې يعنې شهزادګۍ ماريا لپاره مېړه پيدا شوی دی، خو دا يې زياتـه کړه چې پـه دې هکله به وروسته اوږدې خبرې ورسره ولري. شهزادګۍ ماريا پـه ټول دې وخت کې پـه چوپـه خولـه اوځيرځيـر خپـل وروړ تـه کتـل او ښـکلې سترګې يې، له يوې غمجنې مينې نه ډکې وې. دا ښکاره وه چې د هغې هغه ځانګړي خيالات چې د هغې د ورينداريې له خبرو سره هېڅ تړاو نـه لري، همـدا اوس يـې ددې پـه ذهـن کـې توفـان جـوړ کـړی دی. کلـه چـې شـهزادګۍ ليـزا د پترزبـورګ د وروسـتيو جشـنونو سـتاينې يـې پيـل کـړې، پــه همــدې وخــت کــې شــهزادګۍ ماريــا خپــل وروړ تــه مــخ وروا ړاوه، يو سوړ اسويلی يې وويست او وې ويل:

-اندرې، وايي چې ته غوا ړې جګړې ته لاړ شې؟

له ليزا نه د اورلمبې راتاو شوې، خو اندرې ځواب ورکړ:

-هو کې، همدا سبا ته!

شهزادګۍ ليزا وويل:

-هغه غوا ړي ما دلته يوازې پرېږدي، هېڅ نه پوهېږم؟ حال دا چې کولای شي جګړې ته لاړ نه شي او همدلته د يو لوی منصب څښتن شي.

شـهزادګۍ ماريـا د هغـې د خبـرو تـر پـای تـه رسـېدو پـورې څـه و نـه ويل، خو په خيالونو کې ډوبه شوه. بيا يې د امېدوارې ورينداريې پنډې ګېډې ته په مهربانو سترګو اشاره وکړه او وې ويل:

-په همدې وخت کې ستا تګ هرو مرو دی؟

د هغـې د وريـنداريې څېـره پـه يـوه شـېبه کـې څـو رنګـه بدلـه شـوه، اسويلی يې وويست او وې ويل:

-هو، د هغــه تــګ هرومــرو دی، هــو کې... ډېــره وحشــتناکه ده، ډېــره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحشتنا که ده.

د لیزا پاسنۍ شونډه بیا راولوېده، په کرار کرار یې ځان ماریا ته ورنږدې کړ، خو چې لاس یې هغې ته ورسېده، شرنګ په ژړا شوه.

سردار اندرې بیا وروځې برندې کړې او وې ویل:

- ښه ده چې استراحت وکړئ، همداسې نه ده لیزا؟ هغه خپلې کوټې ته بوزه. زه به خپل ګران پلار ته ورشم، د هغه حال څنګه دی؟ د تل په شان؟ ماریا په خوښۍ ځواب ورکړ:

- هو کې، هماغه شان چې و، هماغسې دی، خو نه پوهېږم چې تا ته به هغه څنګه ووي!

سردار اندرې چې په سختۍ موسېده، وپوښتل:

- په هماغه ټاکل شویو وختونو د ټاکلو کارونو کول، د باغ په هماغه ټاکلو شویو ځایو کې ګرځېدل، هماغه د خراطۍ څرخ لرونکی ماشین؟

دده دا نه لیدونکې موسکا دا معنی لرله چې پلار ته د ټول درناوي او له هغه سره د ډېرې مینې سره سره، د هغه له ځینو نیمګړتیاوو نه هم خبر دی.

ماریا وویل:

- په هماغه ټاکلو او نه بدلیدونکو وختونو کې، د باغ په هماغه ټاکلو ځایونو کې د چکر او څرخ لرونکي ماشین تر څنګ، زما د ریاضي او هندسې لیک او لوست هم شته.

د هغه له ژبې داسې برېښېده چې د پلار لپاره د هندسې زده کړې د ژوند د خوښۍ او لذت یوه خورا لومړنۍ سرچینه ده.

وروسته له هغې چې د هغه د پاڅېدو د وخت د رارسېدو لپاره پاتې شل دقیقې پوره شوې، تیخون راغی او ځوان سردار یې د هغه خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار ته ور وبوله. بوډا پلار د خپل زوی د را رسېدو په درناوي، د خپل ژوند، په ټاکلي نظم کې لږ بدلون هم منلی و او هغه دا چې اجازه ورکړي، زوی يې هغې کوټې ته ،هغه وخت ور ننوزي چې ده لا ورو ستی جاکټ نه و اغوستی. بوډا سردار، د پخوانيو دودونو سره په خپله کوټه کې کورنۍ جامې اغوستې. او سربه يې لوڅ و.

(د اندرې څېره په دې شېبه کې، نه د هغه د هميشنۍ ځانګړتيا په شان چې ځېږه، تونده او غمجنه به وه بلکې د هغه وخت په بڼه خوښه او د ژوند له لذتونو ډکه وه چې دی به له پېير سره غږېده ) دی په همدې بڼه د پلار کوټې ته را ننوت. پلار يې هيندارې ته مخامخ ولاړ او په لاس لرونکې چرمي څوکۍ ته ناست و... خپل سره يې زوی ته ورواړاوه او چيغه يې کړې:

-هو، جګړه مار زويه، غواړې لاړ شې، بناپارت نسکور کړې؟ او و يې ځېږ؟ لږ تر لږه، ته! لاړ شه او په مېړانه د هغه سره منګولې نرمې کړه، کنه ډېر ژر به زموږ نومونه هم د خپلو وګړو او سرتېرو په ډله کې وليکي.

خپل مخ يې هغه ته ور وړاندې کړ.(د دې لپاره چې هغه مچ کړي )

بوډا چې تر ورځني خوبه وروسته، ښه تازه او تاند و، هغه وويل:

تر غرمې وروسته خوب سپين زر او تر هغې مخکې سره زر دي.

تر ګڼو ځوړوندو وروځو لاندې يې، دسترګو له کنجه په خوښۍ او مينې خپل زوی ته کتل. سردار اندرې لږ را مخکې شو او د مخ پر هغه ځای يې ښکل کړ چې پلار يې ور ته ښودلی و، په ډېرې تلوسې، خوښۍ او ډېر درناوي يې د پلار د سر او مخ، بېلا بېلو برخو ته کتل. هغه په دې توګه هڅه کوله هغه مرکه پيل شي چې په دې ورځو کې د بناپارت سره د جګړې خبرو پيدا کړې وه، هغه ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کې، پلار جانه، له خپلې امېدوارۍ ښځې سره ستاسو درناوي او چوپړ ته راغلی یم. ستاسو روغتیا څنګه ده؟

-ناروغتیا وروره !یوازې او یوازې د بې مغزو (احمقانو ) ډیر خوړونکو او عیاشانو کار دی. ته خو ما پیژنئ، تهوله ورځ لګیا یم په خوړو او څکو کې هم منځ لاری، نو ځکه مې حال ښه دی.

زوی یې په خندا وویل:

-د خدای شکر دی

-دا په خدای پورې څه اړه لري،بیا هغه د خپلې خوښې خبرو ته را وګرځېد او دوام یې ورکړ:

- ښه، را ته ووایه،څنګه دنوې پوهنې له مخې چې د ستراتیژۍ نوم مو پرې ایښې، جرمنیان څنګه دبناپارت په وړاندې جنګېږي، هغه مو زده کړئ؟

سردار اندرې وخندل.

هغه په موسکا دا ښودل چې د پلار دا نیمګړتیاوې، هغه درناوي ته تاوان نه رسوي چې دی یې هغه ته لري، هغه پلار ته وویل:

- ګرانه پلاره ! ښه به دا وي چې لږ دمه شم، ساه وباسم، ګوره چې لا ناست نه یم او خولې مې وچې شوې نه دي.

سپین ږیري خپلې څڼې ددې لپاره وخندلې چې ډاډه شي، هغه سمې اوتهینګې ځای پر ځای شوي او کنه؟ بیا یې زوی له متې راونیو او وې ویل:

- اپلتې مه وایه، ښځې ته دې ښه ځای جوړ شوی دی، شهزادګۍ ماریا به هغې ته خپله کوټه ور وښيئ، دومره به سره وغږېږي چې یو بل نه به ستړې شي. دښځو کارونه ښځو ته پرېږده، زه خوشحاله شوم چې ښځه دې دلته راغله، اوس کېنه ! را ته ووایه چې هو، زه خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



میخلسون د پوځ په ونډه پوهېږم، د تولستوي(د روسي پوځ له مشرو جنرالانو نه) په برخه مې هم سر خلاصېږي.ښه ده، ښه ده، د بېلا بېلو پوځونو هم مهاله لېږدول او پلي کول، دا خبرې... مګر سهیلي پوځ به څه کوي؟ د پروس ناپیلتوب هم نوې خبره نه ده.

له خپل چرمي لاستي لرونکې څوکۍ نه پاځېد، په چټکۍ سره په کوټه کې ګرځېده راګرځېده، تیخون چې ده ته یې یوه برخه کالي ور اغوستي و، ده پسې ګام په ګام روان و، ده وویل: اتریش یې لا څه؟ سویدن به څنګه شي؟ له پومراني نه به څنګه تېر شئ؟

سردار اندرې چې د پلار ټینګار ولید، لومړی څه زړه نا زړه و، خو وروسته یې په ډېره مینه او زیاتېدونکې تلوسې پیل وکړ چې هغه ته د رارسېدونکې جګړې کړنلاره وسپړي، لږ وروسته یې، نه په لوی لاس بلکې د عادت له مخې، ژبه بدله او په فرانسوي ژبه یې خبرې پیل کړې او وې ویل چې:

-څنګه باید په نوي ۹۰ زریزه پوځ، پروس ته ګواښ ورپېښ کړل شي. هغه به په زور له ناپیلتوبه راجلا او جګړې کې ښکېل شي، هغه دوام ورکړ:

- د دغه پوځ یوه برخه به د شترال زوند په سیمه کې له سویدني پوځ سره یو ځای کېږي. ټاکل شوې ده چې شل زره اتریشي پوځیان به له سل زره روسي هغو سره د ایتالیا د ساحل په څنډو کې د راین سره پلي شي. د دې سره جوخت ۵۰ زره روسان له ۵۰ زرو انګریزانو سره په ناپل کې پلي کېدونکې دي. که په لنډه توګه ووایو، (۵۰۰) پنځوسو زره پوځیان به له بېلا بېلو خواوو نه پر فرانسې یرغل کوي.

بوډا سردار، د زوی خبرو ته هېڅ ډول پام نه و ساتلی، دا سې برېښېده چې اصلا یې هغه ته غوږ نه وي نیولی. هغه په کوټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېده را ګرځېده او کالي يې اغوستل. هغه درې ځله په ناڅاپي ډول د زوی خبرې پرېکړې او وې ويل:

سپينه، سپينه!

له سپينې نه د هغه موخه دا وه چې تيخون نومي چوپړ، ده ته سپينه کرتۍ، نه وه ورکړې. بل واريې د زوی خبرې په دې پوښتنه پرېکړې چې:

- ماشوم به څه وخت دنيا ته راشئ؟

هغه سمدلاسه، د ملامتۍ په نښه سر وښوراوه او وې ويل:

- ډېر بد حالت دی، دوام ورکه، دوام ورکه!

دربيم ځل يې هغه وخت د سردار اندرې خبرې پرېکړې چې هغه د جګړې په اړه خپلې خبرې پای ته نږدې کړې وې. بوډا د زړښت په لړزېدلي آواز په يونا سندريزه بڼه دا کليوالي سندره پيل کړه:

-مالبروک ځي جګړې ته، خدای خبر چې کله به راستون شي ؟

زوی يې پرته له هغه چې څه ووايي، وې خندل او وې ويل:

- زه نه وايم، هغه څه چې زه وايم دا منل شوې کړنلاره ده، ما يوازې هغه څه درته وويل چې کړنلاره څه ده.او ناپليون خو لا پخوا خپله کړنلاره جوړه کړې ده،هغه کړنلاره چې تر دې نه بده نه ده.

-ښه ده،ښه ده ! خو ستا په خبرو کې مې هيڅ نوي شي پيدا نه کړل.

هغه په خپلو خيالونو کې ډوب شو،خو ناڅاپه يې تند تند وويل:

- خدای ښه پوهيږي چې کله به بيا راستون شي؟ درځئ،ډوډۍ ته درځئ !

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۴

سردار چې څنې یې غوږې کړې او ډېره یې خریلې وه، په خپل ټاکل وخت خوړنتون ته لاړ. هلته یې ناوې، شهزادګۍ ماریا، پېغله بوري ین او د معمارۍ استاد ورته سترګه په لاره وو. د معمارۍ دغه استاد زاړه سردار د غوښتنې سره سم اجازه پیدا کړې وه چې له ده سره د میز پر ډوډۍ کښېني. که څه هم هغه کوم ټولنیز دریځ نه درلود او هېڅکله یې دا تصور هم نه شو کولای چې داسې ویاړ ور په برخه شي.

سردار چې تل ټولنیز دریځ ته پر درناوي ټینګار کاوه آن دا چې د ځینو ولایاتو لوړ پوړې چارواکې به یې هم ډوډۍ ته نه منل، په ناڅاپي توګه پرته له هغه چې دلیل یې ښکاره وي، دا معمار میخائیل ایوانوویچ سره له هغه چې د دربارۍ ناستې ولاړې په لومړنیو نزاکتونو هم نه پوهېده او یو وار به یې د خلکو په مینځ کې مخ واړاوه او په خپل برګ د ستمال کې به یې پزه سوخ کړه، پر یوه میز کښېني او په دې ډول خلکو ته څرګنده کړي چې ټول انسانان سره برابر دي. هغه پر خپلې لور په وار وار ټینګار کړی و، چې میخائیل ایوانوویچ په هېڅ ډول له دوی یعنې سردار او د هغې د لور نه کموالی نه لري. سردار چې تل د ډوډۍ په وخت کې خوله ګنډله، خو له دغه معمار سره یې مرکه هېڅ پای ته نه رسېده.

په خوړنتون کې هم لکه چې د نورو کوټو په شان یې لوی پراخ تالار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او لوړ چت درلود ، د کورنۍ غړي او ټول چوپړان هر یو د یوې څوکۍ شا ته ولاړ وو او د سردار د راتګ انتظار یې درلود. د چوپړانو مشر چې دستمال به یې پر مړوند پروت و او د ډوډۍ د میز جوړېدنې ته به ځیر و ، که څه هم د سترګو په اشاره به یې هر چوپړ ته سپارښتنې کولې ، خو د هغه سترګې د هغې دروازې نه چې باید سردار پرې را ننوتلی وای او د هغه دیوالي ساعت ترمنځ چې په همدې دروازې ځوړند و ، سرګردانه وې. سردار اندرې هم هغه لوی زرین قاب ته چې ده ته یې ډېر نوی والی درلود او په هغه کې د بالکونسکې د کورنۍ شجره د څو پوښتو په اوږدو کې په کې انځور شوې وه کتل... سردار همداسې د شجرې قاب ته کتل، موسېده او سر یې ښوراوه.د هغه موسکا ،هغې موسکا ته ورته وه چې ګوا کې داسې یو انځور ته ګوري چې انځور یې د اصل په پرتله خورا دخندا وړ وی.

هغه شهزادګۍ ماریا ته ورنږدې شو او وې ویل:

- ستا برخه په دې انځور کې خورا غوره ګڼم.

شهزادګۍ ماریا د خپل ورور کړو ته هک حیرانه وه. هغه په دې نه پوهېده چې ورور یې ولې او څه ته موسیږي، ځکه د خپل پلار هر کار یې د داسې غوره درناوي وړ باله چې په هغه کې یې آن د خبرو اجازه هم نه لرله.

سردار اندرې دوام ورکړه:

هر څوک د آشیل(د آشیل مورخپل زوی ته ،په ستیکس نومې چینې کې لامبو ورکړې وه.تر دغې لامبو نه وروسته هغه نه ایلېدونکی شوی و ،خو یوازې د پښې پونده یې دلامبو په وخت کې د مور په لاس کې پاتې شوې وه.دا داشیل عیب و ) په څېر یوه نیمګړتیا لري.

زه نه پوهیږم چې ولې انسان سره له هغه چې ځان اشرف المخلوقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولی، بیا ځان ته د دغه شان منلهٔو اجازه ورکوي.

شهزادګۍ ماریا نه شو کولای د پلار په کړو، دخپل ورورد ا تېری ومني. هغې ځان هغه ته د ځواب پیدا کولو لپاره چمتو کاوه چې د هغو ګامونو د راتګ غږ واورېدل شو چې ټول هغه ته سترګې په لاره وو. سردار د تل په شان، په چټکۍ او تازه ګۍ راننوت. داسې برېښېده چې په لوی لاس غواړي په خپلو خوځېدو او آزاد تګ سره په کور سخت پوځي لاسبری نظم مات کړي. په هماغه شېبه کې په تالار کې لوی راځوړند شوی ساعت دوه زنګه ووهل او د هر کلي په تالار کې بل کوچنی او ښکلی ساعت په ښکلی غږ سره ګوا کې د هغه ځواب ویلی وي.

سردار ودرېد ،دهغه دګڼو ځوړندو وروځو لاندې د هغه له هیلو نه ډکو سترګو غلچک ،پر ټولو وګرځېد راوګرځېد او په کمکۍ شهزادګۍ ودرېد.

په دې وخت کې د شهزادګۍ احساس هماغه له وېرې او درناوي نه ډک احساس و چې درباریان یې د شاه د راتګ په وخت کې لري.

دا هغه احساس و چې د ټولو هغو کسانو په زړه کې پیدا کېږي چې دغه بوډا ته ورننېږدې کېږي. د شهزادګۍ پر سر یې لاس تېر کړ او بیا یې په یوې ناڅاپي خوځېدا ،هغه څو ځله په کرار په اوږمېږ ووهله، بیا یې په ځیر ځیر خو ډېره لنډه شېبه د هغې سترګو ته وکتل او وې ویل:

-خوشحاله یم، خوشحاله یم.

تردې وروسته په چټکۍ لرې شو ،په خپل ځای کېناست او وې ویل:

- کېنئ ! میخائیل ایوانوویچ کینئ ! په خپل څنګ کې یې، خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوې ته يو ځای وښود او چوپړ د هغې لپاره څوکۍ شا ته کړه.د بوډا چې د ناوې ګردې، پنډې او پړسېدلې ګيډې ته پام شو ،وې ويل:

- هه، هه ډېر تلوار مو کړی دی، دا ښه کار نه دی!

هغه وخندل،ډېره بې خونده او وچه خندا ،د هغه هماغه خپله هميشنۍ خندا ،چې هسې يوې خولې خندا نه بل څه نه وي، دا سې خندا چې سترګې يې هغه هېڅ نه احساسوي، هغه وويل:

-بايد وګرځئ، زيا ته وګرځئ، ډېره زيا ته.

کشرې شهزادګۍ، د هغه خبرې هېڅ نه اورېدې، يا يې نه غوښتل هغه واورې.چوپه خوله وه ،دا سې بريښېده چې شرمېږي.بوډا د هغې د پلار پوښتنه وکړه او شهزادګۍ په موسېدو موسېدو هغه ته ځوابونه ويل. بيا يې د هغو کسانو او آشنايانو پوښتنه ترينه وکړه چې ده هم پېژندل او هغې هم. د ګډو آشنايانو د خبرو په لړ کې و ، چې شهزادګۍ په خبرو کې تو ده شوه او پيل يې وکړ چې چا ده ته سلامونه راليږلي او دآشنايانو په مېنځ کې څه آوازې خپرې دي،هغې وويل:

-د خوارکۍ،شهزادګۍ آپراکسين مېړه مړ شو ،هغې دومره پسې وژړل چې سترګې يې پسې ړندې شوې.

په هره اندازه چې د شهزادګۍ خبرې تودېدې په هماغه اندازه د سردار سترګې هغې ته لا پسې ځېرېدې،مګر يو وخت په ناڅاپي توګه ګواکې د ده زغم پای ته رسېدلی وي او په ټولو خبرو پوه شوی وي، له هغې نه يې مخ واړاوه او ميخائيل ايوانوويچ ته يې وويل:

- ښه، ميخائيل ايوانوويچه ! دا سې ښکاري چې زمونږ ددې بناپارت وضعه خورا کړکېچنه وي، هغه شان چې سردار اندرې را ته وويل (هغه کله چې د خپل زوی په اړه غږېده، هغه يې تل په دې نامه يادوه ) ډېر ستر پوځونه د هغه په وړاندې راټول شوي دي. دا سې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري چې خورا هیبتناکه او ګوا ښمن سړی دی، حال دا چې موږ او تاسو هغه یو ناوړه او سپک سړی ګڼو.

د میخائیل ایوانوویچ هېڅ په یاد نه وچې څه وخت "موږ او تاسو" د بناپارت په اړه داسې خبرې او قضاوت کړی وي. هغه پوه شو چې سردار یوازې غواړي خبرې پیل کړي، هغه هم د خپلې خوښې خبرې، نو ځکه یې د هغه نوم ته اړتیا لرله. بې له هغه چې ددې کار په پای پوه شي، حیران حیران یې ځوان سردار ته وکتل. مشرسردار معمار ته اشاره وکړه او خپل زوی ته یې وویل:

-دا سړی د تاکتیک په برخه کې خورا لوی لاس لري.

یو ځل بیا یې د جګړې، بناپارت، جنرالانو او د لوړ پوړو چارواکو په اړه نوې خبرې پیل کړې. دې بوډا داسې ښووله چې د اوسني زمانې چارواکي او سیاسیون د ښوونځیو د ماشومانو په څېر دي او آن په پوځي الفبې هم نه پوهېږي او د ادارې له ټولو چارو نه بې خبره دي.

ده به ویل چې بناپارت یو خورا بېکاره سړی دی او د بري راز یې یوازې په دې کې دی چې د دویمې ایکاترینې د وخت پاتیمکین او سوروف نومي پوځي سرداران نور نو په ډګر کې نه شته. هغه سرداران چې د هغه په وړاندې جګړې ته ورودانګي. د هغو پر ځای یوازې او یوازې له ملنډو ډکې لوبې دي چې اوسني کسان یې ښوونه کوي .سردار نه یوازې دا چې د پلار ټولو خبرو ته غوږ او دهغې ملنډې یې په زغم او موسکا اورېدلې، بلکې پلار یې په تلوسې او خوښۍ خبرو ته هڅاوه او په لاځیر او پام یې دهغه خبرو ته غوږ نیو.

زوی یې وویل:

- ټولې تېرې پېښې، ځکه موږ ته ښې بریښې چې د مبالغې په ښکلا رنګینې شوې دي، که داسې نه وي، همدا سوروف نه و چې د مورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منګولو ته ورولوېد، ځان یي ترې و نه شو ژغورلي؟
زاړه سردار په چیغه چیغه وویل:
- دا خبرې چا تاته ویلي دي؟ چا ویلي دي؟ سوروف خو... دا خبره یې چې کوله، خپل قاب یې وارتیېره، مګر تیخون هغه په چټکۍ له هوا نه را ونیو، هغه خبرو ته دوام ورکړ:
- سردار اندرې! سوروف! که ته لږ په ژوره سوچ وکړې، ته باید د سوروف خبرې بالکل له فرېدریخ (فرېدریخ د پروس پادشاه و) نه جلا کړې. فرېدریخ یو ځوک دی او سوروف بل ځوک. وایې چې مورو! که سوروف په خپلو کړو کې خپلواکي لرله، مورو به اسیر شوی وای. خو مورو (ویکتور مورو د ناپلیون یو ستر قوماندان).بلې خواته هوفس کریکس (د اتریش جګړیزه شورا) دچارو واک ټول له هغه نه اخیستی و. آن که شیطان خپله هم وو ایي، کور به یې وران و. اوس لږ زغم ولرئ، خپله به یې وګورئ. تاسې به هم له دې فوس کریکس سره آشنا شئ. که سوروف د هغو سیال نه شو، نو کوتوزوف، به څنګه وکولای شي دا کار وکړي. له لږ ځنډ نه وروسته یې وویل:
- نه ګرانه ملګریه! تاسو له خپلو دغو جنرالانو سره، نه شي کولای د بناپارت سیالي وکړئ. ددې لپاره چې اوس د بناپارت سره د سیالۍ سیال شئ، باید فرانسویان اجیر شي چې له هغه سره منګولې نرمې کړئ، الماني پالن، فرانسوي مورو پسې امریکا ته استوي چې د خپلو هېوادوالو د ځپلو لپاره یې، په روسي پوځ کې وګماري... عجبې خبرې دي! ایا پاتیمکین، سوروف او اورلوف الماني وو؟ نه وروره، یا تاسې لیوني شوي یاستئ، یا ما په دې زړښت کې عقل له لاسه ورکړی دی. خدای مو مل اوسه، که عمر یاري وکړي، بیا به مو دیدن وشي. اوس نو بناپارت لوی سردار شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې وويل:

- ما مخکې دا دعوا نه ده کړې چې ليکل شوي فرمانونه ټول ښه او په ځای دي، خو په دې نو پوهېږم چې تاسو څنګه کولې شئ د بناپارټ په هکله داسې قضاوت وکړئ، هر څو مره چې غواړې ملنډې ووهې، ولې زه غواړم ووايم چې زه بناپارټ يو مشر سردار جنګيالی ګڼم.

سردار معمار استاد ته چې فکر يې کړی و ،دی دنورو هېر شوی دی، او د الو شويو غوښو په خوړلو لګيا و ، غږ وکړ:

- ميخائيل ايوانوويچ ماخو تاسو ته ويلي و چې بناپارټ د تاکتيک له پلوه بې ساری دی؟ مهرباني وکړئ، هغه هم داسې خبرې کوي.

استاد ځواب وکړ:

-همداسې چې وايې، والاحضرته!

مشر سردار بيا وخندل، هماغه دوديزه سړه خندا چې د ده ځانګړې ځانګړتيا وه.

- بناپارټ ته خدای دويم ځل ژوند پيرزو کړ.

هغه پياوړي پوځيان لري، د دې تر څنګ هغه د نړۍ لاندې کول،له المان نه پيل کړی دی، المان تر اوسه يوازې تنبلانو لاندې کړی نه دی. له هغې ورځې نه چې دنيا ، دنيا ده، المانيانو له هر چانه ماتې خوړلې ده ، هغوی پر هېڅ سيال بری نه دی موندلی، نه، نه داسې نه ده. دوی هغه وخت بری تر لاسه کوي چې په خپل مينځ کې سره وهي. بناپارټ هم خپل وياړونه، پر هغو د بری نه پيل کړې ده.

تر دې وروسته يې د بناپارټ د هغو تېروتنو شمېرنه پيل کړه چې د هغه په اند بناپارټ په ټولو جګړو او آن سياست او اداره کې کړې دي. زوی يې که څه هم د هغه د خبرو په وړاندې څه نه ويل، خو ښکاره وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه هم د پلار په شان په ډېرو دلایلو ، که څه هم ډېر قوي وو ، نه قانع کېده. هغه له خپله نظره نه تېرېده. اندرې د پلار خبرې په ځیر اورېدې، له هغه سره یې د سیالۍ نه ډډه کوله، خو په دې حیران و چې دا بوډا ،دا څو کاله په یوه لرې کلي کې یوازې پروت دی، مګر څنګه د اروپا د ټولو وروستیو کلونو له پوځي او سیاسي چارو نه خبر دی او څنګه په ډېرې زورتیا ، حیرت او احتیاط، د هغو په اړه قضاوت کوي.

زاړه سردار دا سې پایله واخیسته:

-ته دا سې انګېرې چې زه زوړ شوی یم او له هغه څه نه چې په دنیا کې تېرېږي، خبر نه یم. ته باید پوه شې چې زما خیال یوه شېبه هم له دې خبرو بې غمه نه دی.دا خیالونه او دهغو غم په شپو شپو په ما خوب حراموي. ښه، اوس راته ووایه چې دا ستا مشر سردار خپل هنر او ځانګړتیاوې چېرته او چاته ښوولې دي؟

زوی یې ځواب ورکړ:

- دا اوږدې خبرې دي.

-چې دا سې ده، نو ولې نه ځئ د بناپارت لپاره ځان نه ځاروئ؟ په روانه فرانسوي ژبه یې چیغه کړه:

-مهرباني وکړئ، دا هم ستاسو د ټولواک یو روغ لیونی!

پیغله بوري ین ځواب ورکړ:

-حضرته سرداره ! تاسو خو پوهېږئ چې زه د بناپارت له پلویانو نه، نه یم؟

بوډا سردار، په یو نا سندریزه آواز وویل:

- خدای پوهېږي چې بیا به راستون شي او کنه؟او تر هغې نه لا په بې ډوله خندا له میزه پاڅېد او ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانه شهزادګۍ د دغه ټولو خبرو او ډوډۍ په اوږدو کې چوپه خوله پاتې وه او په وحشت سره به یې کله شهزادګۍ ماریا او کله به یې هم خپل مېړه ته کتل. کله چې دوی هم له میزه پاڅېدل، د شهزادګۍ ماریا لاس یې راونیو ، هغه یې بلې کوټې ته وبلله او ورته وې ویل:

-ستاسې پلار څه با فرهنګه سړی دی، کېدای شي له همدې امله دی چې زه ورنه وېرېږم.

شهزادګۍ ځواب ورکړ:

هو ، تصور یې هم نه شي کولای چې څومره مهربانه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۵

د بلې ورځې ژېړې مازيګر و چې سردار اندرې ځان تګ ته چمتو کاوه. سره له دې هم مشر سردار د خپل ژوند په ټاکلي ژوند کې هېڅ بدلون را نه وست او تر غرمنۍ نه وروسته بيا هم د خپل کار کوټې ته لاړ. کمکۍ شهزادګۍ د خپل مېړه له خور سره پاتې شوه.سردار اندرې چې ساده، سفري کالي اغوستي وو، په هغه کوټه کې چې له مخې ور ته ټاکل شوې وه، د چوپړانو په مرسته د سفر کالي تړل.

تر هغه وروسته يې چې خپله ګاډۍ وکتله، سپارښتنه يې وکړه چې په هغې پورې آسونه وتړي. په کوټه کې، له لويو پنډونو نه يوازې هغه څه پاتې و چې ده تل هغه له ځانه سره ګرځول. هغه يوه بوخچه او صندوقچه وو چې په هغه کې به جامې، ډوډۍ، دوه توري تمانچې او هغه توره چې پلار يې د اوچاکوف، له جګړې سوغات ورته راوړې وه، پراته وو. سردار اندرې د دغو شيانو ځانګړې ساتنه کوله. هر څه نوي او پاک وو. دا ټول شيان په سپينو پنبيزو پوښونو کې په ډېرې ځيرکتيا تاو او په نازکو کلکو رېښکو تړل شوي وو.

په دوديز ډول د سفر او خوځېدو په وخت کې ټول په ځان لاسبري خلک د خپل ژوند په ورځنيو چارو، کړو وړو او انديښنو کې د ژور بدلون شاهد وي. په دې وخت کې د تېرو وختونو اندازلګوي او د راتلونکې په ټولو تاندو مزو فکر کوي. د سردار اندرې څېرې د يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندیښنې او فکر کیسې کولې. لاسونه یې تر شاسره غوټه کړي وو او په چټکۍ د کوټې له یوې خوا نه بلې خوا ته، ګرځېده راګرځېده او راتلونکې ته په اندیښنو کې ډوب و او سر یې ښوراوه.

ایا جګړې ته له تګ نه ویرېده؟

ایا د ځوانې ښځې یوازې پرېښودو زوراوه؟

یا کېدای شو چې هم له دې ویرېده او هم له هغه. په هر حال، هغه هېڅ هیله نه درلوده چې دی په دې حال څوک وګوري، نو ځکه یې د چا د ګامونو د غږ په اورېدو لاسونه په چټکۍ پرېښودل، د میز تر څنګ ودرېد او داسې یې ښودله چې ګواکې، د صندوقچې د پوښ په تړلو لګیا دی. هغه ځان آرامه کړ او څېرې ته یې همیشنۍ بڼه ورکړه، دا د شهزادګۍ ماریا د ګامونو غږ و چې را رسېدونکې وه.

شهزادګۍ ماریا چې سا یې سوې وه او داسې برېښېده چې په ځغاسته راغلې وي، وویل:

-وا مې ورېدل چې چوپړانو ته د ګاډۍ د چمتووالي سپارښتنه شوې ده، ډېر مې زړه غوښتل چې له تاسره لږ او یوازې د زړه خواله وکړم، ځکه خدای پوهېږي چې بیا به تر څه وختونو پورې یو بل و نه وینو. زما په راتګ خو به دې خوا بده نه وي؟

او د خپلې پوښتنې د بشپړتیا لپاره یې وویل:

-آخر (اندروشا !(له نازه اندرې ته وایي- ژباړونکې) ته ډېر بدل شوی یې !

او د اندروشا د نوم په ویلو وموسېده. له ورایه څرګنده وه چې تصور یې هم نه شو کولای چې دا غوښ او ښکلی جګ نارینه دې، هماغه د دوی د ماشمتوب د وخت ډنګر، شیطان او د ده ملګری اندروشا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې، د هغې د پوښتنې په ځواب کې وموسېد او ځواب یې ورکړ:

- نو لیزا چېرې ده؟

شهزادګۍ ماریا، په کراره، په مخامخ ولاړه څوکۍ کې کیناسته اوویې ویل:

- هغه داسې ستومانه شوې وه چې همالته زما په کوټه کې ځای پر ځای پر څوکۍ خوب یووړه.اې،وروركېه !څه ښځه، څه ښکلې ښځه لرې،لال د جواهرو ده. هغه څه کوئ چې کټ مټ لکه ماشوم داسې ده. یو خوږ، خوشحاله، سپېڅلی ماشوم، پوهېږم ببخې پرې مینه شوې یمه.

سردار اندرې چوپه خوله پاتې شو. خو ویې نه شو کولای هغه د ملنډو او نه باور نښې چې دده په څېره او سترګو کې را څرګندې شوې وې، و نه وینې.

-اندرې،ولې ورې نیمګړتیاوې او تېروتنې باید په درناوي سره وبښل شي. څوک دي چې دغه شان نیمګړتیاوې نه لرئ ؟دا باید هېره نه کړې چې هغه د پلازمېنې په یوه بډایه کورنۍ کې زیږېدلې،لویه او همالته روزل شوې ده.ددې نه چې تېر شو، د هغې اوسنی د امېدوارۍ حالت، هم هومره ښه نه دی، انسان باید کله کله ځان د نورو په ځای تصور کړي. په دې ټولو شیانو چې پوه شي بیا به ببښل ګران نه وي. بېچاره ماشوم چې له هغه ژوند سره روږدې شوې ده، اوس باید له خپل مېړه نه جلا او د ژوند په دې ګران وخت کې په کلي کې یوازې پاتې شي. اوس یې نو تصور وکړه چې باید څه حال ولري؟وحشتناکه ده.

سردار اندرې خپلې خور ته کتل او موسېده، هماغه شان موسکا چې د ځینو کسانو د خبرو د اورېدو په وخت کې ګومان کوو چې د هغو سپېڅلي ګوګل په غوره توګه وینو ،هغه زیاته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته خپله په کلي کې ژوند کوې، خو دغه او سېد نه تاته وحشتناکه نه برېښي.

-زما بله خبره ده، ته ولې دلته زما د حالت خبرې کوې. زه د بل ډول ژوند هیله نه لرم او نه شم کولی د هغه هیله ولرم، ځکه زه بل ډول ژوند نه پېژنم. مګر اندرې، ته لږ فکر وکړه، ځوانه او با معاشرته ښځه، د هغه ژوند په خورا ښکلي منګ او کلونو کې د یوه لرې کلي په کونج کې خښوې، هغه هم یوازې. ځکه پلار جان خو تل په خپلو ځانګړو کارونو اخته دی او زه؟ ته ما پېژنې او پوهېږې...زه یوې ښځې ته چې د پلازمېنې رنګین او له شر و شور نه ډکې مېلمستیاوې، نڅاوې او بنډارونو یې لیدلي دي، څومره ساده، بې وزله او بې رنګه برېښم. پاتې شوه، پیغله بوري ین....

سردار اندرې په دې وخت کې د خور خبرې پرې کړې او وې ویل:

-زما د تاسې دا بوري ین، هېڅ نه خوښېږي.

-وای، داسې مه وایه ! ډېره مهربانه او پاک زړې نجلۍ ده. له ټولو غوره لادا چې د رحم وړ ده. هېڅوک نه لري، هېڅوک، که رښتیا را نه پوښتې په دې کور کې د هغې او سېدنې ته، نه یوازې اړتیا نه لیدله کېږي بلکې زما د رنځ او عذاب سبب هم ده. ځکه ته خو پوهېږئ، زه تل له خلکو تښتم، له هغوی نه ځان لرې کوم، اوس تر هر بل وخته، همداسې یم. زه په یوازېتوب مینه یم. خو هغه پلار جان ته ډېره ګرانه ده، پلار له دوو تنو سره ډېر ښه کوي. همدا پیغله بوري ین او میخائیل ایوانوویچ. د دې خبرې علت هم دا دی چې دا دوه تنه خپل ژوند ،د هغه له برکته بولي. د هغه د مینې او د هغه د مینې له برکته. لوی لیکوال ستېرن (په اتلسمه پېړۍ کې ایرلندی -لیکوال) به ویل:

- " موږ ته زیاتره خلک، نه یوازې له دې کبله چې موږ ځان د هغو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې منت بار بولو بلکې د هغو ښو له کبله ګران دي چې مور له هغو سره کړي دي. "

پېغله بوري ین، یوه یتیمه پېغله وه چې پلار جان چېرته په لار کې پیدا کړې وه. هغه ډېره پاک زړې او مهربانه ده او د هغې کتاب لوستنه، د پلار جان ډیره خوښېږي. هغه په شپو شپو هغه ته په لوړ آواز کتابونه لولي او ډېر ښه یې لولي.

سرداري اندرې ناڅاپه پر خور غږ کړ:

ښه ماریا، رښتیا را ته ووایه، زه داسې تصور کوم چې کله کله د پلار جان زغمل هم تا ته ډېر ګران دي؟

شهزادګۍ ماریا، د دې پوښتنې په اورېدو، تعجب وکړ، خو وروسته یې په وحشت سره وویل:

- ماته؟... ماته؟ ماته یې زغمل ډېر ګران دي؟

سردار اندرې په لوی لاس، پلار په ترخه ژبه یاد وه چې خور په حیرت کې واچوي یا یې وآزمایي، خو هغې وویل:

-البته، دا خبره ما ته نوې والې نه لري، خو د هغه د ژبې ځیږوالی، تریخوالی او تېره والی، په تېره بیا اوس رښتیا هم له زغمه لرې شوی دی. شهزادګۍ په داسې ژبه غږېده چې ګواکې د خپلو خیالونو لمن یې نیولې، نه د اورېدونکو، هغې وویل:

اندرې، ته له هر پلوه ښه یې، خو یوه ستره فکري نیمګړتیا لرې چې زما په اند هغه لوی عیب دی. هغه دا چې څنګه څوک کولای شي، د خپل پلار په هکله داسې فکر وکړي لکه ته یې چې کوې؟ بیا هم که دغه شان فکرونو ته اجازه وای، نو دغه شان شخصیتونو لکه زمور پلار څنګه کولای شي پرته له مینې او خواخوږۍ نه، بل څه د چا په زړه کې راوېښ کړي؟ زه د هغه تر څنګه ډېره راضي او نیکمرغه یم. یوازینۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله مې داده چې ته هم زما په څېر نیکمرغه واوسې.

ورور په څنډه‌نې باور سر ښوراوه.

ماریا دوام ورکړ:

- اندرې، که رښتیا را نه غواړې، یوازې یو شی دی چې زغم یې زما لپاره ډېر ګران دی او هغه د مذهب سره د پلار اړیکې دي. زما په دې هېڅ سر نه خلاصېږي چې په داسې ستري پوهې، عقل او منې سمبال یو سړی، داسې یو څه چې د لمر په شان ځلېږي، و نه وینې او څنګه دا شونې ده چې داسې بې لارې شي؟ دا زما د ژوند د تریخوالي یوازینۍ سرچینه ده، خو په دې وروستیو وختونو کې، په دې برخه کې هم یو څه ښه والي راغلي، یو څه موده کېږي چې په مذهب پورې د هغه ملنډې ډېرې ترخې نه دي او له دې نه لا غوره داده چې یو راهب هم پیدا شوی چې څو ځله پلار هغه منلی او ډېرې اوږدې خبرې یې ورسره کړې دي.

سردار اندرې په ښه خو د پېغور په ژبه وویل:

- مګر زما د زړه سره! زه له دې وېرېږم چې ستا او د هغه راهب ټولې خوارۍ د سیند په غاړه کرلې ګلان نه شي.

-ګرانه وروره، زما توکل په خدای دی او هیله لرم چې خدای تعالي مې دعا ومنې. یوه شېبه چوپه شوه. او بیا یې وویل:

ګرانه اندرې، زه له تا نه هم یوه هیله لرم.

-کومه هیله، ګرانې خورې!

-نه، نه، ژر یې نه وایم. تر هر څه لومړی ته راته ووایه چې هغه یې منې. زما هیله، نه تا ته کومه ستونزه پیدا کوي او نه کوم ناوړه کار دی، خو که ته هغه ومنې، زما له اوږو نه به یو لوی بار لرې کړې؟ ژبه وکړه او لاس را کړه، چې منې یې.

ماریا، چې دا خبره وکړه، لاس یې جیب ته کړ، یو څه یې له جیب نه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیستل، خو ښکاره یې نه کړل. دا ښکاره وه چې همدا په لاس کې پټ شی، د دې هغه هیله ده چې باید ورور یې ومني، مګر تر هغه چې له ورور نه ژمنه وا نخلي، هغه به ورته ښکاره نه کړي.

په هیله ناکو او آرامو سترګو یې ورور ته وکتل.

سردار اندرې دا سې چې ګواکې نور نو پوه شوی دی، ځواب یې ورکړ:

-آن که د دې هیلې سرته رسول، زما لپاره د ډېرو ستونزو سبب هم کېږي، هغه به د ...

-ته چې هر فکر کوې، کوه یې، زه پوهېږم چې ته هم کټ مټ د پلار جان په څېر یې. ته چې خپله هره عقیده لرې، هغه لره، خو دغه کار هم زما د خوښۍ او خاطر لپاره وکړه، هیله کوم دا ومنه.دا لا زموږ د پلار د پلار، آن زموږ نیکه، په ټولو جګړو کې له ځان سره ګرځاوه...

هغې ،هغه څه چې له کڅوړې نه لاس کې را اخیستي و، هماغه شان یې پټ نیولی و.

-ښه، نو ژمنه کوې چې زما هیله منې؟

-هو کې، منم یې، اوس وو ایه خبره او هیله څه ده؟

-اندرې، زه تا ته دغه وړوکي شمایل د حضرت مسیح کوچنی تصویر د تبرک په ډول درکوم، ته به لاس راکوې او ژمنه به کوې چې هغه به هېڅکله له ځانه، نه لرې کوې، څنګه ژمنه ده؟

سردار اندرې ځواب ورکړ:

- که د هغه درونډوالي دوه پوته (۱۲ګرامه کیلوګرام زیات ) په اندازه نه وي، غاړه مې ماته نه کړي، ستا د خیال د ساتلو لپاره به هغه...

خو سمدلاسه،دهغې خوابدۍ له لاسه چې دده ددغې ټوکې له امله د هغه دخور په څېره راخوره شوه، پښیمانه شو، خپلې پیل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره يې نيمګړې پرېښووه، خو وې ويل:

- په ډېره مينه يې منم... بيا يې زياته کړه:

رښيتا وايم، په ډېرې مينې... ګرانې! ستا له دې تبرک نه خورا خوشاله يم، رښتيا خوشاله يم.

د شهزادګۍ ماريا غږ چې له ډېرې ګبڼې نه رېږدېده، وې ويل:

-دا به ستا د ټولو بې اعتقاديو سره سره تا ژغوري، ګناهونه به دې بښي، تا به ځان ته وربولي، ځکه رښيتا، آرامي او سپېڅلوالی يوازې په هغه کې نغښتی دی.

دا يې وويل او د دې خبرې سره يې همماله په يوې پرتميني او درنې خوځېدا يې، يو کوچنی، لرغونی، ګرد، شمايل چې د زيات وخت په تېرېدو په هغه کې د حضرت مسيح څېره تته شوې وه، په دوارو لاسونو، د ورور تر مخې ونيو. په خپل ټټر يې صليب انځور کړ (عيسويان د لمانځنې يا د کومې پيښې په وخت کې، پر ټټر صليب انځوروي- ژباړن) شمايل د سپينو زرو په يوه قاب يا اډانه کې ځای پر ځای او نازک ښکلی زنځير يې هم د سپينو زرو و.

هغې شمايل ښکل کړ او اندرې ته يې د ورکولو په وخت کې وويل:

-اندرې، دا زما د زړه د خاطر په خاطر....

د هغې په غټو سترګو کې د مينې او خواخوږۍ شغلې ځلېدې. د غو سترګو د هغې په رنځېلې او وچې بشرې ړنا خپروله او ښکلوله يې. د هغې ورور غوښتل صليب واخلي، خو هغې، هغه ودراوه. اندرې په خبره پوه شو، په تندي او ټټر يې صليب انځور کړ او بيا يې خپله صليب مچ کړ. د هغه په څېره کې همماله د خواخوږۍ (ځکه اغېز يې پرې کړی و) او ملنډو نښې څرګندې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ ماريا وويل:

- مننه ! ګرانه !

ماريا دخپل ورور تندی مچ کړ او بېرته په څوکۍ کېناسته.دواړه چوپ شول.

تر لنډې چوپتيانه وروسته ماريا ،ورور ته وريادوه کړه:

-ماخو تاته وويل اندرې ،ښه به دا وي،هڅه وکړې چې دتل په شان مهربان او دلوی زړه خاوند واوسې.

هغې زياته کړه:

- ليزا په خپلو نيوکو مه زوروه،هغه خورا خواخوږې او مهربانه ده،هغه په يوه کړکېچن حال کې ده.

-ماشې !(په روسي ژبه ماريا ته له نازه ماشه وايي )زما خو داسې کوم څه په ياد نه دی.چې تاته مې ويلي وي چې دکوم څه په خاطر مې خپله ښځه رټلې وي،يا مې له هغې نه چاته ګيله کړې وي،نو ته ولې ماته داخبرې کوې؟

دماريا بشره،تکه سره او خپله چوپه شوه،داسې سره او چوپه چې ګواکې دملامتۍ احساس يې راوپارېده.

خو اندرې دوام ورکړ:

-ما هېڅ شکايت نه دی کړي،خو تاته خدازده چا څه ويلي او همدا خبره ده چې زما زړه شينه وي.

سره داغونه،دشهزادګۍ ماريا ،اننګو ،تندی او غاړې ته هم ورخواره شول.هغې غوښتل څه ووايي،خو نه يې شو کولای.دماريا ورور رښيا هم پوه شوی و چې خبره چېرې ده،تر غرمنۍ نه وروسته کشرې شهزادګۍ(داندرې ښځه )دهغې تر مخې ژړي او ويلي يې و چې دماشوم زېږېدنې دې ته خورا سخته او له بدمرغۍ سره مل برېښي،دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويلي و چې دې نه ډېره ډاربږي او له دې سره د خپل مېړه او خسر له کړو وړو نـه هـم ګيلـه لـري.هغـه پـه همـدې ژړا او ګيلـو کې خـوب وړې وه.هو کې،خو داندرې چې خپلې خور ته يې زړه خوږېده،وې ويل:

-ګرانې ماشا ! ته بايد په يوه خبره پوه شې،زه هېڅکله خپله ښځه نه ملامتوم،ملامته کړې مې هم نه ده او ملامتـه بـه يـې هم نه کړم او لـه هغې سره په کړو کې ځان هم هېڅ نه شم ملامتولای او څه به په ژوند کې نه راځي،دا بـه همداسې وي.او کـه تـه غـوارې پـه رښـتيا پـوه شـې...کـه غوارې په دې پوه شې،چې زه نيکمرغه يم؟نه ! کـه غـوارې پـه دې پـوه شې چې هغـه نيکمرغـه ده؟نـه ! دا ولـې؟ پـه څـه علت؟ پـه دې زه هـم نـه پوهېږم.

هغه د دې خبرې په لړ کې خور ته نږدې شو ،سر يـې ټيـټ کـړ او هغـه يې په تندی مچ کړه.د هغه ښکلې سترګې چې په هوښـياری،مهربانی او غيرمعـولې ځـلا ځلېـدلې، نـه خـور تـه بلکـې د هغـې د سـر لـه شـا نـه،د خلاصې دروازې تتې تيارې ته کتل.

هغه وويل:

- درځـه چـې هغـې تـه ورشـو ،بايد خـدای پـه امـانی وکـړو.يـا کـه تـه غوارې يوازې ورشه، راويښه يې کړه،بيا به زه درشمه.هغه ناڅاپـه خپـل چوپړ ته غږ وکړ:

-پتروشکا !دلته راشه ! دا درټول کړه.

د پتروشکا د رارسېدو سره يې هغه ته وويل:

-دغـه بـه پـه ګـاډۍ کـې د ناسـتې پـه ځـای او دغـه بـه يـې ښـۍ خـوا تـه کېږدې.

شهزادګۍ ماريا پاڅېده،د دروازې خوا ته وخوځېده،بيا ودرېده او ورور ته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-که تا ایمان لرلای،دخدای په لمانځنه کې به دې،دهغه له دربار نه دهغې مینې هیله کړې وای چې ستا په زړه کې نه شته،پاک الله به ستا غږ اوریدلی وای او هرومرو به یې در پیرزو کړې وای.

سردار اندرې ځواب ورکړ:

-ښه !ربښتیا وایې؟ ماشې !ځه لاړه شه،زه اوس درځم.

دخور کوټې ته دتګ په وخت کې یې ،په لاره کې ،په هغې لاره کې چې دوه ودانۍ یې سره نښلولې، پېغله بوري ین چې نرۍ موسکایې پر شونډو خوره وه،ولیدله.پېغلې هغه ته یوه خوږه موسکا وکړه.دا دریم واره چې نن دوی په دې اوږده نرۍ لاره کې سره مخامخېدل او هر وار به همدا خوږه خو ساده موسکا دهغې پر شونډو راخورېده.خو دا دپوهېدو وړ نه وچې هغه ولې سره شوه او سترګې یې ښکته واچولې،مګر وې ویل:

-ما تصور کاوه چې خپلې کوټې کې یاست.

اندرې تند ،تند هغې ته وکتل او ناڅاپه یې پر څېره د قهر لړلې راخورې شوې.تک سور واوښت.سردار پرته له هغه چې دهغې سترګو ته وګورې،دهغې کوڅیو او تندی ته په سپکاوې وکتل ،هېڅ یې ونه ویل او خپله مخه یې ونیوه.کله چې دخور کوټې ته ننېږدې شو،پوه شو چې کشره شهزادګۍ راویښه شوې وه او دهغې له خوښۍ نه ډک خوږغږ چې کلمات یې یو په بل پسې ادا کول،له خلاصې پاتې شوې دروازې نه اوریدل کېدل.هغه داسې ژرژر غږېده چې ګواکې له ډېرې چوپتیا نه وروسته غواړي،دلاسه وتلې وخت ،پور ادا کړي.

هغې ویل:

-نه نه !تصور یې نه شي کولای،دا بوډۍ ،ګرافینه زوبووا ، له خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصنوعي خولۍ او له خپلو مصنوعي غاښونو نه ډکې خولې سره غواړي، په زړښت ملنډې ووهي.هاهاها !ماريا.

سردار اندرې ،له نورو سره په خبرو اترو کې له خپلې ښځې نه ،د ګرافيني زوبوفۍ په اړه ،همدغه خبرې ،له همدې خندا سره ،لا تر اوسه پنځه شپږ ځله، اوريدلې وې.هغه په کراره کوټې ته راننوت.

شهزادګۍ ،غونډه منډه ،تکه سره ،د اوبدلو ټوکر په لاس ،په ارامه لاس لرونکې څوکۍ کې ناسته ،پرله پسې غږېده او د سن پترزبورګ ديادونو په تازه کولو يې ،پخوانۍ خبرې همدا سې تکرارولې. سردار ورننېږدې شو ،دهغې څنې يې ونازولې او وې پوښتل:

- د لارې ستومانۍ دې لرې شوې او کنه؟

هغه پاڅېده او خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ.

د سردار ،شپږ آسيزه ګاډۍ ،کور ته نږدې ،دزينو مخې ته ولاړه وه.په کوڅې کې د مني تورې شپې لمن غوړولې وه.هوا داسې تياره وه چې ګاډيوان د ګاډۍ ريښکۍ نه ليدلې ،ځينې کسان شمعې په لاس د کور مخې زينو کې ولاړ وو.دا ستره ودانۍ ،دلويو کړکيو دځراغونو په شغلو کې لګېدلې برېښېده.ټولو چوپړانو ،دکور مخې ته ځکه ګڼه ګونډه جوړه کړې وه چې غوښتل يې له ځوان سردار سره ،مخه ښه وکړي. د کورنۍ غړي او نږدې خپلوان:ميخائيل ايوانوويچ ،پېغله بوري ين، شهزادګۍ ماريا او شهزادګۍ ليزا ، په مېلمستون کې ولاړ وو.سردار اندرې ،دپلار دفتر ته، ددې لپاره غوښتل شوی و چې له هغه سره په کراره او جلا خدای په اماني وکړي.ټول دهغه راوتلو ته، سترګې په لاره وو.کله چې سردار اندرې ،دپلار کوټې ته ورننوت ،مشرسردار خپلې زړې پخوانۍ عينکې په سترګو کړې او سپين اوږد کميس يې اغوستی و.هغه پرته له خپله زويه ،بل څوک په دې جامو کې نه منل.هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دميز تر شا ناست و او کوم څه يې ليکل.هغه زوی ته وکتل او وې ويل:

-ښه ځئ !او بېرته يې ليکل پيل کړل.

-دمخه ښه لپاره راغلم.

زاړه سردار ،خپل غومبری وروښود او وې ويل:

مچ يې کړه ،مچ !-مننه ،مننه.

-د څه نه مننه؟

-داترټولو نه غوره کار دی چې نه تمېږي او دښځې خبرې نه مني ،له هغې نه مننه ،ډېره مننه.او بېرته يې ليکل پيل کړل.داسې ليکل چې دليکلو له ښکې نه يې شغهار خوت.له ليکلو سره همماله يې وويل:

-وايه !څه دې ويل غوښتل ،دليکلو سره يې اوربدی هم شم.

-دښځې په اړه مې ،زه داسې شرمېږم چې هغه ستاسو په اوږو ،در پېټی کوم.

-بنګېږه مه ،په ډاګه يې ووايه.

- کله چې دماشوم د زېږد بېدو وخت رانېږدې شي ،ښه به دا وي مسکو ته څوک داکتر پسې ولېږل شي چې د ماشوم د زوکړې په وخت کې همدلته وي.

مشر سردار ،داسې هک پک پاتې شو چې ګواکې د زوی په خبرو پوه شوی نه وي ،برند ،برند ،خو په ځير يې زوی ته وکتل.

سردار اندرې چې له ورايه ناارامه بريښېد ،وويل:

-زه پوهېږم که طبيعت مرسته ونه کړي ،هېڅوک مرسته نه شي کولای ،زه دامنم چې له ميليون ،ميليون دغه شان پېښو نه يوازې يوه بدمرغه وي ،دا دايې خو هسې ددې او زما خيالونو دي ،خدای خبر چې هغې ته يې څه له ډاره ډکې ډنډورې سره غږولې دي ،هغې خوب ليدلی ،هغه ډارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا سردار چې بيا ليکل پيل کړي و، تر شونډو لاندې وبنګېده:

-ښه ده، ښه... بېغمه اوسه. د قلم په چټکۍ خوځېدا يې ليک، لاس ليک کړ، بيا يې په چټکۍ مخ زوی ته ورواړه او په خندېدا يې پيل وکړ او وې ويل:

-لو يه سرخوږي ده کنه؟

-کومه سرخوږي؟ پلاره.

زاړه سردار، په لنډه خو له معنی نه ډکه وويل:

-ښځه !

سردار اندرې ځواب ورکړ:

-زه نه پوهېږم.

بوډا وويل:

-ښه ده ملګريه ! چې ښځه دې وکړه، همدا سې وي، بيا هېڅ نه شي کولای، له ورخه تللې او به بېرته نه راګرځي، ځه ډار بېږه مه... هېچا ته به ونه وايم، خپله پوهېږئ !

په ډنګر او وچ لاس يې د هغه ځنګل راونيوه، ټکان يې ورکړ، په ځيرو او ژورو کتو يې مخامخ د هغه بشرې ته داسې کتل چې ګواکې، د هغه د ګوګل د تل رازونهويني او بيا يې خپلې سرې خندا ته دوام ورکړ.

زوی يې سوړ اسويلی وويست او دده دا اسويلی ددې ښنه وه چې ګواکې پلار دده د زړه له حاله خبر شوی دی. پلار د خپل عادت سره سم په چټکۍ، د ليک د پاکتونو، تړلو او مهرولو ته دوام ورکړ.

له مهرکولو نه د اوزګارۍ په شېبه کې يې وويل:

- ښکلې ده ! زما له لاسه چې څه کېږي، هغه به ورته کوم، بېغمه اوسه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې، چوپ و. هغه له دې چې پلار يې دده د زړه د تل په راز پوه شوی و، هم خوشاله و او هم خپه و. بوډا پاڅېد او ليک يې زوی ته ورکړ او وې ويل:

-غوږ شه ! د ښځې له خوا د ربغمه او سه، هغه څه چې بايد وشي، هغه به ټول وشي. او س لږ ارامه شه او دا ليک به ميخائيل ايلاريانوويچ ته ورکړې. هغه ته مې ليکلي چې تا ته يوه غوره چاره وسپاري او ډېر وخت دې خپلې ياورۍ کې و نه ساتې دا ياوري خورا بد کار دی. ته به هغه ته ووايې چې زما هېر نه يې او هماغسې را ته ګران يې چې وې. هو کې !دا به را ته وليکې چې څنګه يې ستا هرکلی وکړ. که يې ستا ښه هرکلی وکړ، ښه چوپړ يې کوه، د اندرېووېچ بالکونسکی زوی، هسې په منتونو د چا خدمت نه کوي، او س نو دې خوا ته راشه !

هغه په داسې چټکۍ خبرې کولې چې نيمايي تورې او کلمات يې سم نه ادا کول، خو زوی د هغه له دا شان خبرو سره روږدی و او په ټولو پوهېده. زوی يې د خپل کار ميز ته ورنېږدې کړ، د ميز جعبه يې راکش کړه او له هغې نه يې يوه کتابچه چې په غټو، اوږدو خو خورا نېږدې تورو ليک شوې وه، راوويسته.

- په اغلب ګمان چې زه به له تا نه مخکې مرم، دا زما يادښتونه دي، زما تر مرګه وروسته به هغه ټولو اک امپراتور ته سپارې، بله دا چې دا د لومبار، د بانک لپاره دليک مل يوه حواله ده. دا د هغه چا لپاره يوه جايزه ده چې د سووروف، د جګړو تاريخ وليکي، دا د فرهنګ ټولنې ته واستوئ. او د غه پاتې مې ، ټول ځانګړي يادښتونو دي، زما ترمرګه وروسته به د هغو لوستنه تا ته خورا ګټوره وي.

اندرې پلار ته ونه ويل چې نور ډېر کلونه به عمر کوي، ځکه د دې خبرې يادونې ته يې اړتيا ونه ليده، خو دا يې وويل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پلار جانه !دا به ټول وکړم.

هغه خپل لاس زوی ته د مچولو لپاره وروړاندې کړ ،هغه یې غېږ کې کېښکود او وې ویل:

- خو یو څه په یاد لره، که تا ووژني، ما بوډا ته به خورا دردمنه او ګرانه وي...هغه ناڅاپه چوپ شو او بیا یې هم ناڅاپه په زګېرون او لوړ اواز دوام ورکړ:

- او که پوه شوم چې کړه وړه دې، د نیکولای بالکونسکي د زوی په څېر نه وي، دلته له ځانسره وبنګېده او بیا یې وویل:

-ما ته به خورا ... شرم وي.

زوی ومو سېده او وې ویل:

-پلار جانه !دې خبرې ته د ویلو هېڅ اړتیا نه وه.

بوډا چوپ شو ،خو اندرې خبرو ته دوام ورکړ:

-نور مې غوښتل له تاسو هیله وکړم، که زه ووژل شم، که زما زوی پیدا شي، مه یې پرېږدئ چې له تاسو لرې وي، لکه هغه شان مې چې بېګا تاسو ته وویل، ښه به دا وي چې هغه له تاسو سره لوی شي ...هیله کوم.

بوډا وخندل او وې ویل:

-ښځې ته دې ورنه کړو.

هغوی پټه خوله یوبل ته مخامخ ولاړ وو. بوډا په ځیر مخامخ د زوی سترګو ته کتل او ناڅاپه په دې وخت کې د بوډا د مخ په لاندنې برخه کې، څه وربېږد بدل.

او په لا ناڅاپي یې، هغه ته وویل:

- مخه ښه و شوه، درځه !

د کوټې دروازه یې خلاصه کړه، په خواشیني او لوړ اوازیې چیغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل:

-درځه !څه ته ګورئ؟

دواړو شهزادګیو ولیدل چې سردار اندرې راووت، هغوی ولیدل.وې لیدل چې مشر سردار چې ،سپین اوږد کمیس په غاړه، زړې پخوانۍ عینکې په سترګو او مصنوعي څڼې یې په سر نه وې ،یوه شېبه له خپلې کوټې نه راووت،دواړو وپوښتل:

-څه شوي؟څه خبره ده؟

سردار اندرې، سوړ اسویلی وویست،ځواب یې ورنه کړ،خو خپلې ښځې ته یې وویل:

- ښه ! او دا (ښه)دا سې یوه دا سې سړه ننبه په ځان کې نغښتې وه چې ګواکې غواړي ووايي:

-اوس دې نو خپلو تړکو ته دوام ورکړه.

د کمکۍ شهزادګۍ له ډاره رنګ والوته او مېړه ته یې په کتو کتو کې هغه ته ،وویل:

-اندرې ! دومره ژر؟

اندرې هغه په غېږ کې راتاو او کښېکښېوده.شهزادګۍ چیغه کړې او بېسده دهغې پر اوږو ورولوېده.

سردار اندرې، خپله هغه اوږه چې مېرمن یې پرې سر ایښی و، په کراره،لږ راوویسته،دهغې بشرې ته یې وکتل او په نرمۍ یې په لاس لرونکې څوکۍ کېنوله.هغه په سړه سینه خور ته وویل:

-دخدای په امان ماریا.دهغې لاس یې کېښکود او په مخ یې سره مچ کړل او بیا په چټکو ګامونو له کوټې نه ووت.

کشره شهزادګۍ پر څوکۍ پرته وه، پېغلې بوري ين،دهغې څنګې ورمښلې او شهزادګۍ ماریا هغه تر ترخګ لاندې نیولې وه،خو دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اوښکو ډکې سترګې، لاهماغسې په هغې دروازې کې خښې وې چې سردار اندرې ترې وتلی و.بیا یې د هغه په نامه، پر ټټراو تندي د صلیب نښــه تېــره کــړه.د مشــر ســردار لــه کــوټې نــه،ډزو تــه ورتــه،د پزې دزاړه سوغهاري، پرله پسې ،خو دخواشینۍ نه ډک اوازونه اورېدل کېدل.د سردار اندرې د وتلو سره سم،دمشـر سردار د کـوټې دروازه رابېرتـه او دی پخپله دیوې شپېې لپاره اوږد سپین کمیس پـه غاړه،پـه خورا تریـو تندي او برندو کتو ،راښکاره شو.هغه په ملامتۍ او په خورا خواشینۍ ،پر څوکۍ بېسدې پرتې شهزادګۍ ته وکتل ،سر یې وښوراوه او وې ویل:

-لاړ؟نو ډېر ښه شو !

او د کوټې دروازه یې پورې کړه.

## د لومړۍ برخې پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی کتاب

# دویمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

د ۱۸۰۵ کال د اکتوبر میاشت وه چې روسي پوځ، د اتریش د ایرځگیرځو گستفا، ښارا او دهغه کلي په داسې حال کې لاندې کول چې هغو ته له روسیې نه، نور تازه کنډکونه رارسېدل. د براونا دکلا د شا وخوا په کلو کې په مېشتېدو سره یې د سیمې دخلکو ژوند تریخاوه. د کوتوزوف، سرقوماندانې د براونا په کلا کې پرته وه.

د ۱۸۰۵کال د اکتوبر په یوولسمه د براونا سېمې ته، نیم میله نږدې یو مېشت کنډک د سرقوماندان کتنې ته سترگه په لاره و. د غه کنډک د سیمې د ناروسوالي او دچاپیریال د نا اشنایۍ سره سره (د میوو باغونه، د تېږو دیوالونه، دختو بامونه، لرې پراته غرونه، غیر روسي وگړي چې په حیرت یې سرتېرو ته کتل) د بل هر هغه روسي کنډک په څېر و چې چېرته د روسیې په زړه کې یې ځان، کتنې ته چمتو کاوه.

پرون ماښام ناوخته، داسې سپارښتنه رارسېدلې وه چې، سرقوماندان به د دغه کنډک نه صحرایي کتنه کوي. که څه هم د کنډک د قوماندان د اند له مخې، د سپارښتنې، کلمه دوی ته چندان روښانه نه وه او د شک له مخې یې دا پوښتنه رامنځ ته کوله چې د صحرایي پرېږ، مراسم به ترسره کېږي او کنه؟ مگر د کنډکونو په جرگو کې پرېکړه شوې وه چې د درناوي گارډ به، پر هغه بنسټ ځکه وړاندې کېږي چې تر نه درناوي نه درناوی غوره دی. له همدې کبله و چې سرتېري د دیرش میله سفرد ستړیا سره سره بیاهم تر سبا پورې ځکه و بېده نه شول چې ټوله شپه یې، په پاکولو، جوړولو او گنډلو تېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه.قوماندانانو او دهغو یاورانونه یوازې خپل جوړ او وران مهمات او وسایل بلکې د روغو ،ناروغو ،حاضرو او غیرحاضرو سرتېرو شمېرنه برابرولـه.دهمـدې هڅـو پـایلې داګـتـه وکـړه چـې پرونـۍ ګـډوډه نـوې رارسېدلې دوه زریزه ډله،سهار ته داسې یوه منظمه قطعه وه چې دهغې هروګړی پـه خورا پـام خپـل ځـای او دنـده پـېژنـده، هرې تنـۍ او تسـمې خپل ځای موندلی و او له پاکې نه لکه لمر داسې ځلېده.د سرتېرو دغـه پاکي او سپېڅلوالي، نه یوازې دهغـو پـه جـامو او څېروبلکې کـه ستر قوماندان غوښتي وای، دهغو کالو لاندې څارنه او پلټنه وکړي،هغه به د هر سرتېري تـر اغوسـتو کوټونـو لانـدې پـا ک کمیسـونه او د هریـو پـه کڅوړه کې بـه یې دخدمتنامې لـه مخې،هغـه شـان چې سـرتېري خپلـه وايي(تار او ستن)هم پیدا کړي وای،خو یوه خبره چې ټول یې سودا یي کـړي وو ،هغـه د سـرتېرو بـوټ وو.لـه نیمـا یي نـه دزیـاتو سـرتېرو بوټـان شلیدلي وو.خو دا دکنډک دقوماندان نیمګړتیا نـه وه،ځکـه دهغـه دوار وار غوښتنلیک اوټینګار سره سره بیاهم د اتریش، لوژستیک هغـه تـه دده دغه وړاندیز پـوره کـړای نـه و. اوکنـډک لـه همـدغو شـلیدلو بوټـانو سره، زر،ورست(د اندازي مقیاس) لاره وهلې وه.

دقطعې قوماندان،یوتندمزاجه جنرال،چې دګڼوبڼو او غوږولانـدې وینښتان یې سپین شوي،څورب،شډل او داسې پلن و چې ټټر او سینه یـې تـر اوږو هغـو سـورور برېښـده.دقطعـې قومانـدان،هغـه چاتـه پـاتې کېـده چـې ګـواکې دخپـل ژونـد یـو ترټولـونـه غـوره پرتمینـه چـاره ،پـه نیکمرغۍ ترسره کوي.هغه چې دتیارسۍ قطعې په وړاندې ګرځېده ،له هرګام سره یې ځان ربړدېده او ملایې لږ خمېده. داسې بربښـېده چې،پـه خپلـه قومانـدانـۍ کـې نیکمرغـه دی، پـر خپلـې قطعـې خـورا ویـاړي او دهغـه زړه دهغـې دقطعـې لـه نظمـه بـل ارمـان نـه لري،خو دهغـه دغـه لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوروه ډ کې خوځېدا دا څرګندونه هم کوله چې د هغه په زړه کې د پوځي مشغولتیاوو ترڅنګ، عیش ونوش او ښځوسره لېوالتیا هم غوره ځای لري.

هغه د خپل یوکنډک پر قوماندان غږ وکړ:

-میخائیل میتریچ !

(د کنډک قوماندان د غږ په اورېدو. یو ګام را وړاندې شو او داسې بربښېده چې هغه هم ځان خورا نیکمرغه انګېره) او وې ویل:

-پرون شپه مو پر تبۍ تېره شوه ،خو ښکاري چې پایله یې خوراښه ده ،قطعه بده نه برېښئ؟

د کنډک قوماندان چې د خپل قوماندان په ټوکېزه کنایې پوه شو. وموسېد او وې ویل:

-که د څاریځن(د مسکو باغونه) په چمنونو کې هم وای،ښه به مو نیولای و.

قوماندان وپوښتل:

-دا څه وایئ؟

په دې وخت کې پر هغه واټ چې ښار ته رسېدونکی او پیرې،پرې درول شوې وې،دوه سواره راښکاره شول.د هغو یو تن د مشر قوماندان یاور او بل تن له هغه سره مل قزاق ،چې شاته پسې روان و.د ټولو قواوو قوماندانۍ ،خپل یاور ددې لپاره رااستولی و چې د پرونۍ فرمان ناڅرګند ټکي د قطعې قوماندان ته څرګند کړي.دا خبره په دې معنی وه چې د ټولو قواوو قوماندان ،دا هیله لرله ،چې د غه قطعه دې باید ،دراخوځېدو او تګ دوخت په حالت کې وګوري: جامې، خولۍ اونور هرډول چمتوالی سپیڅلیا او نور....

تېره شپه د روس د ټولو قواوو قوماندان کوتوزوف ته ،د ویانا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربار د پوځي شورا يو غړی له دې وړاندې سره راغلی و چې څومره ژر کېږي ،بايد روسي قواووې،د ارځګيرخوک فرديناند او ماک له پوځونو سره يوځای شي.کوتوزوف چې د پوځونو په دغه يوځای کېدو کې، خپله ګټه نه ليده ،تکل لاره چې دنورودلايلو ترڅنګ چې دځان دقناعت لپاره يې لرل،اتريشي جنرال ته دا وښيي چې دده تر قوماندې لاندې قواوو ته،په څه سختۍ له روسيې نه تازه قواووې رارسي...که څه هم ياور له دومره خبرو نه خبر نه و ،د ټولو قواوو دقوماندان سپارښتنه يې ،دقطعې قوماندان ته څرګنده او هغه داچې سرتېرو بايد کوټان اغوستي او خولی يې په سر،وي او کنه له دې پرته به هغه خورا نا راضي وي.

دقطعې قوماندان،ددغو خبرو په اورېدو ،سر ښکته واچوه او پرته له هغه چې ځواب ووايي ،اوږې يې پورته واچولي،لاسونه يې چې د خورا خواشداني او قهر ښه و ،دواړو خواوو ته پرانستل او په ګواښمنه ژبه يې د کنډک قوماندان ته وويل:

-نور يې نو سترې کړی يم،ماخو تاسو ته ويلي و ميخائيل ميتريچ چې د سفر برۍ تر ټولو غوره ،خبره کوټونه دي.

هغه په ملامتۍ د کنډک قوماندان ته وکتل او زياته يې کړه:

-اخ !زما خدايه !

دا يې وويل، څو ګامو ټينګ،ټينګ مخکې لاړ او دهغه چا په شان چې ژبه يې له قوماندانۍ سره رږدې وي،غږ وکړ:

- ښاغلو دکنډکونو قوماندانانو ،د ټوليو مشرانو او بريدګيو !...

بيا ياور ته وروړسېد ،له ستاينې سره مل په خورا ادب يې چې ګواکې، په خپله دټولو قواوو قوماندان سره غږيږي،وپوښتل:

-څه وخت به دې دليدو ويار را په برخه شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-فکر کوم یو ساعت وروسته !داسې چې ده ،نو د کالیو بدلولو ته وخت لرو ؟

-نه پوهېږم، جنرال صاحب...

دغونډ قوماندان،د سرتېرو کرښو ته ورننېږدې شو او سپارښتنه یې وکړه چې ټول دې بیا خپل کالي بدل کړي.د ټولیو قوماندانان، خپلو ټولیو ته منډې کړې او واړه قوماندانان د لوژستیک او تحویلدارانو په لټه کې شول، ځکه په رښتیا هم د کوټونو ،حالت ښه نه وو.په یوه شېبه کې خوره ارامي په ګټه ګوټه او اله ګوله بدله شوه، څارلو نظم مات کړ، له هره پلوه شر وشور شو.او له هرې خوا سرتېرو منډې وهلې او ګامونه یې اچول، تلوار یې کاوه او تلل، راتلل، پټکونه یې ارتېږل، کوټونه وو چې راویستل کېدل، لاسونه وو چې په لستوڼو ننوتل او کوټونه وو چې اندازه کېدل.

ترنیمې ګړۍ وروسته، هرڅه بېرته په خپل ځای او نظم بېرته ټینګ شو ،خویوازې د سرتېرو ،تورمربع ډوله درېدل،لږ خړ رنګه بربښېدل.د قطعې قوماندان،بیا په خپل هماغه، ټینګو او ریږد بدونکو ګامونو ،د قطعې مخې ته ووت،ددې لپاره لږ شا ته لاړ چې هرڅه ښه ووینې،ناڅاپه یې پر یوه ځای سترګې خښې او چغې یې کړې:

-دا لا پسې څه دي،وګورئ ! د درېیم ټولي قوماندان چېرې دی. راشئ ! دې خواته راشئ !

-د درېیم ټولګي قوماندان دې جنرال ته ورشي ! د درېیم ټولګي قوماندان دې، جنرال ته ورشي !

دې غږونو په کتارونو کې انګازه جوړه کړه اویو یاورهغه پسې داسې، پلټنه کوله چې بربښېده.دهغه له پیدا کېدو سره چندان لېوالتیا نه لري، خوبیا یې هم هغه پسې کتارونه لټول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د غـه تلو سـه ښـو د ونکي غږ ،لـه ډېرو چغـو او تکـر اره د اسـې بـدل شـو :چـې جنـر ال تـه ،د رېیم کنـډک تـه..نـو ،غـږ خپـل ځـای ونیـو او راغو ښتل شوي افسر د خپل ټولي له شانه راښکاره شو ،که څه هم عمر خوړلی او د منډو نه و ،مګر هڅه یې کوله چې منډه کړي.د بوټونو ځوکې یې سره نښـتې وې او د جنـرال پلو یـې تلـوار کـاوه.د ټـولی د قومانـدان څېره ،له خورا ډاره، د ښوونځي ،هغه زده کوونکي ته ورتـه شـوې وه چې د نازده کړو لوستو ، پوښتنه ترې کېږي.د هغه پـه سره پـزه(کېـدای شـي د زیاتو ودکاوو د څکلو له امله به سره شوې وه ) څه د اغونه راخواره وو او د خولې غړي یې د اسې له واکه وتلي وو چې هېڅ نه په کرار ېدل. د غونډ قوماندان خپل د غه لومړي بربډ من تـه چې پـه ستما ستما ده تـه نږدې کېده لا پسې کرارېده ،سر تر پښو وکتل.

جنرال چې خپله لاندنۍ ژامـه یـې وړانـدې کولـه،د د رېیم ټولي یـوه سرتېري ته چې د خمتا پـه رنګ کوټ یې په ځان او له نـورو سره یې ډېر توپیر درلوده ،اشاره کوله او چیغه یې کړه:

-ډېر ژر به خلکو ته پلاستیک ور په غاړه کړئ ! دا څه شي دي؟خپله چېرې وې؟هلته د ټولو قواوو قوماندانـرا روان دی او تـه لـه خپـل ځایـه ورک یې.زه به اوس تاته وښیم چې د ټولو قواوو قوماندان د معاینې پـه وخت کې خلکو تـه د قزاقـې کـالو اغوستل څه معنی؟ هو کې؟ د ټولي قوماندان چې په جنرال سترګې خښې کړې وې،د ښي لاس دوې ګوتې یې پرله پسې، د خپلې خولې پـه یـوې څنډې کېښکودلې او د اسې یې انګېرله چې ژغورنه یې په همدې کېښکودو کې نغښتې ده.

جنرال چې د غږ اواز یې، د زغرد او ملنډو ترمنځ و ،وویل:

-ښه نو د اڅوک دی چې ځان یې د هنګریانو په شان جوړ کړی دی؟

-تاسو عالی جناب؟ تاسو عـالی جنـاب؟ تاسو عـالی جنـاب؟ تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالي جناب؟له خپل عالي جناب سره وغږېږئ... عالي جناب لا پسې څه شي وي؟...

لومړي بريد من ځواب ورکړ:

- عالي جناب، دا دولو خوف دی چې رتبه ترې اخيستل شوې ده...

- ښه نو چې رتبه ترې اخيستل شوې ده !دفليد مارشارل رتبه خو به يې نه وي ورکړې...هغه سرتېری دی...او سرتېري؟سرتېري، بايد دټولو په شان خپله دريشي واغوندي.

-تاسو عالي جناب، په خپله اجازه ورکړې ده چې په صحرايي عمليا تو کې...

جنرال څو شېبې ارامه شو اوبيا يې وويل:

- اجازه مو ورکړې؟ اجازه مو ورکړې ؟ اجازه مو ورکړې، يعنی څه؟ اجازه مو ورکړې ! اجازه مو ورکړې !تاسو ،افسران ټول همدا سې ياستئ. اجازه مو ورکړې ! تاسو ته يوه خبره لا چا نه وي کړې او تاسو بيا...لږ ځنډ يې وکړ او بېرته په قهرشو او وې ويل:

-تاسو ته يوه خبره لا چا نه وی کړې او تاسو بيا...دا خبرې څه معنی لری؟ اوس غوږ شه، خپلو سرتېرو ته سمې جامې ور واغوندئ.

جنرال له هغه مخ واړوه، ياور ته يې وکتل او په هماغه ښودونکي، رېږدېدونکي تګ ،دغونډ دکتارونو خواته وخوځېد.دا سې بربښېده چې خپل قهر يې خپله خوښ شوی او دغونډ دکتنې په وخت کې ،دبيا قهرېدو لپاره، کومې پلمې پسې ګرځي.يو افسر نه يې له دې امله پليت راوشکاوه چې هغه يې سم نه وګنډلی او ديوه ټولي قوماندان يې په دې وښکانځه چې سرتېری يې په کرښې کې کوږ ولاړ و:

-دا...دا آخر دا څنګه دربدل دي؟پښو ته يې ګورئ چېرې دي؟او کرښه چېرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغه وروسته چې د ربیم ټولی ته ورسېد ، هغه ځای ته چې پنځه شپږ تنه وروسته دولوخوف، هغه څوک چې خمتا رنګه کوټ یې اغوستی و ، ولاړ و ، ده چیغه کړه ، داسې چیغه چې یو رنځ یې په غږ کې نغښتی وي.

-ولي دا شین بخن کوټ؟ دلګی مشره ! ژر نوي کالي راوړه او ددې ښاغلي جامې وربدلې کړه.

دولوخوف، خپلې کړې پښې، په خورا سختۍ راسمې کړې، په برندو او رڼو سترګو یې جنرال ته وکتل.

- شین کوټ لا پسې څه وي؟ مړ دې ... ورواغوندۍ... ده لا دا خبرې پای ته نه وې رسولې، چې زیاته یې کړه:

-جنراله ! زه یوازې یوه دنده لرم چې د مشرانو سپارښتنې ومنم، خو دا دنده نه لرم چې د هغو د سپکاوي...

-په جبهه کې غږېدل نه شته ! غږېدل نه شته ! غږېدل نه شته !...

دولوخوف په زوره چیغه کړې:

- دا دنده نه لرم چې د هغو سپکاوي وزغمم.

د جنرال او سرتېری سترګې سره ونښتې. جنرال چپ شو ، له غاړې نه د سخت تاو شوي دستمال غوټه یې لږ راخلاصه، لږیې ښکته را ښکته کړ او په لرې کېدو ، لرې کېدو کې یې وویل:

- له تاسو نه هیله کوم ، اجازه راکړئ، جامې بدلې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

په دې وخت کې له لرې نه يوه ځارونکې، نارې کړې:

- را روان دی.

د غونډ قوماندان تک سور شو، د آس خواته يې ورمنډه کړه. په رېږدېدونکو لاسو يې د آس رکاب را ونيو، پښه يې هلته کېښوده او خپل درونډ ځان يې په زين کې پر ځای کړ، خپلې جامې يې راسمې، سم کېناست، خپله توره يې را وويستله، په ډاډمنه او خوشاله څېره او يوې خواته پرانستې خولې، دې ته چمتو شو چې فرمان ورکړي او چيغه کړي. غونډ د هغه مرغه په څېر چې ځان وڅنډي، بڼې را ټولې کړې او ارامه شو.

د غونډ قوماندان، د اسې اواز چې د زړه تارونه يې رېږدول، چيغه کړل:

-غونډ...تيا...رسئ.. !

په دې چيغه کې په ځان ډاډمنتوب، پر غونډ د لاس بري او د پوځ را رسېدونکې ستر قوماندان ته هرکلی څرګندېدل.

پر پراخ واټ کې چې دواړو خواته يې د ونو کتارونه ولاړ وو، په وين کې يوه جوړه شوې شنه بخنه ګاډۍ چې آسونه يې يو بل پسې تړل شوي وو، په چټکۍ را روانه وه. ګاډۍ چې د څرخونو نرم آواز يې انګازه کوله، د قوماندانانو د سپرو ساتونکو له خوا بدرګه کېده. اتريشي جنرال چې سپينې دريشي يې د روسي پوځيانو د تورو جامو په منځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ورایه برېښېده، د کوتوزف تر څنګ ناست و. ګاډی د غونډ د راټولیدو ځای ته نېږدې ودرېده. کوتوزف چې په کراره له اتریشي جنرال سره خبرې کولې، کله چې د هغه درانه ګامونه له رکابه، ځمکې ته راټیټ کړل، داسې یوه ښکلې موسکا یې پر شونډو خوره وه چې ګواکې هغه دوه زره تنه چې سا یې په ګوګلونو کې بنده کړې وه او د غونډ قوماندان ته ګوري، هېڅ نشته.

د هرکلي اواز، هرڅه ولړزاول، د غونډ قوماندان بیا وریږدېد، د قطعې مخې ته ودرېد او یوه مرګنۍ چوپتیا لاسبرې شوه. په دغې مرګنۍ چوپتیا کې د پوځ دسترقوماندان، ټیټ اوازوا ورېدل شو. د غونډ قوماندان وغړمبېد او ځواب یې ورکړ:

جلالتمئاب، هر...که...له (جلالتمئاب دې هرکله) او بیا د چوپتیا لمن وغوړېده. کوتوزوف، پخپل ټاکلي ځای کې ودرېد او د غونډ تر مخې یې پرېټ تر سره کړ، تر هغه وروسته یې د سپین کالو جنرال او نورو بدرګه کوونکو سره مل ټوله قطعه، پلې کتار په کتار وکتله. د قطعې قوماندان چې د ځلېدونکې تورې په ملتیایې، د را رسېدو په شېبه کې د پوځ ستر قوماندان ته سترګې ګنډلې وې، د ستر قوماندان د خوځېدو له خونده یې خوند اخېست. هماغسې یې خوځېدا او سینه ویستلې ولاړ و، هغه ته یې درناوی وکړ او تر هغه وروسته یې، لږ سر ښکته کتار په کتار په جنرالانو پسې روان و. هغه چې په خورا سختۍ په هرګام کې د خپلو غړو د ریږدېدا مخه نیوله، ګواکې د ستر قوماندان له هرې خبرې یا وینا سره یې غوښتل وړاندې ورودانګي او داسې برېښېده چې هغه د قوماندانۍ نه د لاس لاند یتوب د دندې د سرته رسولو نه زیات خوند اخلي. د غه غونډ د هغو نورو غونډو پر پرتله چې هممهاله، براوناو ته رارسېدل، د هغه د قوماندان د زیاتو هلوځلو له کبله، په خورا ښه حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې و. د هغه د ناروغانو او له کتار پاتې ښوونکو شمېر په ټولې تولګه دوسوه او ولس تنه وو. که د سرتېرو د بوټونو پر بد حالت سترګې پټې شي، له هر پلوه منظمه او له نیمګړتیاوو لرې و.

کوتوزوف، په ټولو کتارونو وګرځېد او کله نا کله به یې له هغو افسرانو سره چې له ترکیې سره یې د جګړې له وختـه پېژندل په خواخوږۍ وغږېد او کله به یې هم له سرتېرو سره د زړه خواله وکړه. کله چې یې د سرتېرو څېرو او زړو بوټانو ته کتل، څو واره یې سر وښوراوه او اتریشي جنرال ته یې د هغو د ښودلو په شبېه کې وویل چې، که څه هم په دې کې هېڅوک ملامتولی نه شي، خو دا هم هېرولی نه شي چې خورا خرابه خبره ده. د غونډ قوماندان، هر وار له دې وېرې مخې ته هڅه کوله چې خدای مه کړه د خپل غونډ په هکله د ستر قوماندان د کومې خبرې اوربدل ترې پاتې شي. کوتوزوف له خپلو نورو ملګرو سره په داسې یو واټن کې روان و چې ده سره مل شلو تنو بد رګه کوونکو ان دده خورا ټیټې خبرې هم اورېدلای شوې. د غه ښاغلي، یو له بل سره خپلې مرکې او دزړه داسې خواله کوله چې که نا کله به کرس کرس په خندا شول. کوتوزوف ته نږدې د هغه یو ښکلی یاور، روان و. دا ښکلی یاور هماغه سردار بالکونسکي و. د هغه څنګ ته د هغه نږدې ملګری نیسفیځکي روان و. دده ملګری، د قوماندانۍ افسر، لوړه ونه، ښه څورب، د مهربانۍ، موسېدونکي، ښکلې او ځلېدونکې څېرې خاوند و. هغه، خپل څنګ ته د سواره پوځ دا افسر د کړو له کتنې نه وروسته، په سختۍ سره کولای شو د خپلې خندا مخه ونیسي. د سواره پوځ د غه افسر، بې له هغه چې خپله وخاندي، یا یوه ټکې ته خپلې ګنډل شوې سترګې د کتو له ځایه وښوروي، په خورا ځیر یې د غونډ قوماندان پسې کتل او د هغه د ټولو کړو پېښې یې کولې. هر وار به چې د غونډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان ربړېده او ټټر به یې لږ ښکته خواته ټيټېده، د سواره پوځ افسر به هم کټ مټ، په هماغه ډول، ربړېده او وړاندې خواته به خمېده. نیسفیشکي له خندا وران و، په څنګل به یې، نور پورې وهل او د دغه ټوکمار خندونکو کړو ننداره ته به یې بلل.

کوتوزوف، په کرار او خورا نرمۍ د هغو زرګونو سترګو له مخې چې نېږدې وې د کاسو نه راووزي او دده ننداره یې کوله، تېرېده. کله چې د دربیم ټولي مخې ته ورسېد، ناڅاپه ودرېد، د هغه ملګرو چې په دغه ځای کې دده د درېدو اټکل نه کاوه، بې له ارادې دده خواته ورنېږدې شول. د پوځ ستر قوماندان، هغه سور پزی، لومړی برېد من چې د شنه بخن کوټ د اغوستلو له امله ښکنځل شوی و، وپېژاند او ورته وې ویل:

-آ ! تیموخینه !

هغه وخت چې د غونډ قوماندان، تیموخین ښکنځلی و، دا سې سم، چنګ او ځیر ولاړ و چې تا به ویل تر دې نه نور دسم درېدو امکان نه لري، خو اوس چې د پوځ ستر قوماندان له هغه سره غږېده، هسې مجسمه ډوله په ځای وچ ولاړ و چې تا به ویل که قوماندان لږ نور هغه ته وګوري، زغم به یې ونه کړای شي. کوتوزوف چې د هغه دا حال احساس کړی و، له هغه سره د خواخوږۍ په هیله یې په تلوار له هغه نه مخ واړاوه، له پرهر نه په پړسېدلي مخ یې پټه موسکا خوره شوه او وې ویل:

-دا !هو کې ! دا د اسماعیل د جګړو یاردی، خورا زړور افسر دی !او غونډ له قوماندان یې وپوښتل:

- څنګه؟ ته به ترې خوشاله یې؟

د غونډ د قوماندان خورا کوچنۍ خوځېدا چې، د هغه شا ته د سواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسر له خوا لکه هینداره تکرارېدله، سر تر پښو وربږدېد ،مخې تـه لاړ او ځواب يې ورکړ:

-جلالتماب !له هغه نه خورا راضي يم.

کوتوزوف، له هغه نه لرې شو او په موسکا يې وويل:

-په موږ کې هېڅوک بې عيبه نه يو ،هغه دباکوس له سرځارونکو نه و.

دغونډ قوماندان لـه دې وډارشو چې دی دلتـه ملامت نـه وي، هېڅ ځواب يې ورنه کړ.په دې وخت کې دټوکمار افسر، هغه لومړي برېدمن، سره پزي او تنډ خېټې ته پام شو ،دهغه د درېدو او څېرې داسې پېښې يې وکړې چې نيسفيڅکي هر څه وکړل، دخپلې خندا مخه يې ونـه شوه نيـوای او پـه لـوړ اواز يـې وخنـدل.کوتـوزوف، مخ راواړوه، خـو پېښـې کـوونکي افسـر پرخپلې بدليـدونکې څېـرې پـوره لاس بـری درلـوده او کولای شو ،هره شېبه چې هر څنګه وغواړي، هماغسې يې کړه کړي.هغـه د کوتوزوف، دمخ اړولو په شېبه کې هم ،دسترګو په رپ کې خپله څېـره بېرته خورا درنه، ددرناوي وړ او ساده څرګنده کړه.

دربـيم ټـولی، د سـترقوماندان، دکتنې وروسـتی پـړاو و ،دهغـې ترکتنـې وروسـته ،کوتـوزوف پـه خيـالونو کـې ډوب شـوی و ،داسـې ښکارېده چې هغه هڅه کوي، څه وریاد کړي.سردار اندرې د يـاورانو لـه ډلې نه راووت او په فرانسوي ژبې يې هغه ته په کراره وويل:

- تاسوفرمايلي و.هغه دولوخوف چې په دې غونډ کې خدمت کوي او رتبه يې ترې اخيستل شوې ده، ستاسو حضور ته در ياد کړم.

-کوتوزوف وويل:

-دولوخوف چېرې دی؟

دولوخوف چې جامې بدلې کړې وې او خـاورين رنګـه کـوټ يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغوستی و ،دې ته پاتې نه شو چې څوک ورغبرګ کړي.په دې وخت کې د کوتوزوف، هغه ښکلی،ژېړځنی،شین سترګی، سرتېري ته پام شو چې له کتاره یو ګام وړاندې راووت او دده خواته په تلوار راغی او ودرېد.

کوتوزوف،وروځې برندې کړې او وې ویل:

- څه شکایت لرئ؟

سردار اندي وویل:

-دولوخوف دی.

کوتوزوف وویل:

-هو ! هو !هیله لرم چې دغه پېښه دې راسم کړي، خدمت کې هڅه کوه،ټولواک مهربان او ښونکی دی، که څه مېړانه وکړې زه به دې هم هېر نه کړم.د دولوخوف شنې بخونې سترګې، په هغه سپین سترګۍ چې دغونډ قوماندان ته برندې شوې وې، دهغه بر عکس ستر قوماندان ته ځیر پاتې وې.داسې برېښېده چې دی غواړي ،دحال په ژبه غواړي،د ټاکلو مراسمو او تشریفاتو ،هغه دیوال ړنګ کړي چې د ستر قوماندان او یوه ساده سرتېري ترمنځ واتن جوړوي.هغه په تېره ،سندریز او ارام اواز وویل:

- له تاسو نه یوازې یوه هیله لرم او هغه داده چې ،ماته وخت راکړل شي،چې خپله تېروتنه سمه او خپل ټولواک او روسیې ته خپله ځارونه څرګنده کړم.

کوتوزوف، له هغه نه مخ واړاوه.یو ملنډیز غلچک ،هماغه شان غلچک چې د تورن تیموخین نه دمخ اړولو په وخت کې یې بشره ور غوړولې وه،بیا په یوه لنډه شېبه کې بشره وروغوړوله.مخ یې واړاوه او بیا یې وروځې برندې کړې،ګواکې په دې توګه یې غوښتل دا ووایي،هغه څه چې دولوخوف ده ته وویل او هغه څه چې هغه کولې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ته وواييي، ده لاخورا ښخوا اوربدلي او پرې پوهېږي.دا هغه خبرې دي چې دده په ګوګل کې خاورې ابرې شوې دي..هغه راستون شو او دخپلې ګاډۍ خواته وخوځېد.

غونډ، ټولي، ټولی ووېشل شو او سرتېرې په دې هیله چې، دوی ته د لویو او درنو لارو تروهلوورو سته، د براونا و په سیمه کې، ځای، خواړه، کالي او خوب چمتو دي، هغې قرارګاه ته مخه کړه چې دغه ښار ته نبږدې دوی ته ټاکل شوې وه.

دغونډ قوماندان ددربیم ټولي له قوماندانه چې دقرارګاه پلو روان و، مخکې شو او تیموخین ته چې پلی دخپل ټولي مخکې خوځېده، ورنبږدې شو او وې ویل:

-پراخور ایګنانات ویچ! زه هیله لرم چې له مانه به خپه نه یاست.

هغه ترهغه بریالي، نیکمرغه پرېټ او درناوي نه ورو سته داسې خوشاله و چې نه یې شو کولای نښې یې په خپله څېره کې پټې کړي. خدمت، دپاچا خدمت دی...نه کېږي...که بل وار په جبهه کې هسې له حاله ووزي...پروا نه لري...زه خپله لومړی ښښنه غواړم، تاسو ما ښه پېژنئ...هغه له تورن نه ډېره مننه وکړه او لاس یې هغه ته وراوږد کړ.

سور پزی تورن وموسېد او له موسکا سره یې خوله داسې خلاصه شوه چې د اسماعیل په جګړه کې یې د قنداغ له ګوزاره ددوو مخنیو لوېدلو غاښونو، خالي ځای راڅرګند شو او وې ویل:

-ستاسو خوښه! زه څوک یم؟...

-هو! ښاغلي دولوخوف ته هم ووایاست چې هغه زما هېر نه دی، بېغمه دې اوسي، هو کې! مهرباني وکړئ ووایئ، غوښتل مې تاسو وپوښتم چې کړه وړه یې څنګه دي؟او بس...

تورن ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-تـو پيـر لري، جلالتمابـه !يـو ورځ يـو ډول او بلـه ورځ بـل ډول.کلـه ځيرک، هوښيار او مهربانه او کله خو بيا لکه ځناور داسې وي.که اجازه راکړئ ووايم، نېږدې و چې په پولند کې يو يهودي ووژني.

دغونډ قوماندان وويل:

- ښه نو، ښه نو !ځوان دی، دبد مرغی په لومه کې لوېدلی دی، بايد زړه پرې وسوځوو، خورا مخور اشنايان لري، هدف مې دا و چې تاسو...

تيموخين وموسېد او دايې وښوده چې د قوماندان پـه هيلـه پـوه شوی دی، نو وې ويل:

-منم يې ! جلالتمابه !

-نو، ښه ده، ښه ده.

-دغونډ قوماندان دکتارونو له منځه دولوخوف پيدا او هغه ځای ته له رسېدو سره يسم ې خپل اس راتم کړ او وې ويل:

-هو کې زموږ لومړنی کار د افسرۍ پليټونو بېرته اخيستل دي.

دولوخوف، پرته له هغه چې څه ووايي، سر تر پايه يې هغه ته وکتل او دموسکۍ، خو خندا ته نا رسېدلې خوله حالت يې بدل نه کړ.

د غونډ قوماندان، د ښه ده، ښه ده په ويلو سره خپلې خبرې اوږدې کړې او داسې په لوړ اواز چې سرتېري يې واوري، ووويل:

-زما له خوا ټولو ته يو يو جام ودکا !او زياته يې کړه:

-دخدای شکر دی.

هغه ددغه ټولي نه تېر شو او بل ته ورغی.

تيموخين خپل څنګ کې روان افسر ته، ووويل:

-هو کې !که رښتيا راباندې وايي، ښه سړی دی، له هغه سره د دندې سرته رسول په زړه پورې ده...

دمشـــرانو لـــه خوښـــۍ او شـــوره ډک حالـــت، تر کتنـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته، سرتېرو ته هم راورسېد. ټولی په خوښۍ کې ډوب روان و. له هرې خوا نه د سرتېرو د غږېدا شروشور اورېدل کېده.

-نوڅنګه یې ویل چې کوتوزوف کوږ سترګی دی، یوه سترګه یې نه وینئ؟

-هو کې !همداسې، هغه چور په یوه سترګه ړوند دی.

-نه وروره، هغه په یوه سترګه ترما او تا نه ښه ویني، په یو کتو یې هم ستابوټونه او هم د بوټو تلونه ولیدل..

-ودې لیدل چې هغه څنګه زما پښو ته کتل، تصور کوم...

-هغه بل اتریشي چې له دوی سره و، هغه دې ولید...ته وا په صابون یې مینځلی وي، لکه د وړو په شان تک سپین و، داسې بریښي چې له وسلو سره یوځای یې پاکه وي.

-فدوشا !دا راته ووایه !هغوڅه ویل چې اوربل به څه وخت وي؟ته خو نېږدې ورته ولاړ وې.ټولې خبرې د بناپارت په اړه وې، وایي خپله بناپارت او س جبهې ته راغلی دی.

-ته هم لیونی یې، بناپارت دلته څه کوئ؟

-اوس پروس یاغي شوی دی، اتریشیان به لومړی هغه پرځای کېنوي. کله چې پروس پرځای کینول شو ،بیا نو دجګړې وار بناپارت ته رسېږي. تا څه ویل چې بناپارت د برن په ښارکې دی، همدلته دی چې ساده ښکارې، ښه به وي چې غوږونه ښه څک کړې.

-ګوره دا پنځم ټولي ته ګوره !موږ لا لار وهو او هغوی بیا کلي ته رسېدلي او خپله شوله یې بار کړې ده.

- لږه وچه ډوډۍ خو راکړه ،بلا دې پسې وي..

-تا پرون ماته تنباکو راکړه؟ ښه..وروړ !راځه..راځه واخله !خدای دې خیر کوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کاشکې يې يوه دمه سره راکړې وای، کنه په دې تشو ګېډو نوره پنځه ورسته(د اندازې مقياس) لاره وهل قيامت دي.

- بده به نه وای که المانيانو ګاډی راکړې وای، دا سپور تګ هم خپل خوند لري.

- وروره دلته خلک باخاري غوندې رانښکاره شول، پرون ټول پولندي او د روس رعيت وو او نن بيا له يو مخې په خټه جرمنيان دي.

دټولي دقوماندان غږ واورېدل شو:

- سندرغاړي دې مخ ته شي !

دده له غږ سره سم، دټولي له بېلابېلو کتارونو نه دشلو په شاوخوا کې کسانو رامنډې کړې، ترټولو مخکې ډولچي راووت، مخ يې بېرته سندر غاړو ته وروا ړاوه، او دلاسونه په ښورولو يې دهغو د اوازنو لاړښوونه واخيسته او دا پوځي سندره يې وغږوله چې په دې ټکو پيلېږي:

« سپيدې وچاودې او لمر په راختو دی »

او په دې ټکو پای ته رسېده چې:

دا پرتمين وياړ ورونو !دپلار کامينسکی تر مشری...دې سندره چې له ترکانو سره په جګړې کې خورا وياړ ګڼلی، اوس دلته په اتريش کې په دې توپير بلل کېده چې د «پلار کامنيسکې» دټکو ځای «دپلار کوتوزوف»ټکو نيولی و.

ډولچي، چې دخلوېښتو کلونو په منګ او دځانګړې ښکلا خاوند و ،د سندر غاړو دلارښوونې په وخت کې يې لاسونه داسې څنډل چې ته به وايې کوم څه شی په ځمکه ولي، وروسته له هغه يې چې دا وروستي ټکې د سرتېريتوب د ژوند په مينه ادا کړل، په خورا برند غلچک يې سندرغاړو ته وکتل او چې پوه شو چې دټولو سترګې ده ته ځير شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، خپل دواړه لاسونه يې داسې پورته کړل چې ګواکې د تصور له مخې او يا په رښتيا کوم درانه څه جګوي، خو شېبې يې لاسونه همالته په سر ونيول او بيا يې په خورا ناهيلۍ ښکته واچول او په سندريز اواز يې وويل:

-آخ !زما کوډلې !آخ !زما ځالې !

او شلو آوازونو په هماغه سندريز آواز ورسره غبرګه کړه:

--آخ !زما کوډلې !آخ !زما ځالې !

او د کاچوغو (سازيانو کې کله يوتن د کاچوغو اواز باسي) غږونکې، د خپلې وسلې د درنوالي سره سره، په خورا چټکې وړاندې ګام کړل، د ټولي د قوماندان ترمخې يې، په هماغې سندريزه خوشالۍ او مستۍ، د خپلو کاچوغو، څنډلو ته داسې دوام ورکړ چې، ګواکې چاته کرښې باسي او تر هغه وروسته په هماغو ګامونو شاته لاړ. سرتېرو د ترانو د سندريزوالي په وزن لاسونه ښورول او په لوړو او بې له ارادې نه په کلکو ګامونو وړاندې روان وو. د ټولي له شا نه، د ګاډيو د ځرخونو او د آسونو د سمونو بې شمېره ترکهاري اوربېدل کېدل. دا کوتوزوف او د هغه ملګري وو چې ببرته شا ته راستنېدل.

ستر قوماندان، په يوې اشارې ،دا وښودله چې دوی دې خپل ټګ ته دوام ورکړي. دده او دده د ملګرو له څېرې نه دا څرګندېده چې دوی د سندرې له اورېدو ، د کاچوغغږونکې ګډا اييزې خوځېدا او د سرتېرو له سندريز ډله ايز د ګام اخيستو نه خوند اخلې. د ټولي د ښۍ خوا په دويم کتار کې، يعني هماغې خوا ته چې ګاډي تېرېږي، بې له ارادې نه شين سترګی سرتېری خورا د پام وړ دی. دا سرتېري دولوخوف دی چې په ځانګړې ادا او تمکين يې له سندرې سره ګام اخيست او د دوی څنګ ته په تېرېدونکو کسانو يې ځکه زړه سوځېده چې ولې نه شي کولای له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولي سره ملګرتيا وکړي. دکوتوزوف دملګرو ،د سواره پوځ نه،هغه افسر چې دغونډ دقوماندان پېښې يې کولې،له ګاډي نه کوز ،لږ سست او دولوخوف ته ورنږدې شو.

دسواره پوځ دغه افسر ژيرکوف،يو وخت د پترزبورګ دهماغې ياغي ډلې غړی وچې دولوخوف يې مشری کوله.په بهر کې،هغه دولوخوف دسرتېر په جامه کې وليد ،نوځکه هغه داسې وانګېرله چې هغه نه پېژني. او اوس چې کوتوزوف له دولوخوف سره پوښتنه وکړه ،هغه په خورا خوښۍ ده ته پخوانۍ اشنايي وریاده کړه،دخپل آس ګامونه يې د ساز او د ټولي دسرتېرو دګامونو له آواز سره برابر کړل او وې ويل:

- دزړه سره ياره !څنګه يې؟

-دولوخوف خورا په سړه سينه ځواب ورکړ:

-څنګه يم؟راته ګوره !دغه شان چې ګورې مې.

دسندرې ،خوښۍ ښونکي حالت دژيرکوف له خوښۍ نه ډک او د دولوخوف لاسي سړو ځوابونو ته ځانګړې رنګ اوحال وربښه.

ژيرکوف وپوښتل:

-ښه !له قوماندانانو سره دې څنګه يې؟

-کومه ګيله نه لرم.بد خلک نه دي.ښه تا ونه ويل چې تا څنګه په ستره قوماندانۍ کې ځانته ځای پيدا کړ.

-هلته خدمتي يم.هسې نوکريوال.

لږ شېبه دواړه چوپ پاتې شول،خو سندرې داسې دوام درلود:

-خپل بازمې والوزاوه،له ښي لستوني نه مې والوت.

دغې سندرې،دهغو په زړه او ګوګل کې يوه نا اشنا مينه او تلوسه را ويښوله.که دغه سندره نه وای کېدای شو ، دهغو خبرې به خدای زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه رنګ درلود ای.

په دې وخت کې دولوخوف وپوښتل:

-دارښتيا ده چې اتريشيانو ماته خوړلې ده؟

-بلامې پسې، هرڅه چې وايي، همداسې يې وايي.

دولوخوف، په سپينه او لنډه ،لکه چې د سندرې غوښتنه وه، ځواب ورکړ:

-خوشاله يم.

ژيرکوف وويل:

-نوڅه ووايو ،هر وخت چې غواړې، يو ښېګا راشه چې قطعې وکړو ، دفرعون لوبه.

-پيسې دې، پرېمانه پيدا کړي که څنګه؟

-راشه !راشه !

-نه،نه ! نه شم کولای،قسم مې خوړلی،ترهغه چې مې رتبه او پليتونه بېرته نه وي اخيستي،نه به شراب وڅکم او نه به جوارۍ ته لاړ شم.

- ښه له خيره سره، په لومړيو ،عملياتو کې به يې بيا پيل کړم.

-هماغه ساعت، هماغه خبرې.

او بيا دواړه سره چوپ شول.

ژيرکوف وويل:

- که کوم څه دې په کاروي، ښغمه راځه !په قوماندانۍ که هم مرسته درسره کوي...

دولوخوف په ملنډو وويل:

-ښه به دا وي چې زما په خيال کې و نه اوسئ ،که زما څه په کار وي،زه سلا نه کوم، خپله يې اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کې،زه څه ووایم،زه خو...

-هو کې !زه هم همداسې...

- دخدای په امان.

-روغ او سئ.

...او هسک ته،داسمانو پلو

دوطن او مینې په لور...

ژیرکوف،دخپلو بوټونو په څوکه، آس په ځانګړې توګه وواهه او دهغه خولې شوی آس دوه درې واره ځای پر ځای ځکه ګامونه واچول چې نه پوهېده ،له کومې پښې ګام پورته کړي،خو په پای کې وخوځېد او هغه هم څه ځغاسته.د سندرې ،د سندریز اواز په وزن دټولي له څنګه تېرشو او دګاډۍ خواته ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

کوتوزوف، د غونډ تر کتنې وروسته، له اتریشي جنرال سره ګډ د خپل کار کوټې ته راغی، خپل یوه یاور ته یې ورغږ کړ، هغه ته یې سپارښتنه وکړه چې د نویو رارسېدل شویو قوتونو د حالت، د ارشګیرڅوګ فیردینادا او د مخکښ پوځ د قوماندانۍ له خوا راغلي لیکونه ورته راوړي. سردار اندرې بالکونسکي له غوښتل شویو اسنادو سره. د سرقوماندان کوټې ته راننوت. کوتوزوف او د جګړېز شورا غړی اتریشي جنرال د هغه میز تر شا ناست، وچې خریطه پرې غوړېدلې وه.

کوتوزف، بالکونسکي ته وکتل او وې ویل:

-آه !... او داسې بربښېده چې غواړي وواییې لږ تم شه او خپلو پیل شویو خبرو ته یې په فرانسوي ژبه دوام ورکړ.

کوتوزوف، په خوراخوږه، څرګنده، سنجېده او داسې مهربانې ژبې خبره کوله چې اورېدونکې یې دې ته هڅول، د هغه د خبرو یوې یوې بې تلواره ادا شوو کلمو ته په خورا ځیر غوږ ونیسي. دا هم څرګنده وه چې ده هم خپلې خبرې په خورا خوند اورېدلې، هغه ویل:

-ښاغلی جنرال !زه غواړم یوازې دا وو ایم چې که خبره یوازې زما په ځانګړې لېوالتیا پورې اړه لرلای، د اعلحضرت ټولواک فرانتز(له ۱۸۰۴تر ۱۸۳۵ پورې د اتریش پاچا ) هیله به لا پخوا ترسره او زه به لا ډېر پخوا د ارشګیرڅوګ فیردینادا ،له پوځونو سره یوځای شوای

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای.باور وکړئ، تاسو ته په شرافت قسم خورم چې زما لپاره به دډېرې خوښـۍ ځـای وای چې د پـوځ لویـه قوماندانی مـې ترځانـه یـو پـوه او پیـاوړي جنـرال تـه چـې داتـریش پـه پـوځ کـې یـې ډېلگـې ډېـې شـمېره دي،ورسـپارلی وای او دا د پـوراو مسـوولیت پېټـی مـې لـه اوږو لـرې کـړای وای.ولـې ښـاغلیه جنرالـه ! څـه وکـړم؟ کلـه کلـه د حـالتو جبـر تـر انساني هیلو پیاوړي وي.

وموسېد او داسې برېښېده چې گواکې غواړي څه وایي:

-تاسو پوره حق لرئ چې زما خبرې ونه منئ او ان زما لپاره باک هم نه لري چې هغه ومني او که نه یې مني،خوتاسو کولای نه شي،ماته دنه منلو علت څرگند کړي او ټولو خبره هم په همدې کې ده.

اتریشي جنرال لـه ورایـه ناراضي برېښـېده،خونه یې شو کولای پـه هغـه ژبـه چـې کوتـوزوف لـه ده سره غږېده، هغـه تـه ځـواب ورکـړي.پـه خواشیني او خوابدي اواز سره چې دده چوغل ډوله ژبې ته ورته نه و،لـه پخوا نه په چمتو شویو جملو سره یې وویل:

- برعکس ! اعلحضرت ټولواک،په گډو عملیاتو کې ستا سو گډون ته په خورا درنه سترگه گوري،ولې په دې باور یو چې پـه عملیـاتو کـې او سـني ځنډونـه بـه روسـي زړور جنگیـالي سـرتېري اود هغـو نومیـالي قوماندان لـه هغوزرگونـو زرگونـو ویـاړمنو نښـانونو نـه بـې برخـې کـړي چې، دوی یې په هره جگړه کې په گټلو رږدي شوي دي.

کوتـوزوف چـې هماغـه پخـوانۍ موسـکاپر شـونډو وه ،سـر یـې د درناوي په نښه ټیټ کړ او وې ویل:

-ولې زه په دې ډاډمن یم او د ارځگیرځوگ فیردینادا ، لـه وروستي لیکه چې زما پـه نامـه یې لیکلی داڅرگندیږي،باور شته چې اتریشـي پوځونـه بـه د هغـه د پیـاوړي مرسـتیال جنـرال مـاک تـر قومانـدې لانـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا اوس ټاکونکې برياوې ترلاسه کړي او نور نو زموږ مرستو ته اړتيا نه لري.

اتريشي جنرال تندي تريو کړ، که څه هم د اتريشي پوځونه د ماتې خبر لا په پوره توګه چا منلی نه و، خو په دې اړه بېلابېلې اوازې او زورونکې نښې نښانې هم د اتريشانو په ګټه نه وې، نو ځکه د اتريشيانو د برې په هکله د کوتوزوف خبرې زياتې ملنډو ته پاتې کېدې، خو کوتوزوف، هماغسې په سادګۍ او خوښۍ موسېده او د هغه دې موسکا د دې ښودنه کوله چې دده دا ډاډ بې ځايه نه دی، ځکه د ماک د پوځ له قوماندانۍ نه، ده ته رارسېدلی وروستی ليک، د هغه د برې او ښه ستراتيژيک حالت خبرې کولې.

کوتوزوف، سردار اندرې ته وويل:

-ته دا ليک ماته راکړه. او جنرال ته يې مخ وروا ړوه او وې ويل:

-مهرباني وکړئ دا وګورئ! په داسې حال کې چې د شونډو په يو کنج کې يې له ملنډو سره مل موسکا خوره وه، په الماني ژبه يې د ارځګير خوګ فيرديناډا، د ليک لاندنې برخه هغه ته ولوستله:

د اويا زروتنو په شاوخوا کې، خورا ګڼ وډ پوځ لرو، که د دښمن پوځ، د (لخ) له سيند نه راواوړي، دا توان لرو چې پر هغه يرغل او مات يې کړو. اوس مو چې دلئيم ښار لاندې کړی دی، دا امتياز چې پر دونايه، له دواړو خوا لاسبري واوسو، له لاسه ور نه کړو او همهاله که دښمند (لخ) له سينده را تېر نه شي، هره شېبه دا کېدای شي موږ له دغه روده وروا وړو او د هغه پر ارتباطي کرښې ورودانګو اولږ کوز بيا له دونای نه راتېر او دې خواته راواړوو. که دښمن ددې تکل وکړي چې په خپل ټول قوت زموږ په پوځي ملګرو ګزار وکړي، نو دا تکل به يې بې اغېزه کړو. په دې ډول به موږ تر هغه وخته په زړورتيا دې ته سترګې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې پاتې شوو چې د روسیې د امپراتورۍ پوځ په هر اړخیزه ډول چمتو شي او بیا وروسته په ګډه او په خورا اسانۍ د دې امکان پیدا کړو چې دښمن ته هغه څه ور وښیو چې وړ یې دي.

کوتوزوف د دغو کرښو تر لوستنې وروسته ، یو سوړ اسویلی وویست او په ځیر خو مهربانۍ یې د جګړې د شورا غړي ته وکتل.

اتریشی جنرال چې د کوتوزوف یاور ته کتل، ښکاریده، د غه لوبې پای ته ورسوي او ډانګ پېښلو خبرو ته راشي، وویل:

- تاسو عالیجناب ،هغه د احتیاط قاعده چې په ټولو حالاتو کې باید خورا بد حالت ته ځان چمتو کړو هېره کړې نه ده.

کوتوزوف د هغه خبره پرېکړه:

-ښننه غواړم جنراله !

همهاله یې سردار اندرې ته مخ وروااړاوه او ورته وې ویل:

-پوه شوئ د زړه سره ! موږ تـه لـه لومړۍ کرښې نـه ټول راسـېدلي ګزارشونو ، ته له کزلوفسکی نه واخله.دغه د ګراف نوستیڅ دوه لیکونه او دغه د ارځګیرخوګ فیردینادا لیک ، دا ټول درواخله( او هغه تـه یې څه نور کاغذونه هم ورکړل ) په فرانسوي ژبه له هغو نه یو ښه، سپېڅلی ګزارش جوړ کړه او د هغه لنډیادښت سره چې موږ یې د اتریش دعملیاتو د اطلاعاتو نه لرو ،یوځای او چې جوړ شو ،عالیجناب ته یې ورکړه.

سردار اندرې،داسې سر وښوراوه چې، نه یوازې د کوتوزوف په ویل شویو خبرو بلکې په هغه څه هم پوه شوی دی چې هغه ده ته، د هغو دویلو تکل لاره. ټول اسناد او کاغذونه راټول او دواړو قوماندانانو ته تر درناوي نه وروسته،کرار کرار پر قایلینې وخوځېد او له کوټې نه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه له هغه وخته چې سردار اندرې له روسيې نه وتلی و، خورا لږه موده وتلې وه، خو په دغه لنډ وخت کې هغه ډېر بدل شوی و. د هغه په بشره، په خوځېدا او تګ کې هغه پخوانۍ پېښې او ځانښودنې، ستوماني او تنبلي، يو هم نه ښکارېده. هغه، هغه چاته پاتې کېده چې په دې اړه فکر وکړي چې په نورو څه اغېز لري او د هغه کار سخت لېواله دي چې پرې اخته دي. د هغه په بشره کې پر ځان او د خپلې شاوخوا پر خلکود ډاډ نښې څرګندې وې. موسکا او کاته يې ترپخوا هغه نه په زړه پورې او له خوښۍ ډک برېښېدل.

هغه چې په پولند کې، ځان کوتوزوف ته رسولی و، د هغه لخوا په خورا مهربانۍ منل شوی او وعده يې ورکړې وه چې هېڅکله به يې نه هېروي. کوتوزوف، اندرې د خپلو نورو ياورانو په پرتله چې په پولند کې پاتې شول، له ځانسره ويانا ته راوست او هغه ته يې خورا غوره چارې سپارلې وې. د هماغه ويانا له ښاره و، چې خپل پخواني ملګري، داندرې پلار ته يو ليک وليکه:

ستاسو زوی د خپلې پوهې، ټينګار او د چارو په سرته رسولو کې د زغرد دريغ په درلودلو، داهيله راپيداوړې کوي چې هغه به يو خورا بې ساری افسر وي. زه ځان ډېر نيکمرغه ګڼم چې ترلاس لاندې مې يو داسې څوک کار کوي...

د کوتوزوف په قوماندانۍ، د انډيوالانو او په ټولې ټولګه د پوځ په منځ کې، لکه هماغه شان چې د پترزبورګ په ټولنه کې و، سردار اندرې په دوو خورا مخالفو نومونو پېژندل کېده.

يوه ډله چې شمېر يې لږ و، سردار اندرې يوه ځانګړی، ترځان او تر ټولو لوړګانه، د هغه خبرې يې اورېدې، د هغه ملاتړيې کاوه، له هغه نه يې د لوړو بريو هيله لرله او لنډه دا چې د هغو خوښېده. بله ډله چې شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ډېر و ، سردار اندرې یې نه خوښېده.هغه یې تریو تندی، سوړ او بدنیتی ګاڼه، خو د سردار اندرې کړه وړه له هغو سره داسې و چې هغوی له ده نه ډاربدل او درناوي یې کاوه.

سردار اندرې، چې د کوتوزوف له کوټې نه راووت، کاغذونه یې په لاس کې و ، هغه، د انتظار کوټې ته چې نوکرایوال ملګری کزلفسکې ، هلته د کړکې خواته کتاب په لاس ناست و ، ورننېږدې شو.

کزلفسکې وپوښتل:

- ښه ! سرداره وایه څه خبرې دي؟

سپارښتنه شوې چې یو یاد دښت ولیکو او په هغه کې دنه پرمختګ دلایل او لاملونه څرګند شي.

دا نو څه لاملونه دي؟

سردار اندرې اوږې پورته واچولې.

کزلفسکې وپوښتل:

-له ماکه ، کوم خبر نه شته؟

-نه.

-که د هغه ماتې حقیقت لرلای، خبر به یې هرومرو رارسېدلای وای.

سردار اندرې ځواب ورکړ:

دا کار شونی دی، او د وتلو دروازې خواته وخوځېد.په همدې شېبه کې دروازه په خړس راخلاصه شوه او لوړ، خړرنګه کوټ په غاړه، تر سر تور دستمال تړلی او د ماري تریزې نښان په غاړه اتریشي جنرال چې ښکارېده نوی رارسېدلی، کوټې ته راننوت. سردار اندرې له تګه پاتې شو.نوی رارسېدلی جنرال چې شا وخواته یې کتل ، په پرله پسې او بې ځنډه غږېده، په ښکاره المانۍ لهجه یې په چټکۍ وویل:

- جنرال ! کوتوزوف؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کزلفسکي په تلوار دهغه جنرال مخې ته چې نه یې پېژانده، ورغی، د د کوتوزوف، ددروازې خواته یې، دهغه مخه بنده کړه او وې ویل:

-جنرال بوخت دي، که مو نوم وواياست خبر به ورکړم.

نااشنا جنرال له پاسه کزلفسکي ته چې منځنۍ ونه یې درلوده، له دې کبله په سپکاوي وکتل چې ،فکر یې کاوه، څنګه دا امکان لري چې دی څوک ونه پېژني.

کزلفسکي په کراره بیا وویل:

-جنرال بوخت دی.د جنرال تندی لاپسې تریو او راټولې شوې شونډې یې وربږد بدې.دیادښت وړه کتابچه یې له جیبه راوویسته، یو څه یې هلته ولیکل او لیکل شوې پاڼه یې له کتابچې راپرې او افسر ته یې ورکړه، ترهغه وروسته په چټکو ګامونو دکړکۍ خواته لاړ، ځان یې په څوکۍ کې وارتبږه او په کوټه کې یې ناستو کسانو ته داسې کتل ته به وایي چې غواړي په دې پوه شي چې ولې ټول ده ته ګوري.بیا یې سر راپورته او داسې یې غاړه راسمه کړه چې ګواکې غواړي څه ووايي، خو سمدلاسه یې دهغه چا په شان چې له خورا بې پروایۍ د کومې سندرې د ویلو هیله لري، یو عجیب غږ یې له ستوني راوویست، مګر ناڅاپه یې اواز چوپ شو.دکوتوزوف دروازه راخلاصه او کوتوزوف په کې راښکاره شو.دستمال په سر تړلی جنرال دهغه چا په شان چې غواړي له کوم ګواښ نه ځان ژغوري، سر ښکته، پاڅېد ،دډنګرو پښو په چټکو ګامو سره دکوتوزوف خواته ورغی، په مات او ربږد بدونکي غږ یې چې په سختۍ یې له ستوني راوت، وویل:

- ستاسو تر مخې بدمرغه ماک ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتـوزف چې پـه وره کې ولاړ و ، دڅو شېبو لپـاره يـې څېـره لکـه د تېږې په شان کلکه او ناخوښه شوه.بيايې دګونځو ځپه پر مخ راخوره ،خو تندي يې صاف شو ، سريې په خورا درناوي دهغـه پـه وړانـدې ټيټ، سترګې يې پټې او په چو په خوله يې له خپل ځنګه ماک ته دننو تلو لاره ورکړ او تر هغه وروسته يې ځان پسې دروازه ورپورې کړه.

دځولم،دښار په شاوخواکې د اتريشيانو دماتې او دهغو دټول پوځ د تسـليمۍ آوازې چـې مخکـې خـورې شـوې وې،دادې رښـتيا وې.نـيم ساعت لا تېرنه و چې بېلا بېلو قطعاتو تـه يـاوران ولېږل شول،هغوی دا زېری له ځان سره وړ ،هغه روسي پوځيان چې لاتراوسه جګړې تـه نـه دي تللي ،بايد په خورا چټکۍ ددښمن مخې ته ورودانګي.

سردار اندرې دسترې قوماندانۍ له ګوته په شمار افسرانو نه و چې لـه هرڅـه نـه زيـات يـې پـام دجګـړې بهير تـه و.هغـه دمـاک تـر ليـدو او دجګړې د پېښنو تر اوريدو وروسته په دې پوه شو چې دوی نيمه جګړه بايلودې ده. هغه روسي پوځ ته په ورپېښ ګواښ پوه و او پـه خـورا ښـه بڼه يې دا تصور وکړ چې ددوی پوځ ته کوم برخليک سترګه په لارې دی او دايـې هـم تصـور کـړه چې پـه دې پـوځ کـې بـه دده خپـل دريـځ څـه وي.داتريش دځانستايونکي پوځ د ماتې له تصوره او ددې خيال نه چې ځنګه به يـوه اونـۍ وروسـته،د سوروف دزمـانې نه،دلومړي ځل لپـاره دروسې او فرانسې پوځونو دجګړې، داسې جګړه چې دی به يې هم ګډونکوونکی وي،شاهد واوسي،په زړه کې يې دخوښـۍ څپـو ځپې وهلې،خو دبناپارت لـه پـوځي نوښت نه چې دروسي پـوځ دبې سارې زړورتيـا نـه يـې کچـه درنـه وه،خـورا ډاريـده او د خپـل پـوځ دمـاتې د رسوايۍ تصور يې هم نه شو کولای.

سردار اندرې په همدې خيـالانو ، غـم او انديښـنو کې ډوب ،خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې ته له دې امله مخه کړه چې د عادت له مخې پلار ته لیک ولیکي. په لاره کې د خپلې کوټې له ملګري نیسفیڅکي او توکمار افسر ژیرکوف سره مخامخ شو او د تل په شان یې خبرې اترې، ټوکې ټکالې او خندا پیل کړه.

نیسفیڅکي، د سردار اندرې رنګ الوتې څېرې، تبې وهلو سترګو او له ورایه ګبنې حالت په لیدو، وپوښتل:

-څه شوي چې داسې خواشینی یې؟

بالکونسکي، ځواب ورکړ:

-د خوښۍ کومه خبره نشته.

هغه وخت چې سردار اندرې په دهلیز کې له نیسفیڅکي او ژیرکوف سره مخامخ شو، له بلې خوا نه د کوتوزوف په ستره قوماندانۍ کې د روسي پوځ لپاره دلوژستیکي اړتیاړ د پوره کولو اتریشي جنرال، شتراوخ، او په دربار کې د جګړې د شورا غړي جنرال چې پرون شپه رارسېدلی، د دوی خواته راروان و. د لارې ارتوالی متې دومره و. چې د دغو درې تنو له څنګه هغه جنرالان تېر شي، خو ژیرکوف، په لاس نیسفیڅکي، ببرته پورې واهه او په درنې سا ویستلو یې وویل:

-راروان دي، راروان دي، مهرباني وکړئ لاره پرېږدئ.

د جنرالانو له څېرې نه داسې څرګندده وه چې غوښتل یې د دغه درناوي له درانه پېټې ځان وژغوري، خو ناڅاپه د ټوکمار ژیرکوف څېره هغې له ملنډو ډکه خوښۍ وغوړوله چې ګواکې د هغې د پټولو توان یې نه لاره. هغه مخکې لاړ او په المانۍ ژبه یې اتریشي جنرال ته وویل:

-جلاالتماب! ویاړمن یم چې تاسو ته د زړه له کومې مبارکي وایم. تر درناوي وروسته لکه د هغو ماشومانو په څېر چې نڅا زده کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې پښې، بې خياله کله يو خوا او کله بله خوا ته په ګرځنده بڼه خوځولې.

په دربار کې د جګړې د شورا غړي جنرال، برند برند هغه ته وکتل، خو دا چې د هغه احمقانه موسکايې د زړه له کومې احساس کړه، نه يې شو کولای يو شېبه هغه ته ځير ځير ونه ګوري، دا سې هغه ته ځير شو چې ګواکې غوږ يې ورته نيولی دی.

جنرال تندی تريو کړ، مخ يې واړاوه او وړاندې لاړ، څو ګامه چې مخکې لاړ، په خواشداني يې وويل:

-او خدايه !څومره ساده دي.

نيسفيځکي، چې کړس کړس خندل، سردار اندري يې غبرګ کې را ټينګ کړ، خو د بالکونسکې له مخه الوتی رنګ ،لاپسې ژيړ، په خورا قهر يې هغه له ځانه پورې واهه او مخ يې ژيرکوف ته ورواړاوه.د ماک له ديدن او د هغه د ماتې له اغېز نه پرېشانه او عصبي او هغه انديښنې چې روسي پوځ ته څه ګواښونو ترمخې دي، ټول د قهر او غضب د پټ اور په څېر د ژيرکوف د ملنډو په وړاندې لمبې شوې.

لاندنۍ ژامه يې لړ ورېږدېده او په تېره ،خو درانه غږ يې وويل:

-ښاغليه ! که تاسو ددې لېواله ياستئ ټوکمار واوسئ، زه ددې حق نه لرم ،ستاسو مخنوی وکړم، خو غواړم تاسو ته په زغرده ووايم چې که يو ځل بيا مو زما په مخکې د غه شان ټوکې وکړې، بيا به زه تاسو ته وښيم چې ټوکې څه ته وايي.

نيسفيځکي او ژيرکوف، له دغې تندې چارې نه دا سې په حيرت کې وو چې په چوپې خولې او وازو سترګو يې بالکونسکې ته کتل.

ژيرکوف وويل:

-څه خبره شوې ده؟ما خو هغه ته يوازې مبارکي ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالکونسکي چیغه کړل:

-زه له تاسو سره ټوکې نه کوم، اجازه راکړئ، له تاسو هیله وکړم چې چوپ شئ.

هغه د نیسفیځکي مړوند راونیو او له ژیرکوف نه چې نه پوهېده څه ځواب ووایي، لرې شول.

نیسفیځکي د سردار اندرې د کرارولو لپاره وویل:

-څه شوي دي وروره؟ ولې دې طبیعت داسې خرابه دی.

سردار اندرې له ډېره قهره او تلوسې ودرېد او وې ویل:

-څنګه څه شوي دي؟ موږ باید ټول دا په خپل منځ کې په ډاګه کړو چې څوک یو، یا هغه پوځیان یو چې د ټولواک او هېواد په چوپړ کې یو، له خپل ګډه بری نه خوشالېږو او د خپلو پوځي ملګرو په ماتې زورېږو او خپه کېږو. یا هغه نوکران یو چې د خپل بادار په بري او نابري هېڅ کار نه لرو، او ګواکې دا چې په فرانسوي ژبه خبرو خوږوالی او قوت وربښي په فرانسوي ژبه وویل:

-څلویښت زره سرتېري یې ټول وژلي دي. زموږ د متحد، اتریش پوځ ماته خوړلې ده او تاسې ټوکې ټکالې کوې. د غه کار د دغه شان یوه سپک ماشوم او بېعقله سړي لپاره چې تاسو، له هغه سره ملګرتوب کوې، د ښښنې وړ دی، خو نه ستاسو لپاره، هوکې نه ستاسو لپاره. خورا عجیبه ده... اندرې بیا په روسي ژبه خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

-یوازې تنکي زلمیان کولای شي دغه شان ټوکې وکړې، د (تنکي زلمیان) کلمه یې ځکه په فرانسوي لهجه وویله چې تصوریې کاوه، ژیرکوف کېدای شي لا دده خبرې واوري....

هغه سترګه په لاره پاتې شو چې د سواره پوځ افسر ځواب وایي او کنه، خو ژیرکوف راستون شو او له هلیزه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

د پاولوګراد سپورو غونډ، له براونا و، نه دوه میله لرې ځای پر ځای شوی و او هغه سواره چې نیکولای رستوف په کې خدمت کاوه، د جرمني د زلیځنیک په کلي کې مېشت شوي وو. د کلي تر ټولو نه غوره کور د دغه غونډ د سپورو د قوماندان تورن دنیسوف په برخه شوی و. دی په ټول پوځ کې د واسکا دنیسوف، په نامه یادېده او. رستوف نومی افسر هم له هغه وخته چې په پولند کې ځان غونډ ته رسولی و، له ده سره په همدې کور کې اوسېده.

د اکتوبر په اتمه، په همهغه ورځ چې د جنرال ماک د ماتې خبر د پوځ په قوماندانۍ کې هرڅه لاندې باندې کړل او ټول تیارسۍ شول، خو د سواره پوځ په صحرایي قوماندانۍ کې د ورځنۍ ژوند بهیر د پخوا په شان کرار روان و. کله چې سهار د وختـه رستوف پر خپل آس سپور د ونبو ټولولو له دندې نه راستون شو، دنیسوف چې ټوله پرونۍ شپه یې په قمار تېره کړې وه، لا کورته نه و، راغلی. رستوف پوځي جامې په غاړه، د خپل کور تر چوترې پورې وړاندې راغی، خپل آس یې په یوې خوځېدا پورې واهه او خپله یوه پښه یې د ځوانانو په څېر په چټکۍ او نرمۍ له رکابه راخلاصه او لږه شېبه پر بل رکاب وځنډېده، داسې چې ګواکې کولای یې نه شو، زړه له خپله آسه وشلوی، خو په پای کې یې له هغه ګام او خپل پیره دار ته ورغږ کړ.

هغه، هغه سرتېري ته چې په تلوار یې د ده د آس خواته ور وځغاستل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورور ګلوۍ، مینه ناکي او خوږې ژبې، په هغې ژبې چې ځوانان د خوښۍ په وخت کې په خپل منځ کې پرې غږېږي، وویل:

-آه، باندارینکه !ملګریه راشه ! لږېې وګرځوه.

او کرائیني ځوان چې سر یې په خوښۍ ښوراوه، ځواب ورکړ:

-جلالتمابه ! وامې ورېدل.

-ګوره چې ښه یې وګرځوئ، پام پرې ساته.

بل سرتېري هم د هغه د آس خواته ور ودانګل، خو باندارینکه لا دوخته د آس له غاړې غاړکۍ او له خولې نه قیزه لرې کړې وو. ټولو ته څرګنده وه چې رستوف د کار په بدل کې د ودکا پیسې ورکولې او هغه ته منډې وهل یې بې ګټې نه پاتې کېدل. رستوف د خپل آس پر غاړه لاس تېر کړ، بیا یې د هغه څنې ونازولې، د خپل کور په چوترې ودرېد او په خندا یې له ځانسره وویل:

- خورا ښه آس دی، خورا بې ساری !

خپله توره یې لږ ښکته پورته او د زینو خواته یې منډه کړه، د بوټونو د څوکو وسپنو یې شرنګ شرونګ کاوه. د کورجرمنختي، څښتن چې لنډې جامې یې اغوستې او کلیوالي خولې یې پر سر وه او په شاخې یې غوجله پاکوله، د رستوف په لیدو یې طبیعت وغوړېده، وموسېد، سترګه یې کېښکوده او بیا یې په الماني ژبې وویل:

- سهار په خیر !سهار په خیر !

داسې برېښېده چې کوربه د غه ځوان ته له هرکلي نه خوند اخلي.

رستوف په هماغه مینه ناک او له ورو ګلوۍ نه ډکې موسکا چې له شونډو نه یې نه ورکېده، وویل:

- ته بیا وخته په کار لګیا یې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه خبرې چې پـه پرلـه پسې توګـه د کور د الماني ختـه ښنـتن نـه اوربدلې تکرار کړې:

-ژونـدي دې وي اتريشـان،ژوندي دې وي روسـان او تــل دې وي تولواک الکساندر !

الماني چې له خندا نه وران و ،له غـوجلې راووت،خـولـۍ يې لـه سره هسکه کړه،بيا يې هغه تر سر تاو او چيغه يې کړه:

-ژوندي دې وي،د ټولې نړۍ خلک !

- رستوف،د الماني په څېر لـه سره خولۍ پورتـه کړه،هغـه يې ترسر تاو او په خندا يې چيغه کړه:

--ژوندي دې وي،د ټولې نړۍ خلک !

که څه هم نه د جرمن چې خپلـه غوجل يې پاکولـه د خوشالۍ لپاره کومه پلمه لرلـه، او نـه د رستوف لپاره چې د شنو او وښو د راټولـو نـه د خپلو ملګرو سره راستون شوی و ،خو سره له دې هم دواړو په خوښۍ او وروګلوۍ يو بل ته کتل، يو بـل تـه يې پـه خواخوږۍ سرونه وښورول او سره جلا شول.جرمن بېرته خپلې غوجلې او رستـوف خپـل کورتـه چې له دنيسوف سره يې په ګډه لاندې کړی و ،ستانه شول.

دنيسوف د رستوف له ياور،لاروشکا ،نه چې پـه ټول غونډ کې يې په دکمارۍ کې نوم ګټلی و ،وپوښتل:

-ښاغلی چېرې دی؟

لاروشکا ځواب ورکړ:

-پـرون ماښـام چـې وتلی،بيـا نـه دی راغلی،هرومـرو يـې جـواري بـايلودې ده. اوس، ددوی حسـاب راتـه څرګنـد شـوی دی،کـه جـواري وګټي،ژر راستانه کېږي ،چې بيا خپلې اپلتـې او حانسـتاينې وکړي او که يې بايلي تر سهاره به راستانه نه شي ،داسې يې وګڼه چې بـايلودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ده او وير کورته راوړي.ښه ماته څه سپارښتنه؟وبښئ، قهوه درته راوړم؟

-ښه رايې وړه، رايې وړه، وګورو چې څه کېږي.

لاروشکا ،لس دقيقې وروسته، قهوه راوړه او وې ويل:

-را روان دي، اوس نو بدمرغي پيل کېږي.

رستوف له کړکۍ نه وکتل، وې ليدل چې دنيسوف، دکور پلو راروان دی.دنيسوف، وړځانی واو دسرې څېرې خاوندو ،تورې ځلېدونکې سترګې، تور بريت او تورې جږې څڼې يې لرلې.د کالو تڼې يې خلاصې،دزياتو ګونځو پطلون يې لږ ښويېدلی او خولۍ يې هم څټ ته ورلوېدلې وه.په خورا خواشداني او ښکته لوېدلي سر، دکور دمخې زينو ته نږدې کېده.

هغه په خورا خواشداني او قهر چيغه کړه:

-لاروشکا !راشه جامې رانه دو واخله !( دنيسوف،د ( ر ) دتوري پر ځای د( و ) توری کاراوه.

لاورشکا ځواب ورکړ:

-ښه ده ! دادی اوس يې درنه باسم ،نو دا ترخه ژبه څه په کار؟

دنيسوف، کوټې ته ننوت او وې ويل:

-آه ! ته بيا پاڅېدلی يې؟

رستوف وويل:

-زه خورا دوخته پاڅېدلی يم، وښو پسې تللی وم، او د ماتليد ملګرې، نجلۍ مې هم وليده.

دنيسوف، په چيغه، چيغه وويل:

- او زه دسپي بچی، لاړم جوارۍ ته، څه مې چې درلودل، ټول مې بايلودل، څه بدمرغي ده؟څه بدمرغي !همدا چې ته لاړ يې، نور نوبخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم کښېږه وکړه، ورکه وه يې، چای راوړئ !چای.

دنيسوف، خپله خبره داسې برنده کړه چې ګواکې، موسېږي، د هغه لنډ او ټينګ غاښونه له ورايه وبرېښېدل. د دواړو لاسو په لنډو ګوتو يې، خپلې تورې، ګڼې او جږې څڼې، لا پسې جږې کړې.بيا يې په دواړو لاسونو خپل تندی او بشره ومښل او وې ويل:

- هېڅ نه پوهېږم چې چا او څنګه ددې موږک کورته بوتلم ( دوی په قطعه کې يو افسر د موږک په نامه يادا وه ) کولي شې تصور يې وکړې، يو وار مې هم ترې ونه شوه ګټلای، آن يو وار هم.

دنيسوف، لګولای پيپ چې ده ته لاورشکا ورکړ په لاس کې و، هغه يې په ګوتو کې يې کېښکود، خوله ډېره قهره يې پرځمکې ووا هه، اور هرې خواته وشيندل شو او ده چيغه کړې:

- هغه په هر ډول ګټله... پر شيندل شوی اور يې پښه ور کېښوده، پيپ يې مات کړ.اخواته يې وارتبره، بيا چوپ شو او ناڅاپه يې تورو ځلېدونکو سترګو، رستوف ته وکتل او وې ويل:

- کاشکې کومه يوه ښځه پيدا شوې وای، کنه پرته له دې چې شراب وڅکو بل هېڅ کوم کار نه شته. يا کاشکې اوس دا جګړه پيل شوې وای.په دې شېبه کې هغه د دروازې له شا نه د درنو بوټو لرونکو ګامونو د درېدا او له درناوي نه ډک توخې، غږ واورېد، د غږ داورېدو سره يې چيغه کړل:

- آها ! دا څوک دی؟

لاورشکا، ځواب ورکړ:

- د سرکار ډلګی مشر

ددې خبرې په اورېدو، ددنيسوف تندی لا پسې تریو او وې ويل:

- بد کار وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپلو پیسو وړه دجیب کڅوړه یې چې د سرو زرو څو سکې په کې پرتې وې، پر میز واچوله او وې ویل:

-راشه، رستوف جانه !وګوره ! وې شمېره چې څومره پاتې دي او بیا یې د سرو بړدې لاندې کېږده.هغه دا خبره وکړه او له کوټې نه ووت.

رستوف پیسې را واخیستې او په دوه برخو ،زړو او نویو یې وویشلې. یو پر بل یې کېښودې او وې شمېرلې.

د دنیسوف غږ له بلې کوټې نه اورېدل کېده چې ویل یې:

-آ ! تلیاتینه !څنګه یاست؟پرون شپه یې سره تالان کړم.

یوبل نری غږ پورته او وې وویل:

-چېرې؟د بېکوف کره؟د مورېک کره؟پوهېدم.

دهغه پسې جوخت، د سواره پوځ وړوکی ځوان برېدګی، تلیاتین، کوټې ته راننوت.

رستوف د دنیسوف د پیسو جیبي کڅوړه تر سرو بړدې لاندې نښسته او ده ته اوږد شوی په خولو لوند لاس یې کېښکود.دا چاته څرګنده نه وه چې، تلیاتین ولې جبهې ته تر تګ نه مخې،له ګارد نه،غونډ ته رابدل شوی و.کره وړه یې خورا ښه و ،مګر د چا نه خوښېده، په تېره بیا رستوف،نه شو کولای له دغه افسره ،پرخپلې بې دلیلې کرکې لاسبری شي او خپله کرکه پټه کړي.

له رستوفه یې وپوښتل:

-ښه،ځوانه سوره !زما له ګراچیکي نه خوښ یئ؟(ګراچیک دهغې اسپې نوم و ،چې تلیاتین په هغه خرڅه کړې وه ).

دغه برېدګي به ،هېڅکله دهغه چا سترګو نه کتل چې دی به ورسره غږېده او سترګې به یې تل له یو څه نه بل څه ته اوښتې.

-ما ولیدې ،تاسو نن راغلئ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف ځواب ورکړ:

-ښه دی !ښه آس دی.(که څه هم دغه آس چې رستوف په اوه سوه روبله اخیستی و ،دخپلې بیې په نیمایي نه ارزېده )خو زیاته یې کړه:

- خو دهغه چپه مخنۍ پښه لږ ګوډه ، ګوډه کېږي.

-دهغه سم چاودې شوی دی،زه به یې در وښیم یو میخ چې په کې ووهې، جوړېږي.رستوف وویل:

-مننه !مهرباني وکړئ، که راوې ښیئ،ډېره به ښه وي.

-ښه ده،در ښیېمې،دا کوم راز نه دی،دعا به راته کوئ.

رستوف چې غوښتل ځان دهغه له جنجال او ډېرو خبرو نه وژغوري، وویل:

-نو زه لاړم چې ورته ووایم،آس سره راولي.او دسپاربښتنې لپاره له کوټې نه ووت.

په لاره کې،دبرېدګي د دروازې تر مخې،دنیسوف،پیپ په شونډو ، پلترۍ وهلې وې او برېدګی هغه ته څه نوې خبرې لرلې. دنیسوف، درستوف په لیدو ،تندی تریو او سترګې ګونځې کړې، دڅټ له خوا یې په غټه ګوته هغې کوټې ته چې تلیاتین په کې ناست و ،اشاره وکړه او بې له هغه چې د برېدګي خیال وساتي،وویل:

-آخ ! چې دغه ځوانیکي مې نه خوښېږي.

رستوف هم داسې اوږې پورته واچولې،چې ګواکې رښتیا وایي:

-زما هم همداسې،مګر څه کولای شو ؟خو وروسته له هغه یې چې سپارښتنه وکړه ،بېرته تلیاتین ته ورغی.

-تلیاتین،هماغــه شــان چــې څوشــېبې مخکې،رســتوف لیــدلی و ،پلترۍ وهلې، همالتـه ناست و او خپل دواړه سپین لاسونه یې سره مښل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف، کوټې ته د راننوتلو په درشل کې له ځانسره داسې بنګېده:

-دا ځيني څېړې هم څومره کرکجنې دي.
تلياتين له ځايه پاڅېد او په خورا بې پروايې شا او خوا وکتل او وويل:

-سپارښتنه مو وکړه چې آس راولي؟
-هو کې، وې ويل.

-ښه ! راځئ چې ځو ، زه يوازې ددې لپاره راغلم چې له دنيسوف، نه د پرونۍ سپارښتنې په اړه وپوښتم، دنيسوفه !تاسو ته يې سپارښتنه اورولې ده؟
-نه لا تر اوسه نه، ته چېرې ځئ؟
ځم، دغه زلمي ته ورزده کړم چې آس څنګه نالېږئ.
-د کور د مخې چوترې او له هغه ځايه غوجلې ته لاړل، بربډګي، رستوف ته د آس د نالولو چل وروښود او بېرته کوټې ته راستون شو. کله چې رستوف، بېرته کوټې ته راستون شو، پر ميز يو بوتل ودکا او يو څه کالبسه (وچه شوې غوښه) ايښې وو. دنيسوف، د ميز شاته ناست او په ښکه يې، شغ شغ پر کاغذ څه ليکل.
هغه په تريو تندي، د رستوف مخ ته وکتل او وې ويل:
-هغې ته يې ليکم.
خپلې څنګلې يې پر ميز کېښودې، له دې چې وخت يې پيدا کړی دزړه له کومې او په خوږه ژبه څه وليکي، خورا خوشاله و ، هغه د خپل ليک، د ليکنې څو ټکې رستوف ته ياد کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ګوره اندیواله !تر هغه چې مین شوي نه یو ،وېده یو. د ادیرې خاورې ایرې یو ،...خو کله چې مین شو...آسماني روح په موږ کې ننوزي،سا رابښي، د ازل د سپیدو په څېر سپېڅلي کېږو... او پر لاروشکایې ،چې په بې ادب توګه هغه ته نېږدې شوی و ،چیغه کړه:

-دا لا پسې څوک شو؟ بلا پسې یې ولېږئ...

-څوک دی؟برېدګی دی، پیسو پسې راغلی،تا سو خپله راغوښتی و.

دنیسوف،وروځې برندې کړې، چوپ شو او له ځانسره وبنګېد:«بد کار وشو !» او له رستوف نه یې وپوښتل:

- دجیب په کڅوړه کې څومره پاتې شوې؟

-اوه(۷) نوې سکې او درې زړې سکې!

-نه،نه !خورا بد کار وشو ! او پر لاورشکایې چیغه کړه:

-آخ بد کار وشو !نوڅه ؟ته ولې داسې ولاړیې لکه بت؟پیره دار پسې یې ولېږه ،چې دلته یې راولئ.

-رستوف،چې تک سور اوښتی و ، په ګبنۍ وویل:

- دنیسوف ! هیله کوم،مهرباني وکړې چې څومره مو په کار وي،هغه واخلۍ،زه پیسې لرمه.

دنیسوف وغړمبېد:

-زما نه خوښېږي چې له پېژندونه ،پیسې پور کړم،نه !نه،هېڅ مې نه خوښېږي.

رستوف بیا تکرار کړه:

-که ته له مانه پیسې وانخلې،مابه خوابدی کړې،پیسې زما دي او زه حق لرم هغه درکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه، ما وویل، نه !

او د کټ خواته نږدې شو. چې د پیسو کڅوړه را واخلي.

-رستوفه د پیسو کڅوړه دې چېرې، اېښې ده؟

- ترسر و بړ دی لاندې.

-دلته خو نشته. د نیسوف، دواړه سرو بړ دې لاندې باندې کړل، خو د کڅوړې نښه هم نه وه.

-دا څه شوه؟

رستوف وویل:

- صبر وکړه، وې ګورم، دې خواته دې نه یې اچولې.

هغه سرو بړ دي، یویو لاندې باندې کړل، وېڅنډل، څادر یې را واخیست هغه یې هم وڅانډه، خو بیا هم د کڅوړې نښه نه وه.

رستوف وویل:

- چې هېر کړې مې نه وي؟ نه !دا سې نه ده، زما ښه په یاد دی چې د کېښودو په وخت کې مې فکر وکړ چې ته به لکه خزانه هغه د سر لاندې ساتې. کڅوړه مې همدلته کېښوده. له لاورشکانه یې وپوښتل:

-کڅوړه څه شوه؟

-زه خو هېڅ کوټې ته راغلی نه یم، هرچېرې مو چې اېښې هلته به مو اېښې وي.

-خو نه شته، کنه؟

تاسو ټول همدا سې یئ، هرچېرې چې رسېږئ، خپل شیان همالته ارتېږئ، جیبونه مو وګورئ.

رستوف وویل:

- نه، نه ! دا شونې نه ده، که د اېښېدو په وخت کې مې د خزانې په اړه فکر نه وای کړای، بیا په یوه خبره وای، مګر نه، زما ښه په یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، همدلته مې کېښوده.

لاروشکا، تول کټ لاندې باندې کړ، د میز سر یې وکوت او تر هغه لاندې ننوت، توله کوټه یې ګډه وده کړه او د کوټې په منځ کې ودرېد. دنیسوف، هغه ښه څاره، خو هېڅ یې نه ویل. لاورشکا لاسونه پرانستل او په حیرت او خورا کمدانۍ یې رستوف ته وویل:

- رستوفه! د ماشومانو کارونه به نه کوئ.

رستوف، ځان خوا ته د دنیسوف په څېر کتل احساس کړل، سترګې یې پورته او سمدلاسه یې بېرته ښکته واچولې. د هغه د تول ځان وینه، د سر او سترګو خواته را وکوچېدله او هغه نه شو کولای سمه ساه وباسي.

لاروشکا وویل:

-پرته له تاسو او برېدګي نه بل څوک په کوټه کې نه و، کڅوړه باید په همدې کوټه کې وي.

دنیسوف، ناڅاپه تک سور شو او په یو ګوابښمنې خوځېدا یې، د خپل چوپړ خواته ور و دانګل او چیغه یې کړل:

- اې شیطاني نانځکې! د وکماره! ژر ژر خوځېږه، هغه باید پیدا کړې، کنه تر وهلو لاندې به دې سا وباسم، هم د تا او هم د نورو.

رستوف، هڅه کوله د نیسوف ته ونه ګوري، هغه د خپل جمپر د تڼیو په تړلو پیل وکړ، توره یې تر ملا وتړله او خولۍ یې پر سر کړه.

دنیسوف، د لاروشکا اوږې په سختۍ کېښکودلې، په دیوال یې وهلې او چیغې یې پورته وې:

-تاته وایم کڅوړه باید سمدلاسه پیدا شي.

رستوف، چې سترګې ښکته اچولې وې او د دروازې خواته روان و، وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دنيسوفه !پرېږده هغه، زه پوهېږم چې کڅوړه چا اخيستې ده.

دنيسوف، خپل چوپړ پرېښود او تر يوې شېبې چوپتيا وروسته ګواکې د رستوف په اشاره پوه شو، دهغه لاس يې راونيو او داسې چيغه يې وکړه چې دهغه مراندې لکه رېښکۍ داسې دهغه په ستونې او غاړې راوپړسېدې، هغه وويل:

-اپلتې مه غږوه !ليونى شوى يې که څنګه؟ زه تا ته اجازه نه درکوم، کڅوړه همدلته ده، ددې سپک نه به پوستکى وباسم، ګورې به چې پيدا شي.

رستوف، په رېږدېدونکې آواز تکرار کړه:

-زه پوهېږم دا دچا کار دى او ددراوازې خواته لاړ.

دنيسوف، دهغه مخې ته ودرېد ، دهغه دوتلو لاره يې بنده کړه او وې ويل:

-زه وايم چې دا کار به نه کوي او که هغه وکړې...

خو رستوف خپل لاس په داسې قهر د دنيسوف، له لاسه را وويست چې تا به ويل دهغه نه پخلاکېدونکى دښمن دى، هغه په برند او مخامخ توګه هغه ته وکتل او په رېږدېدلي آواز يې وويل:

-ته پوهېږئ چې څه وايي او کنه؟ پرته له مانه بل هېڅوک په کوټې کې نه و ،نو که دا دهغه کار نه وى، نو...

خو هغه ونه شو کولاى خپله خبره تر پايه ووايي او په تلوار له کوټې نه ووت.

-بلا دې در پسې وي، هم تا او دنورو ټولو پسې.

دا هغه وروستې خبرې وې چې رستوف واورېدې.

هغه مخامخ د تلياتين کورته لاړ او دتلياتين چوپړ وويل:

ارباب، په کور کې نه شته، ستړي قوماندانۍ ته تللى دى او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنفرخدمت د اندیښمنې څېرې په لیدو یې زیاته کړه:
-څه پېښه شوې ده؟
-نه، څه نه شته.
-نفر خدمت وویل:
-همدا اوس ستاسو راتګ نه شېبه مخکې لاړل.
ستره قوماندانۍ، درې ورسته لرې د زالځېپنیک، په ښار کې پرته وه. رستوف، بې له هغه چې کورته لاړ شي، خپل آس یې واخیست او مخامخ قوماندانۍ ته لاړ.هغه کلی چې قوماندانۍ هلته پرته وه، یو مېلمستون درلود ،ددغه مېلمستون مېلمانه افسران وو.رستوف چې کله مېلمستون ته راورسېد ،دتلیاتین آس یې دمېلمستون ترمخې ولید.
د مېلمستون په دویمه کوټه کې دیوه میز شاته برېدګی ناست واو مخې ته یې پر میز، ساسیکې(د ساندویچ په شان غوښه)او یوبوتل شراب اېښې وو.
هغه برېدګی درستوف په لیدو، وموسېد، وروځې یې پورته واچولې او وې ویل:
- ته بیا راورسېدې،ځوانه !
رستوف،ځواب ورکړ:
-هو کې !دده له خبرو نه داسې برېښېده چې آن ددغې یوې کلمې د ویلو لپاره یې هم پر ځان خورا زور راوستی دی،لاړ او دهغه دګاونډ میز شا ته کېناست.
دواړه چوپ وو.له دوی نه پرته په کوټه کې دوه جرمن او یو روس افسر هم ناست وو ،ټول چوپ وو او په دې چوپتیاکې ،پرقابونو دچړو دلګېدلو ترړکهار او دبرېدمن دخولې شرپهار اورېدل کېدل.تلیاتین،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله ډوډوی وخوړه، يوه دوه جيبېزه کڅوړه يې لـه جيبه راوويستـه او په خپلونازکو، سپينو او څوکپنډو ګوتو يې دهغـه غوټـه خلاصـه کـړه او له هغې يې يوه دسرو زرو سکه راوويستـه، هوتلي ته يې ورکړه او وې ويل:

- هيله کوم.لږ ژر کوئ.

دزرو سکه، نوې وه.رستوف پاڅېد او تلياتين تـه ورنېږدې شو، پـه داسې يو ټيټ آواز يې چې متې اوربدل کېده، هغه ته وويل:

- اجازه راکړئ چې دجيب کڅوړه دې وګورم.

هغه، ناڅاپه تک ژيړ شو، هوکې !هوکې خورا ښکلې کڅوړه ده او زياته يې کړه:

-وې ګوره ځوانه !

رستوف، کڅوړه واخيستـه، کڅوړې ،دهغې په منځ کې پيسو تـه او بيا تلياتين ته ځيرشو.تلياتين، دخپل عادت لـه مخې شاوخواتـه وکتـل او ناڅاپه پر هغه دخوښۍ څپه راخوره شوه او وې ويل:

-که ويانا ته لاړ شو، هلته به ټولې خرڅې کړم، خو اوس به دلته په دې خوار او بدمرغه ښارګوټي کې په پيسو، څه وکړم؟ او زياته يې کړه:

-ښه ځوانه !اوس خو دې وکوت، رايې کړه، چې زه ځم.

رستوف چوپ پاتې شو، خو تلياتين دوام ورکړ:

-تاسو څه کوئ؟تاسو هم غـوا ړئ سـهارنۍ وخورئ، دلتـه ډوډۍ بـده نه ده، سړی ښه پرې مړېږي، راکه !کڅوړه راکړه.

لاس يـې وروغځـاوه او کڅـوړه يـې پـه منګولـو کـې راټينګـه کـړه. رستوف هغه پرېښوده.تلياتين هغه واخيستـه او دپطلانـه پـه جيـب کـې يې ننيسته.په خورا نه پـام يـې وروځـې پورتـه لاړې او خولـۍ يـې داسـې لږه وازه شوه چې تابه وې چې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هو کې !هو کې !کڅوړه مې په جیب کې ږدم، په خورا ساد ګۍ او چا پورې اړه هم نه لري.بیا یې سوړ اسویلی وویست او د برندو پاس خواته تللیو وروځولاندې یې رستوف ته وکتل او وې ویل:

- ښه ! وایه څه خبره ده او څه شوي دي ځوانه؟

د تالندې په شان شغلې د تلیاتین له سترګونه د رستوف او د رستوف سترګونه د تلیاتین سترګو ته وځلېدې، په نیمه شېبه کې دده نه هغه او له هغه دده ته ،څو ځله دا ځلېدل تکرار شول.

رستوف،د تلیاتین مړوند راونیو او په کراره یې ورته وویل:

-دې خواته راځه !

رستوف هغه په زور د کړکۍ خواته راوست او په کراره یې د هغه په غوږ کې وویل:

-دا دنیسوف پیسې دي او تا هغه اخیستې دي.

تلیاتین ځواب ورکړ:

-څه ،څه ؟څنګه ته کولای شې؟څه؟

خو د هغه دغه غندنیزې خبرې،داسې شکایت او ناهیلې ته ورته وې چې د ښښنې غوښتنې،نښې په کې څرګندې وې.همدا چې رستوف،دهغه په اواز کې،دزاریو سندریزغږ احساس کړ، دشک او ګمان یو ټینګ دیوال یې په ګوګل کې راونړېد.دخوښۍ او همهاله دده په وړاندې پردغه ولاړ بدمرغه یې درحم احساس په زړه کې را وتوخونېد ،خو پیل شوی کاریې باید پای ته رسولی وای.

تلیاتین،خپله خولۍ واخیسته او د وړې او تشې کوټې خواته په تګ تګ او بنده، بنده ژبه وویل:

-خدای پوهېږي خلک دلته څه فکر کوي،درځه چې هلته یې سپینه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف وویل:

زه د خپلې خبرې په رښتینتوب ډاډه یم او هغه کولای شم ثابته کړم.

-ما...

د تلیاتین د ډارځپلې او رنګ الوتې بشرې تول غړي په رېږد پېد و شول، سترګې یې دا خوا هغه خوا رغړولې، چېرته ښکته به یې کتل، خو د رستوف تر سترګو ور پورته کېدای نه شوې، ناڅاپه د هغه د ژړا غږ واورېدل شو، پیسې یې پر میز وارتېږلې او په زاریو یې وویل:

-ګرافه !دیو ځوان ژوند مه بربادوئ، وا خلئ دا بد مرغه سپېرې پیسې در وا خلئ ...ما مه رسوا کوئ..زما پر زړه مور او بوډا پلار لږ ورحمېږئ.

رستوف، چې هڅه کوله د تلیاتین سترګو ته ونه ګوري، پیسې یې وا خیستې ،بې له هغه چې څه ووایي، د دراوازې پلو ته لاړ.د دروازې په خوله کې ودرېد ،مخ یې را وا ړاوه او په ژړغوني اواز یې وویل:

-پاکه خدایه !زه نه پوهېږم تاڅنګه کولای شول دا کار وکړې؟

تلیاتین، هغه ته ورمنډې کړې او وې ویل:

-ګرافه !

رستوف ځان ترې شاته کړ او وې ویل:

-ماته به لاس نه راوړې، که دې پیسو ته اړتیا لرې درواېخله.

د پیسو کڅوړه یې، ورو ارتېږله او خپله له مېلمستونه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

دهماغې ورځې په ماښام،د دنیسوف، په کوټه کې د سواره پوځ د افسرانو ترمنځ سختې تودې خبرې اترې روانې وې.

د سترې قوماندانۍ د یوه ټولی قوماندان چې جګه ونه،ماش برنج ښې، خورا ببر بریتونه،قوي شډل غړي او ګونځې ګونځې بشره یې لرله او رنګ یې له ډېره قهره تک سور شوی و ،وویل:

-رستوفه !ته باید دغنډ له قوماندان نه بښنه وغواړې.

دا افسر تورن، کریستین،نومېده او دوه ځله یې له دې کبله خپلې رتبې له لاسه ورکړې وې چې دخپل حیثیت نه یې په کلکه دفاع کړې وه او دواړه واري یې دښه زیار او کار له برکته بېرته خپلې رتبې ګټلې وې.

رستوف چیغه کړل:

-زه هېڅاته دا اجازه نه ورکوم چې ماته دروغجن ووایي.هغه ماته وویل چې زه درواغ وایم،خو ماهغه ته وویل،چې هغه خپله دروغ وایي او دا زما دزړه او وروستې خبره ده.هغه کولای شي ما هر ورځ پیرې ته وباسي،یا مې حبس کړي،خو هېڅوک ما دې ته اړولی نه شي چې له چانه بښنه وغواړم،که هغه دغونډ قوماندان دی وې دی، ددې تور له امله زه هغه دوئل ته رابولم.

دقوماندانۍ افسر خبروته ورننوت ،خپل ببر،اوږده او پنډ بریتونه یې صاف کړل او په شډل اواز یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پلار کــه !صـبر وکړئ، غــوږ شــئ، وګورئ څــه وایم، تاســو دنــورو افسرانو ترمخې دغونډ قوماندان ته وایئ چې دهغه یوه افسر غلا کړې ده...

-دا زماګناه نه ده چې دا خبرې دنورو افسـرانو ترمخې شوې دي، کـه څه هم دا به ښه وه چې دا دهغو تر مخې نه وای شوې، خو دیپلومـات نـه یم، زه د سورو افسـرانو دکتـار خواتـه راغلم، تصور مې کـاوه چې دلتـه دغـه شـان نزاکتونـه پـه کـار نـه دي، اوس هغـه راتـه وایـي چې تـه دروغ وایي...باید هغه ددې تور بد راکړې...

-دا ټولې خبرې په ځای دي، هېڅوک نه وایي چې تـه کـوم ډارن افسـر یې، خو خبره په دې کې ده، هو ته له دنیسوف نه وپوښته چې دا چا کلـه لیدلې چې یو پیردار دې، د غونډ قوماندان ته د دوئل بلنه ورکړي؟

دنیسوف، چې خپل بریت ژویـل او پـه تریـو تنـدي یـې دغـو خبـرو تـه غوږ نیولی و، ښکارېده چې نه غواړي دغو خبرو کې ورګډ شی، دا افسـر پوښتنې ته یې هم د سر په ښورولو، دنه ځواب ورکړ.

دقوماندانۍ افسردوام ورکړ:

-تاسو دافسرانو تر مخې د غونډ له قوماندان سره، ددغې رسوایۍ په اړه خبرې کوي، نو بګدانیچ(دقوماندان نوم بګدانیچ و )دې ته اړیږي چې تا په خپل ځای کېنوي.

-هغه په خپل ځای کېننولم، هغه راته وویل، چې دروغ وایي.

- ښـه ! نو، تاهغـه تـه څه اپلتې ویلي، بایدلـه هغـه دې ښښـنه غوښـتې وای.

رستوف، چیغه کړل:

-اخر دڅه لپاره، ښښنه؟ دښښنې غوښتل ناشوني دي.

دقوماندانۍ افسرپه زغرده او ټینګه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-له تاسو نه مې داهیله نه لرله، تاسو چمتو نه یاست له هغه نه بښـنه وغواړئ، حال دا چې نه یوازې د هغه بلکې د ټول غونډ او زموږ د ټولو په وړاندې ګنهګارېږې.ښه به داوي چې لږ فکر دې کړی وای، له خپلو دوستانو سره دې مشوره کړې وای چې په کراره، بې شرو شوره دا جړه غوټه خلاصه شوې وای.خو ته برعکس، داسې بې خیاله د ټولو افسرانو په مخکې، هرڅه په ډاګه کوې، او س نو د غونډ قوماندان څه کولای شي؟باید ګنهګار افسر محکمې ته ولېږي؟دیوه بدذاته په خاطر ټول غونډ بدنامه کړي؟ څنګه ! ستاسو له نظره باید همداسې شي؟خو موږ داسې فکر نه کوو ، په بګدانیچ،دې افرین وي چې هغه وویل چې ته درواغ وایې. که څه هم دا د خوښۍ خبره نه ده، خو څه وکړو پلاره ! ستا خپله ګناه ده. او اوس چې، غواړې، روغه سره وکړئ.بیا ته دخپلې ځانستاینې له کبره بښنه نه شې غوښتی او د ټولو خبرو دویل تکل لري.تاته دا ګرانه ده چې له یوه مېړني او سپېڅلي افسر نه بښنه وغواړې. بګدانیچ،یو مشر،زړوړه ګروال دی او تاته دغونډ نوم او ویاړ هېڅ درښښت نه لري؟

دقوماندانۍ دافسر غږ چې په ربړد بدو کېده ،وویل:

-ته په دې غونډ کې یو دوه ورځې یې که نه یې،نن دلته، سبا به خدای پوهېږي چېرې ځې او دکوم چا یاور به یې، ته خو یې بیا څه پروا لري چې بیا به خلک څه وایي ((د پاولګرادسکې د افسرانو به منځ کې غـل پیـدا شـوی دی)).خـو مـوږ تـه دا خبـره خـورا ګرانـه ده، هوکې !دنیسوفه !موږ ته خورا ګرانه ده.

دنیسوف، چوپه خوله و او هېڅ یې نه ویل، خو دهغه تورې ځلېدونکې سترګې، رستوف ته ور اوښتې.

د قوماندانۍ افسر زیاته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-تاسو ته خپل غرور ګران دی، زړه مو نه غواړي ښېښه وغواړئ، خو موږ زاړه افسران په همدې غونډ کې لوی شوي یو او که دخدای خوښه وي په همدې غونډ کې به مرو، نوله همدې کبله دې چې دغونډ غرور او ویاړ موږ ته خورا ګران دی او بګډانیچ په دې خبره ښه پوهېږئ.آه !یوازې خدای پوهېږئ چې زموږ نوم او آبرو زموږ یوازداني پانګه ده...

دنیسوف، پاڅېد او په خورا توده ژبه یې وویل:

-رستوفه !خو رښتیا وایي، ته څه پې کې وایئ؟

درستوف مخ به کله سور او کله سپین شو، کله به یې دې او کله به یې هاخوا کتل او وې ویل:

-نه ښاغلو !نه !...تاسو داسې فکر مه کوئ چې زه ډېر پوهېږم... تاسو باید زما په اړه داسې فکر ونه کړئ..زه..زما لپاره...دغونډ ویاړ او غرور خورا ګران دی،...څه فکر کوئ..زه له خپل غونډ سره مینه نه په خبرو بلکې په کړو کې په ډاګه کوم...ښه تېر به شو...تاسو په حق یاستئ، زه ګنهګاره یم.سترګې یې له اوښکو ډکې شوې وې:

-ګنهګاره یم، ډېر ګنهګاره یم، نور نو څه غواړئ؟

دقوماندانۍ افسر راستون شو، په درنې او سوروړې منګولې یې پر اوږې ووهه او چیغه یې کړه:

-افرین، ګرافه !

دنیسوف چیغه کړه:

-ما خو تل تاسو ته ویل چې خورا ښه هلک دی.

دقوماندانۍ افسر بیا وویل:

-دا خورا ښه شو، ګرافه !...اوس به جلالتماب راشي او دی به ښېښنه ترې وغواړي، کنه ګرانه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف په زارۍ زارۍ، وویل:

-ښاغلو هر کار چې راباندې کوي، کوم يې، خو په دې اړه واله که څوک يوه خبره رانه واوري...خدای شاهد دی نه شم کولای. ،هر کار چې کوي، کوي يې، خو ځنګه به ديوه ماشوم په شان له چانه ښښنه غواړم.

دنيسوف، له خندا شين شو.

کېرستن وويل:

-دابه تاته تاوان وکړي، باګدانيچ لکه اوښ داسې کرکه په زړه کې ساتي، دا سر زوري تاته خورا لوی تاوان لري.

-په واله که سر زوري وي، دا يو احساس دی چې زه يې تاسو ته ويلې نه شم، نو نه شم کولای...

د قوماندانۍ افسر وويل:

-ښه ! خوښه دې.او له دنيسوفه يې وپوښتل:

-هغه بل خبيث څه شو ؟

دنيسوف، وويل:

-ځان يې په ناروغۍ وهلی، داسې سپارښتنه شوې چې سر له سبا نه دهغه نوم له حاضرۍ نه هم ويستل شي.

بريدګي وويل:

-دې هلک نه بايد په رښتيا رتبه واخيستل شي.کنه بل ډول نه کېږي.

دنيسوف، په خندني غږ وويل:

-ناروغ ،نارغ، خو هڅه دې وکړي چې زما مخې ته رانه شي، کنه وژنم يې.

په دې وخت کې ژيرکوف کوټې ته راننوت.

ټولو افسرانو.هغه ته مخ وروا ړوو:

-ته دلته له کومې راپيدا شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښاغلو د سفربرۍ امر ورکړ شوی دی، ماک او دهغه تر واک لاندې ټول پوځونه تسلیم شوي دي.
-اپلتې مه غږېږه !ته باور لري؟
-ما په خپلو سترګو ولید.
-تا !په خپلو سترګو ماک ولید ؟روغ جوړ !
-د سفر برۍ امر، دعملیاتو پیل، په دې ویاړ باید هغه ته یو بوتل شراب ورکړ شي.ته دلته څنګه او دڅه لپاره راغلې؟
-بیائې غونډ ته ولېږلم، دهمدې بدمرغه ماک په خاطر !یوه اتریشي جنرال له مانه شکایت کړی دی، هغه ته مې دماک د راتګ مبارکي ورکړه...په تا څه شوي دي رستوفه؟داسې ښکاري لکه چې په رښتیا له حمامه راوتلی یې؟
-دلته دا دوه ورځې داسې ډنډورې غږېږي چې والله که مور خپل زوی پیدا کړي.
د غونډ دقوماندان یاور رانوت او دژیرکوف.دخبر رښتیاوالی یې بیا ومانه. سبا ته د سفر برۍ امر ورکړشوی دی.
ښاغلو !بالاخره، زموږ لپاره جګړه پیل شوه.
-شکر دخدای دی چې دا جګړه پیل شوه، کنه دلته به خوسا شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

کوتوزوف، دویانا لورته، دشاته کېدو په لړکې، په براوناوا کې د (این)، پر سیند ټول پلونه او دغه راز په (لینځې) کې د (تراون) د سیند له پلونو نه تر اوښتو وروسته، هغه پلونه رنګ او وران کړل. د اکتوبر په درویشتمه، روسي پوځونه د (انس) له سیند نه هم واوښتل. د وسایلو د ارابــو، د پلیــو دډلو، د توپونو د کتــارونو او د روســي پوځونــو دمهماتو، خوځېدا د ورځې په اوږدو کې د انس دښار د پله دواړو خواوو ته دوام لاره.

دمني (خزان) یوه توده خو باراني ورځ وه، د روسي پوځونو د توپونو اور، د یوې جګې غونډې له سره، پل تر خپل چتر لاندې ساته. په هغه سیمه کې هرڅه چې د دغې غونډۍ په لمنه کې تر لرې لرې پراته وو، کله به د لیوني اورښت د ټال په زنګېدا کې ورک او کله به بیا ناڅاپه ښېرته راښکاره او هرڅه به تر لرو لرو دلمر تر ځلېدونکو شغلو لاندې له ورایه لکــه پــه غــوړوکې دغــوړو شویو شــیانو پــه شــان ځلېــدل. دکــوچنی ښارسپینو کورونو د سرو بامونه کورونه، دهغه کلیسا او په سیند ولاړه هغه پل به دې لیده چې له دواړو خوا وګڼو روسي پوځونو ددې لپاره پرې یرغل روان کړی و چې ترې واوړي. د دانیوب د سیند په غېږه کې شو ببډی لیدل کېدې. د انس او دانیوب سیندونه مو لیدل چې له ځو، وچو او په یوه پارک کې له ولاړې ماڼۍ نه خپلې څپې راتاو کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي.هلته په کين ساحل کې د دانيوب تېرو چې د نښتر ونو پوښلې وې او د ونو ګڼو شينوالى چې په اوږدو درو کې يې د رازونو تر غېږو لمنې غځولې وې، ځان راښکاره کاوه. د کليسا برجونه مو ليدل چې د وحشي ځنګله، هغه ځنګله له شانه چې تصور کېده هېڅکله د انسان لاس ورر سېدلى نه دى، سرونه راهسک کړي وو او هلته لرې د انس د سيند د غاړې آه پلو، د غرو په لمنه کې پر د ښمن د بريد دلارو چارو نښې بربښېدې.

د غرو په لمنه کې د شا پوځونو قوماندان جنرال له خپلو ملګرو سره د ګڼو وسلو او مهماتو په منځ کې، پر لوړې غونډۍ ولاړ او په خپل لرليد او دوربين کې يې شا اوخوا سيمې څارلې.تر هغه نه لږ شا ته نيسفيځکي، چې د ستړې قوماندانۍ له خوا، شاتلونکو قواوو ته راليږل شوى و، ديوه توپ شا ته ناست و.هغه سره راغلى قزاق ملګري يې ده ته يوه کڅوړه او پټک ورکړل.نيسفيځکي، له کڅوړې نه پتېرې او خورا تند شراب راويستل او هغو افسرانو ته چې شا اوخوا ته يې، څوک په ګونډو او څوک هم په پلترو په لمدو شنيليو کې ناست وو، د خوړلو او څکلو ست کاوه.

نيسفيځکي، وويل:

-هو کې !دغه اتريشى شهزاده هم ساده سړى نه و چې هغه ماڼۍ يې هلته جوړه کړې ده، خورا ښه ځاى دى.ښاغلو ! مهرباني وکړئ، ولې يې نه خورئ؟

يو افسر چې د قوماندانۍ د دغې کچې له يوه استازي سره خبرې کول يې، خپل وياړ ګاڼه، وويل:

- د نوکرۍ اطاعت په توګه يې مننه کوم شهزاده !تاسو مهرباني کوي.ښکلى ځاى دى، موږ د يوه پارک له څنګه تېرشو و، هلته مو دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې کبلۍ (آهوان) ولیدې او د مانۍ ښکلا خو کوډې کوي.

یو بل افسر چې زړه یې غوښتل یوه بله پتېره را واخلي، خو له شرمه یې نه شو کولای، هغه ته دا سې ښودله چې د سیمې په ننداره بوخت دی، وویل:

-وګورئ شهزاده! لاهېڅ خبره نه ده شوې او زموږ پلي سرتېري بیا هلته رسېدلي دي.آهغلته، د کلي تر شا په شنو کې، هغه درې تنه څه شي وړي او د پوره باور په ښبه یې زیاته کړه:

-هغوی به اوس په دې مانۍ ولکه ټینګه کړي.

نیسفیځکي، وویل:

-رښتیا ده! رښتیا! او په ښکلې او له اوبو نه ډکه خوله کې یې د پتیرې د ژولو سره یوځای، وویل:

-پوهېږئ! زړه مې څه غوښتل؟ زړه مې غوښتل چې ځان هلته ورورسوم، هغه، د هغې کلیسا برجونو ته چې د غرونو په لمنه کې ولاړه وه، اشاره وکړه، وموسېده او په تنګو سترګو کې یې له شوقه ځلا وځلېده.

-او! ښاغلو! څومره به ښه و.

او افسرانو وخندل.

-لږ تر لږه د دې راهبو ښځو د ډارولو لپاره، وایي چې ایتالوی راهبې خویندې هلته شته او ځینې یې ځوانۍ هم دي، رښتیا، چمتو یم خپل پنځه کاله ژوند وروبښم.

یوه افسر چې تر نورو سپین سترګی و، په خندا یې وویل:

-کېدای شي د هغو زړه هم هلته په تنګ شوي یي.

په دې وخت کې د جنرال سره یاور چې تر نورو مخکې ولاړ و، کوم څه یې جنرال ته وروښود او جنرال په خپل دوربین کې، هغه ځای ته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ته ښودل شوی و ،وکتل او په خورا خواشداني يې،دوربين له سترګو لرې کړ،اوږې يې پورته واچولې او وې ويل:

-هوکې ! څه چې دي،هغه دي،تاسو رښتيا وايئ.رښتيا هم هغوی پله ته اور ورته کړی دی،خو ولې هغوی دومره ځنډ کوي؟

د رود له غاړې آ پلو دښمن او دهغو مهمات له ورايه، په ساده کتو بې له دوربينه،ليدل کېدل.د هغو له توپ نه سپين، شودو ته ورته لوګی پورته شو.د لوګي ترليدو نه لنډه شېبه وروسته له لرې نه د توپ اواز واورېدل شو او دا ښکارېده چې څنګه زموږ سرتېرو د پله خواته يرغل وروړ.

نيسفيخکي،پاڅېد ،يوه ژوره سا يې وويسته،په موسکا د جنرال خواته ورغی او وې ويل:

-جلالتماب ! څنګه !خوښه مو نه ده چې يوه مړې ډوډۍ جوړه شي؟

جنرال بې له هغه چې دهغه ځواب ورکړي،وويل:

-ښه کار و نه شو ،زموږ سرتېري خورا ځنډني شول.

نيسفيخکي،وويل:

-جلالتماب !خوښه مو نه ده،که زه يو ځل هلته ورغلی وای.

جنرال هغه سپارښتنه چې په پوره توګه مخکې ورکړ شوې وه،بيا تکرار کړه او وې ويل:

-هوکې !هيله کوم د پوځ سورو ته ووايي،لکه هماغه شان چې مې مخکې سپارښتنه کړې وه،چې دوی تر ټولو وروسته له پله نه واوړي اوتر تېرېدو نه وروسته پله ته اور واچوي،خو ترهرڅه دمخه پر پله داور اچولو مواد په ښه توګه وڅاري.

نيسفيخکي،ځواب ورکړ:-ډېره ښه ده،جلالتماب اطاعت کېږي.

هغه ،هغه قزاق ته چې دده دآس ساتونکی و ،ورغږ کړ او ورته وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل چې دده کښوړه او تپک راټول او راواخلي. وروسته يې پخپله ،سره له ټول ښوربوالي او درندوالي په چټکۍ دآس زين ته ور ودانګل او افسرانو ته يې چې په خندا يې ده ته کتل وويل:

-ځم چې په کليسا کې دښځينو راهبانو پوښتنه وکړم.اوله دې سره يې، دغره پر لمن پر نرۍ، کږې،وږې لارې ور هه کړل.

جنرال دتوپچي قوماندان ته مخ ورواړوه او وې ويل:

-ښه سرکاره !وزګاره مه کينئ،وزګاري سړی سترړی کوي،ښه به داوی چې توپونه بيابيا وګورئ.

دقوماندان سپارښتنه واوريدل شوه:

-لومړی توپ،اوربل !

لومړی توپ په خورانرمۍ له ځايه وخوځېده او سپنيزکنګوونکی اواز پورته شو او دغونډۍ په لمنه کې دخپلو سرتېرو دپاسه،دهغو دتوپ د ګولۍ غږ لمن وغځوله او دلګېدو پر ځای کې چې له دښمنه لا لرې وه ،نری لوګی پورته شو اوشېبه وروسته هلته دچاودنۍ غږ واوريدل شو.

دسرتېرو او افسرانو څېرې ددې غږ په اوريدو ،په خوښۍ وغوړېدې. ټول پاځېدل او دخپلو پوځيانوشر او شور ته چې لکه دلاس په رغوويي کې ورته له ورايه ښکارېدل ،کتل او ددښمن دپوځونو خوځېدا يې ليدله چې له لرې نه دې خواته رانږدې کېدونکې دې.په همدې شېبه کې لمر په بشپړه دوريځوله غېږې رااووت او دتوپ دغه يوازينی زړونکی غږ دلمر له ژوند ښوونکوځلېدونکو شغلو سره يوځای،خورا خوښي ښوونکي او روح پالونکي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

د پله له پاسه د دښمن د توپ دوه ګولۍ تېرې شوې وې او د پله په سر د سرتېرو دېرغل خورا ګڼه ګوڼه وه.

سردار نیسفیڅکي، د پله په نیمایي کې له آسه کوز شو او ودرېد. ګڼې ګوڼې د هغه غټ او درونډ ځان د پله پر کتارې ورکېښکود. کله به یې وخندل او خپل قزاق ته چې د دوی زین کړي آسونو یې له جلوه نیولي وو او ترده څو ګامه شا ته ولاړ و، وروکتل او همدا چې سردار نیسفیڅکي، غوښتل وړاندې لاړ شي، د سرتېرو د ګڼه ګوڼې او د هغو د کراچیو د زور څپې پرې ورغلې او هغه یې بیا د پله پر کتارې ورکېښکود. هغه، پرته له دې چې وخاندي، بل هېڅ ور پاتې نه و.

قزاق هغه سواره سرتېري ته چې پر سرتېرو، د هغو پر یابوګانو، آسونو او ګاډیو ورخوت او وړاندې ته، چیغه کړه:

-آه !وروره !صبر نه شي کولای؟نه وینئ چې جنرال تېرېږي؟

خو سپور سرتېري بې له هغه چې جنرال، د هغه پرتم او هغو سرتېرو ته چې له هرې خوا وېې دی کېښکود او دده مخه یې نیوله، پام وکړئ، چیغه کړه:

-اې وطنداراتو !له مخې لرې شئ، لږ چپې خوا ته شئ، صبر وکړئ.

مګر وطنداران، اوږه په اوږه سره تاو شوي، نیزې یې سره ګډې وډې، بې له هغه چې سره بېل شي، په ډله ایزه توګه پر پله، د وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنګ هغه کوله. سردار نیسفیځکي، چې د پله له کنارې نه ښکته اوبو ته کتل دانس د سیند چټکې، شر و شورنه ډکې او په اندازه او چتې یاغي ځپې لیدلې چې په خورا سختۍ سره اوښتې، ښکته پورته کېدې او په ګرځنو کې ترتاوېدو نه وروسته، یو له بله د مخکې کېدو هڅې کولې. خو کله به یې چې سترګې ببرته د پله سر ته را واړولې، هغه به هماغه شان د سرتېرو یوډول او تکراري مګر ژوندۍ ځپې لیدلې. ده دغه سرتېري چې پوښ لرونکې خولۍ یې پر سر، پټک په شا، اوږده تېره نیزه لرونکی توپک په اوږه او ترخولیو لاندې یې وچې ادو کېزې بشرې چې له ستومانۍ سره رږدې شوې بریښېدې، تر سترګو تېرول او لیدل یې چې هغوی بې پروا خپل ستړې ګامونو په هغو سریښیزو ختو کې وړاندې کشکارې چې دوی خپله د پله سرته راوړې وې. کله به یو کوټ په غاړه افسر لکه دانس د سیند دیوډول او تکراري ځپو په منځ کې راپیدا کېدونکې ځګ غوندې، چې له سرتېرونه به یې ځېرې توپیر لاره، دمخ په روانو سرتېرو دیو ډول او تکراري ځپو په منځ کې ځانته لاره ابسته او کله به د پلو سرتېرو په زورورو ځپو کې کوم سپور پوځي له آسه راکوز او ...

تر هغه وروسته یو ډله خوشاله او له ورایه له شرابو مست سرتېري روان وو. له هغو نه یوتن چې د کوټ لمنه یې لوړه کړې او په ګنده کې یې وهلې وه، په خورا خندا او مستۍ یې لاسونه ښورول او ویل یې:

-نه پوهېږې ګرانه یاره ! که پوهېدای چې ځنګه یې د توپک په قنداغ په غاښونو وویشت !

هلته بل سرتېري په کړس کړس وخندل او وې ویل:

-د سرکوزي خورا خوندوره غوښه وه.

هغه هم لاړل او تېر شول، خو نیسفیځکي، په دې سر خلاص نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې چا دچا غاښونه ورمات کړي او په دې هم پوه نه شو چې د سرکوزي خوندوره غوښه چا خوړلې وه.

بربدګي په خورا قهر او غندنيزه ژبه وويل:

-هغوې داسې تښتېدل چې ګواکې د مرګ سيوري پسې اخيستي او تصور يې کاوه چې ټول به او س قتل عام شي.ځوان سرتېري چې خورا لويه خوله لرله او په ډېر زيار يې کولای شول د خپلې خندا مخه ونيسي،ويل:

-پوهېږئ چې څنګه مې ګولۍ له څنګه تېره شوه کاکا !،هغه د توپ ګوله يادوم،داسې مې دغوږ په بېخ کې يو غږ پورته شو چې ما ويل سا مې وختله،داسې چې مه کوه پوښتنه،خدای دې ما ځوانيمرګ کړي که به دروغ ووايم.

هغه، دخپل ډار دا کيسه داسې په وياړ کوله چې ګواکې دغه ډار دډېر وياړ خبره ده.

هغه هم تېر شو.شا ته يې داسې يوه ګاډۍ را راونه وه چې نورو هغو ګاډيو ته چې تر او سه پورې تېرې شوې وې، هېڅ ورته نه وه.

يوه داسې دوآسيزه الماني ګاډۍ وه چې تا به ويل د کور ټول کالي او کپړې يې په کې بار کړي دي.ددغې ګاډۍ،شاته چې ګاډيوان يې يو الماني و،ښکلې،برګه او د غټې غولانځې لرونکې غوا تړل شوې وه.دګاډۍ پر څوکيو په پرتې توشکې يوه ځوانه ښځه چې کمکی دغېږې ماشوم يې غېږ کې و،له يوې روغې، سرو اننګو لرونکو،تکې سپينې المانۍ پېغلې سره د زړې بوډۍ څنګ ته ناست وو.داسې ښکارېده چې دغو اتريشي کډوالو له ښاره د لېږد بدلو لپاره ځانګړي اجازه ليکونه ترلاسه کړي دي.ټولو سرتېرو دغو دووښځو ته سترګې ګنډلې وې. په ټولې هغې مودې کې چې ګاډۍ په آرامه دګامونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



واټن ددوی له څنګه تېرېدله، دهغوي ټولي ټوکي ټکالي او ملنډې یوازې ددغو دوو ښځو په هکله وې. دټولو پر بشرو یوه داسې موسکا چې ددغو دوو ښځو په باره کې یې دناپاکۍ څرګندونه کوله، را خوره وه...

یو، پلي افسر چې منه یې خوړله، موسکا پر شونډو پېغلې ته کتل او وې پوښتل:

-چېرته ځئ؟

الماني سړي دسترګو په تړلو، داسې اشاره وکړه، چې نه پوهېږي.

افسر خپله منه پېغلې ته ورکړه او وې ویل:

-غواړئ ؟وایيخله. ستادې وې.

پېغله وموسېده او منه یې واخیسته. نیسفیڅکي، د ټولو هغو نورو نارینو په شان چې پر پله وو، تر هغه چې ګاډۍ پناه نه شوه، هغو ښځو ته کتل. کله چې دغه ګاډۍ او په هغه کې ناست کسان له سترګو پناه شول بیا سرتېري هماغه پخواني سرتېري او دهغو هماغه پخوانۍ خبرې وې، دې حال ترهغه دوام وکړ چې یو وخت ناڅاپه ودرېدل. هغه شان چې زیاتره وخت پېښېږي، دپله په وروستې برخه کې دګاډیو دکوم آس پښه بندېږي، درېږي او نور ټوله دې ته اړوزي چې ودرېږي او سترګه په لاره پاتې شي.

سرتېرو غږ وکړ:

-ولې ودرېدئ ؟هېڅ نظم نه شته.

ټول له خوځېدا پاتې وو ،یوبل ته یې کتل او مخ وړاندې یې زور واهه. له هرې خوا نه شروشور جګ وو:

-مه مې کښېکاږه !چېرته زور وهئ ؟ولې خدای وهلې یې، یوه شېبه تم شئ. که پله ته اور وروا چوي لا بل څه به وګورئ... هلته ګورئ چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسر يې پسې واخيست... پرېږده، پرېږده...

نيسفيڅکي، تر پله لاندې د انس د رود اوبو ته کتل. ناڅاپه يې يو داسې غږ تر غوږه شو چې ده ته خورا نوی و. د کوم ډېر لوی څيز غږ و چې په چټکۍ رانېږدې کېده او ګړز په اوبو کې ولوېد.

يو سرتېری چې هلته په اوبو کې دلوېدو ځای ته نېږدې ولاړ و، د غږ په اورېد يې په انديښناک اواز وويل:

-فکر کوم چې اوربل شو !

يو بل سرتېري په خواشداني وويل:

-موږ دې ته هڅه وي چې تلوار وکړو.

خلک بيا ټول په خوځېدا شول. نيسفيڅکي، پوه شو چې هغه غړمبهاری د توپ غږ و.

هغه وويل:

آه قزاقه !آس راوله، لاړ شئ ! هلته وګورئ !ژرژر لاره خلاصه کړئ.

هغه په خورا سختۍ ځان آس ته ورورساوه. پرله پسې نارې يې وهلې او په نارو نارو کې يې مخ ته چو کړل. سرتېرو شا ته د دې لپاره زور واهه چې هغه ته لاره پرانيزي، خو بېرته دده خوا ته داسې راکوچ شول چې د هغه پښې ترپښو لاندې شوې. خو په دې ټيل ماټيل کې هېڅوک ځکه ګنهګار نه و چې هغوی خپله تر سخت زور لاندې و.

په دې وهلو ټکولو کې، د شا له خوا نه يو ډډ او له تربګنۍ غږ واورېدل شو چې ويل يې:

- نيسفيڅکي، نيسفيڅکي، تاته وايم، ورکېږه ! خينځيره.

نيسفيڅکي، شا ته وکتل او لس پنځلس ګامه لرې، د مخې تلونکو پليو پرګڼو د ګڼه ګونې او شورماشور په منځ کې يې، تورسترګی، سوررنګی، جړڅنی واسکا دنيسوف وليد چې خولۍ يې څټ ته کوزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او کوټ يې لکه چې د ځانښودو ځوانانو دود دی، په خورا بې پروايۍ داوړو پر سر اچولی و.

د نيسوف، چې له قهر او خواشداني نه لکه اور داسې ايشېده او د سترګو توريې ، په سپينو کې د شغلو په شان لمبې وهلې، په نا ارامۍ يې خپله توره په نازکو او ښکلو لاسو کې نيولې او ښوروله.

نيسفيڅکي، په خوښۍ چيغه کړل:

-اوهو !دا ته يې واسکا !په تا څه شوي دي؟

د خورا قهر نه د وسکا دنيسوف، خوله لاپسې خوره شوه او سپين غاښونه يې ترې وبرېښېدل.دهغه تور، ښکلی، عربي، بدوئين نومی آس ،چې دنيزو په منځ کې يې سر وڅانډه، وشنهېده او شنهېدو سره يې له خولې نه ځګونه باد شول.سمونه يې د پله په تختو وټکول او که دهغه څښتن هغه پرېښې وای، آس به له کټارې نه ځان وړاندې سين ته ارتېږلی وای.

هغه چغې وهلې:

-دا څه حال دی!د پسو ګله د ،د پسو !رښتيا ،رښتيا هم لکه د پسو په شان !لرې شئ،لاره وکړئ...ودرېږئ،ګاډۍ ته لاره ورکړه، کنه په توره به دې ټوټې،ټوټې کړم او په رښتيا يې خپله توره له غلاف نه راوويستله او په ښورېدو ،ښورېدو يې وګواښوله.

سرتېري،ټول په خورا وحشت له يو بله تاوېدل، اوښتل او وړاندې وروستــه کېـدل.دنيســوف، هم ځــان نيســفيڅکي، ته وروړســاوه. دنيسوف، نيسفيڅکي، ته د ورسېدو سره سم وويل:

- څنګه دې نن شراب نه دي وهلي؟

واسکا دنيسوف، ځواب ورکړ:

-ايا دوی چاته د سر دتودولو وخت ورکوي؟له سهاره تر بېګا پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سرتېري له دې خوانه هغې خواته او له هغې خوانه دې خواته، همدا کشول دي او بس. خو نه پوهېږم که جګړه ده، پرېږدئ چې جګړې ته شو ،خو دغه څه چې موږ کوو ، پرته له جګړې نه نور هرڅه ته ورته دي.

نیسفیځکي، چې دهغه نوی کوټ او دآس ځل ته کتل، وویل:

-ښنګه دې نن داسې ځان جوړ کړی دی؟

دنیسوف، دخپلو ښکلو جامو له جبه په عطرو لړلی یو دستمال راوویست، هغه یې دنیسفیځکي، پزې ته ونیوه او وې ویل:

-بله لاره نه شته، جګړې ته روان یم، ځکه مې ږیره پاکه وهلې، غاښ مې برس کړي او ښه عطرو مې وهلي دي.

دننګ ونی نیسفیځکي، له هغه سره مل قزاق ،د دنیسوف ټینګ تکل چې خپله توره یې نڅوله او دلیونو په شان یې دزړه له تل نه رمباړې وهلې، ټولو ګواکې خپل اغېز وکړ چې دواړه افسران په خورا خواری، ځان دپله بلې خواته ورسوي او دهغوپلو سرتېرو مخه ونیسي چې له پله نه تېرېدل. نیسفیځکي، هغه ډګروال چې ده باید هغه ته د جنرال فرمان سپارلی وای پیدا کړ او دخپل ماموریت تر سرته رسولووروسته، بېرته راستون شو.

دنیسوف، چې لاره پاکه کړه ،دپله په وروستۍ برخې کې ودرېد.

هغه دخپل آس قیزه دم په دم ځکه را کلکوله چې دهغه آس دنورو اسونو په لیدلو سره هغو ته زور وروا هه، سمونه یې پرځمکه ټکول او سترګې هغو ته ګنډلې وې. پر پله د سمونو سندریز غږ، داسې شرنګېده چې تا به ویل یوازې څو اسونه روان دي، حال دا چې هلته څلور، څلور تنه دسورو پوره یو ټولګی روان او دپله بلې خواته ورسېدل.

دپلې پوځ ګڼ سرتېري چې دپله دسر په څنډو کې ښبنتي او له خوځېدا پاتې و ،دسواره پوځ سرتېروته چې نوې جامې په غاړه، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سند ريزو ګامونو د دوی له ښنګه تېرېدل ،په هغې رخې او کرکې کتل،لکه د تل په شان چې د پوځ دوه بېلا بېلې ډلې د مخامخ کېدو په وخت کې يو بل ته ګوري:

-ځوانانو داسې ،ښکلې او نوې جامې اغوستې وې،ته وا چې پرېټ ته روان دي.

يو بل تن غږ وکړ:

-نو تاسو څه فکر کوئ؟نو د څه لپاره يې خوځولي دي،يوازې دننداري لپاره.

يوه سواره چې آس يې په ځغاسته کې يوه پلي ته ختلی ورشيندلی وه،په ملنډو هغه ته وويل:

-هلکه دوړې به نه کوې.

پلي سرتېري چې په لستوڼي يې ختې له څېرې نه پاکولې،وويل:

-که تا دوه ګرځنې لاره پلې وهلې وای،پښنو به دې پوټکي اچولي وای،خو تاسې لکه مرغانو غونډې الوزې،له هغو نه هم لا ښه.دلګی مشر،هغه سرتېري ته چې د پېټي له لاسه يې ملا خمه شوې وه،په ټوکه وويل:

-زيکينه !که ته چا پر آس سپور کړی وای،بيا به داسې سرسام نه وای.

سواره غږ وکړ:

-آس څه وي؟يو لرګيز آس د لينګيو ترمنځ کېږدي،چو دې کړي او ځي دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

دپلي پوځ پاتې سرتېري هم ،په چټکۍ له پله نه اوښتل او دپله په وروستۍ برخه کې يې نرۍ کرښه جوړوله.په پای کې ټولې ګاډۍ وخوځېدې، ګڼه ګوڼه کمه شوه او وروستی کنډک هم دپله سرته ورسېد.يوازې ددنيسوف،دسپرو ټولی دپله آ پلو د دښمن په وړاندې پاتې شوي و. د غره له پاسه لرې لرې لا دښمن ليدل کېده،له لاندې ،يعني دپله له سره لا دليدلو نه و ،ځکه مخامخ غونډۍ چې مخه يې نيولې وه،له هغې درې نه چې سيند په کې بهېده له نيم ورسته زيات واټن نه درلود ،د افق مخه نيولې وه، او همدا د نيم ورست بې ونو واټن هغه ځای و چې ډلې ډلې ځارونکې قزاقان په کې ګرځېدل راګرځېدل. خو ناڅاپه له هغې نرۍ لارې نه چې دغونډۍ له پاسه ښکته راښېوه شوې وه،شين جامېزه سرتېري او څو توپونو راښکاره شول.هغه فرانسويان وو.قزاق ځارونکي په خورا چټکۍ له غونډۍ نه راښکته شول.که څه هم ددينسيوف،سپورو افسرانو او سرتېرو ،ټولو هڅه کوله پرته له هغه څه نه چې ناڅاپه ددوی ترمخ راپيدا شوي وو ،بل دهرڅه په اړه وغږېږي او وګوري،خو بيا هم دوی هغه تتې ځېرې ځارلي چې په لرې افقونو کې ددوی ترسترګو پيدا کېدې او ورکېدې.دوی پوهېدل چې دددښمن سرتېري دي.له غرمې نه وروسته بيا آسمان شين او ځلېدونکي لمر شغلې د دانيوب پرسيند او پر توربخنو ځنګلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرور ل شوي غرونو او د هغو پرشاوخوا لمن خورولـه.

که څه هم زوروره چوپتیا خوره وه، خو کله کله بـه لـه مخامخ غـره نـه ددښمن، د تروم او قوماندانانو دچغو غږ، په دې خواکې اوریدل کېـده.د دښمن په قواووکې دله وړو څارونکو ډلو پرته بل څوک نه و. د شپې او ه سوه متره په واټـن خالي دښتې هغـه سره لرې کول.ددښمن ډزې بنـدې شوې وې او دا هماغه ګوانښمنه، ډانګ پېښلې ،له رازه ډکه او ناڅرګنده چوپتیا وه چې، دوه دښمنې ډلې يې سره بېلوی.

دا حالت له هغه حالته يو ګام لرې و ، چې د مـرګ او ژونـد دتراژېدی نری کرښه سره جلا کوی.هغه کرښه چې دتېرېدونکو له ډلې نه يې يو هم بېرته راستون شوی نه دي.هېڅوک په دې نه پوهېږي، چې دهغه بريـد او کرښـې آپلو ، څـه شـی دی؟ څـوک دي؟، دهغـې کرونـدي، دهغې ونـې او دهغه بام شاته چې دلمر شغلو خپلې غېږ کې رانیـولي دي، څوک دي او څه کوي؟ هېڅوک نه پوهېږي، خوټول غـواړي پـوه شـي، تر دغـه بريـد نـــــه اوښـــــتل خـــــورا وحشـــــتناکه دي، خوټـــــول غـــــواړي چـــــې واواړي.پوهېږئ !سره لـه هغـه چې نـن روغ، جوړ، مست او لـه هرڅه بې پروا ،دڅان پـه شـان دنـورو انسـانانو په منځ کې ژونـد کـوو ، ژر وي کـه وروسته، اول وي که آخر، دې ته اړيږو چې دغه لاره ووهوو او پـه دې پـوه شو هلته څه دي، لکه هغه شان چې بايد پوه شو دمرګ آه پلو څـه شي دي او څه کېږي.

تصور کېږي هر هغه څوک چې د دښمن سره دلاس ګريوان کېدو پـه درشـل کـې دي، لـه دې نـه پرتـه د بـل شـي پـه اړه فکـر نـه کـوي او همـدا احسـاس د همـدې شـېبو د پېښـو دخوښـۍ دا احسـاس ترڅنـګ ځـانګړی پرتم او ځلا وربښي.

پر غونډۍ د دښمن د سورو پوځونود کرښـو پـه سـر دتـوپ د ويشـتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ګولۍ دلوګی کرښه خوره شوه.راټول شوي افسران خواره واره شول او هر چا خپل ځای ته مخه کړه.سورو هڅه کوله چې خپل آسونه سره سم او هغه په خپلو ټاکلو شویو ځایونو کې وساتي.پر پوځیانو چوپتیا خوره شوه. ټولو ،یا هغې غونډۍ ته چې دښمن په کې مېشت و ،کتل او یا هم د خپل قوماندان،قوماندې ته سترګې په لاره وو.دویمې او دریېمې ګولۍ هم د سرونو د پاسه تېرې شوې.داسې برېښېده چې هغوی په سورو پوځیانو ډزې کوي،خو ګولۍ نه په هغو بلکې دهغو ترشا چېرته لرې لرېدلې.سورو داخوا هغه خوانه کتل،خوټولو دهرې ګولۍ په تېرېدو ،ته به وایې د قوماندان په قوماندې،په ناورته ځېرو ،سره ورته حالت نیوه ،تر هغه به چې ګولۍ تېرېده ،خپلې ساوې به یې په ګوګل کې بندولې،همهاله به پر رکابونو ورپاځېدل او همهاله به بېرته خمېدل.ټول بې له هغه چې مخ واواړوي، د سترګو له څنګه یوبل ته کتل اوپه خورا ځیر یې د خپل انډیوال بشرې او سترګې څارلې.

له دنیسوفه نیولې تر جارچي پورې دټولو د څېرو د شونډو په شاوخوا او ژامې لاندې د ګېنې او رېږدېدا ،یو رنګه حالت لیدل کېده. دلګی مشر،تندي تریو کړ او سرتېرو ته یې داسې ورکتل چې ګواکې هغوی ته د سختې جزا ګواښ کوي.دحربي ښوونځي نه راغلي ځوان میرونوف، دهرې ګولۍ له هرګذار سره ځان خورا ښکته خماوه. رستوف، چپې خواته، په خپل ښکلي او مست ګراچیک نومي اس چې ګوډګوډ کېده ناست و.هغه ته داسې برېښېده چې دیوې ډلې مخې ته دداسې ازموینې لپاره راغوښتل شوی دی او دی ډاډمن دی چې بری په کې حتمي دی.هغه ټولو ته داسې په ځیر او نانواتو کتل چې ګواکې غواړي له هغو نه هیله وکړي چې وګوري دی څنګه ددښمن ګوزارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ټینګ ولاړ دی، خو دهغه په څېره کې ناڅاپه هماغه دګبنۍ او ګوانښ څرګندونکې نښې راڅرګندې شوې.

دنیسوف په خپل آس سپور، پرله پسې لرې،نږدې او شاخوا چورلید ه، هغه چیغه کړه:

-دا څوک دی چې هلته کوږوږ خوځي او درناوي کوي؟میرونوفه !دا ښه کار نه دی،ټول باید ماته غوږ واوسئ.

د واسکادنیسوف څېره،دهغه له لنډې مخ پورته پزې سره ،له ګڼو تورو څڼو ،لنډ خو ښکلي اندام سره چې په قوي ،لنډو ګوتو او تورو ویښتو مروړلي لاس کې یې دخپل ځلېدونکې تورې لاستی نیولی و ،د تل، په تېره بیا دهغو شپو په څېرچې دوه بوتله یې وهلي وي،ټوله لمبه لمبه وه.یوازې هغه په نادوده بڼه تر بل هر وخته تک سور او داوبو ځکلو په وخت کې یې، خپل دګڼو څڼو سر لکه مرغۍ داسې پورته او په وړو پښو یې په داسې بې رحمۍ له خپل بوئین نومې عربې آس نه داسې کړس جګ کړ چې آس په دوو پښو دربدوته اړوت او نږدې و چې دی هم شا خواته له هغه نه غوځار شي.هغه آس چو کړ او دنورو سورو خوا ته ورغی او په جړغږ یې پر هغو داسې غږوکړ چې خپلې تومانچې وګورئ.بیا دقوماندانۍ نه درالېږل شوي افسرکیرستن، خواته نږدې شو ،هغه پرسوروري او ارامۍ اسپې دده هرکلي ته را روان شو.بریتور کیرستن دتل په شان خورا جدي خو سترګې یې تر بل هر وخته زیاتې ځلېدلې.

هغه دنیسوف ته وویل:

-څه خبره ده؟تصور کوم خبره جګړې ته ونه رسېږي،هیله ده چې بېرته شا ته لاړ شو.

دنیسوف ترشونډو لاندې، وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-والله که د شیطان هم دهغو په کارونو سر خلاص شي.او چې کله یې سترګې د رستوف په خوشاله او مستې څېرې ولګېدې، چیغه یې کړه:
-وا رستوفه !واخله !درواخله دادې هماغه ورځ چې تا یې د رارسېدو هیله لرله. او دخوشال او له دنیانه دبېغمه پوځي زده کوونکي په لیدو یې دمننې موسکا پر شونډو راخوره شوه.
رستوف په زړه کې دنیکمرغۍ ګوړې ماتولې.په همدې وخت کې و ،چې دپله دپاسه د کنډک قوماندان رابنکاره شو.دنیسوف په تلوار دهغه پلو ورمنډې کړې او وې ویل:
-که جلالتماب اجازه وکړي،اور به بل کړو...زه به هغه درته ایل کړم.قوماندان چې دکوم مچ له آزارېې تندی تریو کړ، په خورا بې حوصلګۍ او خواشداني یې وویل:
-کوم اوربل ! کوم یرغل ! نه پوهېږم، تاسو لا تراوسه دلته ولې ولاړ یاستئ؟نه وینئ چې نور قوتونه شاته ځي؟خپل سواره راوګرځوئ.
سواره ،بې ل هغه نه چې یو مرګ ژوبله هم ورکړي،له پله نه واوښتل او د دښمن د ډزو له ګوابنه ووتل.ترهغه وروسته،د سورو دویم تولی هم د جبهې لومړۍ کرښې نه راپه شا او له پله نه واوښتل او تر ټولو وروسته قزاقانو د پله آه پلو سیمه پرېښوده.
دپاولوګراد دغونډ دوو سپورو کنډکونو هم شا ته،تګ پیل کړ او له پله نه تر تېرېدو وروسته یې یو په بل پسې غرونو ته مخه کړه.
د غونډ قوماندان، کارل بګدانیچ شوبرت،د دنیسوف سپرو ته ورنږدې شو او له رستوفه په لږ واټن کې له سوروسره، ګام په ګام همګامه وخوځېد ،که څه هم تلیاتین د پېښې له کبله،تر خواشداني کېدو نه وروسته دا لومړي ځل و چې سره مخامخېدل،خو هغې پېښې ته یې هېڅ پام ونه کړ.رستوف چې په جبهه کې، ځان دهغه چا تر واک

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې احساساوه چې دی ورته ملامت دی، نو د هغه د پنډو قوي اوږو، ژیړو څڼو او سرې غاړې نه یې سترګې نه لرې کولې. کله کله یې داسې انګېرله چې بګدانیچ هسې داسې څرګندوي چې ده ته یې پام نه دی او غواړي دی وازمایي، نو ځکه به سم کېنناست، ټټر به یې وویست او په خورا خوښۍ او مستۍ به یې هره خوا ته کتل. کله به یې بیا داسې انګېرله چې بګدانیچ په لوی لاس غواړي، هغه ته نېږدې خپل آس ددې لپاره وزغلوي چې ده ته خپله زړورتیا او مېړانه ښکاره کړي او کله به یې په زړه کې دا راوګرځېده چې د هغه سیال رستوف به، دی او دده سواره اوس په لوی لاس دده دلاځپلو لپاره د مرګ او جګړې ډګر ته استوي او یا به یې تر خیاله شوه چې دی تر یرغله وروسته ټپي شوی او قوماندان به په خورا مهربانۍ د هغه پوښتنې ته راځي او ده ته د به پخلاینې لاس ورغځوي.

ژیرکوف، چې وتلې او سوروري اوږې یې د پاولګراد د غونډ ټولو پوځیانو ته اشنا وې، ځکه ډېر موده نه کېده چې دی له هغه غونډ نه رابدل شوی و. ژیر کوف، د غونډ قوماندان ته ورنږدې شو. هغه د سترې قوماندانۍ نه تر لرې کېدو نه وروسته، نور نو په غونډ کې پاتې شوی نه و او ویل یې، لېونی خو نه دی چې ګوډګوډ په جبهه کې وړاندې لاړ شي، حال دا چې په لویه قوماندانۍ کې له کوم سختۍ او زیار نه پرته یې وکولای شي، هم لوړه رتبه او هم ستاینلیکونه ترلاسه کړي او هم د شهزاده باګراتیون، استازیتوب وکټي او دادي اوس د وروستیو قواوو د قوماندان له خوا خپل پخواني قوماندان ته د پیام راوړونکی و.

په وچه ژبه او تریو تندي یې خپل سیال رستوف ته مخ وروااړاوه او د سترګو له کنجه یې په کتو کتو کې خپلو ملګرو ته وویل:

-ښاغلیه ډګرواله ! سپارښتنه شوې ده چې تم شئ او پله ته اور ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړئ.

ډګروال چې په روسي ژبه ښه نه پوهېده، په خورا خواشداني يې وويل:

-چا سپارښتنه کړې ده؟

افسر په خورا زغرده او له ډګرواله په پيښنو پيښنو، ځواب ورکړ:

-نه پوهېږم ډګروال صاحب !نه پوهېږم چې چا سپارښتنه کړې ده، يوازې شهزاده ماته وويل:

-لاړشه، ډګروال ته ووايئ، چې سمدلاسه سواره پوځونه راوګرځي او پله ته اور ورته کړي.

له ژيرکوف نه وروسته، د شهزاده له چوپړانو نه، ډګروال ته يو افسر راغی او د هماغه فرمان خبر يې ورکړ. تر دې افسره بيا وروسته، پر يوه قزاق اس سور نيسفيڅکي، چې تر درانه اندام لاندې يې آس په خوارۍ خوځېده، راورسېد او لا ولاړ نه و، چې ناره يې کړې:

-دا نو څه دي؟ايا ما تاته نه و، ويلي چې پله ته اور واچوئ؟...

ډګروال سمدلاسه غونډ دريش کړ او نيسفيڅکي، ته يې وويل:

-تاسو ماته داور اچوونکو موادو په اړه وينا کړې وه، خو پله ته داور اچولو مو هېڅ نه وه، ويلي.

نيسفيڅکي، ودرېد، خولۍ يې له سره لرې او په داسې حال کې چې په څورب لاس يې، خپل په خولو لامده شوي ويښته راجوړول، وويل:

-پوه نه شوم ګرانه !څنګه مې څه نه دي ويلي... تاته مې وويل چې کله مو اور اچوونکي مواد پر پله ځای پر ځای کړل، هغه ته اور ورته کړئ.

-ښاغليه افسره !تر هرڅه لومړي خو زه ستاسو (ګران) نه يم، دويم دا چې تاسو ماته، پله ته داور ورته کولو په اړه هېڅ نه و، ويلي. زه څه پوځ ته نوی نه يم راغلی، دا زما عادت دی چې هره سپارښتنه په خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیر کتیا ترسره کړم.تاوویل چې باید پله ته اور ورته کړئ،څوک باید پله ته اور ورته کړي؟زه د سپېڅلو ارواحو په مرسته دچا دخبرو تصور نه شم کولای.

نیسفیځکي،لاسونه وخنډل او وې ویل:

-هوکې !دا تل همداسې وي.

بیا یې ژیرکوف ته مخ وروا ړاوه او وې ویل:

-ته دلته څه کوئ؟

زه هم ستا په څېر دهمدې سپارښتنې د رسولو لپاره راغلی یم.

دغونډ قوماندان په خواشدانې وویل:

- تاسو وویل چې...

چوپړ افسر دهغه خبره ونیوه او وې ویل:

-ډګروالـه !تاسو باید تلوار وکړئ،کنه دښمن خپل توپچي پوځ وړاندې راولي او موږ یې بیا تر ډزو لاندې راځو.

ډګروال چوپ پاتې شو او په ځیر ځیر یې چوپړ افسر، څورب نیسفیځکي او ژیرکوف ته وکتل او په زغرده یې وویل:

-ډېر ښه !زه به پله ته اور ورته کړم.

-هغه دا خبره په داسې یوې ادا کوله چې ګواکې غواړي ووایي،چې

:

-سره له هغو ټولو نادودو چې دده په وړاندې شوي دي،دی بیا هم هغه څه ترسره کوي،چې باید ترسره شي.

هغه په اوږدو اوغړورو پښو آس ته داسې ګذار ورکړ چې تا به ویل په دې ټولو کې ګناهګار هغه دی.دی د سورو دویم تولي ته ،هلته چې رستف د دنیسوف تر قوماندې لاندې خدمت کاوه ،مخکې ورغی، او هغه ته یې سپارښتنه وکړه چې پله ته ورستانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف په زړه کې وويله:

-هو همدا سې ده چې وايم، هغه غواړي ما وآزمايي.په ګوګل کې يې لمبې بلې او وينې يې دمخ پلو ته هڅه کړه،بيا يې له ځانسره ياده کړه:

-پربړده چې وګوري ،څوک ډارن دي.د سواره ټولي د ټولو وګړو خوشاله څېرې بيا هغه شان برندې،برندې شوي لکه پر دوی دتوپونو د ډزو په وخت کې چې وې.رستوف،په پرله پسې د غونډ دقوماندان څېره،چې خپل سيال يې ګڼه،څارله او يوازې دا هيله يې لرله چې په هغه کې دخپلو انديښنو نښې پيدا کړي. خو ډګروال،رستوف ته،آن مخ هم ورونه ړاوه او دتل په شان يې ،پرله پسې په غوره او ټينګه د جبهې کرښې ته کتل او دهغه دقوماندې غږ واورېدل شو:

څوناري واورېدل شوې:

-ژر،ژر ځئ !خوځېږئ !

سواره پوځيان سره وښورېدل،بې له هغه چې څوک په دې فکر وکړي چې وروسته به دوی څه کوي،له آسونو نه د رابښکتکېدو په وخت کې يې دبوټونو او سپنيزو پوندو شرنګهاري کاوه.دوی خپلې تورې په تلوار دآسونو په افسارونو کې غوټه کولې.دوی پر تندي او ټټر ددعا په نښه لاس تېراوه.رستوف،نور نو ددې وخت نه لاره چې دغونډ قوماندان، ډګروال ته وګوري.هغه ډاريده،د زړه له تله ډارېده،چې له نورو سورو نه شاته پاتې نه شي.کله چې يې خپل آس،آس ساتونکي سرتېری ته سپاره، لاسونه يې رېږدېدل او زړه ته يې د رسېدونکو وينو ،درزهاری ښه احساساوه. دنيسوف،پر آس ناست،له خياله شاته ځوړند او په خورا مستۍ او چغو د هغه له څنګه تېر شو.رستوف پرته له هغو وګړو نه چې دده تر شاوخوا هرپلو ته،په منډه وو او دبوټونو اسپنيزو پوندو او توروېې شورماشور جوړکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ،بل څه نه ليدل.

دشاله خوا يو غږ واورېدل شو:

-يوه کراچۍ !

رستوف دې ته پام ونه کړ چې کراچۍ دڅه لپاره غواړي،دهغـه ټولـه هڅه يوازې ددې لپاره وه چې تر ټولو نه مخکې واوسي،خوکله چې پلـه ته وررسېد ،ترپښو لاندې ځمکـه نـه ښـکارېده،په ختهو کې يې پښـې ونښتې، مخ وړاندې غوځار او دواړه لاسونه يې ولګېدل،دی همداسې په ختهو کې نښتی و ،خو هېڅا هغه ته پام نه کاوه او ټول،پـه تلـوار دهغـه له څنګه تېرېدل.

دغونډ دقوماندان غږ يې واورېد.هغـه چې سـپور تـر ټولـو وړانـدې تللی او په غوړېدلې څېرې ،پرتمين غـرور او لـه خوښـۍ نـه پـه ډک اواز پله ته نېږدې غږېده ،ويل:

- دواړو خواوته !تورن صاحب !

رستوف چې په ختهو ککړ لاسونه،په خپل پطلانه پاکول،خپل سـيال ته وکتل او هڅه يې وکړه چې مخ وړاندې لاړ شي،ځکه تصوريې کـاوه چـې، څـومره وړانـدې لاړ شــي،هومره ښــه او دده پــه ګټــه ده.خــو بګدانيچ،که څه هم درستوف څېرې ته نه ځير او نـه يـې پېژنـدلای و ،پـه خورا قهريې پر هغه غږ وکړ:

-دا څوک دي،چې پرپلـه منډې وهي؟ښـي لاس تـه !شـا ګـرز دلګـی مشره !

تر هغه وروسته ډګروال، پـر دنيسـوف،چې دزړورتيـا ښـودنې لپـاره دپله سرته تللی و ،غږ وکړ:

-اې ټوليمشـره !ولـې پـه لـوی لاس ځـان لـه ګـوابښ سـره مخـامخ کوئ؟ښه به دا وي چې دې خواته راکوزشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیسوف واسکا چې پر زین ورخم شوی و، راستون شو او وې وویل:

-له ګولۍ نه څوک پېښېدای نه شي، هر هغه څوک چې برخه یې وي، خپله پیدا کوي.

په دې وخت کې نیسفیڅکي، ژیرکوف او دستر قوماندان د سپارښتنې راوړونکی چوپړ افسر، د دښمن تر اور لاندې سیمې نه دباندې ولاړ وو. کله به یې دغې وړې ژیړ خولو ډلې ته چې، پاخه شنه رنګې واسکټونه او د سورو پوځونو آسماني رنګه پطلونونه یې اغوستي، د پله څنګ ته راټول شوي او په خورا شور او مستۍ سره خوځېدل، کتل او کله به له لرې نه دې خواته رانږدې کېدونکې، شنو جامو ډلې ته چې پر آسونو سپاره او دوسلو د ډوله نه په آسانۍ پېژندل کېدل، ورکتل.

دې پله ته به څوک اور ورته کوي او کنه؟ او که اور ورته کوي، هغه به څوک وي؟ ایا دغه ډله به اخر پر پله، د دغه کار د سرته رسېدو لپاره وخوځېږي او کنه؟ او یا به دوی، دومره سره دادي او هغه دي، وکړي چې فرانسویان به تر دوی مخکې او دوی به په خپلو ګولیو تالان والان کړي؟

دا د هغو بې شمېره پوځیانو د هر یو پوښتنې وې، چې د لمرلوېد تر زرینو شغلو لاندې دغونډۍ پرلمنه ولاړ وو او د خوښۍ له څپو نه په ډکو درز بدونکو زړونو یې ترخپلو پښو لاندې پله، د هغه پرسر ولاړو سورو او هغو شنو جامو دښمنانو ته کتل چې، نیزې په ټټر له توپخانې سره را روان و.

نیسفیڅکي، ویل:

-اوس به زمونږ پر سپرو قیامت جوړ شي، اوس ټول، د دښمن تر اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې راتلای شي.

چوپړ افسر وويل:

-هسې يې دا ټول سرتېري دې کار ته واستول.

نيسفيځکي، وويل:

-خو که رښتيا وو وايم، دې کارته دوه شازلميان بس و.

ژيرکوف، چې د پله له سورو نه سترګې نه اړولې، په هماغه خپله ساده ښه چې نه پوهېدل کېده، ټوکې کوي او که رښتيا وايي، دهغه خبرو ته ورودانګل او وې ويل:

-آه، جلالتمابه !دوه شازلمي ورولېږئ، څه وړاند ېږ؟بيا به هغه وخت، کوم چا يوازې ددووتنو د وژل کېدو په درناوي، مورږ ته د ولاديمير نښانونه راکړي وای؟ پل تر اور لاندې دی؟وي دې.کارونه به سره وويشو، سواره به وړاندې واستوو او دنښانونو دمنلو ګران کار به خپله وګالو، زموږ بګدانيچ، دکارونو په نظم خورا ښه پوهېږي.

چوپړ افسر، د فرانسويانو هغه توپونو وښودل چې له اسونو نه يې خلاصول او آسونه يې په چټکۍ وړاندې خوځول.

دفرانسويانو په خواکې، د راټول شويو وسلو په منځ کې، يو لوګی پورته شو، له هغه سره هممهاله دويم، دريم او په هماغه شېبه کې و چې د لومړي ګولۍ د الوتو غږ هم راورسېد، دويم غږ، دريم او ځلورم غږونه هم واورېدل شول.

نيسفيځکي، ته وا، له کوم سوځونکي درد ه چغې کړې، اخ، اخ يې کړل او چوپړ افسر يې له څنګلې راونيو او وې ويل:

-وګورئ ولوېد، لومړي ټپي، ولګېد، ولوېد.

-ښکاري دوه ولوېدل، دوه...

نيسفيځکي، مخ راواړاوه او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه د ټولو اک پر ځای وای، هېڅکله به مې جګړې ته غاړه اېښې نه وای.

فرانسویانو بیا په توپونو کې ګولۍ کېښودې او شین جامې پوځیان په منډه منډه د پله خواته مخکې را روان وو. ترلنډ ځنډ وروسته د لوګو کرښې یو په بل پسې پورته ختې او د توپ د ګولیو ډزو ډوز، غړمبهارې او د شروشور شور د پله نه لرې وا وربېدل شو، خو دا وار نیسفیځکې، پر پله د سخت لوګي نه د خورېدو له امله نه شو کولای وویني، چې پېښه څه ده. سواره پوځونه بریالي شوي وو، پله ته یې اور ورته کړي او فرانسویان هم هغوی د توپونو ترډزو لاندې راوستي، خو نه د دې لپاره چې د اور اچولو مخه ونیسي بلکې له دې کبله چې نور نو دهغوی توپونه خوځېدلي وو او د موخې په لور روان وو.

مخکې له هغه چې روسي سواره پوځیان له پله نه راستانه شي، فرانسویان په دې بریالي شول، چې درې واړې پل د توپونو تر اور لاندې راولي، که څه هم دهغو دوه واره ډزې بې ځایه لګېدلې وې، خو یوه ګولۍ مخامخ د سرتېرو په منځ کې لګېدلې وه او درې تنه لوېدلي وو.

رستوف چې ټول خیال یې په دې کې و، چې قوماندان ته ځان زړور ښکاره کړي، د پله پر سر پاتې و او په دې نه پوهېده چې څه وکړي.هېڅوک نه و چې هغه یې سر پرې کړي (هغه شان چې هغه تل ویل) پله ته یې اور اچوونکو سره هم ځکه مرسته نه شوه کولای چې ځله انسره یې کوم ګېډۍ واښه یا سواره نه و راوړي.هغه ودرېد، شاو خواته یې وکتل، ناڅاپه یې د پله له سره شروشور وا وربد، دا سې شروشور چې ګواکې کوم شي راوپرزېدل.یو سرتېري چې تر ټولو هغه ته نبږدې ولاړ و، زګیروی وکړ او د پله له کټارې ور ولوېد. رستف له ځینو نورو سره د هغه مرستې ته ور ودانګل او بیا چا نارې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کراچۍ، کراچۍ !سورو ،پوځیانو څلور تنه ټپیان را ونیول او هغه یې راپورته کړل.

یو ټپي سرتېري زګیروی کاوه:

-وای،وای د خدای لپاره پرې مې ږدئ..خو د دې عذر سره یې هغه راپورته کړ.

نیکولای رستوف بېرته راستون شو ،داسې بربښېدل چې ګواکې د هغه سترګې چېرې لرې، د دانیوب په اوبو کې،په آسمان کې او په لمر کې کوم شي لټوي.آسمان څومره ښکلی و ،څنګه تک شین او بې ساری او څنګه ژور ژور.څنګه روښانه او پرتمین لوېدونکې لمر،د دانیوب لرې ځلېدونکې او جړېدونکې اوبه او له هغه نه هم د دانیوب پر غاړو ولاړ ښکلې تک شنه غرونه،په هغه کې ولاړه کلیسا ،له رازونو ډکې درې او د نښترو ځنګلونه چې د سپوږمۍ په سیند کې لاهو وو ،هلته، سوله ایز جنت و ،هغه جنت چې عیش او عشرت یې په هستۍ کې ډوب شوي وو.رستوف، په زړه کې ویل:

-کاشکې زه هلته وای، که زه هلته وای،نور مې نوله خدای نه هېڅ، هېڅ نه غوښتل.یوازې زما په ګوګل او په ځلېدونکې لمر کې ،د نیکمرغۍ چینې راخوټېږي...او د لته له غم،بد مرغۍ،وېرې،عذر وزارۍ او له تلواره پرته بل څه نه شته.او بیا چغې اونارې او بیا بېرته ستنېدو ته منډې، منډې، هغه ده مرګ ،زما په شاوخوا کې،له ما سره مل او زه له هغه سره روان...او یوه شېبه وروسته به زه، نه دا ځلېدونکې لمر او نه هغه تنګه ښکلې دره، یوه هم نور،نو زه لیدلې نه شم...

په دې شېبه کې لمر کرار کرارداورو تر شا پناه کېده.د هغې تر مخې نورې کراچۍ تېرېدې او تېرېدې...د مرګ سیورى،د مړو وړونکې کراچۍ،له لمر او ژوند سره مینه،ټول ټول ،په یوه غمجن،دردمن خیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې راټول شول.

رستوف، تر شونډو لاندې وویل:

اې لويه خدايه !دا تاسو هلته په راڼه آسمان کې، ومې ژغوره، ومې بښه او ومې ساته !

سواره پوځيانو، دآس ساتونکو پلو ته مخه کړه:

-ښه وروره !تاسو د باروت بوی واورېد ؟ څنګه و ؟

رستوف، وويل:

-هرڅه تېرېږي ،خو زه ډارن يم، ډارن. شرم دې وي چې زه يو ډارن ځوان يم. هغه سوړ اسويلی وويست او ګراچيک نومي آس يې، چې پښه يې پر اېښې وه، له آسوانه را ونيو ،پر هغه سپور شو او له دنيسوفه يې وپوښتل:

-داڅه وه ؟د توپونو ډزې وې، که څنګه؟

-هو کې او څه ډزې؟موږ خپله هڅه وکړه، خو خبره په دې کې ده چې موږ څوک يرغل ته نه پرېږدي،...

دنيسوف، دا وويل او دغونډ دقوماندان، نيسفيځکي، ژيرکوف او چوپړ افسر خواته، چې له رستوفه راتاو شوي وو، ورغی.

رستوف، په زړه کې وويل:

-ښکاري دهېڅچا ،هېڅ شي ته پام شوی نه دی، ځکه له جګړې نه ديوه پوځي زده کوونکي احساس ،دلومړي وار لپاره دباروتو دبوی اورېدل او دتوپونو تر ډزو لاندې دهغه راتګ دهېڅچا لپاره نه نويوالی درلود او نه دپام وړ و.

ژيرکوف وويل:

اوس نو ددې وخت را رسېدلی چې يو ښه راپور وليکې، نښانونه او جايزې واخلې او که ماته کومه ترفيع هم په کې ورسېږي بده به نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغونډ قوماندان ډگروال ، په خوشۍ، پرتم او غرور سره وويل:

-شهزاده ته راپور ورکړئ، چې ما پله ته اور ورته کړ.

-که دمرگ ژوبلې پوښتنه وکړي؟

ډگروال، په کبرجنه او دبرى له ميو په مسته ژبه وويل:

-ورته ووايئ، هېڅ !دوه سواره ټپي او يو هم وژل شوى دى.

نه يوازې دهغه له خبرو نه خوښي ځرگنده وه بلکې نه يې شو کولاى خپله هغه موسکا چې ددغې خوښۍ انځور يې ويست پټه کړي.

هغه د (وژل) کلمه داسې ادا کړه چې گواکې دهغه له ويلو نه خورا خوند اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

د کوتوزف تر قوماندې لاندې، د روسيې پنځه ديرش کسيزه پوځ، چې د ناپليون بناپارت تر قوماندې لاندې د فرانسې سل زريزه پوځ پسې اخيستی و، هغوی هر چېرې د سيمه ايزو خلکو له سختو ناندريو او تربګنيو سره مخامخ وو. نوريې پرخپلو ټلوالو پوځونو ډاډ له لاسه ورکړی او د خوړو او اوبو له لړ والي سره مخامخ وو، په خورا نه اټکلېدونکو شرايطو کې په جګړه لګيا او دې ته اړ وو چې په تلوار د دانيوب پر غاړو ښکته خوا ته راشي او په هغو ځايو او سيمو کې ځای پر ځای شي چې دښمن پسې رارسېد. دوی به په دې حالت کې خپل پوځونه په هغه اندازه له دښمن سره لاس وګريوان کول چې تر وروستې اندازې د وسلوله لاسه ورکولو او وګړو له مرګ ژوبلې پرته، شاته لاړ شي.

دغه راز جګړې په لامباخ، آمشتيتن او ميلک کې پېښې شوې.خو د روس د پوځ د ټولې زړورتيا او مېړانې سره سره چې دښمنانان هم په هغه قانع وو، دغه اخ او ډب له دې پرته چې د ښه او چټک شاته تګ لاره آواره کړي، بله ګټه نه لرله. د اتريش پوځونو چې د ئولم په ښار کې يې ماته خوړلې وه، يوازې په دې بريالي شوی وو، چې د اسېر کېدو نه ځان وژغوري او دبراوناو په سيمه کې له کوتوزف سره يوځای شي، او س د روس له پوځه په خورا لرې واټن کې پاتې وو او د ټولو قواوو قوماندان يې له ډېر لږ او ستومانه کسانو سره يوازې پرېښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و.نور نو آن د ویانا د دفاع،خیال هم بې ځایه و.

د هغه پلان له مخې چې کوتوزوف ته په ویانا کې د استوګنې په وخت کې د اتریشي پوځیانو له خوا ورکړ شوی و ،بنسټیزه موخه دا وه چې د یر غلیزې جګړې پر ځای،باید خورا ځیرل شوی او د دربار د جګړیزې شورا له خوا د جګړې دنوې پوهې ،ستراتیژۍ پر بنسټ ،کوتوزوف باید داسې وکړي چې ترخپل واک لاندې پوځ لکه د ماک په شان چې په ئولم کې یې خپل پوځ تباه کړ،تباه نه کړي او له هغو روسي تازه دمو پوځیانو سره چې دې خوا ته له روس نه را روان دي،یو ځای شي.

کوتوزوف د اکتوبر په اته ویشتمه نېټه له خپل پوځ سره یوځای د دانیوب د رود کینې غاړې ته را او ښت،دغه سیند یې دځان او د فرانسویان د اصلي قوا وو ترمنځ بربد کړ،دشا ته راتګ له پیله دا لومړی وار و چې خپلو پوځونو ته یې د دربېدو امر وکړ.د اکتوبر په دېرشمه یې دمارشال موتیه، فرقه چې د دانیوب د سیند په کینه خوا کې پرته وه، تر ګذار لاندې راوسته او تالان یې کړه.په همدې جګړه کې و ،چې دوی دلومړي ځل لپاره له دښمنه غنایم ولکه کړل.په دغو غنایمو کې د دښمن یو بیرغ او څو توپونه هم و ، دغه راز د هغو دوه جنراله هم اسیر شوي وو.روسي پوځ تر دوه اونیز شاتګه وروسته،دادي دلومړي ځل لپاره ودرید ،هغوی نه یوازې د جګړې ډګر ګټلی و ،بلکې فرانسویان یې هم پسې اخیستي وو.سره له هغه چې روسي پوځ سم کالي نه لرل او ګېډې اخیستي و.سره له هغه چې دهغو یو په دریمه برخه، ځوک ناروغ،ځوک ټپي او ځوک وژل شوي وو ،سره له هغه چې ددوی ټپیان او ناروغان د دانیوب د سیند آغاړه پاتې وو او کوتوزف،دښمن ته د یولیک په ترڅ هغه دهغوی انسان دوستۍ ته سپارلي وو او بیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له هغه چې د کرمس دښار لوی روغتونونه او زیاتره کورونه په پوځي روغتونونو بدل شوي وو ،آن د ناروغانو او ټپیانو لپاره نور دبستر کولو ځای پاتې نه و ،خو بیا هم په کرمس کې پاتې کېدل او په مارشال مورتیه بری دروسي پوځیانو روحیات خورا لوړاو دوی یې خورا زړور کړل.په ټول پوځ په تېره بیا په ستره قوماندانۍ کې داسې هیله ښېونکې ،خوناسمې اوازې او ډنډورې خپرې وې،چې له روس نه تازه پوځونه رارسېدونکي دي،اتریشیانو هم،خدای پوهېږي فرانسویانو ته چېرې ماته ورکړې او دبناپارت پوځونه په ګېنهۍ او تلوار سره شاته درومي.

سردار اندرې،په دې جګړه کې د وژل شوي اتریش جنرال شمیت،تر څنګه جنګېده.آس یې ټپي او خپل لاس یې هم دګولۍ په لګېدو لږ خوږ شوی و.د پوځ ستر قوماندان،دیوې ځانګړې مینې او پېرژوینې له مخې، هغه دې ته ګمارلی و ،چې د دغه بري زیری،د اتریش دربارته ،چې د دښمن له خوا پلازمېنې ویانا ته ورسوي (پلازمېنه دګوانښ له امله اوس برن ته لېږدول شوې).سردار اندرې دجګړې په هماغې شپې،بې له هغه چې خپلې ستړیا او ستومانتیاته وګوري، په خورا شور او شوق (سردار اندرې،د ټول ځاني وړوالي سره سره تر خورا غښتو او قوي کسانو کولای شول، ستړیا او ستوماني وزغمي )کرمس ته سپور راغلی او د دختورف،پیام او سپارښتنه یې کوتوزف ته راوړې وه او په هماغه شپه کوتوزف،هغه ته سپارښتنه وکړه چې،ددغه بري زیری،برن،ته،ورسوي.برن ته دده دغه استونه نه یوازې هغه ته دځانګړي استازي دریځ بانښه بلکې ،هغه ته دنښان او لوړې ترفیع نښه هم وه.

شپه تکه توره او آسمان له ستورو ډک و.پرون،دجګړې په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوره وربېدلې وه او لارو د سپینو واورو په منځ کې تورې کرښې ویستې.

سردار اندرې، کله د جګړې اغېزې او یادونه رایادول ،کله به یې مخکې له مخکې هغه اغېزې چې د برې د زېرې له خوښۍ نه د درباریانو په زړه کې پیدا کېدې، په خیال کې راوستې او یا یې هم د پوځ لـه ستر قوماندان او خپلو ملګرو سره خپله خدای په امانې وریادوله.هغه په ګاډۍ کې ناست او وړاندې روان و.هغه د هغه چا احساس لاره، چې تر خورا انتظاره وروسته یې د خپلې هیلې نیکمرغي ترلاسه کړې وه.هر وار به یې سترګې پټولې، په غوږو کې به یې د توپکو ،توپونو او وسلو اوازونو او غږ مبهاري شروشور جوړاوه او د غـه شروشور بـه ،دګاډیو داربو له آوازونو سره دبرې خوږوالي سره ګډېده.کله به یې په خیال کې راتله چې روسي پوځیان تښتي او خپله وژل شوي دي، خو سمدلاسه راوېښېده او په نیکمرغۍ سره پوهېده چې دا هېڅ نه دي پېښ شوي او برعکس دا فرانسویان دي چې تښتېدلي.هغه بیا له سره د برې ټول خوندونه اورنګونه او په جګړه کې خپله مېړانه وریادول او وروسته بیا په ارامه په کلک خوب ویده کېده...تر تیارې او له ستورو ډکې شپې نه وروسته بیا روڼ او لـه خوښیو ډکې سپیدې ولګېدې.واوره تر لمر لاندې ویلېده ،آسونه په چټکۍ زغلېدل او دلارې ښي او چپ تـه ګډوډ ځنګلونه ،کروندې او نوي ودانېدونکي کلي تېرېدل.

دلارې په یوه تم ځای کې هغه د روسي ټېپیانو یوې ډلې ته ورورسېد. هغه افسر چې د دغې ډلې مشري کوله په لومړۍ کراچۍ کې یې ډډه لګولې وه او پـه چغـو چغـو یې پـه خـورا پوچـو ښکنځلو یـو سرتېری ښکانځه.پـه هـره اوږده المـانۍ کراچۍ کـې شـپږ او تـر هغـه زیـات ،ټپي، یوډول رنګ الوتي، د چا لاس،دچا پښه او د چا بل ځای ټړلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ختهو ککړ سرتېري پراته وو. څو تنو خبرې کولې(هغه د هغو روسي خبرې اورېدې)چا ډوډۍ خوړه،او هغه چې تر ټولو سخت ټپي وو ،چپ وو ،هغوی په خورا ځیرتیا او د ساده ناروغو ماشومانو په څېرېې ،ددوی له څنګه تېرېدونکو ګاډیو ته کتل.

سردار اندرې ګاډیوان ته ددرېدو وویل اوله یو سرتېري نه یې وپوښتل چې په کومه جګړه کې ټپي شوی دی؟

سرتېري،ځواب ورکړ:

-پرون نه،هغه بله ورځ د دانیوب د رود په غاړه.

سردار اندرې دخپل جیب کځوړه راوویستله،له هغې نه د سرو زرو درې خښتې راواخیستې او سرتېري ته یې تربښلو وروسته،دهغو هغه افسر ته چې رانږدې کېده، وویل:

-داد ټولو لپاره.او زیاته یې کړه:

-خدای مو روغ کړه وړکیو،خورا ،ډېر کارونو لا تر مخې دي.

افسر چې غوښتل له سردار سره دزړه خواله وکړي،له هغه نه وپوښتل:

-ښاغلیه یاوره !څه خبرونه دي؟

سردار اندرې ځواب ورکړ:

-خورا ښه خبرونه او پر خپل ګاډیوان غږوکړ:

-چو کړه.

او ګاډۍ په چټکۍ وخوځېده.

سردار اندرې چې کله د برن،ښار ته ورسېد ،هوا چور تیاره شوې وه.

هغه ځان دلوړلو له رڼا نه ډکو کړکۍلرونکو ودانیو ،د بې شمېره ځلېدونکو څراغودرلودنکو واټونو ،پر تېرږو فرشوکوڅوکې د ښکلیو ګاډیو دآسونو د سمونودغږ او دلویو ښارونودخوښۍ او شروشورد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړې دنیاګې په منځ کې ،چې له جګړې نه هر راستون شوي پوځي ته بې ساري ،زړه رانښکونتیا لري، راګیر ولید.

سردار اندرې،د خورا تلوار نه ډک شپني سفراو پرله پسې شوګیریو سره سره مانۍ ته په نبږدې کېدو سره ځان تر پرون شپې تازه او تاند احساساوه. یوازې دهغه سترګې په بې سارې، ملاله بڼه ځلېدلې اودهغه خیالونه او اندیښنې په ډېرې چټکۍ او ژرګنده توګه بدلیدل.دجګړې ټولې وړې اوغټې پېښې،اوس نه دکوم خیال بلکې دیو روڼ،رښتیني واقعیت په بڼه ،له ټولو ژرګندونو سره چې ټولواک ته یې ویل او سپړل غوښتل،دهغه په ذهن کې راخوټېدل.هغه له ځان نه هغه پوښتنې کولې او سمدلاسه یې ځوابونه ورته جوړول چې تصور یې کاوه ټولواک به یې له ده نه پوښتي.هغه داسې انګېرله چې مانۍ ته په رسېدو سره به هغه سمدلاسه ټولواک ته وروليږي.خو د مانۍ لویې زینې ته په رسېدو دهغه مخې ته یوه څارونکي راوځغاستل او تر پېژندنې وروسته یې هغه دمانۍ دبلې دروازې له لارې دننه مانۍ ته بدرګه کړ.

هغه ته یې وویل:

-جلالتماب !له ښي لاسه نه مهرباني وکړئ.ځانګړی څارونکی به تاسو ددفاع وزیر ته بدرګه کړي.

هغه یاور چې داندرې وبدرګې لپاره راغلی و ،هغه هیله وکړه،چې یوه شېبه صبر وکړي او خپله ددفاع وزیر ته ورننوت.ترپنځو دقیقو وروسته هغه راستون شو ،په خورا درناوي یې تر مخې روان او هغه یې دوزیر تر کوټې بدرګه کړ.ددغه یاور ،کره وړه او خواخوږۍ تر هغې اندازې وو ،چې غوښتل یې له دغه روس یاور ځان په یوه واټن کې وساتي.ددفاع د وزیر کوټې ته د نږدې کېدو په لړ کې،د سردار اندرې دخوښۍ احساس خورا کم شو.هغه داسې وانګېرله چې ده ته درناوي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی شوی او دغه دنه درناوي احساس، بې له هغه چې دده ورته پام شي دهغه په زړه کې ده ته د سپکاوي په احساس بدل شو. په ځواب پيدا کولو کې دهغه چټک توان، په يوه شېبه کې هغه ته دا انګېرنه ورکړه چې ځان ته دا حق ورکړي چې د دفاع وزير او دهغه ياورته، دی هم په سپکه وګوري، هغه په زړه کې ويل:

-ته دې ښاغلو ته ګوره چې لا تر اوسه يې نه دجګړې بد ساعت ليدلی او نه يې دباروت دود ځکلی دی، تصور کوي چې د جګړې ساعت خورا آسانه چاره ده. سترګې يې هغو ته د سپکاوي نه په کتو کتو تنګې او تنګې شوې. په خورا غوره ، کرارو ، شمېرلو او ټينګو ګامونو د زوی کوټې ته ورننوت، وزير يې، سر ښکته د خپل ميز ترشا وليد ، څوشېبې تېرې شوې، خو بيا هم وزير سر را پورته نه کړ، ده ته يې ونه کتل، نو دده په زړه کې را خوټېدونکې کرکې لا قوت واخيست. د دفاع وزير چې دوو خوا ته يې دوه تت شمعو نه لګېدلي وو ، پک سر او سپينې شقيقې يې مخ ښکته څه پاڼې لوستې او په پنسل يې پر هغو پاڼو څه ليکل. وزير خپلې مطالعې او څېړنې ته همدا سې دوام ورکړ او آن هغه وخت چې دروازه خلاصه او دګامونو غږ واورېدل شو ، بيا يې هم سر پورته نه کړ.

د دفاع وزير، بې له هغه چې ځانګړي استازي ته وګوري، کاغذونه يې خپل ياورته وسپارل او وې ويل:

-دا دروا خلئ او وې لېږئ.

سردار اندرې له ځانسره وويل:

-يا دا چې په هغو ټولو خبرو کې چې دوزير په سر کې ګرځي، د کوتوزف د پوځ عمليات تر ټولو لږ دهغه لپاره دا اهميت وړ دي او يا دا چې دغه پاڼې روسي استازي ته وسپارل شي، خو زما لپاره هم اوس بې تفاوته ده. د دفاع وزير له ميزه ټولې پاڼې را ټولې، د سره سمولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابرولو لپاره پر میز یې وټکولې او سر یې راپورته کړ.په بشره کې یې ځیرتیا او هوښیارتیا ځرګند وو ،خو همدا چې سترګې یې اندرې ته وروا ړولې،دهغه له بشرې داټول کده شول او دځیرکتیا ځای یوې لاسي،ساده او احمقي موسکاونیو ، داسې چې ګواکې له دغه ژربدلون سره دی رږدی او په هرڅه خبر دی، نوځکه یې دهغه دپټولو لپاره کومه هڅه هم نه کوله.دده داموسکا دهغه چا موسکا ته ورته و ،چې د دود او کار له مخې هره ورځ بې شمېره کسان مني،ناڅاپه یې غږ وکړ:

-تاسو فلید مارشال کوتوزوف نه راغلي یاست؟هیله لرم چې زیری به مو راته راوړی وي ! مورتیه سره لاس او ګریوان شوئ؟ له هغه نه مو وګټله؟ هو کې ! نور یې نو وخت هم رارسېدلی و !

هغه ده ته رالېږل شوي پیام واخیست او په لوستلو یې پیل وکړ.

ناڅاپه یې په الماني ژبې وویل:

-وای ! لویه خدایه ! لویه خدایه ! شمیت ! دا څه بدمرغي ده ! داڅه لویه بدمرغي ده !

دپیام تر لوستلو وروسته یې،هغه پر میز کېښود ،سردار اندرې ته یې وکتل،داسې برېښېده چې خیال یې،په خیالونو بوخت دی.

-څه لویه بدمرغي !وایي چې ماته هرومرو وه ،خو مورتیه،مو اسیر نه کړ !

تر لږ ځنډ نه وروسته یې وویل:

-که څه هم دغه بری په خورا لویه بیه،یعني د شمیت په وژلو لاس ته راغلی،خو ستاسو له خوښی ښښونکي زیري نه مننه.تصور کوم چې ټولواک به ددې هیله ولري چې تاسو وګوري،خو نه نن،له تاسو نه مننه کوم.نن استراحت وکړئ،سبا ته به په سلامی کې تر ګډون او دقطعې ترکتنې وروسته سره وګورو ،خو سره له هغه هم ،زه به بیا خپله خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



درکړم.

دخبرو په وخت کې ددفاع د وزیر پر شونډو ساده ورکه موسکا بیا راخوره شوه او په خورا درناوي یې بیا وویل:

- ستاسو د لیدو په هیله، بیاهم له تاسو نه مننه، تصور کوم چې ستر ټولواک به تاسو هرومرو وګوري.

په هغه شېبه کې چې سردار اندرې له ماڼۍ نه وت، داسې یې وانګېرله چې دبري له خوړو او ترخو نه دده په زړه کې څه پاتې نه دي.ده تصور وکړ چې دغه احساسات یې د وزیر بې غمه زړه او دهغه خورا با ادبه یاور ته سپارلي دي.دهغه په اندیښنو کې یو ژور بدلون او توفان راغی او جګړه هغه ته په یوې تتې، لرې او ورکې خاطرې بدله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

سردار اندرې، د برن په ښار کې، د بېلبين، نومي روسي ديپلومات په کور کې مېشت شو.

بېلبين، د هغه هرکلي ته بهر را ووت او وې ويل:

-آه! ګرانه سرداره! ستاسو د مېلمستيا تر هيلې نه بل غوره څه نه شته.

هغه، خپل هغه چوپړ ته چې بالکونسکي ته يې هرکلي ويلی و، وويل:

-فرانتس د سردار کالي زما د خوب په کوټې کې ځای پر ځای کړي، بيا يې مخ سردار ته وروا ړاوه او هغه ته يې وويل:

-ښه! تاسو د برې غوره او ويا ړمنه ريبار ياست! او زه لکه چې ګورئ په بړستن کې ناروغ پروت يم.

سردار اندرې، ترڅانمينځلو او د کاليو بدلولو نه وروسته، د ديپلومات يوې غوره او پرتميني کوټې ته چې د غرمنۍ ميزپه کې ورته جوړ شوی و، راووت. بېلبين، په خورا ارامۍ بخارۍ ته نېږدې ډډه لګولې وه.

سردار اندرې، نه يوازې د دې سفر په اوږدو کې بلکې د جګړې په ټوله موده کې د ژوند دلومړيو خوږو اړتياوو نه بې برخې و، نو ځکه اوس چې د پرتمين ژوند ښه اړخونه او شرايط چې له ماشومتوبه ورسره روږدی و، بيا ورته برابر بېدل، د آرامۍ او کرارۍ خوږ احساس ورته پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږده.دهغه اوس دا هم خوښېده چې(نه په روسي ژبه ،ځکه دوی په فرانسوي غږېدل)لږ تر لږه د وطن له مینې نه په ډکه ژبه وغږېږي او له اتریشیانو نه د روسانو دکرکې (چې تر هر وخته زیاته شوې وه )په ځرګندونه کې ځان شریک وګڼي.

بېلیبین،پنځه دیرش کلن ،یووزري سړی و ،چې دټولنیز دریځ له مخې له سردار اندرې سره سیال او هم کچه و.هغو لا په پترزبورګ سره پېژانده، خو سردار ویانا ته دکوتوزف،دسفر په لړ کې هغه سره اندېوالي پیل کړې وه.

هغه شان چې ځوان سردار اندرې ته په پوځي چارو کې ښه راتلونکې په لاره وه ،دغه شان بېلیبین،ته د بهرنیو چارو په وزارت او دیپلوماتۍ کې تر هغه نه ښه ویاړونه په مخ کې پراته وو.بېلیبین،که څه هم لاځوان،مګر په چارو کې خورا باتجربه او ځیرک ځکه ګڼل کېده چې له شپاړس کلنۍ نه یې د دیپلوماتۍ کار پیل کړی و.هغه په پاریس او کوپنهاګن کې دندې ترسره کړې وې او اوس یې په ویانا کې خورا ګرانه او مهمه دنده په غاړه وه.د اتریش لومړی وزیر او هلته زموږ لوی سفیر هغه پېژانده او درناوي یې ورته کاوه.هغه دهغو بېشمېره دیپلوماتانو له ډلې نه ،نه وو ،چې یوازې دځینو ناوړو دودونو ،له ځینو چارو نه په ډډه کولو او دفرانسوي ژبې په ویلو ښه دیپلمات واوسي،بلکې دهغو ګوته په شمار دیپلوماتانو له ډلې نه وچې دښو کارونو دسرته رسولو دتوان په درلودلو او له هغو سره دبې پایې مینې له لارې پېژندل کېږي او نوم ګټي.که څه هم له ځایه تنبل و ،خو کله کله به تر سپیدو پورې دکارد میز تر شا پاتې کېده.

کارونه به چې هرڅومره او هر رنګ و ،دهغه دکار خورا ښه کیفیت به نه بدلیده.هغه دکار بڼې ته اصلا پام نه کاوه،بلکې تل یې پاملرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کار کیفیت ته و...په لیکنه او د ګزارشونو په جوړلو کې یې لوی استاد و ،دغه راز په لویو غونډو کې به یې خپلو ویناوو، ټوکو او غږېدا ته خورا پاملرنه ساتله او په هغو کې یې ښه مهارت لاره...دده د خبر ځانګړتیا دومره نومولې شوې وه، چې په ویانا کې د هغې لنډې او بې سارې خبرې په ډېرو ځایو کې د متلونو او غوره ویناو په بڼه کارېدې.

د هغه ډنګره،ژېړه او ضعیفه څېره، ژورو ګونځو پوښلې وه...د دغو ګونځو خوځېدا دده په څېره کې د هر بدلون نښې ټاکلې.کله به یې پر تندي سوروري ګونځې خورې شوې او وروځې به یې پورته لاړې او کله به یې وروځې راښکته شوې او په غومبورو کې به یې لویې لویې ګونځې پیدا شوې،خو د هغه شنې،رڼې وړې سترګې به تل مخامخ او خوشاله غږېدلې.

هغه وویل:

-ښه نو !اوس دې نو د مېرانې او زړورتیا کیسې کوه.

بالکونسکي،په خورا کمداني او پرته له هغه چې په پوځي عملیاتو کې د خپلې ونډې او اغېز په اړه یادونه وکړي د جګړې د اخ وډب د بهېر او له ده نه د دفاع دوزیر د هرکلي کیسې وکړې او خپلې خبرې یې په دې ټکو پای ته ورسولې:

-لنډه به یې درته وایم چې دوی له ما او د بري له هغه زیري نه چې ما راوړی و ،داسې هرکلی وکړ لکه د کاروان د سپي اویو نابللي مېلمه په شان.

بېلیبین،وموسېد او په دې موسکایې د بشرې ګونځې سره آوارې کړې. هغه لاسونه سره لرې ونیول،د تندي ګونځې یې پر چپې سترګې راټولې، خپلو نوکونو ته ځیر شو او وې ویل:

-ګرانه سرداره ! له هغه درناوي سره سره چې مونږ یې ((د روس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټندوی او ارتدکس ))پوځ ته لرو ، ستاسو برى هومره ځلېدونکى نه و.

هغه همداسې په فرانسوي ژبه خپلو خبرو ته دوام ورکړ او يوازې هغه ټکى يې په روسي ويلي چې چاته به يې سپکاوي په کې کاوه.هغه زياته کړه:

-تاسو پوښتنه کوئ،ولې؟تاسو په خپل ټول پوځ، پر هغه بدمرغه مورتيه،چې يوازې يوه فرقه يې لرله،ور ودانګل،خو هغه بيا هم ستاسو له منګلو وتښتېداوځان يې وژغوره،دا نوڅه برى شو؟دلته څه دوياړ ور دى؟

سردار اندرې ځواب ورکړ:

-که لږ په زغرده اوځانستاينې نه پرته وغږېږو ،موږ کولاى شو ووايو چې،دغه برى د ئولم تر ماتې وروسته لږ ښه و.

-نو چې داسې ده،تاسې لږ ترلږه يو فرانسوي مارشال هم اسير نه شو کړاى؟

-داخوځکه چې دنيايي چارې لکه د پريټ په شان چې انسان يې اټکل کوي،نه ترسره کېږي.لکه هغه شان چې ما درته ويلي و ،موږ اټکل کړى وو ، چې د دښمن د پوځ شا ته د سهار په اووبجو ورسېږو ،حال داچې موږ هلته دماښام په پنځو بجو ورسېدو.

بېلېبين وموسېداو وې ويل:

-نو ولې د سهار په اوو بجو ور ونه رسېدئ؟که د سهار اوو بجو ته د رسېدو اټکل شوى و ،بايد چې په اووبجو ورسېدلاى واى.

سردار په هماغه ښه ځواب ورکړ:

-چې داسې ده،نو تاسو ولې د ديپلوماسۍ له لارې بناپارت سره جوړه نه کړه چې دژيو ،ښار پرېږدئ؟...

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېليبين، د خبرو منځ ته ور ودانګل او وې ويل:

-پوهېږم !غواړئ وواېي چې دبخارۍ تر څنګه پر پسته څوکۍ ناست دمارشال اسيرول، خورا آسانه کار دی.تاسو رښتيا وايئ، خو په هرحال بيا هم غواړم راته ووايئ، چې ولې مو کوم يو مارشال اسير نه کړ ؟تاسو له دې ته مه حيرانېږئ، چې نه يوازې ددفاع وزير، بلکې ستر تولواک واعلحضرت، فرانتس، به له دې برى نه خوشاله او نه نيکمرغه شي.هوکې که خبره په ماکې وي،آن زه دروسيې دسفارت يو خوار او بدمرغه سکرترهم دکومې خوښۍ احساس نه کوم.

مخامخ يې دسردار اندرې سترګو ته وکتل اوپه يوې ناڅاپه خوځېدا يې دخپل تندي ګونځې آوارې کړې.

بالکونسکي وويل:

-اوس زما وار دی چې تاسو وپوښتم،((ولې ) )زما ګرانه زه به تا وپوښتم.غواړم دزړه له کومې ووايم،ښايي دا له هغو نازکو ديپلوماتي کړو نه يو کړه وي، چې زما سر نه پرې خلاصېږي او زه نه پرې پوهېږم. ګوره ! ماک، يوبشپړپوځ ورک کړ، دايرځګېرڅوګ فيرديناند اود ايرځګېرڅوګ کارل، خو هېڅ پته نه شته چې هغه مړه دي که ژوندي دي، چېرې او څه کوي؟ يو په بل پسې نه بښونکې تېروتنې کوي او په پای کې کوتوزوف پاتې کېږي او ټوله جګړه. يوازې کوتوزف دی چې رښتينی بری ترلاسه کوي اودفرانسويانو دنه ماتې کوډې ماتوي او ددفاع وزير خو آن نه غواړي چې ددغې جګړې په اړه کومه پوښتنه هم وکړي.

- هوکې زما ګرانه ! په رښتيا له همدې امله !هورا !د پادشاه په ويار، دروس په ويار او دايمان په ويار.داټول سپېڅلي دي.داټول خورا ستر ارمانونه دي، خو دا موږ(اتريش )پورې څه اړه لري؟ستاسو برى

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتریش لپاره څه معني لري؟ښه به دا وي چې دلته د ایرځګیرخوګ فیردیناند او د ایرځګیرخوګ کارل، دبري خبرونه راوړي.هغه متل دی چې وايي ستاسو بری موږ د رخې په اور کې سوځي، پر بناپارت .لږ ترلږه دهغه پر یوې ډلې دبري خبر راوړئ، دغه شان خبر به بل خوند ولري.دغه خبر به ددوی لپاره دښې خوښۍ او نیکمرغۍ زیری وي او دوی به دهغه په ویاړ دتوپونو ډزې وکړي، خو داسې بریښي چې ستاسو دغه بری اوویاړ زموږ د لاسي زوروني لپاره دی. دا یرځګیرخوګ کارل،له لاسه هیڅ نه کېږي او دا یرځګیرخوګ فیردیناندهر کړه رسوایي ته رسي. تاسو په کراری، دویانا له شاره، شاته ځي ،هغه دښمن ته پرېږدئ،له هغه سره مخه ښه کوي او نارې وهئ چې تاسو پوه شي پلازمېنه مو او وايي چې خدای له موږ سره دی، ،زموږ یو جنرال و چې ټولو ته ګران دی، جنرال شمیت،هغه دتوپ دګولیو تر باران لاندې یوازې پرېږدئ او اوس راغلي یاست موږ ته دخپل بري مبارکي وایئ.وبښئ !نو دارا سره ومنئ چې ستاسو دغه راوړی خبر،تر بل هر څه نه زورونکی او شرموونکی دی.داسې انګېرل کېږي چې دا یو لاسي کار وي. د دې نه برسیره که تصور وکړو چې رښتیا بری تر لاسه شوی، تصور وکړئ چې ایرځګیرخوګ کارل بری ګټلی، خو ایا دې خبر به دجګړې په ټولیز بهیر کې کوم دپام وړ بدلون راوستی وای؟پوهېږئ، فرانسویانو ویانا لاندې کړې او نور کارونه خو هسې خورا کړ کیچن شوي دي.

- څنګه یې لاندې کړې؟ویانا یې لاندې کړې؟

-نه یوازې دا چې ویانا یې لاندې کړې، بلکې بناپارت د شون برن، په ماڼۍ کې ځای پر ځای شوی دی او زموږ ګران ګراف (وربنا )یې د سپارښتنو داخیستو لپاره حضور ته ورراوان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالکونسکي دلارې تر ستومانتیا ،د دفاع دوزیر ترساړه هرکلي او دغرمنۍ ترخوړلو وروسته،داسې انګېرله،چې دهغو خبرو په معنې نه پوهېږي چې اوس یې اوري.

ببلیبین،خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

-نن سهار ګراف لیشتن فلس، دلته و او هغه ته یې هغه لیک وروښود چې په ویانا کې دفرانسوي پوځونو د پریټ خورا ښه او هر اړخیزه ښودنه کوله.د شهزاده مورا او دنورو او نور...تاسو ګورئ !چې ستاسو برې دلته هومره دچا دخوښۍ وړ نه ده او نه شي کولای چې تاسو ته د یوه ژغورنکي سردار په توګه هرکلي ووایي.

سردار اندرې،دا په زړه کې ومنله چې په رښتیاهم دده له خوا نه دکرس د جګړې خبر،د اتریش دپلازمېنې دلاندې کولو دخبر په پرتله د ویاړ وړ نه دی،نو وې ویل:

-که رښتیا درته ووایم،ماته دساړه هرکلي خبره هومره دپام وړ نه ده،رښتیا بې اهمیته ده.په دې باید پوه شو چې د کرمس په څنډو کې د برې زیری،داتریش دپلازمېنې د لاندې کولو د خبر په کچه رښتیاهم خورا وړه خبره ده..ویانا څنګه لاندې شوې؟نوهغه دپله عملیات؟دپله پر سر ښکته پورته کولو څه ګټه لرله؟نو هغه شهزاده آورسپرګ څه کول؟موږ تصور کاوه چې شهزاده آورسپرګ به له ویانا نه په کلکه دفاع کوي.

ببلیبین،وویل:

-سردار آورسپرګ،په دې خواکې ولاړ دی،یعنې زموږ خواته او له موږه دفاع کوي او تصور کوم چې خورا بده ،خو په هرحال دفاع کوي.او ویانا آپلوه پرته ده.پل لا فرانسویان نه ده نیولی او هیله لرم چې وي نه نیسي،ځکه په پله کې خو ماینونه ښخ شوي دي او تاکل شوې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه والوزول شي. که داسې نه وای، موږ به اوس دلته نه وای، اوس به د (بوګیمسکي) دغرونو په شیلو کې پټ وای، تاسو او ستاسو پوځ به دتوپونو د دوه اړخیز اور تر ګوزارونو لاندې تر لس پنځلسو دقیقو نه زیات دوام نه وای کړی.

سردار اندرې وویل:

-خو په هرحال دا ددې معنی نه لري چې، جګړه چا ګټلې یا بایللې وي.

-برعکس زه داسې فکر کوم چې جګړه پای ته رسېدلې ده او یو زیات شمېر پوچ مغزي هم دلته داسې فکر کوي، خودا زړه نه کوي اوله ډاره خوله خلاصولی نه شي. آخر به هغه خبره رښتیا شي چې ما لا دجګړې په لمړي سر کې درته یاده کړې وه ببلبین خپلې سترګې برندې، د تندي ګونځې یې بیا پاکې کړې او خپله یوه غوره خبره یې سردار ته تکرار کړه:

-ماتاته ویلي و، چې دا په دورنشتاین کې، ګرځ او ګرځوز او په ټولي توګه په ټوله جګړه کې دا دباروتو بوی نه دی، چې د جګړې تګلوری ټاکی، بلکې دجګړې تګلوری هغه څوک ټاکي چې باروت یې جوړ کړي دي. تر لږ ځنډه وروسته یې، خبرو ته دوام ورکړ:

-ټوله خبره په دې کې ده، چې ټولواک الکساندر او د پروس پاچا د برلین په خبرو کې څه پرېکړې کوي. که پروس یووالي ومني او دټلوالي غړی شي، اتریش به هرومرو دې ته اړوزي چې هغه ومني او له جګړې پرته بله لاره نه شته، کنه له دې نه پرته...یوازداني لاره بیا هم دجرګو مرکو لاره ده...

سردار اندرې، پر تندي او ټټر صلیب وویست، او ناڅاپه یې خپل نازک لاس غوټه کړ او په چغو چغو یې مېز پرسوک وواهه او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-څه بې ساري نبوغ ! دا سړی څومره بختور دی !

د بېلیبین په تندي بیا ګونځې راخورې شوې او په پوښتنیز ژبه یې وویل:

-بوئونا پارت یادوی؟

هغه چې د ((ئو ))په ټکي ښه زور اچاوه بیا وویل:

-بوئو ناپارت؟

زه داسې فکرکوم:اوس چې هغه ،نور نو په شون برن کې ناست دی او اتریش لپاره قانون جوړوي،بیا د احترام له مخې د (ئو )له ټکي تېر شو.ما خپله خو پرېکړه کړې چې همداسې وکړم او په ساده توګه هغه دبناپارت،په نامه یاد کړم.

سردار اندرې،وویل:

-نه !نه !راځئ له ټوکو تېرشو ،دا راته ووایئ چې جګړه په ربښتیا پای ته رسېدلې ده؟

-زه داسې تصور کوم چې اتریش بې واکه پاتې دی او دا هغه څه دي چې د غـه خلک تر اوسه ورسره رږدي نه وو.دهغو دغه د بې واکۍ احساس له هغه ځایه سرچینه اخلي چې لومړی خو یې ټول ولایت وران او ویجاړ شوي،پوځ یې ماته خوړلې،پلازمېنه یې دښمن لاندې کړې او داسې ویل کېږي چې ارتدکسان سخت چور او تالان کوي،دا ټول او ټول د اعلحضرت ټولواک ساردیني، دښکلو سترګو په ویاړ.هوکې له همدې امله.هوکې خو خبره دې زموږ ترمنځه وي،زما تصور دادي چې هغوی تکل لري موږ وغولوی،ما داسې اورېدلي چې له فرانسې سره د روغې خبرې پیل شوي او په پټه د روغې کوم تړون لاسلیک شوي دي.

سردار اندرې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا خبره هېڅ شونې نه ده، د دغه رازیوې چارې سرته رسول خورا لوی حماقت غواړي.

بېلیبین، وویل:

-که ژوند و، وبه ګورو ! بیا یې د تندي ګونځې راټولې کړې او دې کار د دې معنی لرله چې خبرې نورې نو پای ته رسېدلې دي.

کله چې اندرې، هغې کوټې ته چې دده د ویدو کېدو لپاره جوړه شوې وه، لاړ، د خوب پاک او ښکلې جامې یې واغوستې، له بڼکو نه په جوړ شوې توشکې او سرو بړدې یې ډډه او سر ولګول، داسې یې وانګېرله چې له هغې جګړې نه چې ده یې دبرې خبر راوړې و، خورا لرې شوی دی. د پروس ټلواله، د اتریش خیانت، د بناپارت نوې بری، د هغه پر تمین پریټ او د ټولو اک فرانتس حضورته، دده د سبا ورځې ورتګ، ټول هغه څه و چې خیالونو یې دی په ځان کې ډوب کړی و.

سترګې یې سره وتړلې خو په یوه شېبه کې د توپونو غرمبهارې، د توپکو ډزوو او د ګاډیو د تګ راتګ شورماشور او انګازو د هغه غوږونه کاڼه کړل. بیا یې په تصور کې لیدل چې څنګه سرتېرې، د پړې په څېر، په یو ستوې لیک له غره نه راکوزېږې او فرانسویان پرهغو ډزې کوي. هغه داسې انګېرله چې زړه یې له ګېنځې رېږدي، له شمیت سره ګډ وړاندې د رومې او په شا او خوا کې یې د توپونو او ټوپکو دډزو باران ورېږي. دې سره سره هغه د ماشومتوب د مستۍ او شرو شور هغه لیونی احساس چې کلونه کلونه پخوا ترینه کډه شوی و، بیا احساس کړ او په زړه کې یې د هغه مینه راغوړېده.

یو وار له خیالو راووت، د ماشومانو په څېر ځان ته وموسېد او وې ویل:

-هو کې دا ټولې پېښې همداسې، پېښې شوې دي او په خوارېه خوب وېده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

بله ورځ هغه ناوخته له خوبه راپاڅېد. له تېرو يادونو نه تر هرڅه لومړي هغه ته دا وريـاد شـول، چې بايد د ټولـواک فـرانتس حضور تـه ورشـي، بيا هغه تـه د دفـاع وزيـر او د هغـه لـه انـدازې نـه زيـات بـا ادب اتريشي ياور ورپه ياد شول. بېليبين او د هغه د تېرې شپې خبرې يې پر زړه ورواوښتې. او دربار ته، ورتګ ته يې ځان چمتو او خپلې ځانګړې جامې يې واغوستې. ډېره موده کېده چې پوره، ښکلې، پاکې جامې يې نـه وې اغوسـتـې او ټټـر يـې پـه نښـانونو او مـډالونو نـه و ګاڼلی. خوښ، خوشاله، زړه راښکونکی، صليب په غاړه د بېليبين د کار کوټې ته ورننوت. د سفارت څلور تنه نور غړي هم د هغه پـه کوټه کې را ډېـره وو. بالکونسـکې، له سـردار ايپوليت کوراګين، سـره چـې اوس د سفارت منشي و له پخوا پېژندګلوی درلوده. بېليبين، هغه نورو تـه ور وپېژاند.

د بېليبين، مېلمانه، داعيانو زامن او ښه ای ځوانان وو، چې پـه ويانا او آن په دې وړوکې ښار کې يې ځانته، جلا جرګې مرکې او بنډارونه لرل. بېليبين، چې پخوا پـه خپله د دغـې ډلې مشر پاتې شوی و، هغوی د (خپـل) پـه نامـه يـادوه. د دغـې ډلـې غـړي چې څه کم ټول ديپلوماتـان وو، پـه خپلـو خيـالونو او دنيـا کـې ډوب وو، هغـه خيالونـه او دنيـا چـې جګـړې او سياسـت پـورې يـې هـېڅ اړه نـه لرلـه. د هغـوی ټولـه مينـه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېوالتیا پرتمین بڼه ای ژوند ، له ځینو ښځو سره د پټې مینې او اړیکو ساتل او یا د سفارت ورځداني چارې وې.

دغو ښاغلو ، په خورا مینې او خواخوږي، سردار اندرې هم د خپلې ډلې یو تن وګاڼه.(دغه ویاړ ډېرو لږو کسانو ته ور په برخه کېدای شو ).دوی د نزاکت او له سردار اندرې سره د خبرې د پیل په توګه له هغه نه،د جګړې او د روس د پوځ د برې په اړه څه پوښتنې وکړې، بیا خبرې ټوکو او کرارکرار دیو بل غیبت ته ور واوښتې او بس.د دیپلوماتانو له ډلې نه یوه تن، چې د خپل یوه ملګري د ناکامیو په اړه غږېده وویل:

- د اداري دفتر هغه ته ویلي چې د لندن په سفارت کې دده ټاکنه،دده دلوړتیا معنې لري او دی باید دغه ټکي په پام کې وساتي.یارانو ! نه پوهېږم تاسو ددې خبرې داورېدو په وخت کې د هغه دڅېرې تصور کولای شي او کنه؟

-خو زه به یې لا له دې نه بدتره درته ووایم،دا بدمرغه کوراګین،درته یادوم، چې دغه د ښځو لېوال ،له همدې بدمرغی نه لا ډېرې ګټې اخلي.

سردار ایپولیت، چې پر یوې لاستي لرونکې څوکۍ ډډه لګولې او پښې یې ښکته ځړولې وې، په کړس کړس خندا وویل:

-ښه !ښه داسې ده،نو وایه !

یو بل غږ واورېدل شو:

-دا د ښځو لېوال لکه مار ښځو پسې تاوېږي.

بېلیبین،مخ سردار اندرې ته ور واړاوه او وې ویل:

-ښاغلیه بالکونسکې !ته نه پوهېږئ چې د ښځو په منځ کې د دغه ښاغلی برې، په بې رحمیو او نادودو کې د فرانسویانو د پوځ(نېږدې و چې ووایم د روسي پوځ )د برې په کچه څو برابر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار ایپولیت وویل:

-ښځه د ناړینوو ، ملګرې ده.او د خپلو عینکو له شا نه یې خپلو لوړو شویو پښو ته وکتل.

بیلیبین، د ایپولیت، ترخنګ کېناست، پر تندي یې ګونځې راخورې کړې او خبرې یې بیا سیاست ته ور واړولې، سردار اندرې او نور ټول د هغه شاوخوا ته ورټول شول.

ایپولیت، ځان خپل ځای کې ځای پر ځای کړ ،ټولو ته یې په ځیرځیر وکتل او وې ویل:

-د برلین حکومت نه شي کولای د اوسنۍ ټلوالي په اړه خپل نظر څرګند کړي، ځکه بیا به...لکه هغه شان چې یې په خپل وروستي یادښت کې...تاسو پوهېږئ...هو کې تاسو پوهېږئ...تر هغه چې اعلحضرت ټولواک خپله په دغې ټلوالې کې بدلون را نه وړي...هغه د سردار اندرې لاس را ونیو او وې ویل:

- صبر وکړئ، زما خبرې لا پای ته نه دي رسېدلي.زما په اند چې تر نه مداخلې به مداخه غوره او اغېزمنه وي...

لږ ځندنی غوندې شو او وروسته یې وویل:

- هغوی نه شي کولای د نوامبر داته ویشتمې په یادښت سترګې پټې کړي او هر څه ختم وګڼي...

دلته وچې د سردار اندرې لاس یې پرېښود او په دې توګه یې څرګنده کړه چې خبرې یې نور نو پای ته رسېدلي دي.

بیلیبین، چې له خورا خوند او خیال نه یې څڼې ،لکه خولۍ پر سر وځنډلې، وویل:

-په ربښتیا چې زموږ دزماني دیموسفون یې، هغه جوهر چې تا په خپله ژبه کې نغښتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو له خندا نه بډوډي نیولي وو ،خو ایپولت،بیا داسې خندل چې نېږدې وو نفس یې وخېږي.هغه چې له خندا وران وران کېده ،خو بیا یې هم نه شو کولای د خپلې هغې خندا مخه ونیسی.داسې خندا چې د هغه د یوډوله ګونځې مخ ،ګونځې یې پاکې کړې وې.

بېلیبین،وویل:

- ګورئ ښاغلو !بالکونسکې په دې کور او په ټولې توګه په برن کې زما مېلمه دی او زه هیله لرم چې د ټول توان او امکان په اندازه دلته،هغه ته د ژوند خوندونه او لذتونه وروڅکم.که په ویانا کې وای دا کار به خورا آسانه وای ،خو دلته په دې خوارۍ موراوا ،کې به دا لږه ګرانه وي.تاسو د تیاتر غم وخورئ،زه به داعیانو او بډایانو بنډارانو جوړ کړم او تاسو ایپولیته،د ښځو چارې راسمې کړئ،یوه تن وویل:

- هغه باید له آملي سره اشنا شي،ښکلا ده،ښکلا ،هغه چې دا ویل،د ګوتو څوکې یې له خونده مچو کړې.

بېلیبین،وویل:

-دې وینزښوونکي سپاهي ته باید د انساني لارو چارو لارښوونه وشي.

بالکونسکې،خپل ساعت ته وکتل او وې ویل:

-درنو ښاغلو ،خدای پوهېږي چې زه وکولای شم،ستاسو له دې مېلمه پالنې نه خوند واخلم،زه باید نور ،نو لاړ شم.

-چېرته؟

- د ټولواک کتنې ته.

- آها !هو.

او له شا وخوا نه ،څو نور غږونه واورېدل شول:

- ښه نو بالکونسکې،تر بیا لیدو پورې،تر بیا لیدو پورې، سرداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغرمې ډوډۍ ته ځان راورسوئ، ستاسو هرکلی به په لیمو وکړو.

بېلیبین، د سردار اندرې ، دبدرګې په لړ کې وویل:

- له ټولواک سره دخبرو په لړ کې هڅه وکړئ، په لاره کې پرتو کورونو ته د خوړو او کالو درسېدو په نظم، ترتیب او ستاینې خبرې وشي.

بالکونسکې په موسېدو موسېدو کې ځواب ورکړ:

-زړه مې غوښتل چې وې وایم، خو څومره او څنګه چې زه په دې اړه پوهېږم، دا کار نه شم کولای.

ـ ښه ده ! ښه ده ! چې داسې ده نو هڅه کوه چې زیاتې خبرې وکړئ، که څه هم هغه ددغه راز لیدو کتنو خورا لېواله دی، خو خپله نه دغږېدو مینه وال دی او نه غږېدای شي، خپله یې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

ټولواک فرانتس، د هرکلي په ترڅ کې سردار اندرې ته چې د اتریشي افسرانو په منځ کې ولاړ و، ځیر او یوازې یې خپل اوږد سر هغه ته د درناوي په نښه وښوراوه، خو تر مراسمو وروسته هماغه پروني یاور په خورا ورین تندي، د ټولواک له خوا دده د منلو هیله اندرې ته څرګنده کړه.

ټولواک، د اندرې د منلو په وخت کې د کوټې په منځ کې ولاړ و. مخکې له هغه چې ټولواک خبرې پیل کړي، سردار اندرې، دې خبرې ډېر حیران کړ، چې ټولواک خورا نا ارامه او داسې یو حالت لري چې ګواکې نه پوهېږي چې څه ووایي، څه وکړي او رنګ یې هم سور شوی و.

ټولواک، ناڅاپه وپوښتل:

-غواړم وپوښتم، جګړه څه وخت پیل کېږي؟

سردار اندرې ځواب ورکړ او بیا د لومړي ځل لپاره نورې هماغه شان ساده پوښتنې:

- د کوتوزوف روغتیا څنګه ده؟...

-څه موده کېږي چې له کرمس نه راخوځېدلي یاست؟ او همدې ته ورته نورې پوښتنې. د ټولواک له ژبې داسې څرګندېده چې غواړي یوازې او یوازې خپلو یو څو پوښتنو ته ځواب پیدا کړي. او دا له ورایه څرګنده وه، چې هغه دده پوښتنو د ځوابونو اورېدو ته هم هومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېواله نه دی.

-جګړه به کوم ساعت پیل کېږي؟

بالکونسکي، ځواب ورکړ:

-ستر ټولواک !نه شم کولای په پوره توګه ووایم چې، څه وخت او په کوم ساعت به جګړه پیل شي، خو دا کولای شم ووایم چې دورنشتاین کې چې، زه خپله هلته وم، له شپږو بجو وروسته جګړه پیل شوه.

بالکونسکي، د ځوابونو په ورکولو کې ځکه خورا لېواله بریښېده چې تصور یې کاوه ددې وخت یې پیدا کړي، چې د جګړې رښتیني انځور هغه شان چې دی غواړي او په خپل خیال کې یې ګرځي، اعلحضرت ټولواک ته وړاندې کړي.

خو ټولواک وموسېد ،دهغه خبرې یې پرېکړې او وې ویل:

- څو میله؟
- د اعلحضرت هدف، واټن دی؟له کوم ځایه ترکوم ځایه؟
- له دورنشتاینه تر کرمسه پورې!
- درې نیم میله، اعلحضرتا!
- فرانسویانو د سیند کینه غاړه پرېښوده؟
- د استخبارتي خبرونو له مخې دهغوی وروستي پوځیان پرون شپه، په جالو کې له سیند نه اوښتي دي.
- په کرمس کې واښه په پوره اندازه پیدا کېږي؟
- هو کې اعلحضرتا !د اړتیا په اندازه.
- خو ټولواک دهغه خبرې بیا پرې کړې:
- -جنرال شمیت په څو بجو ووژل شو؟
- تصور کوم په اوو بجو.
- په اوو بجو وافسوس، افسوس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټولـواک د مننـې پـه نښـه سـر ټيـټ کـړ او سـردار انـدرې، نور نو، ترې راووت. د راوتلو سره سم ټول درباريـان ترېنـه چارچاپير او لـه هـرې خوانـه پرهغـه د مهربـانو سـترګو او خـوږو وينـاوو بـاران جـوړ شو. پروني ياور په دې ګيله منده و، چې ولې پرون په دربار کې پـاتې نـه شو او نـن يې پـه خپـل کـورکې د پـاتې کېـدو سلا ورتـه کـړې ده. د دفـاع وزيرهغـه تـه وروړانـدې شـو او د ټولـواک لـه خـوا يـې هغـه تـه د مـارې تېرزې، په نامه د د ربيمې درجې نښان د ويـاړلو له امله مبارکي ووېلـه او د (ټولواکې) ملکې ځانګړي ياور، هغـه تـه د ملکـې حضـور تـه د ورتـګ بلنـه ورکـړه. آرځګېرخـوګ، هـم هيلـه لرلـه چـې لـه هغـه سـره کتنـه ولري. سردار اندرې نه پوهېده چې لومړي چاته، ځواب ووايي. څو شېبه يې ځنډ وکړ، چې خپل خيال سره راټول او خبرې راسمې کړي. د روسيې سفير د هغه له غاړې نه لاس تـاو کـړل، د کړکـۍ خواتـه يـې بـوت او خبـرې يې ورسره پيل کړې.

د بېليبين د خبرې برخلاف، د هغه له خوا د راوړل شوي خبري زيـري، په خورا ښه توګه هرکلي وشو. په کليسا کې له هغه نه د مننـې او درنـاوي غونډه جوړه شـوه. کوتوزف، تـه، پـه لـوی صليب ګاڼـل شـوی د مـارې تريزه، نښـان ډالـۍ او د پـوځ نـورو افسـرانو تـه هـم مډالونـه او نښـانونه وروبښـل شول. لـه هـر پلوه بالکونسکې تـه بلنـې ورکـول کېـدې او ټولـه ورځ يـې د اتـريش دلويـانو او مخـورو پـه ليـدنې او کتنـې تېـره کړه. وروسته له هغه يې چې د مازديګرپه پنځو بجو ټولې ليدنې کتنې پای ته ورسېدې، په خپل ذهن کې يې هغه ليک جوړاوه چې غوښتل يې د جګړې او د سفر د بهير په اړه خپل پلار ته وليکي. هغه د بېليبين خواتـه ورستون شو. د هغه کور دروازې تـه نـږدې چې بېليبين، پـه کـې مېشـت و، لـه کـالواو وسـايلونه يـوه نيمـايي کراچـۍ ولاړه وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلیبین، چوپړ، فرانتس په خورا سختۍ یو بکس را کشکود، هغه دده له رارسېدو سره سم له وره راووت، بالکونسکي له هغه نه وپوښتل:

-فرانتس، څه خبره ده؟

په داسې حال کې چې په سختۍ یې په کراچۍ کې کالي بارول، ځواب ورکړ:

-جلالتمابه! بیا وخوځېدو، باید لرې لاړ شو، دا خبیث همداسې لکه سیوری راپسې دی.نه مو پرېږدي.

سردار اندرې، وپوښتل:

-څنګه؟څه دې وویل؟

بېلیبین، د سردار اندرې هرکلي ته له کوره راووت.دهغه په تل ترتله ارامه څېره کې د نا آرامۍ او ګبنۍ نښې څرګندې وې.

هغه وویل:

-نه !نه !دا باید ومنئ، چې دا ډېره په زړه پورې ده، فرانسوي پوځ بې له هر ډول خنډ نه په خورا آسانۍ له د تابور(د دانیوب پر سیند یو پل)له پله نه را پورې وتل.

د سردار اندرې سر په دې خبرو هېڅ نه خلاصېده.

-تاسو څه بلا وهلي یاست، له هغو خبرو نه چې ټول خلک دښار په هره کوڅه کې خبر دي، خو تاسو بې خبریاست.

-زه له ارڅګیرڅوګین سره وم، هلته خو ما هېڅ وانهورېدل.

سردار اندرې په تلوار وویل:

-او دا دې هم ونه لیدل چې ټول د بارونو په تړلو لګیا وو.

-نه، ومې نه لیدل، خبره څه ده؟

-خبره څه ده؟خبره داده چې فرانسویان له هغه پله نه چې آورسپرګ، دهغه ساتنه کوله، تېر شوي، دا بل پل هم الوزول شوی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، مورا ، اوس د برون خواته روان دی او نن وسبا به دلته وي.
-څنګه به دلته وي؟ څنګه کېدای شي، هغه پل وا نه الوزل شي، چې ماينونه په کې خښ شوي دي.
-دا پوښتنه چې زه يې کوم، دا هغه څه دي چې هېڅوک آن بناپارت هم نه پرې پوهېږي.
بالکونسکي اوږې پورته واچولې او وې ويل:
-که فرانسويان له پله نه راتېر شوي يې، دا معني لري چې پوځيان هم وژل شوي او له نورو سره يې اړيکې هم شليدلي.
بېليبين، ځواب ورکړ:
-خبره هم په همدې کې ده، اوس نو غوږ شه، هغه شان چې مې وويل، فرانسويان ويانا ته رسېدلي، په دې کې هېڅ خبره نشته.تر هغه يوه ورځ وروسته، يعنی پرون، ښاغلي مارشالان، هريو مورا ، لان او بليار سواره د پله لورته خوځېدلي.(درې واړه د ګاسکويني اوسېدونکې دي)
-يوتن وويل:
-ښاغلو تاسو پوهېږئ چې د تابور پله ته ماينونه اېښودل شوي دي او په زرګونو نيرنګونو ساتل کېږي.د هغه پله پای کې يوه له ګواښه ډکه تللې لاره او پنځلس زره مېشتو سرتېروته سپارښتنه شوي چې پل والوزوی او پربنږدي چې موږ له هغه نه ،واوړو ، خو که موږ وکولای شو دغه پل ولکه کړو ،جلالتماب ناپليون به خوشاله شي.درځئ چې درې واړه لاړ شو او پل لاندې کړو ،هغه دوه نور جنرالان هم دغه وړاندېز خوښوي او وايي چې درځئ.هغوی خوځېږي، پل لاندې کوي او له هغه نه اوړي.اوس له خپلو ټولو پوځونو سره د دانيوب دې خواته رارسېدلي او زموږ پلو ته په ځک کې دي.هو کې زموږ او ستاسو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخابراتي اړیکو.

سردار اندرې په خورا غمجنې او خواشینې ژبې وویل:

-دا دټوکو وخت نه دی.

دغه خبر د سردار اندرې لپاره هم دخوښۍ او هم دخواشيني وړ و.همدا چې پوه شو ،دروس پوځ په داسې يوه ګواښمن حالت کې دی چې دژغورنې هيله يې نه شته، په خيال کې ورتاو شوه چې قسمت دی دې ته ګمارلی دی، چې دی به د روس پوځ له دغه بد مرغې کندې نه راژغوري،دده په زړه کې تېره شوه چې دا حالت دده لپاره د ،دوه تولن (تولن دفرانسي په سهيل کې يو پوځي بندر دی چې په ۱۷۹۳ کال کې هغه انګريزانو لاندې کړاو بيا هغوی دناپليون په مشرۍ چې هغه وخت يو نوم ورکی سپاهي وه ،له هغه ښاره وشړل شول) ښه لري،چې دی به له يو نوم ورکي سپاهي نه راباسي او د وياړ لوري او لارې به ورته پرانيزي.د بېليبين ،دخبرو داورېدو په لړ کې يې تصور وکړ چې څنګه به سترې قوماندانۍ ته د رسېدو سره سم د جګړې په شورا کې داسې وينا کوي،چې کولای شي په يوازې ځان پوځ وژغوري او ددغه چارې سپارښتنه او دهغه د سرته رسولو واک يې خپل کړی دی.

بېليبين، وويل:

-ټوکې نه کوم،دا رښتيا او خورا دخواشيني وړ خبره ده.هغه ښاغلي،يوازې او بې ملګرو دپله سر ته راځي،سپينې جنډې پورته کوي، له پله نه زمورږ پلو ته رانېږدې کېږي اوداډ ورکوي چې د روغې او اوربند تکل لري.دا خبره دامعني لري چې دغه فرانسوي مارشالان له شهزاده آورسپرګ سره د مرکې لپاره راغلي دي.د پل افسر پيره دار ،هغه ته دپله په سر هرکلي وايي،مارشالان په خپلو ګاسکونځي (دځای نوم دي)ټوټکو او ببولالو هغه تېرباسي ،ورته وايي چې جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای ته رسېدلې او ټولواک له آورسپرګ سره د کتنې هیله لري، دا سې نورې خبرې او کیسې.او په دې پلمه هغوی پېره دار افسر اورسپرګ ته وراستوي.

ښاغلي مارشالان،له اتریشي افسرانو نه غبرګې تاووي،هغوی نازوي،له هغوی سره ټوکې ټکالي کوي او آن د توپونو په سر ورسره کیني.په دې وخت کې یو فرانسوي افسر بې له هغه چې د چا ورته پام شي، کرار کرار،د پله خوا ته ورځي او د ماینونو خریطۀ اوبو ته ارتبرږي او پله ته ورنیږدې کېږي.په پای کې،زموږ ګران په خپله قوماندان تورنجنرال شهزاده آورسپرګ فن ماوترن، راځي: مهربان دښمن ! د اتریش د پوځ تر ټولو ستر سردار !او د ترکیې دجګړې اتل !جګړه پای ته رسېدلې ده.دښمني ختمه ده او موږ کولای شو دیوبل لاس کېښکاږو.ټولواک ناپلیون د شهزاده آورسپرګ،دلیدو دمینې په اور کې سوځي، که په لنډه ووایم،دغه ښاغلي،په چل او دوکه کې ربښتیني ګاسوکوځیان دي،هغه ته ډېرې ستاینې او چوغولي کوي ،په غوړمالۍ او ټیټوالي تېرباسي،په ښکلې خواخوږۍ دځان لېوالـه کوي ...فرانسوي ډګرول پر پله یرغل کوي،دتوپونو نښه له منځه وړي اوفرانسوي پوځیان پر پله ولکه ټینګوي.

بیلیبین،چې د پېښې د ستاینو انځور لږ آرامه کړی و ،زیاته یې کړه:

-خو له ټولو نه دپام وړ خبره خو لا داده چې دهغه توپ ساتونکي چې د توپ ډزې یې د پله دالوزلو لپاره په نښه شوې وې، کله چې وینې فرانسوي سرتېري په چټکۍ د پله پر سر وړاندې درومي،غواړي پر هغو ډزې وکړي،خودغه مارشالان دهغه لاس نیسي او دې کار ته یې نه پرېږدي،ساتونکې چې له ورایه ترآورسبرګ نه ځیرک ښکاربېده،آورسپرګ ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دوکه کړي يې ياستئ،وګورئ،فرانسويانو ته وګورئ،چې وړاندې روان دي.

مورا ،ويني چې که ساتونکي خبرو ته پرېږدي،هلې ځلې يې ټولې هدر ځي...مخ آورسترګ،ته وراړوي، او وايي :

-نو هغه اتريشي انضابط چې آوازې يې په ټوله دنيا کې خپرېږي،هغه چېرته دي؟

تاسو څنګه اجازه ورکوئ چې يو لاس لاندې څوک،له خپل مشر سره په دې ژبه وغږېږي؟واورئ !په رښتيا چې دحيرت وړ خبره ده. دا خبره په آورسپرګ،خورا بده لګي او سپارښتنه کوي چې ساتونکي ونيسي...

سرداراندرې،چې د ټپي پوځيانو خيرن ککړ کالي ،باروت او دهغه لوګي ،دتوپونوغړمبهاري او دځان راتلونکې وياړونو دسترګو په وړاندې انځورول،وويل:

-کېداى شي دوکه او خيانت وي.

بېليبين،خپلو خبروته دوام ورکړ:خيانت نه دى !دا پېښه دربار لاپسې خواره وي.دا نه خيانت دى،نه بې غيرتي ده او نه حماقت !دا کټ مټ د ئولم دپېښې تکرار دى. . .داسې په چرت کې لاړ چې ګواکې يوه په زړه پورې ټکي پسې ګرځي،تر يوه لنډ ځنډه نه وروسته يې وويل:

-مورږ ته هم د ماک پېښه راپېښه شوې ده .

او ددې خبرې سره سم يې دا احساس کړه چې ګواکې ټوکه يې ويلې ده ،داسې دخوند اورنګ ټوکه چې دټولو بنداړونو خوند به وي.هغه ګونځې چې تر هغه وخته يې په تندي خورې وې،په چټکۍ ټولې شوې او دا دده دډاډ نښه وه.په داسې حال کې چې پر شونډو يې موسکا ورکېده،په خپلو نوکونو يې سترګې لاپسې خښې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناڅاپه يې اندرې ته چې پاڅېدلی و او غوښتل يې خپلې کوټې ته لاړ شي، مخ ورواړاوه او وې ويل:چېرته ځئ؟

-نور نو ځم.

-چېرې؟

-سترې قوماندانۍ ته.

-تاسو خو غوښتل چې يوه دوه ورځې نور هم پاتې شئ؟

-نه !اوس چې څومره ژر لاړ شم،هومره به ښه وي.

وروسته له هغه يې چې د تګ لپاره داړتيا وړ څيزونو د راټولو سپارښتنه وکړه،خپلې کوټې ته لاړ.

بېليبين،هغې پسې کوټې ته ورننوت او وې ويل:

- پوهېږې ګرانه !زه دتا په خيال کې يم،تاسو ولې ځئ؟

بيا يې دخپلې زړورتيا لپاره دخپلې بشرې ټولې ګونځې پاکې کړې.

سردار اندرې،په پوښتنيز توګه خپل پوښتونکي ته وکتل،خو هېڅ يې ونه ويل.

-نو تاسو ولې ځئ؟زه پوهېږم چې اوس پوځ ته سخت ګواښ وريېښ دی اوپه تلوارځان مرستې ته وررسوئ،زه ستاسو ددې احساس درناوي کوم،ګرانه سرداره ! دا په رښتيا ديو اتل ځانګړتيا ده.

سردار اندرې،ځواب ورکړ:

-نه !هېڅکله داسې نه ده.

-مګر تاسو چې دومره فيلسوف ډوله ياستئ،ولې نه غواړئ چې پوره يو فيلسوف شئ؟که له بلې خوا تاسو دې خبرې ته ځير شي،ته به وګورې چې هرڅه بل ډول دي،ستاسو دنده داده چې دجګړې خبرې نورو ته پرېږدئ،هغو ته چې دبل هېڅ کار نه دي...تاسو ته نه چا د ستنېدو سپارښتنه کړې او نه دلته چا تاسو ته ويلي دي چې لاړ شئ،نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې کبله تاسو کولای شئ دلته پاتې شئ او بیا وروسته چې خپل بدمرغه تقدیر هرچېرې بوتلئ، تاسو به هم راسره مل یاستئ. داسې سره وایي، چې اولموتز، ته روان یو. له ښه بخته اولموتز، خورا ښکلی ښار دی.دواړه به په ګډه، زما په ګاډۍ کې یوځای ،په ارامۍ او اسودګۍ ،هلته لاړ شو.

بالکونسکي، وویل:

-بېلیبینه !ټوکې پرېږده!

-زه دزړه له کومې او په رښتیا له تاسره غږېږم، تاسو کولای شئ، له ماسره پاتې شئ، چېرې ځئ؟ له دې تګ نه ستاسو موخه څه ده؟ دوې خبرې دي(دخپلې چپې شقیقي ګونځې یې راټولې کړې )یا به لا سترې قوماندانۍ ته نه یو رسېدلي چې د روغې تړون به لاسلیک شي او یا به دکوتوزف، دپوځ دماتې او دماتې درسوایۍ ډنډورې رارسېږي.

-بېلیبین، داسې وانګېرله چې خبرې یې خورا قناعت بښونکې او غوڅې دي او بیا یې دخپلې څېرې ګونځې پاکې کړې.

سردار اندرې په کراره او سړه ژبه ځواب ورکړ:

-زه نه شم کولای دغه راز قضاوت وکړم. او په زړه کې یې وویل:

-ځم چې پوځ وژغورم.

بېلیبین، وویل:

-ګرانه سرداره !تاسو په رښتیا اتل یاستئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

سردار اندرې، په هماغه شپه د دفاع له وزيره سره تر کتنې او خدای پامانۍ نه وروسته بېله هغه چې چېرې او څنګه به وي، د روس له پوځ سره ديو ځای کېدو په تکل وخوځېد. هغه له دې نه وېره لرله چې د کرمس، په لارې د فرانسويانو لاس ته ورنه شي.

په برن کې، دربار پورې تړول اړوند د بارونو، ګېډيو او کاروان په ترلو لګيا وو. هر څه د الموتز، دښار تګ ته چمتو و. د اتسلس دورف، ښارګوټي ته نېږدې، سردار اندرې هغه واټ ته ورسېد، چې روسي پوځ هلته په خورا تلوار او ډېرې بې نظمۍ ګډ وډ روان و. ګاډۍ او کراچۍ داسې درنې بار او داسې بې نظمه روانې وې، چې هېڅچا خپله لاره ابستلای نه شوه. سردار اندرې، د يوه قزاق قوماندان نه يو آس او يو ياور واخيستل، هماغه شان ستړی او وږی د پوځ په دغه ګډ وډ کاروان کې له خپلې ګاډۍ سره چې دده درانه بارونه پرې بار و، د روس د پوځ د ستر قوماندان د لټونې لپاره ځان مخکښيو کرښو ته وررورساوه. په لاره کې يې د پوځ په هکله خورا زورونکې او غمرلې، آوازې اورېدې او د پوځ ګډوډۍ او له هغه نه د تېښتېدونکو پوځيانو منډو او ګېڼې دده په زړه کې دا راتازه کوله چې ګواکې د دوی د پوځ په اړه تولې بدې آوازې رښتيا وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې ته د ناپليون د هغه فرمان ټکي وریاد شول چې د جگړې د پيل نه مخکې يې، د فرانسوي پوځ په نامه لېږلی و:

- "پرروسي پوځ به چې دانگلستان په زرو ،زمونږ په وړاندې درېدلی، هم هغه څه راولو چې د اتريش پر پوځ(دئولم ماته )مو راوستي و "

دغو خبرو که په هغه کې له يو پلو د دغه ستر پوځي سردار د نبوغ په اړه حيرت راپاراوه ،نو له بله پلوه يې په هغه کې هم د سپکاوي او هم دويارړ او هيلې روح او احساس را لمساوه.هغه په زړه کې تېروله:

- څه فکر کوئ چې له مرگه پرته ،بل څه پاتې نه دي؟نو څه؟که دې ته اړتيا وي،نو دا هغه چاره ده ،چې تر نورو نه يې زه هم په ښه توگه سرته رسولای شم.

سردار اندرې،د سرتېرو او د هغو دگاډيو دغه سره شليدلې، پرزبدلي ،تالان والان کاروان ته ،لبږد بدونکو کراچيو ،هغو آسونو او قاطرو ته چې توپونه پسې تړلي وو ،بياهم گاډيو او گاډيو ته چې يو په بل پسې په تلوار او بې نظمه په منډو کې وې، او کله به بيا درې درې يا څلور څلورو کتار جوړاوه او له ختو او چېکړو نه په ډکو لارو کې به يې يوله بله د مخته کېدو هڅې کولې ،په خورا کرکې کتل.له هرې خوا ،له شا ،له مخې ،تر هغه ځايه چې انساني غوږو يې داوربدو توان لاره،دگاډيو دارابو ،دهغو دڅرخونو ،دتوپونو غرمبهاري،دآسونو دسمونو ترکهاري،د سورو دمتروکو شرقهاري او آسونو او قاطرو ته دهغوخاوندانو دښکنځلو شورماشور،دپوځيانو تر منځ يو بل ته دښکنځلو غږونو انگازې اچولې وې.د واټونو څنگ ته لوېدلي او پښو نه پاتې آسونه ،ماتې، خرابې گاډۍ او کراچۍ چې هېڅ ښکاره نه و ، چې په کومه او دچا په هيله به يونيم سرتېرې يا افسر دهغو څنگ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ترزنې ناست و ،لیدل کېدل کله به یو ډله سرتېرو چې خپل ټولی یا کنډک نه به ورک شوي وو ،په ډله ایزه توګه کوم کلي یا کورونو ته مخه کړه او له هغې خوانه به یې کوم چرګ، پسه یا هیلۍ سره را ،روان وو.بله ډله به بیا ترځنګنو پورې په ختو کې نښتې وه.او دمټو په زور به یې له ختو نه توپونو راویستل او د وړاندې تګ هڅه به یې کوله. پرآسونو دلګېدونکو متروکو غرېـ به زړونه رپول، سمونه به ربړېدل او په ګوګلونو کې به زړونو توپونه وهل.هغو افسرانو چې دنظم او څارنې دنده یې لرله،ددغه بې پایه کاروان په دغه اله ګوله کې به پر خپلو آسونو سواره،ښکته پورته،ځغلېدل او دهغو چغې او نارې به له خورا لرو لرو ځایونه په سختۍ اوربدل کېدې.دهغو له خبرو نه دا له ورایه ښکاربده چې نور نو هغوی هم ددغې اله ګولې او شورماشور له آرامه کېدو او په هغه کې دنظم له راوستو نه ناهیلي او ستومانه شوي دي.

بالکونسکې ته د بېلیبین، هغه خبره وریاده شوه چې ویل یې:

- دا دې هغه د ارتدکس مېړنی پوځ.

هغه چې د ستر قوماندان د پیداکولو هڅه کوله،نو هر چېرې به کاروان ته ورنبږدې او له هرچا نه به یې د هغه دځای پوښتنه کوله.

دده مخې ته یوه عجیبه یو آسیزه ګاډۍ چې سرتېرو ته یې څه په لاس ورغلي و او پرهغې یې کې بار کړي و ،روانه و.هغه دکراچۍ او ګاډۍ ترمنځ یو شي وه.ددغې کراچۍ پر لومړ چرمي څوکۍ کې یوه ښځه چې ځان یې په شال او یو ټکري کې مروړلی و ،ناسته وه. سردار اندرې چې غوښتل یې له یوه سرتېري نه خپله پوښتنه وکړي،خو ددغې ښځې ناهیلو زاریو یې پام وروا ړاوه.څارونکي افسر،ددغې کراچې یا ګاډۍ چلوونکې په دې پلمه چې ګواکې له نورو نه دمخته کېدو هڅه کوي،آس کلک کلک واهه.دڅارونکي دمتروکې دګذارونو غږ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورایه او رېدل کېده.ښځې په ډډ آواز زارۍ کولې.همدا چې سترګې یې په سردار اندرې ولګېدې، سر یې له پردې نه دباندې کړ، خپل ډنګر لاس یې وښوراوه او په زاریو زاریو یې وویل:

-ښاغلیه یاوره !ښاغلیه یاوره !دخدای لپاره مرسته راسره وکړه ...زه د اووم ښکاري کنډک د داکتر مېرمن یم !ما نه پرېږدي چې لاړه شم،موږ له کنډکه پاتې شو او ورک مو کړ.

څارونکي افسر چې له قهره تک شین شوی و ،چیغه کړل او سرتېري ته یې وویل:

-ګرځه !بېرته ګرځه کنه او سه به مې داسې څه درښودلي وي،چې نوم به دې هم څوک پیدا نه کړي،ځه !بېرته ګرځه،له دې خپلې کاسې سره ،بېرته درځه !

د داکتر ښځې چغې وهلې:

-ښاغلیه یاوره !دخدای لپاره په موږ ورحمېږه !داڅه حال دی؟

سردار اندرې افسر ته ورنېږدې شو او وې ویل:

- هیله ده چې اجازه ورکړئ چې لاړه شي.تاسو په کراچۍ کې ناستې ښځې ته پام نه دی.

افسر هغه ته وکتل او بې له هغه چې ځواب ورکړي،بیا یې په چلوونکي سرتېري غږ وکړ:

- اوس به له نورونه مخې ته کېدل درو ښیم،ژر،ژر بېرته ستنېږه.

سردار اندرې له قهره شونډې په غاښ کړې او وې ویل:

-تاسو ته وایم،پرېږده چې لاړه شي !

افسر، اندرې ته مخ ورواړاوه او ناڅاپه یې دنشئیانو په څېر چیغه کړې:

-ته لاپسې څوک یې؟ ته !((هغه په ځانګړي توګه د (ته) پر توري

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور واچاوه)) ته دلته مشر یې که زه؟دلته زه مشر یم ،نه ته.تا ته وایم بېرته شاته ګرځه.

داسې برېښېده چې دبېرته شا ته ګرځه خبره د دې افسر ډېره خوښېږي...

د سردار اندرې ته پام شو چې څارونکی افسر داسې نشۀ دی چې په خپلو ویلو هم نه پوهېږي.هغه پوه شو چې د داکټر د ښځې پر ساتنه دده ټینګار داسې یو حالت ته رسېدلی چې دده درسوایۍ او پر دده دملنډو بڼه یې غوره کړې ده.خو دهغه احساس او غریزې بل څه ویل.افسر خپلې خبرې لا خلاصه کړې نه وې،چې سردار اندرې،اور واخیست ،خپله متروکه یې تاو کړه او پر هغه یې ور ودانګل:

تا ته وایم...پر بېړه چې لاړه شي...

افسر ددرناوي په نښه لاس وښوراوه،لږ له هغه لرې شه او وې ویل:

-ټوله دغه مرداري ددې قوماندانۍ دمشرانو له لاسه دي...ښه ده ! ښه ده !مهرباني وکړئ هرڅنګه چې ستاسو خوښه وي،هماغسې یې کړئ.

سردار اندرې،بې له هغه چې سر پورته کړي،دداکتر له ښځې نه چې دی یې خپل ژغورونکې ګڼه لرې شو او په داسې حال کې چې ددغې پېښې ټولې شېبې یې په بل پسې په خیال کې تېرولې،دهغه کلي په لور وخوځېد چې ده فکر کاوه ستر قوماندان هلته استوګن دی.

کلي ته چې ورسېد ،له آسه کوز شو ،لومړني مخې ته ورغلی کورته ورغی او غوښتل یې که یوه شېبه هم کېږي استراحت وکړي،یو مړۍ ډوډۍ وخوري او هغه ګډوډ خیالونه له سره وباسي چې دی زوروي.په زړه کې یې ویل:

-داخو هېڅ پوځیانو ته ورته نه دي،هسې داړه ماران او تالانګر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هغې وړې کړکۍ ته ورننېږدې شو چې چا لـه هغـې نه، پـه نامـه درتـه راغږ کړل.

کلـه چې يـې مـخ ورواړاوه، د نيسـفيـڅکي، ښايسـتګۍ څېـره يـې وليده چې له وړې کړکـۍ نـه راګوري. نيسفيـڅکي چې کـوم اوبلـن شـی ژول او خوله يې له اوبو ډکه ډکـه کېـده، دلاس پـه ښـورولو يـې هغـه تـه د ورتګ بلنه ورکړه.

هغه چغې وهلې:

-بالکونسکي ! وا با لکونسکي !کوڼ شوی يې که څنګـه؟دې خواتـه راشه !

سردار اندرې، چې کوټې ته ورننوت، نيسفيڅکي او يوبل ياور يـې وليـدل چې لګيـا دي څـه شـی خوري.هغـو دواړو تـر هرڅـه نـه دمخـه لـه مېلمه نه وپوښتل:

- کوم نوی خبر لرې؟

سردار انـدرې، دهغو پـه خـورا آشـنا څېـرو کـې د نـا ارامـۍ او ګېڼـۍ نښـې وليـدې.دغـه نښـې د نيسـفيـڅکي پـه تـل خنـدنۍ څېـره کـې لا څرګندې برېښېدې.

بالکونسکي وپوښتل:

- ستر قوماندان چېرې دی؟

ياورځواب ورکړ:

-همدلته دی، په هغې بلې کوټې کې.

نيسفيڅکي وپوښتل:

-دا راته ووايه دا رښتيا دي، چې روغه شوې او تسليم شوي دي؟

- دا هغه څه دي چې ما غوښتل له تاسو نه دهغو پوښتنه وکړم، زه پـه هـيڅ خبـر نـه يم، زمـا ټولـه هڅـه دا وه چـې ترتاسـو پـورې ځـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسوم،دا هم څه آسانه کار نه و.

نیسفیڅکي وویل:

- ګرانه وروره !دلته هم لویه بد مرغي ده.ملګریه !دا منئ کنه چې موږ پر ماک خندل او اوس تر هغه نه بد حال پر موږ راغلی دی،ښه ورکه وه یې،راځه کېنه او یو څه وخوره.

هغه بل یاور وویل:

- سردار !سمدلاسه نه ګاډی پیدا کولای شي او نه بل څه !ستاسو یاور،پیتر به هم اوس خدای پوهېږي چېرې وي.

- ستره قوماندانی چېرې ده؟

-شپه به په ځینایوم،کې تېرو و.

نیسفیڅکي وویل:

- مامې خپل ټول شیان ورکړل،چې بیا یې وتړي،هرڅه مې چې په کار دي،په دوو آسونو مې بار کړل.خورا ټینګ بارونه مې تړلي دي،داسې ټینګ ،که اړتیا وي،آن د بوګیمسکي له غرونونه هم په کراره اوښتي شو ،هوکې وروره !حالات خورا کړکېچن دي.خو پام یې شو چې داندرې حال داسې خرابه دی چې تا به ویل دلید بطری(هغه بطری ده چې دهغه په خلاصولو لاسونه رېږدي )پرې لګېدلې وي،نو وې ویل:

- داڅه درباندې شوي؟ولې رېږدې؟ناروغه خو به نه وې؟

سردار اندرې ځواب ورکړ:

- نه ! نه !ښه یم.

هغه ته له ښارونکي افسر او د داکتر له ښځې سره کړکېچ وریاد شو.

هغه وپوښتل:

- ستر قوماندان دلته څه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیسفیځکي وویل:

-خدای خپله ښه پوهېږي.

سردار اندرې،وویل:

- خو زه په یو شي پوهېږم،هغه دادی چې زموږ ټول کړه،دکرکې وړ دي،دکرکې،هوکې دکرکې وړ.دا یې وویل او دهغې کوټې خواته وخوځېد چې ستر قوماندان هلته خپله قوماندانۍ جوړه کړې وه.

د کوتوزوف له ګاډۍ،دهغه دسورو ملګرو له سترو،ستومانه آسونو او قزاقي سرتېرو نه چې په خورا لوړ آواز یې خبرې کولې تېر او دکور دهلیز ته ورننوت.کوتوزف،لکه هغه شان چې لادمخه ده ته ویل شوي و،د شهزاده باګراتیون او وای روتر، سره په کورکې وو. وای روتر،هغه اتریشي جنرال و چې د شمیت پر ځای ټاکل شوی و.ټیټ ونی کزلوفسکې،په دهلیز کې یو منشي ته مخامخ پلترۍ وهلې وې. منشي له یوه واړه کوټي نه میز جوړ کړی و او ژرژر یې څه شي لیکل.دکزلوفسکې په څېره کې داسې ستوماني او بې خوبي څرګنده وه چې ګواکې پرون شپه یې تر سهاره پورې شوګیره کړې وي.هغه سردار اندرې ته وکتل،خو آن سر یې هم ورته ونه ښوراوه.

هغه چې منشي ته دلیکلو لپاره څه لوستل وویل:

- دویمه کرښه..ودې لیکل؟ دکیف ګرینادارسکي او دپادولسکې کنډکونو ته...

منشي په ترخه ژبه اوله خوابدۍ سره کزلوفسکې ته وکتل او وې وویل:

- جلالتماب !لږ کرار کرار لیکلی یې نه شم.

په دې شېبه کې له دروازې د کوتوزوف،له شوره ډک ځیز او ناراضه غږ چې کوم نا آشنا غږ ورسره ګډ و، واورېدل شو.دننه په کوټې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناراضي غړونه ،هغه ته د کزلزفسکی بې پروا کتل،د منشي ترخه او بې ادبه ژبه،د ستر قوماندان په کوټې کې، قوماندان ته نېږدې پر ډاګ د کزلوفسکې او د هغې د منشــي د اسې ناسـته او د کوټې مخې ته،د قوماندانۍ تر کړکیو لاندې د قزاقي ساتونکو داسې بې پروا ناسته، په زوره خندېدل او په لوړو خبرې کول،د سردار اندرې په خیال کې هغه دلایل را ژوندي کول چې کوم مهم او له بدمرغۍ نه ډک څه پېښ شوي دي.هماغه وچې له کزلوفسکې نه یې پوښتنې ګروزنې یې پیل کړې.

کزلوفسکې وویل:

-همدا اوس...دا د باګراتیون د عملیاتو کړنلاره ده.

- د تسلیمۍ خبره بیا څنګه ده؟

-د تسلیمۍ خبره نه شته،د عملیاتو د پیل کېدو فرمان ورکړ شوی دی.

سردار اندرې د هغې دروازې خواته مخ وروا ړاوه چې غږ ترې راوته. خو په هماغه شېبې کې چې غوښتل یې دروازه خلاصه کړي،په کوټې کې ارامي شوه او دروازه خپله را خلاصه او په خپله کوتوزف، له خپلې ګربت ډوله پزې او پړسېدلي مخ سره پر تادرۍ را ښکاره شو.سردار اندرې مخامخ کوتوزف ته ولاړ و ،خو د ستر قوماندان یو سترګېزه (کوتوزف په یوه سترګه ړوند و )حالت نه داسې څرګندېده چې هغه دداسې کړکېچونو او ستونزو په اندېښنو کې ډوب دی چې په سترګه یې پرده راخوره شوې ده.هغه مخامخ خپل یاور ته وکتل،خو هغه یې ونه پېژانده.

کوتوزف پر کزلزفسکې غږوکړ او وې ویل:

- څنګه خلاص دې کړ، کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-یوازې یوه شېبه جلالتمابه !

باګراتیون چې د تېښتې ، ډنګرې ونې او دختیز ډوله څېرې خاوند و ، ترستر قوماندان نه وروسته د هغه له کوټې نه راووت. هغه که څه هم پوخ عمري و ، خو لا زوړ نه برېښېده.

سردار اندرې هغه ته پاکټ ورکړ او په پوره لوړ اواز یې وویل:

- ویاړمن یم چې تاسو ته خپل ګزارش وړاندې کوم.

- ښه ! ښه !له ویانا نه راغلی یې ؟ښه ده ! بیا به وروسته سره وګورو.

کوتوزف له باګراتیون سره وخوځېد او وې ویل:

-ښه سردار د خدای په امان ، مسیح دې مل شه او له خدایه تاته د ویاړمنو بریاوو هیله کوم.

د کوتوزف څېره ناڅاپه نرمه او په سترګو کې یې اوښکې راپیدا شوې. په چپ لاس یې باګراتیون، د ځان خواته راکېښکود او په ښي لاس یې چې په ښکلې ګوتې ګاڼل شوی و ، د خپل عادت له مخې، تولو ته په اشناخوځېدا ، د هغه پرتڼېر صلیب وکېښ او خپل غوښن، پړسېدلي غومبوري یې هغه ته وروا ړندې کړ. خو باګراتیون د غومبوري پر ځای د هغه غاړه مچو کړه. کوتوزف، بیا وویل:

- مسیح دې مل شه !

هغه د خپلې ګاډۍ خواته لاړ او بالکونسکي ته یې وویل:

-راشه، په څنګ کې مې کېښنه.

-جلالمتابه !غواړم دلته ګټور واوسم، اجازه راکړئ چې د شهزاده باګراتیون له پوځ سره پاتې شم.

کوتوزف ځواب ورکړ:

-کېښنه !

او پام یې شو چې بالکونسکي، ځندنی، ځندنی کېږي، نو زیاته یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه خپله هم ښو افسرانو ته اړتيا لرم، ډېره اړتيا ، خورا ډېره.

دواړه په ګاډۍ کې کېناستل او څو دقيقې بې له هغه چې سره وغږېږي، همداسې وړاندې روان وو.

کوتوزوف په داسې يوې ژبې چې له هغه نه دځيرکتيا او پام نښې څرګندې او دده ښودنه يې کوله چې ګواکې په ټول هغه څه چې د بالکونسکي په روح او زړه کې تېرېږي، پوهېږي، وويل:

-په راتلونکې کې خورا نه بيانېدونکې پېښې ترمخې دي، خورا ډېرې پېښې، ته به وايې چې له ځانسره غږېږي، زياته يې کړه:

-که سبا ته دهغه دپوځ لسمه برخه هم بېرته راستنه شي، زه به دخدای شکر وباسم.

سردار اندرې، کوتوزوف ته وکتل، له ډېرنبږدې نه يې، دهغه په څېره کې د ازماعيل په جګړه کې له ګولۍ نه دپاتې شوي پرهارنښې، پاتې شوې ګونځې او د ړندې سترګې کاسه وليدل او په زړه کې وويل:

-هوکې ! هغه حق لري، داسې په اسانۍ دخپلو سرتېرو دمرګ ژوبلې په هکله وغږېږي.او بيا يې هغه ته مخ وروااړواوه او وې ويل:

-له همدې کبله له تاسو نه هيله کوم چې ما دهغه پوځ ته ورولېږئ.

کوتوزوف يې ځواب ورنه کړ.داسې تصورکېده چې ده هغه څه هېر کړي چې څو شېبې مخکې يې ويلي او په چرتونو کې ډوب و.تر پنځو دقيقو وروسته يې چې دګاډۍ په نرمه څوکۍ ،ته به وايې چې دنرموڅپو په سرخوځېږي ،مخ سردار اندرې ته وروااړاوه.په څېره کې يې دګبنېۍ او تلوارکومه نښه نه ښکارېده.په داسې يوې ژبې چې دملنډو مالګه يې لرله، له ټولواک سره دهغه دکتنې، په دربار کې دکرمس دجګړې په اړه دخبرونو او اوازو او دځينو هغو ښځو په هکله چې دواړو په ګډه پېژندې پوښتنې پيل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

کوتوزوف، دنوامبر په لومړۍ نېټې دخپل یو اسخباراتي استازي نه خبر ترلاسه کړچې دهغه تر قوماندې لاندې پوځ په یوه شیله کې داسې اسیر شوی، چې دوتلو او ژغورنې هېڅ لاره ورته پاتې نه ده.دغه اسخباراتي استازي خبر ورکړی و، چې فرانسویان له بې شمېره پوځیانو سره دویانا له پله اوښتي او دهغې لارې خواته خوځېدلي چې له روسیې نه کوتوزف ته رارسېدونکي تازه قوتونه پرې تېرېږي.که کوتوزوف، په کرمس کې دپاتې کېدو تکل کړی وای، دناپلیون یوسلو پنځوس زریزه پوځ به پرهغه ټولې لارې تړلې وای، دهغه څلویښت زریزه نیم ژوانده پوځ به یې له هرې خوا نه محاصره کړی او دی خپله به ،په ئولم کې دماک ورته حالت کې راچاپیر شوی وای.که هغه دا پرېکړه کړې وای چې له روسیې نه د رارسېدونکو قواو لاره پرېږدي، دی به دې ته اړ شوی وای چې بیا ،بوګیمسکی، له نا آشنا غرنیو لارو نه واوړي او ددښمن په وړاندې له ځانه دفاع وکړي.او بوګیمکسي ته درسېدو له هرډول هیلې نه لاس واخلي...

د استخباراتي اطلاعاتو له مخې، فرانسوي پوځونه دویانا له پله نه تېرېدو وروسته، د څنایم خواته وروانګل.دغه ښار د کوتوزف، دشاته تګ دخوا دسل ورست(د اندازې یو مقیاس)، په واټن کې ددوی دتګ په لاره پروت و.که کوتوزوف،له فرانسویانو نه مخکې دڅنایم ښار ته رسېدلی وای، کولای شو چې دخپل پوځ دژغورنې هیله ولري او که پرېښې وای چې تر دوی نه مخکې هلته فرانسویان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسي، خپل پوځ به يې له هغې شان يوې تورې او رسوا بد مرغۍ او بدنامۍ سره مخامخ کړی وای، چې د ئولم په ښار کې پېښه شوې وه. خو له ټول غوره پوځ سره هم له فرانسويانو نه مخ ته کېدل کېدونکې نه و. له ويانا نه د ځنايم تر ښار پورې د فرانسويانو تلونکې لار، د روسانو پر پرتله چې له کرمس نه پيل کېده، هم لنډه او هم آواره وه. کوتوزوف، په هماغه شپه چې د دغه خبر ترلاسه کېدونه وروسته، د شهزاده اګراتيون په مشرۍ، خپل څلور زره کسيزه مخ کښ پوځ، له ښۍ غرنۍ خوا نه، د کرمس پر واټ ځنايم ته، د ويانا د واټ په لور ولېږه. باګراتيون بايد دغه لاره په يو وار او بې له ځنډه ووهي او د ويانا پر لور، د ځنايم شاته مورچل ونيسي. که په دې بريالی شوای وای چې تر فرانسويانو نه مخکې رسېدلای وای، له هغو سره يې جګړه پيل او ترهغه يې چې کولای شول، د هغو د وړاندې تګ خنډ شوي وای. کوتوزوف هم له پاتې پوځ سره چې د درنو بارونو له کبله يې چټک تګ نه شو کولای، د ځنايم د ښار خواته وخوځېد.

باګراتيون، خپل وږی او بربنډ پوځ د غرونو او کمرونو په بې لارو کږو لارو او سختو توفانو کې تر پنځه څلويښت ورسته پورې وړاندې ورساوه او وروسته له هغه يې چې د خپل پوځ د رېيمه برخه له لاسه ورکړه، له فرانسويانو نه، څو ساعته مخکې، چې له ويانا نه راتله، د ويانا پر واټ د ځنايم په ښارکې لاهوبرون ته ورسېد.

کوتوزوف هم دې ته اړ شو، چې له خپل په درنو بارونو بار پوځ سره ګرده شپه او ورځ پرله پسې لار ووهي چې ځنايم ته ورسېږي. باګراتيون، هم دې ته اړو، چې يوه شپه او ورځ، له خپل وږي او بربنډ څلورزريزه پوځ سره چې په لاهوبرون کې له دښمن سره مخامخ شوی و، د هغه د وړاندې تګ مخه بنده کړي او دا په رښتيا سره د نه منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړخبره وه.خو عجيبه تقدير، دغه ناشوني کار شوني کړ.هغې دوکې چې دويانا پل بې له اخ اوډبه فرانسويانو ته تسليم کړی و، مورا دې ته هڅولی و، چې بيا په هماغه شان کوتوزوف هم تېر باسي.مورا چې د ځنايم پر واټ د باګراتيون له پوځ سره مخامخ شوی و، داسې انګېرله وه چې د کوتوزوف ټول پوځ همدا دی.په دې هيله چې دغه پوځ په ډاډ سره تالا والا کړي،دا يې ښه وګڼله چې په ويانا کې د پاتې شوني پوځ رارسېدو ته سترګه په لارې شي،نو له دې کبله هغه د درې ورځني اوربند وړاندېز وکړ.ددغه اوربند له مخې دواړوو خواوو بايد په دغو درې ورځو کې خپل ځايونه بدل کړي نه واي.مورا ډاډ ورکاوه چې د روغې خبرې روانې دي او له دې وړاندېز نه دده موخه داده چې دزياتو ،بې ځايه وينو د توېدو مخه ونيول شي.کراف نوستيس، اتريشي جنرال،چې د باګراتيون د پوځ دمخکښو قواوو قوماندان و ،د مورا د استازي خبرې ومنلې، شاته وخوځېد او باګراتيون يې يوازې او بې دفاع پرېښود.د مورا ،بل استازی،د روسي پوځ بلې لومړۍ کرښې ته ورغی چې هغو ته هم د درې ورځني اوربند خبر ورکړي. باګراتيون هغه ته ځواب ورکړ چې دا اوربند دمنلو او نه منلو واک نه لري او خپل يو ياور يې د اروبند له هغه وړاندېز سره چې ده ته شوی اويوه بل ګذارش سره مل ستر قوماندان ته واستاوه.

د کوتوزف لپاره د اوربند دغه وړاندېز،داسې يو ګټور وخت و، چې دهغه په موده کې به د باګراتيون ستړی ستومانه پوځ لږ ترلږه څه استراحت وکړي او دتوپونو او درنو وسلو کتار (چې خوځېدا يې له فرانسويانو پټه ساتل شوې وه )که څه لږ وي ځنايم ته نږدې شي.داوربند دغه وړاندېز،د پوځ د ژغورنې داسې يو يوازيني امکان و چې هېڅچا يې د پېښېدو هيله نه لرله.د روغې د وړاندېز ترلاسه کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه سمدلاسه وروسته کوتوزف، په ستري قوماندانۍ کې خپل مشاور یاور، جنرال فینځینګبرود، دښمن ته ور واستاوه. جنرال فینځینګبرود، ته سپارښتنه شوې وه، چې نه یوازې دروغې وړاندیز ومني بلکې د تسلیمۍ د شرایطو وړاندیز هم وکړي، خو کوتوزف، له دې سره همهاله، خپل ځینې هغه، یاوران او مشاورین هغه پسې جوخت ولېږل چې، د دوی له خوا لېږل شوي توپچي او درنې وسلې چې لا په لاروکې وو، د کرمس په واټ کې تسنائیم ته ورودانګي.

دباګراتیون، وړې او بربنډ پوځ دا دنده لرله چې نه یوازې د ټول پوځ د خوځېدا امنیت او ساتنه تامین کړي، بلکې له ځانه د اته برابره زیات او قوي سیال پوځ په وړاندې په مېړانه ودرېږي.

د کوتوزوف، ټول اټکلونه رښتیا شول. هم د هغه د تسلیمۍ وړاندیز چې هغه ته یې د درناوي دنده نه لرله، ده ته دا وخت ورکړ چې خپل پوځ او د هغه درنې وسلې لا وړاندې ورسوي او هم د بېرژر د مورا تېروتنه راڅرګنده شوه، ځکه ناپلیون اوس د لاهوبرون. په پنځه ویشت ورست کې، د شون برون په ښارګوټي کې استوګن شوی و. ناپلیون چې د اوربند او روغې په اړه د مورا ګذارش ترلاسه کړ، سمدلاسه د هغه په تېروتنه پوه او لاندنۍ لیک یې هغه ته واستاوه:

شهزاده موراته!

د شون برون ښار

د ۱۸۰۵ کال د برومر د میاشتې ۲۵ نېټه

د سهار اته بجې

زما خواشیني هومره زیاته ده چې د هغې دانځورولو لپاره یې ماته د تورو پیدا کول هم خورا ګرانه ده. تاسو یوازې او یوازې زما د مخکښ پوځ قوماندان یاست او زما له سپارښتنې پرته د روغې ومنلو او اوربند

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک نه لري.تاسو په خپلې دې پرېکړې سره زما د جګړې ټول ثمربایلود. سمدلاسه دروغي ترون مات او پردښمن یرغل وکړي.اعلان وکړئ چې دروغې دترون لاسلیکوونکی جنرال د دغه راز یوه ترون دلاسلیک واک نه لاره او د روسیې له ټولواک نه پرته بل هېڅوک د دې واک نه لري.

خو که د روسیې ټولواک د تسلیمۍ شرایط ومني ،زه هم چمتو یم هغه ومنم.خو دا هسې د ځیرکتیا یوه خبره ده.تاسو مخ وړاندې د رومۍ او روسیې پوځ تالا والا کړئ...تاسو په داسې یو حالت کې یاستئ چې دهغو ټولې درنې وسلې او توپچې لاندې او خپلې کولای شي.

د روسیې د ټولواک مشاور جنرالان دوکه مار دی...هر هغه افسر چې واک او صلاحیت ونه ولري، هغه له هېڅ سره برابر دی.روسي جنرال په رښتیا دغه شان واک نه لري.اتریشان دویانا په پله کې تېروتل او تاسو خو د روس د ټولواک یو یاور تېرویستلي یاست.

ناپلیون

دناپیلون یاور، څومره چې د هغه دآس توان و، په تندۍ ځغستل او دغه ګوا ښمن لیک یې مورا ته ورساوه. خپله بناپارت هم په خپلو جنرالانو باور نه لاره نو ځکه یې له خپل ټول پوځ سره د جګړې ډګرته ورودانګل. هغه له دې وېرېده چې ستربرې له لاسه ورنه کړي.په دې وخت کې دباګراتیون شلورزریزه وږې او بربنډ پوځ، نغرو ته نه یوازې د دې لپاره اوروړته کړی و، چې ځانونه تاوده او لمدې جامې وچې کړي، بلکې د درې ورځنۍ لوږې له زغم نه وروسته یې څه شوله او ورغستلي بار کړي و او هېڅوک له هغه څه چې پر دوی راتلونکي و، نه خبر و او نه یې چا اټکل کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

د مازدیګر له درې بجو اوښتې وې چې سردار اندرې لا په خپلې غوښتنې ټینګار کاوه، چې کوتوزف دده هیله ومنې.دده داهیله ومنل شوه او ډېر ژر هغه د ګرونت په سېمه کې د باګراتیون حضور ته ورسېد. د بناپارت یاور او استازی لا د مورا قطعې ته رسېدلی نه وا او جګړه لا پیل شوې نه وه.د باګراتیون په پوځ کې لا د جګړې له ټولیزو حالتو هېڅوک خبر نه و.ټولې خبرې په روغې راچورلېدې،خو هېڅچا دا ډاډ نه لاره چې سوله دې راشي.د جګړې په اړه غږېدل ،خو دهغې په نېږدې والي چا ډاډ نه درلود.

باګراتیون په دې پوهېده چې بالکونسکي د کوتوزوف د ډاډ وړ او دخوښې یاور دی،نوځکه یې په خورا مینې دهغه هرکلی وکړ او دا یې ورته په ډاګه او څرګنده کړه چې،نن دی که سبا دجګړې اور بیا بلېږي.هغه هرڅه دبالکونسکي خوښې ته پرېښودل چې زړه یې د جګړې په وخت کې څه کوي،دلته،له ده سره پاتې کېږي،یا دپوځ شا ډلو ته (چې هغه هم خورا زیات اهمیت لري) ورځي او له هغه ځایه دنظم څارنه کوي او په پای کې یې دسردار اندرې دخیال دساتنې لپاره وویل:

-کېدای شي نن او سبا هېڅ څه پېښ نه شي.

دباګراتیون په زړه کې تېره شو:

-که دا دسترې قوماندانۍ کوم نازولی وي،همالته دجبهې په شاکې هم مډال یا نښان ګټلی شي او که غواړې له ما سره پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، پاتې دې شي... که زړور افسر وي، يو ځای نه يو ځای به په کار شي. سردار اندرې بې له هغه چې څه ووايي، اجازه وغوښته چې يو وار پر آس سپور د قطعې ليدو ته ورشي او د هغې د حالت کتنه وکړي. د ورسپارل شوې دندې جاج واخلي چې حال څه دی او څه کولای شي. د کشف افسر چې ښکلې ځواني، نوې جامې لرلې او د خاتم الماسي ګوته يې په شهادت ګوته ځلېدله، او سره له هغه چې په فرانسوي ښه نه پوهېده، خو ډېر لېواله و چې په هغه وغږېږي، هيله څرګنده کړه چې سردار اندرې بدرګه کړي.

هر خوا يې په لمدو جامو کې خواشيني افسران ليدل چې کوم شي پسې ګرځېدل او هغه سرتېري چې له کليو نه يې ونې، لرګي او نورشيان رابار کړي وو.

د قوماندانۍ افسر دې سرتېرو ته په اشارې سره وويل:

-هو کې سرداره! د دې خلکو د بې ځايه کړو له لاسه هېڅ خلاصی نه لرو. د هغو قوماندانانو، هغوی خدای ته سپارلي دي. هغه د خوړو د خرڅلون يوې کېږدۍ ته اشاره وکړه او وې ويل:

-د غلته سره راټولېږي او کرار ناست وي. همدا نن سهار مې له دې ځايه وشړل او اوس ورته ګوره چې بيا يې څه ګڼه ګوڼه جوړه کړې ده. بايد ورشم، هو کې سرداره! بايد ورشم لږ يې سره وډار کړم. يوه دقيقه.

سردار اندرې چې لا تر اوسه د ډوډۍ خوړلو وخت نه و پيدا کړ، وويل:

- راځئ زه هم غواړم د خوړو د خرڅلون د غې کېږدۍ ته ورشم، لږ پنير او پتېرۍ اخلم.

-تاسو ولې ونه ويل چې ډوډۍ مو نه ده خوړلې سرداره؟ ما به خپله ډوډۍ او مالګه درنه ځار کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی له آسه راپرېوتل او د خوړو خرڅولو کېږدۍ ته ورننوتل.هلته د مېزو شاته څوتنه خواشيني او رنګ بايللي افسران ناست وو.هغوی په خوړو څکو لګيا وو.

د قوماندانۍ افسر د ملامتۍ په داسې ژبه چې ګواکې يوه خبره يې په وار وار چاته ويلې وي،وويل:

-يوه نه شوم ښاغلو !څنګه ځانته د دې حق ورکوئ چې دومره ډېر ځنډ خپلې دندې پرېږدي.سردار سپارښتنه کړې ده چې هېڅوک دلته ونه ليدل شي.هغه د توپچي يو افسر ته چې لنډه ونه،ډنګر،ټول په خټو ککړ او پښبلې او يوازې په جورابو کې(هغه خپل بوټ يې دوکاندار ته ورکړي وو ،چې وچ يې کړي) او لاسې موسکا پر شونډو خوره او هماغه شېبه د نوو رارسېدونکو کسانو په وړاندې پاڅېدلی وو ،وويل:

- هو !تاسو ته وايم ! د قوماندانۍ ښاغليه تورنه !

د قوماندانۍ افسر خبرو ته دوام ورکړ:

- څنګه نه شرمېږئ، تورن توشينۀ !تاسو د توپچي دافسر په څېر بايد د نورو لپاره د ښه والي نښه واوسئ،خو تاسو خپله پښبېلې ولاړياستې.که اوس د ګواښ زنګ ووهل شي، سخت خوند به وکړي.(د توپچې تورن په خندا شو ). د قوماندانۍ افسر په امرانه ژبه زياته کړه:

-مهرباني وکړئ خپلو ځايو ته لاړ شئ، ښاغلو !ټولو ته وايم،ټولو ته.

سردار اندري بې له ارادې وموسېد او توپچي افسر،توشين ته يې وکتل.بې له هغه چې څه وواييي،همداسې موسېده.د توپچې افسر،توشين چې لوڅې پښې يې يو په بلې اړولې را اړوله، په پوښتنيز،برند ،ځيرک او مهربان غلچک کله سردار او کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقوماندانۍ افسر ته کتل.خو تر لږ ځنده وروسته يې ،چې هماغه موسکا پر شونډو وه ،وويل:

-پوځيان وايي چې پښبلي سړی،تر نورو چټک خوځي.

په دې توګه توپچي افسر غوښتل خبره ټوکې ته واړوي او ځان له هغه بدحالت نه وژغوري چې په کې راګير دی،خو خپله دا خبره يې پای ته نه وه رسولې چې احساس يې کړه ،ټوکه يې بې ځايه کړې ده.هغه له شرمه لا پسې سور شو.

دقوماندانۍ افسر چې هڅه يې کوله ځان لا جدي او غوره کې وساتي،وويل:

-مهرباني وکړئ او خپلو ځايو ته لاړ شئ.

سردار اندرې،يو ځل بيا دتوپچي افسر ته وکتل.په هغه کې يې يوه ځانګړتيا ،دا سې ديوه ټوکمار ځانګړتيا ،خورا په زړه پورې او دپام وړهغه، چې په هېڅ ډول دپوځي ځانګړتيا ته ورته نه وه ،وليده.

سردار اندرې او دقوماندانۍ افسر بېرته په خپلو آسونو کېناستل او وړاندې يې چو کړل.

کله چې له کلي نه ووتل،په لاره کې يې ډلې ډلې افسران او سرتېري ليدل ،هغوی هسې پلې روان وو.چې‌يې خوا ته يې هغه مورچلونه او سنګرونه ليدل چې سرتېرو شکول او جوړول.له دغو ځايو نه نوې راويستل شوې خاوره تکه سره ځلېدلهد سړې هوا سره سره،.دسرتېرو څو ټولي، په يوه کميس کې لکه دسپينو مېږتنو په شان چې په سره خاوره بهېږي،له هرې خوانه په خوځېدا وو. له ژورو کندو نه نالېدونکو سرتېرو په پرله پسې تازه خاوره په يوو دباندې را ارتېږله.له دغو دوو سپرو نه يوه تن مورچل ته ورننېږدې شو ،دهغه پوښتنه ګرو بړنه يې وکړه او همداسې وړاندې لاړل.له سنګره تر تېربدو وروسته، له لسګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتېرو سره مخامخ شول چې په خورا تلوار له غونډۍ نه راښکته وو او له دې خوانه د هغو د ځايو د ډکولو لپاره نور وروان وو...

هغوی په مخامخ غونډۍ وروختل.له دغو غونډۍ نه نور نو فرانسويان ليدل کېدل.سردار اندرې ودرېد او شا وخوا يې په ځير وکتل.

د قوماندانۍ افسر ترټولو نه لوړې څوکې او پوستې ته اشاره وکړه او وې ويل:

-زموږ د توپچي يوه پوسته هلته پرته ده.هماغه کېږدۍ چې تر هغې لاندې هغه د توپچي افسر پښېبلي ليدلی،له هغه ځايه هره خوا ليدل کېږي.سرداره !درځه چې ورشو.

سردار چې غوښتل نور ځان د قوماندانۍ له منګولو وژغوري،وويل:

-له تاسو نه ډېره مننه !نور غواړم يوازې وګرځم،تاسو بې غمه اوسئ، مهرباني وکړئ.

د قوماندانۍ افسر پاتې شو او سردار وړاندې لاړ.

څومره چې هغه وړاندې ته او د دښمن کرښو ته نږدې کېده،په هماغه اندازه په سرتېرو کې د خوښۍ ،نظم او لېوالتيا حالت زياتېده،خو تر ټولو نه زياته بې نظمي او ژوره خواشيني يې د څنايم سيمې ته نږدې ،په هغې ډله کې وليده،چې لس ورسته يې له فرانسويانو نه واټن درلود.د ګرونت په سيمه کې هم له نامعلوم ګوابښ نه ګبنهۍ او ويره احساسېده،خو هرڅومره چې سردار د فرانسويانو کرښو ته نږدې کېده،زموږ د سرتېرو په منځ کې په ځان ډاډ او د زړورتيا روحيه زياتېده. هلته يوه ډله سرتېري تيارسي شوي وو او د هغو افسر د قوماندان سره په ګډه هغه شمېرل.هغوی چې هرکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستي سرتېرى ته رسېدل، د هغه پر ټټر به يې ګوته کېښوده او ورته ويل به يې چې لاس پورته کړي. هغه سرتېري چې لا کتارسوي نه وو، چا خس راټولول، څوک د بوټو او اغزو په راټولو لګيا وو او چا هم د ټوکو او خنداوو بنډارونه جوړ کړي وو، خندل يې او پر يو بل يې ټوکې کولې. د نغري شاوخوا ته ناست څوک بربنډ، چا جامې اغوستې، چا داور پر لمبو د وچېدو لپاره خپلې لمدې جامې نيولې وې، چا شليدلې جامې ګنډلې او څوک پر خپلو اشپزانو ورټول شوي وو. په يوه ټولي کې ډوډۍ تياره وه او سرتېرو چې لوږه او انتظار يې له بشرو نه ورېدل په خوراليوالتيا اېشېدونکو ديګونو ته کتل. يوه اشپز د پخو شويو خوړو نه يو څه په لرګينه کاچوغه کې هغه افسر ته چې نغري ته نېږدې ناست و، ورکړه، چې مالګه يې وګوري.

هغه بل ټولي چې د شرابو په ويشلو، ترنورو نه بختور، ګڼل کېده، ځکه په هر ټولي کې شرابو نه پيدا کېده، له يوه دلګي مشر نه، سرتېري ددې لپاره راتاو شوي وو، چې له هغه سره د شرابو ډک منګي و .پوځيانو خپل پټکونه سره خلاصول او د هغو له سرونو نه يې، د پيالو کار اخيسته، هغه يې په وار سره تر منګي لاندې نيول او شراب يې په کې ويشل. سرتېرو به د غه جامونه په خورا ليوالتيا، داسې چې بشرو يې روحاني بڼه پيدا کوله، تر شونډو رسول او د سر او اورمېږ په يوې چټکې خوځېدا به يې هغه په خوله کې تويې کړل، شراب به يې څو واره له ژبې او غاښونو نه تاراتاو او وروسته به يې ترستوني تېر کړل، بيا به يې شونډې د کوټ په لستوڼو پاکې کړې او په خورا خوښۍ به له ساقي دلګي مشره نه لرې کېدل. څېرې يې داسې آرامه او له خياله زنګېدلې چې ګواکې دا نه د دښمن په وړاندې د جګړې په حالت کې، چې کېداى شي د دغو وګړو ترنيمايي به په هغه کې وژل کېږي، بلکې ټول بو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته په خپله پلارنۍ ارامه کلي وکور کې، چې هرڅه ارامه تېرېږي، مېشت دي.سردار اندرې د ښکاري غونډ له څنګه تېر شو او دګرناديه کيفي، پوځونو په منځ کې، چې سرتېري يې بې باکه او ددښمن د رانېږدې کېدو نه بې خياله او ټول په هماغه غير پوځي چارو لګيا وو، د غونډ دقوماندان کېږدۍ ته وررسېد، هغې کېږدۍ ته چې له نورو هغو نه لږ لوړه او په همدې ښه يې تر نوروتوپير درلود او دې توپير له نورو نه، دهغ پېژندل آسانه کول.هلته يې دګرناديه د پوځ يوه ډله وليدله چې تر مخې يې پر خاورو بربنډ سرتېری پروت و.دوو سرتېرو هغه نيولی او دوو نورو هغه په نريو لښتو پر ملا واهه.وهل خوړونکي سرتېري سختې چغې وهلې.ځورب جګړن، چې د سرتېرو په وړاندې ښکته پورته ګرځېده، بې له هغه چې دغو چغو ته پام وکړي، همداسې پرله پسې غږېده او ويل يې:

-د سرتېري لپاره غلا بې ننګي ده.سرتېری بايد سپېڅلی واوسي، هغه بايد زړور او مېړنی اوسي، که سرتېری د خپل وروړ مال پټوي، هغه شرف نه لري، دا سپک وهئ، ښه يې وډبه وي.

دلمدو نريو لښتو ګوزارونه اود سرتېري له زاريو، ستړيا نه ډکو، ناهيلو چغو رمباړو همداسې دوام درلود.

جګړن امر کاوه:

-نور، نور...

ځوان افسر چې پرمخ يې د نه پوهېدنې اوزورېدو نښې راخورې وې، هلته رسېدونکي ياورته په پوښتنيز ډول وکتل او له هغه ځايه لرې شو.

سردار اندرې چې دجبهې لومړې کرښې ته رسېدلی و، په جبهه کې خپل تګ ته دوام ورکړ.که څه هم زموږ د جنګيالو د کرښې او ددښمن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځونه ترمنځ په ښیٔ او کېڼې خواکې واټن خورا لرې و ،خو ترمنځ یې، هلته چې د جرګمارو ترمنځ پرون سهار د روغې خبرې رواني وې،دومره سره نېږدې وو ،چې وګړو کولای شول یو دبل څېرې وویني او سره وغږېږي.دهغو سرتېرو ترڅنګ چې دلته په خپلو مورچلونو کې پراته وو ،له دوارو خواونه خورا ډېرسیلانیان اوهسې نندارچیان لومړې کرښې ته راغلي وو اوپه خندا خندا یې د دښمن سرتېرو ته چې پردي پردي ورته برېښېدل، کتل.

که څه هم لا سهار دوخته دجبهې لومړې کرښې ته، پر تګ راتګ بندیز لګېدلی و ،خو قوماندانان نه شو کولای ددغو نندارچیانو مخه ونیسي...سردار اندرې، د فرا نسویانو په ننداره بوخت و...

یو روس سرتیری، چې له خپل افسر سره ،دجګړې لومړې کرښې ته نېږدې شوی و ،په خورا مینې او تلوسې خپل یو ملګری،چې ګرنادیه سره په فرانسوي غږېده ،ورښوده او ویل یې:

- ګوره !دبلبل په شان غږېږي،داسې چې تر هغه بهرنې نه لا ښه غږېږي. او هو دا ته یې سیدوروفه !آه هه،نو وایه !

سېدوروف چې پر فرانسوي ژبې دلاسبری او ښې غږېدادعوا لرله، وویل:

-په رښتیا هم ښه غږېږي.

هغه، سرتېری چې ټول نورپه خندا اوملنډو یوبل ته ښوده ،هماغه دولوخوف و.سردار اندرې،هغه پېژانده ،نوځکه یې خبرو ته غوږ شو.دولو خوف له خپل ټولیمشر سره ،له کینې خوانه چې ددوی دپوځیانو ددرېدو ځای و ،لومړې کرښې ته راغلی و.

ټولیمشر چې سر وړاندې راخم کړی و ،هڅه یې کوله ده ته له دغو نا آشنا خبرو او کلمو نه، که په یوه کلمه هم کېږي پوه شي،هغه دولوخوف

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمساوه:

-نو !څه وایي؟مهرباني وکړه، څه؟هغه څه وایي؟

خو دولوخوف، ټولیمشرته ځواب نه ورکاوه.هغه له فرانسوي جنرال سره په خورا تودو خبرو کې ډوب شوی و.دهغو ټولې خبرې اترې د جګړې په اړه وې.فرانسوي افسر چې دروسانو او اتریشیانو ترمنځ توپیر نه شو کولای، هڅه کوله دا په ډاګه کړي چې روسان لا په ځولم کې دي،نه تسلیم او نه تښتېدلي دي.دولوخوف،هڅه کوله خپل سیال ته ثابته کړي چې روسان نه یوازې هېڅکله نه تسلیمېږي،بلکې فرانسویانو ته یې ماته هم ورکړې ده.

دولوخوف ویل:

-دلته موږ ته ویل شوي،چې تاسو تالا والا کړو او دا کار به کوو.

فرانسوي جنرال یې په ځواب کې ویل:

-نبه به دا وي چې هڅه وکړئ چې تاسو، سره له ټولو قزاقانو سره زموږ له لاسه تالا والا نه شئ.

فرانسوي نندارچیانو او اورېدونکو ددې خبرې په اورېدو د زړه له کومې وخندل.

دولوخوف ویل:

-هماغه شان مو چې د سووروف(د روس یو ستر قوماندانو ) په وخت کې ونځولئ، دا وار به مو بیا ګډ کړو.تاسو به دې ته اړ کړل شئ چې ونځېږئ.

یو فرانسوي وویل:

- دا څه سندرې وایي؟

یوبل فرانسوي بې له هغه چې پوه وي،دتصور له مخې یې اټکل وکړ چې خبرې یې دپخوانیو جګړو په اړه دي،وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا ټولې پخوانۍ سندرې دي، ټولواک (بناپارت) به لکه د نورو په شان ستاسو دغو سوور ته هم وښيي چې څوک څنګه دي.

دولوخوف شونډې بېرته کړې:

-بناپارت...

خو يو فرانسوي سرتېري په خواشداني چغې کړې:

- بناپارت څه شي وي؟ټولواک وايه، بلا دې ووهه.

-بلا دې، ستا د ټولواک پسې وي.

دولوخوف، په روسي ژبه فرانسوي ښه وښکنځه، دا سې ښکنځل چې پوځيان يې په خپل منځ کې کوي، خپل توپک يې اوږې ته کړ ،وخوځېد او خپل ټوليمشر ته يې وويل:

-ايوان لوکويچه !درځه چې ځو !

دلومړې کرښې سرتېرو ، په خپل منځ کې سره وويل:

-ودې ليدل چې په فرانسوي غږېدل يعني څنګه؟ښه سېدوروفه !اوس ته څه په کې وايې.

سېدوروف سترګه کېښکوده او فرانسويانو ته يې هسې په بې معني او ببولالو ويلو پيل وکړ:

-کاري، ماله، تافه، ساغي، موتر، کېسکا...

-خه، خه، خه، خه، ،هو ،هو ،هو ،هو ،د سرتېرو په منځ کې دخندا او خوښۍ داسې يوه څپه خوره شوه چې آن د فرانسويانو کرښو ته ور واوښته او تا به ويل چې ټول به اوس خپل ټوپک خالي ،خپلې وسلې به ماتې او ژر تر ژر به خپلو ورځني ژوند ته مخه کړي.

که څه هم پوځيان کورونو ته لاړل، مګر وسلې هماغسې ډکې، يو بل ته په نښه شوې وې. توپونو نه ګولۍ لرې شوې وې، خو مورچلونه هماغه شان ټينګ او بې بدلونه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۶

سردار اندري چې د جبهې ټولې کرښې له ښي نه چپ ته وکتلې، په هغه مورچل کې له آسه کوز شو چې د ستر قوماندان په وینا، د جګړې ټوله سیمه له هغه ځایه تر څارنې لاندې راتله. هغه د ځلورم توپ له څنګه چې له توپ وړونکي نه جلا ولاړ و، ودرېد. یو توپچې سرتېری د توپونو مخې ته د څارنې لپاره ګرځېده راګرځېده. دغه چوپړ چې سردار ولید، غوښتل ودرېږي، خو د هغه په اشارې یې خپل منظم، غمرلې او له خواشداني نه ډکې ګرځېدو ته دوام ورکړ. توپ وړونکې کراچۍ د توپونو تر شا ولاړې وې او د هغو شا ته آسونه تړل شوي وو. د توپچیانو اورونه بل وو. د وروستي توپ کینې خواته د افسرانو د خورا تندو او تودو خبرو آوازونه اورېدل کېدل.

په رښتیا هم د دې مورچل نه، د روسیې د پوځ ټول او د دښمن د پوځ دیوې برخې د ځای پر ځای شوي دریځ ننداره له ورایه ښکارېده. د همدې، مورچل په وړاندې، د مخامخ شنې غونډۍ پر څوکې د شونګراین کلی له لرې لیدل کېده. ښۍ او چپې خواته په درې برخو کې، د لوګو په منځ کې د فرانسوي پوځیانو راټولېدل د لیدلو وړ وو، خو داسې برېښېده چې د هغو زیاتره برخه په خپله کلي او د غره شاته لمنو کې ځای پر ځای شوي دي، د کلي چپې خواته مورچل ته ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو څه، دلوګو په منځ کې ليدل کېدل، خوله لرليد(دوربين)نه پرته، دهغه پېژندل ګران و.ښي خواته زموږ پوځونه، پر شېوه شوې غونډۍ داسې ځای پر ځای شوي وو، چې فرانسوي مورچلونو يې ، په آسانۍ ترڅارنې لاندې راتلل.زموږ ځمکني پوځونه هم په همدې غونډۍ کې پراته وو.دهغو څنګ ته ((دراګن))نومي پوځ ليدل کېده.په منځنۍ برخه کې، د توشين په مورچل کې، يعني له هماغه ځايه چې سردار اندرې له هغه ځايه ننداره کوله ،يوه داسې غونډۍ وه، چې زموږ او شون ګرابن دکلي ترمنځ دبهېدونکې رود پلو خواته په آوارۍ ورشېوه شوې وه او د رود آپلو ،دکلي خواته ورپورته کېده. چپې خواته زموږپوځيان له ځنګل سره ګاونډ و، پليو سرتېرو له همدې ځنګله نه لرګي وهل، اورونه يې بلول او دنغريو لوګي يې کنډک کنډک له ورايه ښکارېدل.

دفرانسويانولومړۍ کرښه زموږ دلومړنيو کرښو نه پراخې او څرګندې وې اوله ورايه تصور کېدای شو چې په آسانۍ کولای شي،موږ له دواړو خواونه محاصره کړي.

زموږ دپوځونو شاته دښکته کېدو او پورته کېدو يوه ژوره تنده شيله پرته وه، چې دتوپخانې اوشا پلو ته يې دسپرو وتلوته ستونزې پيدا کولې.سردار اندرې، پرتوپ څنګل کېښوده، خپله کڅوړه يې راوويسته او دخپلو پوځونو دځای پر ځای کېدو ټول ځايونه يې انځور او دهغه په دوو ځايو يې ددې لپاره په پنسل څه شي وليکل، چې پر هغه به له شهزاده باګراتيون سره خبرې وکړي.هغه له ځانسره وانګېرله چې دی به سبا ته سپارښتنه کوي، چې لومړی به ددوی توپچي منځنۍ برخې کې ځای پر ځای کېږي او بيا به سواره پوځونه،آپلو ته ولېږدول شي.سردار اندرې چې تل د ستر قوماندان سره مل و ،نو تل يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځونو خوځېدا او دهغه په اړه فرمانونه ځارل.هغه چې ډېرو جګړو تاريخ لوستی و ،د دې جګړې په اړه يې هم يوازې په بنستيزې کړنلارې فکر کاوه او په دې اړه يې دهغو پېښو اټکلونه کول چې ذهن ته ورتلل، له ځانسره به ويل:

-که دښمن له ښي خوا يرغل وکړي،د کيفي ګرناديه او دپادولسکي ښکاري قوتونه بايد ترهغه دفاع وکړي او خپل مورچلونه وساتي،چې نوي قوتونه دهغو مرستې ته راورسېږي.

په دې حالت کې بيا د دراګن قوتونه کولای شي له څنګه،پر دښمن يرغل وکړي او ويې ځپي.که زموږ د پوځ پر منځني يا پر زړه يرغل وشي،نو هغه به بيا توپونه پردغې غونډۍ ځای پر ځای کوي او دهغه تر چتر لاندې به د چپې خواته خپل پراته پوځونه د دښمن له اوره ساتو او په کرار کرار به شا خواته درومو او ځان به باسو.

په هغه موده کې چې سردار اندرې په دغه مورچل کې ولاړ و،داسې د جګړې په خيالونو کې ډوب و،چې دافسرانو دبنډار دشر اوشور غږ يې لکه، کله کله چې پېښېږي پرله پسې اورېده،خو هڅه يې کوله چې ورته غوږ نه شي،نو له دې کبله هر هغه څه يې چې اورېده،پرهغه نه پوهېده،مګر ناڅاپه د دغه شر اوشور تودوالی ورته په زړه پورې شو او بې له ارادې يې ورته غوږ ونيو.

يو خوږ او لږ آشنا غږ يې ترغوږه شو:

- نه !نه !د زړه سره !زه وايم که انسان په دې پوهېدای چې له مرګه وروسته په ده څه راځي،نو هېڅکله به له مرګه نه ډارېدای،هو کې يارانو ،زما دا خبره ومنئ،هو !د زړه سره !

دخبرو په منځ کې يو ځوان غږ ورولوېد او وې ويل:

-ښه،ګورئ !وډاره شئ،که ونه ډارشئ،باک يې نشته،چې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې راشي، له مرګه تېښتنه نه شته.

- يو بل غږ چې تر نورو پوخ او دروند و، را اوچت شو:

-مګر ډار په خپل ځای پاتېږي، خو که له دې خبرو نه تېر شو، باید ووايو تاسو ټول هوښيار خلک ياستئ، پوهېږئ تاسو توپچيان ولې دومره ځيرک او د قدر وړ خلک يي؟ او ولې مو داسې لوی خيالونه په ذهن کې ګرځي؟ دا ځکه چې تاسو تل د هرڅه د سرته رسولو او له ځانسره يې د وړلو حق لري، هم ودکا او د ودکا ښکلو اړوند ټول خواړه او مزناکې څکې له ځانسره اخيستئ شي.

يو بل ډډ غږي آواز چې ښکاريده د پلي پوځ افسر وي او وغړمبېد ويې خندل.

هغه لومړنی غږ چې د سردار غوږ ته آشنا و، دوام ورکړ:

- هو کې ! ډار پر خپل ځای پاتېږي، انسان له کوم ناآشنا څه نه ډاربږي. پوهېږئ، له کوم نا آشنا څه نه. هرڅومره چې وو ايي روح مرګ نه وروسته آسمانو ته الوزي، وايي دي، ځکه موږ خو پوهېږو چې آسمان نشته، دا ټوله هوا ده، يوازې هوا.

هغه ډډ غږي آواز بيا د توپچي خبرې پرې کړې:

-ګوره توشينه !نه شي کولای موږ خپل هغه خواږه جام ته مېلمانه کړې؟

سردار اندرې تر لږ فکر وروسته په خوښۍ هغه خوږ فلسفي آواز وپېژاند او له ځانسره وبګنېد:

-دا خو هماغه تورن دی، چې لوڅې پښې د خوړو په هغې کېږدۍ کې ولاړ و.

توشين وويل:

- جام خو کېږي، خو د آخرت کيسه هم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ددې یې وخت پیدا نه کړ چې خپله خبره پای ته ورسوي.دده له خبرو سره هممهاله په هوا کې دداسې غړمبهاري غږ.واورېدل شو ، چې په خورا چټکۍ ددوی خواته رانږدې او قوي کېده.دا دتوپ ګولۍ وه ،چې ګواکې له ډېره تلوارېې وخت ورنه کړ، نا ویل شوې خبرې پای ته ورسوي.ګولۍ په داسې وېرونکې زور اودوزخي قوت د هماغه خوړو د کېږدۍ سره په ځمکه ولږېده ،لویه کنده، دخاورواو تېږو لویه دلۍ یې جوړه او دځمکه له زړه نه یې سخت زګېروی پورته کړ.

په همدې شېبه کې تر ټولو نه مخکې کمکۍ ځانه توشین له جونګړه نه راودانګل،هغه چې پیپ یې په شونډو کې کېښکود ،رنګ یې ژړه الوتی غوندې و. تر هغه نه وروسته ،هماغه دپلي پوځ اودځیږ،مېړنې آواز خاوند راووت او دخپلو ټنيو دټړلو په ترڅ کې،په منډه منډه دخپل ټولي خواته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

سردار اندرې، چې پر خپل آس سپور و، د توپونو په مورچل کې ولاړ و، د هغه توپ لوګي ته يې کتل چې ډز ترې شوی و. د هغه سترګې پر ټول هغه منظر خورې شوې چې تر مخې يې پروت و.

هغه وليدل چې د فرانسويانو پر ځای ولاړ پوځونه، په خوځېدو شول او هغه څه چې لا تر اوسه سم نه ښکارېدل، هغه يو توپ و، چې له هغه نه له شوي ډزه، په پيدا شوي لوګي کې پټ و. دوه تنه فرانسويان چې اټکل کېده، ياوران به وي، د غونډۍ پر لمنه يې منډې وهلې. تر هغو نه لږ کوز، د ښمن يو کوچنی ټولی چې له ورايه څرګندېده، د لومړۍ کرښې د پياوړتيا تکل يې لاره، د غونډۍ د لمنې خواته روان و. د لومړي ډز لوګي لا سم خپاره شوي نه و، چې بل لوګی پورته شو، د ډز غږ يې هم واورېدل شو. جګړه پيل شوې وه. سردار اندرې د خپل آس مخه راواړوله او د شهزاده باګراتيون د ليدو په هيله يې د ګرونت پلو ته چو کړل. تر خپلې شا يې د توپونو د ډزو پرله پسې او کرار کرار په جګېدو غږونه اورېدل. داسې برېښېده چې زموږ توپونو هم د ښمن ته، د ډزو په ورلېږلو د هغو ځواب وايي. تر دې نه لږ کوز هماغلته چې سهار مرکچيانو پر اورېند خبرې کولې، د ټوپکو د ډزو غږ واورېدل شو.

لومارواـ، د ناپليون ريبار چې له سختې غندنې او ګواښنې نه ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیک یې راوړی و ،مویورات ته ورسېدلی و.مویورات چې د خپلو کړو له شرمه لاره ورکه کړې وه ،هڅه یې کوله خپله تېروتنه ژرتر ژره سمه کړي،نو سمدلاسه یې خپلې قواووې د روس د پوځ د زړه او دواړو خواوو:ښۍ او کیڼې خواته د محاصرې لپاره، په دې هیله وروخوځولې چې تر لمر لوېد او د ټولو اک ناپلیون د رارسېدو نه مخکې، د دوی مخې ته د دښمن کمشمېره پراته قوتونه تالا والا کړي.

سردار اندرې په زړه کې ویل:

-پیل شوه ،هغه ده جګړه پیل شوه.

هغه احساسوله چې زړه ته یې د وینو ورتګ له پخوانه لا پسې چټک شوی دی،له ځانسره یې ویل:

-چېرې دی؟ چېرې دی؟زما بخت چېرې دی؟؟هغه به څنګه راپیدا شي؟(بخته تاله کومه لوري راحضور کړم-خوشال بابا )

هغه، د هغو ټولیو د سرتېرو په منځ کې چې لا لس پنځلس دقیقې مخکې یې شوله خوړه او ودکا یې څکله، روان و او لیدل یې چې سرتېري په خورا چټکۍ ځان مورچلونو ته رسوي ،وسلې چمتو کوي او د ټولو په بشروکې هغه احساس اولېوالتیا ویني چې په خپل زړه کې یې ابشېدله. د هرافسر او هرسرتېري په څېره کې دا ټکې له ورایه ځرګند او لوستل کېده چې،هغه ده پیل شوه !جګړه پیل شوه !تالانګره وحشتناکه او له خوښیو ډکه جګړه !

لا د سنګرونو د جوړولو او په هغو کې د استحکاماتو برابرولو ځای ته نه و رسېدلی،چې د مني د موسم،د هغه ماښامني غمجن ماښام په غم لړلو شېبو کې یې یوه ډله سواره ولیدل چې د دوی خواته را روان وو.و سپرو پوځونو ،د دغې ډلې په مخکې د راروان، سپاره پوځي،د پوست خولۍ په سر او په سپین آس سپور و. دا سپور شهزاده باګراتیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



و.(باګراتيون په خته ګرجی و. ګرجيان په دود يز ډول د پوست خوله او پوستين اغوندي). سردار اندرې د هغه درار سېدو په تمه پښه ونيوه. شهزاده باګراتيون همدا چې اندرې وپېژاند ،خپل آس يې ودراوه ،هغه ته يې سروښوراوه. په داسې حال کې چې شهزاده باګراتيون هماغه شان مخې ته کتل، سردار اندرې، هغه ته خپل دسترګو ليدلی حال ووايه. دغه احساس چې، پيل شوه ،هغه ده جګړه پيل شوه. آن دباګراتيون ،په نه خوځېدونکې توري څېرې او دهغه په نيمه تړلو ،ملالو خوبولو سترګو کې چې ګواکې سختې دخوب لېوالـه وې هم له ورايه لوستل کېده. سردار اندرې دغه نه خوځېدونکې څېرې او سترګو ته په خورا نا آرامې ځيرتيا ځير شو ،هغه غوښتل پوه شی، چې ايا ددغې څېرې او دهغه دخاوند په ګوګل کې اوس څه خيالونه تېرېږي او څه فکرونه کوي؟هغه ته په کتو کتو کې يې دا په زړه کې ويل:

-ايا ددغې نه خوځېدونکې څېرې تر شا به اصلا کوم خيال وی؟

شهزاده باګراتيون د سردار اندرې دخبرو تر اورېدونه وروسته دمننې او منلو سر وښوراوه او وې ويل:

-ډېر ښه !

او ژبه يې داسې وه، چې ګواکې وايي، تولې هغه پېښې چې تېرېږي او يا دا خبرې چې ورته ويل کېږي، هماغسې دي چې دی له مخې پرې پوهېده او اټکل يې کړی و. سردار اندرې دچټکۍ سوارۍ دستړيا لـه امله ژرژر غړېده، خو شهزاده باګراتيون دخپل ختيځ دود له مخې داسې په پام او کرار کرار خبرې کولې چې ګواکې غواړي ووايي، داتول تلوار دڅه لپاره؟هغه خپل آس وخوځاوه او دتوشين دسنګر پلو ته ورښېږدې شو. سردار اندرې، دهغه له مل ملګرو سره يوځای هغه پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروخوځېد. دهغه ملګري دا کسان وو: دټولواک له خوا، رالېږل شوی افسر چې دده دقوماندانۍ ځانګړی استازی ګڼل کېده، دهغه خپل یاور، ژېرکوف، دارېکو دساتنې افسر، دقوماندانۍ دامنیت افسرچې په ښکلي سپین انګریزي آس سپور و او یوتن ملکي دولتي مامور چې په خپل نوبت یې دڅارونکي په نامه دجګړې په لومړۍ کرښه کې دګډون غوښتنه کړې وه. دغه ځورب او غټ خپلواک څارونکی چې په موسکا او سادګۍ سره یې شاوخوا کتل، یو دخندا وړ داسې کوټ چې دسرتېرو له خوا پر آسونو پراته ځل ته ورته و، اغوستي و، داسې پر آس ښورېده چې د افسرانو، قزاقانو او یاورانو په منځ کې دخندا ښېه تري جوړه شوې وه.

ژېرکوف، دا سړی بالکونسکي ته وروښود او وې ویل:

-دې ته ګوره !راغلی چې دجګړې ننداره وکړي، خولا ترا وسه د جګړې آوازې خپرې شوې نه دي، او دی بیا ګېډۍ اخیستی دی.

ددغه غیر پوځي څارونکي پر شونډو داسې یوه موسکا چې د دوکې ښې په کې څرګندې وې خوره وه. هغه داسې موسېده چې ګواکې د ژېرکوف ملنډې یې ستاینې ګڼلې او داسې برېښېده چې هڅه کوي ځان تر هغه نه چې دی، لا پسې ساده وښيي، هغه وویل:

-ډېره ښه ده، نور، نو څه؟

خو دقوماندانۍ څارونکي ورته وویل:

-څه ښه ده؟هېڅ ښه نه ده، ډېره دخندا وړ ده....

لا دتوشین مورچل ته نېږدې شوي نه وو، چې دتوپ یوه ګولۍ دوی ته نېږدې ولګېده، هغه ساده ملکي څارونکي بیا ساده موسکا پر شونډو وپوښتل:

-دا څه شی و چې دلته ولګېده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژیرکوف وویل:

-فرانسویان پر موږ پتیري وروي.

سادګی بیا وپوښتل:

-ښه !هغوی په همدې ډول ډزې کوي؟دا نو بل ډول کیسې دي.

هغه چې له خوښۍ نه په جامو کې نه ځاییږده، خپلې خبرې لا پای ته نه وې رسولې چې یو واربیا، خو له پخوانه په زوره ډزو غږمباهار ترغوږ او تا وې چې په کوم اوبلن څه کې، ډوب شوی وي، ناڅاپه ورک شو.هغه قزاق چې دغه ساده سړي ښۍ خواته روان و، له خپل آس سره یوځای ولوېد.ژیرکوف او دقوماندانۍ نوکریوال افسر سرونه په زینونو ټیټ او دآسونو مخونه یې بلې خواته واړول.ساده ملکی سړی د لوېدلي قزاق ترڅنګ ودرېد او په خورا پام اوځیر دهغه ننداري ته ودرېد.قزاق وژل شوی و، خو دهغه آس لا ژوندی او خوځېده.

شهزاده باګراتیون سترګې برندې،دلوېدلي قزاق خواته ورغی،خو همدا چې په خبره پوه شو، په خورا بې پروایۍ یې، داسې مخ ترې واړاوه چې ته به وایې:

-دا یوه داسې ورځنۍ پېښه ده،چې هغې ته زیات پام هسې حماقت دی.خپل آس یې دیوه غوره سپاره په شان په خورا نرمۍ ودراوه،لږ خم شو او خپله توره یې چې د پوستین په لمنه کې نښتې وه،راخلاصه کړه.دهغه توره ،لرغونې، داسې لرغونې توره وه،چې اوسنیو تورو ته یې هېڅ ورته والی نه درلود.

سردار اندرې ته په دې شېبه کې هغه کیسه وریاده شوه چې څنګه دایتالیا په جګړه کې جنرال سوورف ،باګراتیون ته خپله توره بښلې وه.ده داسې انګېرله چې په دغې شېبه کې دغه یادونه څومره دده په زړه ښه لګېده.هغوی هماغه مورچل ته ورغلل چې څو شېبې مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالکونسکې هلته ولاړ او د جګړې د ډګر ننداره یې کوله.

باګراتیون له هغه برېدګي نه چې د مهماتو د صندوق تر څنګ ولاړ و وپوښتل:

-دا د چا ټولی دی؟

که څه هم هغه وپوښتل: دا د چا ټولی دی؟خو اصلا یې غوښتل په دې پلمه له برېدګی سره خبرې پیل او له هغه نه وپوښتي، دلته لا ډار شوي نه یاستئ ؟برېدګی له ورایه په خبره پوه شو، خپلې خرمایي څنې یې چې پرمخ راخورې وې وځنډلې او په خورا خوښۍ یې وویل:

- جلالتماب !د تورن توشین ټولی دی.

باګراتیون چې په خیالو کې ډوب و، وویل:

-ښه ده !ښه ده !

هغه له هغو کراچیو نه چې توپونه په کې کښول کېږي تېر شو او تر ټولو نه د وروستي ولاړ توپ تر څنګه ودرېد.

هغه توپ ته لا پوره نېږدې شوی نه و، چې د توپ د ګولۍ غوږ زورونکی غړمبهاری یې ترغوږو شو.توپونه د لوګي په منځ کې ورک او لیدل یې چې توپچیان خپل توپونه ببرته، په خپلو پخوانیو ځایونو کې ځای پر ځای کوي.یو ستر، ځورب او د پلنو اوږو خاوند سرتېري چې پر ټټر یې لومړی شمېره لیکل شوې وه، د توپ د میل د پاکولو وسپنه را اخیستې، پښې یې سره خلاصې او په یو ګام سره یې ځان لرې او دویم شمېره سرتېري په رېږدېدونکو لاسونو په توپ کې بله ګولۍ کېښوده.بل وړوکی، په ملا کړوپ افسر چې هماغه توشین نومی افسر و، مخې ته داسې رامنډې کړې، چې ګواکې پښه یې د توپ په قنداق کې بنده وي، پرته له هغه یې چې د جنرال شته والي ته یې پام شي، دواړه لاسونه یې لکه سایوان سترګو ته ونیول، په ځیرځیر یې وکتل او په نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ازیې چې غوښتل یې هغه ته د زړورتیا هغه رنګ ورکړي چې دده ښه یې سره یې رنګ نه لګاوه، وویل:

-دوه درجې یې زیاته کړه، سمبړي. او بیا یې چیغه کړه:

-مېدو بېدو فه خوځېږه !دویم ډزوله !

باګراتیون هغه ته ورغبرګ کړ، خو توشین په کمداني او کرار یې خوځېدا چې، نه د پوځیانو، بلکې تر زیاتې کچې د مبارکۍ ویلو په وخت کې د کلیسا د کشیشانو خوځېدا ته پاتې کېده، خپلې درې ګوتې د خپلې خولې ترخنډې ورسولې او په چټکۍ یې د جنرال پلو ور وځغاستل. که څه هم د توشین، توپچیان د شیلې ویشتلو ته ګمارل شوي وو، خو هغه د شون ګرابن، پرهغه کلي چې دده مخې ته پروت و او په هغه کې یو زیات شمېر فرانسوي سرتېري راکوټه شوي وو، ګذارونه کول.

هېڅچا توشین ته دا سپارښتنه نه کوله چې په کوم ډول ګولیو کومه نښه وولي. دلته ده خپله، له خپل قوماندان زخارچنکه سره تر مشورې نه وروسته، چې ده یې خورا درناوي کاوه، پرېکړه کړې وه، ښه به دا وي چې کلی به تر اور لاندې نیسئ. باګراتیون، د توشین د ګذارش نه وروسته وویل:

-ډېره ښه !او دده په وړاندې یې د جګړې د پراخ ډګر په ننداري پیل وکړ، داسې تصور کېده چې په خیالو کې ډوب دی. فرانسویان له بلې هرې خوانه، ښۍ خوانه ډېر رانېږدې شوي وو. له هغې غونډۍ نه چې د کیف غونډ پرې ډېره شوی و، لږ ښکته، په پرتې دره کې چې یو سین په کې بهېده، د توپکو ډزو، تندر ته ورته، داسې آوازونه اوربدل کېده چې زړونه یې په ګوګل کې ربږدول. له جنرال سره یوه مل افسر د ((درګونو))د پوځیانو نه هلته لږ ښۍ خواته هغه فرانسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتېري، شهزاده ته ور ونښودل چې زموږ د سرتېرو خواته دیرغل او دهغو د محاصرې په تکل کې وو. موږ ته، نږدې ځنګل ،چپې خواته دلیدو لرلید بند کړی و. شهزاده باګراتیون سپارښتنه وکړه چې له منځنیو کندهکونو نه دي، دوه هغه دښي خوا د قوتو مرستې ته ور ودانګي. یوه افسر زړه وکړ او شهزاده باګراتیون ته یې وریاده کړه چې ددغو کندهکونو په تګ سره به توپونه بې دفاع پاتې شي. شهزاده باګراتیون مخ افسر ته وروا ړاوه او په پټه خوله یې هغه ته ځیر ځیر وکتل، خو څه یې ونه ویل. سردار اندرې داسې وانګېرله چې د افسر یادونه خورا پر ځای، سمه او ځواب ویل یې ګران دي، خو په همدې شېبه کې د هغه غونډ له قوماندان نه چې په دره کې پروت و، یوه استازي په منډه یو خبر راوړ چې بې شمېره فرانسوي پوځیانو، د درې له لمنې نه پر دوی بربد کړی، غونډ تالاوالا شوی او د کیف دګرنادیا د پوځ پلې ډلې د شا خواته را روانې دي. شهزاده باګراتیون، سر وښوراوه، په کراره ښي پلو لاړ او ددراګون د پوځونو خوا ته یې یو یاور واستاوه او سپارښتنه یې وکړه چې په فرانسویانو یرغل پیل شي، خو دغه یاور ترنیمې ګړۍ وروسته راستون شو او خبر یې راوړ چې ،همد اوس ددراګن دغونډ قوماندان د درې اه پلو شا ته تللی دی. قوماندان دا دلیل وایه چې دوی د دښمن ترسختو ګذارونو لاندې راتله او د بې ځایه او زیاتې مرګ ژوبلې د مخنوي لپاره یې خپل سرتېري په ځنګله کې پناه او ګمارلي دي.

باګراتیون وویل:

-ډېر ښه شوي دي.

کله چې شهزاده باګراتیون له توپخانې نه لرې کېده، د چپې خواله ځنګل نه د ډزو غږ اوربدل کېده، خو دا چې دی د جبهې له چپې خوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا لرې پروت و او نه يې شو کولای په خپل وخت هلته ورسي، نو هلته يې ژيرکوف ددې لپاره واستاوه، چې جنرال ته، هغه جنرال ته چې په براوناو کې يې کوتوزف ته قطعه وړاندې کړې وه، ووايي چې څومره ژر کېږي، بايد په چټکۍ ددرې هاخواته، په شا لاړ شي، ځکه په قوي اټکل سره به ددوی ښي قوتونه ونه شي کولای د پر ځنډه د ښمانو د پرمختګ مخه ونيسي. په دې اله ګوله کې تورن توشين او هغه ټولي چې بايد د توپخانې دفاع وکړي، دټولو له ياده ووتل. سردار اندرې، دشهزاده باګراتيون خبرو او دهغه هغو سپارښتنو ته چې قوماندانانو ته يې ورکولې په خورا ځير غوږنيولی او دې ته يې پام شو چې سپارښتنې مارښتنې نه شته او شهزاده باګراتيون يوازې هڅه کوي دا وښيي چې هر څه چې شوي يا کېږي، دامهمه نه ده چې داړتيا له مخې دي که په خپل سر، يا دقوماندانانو د اټکل له مخې شوي که د ده د سپارښتنې، هرڅه چې دي، دده دغوښتنو سره برابر دي. سردار اندرې په دې پوهېده چې، که څه هم داټول کړه، په خپل سر او دقوماندان له ونډې پرته ترسره کېدل، خو په خپله د باګراتيون شتوالی دلته خورا اغېز او ونډه لرله.هرشمېرقوماندان به چې په څومره ناآرامۍ او ګېنهۍ ده ته رارسېدل، کرارېدل به، افسرانو او سرتېرو به هغه ته په خوښۍ او ورين تندي هرکلي وايه، دهغه په ليدو به تازه او خوښېدل او هڅه به يې کوله دځانښودنې لپاره لاسي او بې ځايه زړورتيا وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

شهزاده باګراتیون، لومړی، زموږ د کرښې د ښي اړخ تر ټولې لوړې څوکې ته وخوت او بیا ښکته د شیلې منځ ته، چېرې چې د تند ریزو ډزو غړمبهاري اورېدل کېده او د باروتو د لوګو له لاسه هېڅ شی نه لیدل کېدل، وړاندې لاړ او ورښکته شو. هر څومره چې به په شیله کې ښکته او د ننه ننوتل، په هماغه کچه به تتوالی زیاتېده او د جګړې د ډګر نېږدې والی رانږدې کېده. هغوی ته یو نیم ټپي سرتېري په مخه ورتلل. دوو سرتېرو د یو بل ټپي سرتېری چې سر یې په وینو ککړ و او خوله یې لوېدلې وه، تر ترخګ لاندې نیولی و او له ځانسره یې کشاوه. ټپي سرتېري زګیروی کاوه او له خولې نه یې وینې بهېدې. داسې برېښېده چې ګولۍ یې یا په ارمېږه او یا په خوله کې لګېدلې ده. بل ټپي یې ولید، چې یوازې، بې ټوپکه په زړورتیا روان و، هغه په لوړه لوړه زګیروای کاوه، خپل لاس یې چې تازه ټپي شوی و، د ویالې په شان وینې ترې بهېدې او دده پر کوټ ورڅڅېدې، همداسې ښوراوه. د هغه په څېره کې له درده زیات، دډار نښې ځرګندې وې. یوه دقیقه مخکې لګېدلی و. له واټه واوښتل، ناڅاپه پر یوه کندې ورشېوه شول او هلته یې ولیدل چې څوتنه پر ډاګ پراته دي. د سرتېرو یوې ډلې سره چې روغ رمټ کسان هم په کې وو، مخامخ شول. سرتېرو چې سخته ستمېدل هڅه کوله پر غونډۍ وروخېږي، هغوی، سره له هغه چې جنرال ولید خو همداسې یې په لوړ اواز خپلې غږېدا او لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښورولو او اچولو ته دوام ورکړ.دهغو افسر د باګراتيون په ليدو چيغه کړه او هغو سرتېرو پسې يې چې ګډ وډ روان وو ،منډه او له هغو نه يې هيله وکړه چې راستانه شي. باګراتيون،د سرتېرو هغو کتارو ته نږدې شو چې ډز يې کولې ،خو ددغو ډزو د شورماشور غږ نه اورېدل کېده.د باروتو لوګي پر ټولو او ټوله سيمه خپور و.د سرتېرو څېرې دباروتو له لاسه تکې تورې او ګبنې اخيستې وې. يوې ډلې په توپکو کې ميلې وهلې، بلې هغې په لولو کې باروت تويول،چا له صندوقونو نه دتوپونو ګولۍ راويستې او بلې ډلې بيا ډزې کولې،خو دباروتو لوګي چې دباد دنشتوالي له امله سخت درونند او ټينګ و ،ځای پرځای ولاړ او دا هم څرګنده نه وه چې د ډزو ښښه څوک او کوم ځای دی.کله ناکله به يو زړه راښکوونکی آواز هم واورېدل شو.سردار اندرې چې دغو ډلو ته نږدې کېده ،له ځانسره وويل:

-دا نو څه دي؟دا خو دجبهې کرښه نه ده،ځکه چې ګڼه ګوڼه ده،يرغل نه دی،ځکه ټول په خوځېدا دي....

ډنګرخوار بوډاچې دغونډ قوماندان و، اوږدو لوېدلو ښو يې د هغه نيمايي عمر وهلې سترګې ځان کې مرورلې او دهغې څېرې ته يې، خواخوږي ښښله.شهزاده باګراتيون ته ورغی او په خوږه موسکای يې له هغه نه دګران مېلمه په څېر هرکلی وکړ. هغه ګزارش ورکړ چې فرانسويانو يې پر غونډ برېد کړی دی.که څه هم دوی دفرانسويانو ديرغل مخه نيولې خو په دغه مخنوي کې دده دغونډ ترنيمايي زياتو سرتېرو ژوند بايللی دی. دغونډ قوماندان ويل چې د دښمن برېد يې شاته تمبولی،خو ده دتمبولو خبره يې په احتياط ادا کوله،ځکه دی په رښتيا نه پوهېده چې پر غونډ څه راغلي او په دې وروستي نيم ساعت کې پر هغو سرتېرو څه بلا راغلې چې ده يې قومانده کوله او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي هم نه پوهېده چې ايا په رښتيا بريد تمبول شوی او يا يې د هغوی غونډ تالا والا او له منځه وړی دی، خو په يوه خبره يې سر خلاص و، چې لومړي پرغونډ د ګوليو او لاسي بمونو باران پيل او د هغه له لاسه دده زيات شمېر وګړي ووژل شول.دده داهم په ياد وچې چاچيغه کړې وه:

-اې سپرو !

او تر دې نه وروسته ډزې پيل شوې وې، خو نور نو د هغو نښه سواره نه وو، ځکه سواره نه ليدل کېدل، بلکې د فرانسوي پوځيانو پلې ډلې وې چې تنګې درې ته رانتوتلې او پر دوی يې ډزې کولې.شهزاده باګراتيون سر ښوراوه او دې سرښورولو دامعنی لرله چې داټول هغه څه دي، چې ده غوښتل او اټکل يې کاوه.هغه خپل ياور ته مخ ورواړاوه او سپارښتنه يې وکړه چې د شپږم ښکاري غونډ نه ، چې څو شېبه مخکې دهغه له مخې تېر شوي و ،دوه کنډکه راوبولي.د سردارانډرې، پام هغه بدلون ته وراوښت چې همدا شېبه د شهزاده باګراتيون په څېره کې راڅرګند شو.دهغه په څېره کې د هغه چا په شان دلېوالتيا او خوښۍ نښې راڅرګندې وې چې داوړي په يوه توده ورځ کې، په ټول توان او غوره تکل، ځان اوبوته ورغوځار کړي.نور نو د هغه دخوبولو سترګو ،پخوانۍ چوپتيا او په خيال کې ډوبې څېرې حالت له منځه تللی و.دهغه ګردې،بازته ورته تيزې، ځلانده ،خو لږ له ملنډو ډکې سترګې، همداسې وړاندې ګنډل شوې وې.سره له هغه چې د هغه په خوځېدا کې هماغه پخوانی سستوالی او ځيرکتيا پاتې وو ،خو داسې برېښېده چې هېڅ چېرې او په هېڅ ځای يې سترګې نه درېږي.

دغونډ قوماندان، شهزاده باګراتيون ته مخ ورواړاوه او له هغه نه يې هيله وکړه چې له دې ځايه ځکه لرې شی، چې هغه خورا له ګواښه ډک دی، هغه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-له ښاغلي جلالتمابه ! هیله کوم، ستا سو دې په خدای قسم وي چې مهرباني وکړئ..وګورئ..هغه همداسې په هیله هیله ،له شهزاده سره مل افسرته کتل، خو هغه افسر له هغه نه مخ واړاوه.دغونډ قوماندان غوښتل د هغو ګولیو غړمبهار او لګېدو ته ددوی پام وروا ړوي چې د دوی له څنګه تېرېږي...د قوماندانۍ افسر دغونډ دقوماندان خبرې ټولې منلې، خو شهزاده باګراتیون هغو ته اصلا غوږ هم نه ونیولی او یوازې یې امر کاوه چې ډزې بندې او سرتېرې داسې ځای پر ځای کړي، چې لاره هغو دوو کنډکونو ته پرانستل شي، چې دوې یې راتلو ته سترګې په لاره وو.کله چې یې خبرې کولې راالوتونکې باد ګواکې دیوه نامعلومه لاس په څېر،دلوګیو هغه پرده چې دره یې ددوی له سترګو پټوله،له ښۍ خوانه کیڼې خواته کش کړه او ده مخامخ آپلو هغه غونډۍ ولیدله چې فرانسوي سرتېرو پرې ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه. ټولې سترګې بې واکه دهغه فرانسوي پوځ خواته ور واوښتې.چې ددوی خواته را روان و ،فرانسوي پوځ،دوی ته دومره رانېږدې شوی و ،چې د سرتېرو دخولیو ښې لیدل کېدې،نورنو کېدای شو چې د سرتېري او افسر توپیر وشي او نور نو دهغو دجنډې رپول او مارش وهل له ورایه ښکارېدل.

یوچوپړ باګراتیون ته وویل:

-څه ویاړمن ګامونه اخلي.

دپوځ قراول یامخکنۍ برخه دره ته رسېدلې وه، نو ځکه نښته زموږ خواته دغونډې په لمنه کې پیل کېدونکې ښکارېده.

دهغه غونډ پاتې شونکو چې هغو سره په نښته کې لاس وګریوان شوي وو ،په چټکۍ یې ببرته ځان راجوړاوه او ښي خواته خوځېدلي وو.دهغو پسې دښکاري غونډ ددوه کنډکونو ،پاتې شوونکې تېرېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خورا ښکلي نظم وړاندې راتلل.که څه هم له باګراتیون لا لرې و ،خو دهغو دټولو سرتېرو د درنو ګامونو غږ چې په مخ وړاندې راتګ کې په منظمه توګه پرځمکه لږېدل،ښه اورېدل کېده.دپوځ کینې خواته،له ټولو نه باګراتیون ته نېږدې دټولي قوماندان روان و.دا ګردبشری،ښکلی دپلو قواوو افسر چې ساده خو بختوره بڼه یې لرله،هماغه څوک و چې له بنډاره راوتلی و او اوس هم داسې برېښېده چې له دې نه پرته بل تکل نه لري چې دځانښودنې لپاره دقوماندان له مخې تېر شي...

شهزاده باګراتیون چې پوځ خپل مخکې ولید ،چیغه کړه:

-ستړي مه شئ !ځوانانو !

-ژوند !ژوند !ژوند !

باګراتیون زیاته کړه:

-آفرین شازلمیانو !ډېر ښه یاستئ.

یو غمجن او خواشینی سرتېری چې کینې خواته روان و ،د دغې ستړې مه شئ، په ترخ کې سترګې باګراتیون ته وروااړولې او وې ویل:

-خپله پوهېږو چې ښه یو.

یو بل سرتېري چې ډارېده دټولي نظم خرابه نه کړي، بې له هغه چې مخ وااړاوی خپله خبره یې وکړه او په مخه لاړ.

د درېدو قومانده ورکړه شوه او غوښتنه وشوه چې کڅوړې کېښودل شي.

باګراتیون پر آس سپور د سرتېرو له کتارونه چې دده له مخې تېر شوي وو ،راتاو او له آس نه کوز شو.دخپل آس جلو یې قزاق ته ورکړ او خپل پوستني کوټ یې له اوږو پورته او بل قزاق ته ورکړ،څو وار یې پښې پر ځمکه وډبولې،پښې یې سمې او خولۍ یې په سر جوړه کړه.په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت کې د فرانسوي پوځ مخکښه ډله او تر ټولو نه د مخه دغو افسران د غونډۍ په لمنه کې رابنکاره شول.

باګراتیون، په پاخه او وربډونکي آواز وویل:

-د خدای په امان.

یو شېبه یې د سرتېرو لومړنۍ کرښې ته مخ وروا ړاوه او وروسته یې همداسې چې لاس ونه په کرار کراره د مخکښ غونډ خواته ښورول، لکه په سورلۍ رږدی پوځي په خبر، په ګډوو ډو ګامو، ته به وایې په نا اواره مځکه روان دی وا ړنـدې لاړ. سردار اندرې احساس کړه چې یوه نه ایلیدونکې قوت هغه مخ تګ ته هڅوي او دغه احساس په هغه کې دنیکمرغۍ انګېرنې راوېښولې.

نورنو فرانسویان دوی ته رانېږدې شوي وو. سردار اندرې چې د باګراتیون ترڅنګ روان و، د فرانسویان د تورو سرې غاړکۍ او آن مخونه له ورایه لیدل.

هغه په ښه توګه یو زوړ فرانسوي لیده چې پوځي بوټ یې په پښو، واز واز داسې روان و، چې په هرګام کې به یې بوټو ته لاس اچاوه او په خورا سختۍ پر غره ورخوت. شهزاده باګراتیون، نور نوې سپارښتنې نه ورکولې او همداسې چوپه خوله د خپلو پوځونو ترمخې روان و. ناڅاپه د فرانسویانو له منځه دیو ډزغږ، وا وربډل شو، بیا دویم او دریم... او دبارو تو لوګی او دډزو شرا وشور د دښمن په ګډوډ او له نظمه وتلي پوځ، لمن خوره کړه. زموږ د ډلې نه څوتنه او دغو په منځ کې هماغه مست او ګرد مخی افسر چې د پریټ په وخت کې له ټولو نه مخکې شوی و، ښکاره شول، خو باګراتیون چې دلومړۍ ډزې غږ ترغوږه شو، مخ یې وا ړاوه او چیغه یې کړه:

-مخ وړاندې !مخ..هورا !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخ وړاندې او هورا چغو زموږ پر لیکو ځپه خوره او سرتېرې په نه ایلېدونکې تلوار او ګڼې له باګراتیون او یوبله نه مخ ته کېدل او په ګډوډو او بې نظمو فرانسویانو یې لکه تالاکوونکی سیلاب یرغل وروړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

د ښـکاري غونډ د دوو کنډوکونو برېد د ښي اړخ لپاره شاتګ تـه لاره آواره کړه.په منځنۍ برخه کې د توشین له یاده وتلو توپونو ،د شون ګرابن کلي تـه داور پـه اچولو سره د دښمن د پرمختـګ مخـه نیـولې وه. داور په وژلو د فرانسوي یانو بوختیا ، چې بـاد لا د هغـه لمنـه خورولـه زمـوږ پوځونو ته د دې لاره آواره کړې وه ،چې پـه کـراره شـاتـه لاړ شـي.د منځنـې برخې د پوځونو د غه شاتګ که څه هم په تلوارو ،خو خپلې قوماندې یـې غلطـې کـړې نـه وې،دا پـه داسـې حـال کـې د چـپې خـوا قـواوې ،چـې د آزوفسـکي او د پادولسـکي لـه پلیـو غونـډونو او د پاولګراد ښـکاري غونډ نه جوړې وې، مخامخ او د څنګ لـه خوا د مارشـال لان پـه مشرۍ د دښمن د پو ځونو د یرغل له لاسه کلابند شوې وې.باګراتیون ژیرکوف ته د شاتګ د فرمان سره مل، هغه پـه چټکـۍ د چـپې خواو قوماندان تـه ورولېږه.

ژیرکوف ،چې د درناوي په نامه خولۍ تـه رسېدلای لاس لاتیـت کـړی نـه و ،پـه چټکـۍ سـره لـرې شـو.خـو لا لـرې شـوې نـه و ،چـې د مینـې او لېوالتیا په ځای یې ګېنۍ اووحشت پـه زړه راخوره شول او دا زړورتیـا یې پیدا نه شوه کړای چې ترټاکل شـوي ځایـه پـورې چـې ګوابښمن ځـای و ،ځان ورسوي.

هغـه چې کله د جبهې کین اړخ ته ورسېد ،نه د جبهې لومړیو لیکـو تـه چې ډزې پـه کـې روانـې وې،بلکـې پـه هغـو ځـایو کـې د جنـرال او نـورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو لټول پیل کړل چې هلته د هغو تګ راتګ هېڅ نه وو ، نو ځکه یې ونه شو کولای هغو ته د باګراتیون فرمان ورسوي.

د چپې کرښې مشر د هماغه غونډ قوماندان و چې په برانا و کې یې کوتوزف ته قطعه وړاندې کړې وه او خلع رتبه شوی و. د ولوخوف هم همدلته خدمت کاوه. او د خورا لرې چپې خوا مشري بیا د پاولګراد د غونډ قوماندان ته چې رستوف ورسره خدمت کاوه سپارل شوې وه. د مشرتوب د غه شان ویش بیا هم د قوماندانانو په منځ کې څه خوابدي او شک پیدا کړی و. د غو دواړو قوماندانانو په خپل منځ کې سخته سیالي درلوده ، دوی لا آن هغه وخت چې د ډزو شروشور ګډ او فرانسویانو یرغل پیل کړی و ، په خپلمنځي ناندریو ، په خپلو درنو او دبل په سپکه لګیا وو. د غو دوو غونډونو د پلیو او سورو قواوو ، یوه قوماندان هم ، هغې جګړې ته چې ورروان و ، چمتوالی نه لاره. پوځیانو له جنراله نیولې بیا تر سرتېري پورې ، په خپلو ورځنیو چارو ، د آسونو په پالنه ، د خسو او لرګیو په راټولو او خبرو اترو لګیا وو.

د غونډ الماني ډګروال ، د یوه سواره غونډ قوماندان ، هغه یاور ته چې ده ته نبږدې کېده ، په خورا ماته او نیمګړې روسی ژبه وویل:

-ربښتیا هم د هغه رتبه تر ما لوړه ده ! پر برږده هرڅه چې کوي ، کوي دې ، خو زه خپل سواره له هغه نه ځارولی نه شم. د ه غږ وکړ:

-ترومچي ! د شاتګ نغاره وغږوه !

مګر حالات خوراکړکېچن ، ګواښمن او په ربښتیا د تلوار وړ و. له ښي او منځنۍ خوانه د توپونو د ډزو د غړمبهار او د توپکو د ډزو ګډوډ شراوشور پورته او د فرانسوي پوځ د لان د جنګیالیو د توپکو ډزې هم د ژرندې د ورخ خواکې د کرښې دا پلو نبږدې او ربدل کېدې.. پلی ډګروال چې کوږ وږ روان و ، په ربږد بدا ، ربږد بدا د خپل آس څنګ ته راغی ، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سپور شو ،ځان یې داسې سم کړ چې ښه لوړ وبریښي او د پاولګراد دغونډ دقوماندان په لټه پسې وخوځېد. د دوو غونډونو قوماندانانو سره پیدا کړل، سره له هغه چې په خورا درناوي یې روغبړ وکړ، خو دکرکې لمبې په کوګلونو کې بلیدلې.

جنرال وویل:

-غواړم یوځل بیا ټینګار وکړم،نه شم کولای خپل نیمایي وګړي، په ځنګله کې پرېږدم،له تاسو نه هیله کوم،هیله کوم،ښه به دا وي چې مورچلونه ټینګ او برېد ته چمتو شئ.

احساساتي ډګروال ځواب ورکړ:

-زه هم له تاسو نه هیله کوم،هغه کار چې تاسو پورې اړه نه لري، په هغه کې مه غړېږئ. چې نه کار هلته څه کار.که تاسو سواره یاستئ...

-زه د سواره پوځ افسر نه یم.زه د روسي پوځ جنرال یم، که په دې نه پوهېدې،اوس خو پوه...

ډګروال چې له قهره تک شین شوی و ،خپل آس یې پورې واهه او چیغه یې کړه:

-ولې نه جلالتمابه !ډېر ښه پوهېدم...چې داسې ده مهرباني وکړئ او لومړۍ کرښې ته لاړ شئ،وګورئ چې حال څنګه دی،زه نه غواړم، خپل غونډ ستاسو تردې هوسه ځار کړم.

-ډګرواله،تاسو څه وایئ؟تاسو غلط فکر کوئ،دلته د هوس خبرې نه شته او چاته د دغو ډول خبرو دکولو اجازه هم نه ورکوم.

جنرال لومړې کرښې ته د مېړانې دازمایلو لپاره دخپل سیال بلنه ومنله،ټټر یې وویست، سترګې یې برندې او له هغه سره یوځای دلومړې کرښې خواته وخوځېد.داسې برېښېده چې د دوی ټولې تربګنۍ همالته دګولیو تربارانلاندې آوارې شی.دجبهې لومړې کرښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې ورسېدل، څو ګوليو يې په غرمب او غرومب له سره تېرې شوې، دواړه چپ شول او ودرېدل. دوی هلته هېڅ څه و نه ليدل، ځکه هلته په ډاګه داڅرګنده وه چې د ونو، نيالګو او نريو ويالو په منځ کې سواره پوځونه هېڅ نه شي کولي او فرانسويان هم له کينې خوا نه په بربېد لګيا و، چې هغه محاصره کړي. جنرال او ډګروال دواړه لکه دوه چرګان، يو بل ته برګ وو، يو بل يې په کلکه څارل او دې ته سترګه په لاره و چې څه وخت او څنګه د سيال په بشره کې د ويرې او ډار نښې راڅرګندېږي. دواړو په دې ازماينې کې ټينګار کاوه او هېڅ يې نه ويل. هغو يو بل ته د ويلو لپاره هېڅ نه لرل او يوه هم نه غوښتل چې له سيال نه مخکې لو مړی کرښه پرېږدي او ځان د ملنډو منګولو ته وسپاري. که کومه پېښه نه وای پېښه شوې، دغه دوه تنه به تر ډېرې مودې همدا سې چپه خوله ولاړ وای. مګر په دې وخت کې د دوی شاته، په ځنګله کې د ډزو غږ او وروسته هسې نه پوهېدونکې شروشور وا ورېدل شو. فرانسويانو ناڅاپه پر هغو روسي سرتېرو چې په ځنګله کې د بوټو په راټولو لګياوو، ډزې پيل کړې، نورو سورو هم ځکه نه شو کولای له دې خوا نه شاته لاړ شي چې د فرانسويانو ډزو د کينې خوا نه هم شاته د هغو د تګ لاره بنده کړې وه. اوس نو دوی دې ته اړ وو، چې په دې نا آواره سيمه کې د دې لپاره بربېد پيل کړي، چې ځانته لاره پرانيزي.

د سورو بلې ډلې چې رستوف هلته خدمت کاوه، همدا چې پښې يې رکاب ته ورسولې، سمدلاسه يې د ښمن مخې ته پيدا او د هغو د پرمختګ لاره يې بنده کړه. د لته هم لکه د انس د پله په شان، د سورو پوځونو او د دښمن د پوځيانو ترمنځ د خنډ هېڅوک نه و. يوازې هماغه نامعلوم ډار او بې برخليکي او هماغه د مرګ او ژوند ترمنځ ناپېژندلې کرښه. ټولو دغه کرښه احساسوله او د دې پوښتې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دوی به له دې کرښې تېرېږي، که به نه تېرېږي ؟او که تېرېږي څنګه به تېرېږي، زورول او پرېشان کړي یې وو.

ډګروال دجبهې لومړۍ کرښې ته راغی.په خورا خواشداني یې دافسرانو پوښتنې ځواب کړې، خو دا چې دی یو سرزوری سړی و او په ناهیلۍ یې په خپله خبره ټینګار کاوه، هسې یې څو قوماندې ورکړې .هېڅچا کومه ځانګړي څه ونه ویل، مګر د سورو منځ کې د برید آوازه خوره شوه. دقوماندې دتیارسۍ انګازې خورې او دتورو د رایستلو شرنګ او شور جګ شو.ددې ټولو خبرو سره سره بیاهم لاڅوک نه خوځېدل.د کینې خوا پوځیانو ،له پلیو نه تر سورو پورې، ټولو داسې انګېرله چې ددوی مشري هم په خپله په دې نه پوهېږي چې څه وکړي او دمشرۍ دغه ناڅرګند دریځ سرتېروته هم څرګند شوی و.

رستوف په زړه کې همدا ویله، چې:

- ژرکوئ، ژرکوئ ! هغه داسې انګېرله چې ګواکې په پای کې هغه وخت رارسېدلی دی، چې د برېد هغه خوند وڅکي چې ده ،له خپلو سورو پوځي اندیوالانو نه دهغه په اړه زیاتې کیسې او نکلونه اورېدلي وو.

په دې وخت کې د دولوخوف، غږ پورته شو چې ویل یې:

-خدای مو مل شه زلمیانو ،مخ وړاندې، مخ وړ...

د لومړۍ کرښې آسونه وښورېدل، وخوځېدل او خپله یالونه یې وڅنډل او روان شول.

رستوف خپل ښي لاس ته خپل سواره ولیدل او له هغو نه لرې یې یو خوځنده توره کرښه چې پېژندل یې ورته ګران و ،تر سترګو شوه.که هم څه دډزو غږ اورېدل کېده ،خو خورا لرې و.

دقوماندې چیغه پورته شوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-اوربل.اوربل !مخ وړاندې.

او رستوف احساس کړه چې ګرا چیک یې وشنېد او په منډه شو.

هغه لا پخوا دخپل آس د منډو او په ګډا خوځېدا اټکل کړی و او له دې اټکل نه یې ښه خوند اخیست.دهغه یوې، یوه زرې(یوازې)ونې ته پام شو.دا ونه لومړي ترده نه وړاندې ،هلته دمرګ او ژوند ترمنځ پر کرښې ،پر هغې ناپېژندلې کرښې چې تولو ته وېرېدونکې او وحشتناکه برېښېده، ولاړه وه. ده لیدل چې دوی له دې کرښې واوښتل،نه یوازې څه وحشتناکه څه پېښ نه شول،بلکې له دې پولې نه په تېرېدو ،ددوی خوښی او زړورتیا لا څو چنده شوه.هغه چې دتورې لاستی په منګوله کې کېښکوده،په زړه کې یې ویل:

-اخ !اخ !څنګه به یې ټوټې ټوټې کړم،څنګه؟په دې وخت کې د پوځ نه یو ګډ اواز پورته شو:

-هورا !هورا !

رستوف په خېټه او څنګ کې خپل آس په وهلو وهلو لا چټکې خوځېدا ته هڅاوه .له نورو نه یې ځان مخکې کاوه او په زړه کې یې ویل:

-که اوس کوم یو په لاس راشي،زه به ورسره ګورم.

هغه نورنو له ورایه دښمن لیده.خو ناڅاپه یې یوې اوږدې متروکې ته ورته شی،په سپورو راغبرګ شو.رستوف،ځلېدونکې توره وچورلوله او ځان یې وژلو ته چمتو کړ،خو په دې وخت کې د(نیکیتنکه)سواره سرتېری، چې تر ده نه مخکې روان و ،له ده نه ځان لرې کړ.رستوف داسې وانګېرله چې ګواکې خوبویني،ځکه هغه سره له هغه چې لکه دباد څپه په بې سارې چټکۍ راروان و،خو بیاهم له خپل ځایه نه ښورېده.د بندرچوک،په نامه آشنا سپاره،چې په چټکۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



شا نه راروان و ،ده ته په رارسېدو سره يې ځان ګوښي کړ، په خواشداني يې ورته وکتل او له څنګه يې تېر شو.

په يوه شېبه کې يې په خيال کې دا پوښتنې راتاو شوې:

-نه پوهېږم،دا څه پېښه ده ؟ دا کومه لومه يا وژل شوی يم؟ولې وړاندې نه شم تلای؟ هغه نورنو ،په لوی ډګرکې يوازې پاتې و.هغه د چتکو زغلېدونکو آسونو او له هڅو ډکو سورو پرځای،له ځانه شا وخواوچ،ارام، نه خوځېدونکی ډاګ او له ريبل شويو غنمو نه دپاتې وچو سوارو ګېډۍ وليدل.پر ځان يې دوينو دبهېدو کرښې وليدې،نه،نه ټپي شوی يم او آس مې وژل شوی دی.ګراچيک؟ ګراچيک، هڅه کوله په مخکنيو پښو پاڅي، مګر ولويد. ښښتن يې پښه تر ګېډۍ لاندې کړه. د آسه سرې وينې څڅېدې.لاس او پښې يې ارتېږل،خو پاڅېدای نه شو.کڅوره يې په زين کې بنده پاتې وه.خپل پوځيان چېرې او فرانسوي هغه لاچېرې دي؟په دې يې سر نه خلاصېده ،هېڅوک يې تر شاوخوا نه ليدل کېدل.

خپله پښه يې راخوشې او پاڅېد.چېرې ده هغه کرښه چې اوس يې هغه دوه پلوه سره بېلول؟ زه دهغې کرښې په کومه خواکې يم؟ هغه دا پوښتنې تکرارولې ،خو ځواب يې ورته پيدا کولای نه شو.په زړه کې يې دا تېرېده چې:کومه بده بلا پر ده نه وي راغلې ! ما هېڅ تصور هم نه شو کولای چې داسې دې وشي،اوس چې شوي،نو چاره نه شته،مګر څه وکړم؟پاڅېد ،ويې ليدل چې له بې حس شوي کين لاس نه يې څه شی څوړند دی.داسې يې وانګېرله چې له څنګلې نه وروسته ،لاس دده نه وي.پردي اړوکې وي.هغه يې ښه وکوت،غوښتل يې وينه پيدا کړي،خو څه يې ونه ليدل.هلته لرې يې يو څوتنه دځان خواته په منډه وليدل،په زړه کې يې ګورې ماتې کړې چې اوس به دده مرستې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وردانګي.په هغو کې تر ټولو نه دمخه يوتن، چې عجيبه خولۍ يې پر سر،شين کوټ يې په ځان،باز ډوله پزه، او لمر وهلې ځېره يې لرله، منډې راوهلې.تر هغه وروسته دووتنو نورو او تر هغو نه وروسته،نورو ډېرو دده خواته منډې راوهلې.ټول هماغه لومړني ته ورته او دهغه په شان خولۍ يې پر سر وې.له هغو نه يو هغه يې په کومه بله غير روسي ژبه عجيبه څه وويل.شاته ددغو خلکو په منځ کې چې دده خواته راروان وو او عجيبه خولۍ يې پر سر وې،ده دروسي پوځ يو افسر هم وليد.هغه يې له مړوندونو سره ټينګ کړی و او دهغه شاته يو بل تن دهغه آس نيولی و.

رستوف،لا هماغه شان په نه منونکي ډول تصور کاوه:

-دا زموږ د پوځيانو نه يو تن دی چې اسير شوی دی...هو کې !اوس راغلي، ماهم نيسي که څنګه؟دا خلک څوک دي؟دهغه هېڅ باور نه راتـه،دا پـه رښتيا فرانسويان دي،کـه څنګه؟هغـه چې،ده تـه نبږدې کېدونکو فرانسويانو تـه کتل،لا يـوه شېبه دمخـه يې آس ځغاستل او دی پـه دې خيال کې و ،چې فرانسويان بـه تالاوالا کړي،خو اوس يـې دسترګو په وړاندې هغه څه تېرېدل چې تصور يې هم نه شو کولای. دا څوک دي؟ولې هغوی منډې وهي.ايا رښتيا هم دده خواته ورځئ؟ولې دده خواته؟غواړي ما ووژنئ؟زه خو ټولو ته ګران يم کنه؟هغـه تـه ،لـه ده سره دمور ،کورنۍ او ملګرو مينه او خواخوږي ورياد شول او ددښمن دا تکل چې دی دې ووژني ده ته ناشونی وبرېښېد اويا کېدای شي ومې وژني.هغه دلسو ثانيو په شاخوا کې ځای پر ځای او بې خوځېدا پاتې او په خپل دريځ او ده ته ورپېښ ګواښ هېڅ نه پوهېده.تر ټولو نه مخنی فرانسوي چې بازډوله پزه يې لرله،دومره ده ته نبږدې شوی و ،چې دهغه دځېرې ټولې کرښې لـه ورايـه ليدل کېدې.ددغـه پردی،توپک پـه لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي قهرجنه څېرې ،چې ساېې په ګوګل کې بنده وه او په چټکۍ يې دده خواته ځغاستل، دی ورخطا کړ.ده خپله تومانچه راواخيسته، ددې پرځای چې پرهغه ډزې وکړي، هغه يې فرانسوي ته ور وارتېړله او خپله يې په ټول قوت سره دبوټو خواته ورمنډه کړه، خو نه دشک او مېړانې له هغه احساس او لېوالتيا سره چې د انس پر پله له ده سره مل وو.بلکې دهغه( سوی-خرګوش ) احساس سره په تېښته و، چې سپي پسې اخيستی وي.نور نو دهغه پرځوانۍ د وحشت او وېرې احساس لمنه غوړولې وه.هغه په هماغې چټکۍ چې دماشتوب په لوبو کې به يې منډې وهلې، داسې دپټيو او ويالو په منځ کې په چټکۍ ځغستل، چې تا به ويل الوزي.کله ناکله به يې خپله ځوانه، رنګ تښتېدلې او مينه ناکه بشره شاته واړوله او بيا به د وېرې سوړ اوډاروونکي احساس پسې واخيست، نوځکه به يې په زړه کې وويل:

-نه، ښه به دا وي چې شاته ونه ګورم، خو کله چې دبوټو او نيالګيو منځ ته ور ورسېد ،بيا يې وکتل.فرانسويان شاته پاتې و ،آن هغه شېبه چې ده شاته وکتل، ويې ليدل چې ترټولو مخکې فرانسوي هم سست شوی، مخ يې اړولی او په چغو چغو خپل شاته پاتې ملګري ته څه وايي.رستوف ودرېد او په زړه کې يې وويل:

-خبره داسې نه ده، داهېڅ شونې نه ده، چې ما ووژني ؟ په دې وخت کې يې کين لاس داسې دروند والی کاوه چې ته به وايي څو منه بار يې پرې ځړولی دی.نور نو له منډو پاتې و.فرانسوي هم ودرېد او دی يې په نښه کړ.رستوف سترګې پټې او ځان يې کوږ کړ.يوه، دوه او مرمۍ په شر وشور دده له څنګه نېږدې والوتلې.هغه خپل وروستي قوت راټول، په ښي لاس يې کين هغه راونيو او دبوټو منځ ته يې ځان ور ورساوه.دبوټو او نيالګو په منځ کې روسي پوځيانو مورچل نيولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

په ځنګلو کې پناه شوي له هر څه بې خبر، پلي غونډونه، په تلوار له ځنګله نه تښتېدل، کنډکونو کې داسې اله ګوله او بې نظمي وه چې يو له بله سره ګډېدل او په بې نظمه ډلو کې يې تېښتې ته مخه کړې وه. يو سرتېرى چې خورا ډار پسې اخيستى و، بې معني خبرې او په جګړه کې وېرونکې څه ويل:

-پرې يې کړل!

دغه، دغه خبره له ډاره سره مل د ټولو پوځيانو په منځ کې لکه هوا داسې خوره او دغو ډار يې څو چنده کړى و.

ډار اخيستو تښتېدونکو چغې وهلې:

-ايسار شوي يو، اړيکې مو پرې شوي، تالا والا شو.

دغونډ قوماندان، دډزو دغږ او دخپلو سرتېرو دچغو په اورېدو، پوه شو چې پر غونډ يې کومه بده بلا راغلې ده. هغه له دې خياله ډاريده چې کلونه کلونه يې په خورا ښه نامه په پوځ کې تېر کړي، هېڅ کله يې کومه د پام وړ تېروتنه نه ده کړې او اوس په کومه نه ځرکتيا تورن نه شي، له همدې الله ډېر پرېشانه برېښېده. هغه په همدې خيالونو کې د ډګروالۍ دريځ، د ښه سواره نوم او آن دځان او خپل ژوند دساتنې خيالونه هم هېر کړل، دآس جلو يې راونيو، پرهغه کېناست، آس ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



متروکه ورکړه او دمرمیو تر باران لاندې چې له نیکمرغه ،ټول له ده نه په څنګ تېرېده ،دخپل غونډ خواته چو کړل.هغه یوازې یو څه غوښتل او هغه دا وه چې پوه شي،په غونډ کې څه پېښه شوې ،دی څنګه کولی شي، تر سره شوې تېروتنه، که دده له خوا وې، ببرته سمه او هر څنګه چې کېږي،ځان سپین کړي او خپل دویشت کلن خدمت، پوځې دریځ او رتبه وژغوري.

هغه دفرانسویانو له ګڼې ګونې نه په ځیر تېر شو ،د ځنګله شاته ډاګ ته چې دهغې له لارې نه زموږسرتېري پوځیان ،چې نور یې دخپلو قوماند انانو ،قوماندې نه اورېده ،په تېښته،تېښتېدل او دغونډۍ لمنو ته ورشېوه وو ،لاړ.اوس هغه رواني شېبې رارسېدلې وې چې د جګړې تګ لوری ټاکي.ایا د سرتېرو دې ګډو وډو ډلو دخپل قوماندانان ،قوماندې ته غوږ نیو او یا یې هسې ورته کتل او بې له هرډول پام نه خدای پوهېږي کوم لور ته خوربدل؟ دغونډ دقوماندان دټولو چغو سره سره چې پخوا به یې آواز په هر سرتېري ګېنهۍ راوسته،د هغه دقهر کتو ، برندو سترګو ،په هوا کې دلغړلې تورې دښوربدو سره سره دهغه سرتېري هماغه شان په تېښته ،بې له هغه چې قوماندې ته غوږ شي، په زوره ،زوره یوله بل سره په خپل منځ کې غږېدل او هوایي ډزې یې کولې.دا سې بربښېده چې درواني پرېکړې په دې شېبه کې چې دجګړې لوری ټاکل کېږي دوېرې او ډار تله درنه شوې وه.

قوماندان له ډېرو چغو او د باروتو له ډېرو لوګو نه په شنه ټوخې وټوخېد او په خورا ناهیلۍ کرار ځای پر ځای ودرېد.هرڅه ددې څرګندونه کوله چې دجګړې پای څرګند او په دې جګړه کې ماتـه، هرو مرو ده،خو په دې وخت کې ناڅاپه تالانګرو او یرغلګرو فرانسویانو شاته مخه او دغونډۍ په لمنه کې پناه شول او له ځنګله نه روسي وسله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وال پوځیان راووتل. دا د تیموخین ټولی و، چې په ځنګله کې پناه و، خپل نظم یې ساتلی، هلته یې په یوه کنده کې مورچل جوړ او دا دي اوس یې یو ناڅاپه پر فرانسویانو برید کاوه. تیموخین په لیونیو او مستو چغو پر فرانسویانو هسې ورداننګل او غوځ ګوزارونه یې کول چې، هغوی بې له هغه چې په خبره پوه شي، وسلې ارتېږلې او بېرته په تېښته وو. دولوخوف چې د تیموخین تر څنګه منډې وهلې، په یو ګوزار یې یو تسلیم شوی فرانسوي پوځي راغوځار، له ګریوانه کلک او وسله یې ترې خپله کړه. تښتېدلي روسان بېرته راستانه، کوټه او سره منظم شول. فرانسویان چې نېږدې وو، زموږ کینه کرښه ماته کړي، د سترګو په رپ کې په شاکړل شول، پټ شویو پوځیانو وخت پیدا کړ چې سره خبر او یوځای شي او تښتېدونکو هغو پښه ونیوه. د غونډ قوماندان او جګړن ایکونوف چې د پله پر سر ولاړ وو او شاته تلونکی ټولي یې له څنګه تېربدل، یو سرتېري ورنږدې شو، د هغه د آس جلو یې داسې راونیو چې ګواکې پر آس وځړېد. دغه سرتېري چې د مالوچو شینبخن کوټ اغوستی و، نه یې کڅوړه په شا وه او نه یې خولۍ په سر وه. سر یې په دستمال تړلی و، بنایسته فرانسوي بکسګوټی یې په اوږه کې اچولی و او د افسرانو توره یې لاس کې وه. څېره یې سپوږمۍ ته ورته وه، شوخو شنو سترګو یې په سپین سترګې د ډګروال قوماندان سترګو ته کتل او پر شونډو یې موسکا خوره وه. د غونډ قوماندان که څه هم جګړن ایکونوف ته په سپارښتنو او خبرو لګیا و، خو ویې نه شو کړای هغه ته یې پام نه شي.

دولوخوف یوه توره او یوه وړه فرانسوي کڅوړه جنرال ته وښوده او وې ویل:

-جلالمتابه! دا دوه د جګړې غنیمت دي. یو فرانسوي سرتېري مې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله اسير کړ، دا زه وم چې کنډک مې تم کړ، هغه مې نظم ته وهڅاوه او له تښتېدو مې راوګرځاوه.

دولوخوف چې له ډېرې ستړيا نه ستمېده او خبرې يې پرې پرې کېدې، وويل:

-ټول کنډک مې ددې خبرې شاهد دی.له جلالمتاب نه مې هيله داده چې دايې په ياد واوسي.

ډګروال قوماندان چې له جګړن ايکونوف سره لګيا و ، وويل:

-ښه ده !ښه ده ! او مخ يې جګړن ايکونوف ته وروا ړه.

خو دولوخوف، کله لاس اخيسته.له سر نه يې د تړل شوی دستمال، غوټه خلاصه او په يو ګوزار يې هغه له ککرې را واخيست او په وينتو کې يې وچې وينې ،هغه ته وروښودې او وې ويل:

-دا ددښمن د سرنيزې ګوزار دی، ددې ګوزار سره سره مې د جبهې لومړې کرښه پرېښنوده، هيله ده چې جلالتماب يې هېر نه کړي.

د توشين توپخانه خو چور هېره شوې وه، يوازې د جګړې په پای کې و ، چې باګراتيون د ډزو له غږه پوه شو چې د جبهې د منځنۍ برخې توپخانه پر دښمن خپلو ګذارونو ته دوام ورکړی دی، نوځکه يې هلته لومړی د کشف يو افسر او وروسته سردار اندرې ورواستوه او سپارښتنه يې وکړه چې څومره ژر کېږي بايد شاته لاړ شي.هغې ډلې چې ددغې توپخانې د ساتنې دنده لرله، څرګنده نه وه چې د جګړې په سخت اخ اوډب کې دچا په سپارښتنه خپله دنده او ځای پرېښی و.دغه توپخانه يوازې له دې امله اسيره شوې نه وه، چې دښمن دا تصور هم نه شو کولای چې څلور توپونه، بې له ساتونکو ،خپلو ډزو ته دوام ورکړی وي، برعکس ددغې توپخانې ډزې داسې بې شمېره او پرله پسې وې، چې دښمن ګمان کړی و چې د روس د پوځ زياتره برخه همدلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجبهې په منځنۍ برخه کې ځای پر ځای شوې ده ،نوځکه يې هڅه کړې وه ،چې دوه ځله په دوی بريد وکړي او دوا ړه واره دهمدې غونډۍ په شاو خواکې دهمدې ځلورو ولاړو توپونو د پرله پسې او بې شمېره ډزو له برکته په شاتمبول شوي وو.

دشهزاده باګراتيون تر تګه لږ وخت وروسته، توشين په دې بريالی شوی و ،چې شيګرابين ته اور ورته کړي. دتوپخانې چلوونکو په خوښۍ او شروشور چغې وهلې:

-اوريې اخيستی !لوګي ګورئ !واه واه لمبو ته يې ګورئ.

توپونو بې له هغه چې ځوک سپارښتنه ورته وکړي،همدا د اور اخيستو ځای خپلو ډزو ته په نښه کړی و او دهغو چلوونکو ګواکې دتوپچيانو دلا لمسونې لپاره دهر ې ډزې سره چغې نارې ګډولې:

-واه واه !دغسې،څه خوند کوي !ولې يې ئ !

دباد ځپو اور،لا پسې قوي کاوه او په چټکۍ هرې خواته خورېده. فرانسوي سرتېري چې ډله ډله له کلي راوتلي وو ،بېرته ورستانه شول ،خو داسې برېښېده چې دخپلې دغې ماتې دغچ اخيستو لپاره يې خپل لس توپونه دکلي په ښۍ خواکې ځای پر ځای کړل او دتوشين توپونه يې تر ډزو لاندې راوستل.

له دغه اوره پيدا شوې خوښي او پر فرانسويانو بري راوړونکې ډزې ددې سبب شوې چې زموږ توپچيان يوازې هغه وخت له دغو ډزو خبر شي چې لومړی دوه او وروسته بيا د توپونو ځلور ګولۍ ددوی دتوپونو دمورچلونو په منځ کې راولوېږي.له دغو ډزو نه يوې، دوه آسونه راغوځار او بله يې ديوه کراچۍ د خاوند يوه پښه والوزوله،خو هغه شور،مستي او خوښي چې راپاربدلې وه، دغو ډزو کمه نه کړه،مګر د سرتېرو طبيعت لږ بدل غوندې شو.د وژل شويو آسونو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای له ساتل شویو آسونو نه نور راوستل شول، ټپیان یې سره یورته کړل او ...توپونه بیا ډزو ته چمتو کړل شول.د توشین انډیوال افسر ووژل شو، که څه هم د یوه ساعت پرله پسې ډزو په اوږدو کې د ځلوینتو توپچي چوپړانونه، ولس هغه ولوېدل، خو توپچیانو د برې په هماغې لېوالتیا خپلو هڅو ته دوام ورکړ.د هغوی دوځله دې ته پام شو چې، تر دوی نه لږ ښکته بیا فرانسویان راښکاره شول، نوځکه یې پر هغو د ډزو باران وورووو...

توشین چې د پرله پسې ډزو له غرمبهاري نه یې غوږونه کاڼه او هر ډز سره یې ټکان خوړ، بې له هغه چې په شونډو کې ساتل شوی پیپ پرېږدي، دلوګو او ډزو دلمبو په منځ کې له یوه توپ نه بل او له بل نه بل ته په منډو، و.یو چاته یې د ډزو درجه او کچه برابروله.ښښه یې جوړوله او بل ته یې دلوېدلو ټپي شویو آسونو د پورته کولو یا لرې کولو او د هغو پر ځای د نورو نویو اسونو دراوستو او ځای پر ځای کېدو سپارښتنه کوله.هغه په نري، کرار، رېږدېدونکي او نه غوځ آواز چغې وهلې.د هغه څېره دم په دم لا تازه کېده، خو یوازې هغه وخت به یې تندی تریو او سترګې برندې کړې چې کوم سرتېری به ټپي او یا ووژل شو.هغه به پر هغه سرتېرو چې د تل په شان دمړو او ټپیو په پورته کولو او وړلو کې سستي کوله چغې وهلې.سرتېري چې زیاتره هغه یې لوړ، ځوان ،ښایسته او دنګ، دنګ وو ،(د توپچي په قوتونو کې به داسې چوپړان او سرتېري نیول کېدل چې آن له خپلو افسرانو به په اندام او ونه کې غټ او لوړ وو. )لکه ماشومان د ستونزو په وخت کې، همداسې دوی هم خپلو قوماندانانو ته په داسې بڼه کتل چې په څېرو کې یې د هغو د څېرو ښې ښې څرګندېدې.

دغو د پام وړ وحشتناکو، ډارزېږونکو ډزو، دهغو شرو شور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړمبهار نه یوازې دتوشین په زړه کې یوه شېبه هم، کومه ویره او بد احساس نه توخناوه او نه د وژل کېدو او سخت ټپي کېدو خیال، خیال ته ورته بلکې لېوالتیا یې شېبه په شېبه زیاتېده.هغه داسې انګېرله ،هغه شېبه چې دښمن یې لیدلی او پرهغه یې لومړنۍ ډزې کړي، پرون نه بلکې خورا پخوا وه.هغه دا هم انګېرله چې هغه ته د جګړې د ډاګ هغه ټوټه چې دی پرې ولاړ دی خورا آشنا او له پخوا نه خپله ده.که څه هم هغه په خپلو ټولو کړو پوهېده، هغه یې احساسول،هرڅه یې داسې ترسره کول چې یو ښه افسر یې په دغه شان وخت کې ترسره کوي،ولې بیا هم هغه یوتبې وهلي، ناروغ،اپلت ویونکي او یا نشه ته ورته و.

دخپلو وسلو په تېربیا دتوپو دډزو غړمبهاري چې له هرې خوانه یې چاپیر کړی و ،دد ښمن دتوپونو دګولیو شروشور،دخولو نه لمدو ،چټکو اود ببیاکه خوځېدا توپچیانو ننداري،د سرتېرو او آسونو له ټپونو نه بهېدونکووینو اوپه وړاندې غونډۍ کې د دښمن دتوپونو نه دکنډک کنډک لوګیو پورته کېدو (او ترهغه شېبې نه وروسته کومه ګولۍ په لیونی غږ، په خورا چټکۍ ددوی خواته راتله ،یا خاورې ،یا دکوم سرتېري،یا دکوم آس او یاهم دکوم توپ په څنګ یا اړخ کې لګېدله) دهغه په خیال کې داسې یوه رنګینه دنیاګۍ جوړه کړې وه،چې یوازې او یوازې دده وه او هماغه شېبه دده دزړه تسل پرې کېده.هغه د دښمن توپونو ته نه دتوپ،بلکې دهغو دپتاقیو په سترګو کتل چې کله ناکله یې څوک د خوښۍ او لوګو پورته کولو لپاره کاره وي.

همدا چې لوګو به دغونډۍ پر لمنه کرښه جوړه او باد به هغه چپې خواته لاپسې اوږده کړه،توشین به له ځانسره وبنګېد:

-بیا یې پف کړه؟اوس یې ډز هم رارسېږي،باید بېرته یې ورولېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وار چې یو توپچي توشین ته نېږدې ولاړ و او له ځانسره یې دهغه غږېدا اورېده،وویل:

-تاسو څه وویل،صاحبه !

هغه ځواب ورکړ:

-هېڅ،د توپ ګولۍ یادوم.

هغه له ځان سره ویل:

-نو ،ګرانې ماتیوفنې !(ماتیوفنې،دوی هغه لوی او زاړه توپ ته ویل چې د مورچل په وروستې برخه کې ولاړ و ).هغه ته دخپلو توپونو په شاوخوا کې مېشت فرانسویان لکه مېږتانه داسې برېښېدل.ښکلی، دنګ او تل مست لومړی شمېره توپچي،دویم شمېره توپ،له ځانسره په زړه کې د ماما په نامه یاداوه ترټولو نه زیات یې هغه ته کتل او دهغه له خوځېدا نه یې خوند اخیست.دغونډۍ په لمن کې د ټوپک ډزې اورېدل کېدې،هغه به کله لوړې او کله به ټیټې شوې،ده داټول لکه سا داسې انګېرلې او ده به ددغه غږ ټیټېدو او پورته کېدو ته غوږ اېښود.

هغه به له ځانسره وویل:

-ګوره سا یې وویسته !

بیا یې په سا ویستو پیل وکړ،خپل ځان یې هم داسې خورا قوي او غټ سړی ګاڼه چې دوی ته نېږدې ویشتل شوې ګولۍ،په منګولو کې را اخلي او بېرته یې دفرانسویانو پلو وروشړي.

په هغه شېبه کې چې له خپل توپه لرې کېده،وې ویل:

--نو،ګرانې ماتیوفنې !ټېنګه شه ګرانې ادکې !

ده لا دا خبره پای ته نه وه رسولې چې ده ته یو نا آشنا،پردی غږ وااورېدل شو:

-تورن توشینه !تورن توشینه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



توشين، په وېرې دغرې پلو مخ واړاوه.دا هماغه دقوماندانۍ افسر و ،چې هغه يې په ګرونت کې دخوړو له دکانه ويستلی و او اوس يې په سوې سا هغه ته چغې وهلې:
-داڅه کوئ،لېونی شوی يې؟دوه ځله تاته دشاتګ سپارښتنه شوې ده او ته لا...توشين چې په ډار خپل مشرته کتل،له ځانسره وويل:
- نو ولې مو دوی په کراره نه پرېږدي؟ او ...دوه ګوتې يې خپلې خولې ته ورپورته کړې او وې ويل:
-زه...هېڅ...زه...
خو ډګروال،ټول هغه څه چې غوښتل، ونه شو ويل. هغه ګولۍ چې دده له څنګه تېرېده ،دي دې ته اړ کړ چې سر ټيټ کړي او پر آس خم شي.چپ شو او همدا چې غوښتل يې بيا څه ووايي،بلې ګولې هغه له خوځېدا راتم کړ.خپل آس يې راوګرځاوه او په چټکۍ له هغه ځايه لرې او له هماغه واټن يې امر ورکړ:
-شاته شئ،شاګرز !
سرتېري له خندا شنه شول،خو له يوې دقيقې وروسته يو ياور،له هماغه آمر سره راورسېد.
دا ياور سردار اندرې و. دتوشين مورچل ته په رسېدو ، لومړی څه چې هغه وليده ،هغه ،هغه آس و چې پښې يې ماتې شوې وې، له توپ وړونکې کراچۍ نه را خلاص شوی و او دکراچۍ پورې تړلو آسونو ترڅنګ شنهېده. له ټپي پښې نه يې لکه له چينې داسې وينې بهېدې،دکراچيو ترمنځ څو مړي پراته وو.د دښمن دګوليو پرله پسې باران روان وو.هغه يوې زورو نکې وېرې پسې واخيست،په ځان يې وېره او رېږدېدا وځغلېده ،خو دغه خيال چې دده دغه رېږدېدا له ډاره وې دی لاپسې راوپاراوه او له ځانسره يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه ډاریږم.زه حق نه لرم چې وډار شم.

هغه د توپونو ترمنځ په کراره له آسه کوز شو.د شاګرز سپارښتنه او امر يې توشين ته وسپارهو خو بېرته ستون نه شو.پرېکړه يې وکړه،چې هلته پاتې شي،له مورچلونه د توپونو د راويستلو او دهغو د خوځېدا خارنه وکړي.دفرانسويانو دډزو تر باران لاندې له توشين سره يوځای د وژل شويو مړو په منځ کې ګرځېده او د توپونو د پرزو او ددغو پرزوپه، ځای پر ځای کولو لګيا شو.

د توپچي يو چوپړ سردار اندري ته وويل:

-همدا اوس دقوماندانۍ يو افسر راغلی و،هغه تاسو غوندې نه و، خورا ژر بېرته ستون شو.

سردار اندري له توشين سره ونه غږېد.دواړه داسې بوخت وو،چې ته به وايې يوبل نه ويني.کله چې يې له څلورو توپونو نه،دوه پاتې شوي جوړ توپونه، له وړونکو کراچيو سره وتړل..او دغونډۍ آپلو واوښتل،سردار اندري توشين ته ورنېږدې شو،هغه ته يې لاس ور وړاندې کړ او وې ويل:

-ښه ! دليدو په تمه !

توشين هم دهغه لاس کېښکود او په لمدو سترګو يې چې ناڅاپه له اوښکو راډکې شوې وې،وويل:

-په مخه ښه دزړه سره !دخدای په امان ماته ګرانه !خدای دې مل شه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

باد وېده شو، توري وريځې د جګړې پر ډګر لمن خوره کړه او د افق لمنې د باروتو په لوګيو لړ شوې وې. د ماښام قضا په تياره کې، ليدونکې رڼا د دوو بل شويو اورونو رڼا لا زياتوله. د توپونو د ګوليو باران لږ شو، خوشاته له ښي خوا نه د توپکو د ډزو غږ د م په دم زياتېده او رانږدې کېده. همدا چې توشين له خپلو توپو سره د مړو نه تاوراتاو شو، د دې لپاره چې د دښمن د ډزو تر ګوزار لاندې رانه شي، دې ته اړوت چې د مړو پر سر راتېر او د غونډۍ په لمنو کې ځان خوندی ورسوي. هلته په رسېدو، د ستري قوماندانۍ ځينې لوړ پولي افسران او ياوران او له هغې ډلې نه پيام راوړنکی افسر چې دوه ځله يې ده ته راليږلی و، خويووار هم د توشين تر توپه پورې نه و رسېدلی او ژيرکوف، ترې تاو راتاو شول. ټولو په هغه نيوکې کولې، هغه ته يې سپارښتنې، لارښوونې او حکمونه کول چې څنګه او کوم پلو لاړ شي، خو توشين نور نو سپارښتنې نه کولې او چوپه خوله، له دې ډارېده او نه پوهېده، که خوله پرانيزي خدای خبر چې څه به ووايي، سترګې يې له اوښکو ډکې د خپلو توپونو د مورچل پلو روان شو. که څه هم سپارښتنه شوې وه چې ټپيان دې په خپل ځای پرېښودل شي، خو د هغو ځينو يا خپله د رغږدو يا د تګ هڅه کوله او يا يې له نورونه په عذر او زاريو پر توپونو د هغو دوړلو د مرستې هيله کرله. هغه پلي بې باکه افسر چې د توشين له مورچل نه يې تېښته کړې وه، په ګېډه کې لګېدلی، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې کراچۍ چې ماتیوفنې نومې توپ یې کشاوه، پروت و. دغونډۍ په لمن کې د حربې پوهنتون یومحصل چې یو لاس یې په بل ابښی و، له توشین نه وغوښتل چې له ځان سره یې په آس سپور کړي، هغه چې خورا شرمېده، وویل:

-ښاغلیه تورنه !ستاسو دې په خدای قسم وي، له ما سره مرسته وکړي، لاس مې شنډ شوی دی، په خدای قسم دی چې تلای نه شم، دخدای په خاطر رحم وکړئ.

دهغه له مات غږ او ناهیلۍ نه داسې څرګندېده چې دا لومړی وار نه دی چې دمرستې غوښتنه کوي، خو یو وار یې هم چا غوښتنه نه ده منلې، نوځکه یې اوس بیا له ټولو زاریو سره سره د مرستې هیله نه لرله.

-هیله کوم، ما په کوم آس سپور کړئ، دخدای په خاطر...

توشین وویل:

-سپور یې کړئ...سپور کړئ ! هغه خپل ګران سرباز ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

-ګوره ماما جانه !خپل کوټ ترې لاندې واچوه، ټپي دی، ټپي افسر چېرې دی؟

چاځواب ورکړ:

-هغې یې سره پربښود، ځان یې جانان ته سپارلی و.

-کېښنوئ !سپور یې کړئ، کېنه ګرانه !انتونه، کوټ دې ترې لاندې آوار کړه.

دغه ټپي رستوف و. هغه یو لاس په بل هغه کلک نیولی، رنګ یې الوتی او لاندنۍ ژامه یې دتبې له زوره رېږدېده. هغه یې پر هماغه ماتیوفنې نومې توپ، پر هماغه توپ چې دهغه بل افسر مړی پرې پروت و، کېناوه. تر هغه لاندې آوار شوی کوټ داسې په وینو لړ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ،چې مه کوه پوښتنه او درستوف له لاسونو او پطلونه خو بلکل ويني څڅېدې.

توشين هغه توپ ته چې رستوف يې پرې اچولی و ،نږدې شو او وې ويل:

-څه شوي دي ګرانه !ټپي شوی يې؟

-لاس مې مات شوی دی.

توشين و پوښتل:

-او پر توپ دا ويني دڅه شي دي؟

هغه سرتېري په خپل لستوڼي،ويني دا سې پاکولې چې ګوا کې پر وينو دتوپ دلړېدو نه،ښښنه غواړي او وې ويل:

-داويني دا فسر له مړي نه بهېږي،ښاغليه تورنه !

د پلو سرتېرو په مرسته يې تانکونه،دغونډۍ سرته وخيژول،کله چې د ګونترسدروف ،کلي ته ورسېدل،ودرېدل.هوا دومره تياره شوې وه ،چې په لسو مترو کې هم د سرتېرو دجامو توپير نه شو کېدای.که څه هم ډزې کرارکرار آرامېدې،خو ناڅاپه ښۍ خواته څه لرې اله ګوله جوړه ا د پرله پسې ډزو غږ واورېدل شو.په تياره کې دمرميو او ګوليو اورونه له ورايه ځلېدل. دا دفرانسويانو وروستی يرغل و ،خو دکلي په کورونو کې مورچل نيولو پليو سرتېرو هغه ته ځواب وايه.ټول بيا له کلي راووتل،خو توپونه له ځايه خوځېدای نه شول.توپچيانو ،توشين او پرتوپ،هغه پروت ټپي يوبل ته سره کتل او دې ته سترګې په لاره وو ،چې څه به کېږي.خو په پای کې ډزې او داوربدلون کرار شو او يوه ډله سرتېرو چې په خپل شراوشور يې دغه کراري ماتوله،دڅنګ له کوڅې راووتل.

يوه وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پتروفه !جوړ پاتې يې؟
-ښه ګرز مو ترې جګ کړ، خو اوس خوب نه راځي.
- دا څنګه تپه تياره ده، هېڅ شي نه ليدل کېږي.ودې ليدل ظالمانو په خپلو ډزې وکړې، ورونږ تورتم دی، څه نه ليدل کېږي، رښتيا ګوره دڅکلو څه شی نه پیدا کېږي چې غاړې تازه کړو؟
دفرانسويانو وروستی يرغل په شا تمبول شوی و او دتوشين توپونه، چې پلې سرتېري ترې چاپير شوي وو، په تکه توره تياره کې کرار کرار وخوځېدل.
په دې تورتم کې يو بې پايه ستر کاروان، يو پلو ته دناليدونکي بهېدونکي رود په څېر، دشر او شور، د بنګهارې،دکراچيو دخوځېدا، د هغو دارابو دآوازونو،د ټپيانو د زګيرويو او دآسونو په ځغاستا کې دهغو دسمونو چړقهارکې روان و.دشپې په تورتم کې، په دغه ګڼه ګونه او شر او شور کې ترټولو نه زيات دټپيانو دزګيرويو آوازونه ډېر تېره اوغوڅ وو. داسې چې ګواکې دهغوی غږونه پر پوځ دغه ټوله توره غوړېدلې برستن ډکوي.تا به ويل، دهغو زګېروي او ددغې شپې دا تورتم دواړه يو شی دی.له څه مودې نه وروسته په دغې خوځېدونکې ډله کې څه ويره پيدا شوه. پر سپين آس يو سپور او دهغه ملګري دهغو ترڅنګه تېر او دتېرېدو په وخت کې يې څه وويل:
ټولو په خورا لېوالتيا يوله بله پوښتنې کولې:
-څه يې وويل؟اوس چېرې ځو؟دلته پاتېږوکه وړاندې درومو؟څنګه؟له موږه يې کومه مننه وکړه،کنه؟او ټولې خوځېدونکې ډلې يوله بل سره پورې وهل او پر يو بل سره لوېدل(داسې برېښېده چې مخکنې کسان تم شوي وو ) ګونګوسی و چې د درېدو امر شوی دی.ټول همالته دچېکړو او ختړو په منځ کې ودرېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نغري او اورونه بل، شروشورپيل او غړونه لا څرګند شول.

توشين، خپل نغري کې اورلړوني وواهه او سپارښتنه يې وکړه چې کوم سرتېرى دټپي محصل لپاره داکتر پسې لاړ شي، خپله د نورو سرتېرو ترڅنګ هغه نغري ته نېږدې کېناست چې دلارې په منځ کې يې لګولى و ،رستوف هم په ځنبېدو ځنبېدو ځان نغري ته ورساوه.د درد ،لوږې او تبې له زوره يې ټول ځان رېږد پده.که څه هم يوه ليوني خوب ليونى کړى و او د هغه له زوره په ويښه زنګېده، خو دلاس خوږو يې دومره څېړيکې وهلې چې هغه ته يې د غځېدو او آرامېدو وخت نه ورکاوه.کله به يې داور لمبو ته چې ترسترګو سرې سرې ورتلې ځير شو او کله به يې دتوشين توربخنې ستومانه څېرې ته چې دده ترڅنګه يې پلترى وهلې وې، کتل.د توشين مهرباني اوځيرکې سترګې په خورا خواخوږى او ځير پرهغه ځنبې وې.هغه په دې پوهېده چې توشين دزړه له کومې غواړي له ده سره مرسته وکړي، خو هېڅ څه يې له لاسه نه کېږي.له هرې خوانه دپليو او سورو سرتېرو دتګ راتګ اوګامونو او غږېدا آوازونه اورېدل کېدل .دغږېدا ،په ختو او چېکړو کې دآسونو دسومونو ،ګامونو او دلرګو دماتلو د چړق وچړوق آوازونه له لرې او نېږدې سره ګډېدل او دګڼه ګونې په څېر به يې کله غړپورته او کله ښکته کېده.

اوس نو دتيارې په خورېدو سره سرتېري د سيند په شان لکه نرى کرښه نه بهېدل بلکې په راغونډېدو سره، ترتوفانه وروسته سمندرګي په څېر آرامېدل.رستوف بې هدفه هغه څه ته چې ددوى ترمخې اوشاوخوا تېرېدل کتل او غوږيې ورته نيولى و.يوه پلى سرتېرى دهغو نغري ته ورنېږدې شو ،په دوو پښو کېناست،لاسونه يې اورته ونيول،مخ يې واړاوه ،په پوښتنيز بڼه يې توشين ته وکتل او له هغه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وپوښتل:

-جلالتمابه !خپل ټولی مې ورک کړی دی، دې بد مرغۍ ته ګوره خپله نه پوهېږم چېرې يم !

ددې سرتېري سره جوخت، يو افسر چې ژامه يې په دستمال تړلې وه، نغري ته نېږدې شو ،توشين ته يې مخ وروا ړاو اوله هغه نه يې وغوښتل، چې دا توپونه لږسره ځای پر ځای کړي چې ددوی کراچۍ تېره شي.تردغه افسره وروسته،دوه سرتېري دنغری خواته په منډه راغلل.دواړو سخت سره ښکنځل او کومه موزه يې له يو بل نه کشکودله.

دهغو يوتن په خورا درانه غږچغې وهلې:

- تا څنګه زړه وکړ، چې دا موزه پورته کړې؟

ترهغه وروسته يوخوار رنګ الوتي سرتېري چې په وينو لړلي يوه دستمال يې غاړه تړلې وه، نغري ته نېږدې شو او په داسې يوغږ چې دقهر نښې ترې وربدې له توپچيانو نه اوبه وغوښتې اووې ويل:

- لکه سپي له لوږې مرو خو هېڅوک مو پوښتنه نه کوي.

توشين سپارښتنه وکړه چې هغه ته اوبه ورکړي.بيا يو مست او خوښ سرتېري دې خواته رامنډې او خپلو پلو سرتېرو ته يې داور غوښتنه وکړه.

-يوه دوه سکروټې، يخ وژونکی او غم ويلې کوونکی اور راته راکړئ، او موږپلو سرتېرو ته يو لاس پورته کړئ.له تاسو مننه کوو ،نيکمرغي مو غواړو او له خيره سره له ګټې سره به مو اور بېرته درته راوړو.هغه داور سکروټې چې په تپه تياره کې له ورايه ځلېدې کومې خواته يوړې.

ترهغه وروسته څلورتنه نور سرتېري چې کوم درانه څه يې په کوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مروړلي و او کومې خواته يې وړل د نغري له خوا تېر شول.دهغو له ډلې نه د کوم يوه پښه په څه کې ونښته ،له ځانسره وبنګېده او وې ويل:

-بلا دې دوی سره ووهي، په لاره کې خپل لرګي سره ارتېږي.

له هغو نه يوه تن وويل:

-ځان يې جانان ته سپارلی، چېرې يې کشکاږو ؟

-ښه ده ورکه وه يې، اوس ناندرۍ پرېږدئ.

او له خپل پېټي سره په تياره کې پناه شول.

توشين له رستوفه وپوښتل:

-لاس دې څنګه دی؟لاترا وسه هم خوږېږي؟

-هوکې، خورا ډېر.

يو تن توپچي، توشين ته ورنږدې شو او وې ويل:

-ښاغليه افسره !جنرال تاسو غواړي، هغه دلته ولاړ دی.

- سمدلاسه درځم.

توشين پاڅېد ،د خپل کوټ تنۍ يې غوټه کړې، په ځان يې لاس تېر کړ، خپل کالي يې جوړ او له نغري نه لرې شو.

شهزاده باګراتيون د توپچيانو نغري ته نږدې او په هغې کوټه کې چې دده لپاره برابره شوې وه، ماښامنۍ ته کېناست او له يو شمېر هغو قوماندانو سره يې خبرې او مرکې کولې چې پرې ورټول شوي وو.له هغه سره په ناستو کسانوکې يو پټ سترګی او غوره اشتها لرونکی بوډا چې يو اډوکی يې چېچه، بل يوځوان، دنګ، ښې جامې په ځان جنرال چې دډوډۍ ترخوړلو اوديوګيلاس ودکا تر څکلو نه يې وروسته بشره تکه سره شوې وه او د قوماندانۍ افسر چې ښکلې ګوته يې په ګوته وه، ليدل کېدل.ژيرکوف، هم هلته و.دهغه نا آرامه غلچک ټول ترڅارلاندې ساتل.سردار اندرې چې رنګ يې الوتي، جامې يې ګونځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونځې او سترګې يې له تبې سترې او مړاوې بريښېدې هم همالته و....

فرانسوي دګروال چې د روسي سورو له خوا اسير شوی و، په ګاونډې کوټه کې و او زمور افسران د هغه دکتو لپاره پرې ورټول شوي وو. شهزاده باګراتيون له قوماندانانو نه د مننې په لړ کې له ټولو نه د جګړې د بهير جاج اخيست. د هغه غونډ قوماندان چې د برانا او په ښار کې کوتوزوف له هغه سره ليدلي و...وويل:

-دوی په نيزو پر فرانسويان يرغل وکړ او تالان والان يې کړل... د خبرو په لړ کې و چې د کوتوزف او دولوخوف خبرې او د دولوخوف خلع رتبه کېدل وريادشول او وې ويل:

-جلالمتابه !پاتې دې نه وي چې سرتېري دولوخوف، هماغه خلع رتبه شوی افسر دی، چې اوس سرتېری دی، هغه زما تر مخې يو فرانسوي افسر اسير کړ. سخته مېړانه او زړه ورتيايې وښوده.

ژيرکوف، چې په هغه ورځ اصلا کوم سپور پوځي نه و ليدلی او يوازې يې له پليو نه د هغو د زړورتيا ستاينې اورېدلې وې، په خورا خواشداني دا خوا هغه خوا کتل، راوړاندې شه او وې ويل:

-جلالتماب !زه خپله د پاولولګراد د سپورو شاهد وم، هغوی د دښمن دوې ډلې تالا والا کړې...

شهزاده باګراتيون زاړه ډګروال ته وويل:

-ښاغلو !له تاسو ټولو نه مننه. ټول په خپل وار په مېړانې وجنګېدل، پلي، سواره او توپچي، هغه چې شاخوايې څه لټول وپوښتل:

-څه پېښه وشوه، چې په منځ کې هغه دوه توپونه هماغه شان ځای پر ځای پاتې شول؟ هو کې هېڅ ونه پوښتل ؟ ځکه ټول پوهېدل چې په هغې خواکې د برېد له پيله دا توپونه هسې پرېښودل شوي وو ، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقوماندانۍ افسر ته وويل:
-فکر کوم تاسو ته مې په دې اړه دخبرنې ويلي و.
افسر ځواب ورکړ:
-يو توپ خو له کاره لوېدلی و ،دهغه بل په اړه څه نه شم ويلای...خو په خورا کمداني يې زياته کړه:
-خو دادې پاتې نه وي چې دښمن په دې ځای سخت اورونه اورول.
يوچا غږ وکړ:
-تورن توشين کلي ته نېږدې تم شوی، هغه پسې مو سړي لېږلي او س به راشي.
شهزاده باګراتيون، سردار بالکونسکي ته مخ وروا ړاوه او وې ويل:
-ښه !تاسو هم همالته وئ.
دقوماندانۍ افسر په خوښۍ بالکونسکي ته وموسېد او وې ويل:
-هو کې،موږ لږه موده په ګډه همالته وو.
سردار اندرې په سړه او لږه ترخه ژبه وويل:
-ما ستاسو د ليدو وياړ نه لاره.
هېچا هېڅ ونه ويل.
توشين په وره کې راڅرګند شو.زړه نازړه يې هڅه وکړه دمشرانو له شاخوانه تېر شي.کوټه تنګه وه او دتل په څېر دمشرانو تر مخې ګبنۍ اخيستی و.دزياتې تياري له امله هغه دبېرق لکړه ونه ليده او پښه يې په کې ونښته.دځوتنو دخندا کړسهاري واورېدل شو.
باګراتيون سترګې برندې کړې او وې وپوښتل:
-څنګه وشوه چې توپونه هلته پاتې شول؟ (دهغه دسترګو برند بدل له توشين سره هېڅ اړه نه لرله،بلکې دده داکار دافسرانو خندېدو پورې چې ترټولو نه په کې د ژيرکوف آواز خورا دپام وړ و ،اړه لرله).

(c) ketabton.com: The Digital Library



توشين، د قوماندان د ګوابښمنو کتنو نه اوس د خپلې ګناه او د هغې رسوايۍ په اندازه پوه شو، چې دی ژوندی پاتې دی، خود ده دوه توپونه له منځه تللي دي. هغه دومره ګبنهۍ اخيستی و، چې تر او سه پورې يې په دې اړه هېڅ فکر نه و کړی. د پوځيانو خندا هغه لا پسې پرېشانه او ورخطا کړ. هغه د باګراتيون ترمخې ولاړ وا و لاندنۍ ژامه يې رېږدېده. هغه چې متې متې غږېده، وويل:

-نه پوهېږمه جلالتمابه! سرتېري کم وجلالتمابه!

-تاسو کولای شول د توپچي د ساتونکو له ډلې نه مرسته وغواړئ...

او ږده چوپتيا خوره شوه. باګراتيون چې نه غوښتل ډېر تېنګار وکړي نه پوهېده څه وکړي او نورو خو زړه نه شو کولای خبرو ته ورګډ شي.

سردار اندرې چې ترسترګو لاندې توشين ته کتل، ګوتې يې له خورا قهره رېږدېدې، په درانده او غوڅ غږ يې چوپتيا ماته او وې ويل:

-جلالتماب! تاسو ماته اجازه راکړه چې د توشين مورچل ته ورشم، زه ستاسو د دغې سپارښتنې له مخې هلته لاړم. د دوی د مورچل دربيمه برخه مهمات مات، آسونه يې وژل شوي، توپونه يې له کاره لوېدلي او ساتونکي يې تري تم وو.

شهزاده باګراتيون او توشين دواړو په ځير ګبنهۍ اخيستي بالکونسکي ته چې خبرې يې کولې، کتل.

سردار اندرې دوام ورکړ:

-که جلالتماب د خبرو اجازه راکړي، غواړم ووايم، چې زموږ ننني برى تر هرڅه زيات د دغه مورچل د مېړانې او په خپله د تورن توشين او د هغه د ملګرو د زړورتيا له برکته دی.

سردار بې له هغه چې ځواب ته سترګه په لاره شي، پاڅېد او لرې لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو.

شهزاده باګراتيون همداسې توشين ته کتل.داسې ښکارېده چې د بالکونسکي په خبرو شک نه لري، خو دايې هم احساسوله چې نه شي کولای هغه ټولې ومني.سريې وښوراوه او توشين ته يې وويل:

-تاسو کولای شئ لاړ شئ.

سردار اندرې هم هغه پسې ووت.

توشين سردار اندرې ته وويل:

-اخ !قربان دې شم.له تانه مننه.ژوند دې راته وژغوره.

سردار اندرې توشين ته وکتل او بې له هغه چې څه ووايي له هغه نه لرې شو.د سردار اندرې پر زړه، دغم درووند پېټی پروت او خورا نا آرامه و.داټول ډېر عجيب او غريب او هغه څه ته هېڅ ورته نه و، چې ده يې تصور کاوه.

هلته رستوف دلاس له خوږو په لمبو کې سوځېده.هغه چې دده مخې ته، په خوځېدونکي سيوري کې ډوب شوی و، په زړه کې ويل:

-داڅوک دي؟ دڅه لپاره دي ؟څه غواړي؟او څه وخت به داټول پای ته رسېږي؟ هغه چې دلاس خوږو زوراوه دخوب له لاسه نور نوليونی او د سترګو په وړاندې يې سرې سرې کړۍ خوځېدې.ددغو غږونواو څېرو بې خونده اغېز دهغه ديوازېتوب او دلاس درد سره يوځای دده درد ځوبرابره زياتوه...

يوه شېبه يې سترګې سره ورغلې اوبېسده شو او دخوب په همدې لنډه موده کې يې بې شمېره کسان اوتصويرونه په خوب کې وليدل.هغه خپله مور، دهغې سپين لاسونه، سونيا او دهغې نرۍ اوږې، ناتاشا ،دهغې ځلېدونکې سترګې او له خندا نه ډکه خوله، دنيسوف او دهغه تور بريت ليدل، ددنيسوف غږ يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربېده.هغه تلیاتین ولیدا او له هغه سره یې خپلې ټولې پېښې او دباګدانیچ یادونه اوکړه وریاد بدل. هغه له هغه سرتېري سره چې بد غږیې لاره خپل کړه وریه زړه کړل او داټول یادونه سره ګډ بدل.هغې پېښې او دې سرتېري دهغه لاس په بې رحمۍ کېښکوده ،یوې خواته یې کشاوه،ده هڅه کوله ځان له هغو وژغوري،که دده لاس یې نه کېښکودلای،هغه به نه خوږېده،مګرله هغو نه یې ځان نه شو ژغورلی.

سترګې یې وغوړولې او پورته یې وکتل.د شپې توره لمن داور پر لمبو لړ.له پاسه راخوره وه.دلمبو په رڼا کې د واورې وربېدونکې دانې ښکته را رواني وې.نه توشین راستنېده او نه داکتر راته.هغه یوازې او یوازې و.خو هلته.د اور آه پلو یوبربنډ سرتېری اور ته ناست واوډنګر ،ژیړ ځان یې تاوداوه.

رستوف له ځان سره ویل:

-دهېڅچا په کار نه یم،نه له چا سره مرسته کولای شم،نه دچاغم خوړلی شم،خوارا و زار او بېکسه یم،خو زه هم یو وخت په خپل کور کې وم.پیاوړی،خوشاله او یو چا ته ګران وم.سوړ اسویلی یې وویست او له هغه سره هممهاله یې له ګوګله ترلا سوځوونکی اسویلی راووت.

هغه خوارسرتېري چې خپل کمیس یې پراوردې لپاره ښوراوه چې وچ شي،وپوښتل:

-اخ،ډېر خوږېږي ؟اخ !او بې له هغه چې ځواب واوري،غاړې یې خلاصې کړې او وې ویل:

-څومره دخدای مخلوق یې په دې یوه ورځ وزاوراوه او تبی یې کړ،خدای دې رحم وکړي.

رستوف سرتېري ته غوږ نه و.هغه دواورو هغو دانو ته چې پر اور رالوېدې کتل او خپل تود ،روښانه او له خوښۍ ډک کور،تود

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوستین، له خوښۍ، رښتیا، روغتیا نه نیکمرغه ځان او کورنۍ یې وریادول او له ځانسره یې ویل:

-ولې؟ او د څه لپاره زه دلته راغلم؟

فرانسویانو بله ورځ هم یرغل پیل نه کړ او د باګراتیون له پوځه پاتې قوتونه، د کوتوزف له پوځ سره یو ځای شول.

د دویمې برخې پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی کتاب

# درېيمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

سردار واسیلي د خپلو کړو وړو په اړه کوم فکر نه کاوه او تر هغه نه هم کم یې خانته د ګټې رسولو په خاطر په دې اړه فکر کاوه چې چاته تاوان رسېږي او ګټه؟ هغه دو ګړو په منځ کې مخور او د خپل اغېز خاوند و.هغه په خلکو کې خپل دې اغېز او د هغه بریو سره رږدی و.

هغه بېلا بېلو شرایطو ته په پام او له هرډول خلکو سره د مخامخ کېدو په وخت کې، په ذهن او تصور کې رنګارنګ خیالونه کرل او رېبل، که څه هم د هغه به د غو خیالو ته نه پام کېده ،خو سره له هغه هم د غې چارې د هغه د ژوند ټول خوندونه جوړول.د د غه راز خیالونو نه یو ،نه دوه ،بلکې کله په لسګونو او کله تر هغه نه لا ډېر دده په خیالو کې ګرځېدل راګرځېدل.د هغو ځینې به کله ربښتیا ته نږدې شول،ځینې به یې لږ وروسته او نور به یې هسې له یاده وتل.د ساري په توګه هغه ځان ته نه ویل:

- ګوره دا سړی نن واک لري،زه باید د هغه ډاډ او ملګرتیا خپل او ځان ته په کې ګټې،مزې جوړې او له د غې لارې دولتي مرستې ترلاسه کړم،یا هغه نه ویل چې:

هغه دی، پېپر دسترې شتمنۍ خاوند دی،هغه باید دوکه شي چې زما لور وکړي او بیا له هغه نه د خپلې اړتیا وړ څلو یښت زره روبله واخلم.خو همدا چې کوم مخور یا شتمن سړی به له هغه سره مخامخ شو ،د مخامخ کېدو سره سم به یې هغه ته خپلې غریزې وویلې چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی کېدای شي تاته خورا په ګټه وي، سردار واسیلي، به ځان هغه ته نېږدې کړ، دهماغي غریزې په مرسته به یې ،بې له کومې پخوانۍ پېژندنې، په لومړني امکان کې ،په ټېټ او پاس کېدو او غوړه مالۍ له هغه سره خواخوږي او ملګرتیا پیدا کړه او هغه څه به یې چې غوښتل ورته وویل.

پېیر، په مسکو کې دهغه تر واک او اغېز لاندې و.سردار واسیلي هغه ته په دربار کې دیاورۍ دنده چې په هغه وخت کې ددولت دفرهنګي مشاور کچه وه، پیدا او په دې یې ټینګار کاوه چې هغه ،له ده سره سن پترزبورګ ته لاړ شي او دده په کورکې مېشت شي.ګواکې د سردار واسیلي کړه ،بې تکله او هسې بې پروا ، خو خورا په ډاډ یې ټول داسې کول چې وکولای شي خپله لور پېیر ته واده کړي.که هغه، له خلکو سره خپل ټول کړه په سنجش او له مخکې نه په تکل کړي وای،بیا به داسې ساده اوطبیعي نه برېښېدای...بډایان او واکمن تل دهغه لپاره په زړه پورې او زړه راښکوونکي وو.هغه ځان ته دلویانو اوبډایانو په پام را اړولو کې،په اړونده شېبه کې دهغوی په خپلولو او له هغونه دګټې په اخیستنې کې دخورا لوی هنر خاوند و.

پېیر،چې ناڅاپه دبې پایه شتمنۍ او دګراف بېزاوخوف، دنامه خاوند شوی و،له هغه یوازېتوب او بې اوزګارۍ نه چې دی پخوا ورسره رږدی و ،څه پاتې نه و ،اوس یې ځان داسې له هرې خوا چاپیر او بوخت لیده چې یوازې دخوب په کټ کې یې کولای شو ،آرام او په کراره و اوسي.هغه باید ډېر لیکونه لاسلیک کړي وای ،له هغو ادارو سره یې هم باید اړیکې ساتلي وای چې ده نه پېژندلې، دبېلابېلو خبرو او پېښو په اړه یې له خپلو مشرو لارښوونکو سره خبرې او مشورې کړې وای،دمسکو څنډو ته، دخپلو شتمنیو دڅارنې لپاره تللای وای او ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کسان چې تر پرون يې نه غوښتل دده نوم واوري، اوس دده له خوا دنه منلو له کبله به خورا خپه شوي واى، دا بايد هرڅوک وګوري او ومنـي.دغـه رنګـا رنـګ خلـک: لـه سـوداګرو نيولي، ترخپلـو خپلوانو،آشنايانو او ترنورو نورو پورې، ټول په يوډول نه يو ډول دده ځوان ميراث ترلاسه کوونکي، په وړاندې ښه، مهربانه او خواخوږي وو او ټولو بېشکه دپيير پر پوهې، ښه خلق او فضل ډاډ من وو. پرله پسې يې دا خبرې اورېدې:

-سـتا دبـې سـارې مهربـانۍ لـه برکتـه...سـتا د مهربانـه زړه پـه مرسته...تاسو داسې سپېڅلي ياستئ ګرانه سرداره !...که هغـه داسې ځيرک واى لکه تاسې...او نورې نورې دې تـه ورتـه ويناوې.داسې چې هغه، په رښتيا په دې باور پيدا کاوه چې دی پـه رښـتيا مهربانـه او دبې سارې پـوهې خاونـد دی.لـه ټولـه لا غـوره دا وه چې دده دزړه لـه کـومې دامنله چې دی خورا خواخوږی، مهربانـه او هوښيار دی.آن هغـو کسـانو چې پخـوا بـه يې لـه ده سره دښـمني او تربرګلوی کولـه هم اوس دده پـه وړاندې خواخوږي او مهربانه وو....

سردار واسيلي،له هرڅه دمخه دپيير، پرټولو چارو ، واک ټينګ او هغـه يـې تـر خپـل اغېـز لانـدې راوسـت.د ګـراف بېزاوخـوف، دمـرګ راهسيې يې يوه شېبه هم يوازې نه پرېښـود او هغـه يـې لـه ځانسره لاس نيولی ګرځاوه.سردار واسيلي هغه ګبنې اخيستي، ستومانه او ناچاره ،چاته پاتې کېده چې نه يې شي کولای، دغه بې تجربې، تر درونـد پـېټې لاندې ځوان، دبې سارې شتمنۍ خاونـد او لـه ټولـو لاغـوره دا چې دده دخداى بښلي دوست زوى، بې له مرستې دتقدير او ددوکو منګولـو تـه وسپارې. دهغو څو ورځو په اوږدو کې چې دسردار بېزاوخوف تـر مرګـه وروسته په مسکو کې پاتې شو،يا يې پيير ځانتـه راغوښت او يا خپلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه کوټې ته ورته او لارښوونې یې ورته کولې چې څه باید څنګه کړي.دهغه له آوازه داسې ستوماني او هممهاله ډاډ اوربدل کېده چې تا به ویل په هرڅه کې دی پرحق او غوښتنې یې رښتینې دي.

ته پوهېږئ د کارو له لاسه لېونی یم،خو ستا په یوازې پرېښودلو به مې هم خدای ونه بښي،هوکې ته پوهېږئ؟ هغه وړاند بز چې زه یې تاته کوم دا هغه یوازداني لاره اوڅه دي چې ته یې باید وکړې.او په پای کې یې یوه ورځ ورته وویل:

-سباته خوځېږو.

له دې خبرې سره یې خپلې سترګې وتړلې،دهغه څنګل یې په خپلو منګولو کې کېښکوده او له هغه سره په داسې خوږه ژبه غږېده چې ګواکې دوی ددغې چارې پرېکړه خورا پخوا سره کړې او پرته له دې بل څه شوني نه دي.

هغه خبرو ته دوام ورکړ:

-سباته خوځېږو ،تا به په خپله ګاډۍ کې بوزم،زه خورا خوشاله یم.دلته ته مو څه چې چارې وې،هغه مو پای ته ورسولې.زه باید لاپخوا تللی وای،خو ...وګوره دا لیکونه د لومړي وزیر له دفتره راته راغلي.ما دتا په اړه له هغه نه یوه غوښتنه کړې وه.ته اوس په دیپلماتیکو چارو کې منل شوی یې،تا ته اوس ددیپلماتیکو چارو د ځانګړي سلاکار نوم درکړ شوی دی.نور نو د دیپلماتیک کار لاره درته پرانستل شوه.

پېیر،سره له هغه چې له پخوا نه دخپلې راتلونکې دندې په خیال کې و ،د سردار واسیلي دخوږې،اغېزمنې،خو سترې ژبې او وینا سره سره یې غوښتل له هغه نه، ددغه کار له امله مننه وکړي ،خو هغه په خپل درانه غږ چې له ګوګل نه یې راوت (ده داغږ هغه وخت لوړاوه چې تکل یې کاوه بې له هرڅه خپله خبره په نورو ومني.هغه دپېیر خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې پرېکړه چې هغه ته له منلو پرته د بل هر ډول غبرګون لاره پاتې نه وه ) هغه وويل:

- ګرانه دا کار ما د ځان لپاره کړی دی، د خپل وجدان د ارامۍ لپاره، نو له دې کبله، منښې ته هېڅ اړتيا نه ليدله کېږي... هغه زياته کړه:

هو کې ګرانه ... آخ نېږدې وه چې هېره يې کړم، ما دې له خدای بښلي پلار سره ډېر حسابونه لرل، د ريزان د ښارټوله ګټه به ما راټولوله. هو کې دا حساب به په هماغه ډول وي، ته هم هغه ته اړتيا نه لرئ. بيا به وروسته حساب سره کوو.

هغه څه چې سردار واسيلي د ريزان ګټې ونومولې، هغه، هغه جايدادونه وو چې هر کال کې به يې څو زره روبله حاصل کاوه او هغه ټول ده ځانته ساتلي وو.

په سن پترزبورګ کې د مسکو په څېر همداسې مينه والو، لېوالو او غوړه مالانو د پيير نه کړۍ تاو کړې وه. هغه نه شو کولای هغه د نده چې سردار واسيلي ورته خوښه کړې وه، ونه منې... مېلمستياوې، پېژندګلوی او بنډارونه، چې د بډايو کورنيو ځانګړتياوې وې، دومره زيات شوي وو چې هغه په مسکو کې تر اوسېدو نه اوس زيات د سرسامۍ او تلوار احساس کاوه او داسې يې انګېرله چې نن دی که سبا، ده ته به بې ساري برياوې رارسېږي، خو هغه هېڅکله نه رارسېدلې.

د پيير، ديوازېتوب د وختونو، د عياشۍ د انډيوالانو له ډلې نه زياتره ياران اوس له پترزبورګ تللي وو. د ګارد پوځ جبهې ته لېږل شوی و، دولوخوف خلع رتبه، اناتولي له پلازمېنې نه لرې کوم ولايتي پوځ ته استول شوی و، سردار اندرې بهرته تللي و، نو له دې کبله هغه نه شو کولای د خوږو يارانو سره د نيمو شپو او ترسهاره د ناستې بنډارونه جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي..هغه خپله زياتره موده،په ماښامنيو مېلمستياوو، نڅاوو او هغه هم ډېر وخت د سردار واسيلي په کورکې له څورېږ، زړې ګرافينې، د هغه له ښځې او ښکلې ايلين سره تېروله.

اناپاولوفنا شرر،هم د نورو په څېر داسې ښودله چې د پيير په واړندې يې کړه وړه بدل بدل او خورا د درناوي دي.

پخوا به تل پيير،د انا پالوفنا په حضور کې داسې انګېرله،هرهغه چې دی وايي اپلتي،بې معني او دويلو نه دی.پخوا به هغه داسې احساسوله چې دده خبرې دهغه په ذهن او په ناويله بڼه خورا ښې،بامعني او په زړه پورې خو همدا چې دی يې دويلو تکل کوي،له هغو نه سادګي او حماقت وربېږي..خو اوس برعکس ده به چې هرڅه ويل خورا ښايسته او په زړه پورې به ګڼل کېدل..ان انا پالوفنا به که کومه ستاينه په زړه کې لرله او هغه به يې نه څرګندوله،خو بيا هم څرګنده وه چې هغه څه يادول غواړي،خو يوازې ده ته د درناوي له امله نه غواړي هغه ووايي.

پيير،د ۱۸۰۲کال د ژمي په پيل کې ،له اناپالوفنې نه يوساده، ګلابي رنګه بلنليک ترلاسه کړ.په دې بلنليک کې داهم ليکل شوي و:زما په مېلمستيا کې به دې،له ښکلې ايلين سره چې په کتو يې سترګې نه مړېږي،هم ديدن وشي.

پيير چې دا کرښې ولوستلې،دلومړي ځل لپاره يې دا په زړه کې تېره شوه چې دده او ايلين ترمنځ داسې کوم اړيکي ټينګ شوي چې نور خلک ترې خبرشوي دي. دغې خبرې دی له يوې خوا ځکه خورا ډارکړی وچې تصور يې کاوه دده پر اوږو کوم داسې پيټي وراچول شوي چې په ده درندوالي کوي او له بلې خوا هغه ته دې ليک ديوې خوږې بلنې بڼه لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اناپالوفنا دې مېلمستیا تر لومړې هغې نه څه توپير نه درلود، خو یوازداني نوې څېره چې کوربنې د هغې هرکلي کاوه، نه مورتمار، بلکې له برلین نه راغلي ديپلومات و چې په پوستدام کې د ټولواک الکساندر د پاتې کېدو ځينې ناخپاره شوي خبرونه یې راوړي او ویل یې چې څنګه یې په برلین کې يو وار بيا دوو دوستانو د بشر د دښمن په وړاندې د دربېدو لپاره ديو والي او ملګر توب پرحق ټينګار وکړ. انا پاولوفنې، د هغه وروستی ماتم له کبله چې پر دغه ځوان د پلار يعني د ګراف بېزاو خوف، د مړينې له کبله راغلی و، پيير، ته په ويرمنه او خواشداني بڼه هرکلي وواېه، ټولو دا خپله دنده ګڼله، په پيير دا ومني چې د پلار مرګ، د هغه پلار مرګ چې ده هېڅ نه پېژانده، دی خورا ډېر خواشينی کړی دی او دغه وير چې دانا پالوفنې پر څېرې لمن غوړولې ده، هغې ستري خواشداني ته ورته دی چې د ملکې ماریا فیودروفنا د نوم په اخيستو سره به د هغې پر بشرې راخورېده. پيير، پر دغو ټولو کړو وياړېده. اناپاولوفنا په مېلمه پالنه کې د خپل ځانګړې هنر له مخې مېلمانه په ځوډلو وويشل. نوي راغلي ديپلماتان يې د مشرانو هغې ډلې ته چې سردارو اسيلي او جنرال په کې ناست و، بدرګه کړل او بله ډله د هغه ميز په شا وخوا کې سره کېناستل چې چای څکل کېده. پيير غوښتل چې له لمړې ډلې سره کيني، خو اناپاولوفنا چې د جګړې د ډګر د جنرال په څېر خورا ګبنې اخيستيې وه او په زرګونه نوي خيالونه يې په خيال کې لامبل، همدا چې د پيير لېوالتيا يې دلويانو د ډلې خواته وليده، په کرار يې په لستوني کېښکود او ورته وې ويل:

- لږ تم شه، نن مې تاسو لپاره بل خيال په سر کې دی.

بيا يې ايلين ته غلچک و رولېږه، وموسبده او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مهرباني ایلین !تاسو باید زما پرخوارې ترور چې خورا ورته ګرانه یې، مهربانه واوسئ او یو لس دقیقې یې ترڅنګه کېنئ،دادی داهم دغه ځوان ګراف چې تاسو به بدرګه کړي او خپتیان ته به مو پربنږدي.

دښکلو نه ښکلې ایلین د ترور پلو وخوځېده،خو اناپالوفنا پېیر راتم او داسې یې ورته وښوده چې ګواکې ده ته یې لا وروستۍ سپارښتنې کړې نه ده.هغې ښایسته ښکلا ته چې دښاپېرۍ په شان یې خوځېده،اشاره وکړه او وې ویل:

-په رښتیا چې خورا ښکلې او زړه راښکونکې ده.څه خوځېدا لري؟ په رښتیا چې بې سارې ده.داسې چټ پېغلتوب،دا ښکلي کړه وړه،دا په خبرو کې نه انځوربږي،دا ځیرکتا ،دا ټول دزړه له کومې باید احساس شي،سخ دهغه ځوان چې داسې ناوې یې په برخه شي،له هغې سره به آن هغه ځوان چې هېڅوک او په ټولنه کې کوم دریځ نه لري،لوړ او درناوي وړدریځ ترلاسه کړي،همداسې نه ده ؟ما یوازې غوښتل چې ستا خوښه څرګنده کړم.

تر دې خبرو نه وروسته اناپالوفنې هغه پرېښود.

پېیر دایلین په هکله داناپاولوفنې ټولو ستاینو ته دمننې سر وښوراوه او که کله په رښتیا هغه دایلین په هکله کوم فکر کړی وای،دهغې له ښکلا ،ښایسته تګ اوله حیرانوونکې چوپتیانه پرته به یې دبل څه په اړه فکر نه وای کړی.

ترور دخپل یوازېتوب په ګوښه کې دغه پېغله اوځوان ومنل،خو داسې بربښېده چې غواړي د ایلین د ښکلا نه خپله حیراني پټه اودهغې پر ځای له اناپالوفنې نه خپله کرکه څرګنده کړي.هغې خپلې خورځې(اناپالوفنا )ته داسې کتل چې ګواکې له هغې نه پوښتي چې په دې مېلمنو دا څه وکړي.خو اناپالوفنا چې غوښتل له هغو نه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، یو وار بیا د پېیر، لوستونې کېښکود او ایلین ته یې په اشارې سره وویل:

-هیله لرم نور ونه وایي چې نارینه زما په کورکې خپه کېږي.

ایلین وموسېده او موسکا یې داسې وه چې ګواکې وایي:

-څنګه کېږي، چې به څوک ما ووینې او له ښکلا نه به مې په حیرت کې نه شي؟ ترور، په یو ټوخې سره غاړې خلاصې او لاړې له ستونې تېرې کړې او په فرانسوي ژبه یې و ویل:

-د ایلین له لیدو نه خورا خوشاله شوی دی.بیا یې پېیر ته مخ وروا ړاوه او په همدې ادا ،ډول او خبرو یې د پېیر ،هرکلي وکړ.ایلین د دې ستومانوونکې او خواشینې مرکې په لړ کې پېیر ته سترګې وروغړولې او هغه ته وموسېده.هماغه بربنډه او ښکلې موسکا چې هغې ټولو ته وربښله.پېیر ،له دغې لاسې موسکا سره داسې روږدی شوی و چې د هغه لپاره یې هېڅ معنی نه لرله.ترور په دې لړ کې د پېیرد پلار ،خدای بښلي بېزاو خوف د تنباکمروړې (هغه وړه کڅوړه چې روسانو به د تازه ساتلو لپاره تنباکو په کې ساتل) په هکله غږېدله او خپله هغه یې هم هغو ته وروښوده.شهزادګۍ ایلین له ترور نه غوښتنه وکړه اجازه ورکړي، پر تنباکرومړې، د ترور د مېړه دانځور شوی تصویر ننداره وکړي.

پېیر په داسې حال کې چې غوږ یې د ګاونډ مېزخبرو ته څک و، پر مېز ورخم شو چې تنباکمروړه واخلي او وې ویل:

-دا انځور به د وینس له انځورونو نه وي(وینس د هغه وخت له خورا ښو انځورګرو نه و ).هغه هڅه وکړه له مېزه راتاو شي،خو ترور تنباکمرړه،د ایلین له شا نه هغه ته ورکړه.ایلین سر ټیټ کړ چې ترور ته خنډ پېښ نه کړي،د پېیر خواته یې مخ ورواړاوه او وموسېده.هغې د تل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شان ماښامنی داسې کميس چې دهغې زمانې له دود سره يې ګريوان او ملا خورا پرانستي وو، اغوستی و.دهغې ټټرچې تل هغه ته مرمرين برېښېده،دومره هغه ته نږدې شوی و چې دهغه نږدې ليدو سترګو بې له ارادې،دهغې دټټر او غاړې دښکلاوو اوزړه راښکونکو خوځېدااوو توپير کولای شو.دهغې شونډې دومره دهغې اوږو ته ورلنډې شوې وې، که لږخوځېدلې وای، پر هغو به ورښتې وای.پيير دهغې دبدن تودوالی او خوځېدونکې عطر له ورايه احساسول او دهغې پر ټټر يې دهغې دصليب دخوځېدا غږ اورېده.هغه دهغې مرمرينه ښکلا چې له جامو سره په نغښتېدو کې يوځای شوې وو،نه ليده بلکې په دې جامو کې له سترګو دپټېدو لپاره دمروړل شوي بدن ښکلاوې يې احساسولې او دهغو له نازه دخوځېدا غږيې اورېده.دا چې هغه يې وليده،نور يې نه شو کولای په بل ډول اټکل وکړي،لکه هغه شان چې موږ نه شو کولای زموږله خوا دمنل شوې دوکې د منلو سپړنه وکړو.

ايلين،هغه ته کتل،مخامخ يې هغه ته کتل،په تورو ځلېدونکو سترګو يې هغه ته کتل او وموسېده،د ايلين دې موسکا، ګواکې هغه ته ويل:

- تاسو لاتراوسه ليدلي نه و چې زه څنګه ښکلې يم؟ تاسو نه پوهېدي چې زه ښځه يم ؟ هو کې زه يوه ښکلې ښځه يم چې دهرچا او له هغه ډلې نه دتا ښځه کېدای شم.

په همدې شېبه کې پيير داسې وانګېرله چې ايلين نه يوازې کولای شي بلکې بايد دهغه ښځه شي او پرته له دې بل ډول ناشونې ده.په هغه شېبه کې هغه ته هرڅه،ده ته داسې ډاډمن ښکارېدل چې ته به وايې دی دايلين ترڅنګ په کليسا کې ولاړ دي (روسان دکوژدې او واده په وخت کې کليسا ته ځي).خو په دې نه پوهېده چې دا به څنګه او څه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره شي؟ او آن په دې هم نه پوهېده چې دا ښه کار دی که بد؟ (که څه هم په زړه کې یې تېرېده چې دغه واده به په کوم نامعلوم دلیل ښه پای ونه لري). خو په دې ډاډه و چې هغه کېدونکی دی.

پېییر، سترګې ټيټې او ښېرته یې پورته کړې، غوښتل یې بیا ایلین ته دیوې داسې ښکلې ښاپېرۍ په شان وګوري، لکه هره ورځ یې چې کتل، خو نوریې نو نه شو کولای، هغې ته دیوې ښاپېرۍ په توګه وګوري. دا هغه څه ته ورته و، چې کله دلړو له شانه کوم لوړ شنبلي ته ګورو او تصور کوو چې ونه ده، خو کله چې بیا نېږدې ورشو، بیا هغه درته هسې ښکلې ونه بريښي. ده هم نه نور نه شو کولای هغې ته د پردې په سترګه وګوري. هغه ده ته خورا نېږدې شوې وه. هغه پر هغه واکمنه شوې وه. د پېیرله پرېکړې او ارادې پرته اوس ددوی ترمنځ بل هېڅ خنډ پاتې نه و.

په دې وخت کې دانا پاولوفنا غږ انګازې وکړې:

- ډېره ښه ده! ښه به دا وي چې تاسې دخپل زړه خوالې ته پرېږدم، راته بريښي چې وخت مو خورا ښه تېرېږي.

پېیرله ډار سره مل ځانسره وويل چې د غندنې کوم وړ څه یې نه وي کړي، تک سور شو، شا او خوا ته یې وکتل. هغه داسې وانګېرله چې ټول لکه دده په شان پر هغه څه پوهېږي چې ده ته ور پېښ شول.

تر لږ ځنډ نه وروسته چې هغه بلې لويې ډلې ته ورغی، آنا پالوفنې هغه ته وويل:

- وای چې د سن پترزبورګ کور دې جوړ وای (دا رښتيا یوه مهندس ويلي و چې دا کور هغه ته په کار دی، خو خپله په دې نه پوهېده چې ولې يې په سن پترزبورګ کې خپل دا ستر کور جوړ اوه.)

هغې په موسکا موسکا، سردار واسیلي ته ته په کتو کې، خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو ته دوام ورکړ:

- ډېر ښه کوئ، خو ګوره چې د سردار واسيلي له کوره به بلې خوا ته نه خوځېږې. دلته موځای خورا ښه دی، د دغه شان دوست لرل د خدای خورا لويه پيرزوينه ده. زه خو په دې اړه په يو نيم څه پوهېږم، همداسې نه ده؟ تاسو ځينو مشورو ته اړتيا لرئ. تاسو له مانه مه خپه کېږئ چې زه ديوې بوډۍ په شان غږېږم. هغه لږه چوپه شوه... بيا يې وويل:

-خو که د واده هيله لرئ، دانو بيا بله خبره ده او دواړه يې د سترګو په کتو کې مخامخ کړل. پيير او ايلين يو اوبل ته نه کتل، خو ايلين، هغه ته په خورا بې ساري ډول نېږدې وه. پيير هغې ته په بنګهاري څه وويل او تک سور شو.

کله چې هغه کورته راستون شو، تر ډېره وخته پورې يې نه شو کولای ويده شي، هغه په دې اړه فکر کاوه چې په ده څه شوي دي؟هو کې په ده څه پېښه شوې ده؟ هېڅ ! يوازې او يوازې په دې پوه شوی و، هغه ايلين چې له وړو کتوبه نه پېژني او خلکو به ويل چې خورا ښکلې ده، ده به هسې ويل: هو کې ښکلې ده ! او کېدای شي اوس دغه ښځه دده شي.

له ځانسره به يې ويل:

-هغه ساده ده، ماخپله ويل چې هغه ساده ده. دا خو مينه نه ده. برعکس هغه څه چې دې زما په زړه کې راتخنولي دي، په هغه کې کوم ناسپېڅلي څه، نغښتي دي. کوم ناسپېڅلي نارا و څه. ويل کېږي چې دهغې دتره زوی آناتول په دې او دا په هغه مين وو، له همدې کبله يې اناتول له هغه لرې کړی. آه وروړته يې ايپوليت... ته ګورئ، پلار يې سردار واسيلي... نه !نه !دا يو هم د کار نه دي. په هماغه شېبه کې يې چې دا خيالونه په ذهن کې ګرځېدل، راګرځېدل او هغه ځان موسکا ته جوړاوه چې يو کنډک نور خيالونو چې، له پخوانو هغونه را خوټېدل، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده يې وزرونه راخوره کړل.هغه په داسې حال کې چې د دغو خيالونو د ناسپېڅلتيا او سپکاوي په اړه فکرکاوه ،دا هيله او خيال يې هم لاره چې، که هغه د ده ښځه شي.دی به ورته ګران وي، څنګه به هغه بلکل بله او ښه ښځه وي،نه هغه شان بده چې ده د هغې په هکله اورېدلي و.او هغه بيا هغه نجلۍ ليده چې نه د سردار و اسيلي لوربلکې هغه نازولې او مسته ښځه چې نريو فولادي جامو کې يې نازک ځان مروړلی و.او بيا به يې له ځانسره ويل:

-دا دمنلو وړ نه ده چې په دې نکاح کې دې کوم ناولي او د سپکاوي وړ څه نغښتي وي،ولې !ولې مې دغه خيالونه تر دې نه مخکې په خيال کې نه راتله.هغه د ايلين او نورو هغو کسانو خبرې او غلچکونه چې دوی يې يوځای ليدلي وو او د اناپالوفنا خبرې او اشارې يې چې د کور په اړه په خبرو کې کړې وې وريادکړل.دغه راز ده په زړه کې،د سردار واسيلي او نورو اشارې او زرګونې کنايې وريادې شوې او له دې ټولو نه يې ډار په زړه ورننوت.ايا هغه مخکې له مخې ځان په کومه ولکه کې چې بايد ونه ننبلوی،نښلولی نه و ؟خو له دې ټولو سره سره په هماغه شېبه کې چې ده په زړه کې د دغه خيالونو د پايلې پرېکړه کوله،د ايلين ښکلې بشره له خپلې ټولې ښکلا سره د ده د زړه په هينداره کې راڅرګند بده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

د ۱۸۰۵کال دنوامبر(مني)په میاشت کې باید سردار واسیلي دڅلور ولایتو د څارنې لپاره لاړ شي.هغه دا تکل ددې لپاره کړی و چې دخپلې بې پایو شتمنیو دڅارنې ترڅنګ، په یوه ښار کې له مېشت غونډ نه خپل زوی اناتولي هم له ځانسره مل او په ګډه دمشر سردار نیکولای اندرېوویچ بالکونسکي دیدن ته په دې هیله ورولې چې ددغه بوډا بډای لور خپل زوی ته کوژده کړي، خو ددې سفر او خیریه چارې نه مخکې،باید د پېبیرکارونه چې په دې وروستیو وختونو کې به کری ورځ ددوی کره و ، سره جوړ کړي.هو کې د سردارواسیلي کره چې تل به دایلین په وړاندې ګبنهي اخیستی او تک سور کېده (هماغه شان چې مین دمینې په وړاندې وي ) خو پېبیر دربیاری تکل نه لاره.

سردار واسیلي یو سهارپه دې چرتونو کې ډوب و ، چې دا پېبیر څومره دده په وړاندې پورورلی دی (خو پروا نه لري، خدای دې دهغه مل شي )دلته یې دده په وړاندې کړه وړه هومره ښه نه دي، سوړ اسویلی یې وویست او وې ویل:

- هره چاره یو پای لري.هغه په ویاړ او کبر سره وویل: ځواني ده...بې عقلي ده...خو هرڅه چې دي، باید نور نو پای ته ورسېږي، بس ده ،خدای دې دهغه مل شي.بل سبا د ایلین جانې دنامه دجشن ورځ ده، غواړم ځینې کسان رامېلمانه کړم، هیله لرم هغه باید پوه شي او خپل پور پرې کړي او که دا سې یې ونه کړه ،زه خو پلار یم ،زه باید دا خبره غوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم،دا نورزما کار دی.

دانا پاولوفنا له مېلمستيا او لـه هغې شپې نـه چې د پيېرلـه سترګو خوب تښتېدلی و او پرېکړه يې کړې وه چې له ايلين سره واده بد مرغي ده او بايد ځان تـرې وژغوري،يوه نيمه مياشت تېره شوې وه،خو دی لاهمالته پاتې و.هغه په خورا نا ارامۍ سره دا احساسوله چې دلته دده پاتې کېدل د خلکو لپاره ورځ تر ورځې د دوی د نېږدې والي معني لري (مينه دې پټه پاتې مه شه-رب دې رسوا کړي چې تاوان دربانـدې شمـه ) هغه داسې انګېرله چې دی ددې اړيکو د شلولو توان نه لري،ځکه د غـه کار به دده لپاره دلويې رسوايۍ سبب شي.که څه هم هغـه کولای شو ،دا اړيکي کرار کرار ساړه کړي،خو داسې ورځ نه وه،چې د سردار واسيلي کره مېلمستيا (که څه هم هغه په مېلمستياو کې تکړه نه و )او بندار نـه وي،دی اړ و ،چې پـه دې ټولـو مېلمسـتياوو کـې ګډون ولـري...سـردار واسيلي به چې کومه شپه پـه دغـو بندارنو کې ګډون کاوه ،همدا چې د پيېر خواتـه بـه نېږدې شو ،د هغه لاس بـه يې ښکـته کښېکوداو خپـل ګـونځې او ښـه رخيلـي غومبـوري بـه يـې هغـه تـه د ښـکلولو لپـاره ورو راندې کړه او ورته ويل به يې:

-تر سبا پورې !او يا هم:

-ترماښـامنۍ پـورې !کنـه سـتا ليـدل خو هسـې هـم ګـران دی !او يـا داچې:

-يوا زې ستا لپاره پاتې کېږم !خو له هغه سره نور هېڅ نه غږېده.پيېر نه شو کولای د هغه خيالات وغولوی.هغه به هره ورځ ځان ته دا يـوه خبـره کوله:

-بالاخره بايد دا پـه ډاګه کړم،هغه بايد وپېژنم،هغه څوک ده؟ پخـوا تېروتلی وم او کـه اوس تېروتلی يم؟نـه نـه !هغـه سـاده او بې عقلـه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، نه، نه، هغه خورا ښه نجلۍ ده. کله کله به يې بيا په زړه کې راوګرځېده:

- هغه هېڅکله خواشيني او تلوار نه کاوه او اوس يې هم نه کوي، په دې معنې چې هغه بې عقله نه ده، هغه لړ او پر ځای غږېږي. کله ناکله به يې له هغې سره خبرې پيل او ده به په لوړ آواز هغې ته خپل خيالات ځرګندول، دآوازو په اړه به ورته غږېده، خو هر وار به ايلين يا په خورا لنډه او يا به يې دنيوکو په ژبه چې دا دې ته په زړه پورې نه ده او يا به يې هم له موسکا او غلچک سره مل په پټه خوله پېبيرته د درناوي په ښه دا کار ترسره کاوه....

له هغه سره د خبرو په وخت کې، دايلين پر شونډو له خوښۍ ډکه موسکا (چې يوازې يې پېبير پورې اړه لرله) او پر هغه ددې دډاډ ښه وه، خورېدله. په هغې موسکا کې دهغې له ورځنۍ او د ښکلا لپاره موسکا نه، ژور څه پراته و. پېبير په دې پوهېده چې ټول دې ته سترګې په لاره دي چې دی خوله پرانيزي او له دغه برېد نه واوړي او په دې هم پوهېده چې مخکې يا وروسته دی بايد دغه کار ترسره کړي، خو کوم ناځرګنده او زورونکی احساس دهغه پر زړه لمنه خوره کړې وه. په دې يوه، يوه نيمه مياشت کې، هغه دا احساسوله چې هغه ورځ تورورځ په دې زورونکي ورخ کې لا ډوبېږي، نوځکه به يې کله له ځانسره وويل:

-ښه ښه ! دا نو څه دي؟ غوڅه خبره په کار ده. ايا زه ددغه شان يوه غوڅ ګام اخيستو توان نه لرم؟

هغه غوښتل دغه زغرد ګام واخلي، مګر هغه په ويرې دا احساسوله، هغه توان چې ده په ځان کې ليدلی و اوس يې په رښتيا په ځان کې نه ويني. پېبير دهغو وګړو په ډله کې راته چې يوازې هغه وخت يې د پياوړتيا او قوت احساس کاوه چې ځان به يې چور له ګناه نه پاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سپېڅلې ګاڼه، خو له هغې ورځې وروسته چې هغه داناپاولوفنا په کورکې پرتنبکمرورې (د تنباکو کڅوړه) د خمېدو له شپې نه د مينې د اور په سين کې لاهو شوې و، په نا آګانه توګه يې ځان ګنهګار ګاڼه او همدې احساس له ده نه د تکل او پرېکړې احساس هم اخيستی و.

داېلين د نوم د جشن په ورځ د سردار واسيلي په کورکې، د هغو يو لږ شمېر خورا نږدې کسان د شهزادګۍ په وينا خپل خپلوان، د مانېا منۍ لپاره راټول شوي وو. د غو ټولو خپلو خپلوانو ته په يو ډول نه يو ډول ورپوهول شوي و، چې په دې مېلمستيا کې به د جشن د خاوندې ايلين برخيلک او بخت څرګند شي. ټول مېلمانه د مېلمستيا د مېز پرشا او خوا ناست وو. شهزادګۍ کوراګينا، چې پخوا يې د ښکلا خبرې لور په لور خورې وې، اوس خورا څوربه و، د مېز سرته د کوربنۍ پر ځای ناسته وه. د مېز دواړوو خواته ويا ړمن، درانه مېلمانه، زوړ جنرال، د هغه مېرمن او اناپالوفنا شرر ناست وو. د مېز بل سر ته ځوانو او لا نه پېژندل شوي مېلمنو ځای نيولی وو او همالته د کوربنو په توګه ايلين او پيېر څنګ پر څنګ کېناستل. سردار واسيلي ډوډۍ نه خوړله. هغه د مېز ترشا او خوا تاوېده. ده به کله يوه او کله بل ته ست کاوه، کله به ديوه خوا او کله به د بل څنګ ته کېناست او د ايلين او پيېر نه پرته به يې په خورا خوښۍ او د زړه له کومې ټولو ته د ښې اشتها غوښتنه کوله. هغه د اسې انګېرله چې اصلاً د غه دوه تنه نهويني او يا د لته نه شته.. پر مېز د خوښۍ او مستۍ لمن خوره وه، له ايلين او پيېره پرته ټول د خوښۍ په سين کې لاهو وو، ټولو خندل. پيېر او ايلين يوازيني کسان وو چې چوپه خوله ناست وو. کله کله به د هغو پر شونډو يو ناليدونکې موسکا ... خوره شوه... سردار واسيلي هم په کړس کړس خندل.. د خندا په منځ کې به يې کله ناکله خپلې لور ته هم ورو کتل. کله يې چې خندل، بشره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې برېښېده چې ته به وايي، دا په زړه کې وايي:

-ښه ده !ښه ده ! هرڅه جوړ دي، همدا نن شپه باید هرڅه خلاص شي.آنا پالوفنا هغه ته دګوابښ په نښه ګوته وښوروله، خو سردار واسیلي دهغې په کتو کې چې په دې وخت کې یوه شېبه پر پېیر تم شو ،دخپل راتلونکي زوم او دلور د نیکمرغۍ مبارکي ولوستله.مشرې شهزادګۍ له ساړه اسویلي سره جوخت په داسې حال کې چې خپل څنګ ته ناستو مېلمنو ته یې د شرابو دګکلو ست کاوه په غمجن، خواشیني او مړاوي غلچک لور ته وکتل او ګواکې دهغې دې غلچ ک غوښتل دا ووایي، چې:

-هو ګرانو !نور نو موږ ته پرته له دې چې کېنو او خپل خواږه شراب وڅکو بل څه نه دي پاتې.له دې وروسته ددې ځوانانو وار راسېدلي چې په نیکمرغۍ کې ژوند وکړي....

پېیر داسې انګېرله چې ددې بندار ټولې خبرې او خوښۍ په ده راچورلي او له دې کبله خورا او بې پایه خوشاله و ،خو له بله پلوه به یې کله ناکله دشرم احساس کاوه.هغه ځان دهغه چا په شان انګېره چې په کومه چاره کې خورا ډوب شوی دی.داسې چې پرته له دې نه بل هېڅ څه نه ویني، هېڅوک نه اوري او په هېڅ شي نه پوهېږي، خو کله کله به یې په ډېره تنه بڼه درښتیاوو کومې لړې او دهغې اغېز په چټکې پر ذهن منګولې راخورې کړې. هغه له ځانسره ویل:

-او داده هرڅه پای ته رسېدلي ! خو داڅنګه داسې وشول؟ داسې ژر او ناخبره ! اوس په دې پوهېږم چې دا کار نه ایلین لپاره، نه یوازې زما لپاره بلکې دټولو لپاره باید ترسره شي.دوی ټول په داسې بې صبرۍ، ډاډ او هیلې دې ته سترګه په لاره دي چې دا کوژده وشي، زه په هېڅ ډول نه شم کولای دوی ناهیله کړم، خو دا به څنګه وشي؟ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم !خو دا کار کېدونکی او هرمرو کېدونکی دی.پېير دده څنګ ته ناستو بربنډو ښکلو اوږو ته چې مخامخ دده تر سترګو لاندې وې، کتل.

ناڅاپه يې د شرم احساس وکړ.دا شرم له دې کبله وچې دده ټولو پام ځانته را اړولی و ،دا له دې کبله و چې ټولو ده ته دبختور په سترګه کتل،دا شرم له دې کبله وچې دپاريس ( پاريس په لرغوني يونان کې دپريام په نامه دپاچا ناښکلی زوی وچې د ميلانس نه يې دهغه ايلين نومې ښځه بې لارې کړې وه ) په څېرېې سره له ټول ناښکلتوبه ايلين خپله کړې وه ،خو ده په دې ځان ډاډه کاوه چې دا ټول کارونه بايد همدا ډول او همدا سې وي.ما هېڅ نه دې کړي او په دې کې هېڅ ملامت نه يم.او اصلا نه پوهېږم چې دا څنګه او چېرته راپيل شوي دي؟ کله چې له مسکوه له سردار واسيلي سره دې خواته راخوځېدو ،هغه وخت خو هېڅ خبره نه وه.بيا هم هېڅ څه دده دې خنډ نه وچې دهغه بلنه ونه منم او دلته دده په کورکې مېشت نه شم.وروسته مې له ايلين سره پانې کړې او يو وار مې دهغې کڅوړه له ځمکې راپورته او دې ته مې ورکړې ده،يو وار هم په ګاډۍ کې له هغې سره دچکر لپاره لاړم.دا ټولې پېښې څنګه پيل او په کوم ډول دلته راورسېدې؟

او اوس د کوژدنې په توګه دناوې څنګ ته ناست و.دی هغه اوري،دهغې دسا ويستل احساسوي. دهغې ښکلې خوځېدا او ښکلا ويني او دزړه تر تله پرې پوهېږي.کله به يې ناڅاپه تصور وکړ چې دا ايلين نه بلکې په خپله دی، دی چې داسې په بې ساري ډول ښکلی دی چې دټولو سترګې ده ته رااوړي،نو له همدې کبله به ډډ کېناست، ټټر به يې وويست،غاړه به يې دنګه کړه او له خپلې نيکمرغۍ نه به دخوښيو په سيند کې لاهو شو. ناڅاپه يې يو آشنا ،آشنا غږ تر غوږه شو چې له ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې د څه شي پوښتنه کوله او بيا يې پوښتنه کوله، خو پيير دومره بوخت وچې نه پوهېده، هغه غبرګ ته څه وايي.دا سردار واسيلي و چې دريېم واريې وپوښتل:

-له تا پوښتنه کوم ،تا له بالکونسکي نه وروستی ليک څه وخت ترلاسه کړی و؟ نن داسې له ځانه هم ورک غوندې يې، ګرانه!

سردار واسيلي خندل او پيير ليدل چې ټول او ټول ده او ايلين ته موسېږي. اوله ځانسره يې وويل:

- ښه نو !څه وکړو ،ته په ټولو پوهېږئ.نو څه وکړو؟ دا ټول رښتيا هم همداسې دي.او خپله هم موسېده ،هماغه کمکۍ او ماشومه وزمه موسکا او ايلين هم موسېده.

سردار واسيلي په داسې يوه ژبه چې ګواکې پر دې بلې پوښتنې سرخلاصونه، د خبرو د پای ته رسولو لپاره هرومرو دي،وويل:

-ښه ودې نه ويل،چې رارسېدلی ليک د الموتس و؟

پيير په چرت کې لاړ او له ځانسره يې وويل:

څنګه کېدای شي د دغه شان اپلتو په هکله فکر او خبرې وشي؟سوړ اسويلی يې وويست او وې ويل:

-هو کې د الموتس و.

تر ډوډۍ وروسته پيير خپله نجلۍ، نورو مېلمنو پسې لوی صالون ته بدرګه کړه.مېلمانه کرار کرار وتل.ځينې له ايلين سره له خدای پامانۍ پرته ځکه وتل چې نه يې غوښتل له پيير سره د هغې د نوې بوختيا خنډ شي او ځينې به بيا کومه شېبه ورنږدې شول او د سترګو په رپ کې به يې مخه ښه وکړه، وبه خوځېدل او نه يې پرېښودل چې ايلين او پيير هغوي بدرګه کړي.ديپلومات چې د هرکليو له تالاره وت،خواشينی او چپ و.هغه ته د خپلې ديپلوماتي دريځ،د پيير د دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکمرغۍ په کچه، هسې یوه کوچنۍ لوبه بربښېده.زاړه جنرال دخپلې ښځې ددې پوښتنې په ځواب کې چې دپښې خوږ دې څنګه دي، په خورا قهر او غړمبېدو وویل:

- دا زما ښځه ګوره !دا احمقه بوډۍ ده،هوکې دا ایلین که پنځوس کلنه هم شي، همدا سې ښکلې به وي.

آنا پالوفنا په داسې حال کې چې دمشرې شهزادګۍ لاس یې ښکلول،هغې ته په غوږ کې وویل:

- داسې راته برېښې چې کولای شو تاسو ته مبارکي ووایو ،که سر مې نه خوږېدای، هرومرو به پاتې شوې وای.

مشرې شهزادګۍ هېڅ ځواب ورنه کړ،دهغې په زړه کې دلور له نیکمرغۍ سره رخه را په لمسېدو وه.

په دغه وخت کې چې مېلمانه بدرګه کېدل،پېیر،په واړه تالار کې له ایلین سره یوازې او څنګ پر څنګ ناست پاتې شول.

په تېره یوه، یوه نیمه میاشت کې پېیر په وار وارله ایلین سره داسې یوازې پاتې شوی نه و او هېڅکله یې له هغې سره د مینتوب او زړه بایلودو خبرې نه وې کړې،خو نن شپه یې داسې انګېرله چې دی دې ته اړ دی چې په دې هکله کوم څه ووایي.ددې ټولو خبرو سره سره هغه نه شو کولای دغه وروستی ګام پورته کړي، هغه ډېر شرمېده ،هغه داسې انګېرله چې دایلین ترڅنګه یې دبل کوم بل چا ځای ولکه کړی دی.دهغه په زړه کې یو آواز دپورته کېدو تکل کاوه چې ویل یې:

-دا نیکمرغي او خوښي دهغو لپاره دي،هغه څه چې ته یې لرې،هغوی یې نه لري.خو دی اړ و چې یوڅه ووایي،نوله همدې کبله په غږېدا شو او له ایلین نه یې وپوښتل چې ایا پرونۍ مېلمستیا یې خوښه شوه او کنه.؟ ایلین،دتل په شان په ډاګه خو ساده چې ددې دخبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړتیا وه، ځواب ورکړچې د دې دنامه سړنی جشن په ټول ژوند کې د دې لپاره ترټولو ښه جشن و.د دوی له خپلوانو نه ځینې، ځینې لا هم پاتې او په لوی صالون کې ناست وو. سردار واسیلي چې په کرار کرار ګامونه ځښنول پېییر ته ورنږدې شو.پېییر پاڅېد او وې ویل چې ناوخته شوې ده،ښه به دا وي چې لاړ شو.سردار واسیلي په پوښتیز او برند غلچک هغه ته داسې په حیرت وکتل، تا به ویل چې ګواکې امکان لري تېروتلی دی،خو بیا یې خپل کتل لږ نرم کړل،د هغه لاس یې راونیو ،هغه یې ببرته کېناوه او په مهربانۍ هغه ته وموسېد. بیا یې سمدلاسه خپلې لور ته مخ ورواړاوه او په خورا نرمه او مینه ناکه ژبه چې د هغو میندو او پلرونو په شان چې خپل ماشومان له کوچنیوالي په ناز لویه وي،خو ده نه په دې ډول بلکې د تقلید په بڼه وویل:

-ښه نازولې څنګه یې؟ او تر دې وروسته یې په داسې حال کې چې د خپل واسکټ تنۍ پرانستلې،مخ پېییر ته وروا ړاوه او وې ویل:

-سرګي کوزمیچ...له هره پلوه...

سردار واسیلي،همداسې له هره پلوه غړېده او څرګنده نه وه چې څه وایي...پېییر په دې پوه شو چې سردار واسیلي ګېڼۍ اخیستی او نه پوهېږي چې څه وایي،دی ناڅاپه پاڅېد او په داسې حال کې چې شونډو لاندې یې څه ویل،له تالاره ووت.د مخورو په دغه شان یوه مېلمستیا کې،د سردار واسیلي په څېر دیوه پېژندل شوي، دغه حالت پېییر خورا خوابدی کړ او ایلین ته یې وکتل.ایلین هم خوابدې برېښېده، کتو یې ویل:

- نو څه وو ایو،تاسو خپله ملامته یاستئ.

پېییر له ځانسره ویل:

-باید دا ګام هرو مرو پورته کړم،خو زه یې نه شم کولای.هغه بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې، بیا د سرګي کوزمیچ او نورې خبرې پیل کړې...

کله چې سردار واسیلي لوی تالار ته راننوت، دغه مېرمنه، په کراره له یوې بوډۍ سره د پېیر په اړه غږېده:

-البته چې خورا ښه زوم دی، خو زما د ګرانې نیکمرغي...

بوډۍ په ځواب کې وویل:

- د ودونو، قسمتونه په آسمانو کې جوړېږي.

سردار واسیلي د دې لپاره چې هغوی ته وښيي چې دی یې خبرې نه اوري، نو لاړ، لرې د کوچ په یوه کنج کې پر ولاړه څوکۍ کېناست. سترګې یې داسې وتړلې چې ګواکې سرسام شوی دی او سر یې لوېږي، هغه ناڅاپه سترګې وغړولې او خپلې ښځې ته یې وویل:

-ته لاړه شه وګوره، هغوی څه کوي.

مشره شهزادګۍ پاڅېده، د وره خوا ته لاړه، دوره له څنګه تېره شوه او په خورا بې پروایۍ د واړه صالون منځ ته ور وکتل. پېیر او ایلین هماغه شان څنګ تر څنګ ناست وو او په کراره یې مرکه کوله. مشره شهزادګۍ راستنه شوه او خپل مېړه ته یې وویل:

-هماغسې د پخوا په شان.

سردار واسیلي سترګې برندې کړې، خوله یې یوې خوا ته کږه او غومبوري یې د ده د قهر او خوابدي د ځانګړتیا له مخې په رپېدو شول. ځان یې وخنډاوه او پاڅېد. په لوړ، خو لږ شان ته ځوړند سر، په ټینګو ګامونو، د ښځو له څنګه تېر او واړه تالار ته ورغی. په وړو خو تونډو او له خوښیو ډکو ګامونو، پېیر ته ورنږدې شو. د هغه څېره داسې ځېږه او پرېشانه وه چې پېیر یې په لیدو له ډاره پاڅېد.

سردار واسیلي وویل:

- شکر د خدای دی، مېرمنې مې هرڅه راته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په يوه لاس له پېيره غبې راتاو کړه، په بله خوا کې يې خپله لور پر ټټر کېښکودله او په داسې حال کې چې اواز يې رېږدېده، وويل:

- ګرانې لورې !دزړه سره، ډېر، ډېر خوشاله يم. او بيا يې پېير ته مخ وروا ړاوه او وې ويل:

-ستاپلار هم خورا راته ګران و. ايلين به هم ستا لپاره ښه مېرمن وي...خدای دې مبارکه کړي...مبارکه دې وي.

له خپلې لورنه يې غبې چاپېره کړه او بيا يې پېير په غېږ کې کېښکود او په خپله ګونځنې خوله يې پېير ښکل کړ. په دې وخت کې په رښتيا دهغه په اننګو کې اوښکې راراونې وې، هغه چيغه کړل:

-شهزادګۍ دې خواته راشه !

مشره شهزادګۍ دې خواته راغله. دهغې په سترګو کې هم اوښکې راشېوه شوې وې او هغې بلې بوډۍ هم په دستمال خپل مخ وچاوه. د پېير مخ يې سره ښکل کړاو هغه هم څو واره د زړه راښکونکې ايلين لاسونه مچو کړل. له څو شېبونه وروسته يې هغه دواړه بېرته يوازې پرېښودل.

پېير له ځانسره ويل:

-داټول بايد همداسې شوي وای، په بل ډول يې امکان نه لاره، نو له دې کبله په دې اړه ددې پوښتنو اجازه نه شته چې ښه شوي او که بد. البته زه وايم، ښه شوي، داځکه چې هرڅه په ډاګه او روښانه شول او هغه بې پايه زوربدنې پای ته ورسېدې.

په چوپه خوله يې دخپلې کوژدنې لاس راونيو او دهغې په ښکلې ټټر يې چې ښکته پورته کېده، سترګې ورخښې کړې.

په لوړ آواز يې غږ وکړ:-ايلين...او چوپ پاتې شو.

او په زړه کې يې تېره شوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-په داسې حالاتو کې يو ډول ځانګړې خبرې سره وايي.

خو په هېڅ ډول يې نه شو کولای ورپه زړه کړي چې د غه ځانګړې خبرې څه دي. پېير د هغې بشرې ته وکتل. ايلين لا پسې ده ته ورنېږدې شوه. اننګې يې لکه ګلاب داسې غوړېدلې وو. ايلين د پېير عينکو ته اشاره وکړه او وې ويل:

-آخ !دا لرې کړه، دا لا پسې...

پېير، عينکې لرې کړې. د عينکو د لرې کولو په وخت کې، د هغه په سترګو کې د عينکې سترګو له ځانګړتياوو پرته، يو ډول ګبنې او پوښتنيز حالات هم څرګند و. غوښتل يې چې د هغې په لاسونو ورټيټ او هغه ښکل کړي، خو ايلين د سر په يوې چټکې او زوروري خوځېدا خپلې شونډې، د هغه پر شونډو ورخښې کړې. پېير د هغې پر څېرې د پرېشانۍ را خورېدو او د هغې د تندي تريو بدو، سخت حيران کړی و.

پېير، په زړه کې وويل:

- اوس نو او به له ورخه واوښتې، هر څه پای ته ورسېدل، هو کې هغه راته ګرانه ده.

هغه څه چې په د غه شان حالاتو کې بايد ويل شوي وای، ورپه ياد شول، هغه وويل:

-تاسو راته ګرانه ياست.

خو دې خبرې د ده په ژبه داسې يوه ناوړه انګازه وکړه چې دی يې هم په ويلو تک سور شو.

يوه نيمه مياشت وروسته يې واده وکړ او لکه چې خلکو ويل يې، د ښکلې ښځې او ميليونو شتمنيو نيکمرغه خاوند، په پترېبورګ کې د ګراف بېزاوخوف د کورنۍ په نوي بيا جوړ شوي جلا لوی کور کې استوګن شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

مشر بالکونسکي، سردار نیکولای اندرېوویچ، د۱۸۰۵کال د دسامبر په میاشت کې د سردار واسیلي یو لیک ترلاسه کړ چې په هغه کې، خپل زوی سرګډ ددوی کره د راتګ نېټه لیکلې وه. هغه لیکلي و: «ښاغلیه جلالتمابه ! په یوه خبر نیز سفر تلونکی یم. په خورا مینې غواړم خپله لار سل ورسته لرې او ستا بختور دیدن خپل کړم. زما زوی اناتولي چې پوځ ته روان دی، په دې سفر کې ملګرتیا راسره کوي، هیله لرم هغه ته دا اجازې په ورکولو دا ویاړ وروبښئ، هغه پلار نی درناوي چې دزړه په تل کې تاسو ته لري، په خپله ستاسو حضور ته وړاندې کړي».

کمکی شهزادګی چې دا خبره واورېده، بې له ځنډه او بې له احتیاط یې وویل:

-دغه ده ! مېلمستاوو ته دماریا د وړلو اړتیا نه شته، زومان خپله مور ته را روان دي.

سردار نیکولای اندرېوویچ، تندی تریو کړ، خو هېڅ یې ونه ویل.

د دغه لیکه، دوې اونۍ وروسته یوماښام د سردار واسیلي چوپړان چې تر هغه نه مخکې روان وو، راورسېدل او بله ورځ زوی او پلار هم دلته وو.

مشر بالکونسکي هېڅکله د سردار واسیلي شخصیت غوره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګانه، په تېره بیا چې هغه د نویو پاچاهانو د پاول او بیا د الکساندر دوا کمنیو په وخت کې د واک او ویاړونو لوړو پوړلو ته رسېدلی و. او س دلیک له ځینو ټکو او کمکۍ شهزادګۍ له کنایو نه په دې پوه شو چې خبره چېرته او د واسیلي د شخصیت غوره نه ګڼل د نیکولای اندرېوویچ په زړه کې د سپکاوی په یو احساس بدل شو. کله به چې د هغه خبره یاده شوه، دی به همدا سې پرله پسې بنګېده. د سردار واسیلي د راتګ په ورځ د نیکولای اندرېوویچ طبیعت په ځانګړي ډول خورا بد او خلق یې ډېر په تنګ و. دا څرګنده نه وه چې د هغه خلق تنګي د سردار واسیلي له راتګه وه او یا دده خلق ځکه تنګ و چې لا د مخه د هغه خلق تنګ و، خو د هغه خلق تنګ و، او رښتیا خبره دا وه چې لا سهار یې خپل چوپړ تیخون ته سپارښتنه کړې وه چې معمار دې نن د ګزارش لپاره ده ته نه ورځي.

تیخون د معمار پام د سردار د ګامونو غږ ته ورواړاوه او وې ویل:

- اورئ! څنګه خوځېږي او پوندې پر ځمکه وهي. مو ږ د هغه له دې تګ سره آشنا یو...

خو د تل په شان سردار په نهو بجو چې خپل سمورغاړی بخمل رنګی کوټ په غاړه او له هماغه پوستکه خولۍ یې په سر وه، د چکر لپاره د باندې ووت. که څه هم تېره شپه واوره ورېدلې وه، خو په باغچې کې هغه لاره چې سردار نیکولای اندرووېچ به په کې ګرځېده، له واورو پاکه شوې وه. د واورو د پاکولو نښې دلارې دو وغاړو ته په کوټه شویو واورو کې لیدلې کېدې. د واورو په دغو کوټو کې یو دوه ځایه پاروګان خښ شوي وو. سردار په چوپتیا په ترېو تندي، له باغچې او له هغو کوټو نه چې چوپړانو به په کې او سېدل تېر شو او نوې جوړېدونکې ودانۍ یې وکتلې. د چوپړانو له هغه ساده مشره چې بشره او کړه یې خاوند ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وواو هغه يې تر کوره بدرګه کړی و ،وپوښتل:

- ښکه ګاډی تلای شي او کنه !

-ښاغلی سرداره !ډېره درنه واوره ده، ورته ويلي مې دي چې لويه لاره پاکه کړي.

سردار سر ښکته واچوه او دکور دمخې د دروازې زينو ته ورسېد.دچوپړانو مشر په زړه کې وويل:

-دخدای شکر دی چې دا درنه وريځ په خير تېره شوه او بيا يې زياته يې کړه:

- په داسې درنې واوره کې دګاډيو خوځېدل خورا ګران وي،اوربېدلي مې و چې ښاغلی وزير دجلالتماب سردار حضور ته راتلونکی دی.

سردار دچوپړانو مشرته مخ وروااړاوه،خپلې ځيرمنې سترګې يې پر هغه ور خښې او په تېره ساړه درانه غږيې وويل:

-څه دي وويل؟ ښاغلی وزير؟ کوم وزير؟ دچا په سپارښتنه؟ زما شهزادګۍ لور ته لارې نه پاکوي او دوزير لپاره...زه وزيرانو نه پېژنم.

-جلالتماب سرداره ما تصور کاوه چې...

د سردار آواز چې دم په دم لا جګېده، په خورا خواشداني او ژوليو ژوليو او پرې خبرو يې چيغه کړل:

-ته تصور کوي، کوم تصور ،زه به اوس تصور در وښيم.خپله لکړه يې پورته او پرهغه يې ور واره کړه، که چوپړ سر نه وای ټيټ کړای،لکړه به يط پر ککرۍ لګېدلې وای...

هغه په داسې حال کې چې هماغه شان غړمبېده، ويل يې:

-ژر واورې ببرته په لارو راخورې کړئ.په همدې بنګهارې، په چټکۍ خپلې کوټې ته ننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا تر غرمنۍ نه مخکې د سردار د بد طبیعت خبر شهزادګۍ ماریا او پېغلې بوري ین، ته رسېدلی او هغوی دواړه ورته سترګې په لاره وې. د پېغلې بوري ین، بشرې خوښي او خوشالي څرګندوله او داسې یې ښودله چې« له هېڅ څه نه خبره نه یم او داسې یم لکه د تل په شان» خو د شهزادګۍ ماریا ،رنګ الوتی و ،ویرجنه برېښېده او سترګې یې ښکته اچولې وې.

د شهزادګۍ ماریا لپاره تر ټولو ګرانه دا وه چې دا پوهېده، په دغه شان حالاتو کې باید د پېغلې بوري ین په شان واوسي،خو نه یې شو کولای.دې انګېرله که داسې وښیي چې څه ته یې پام نه دی،بیا به پلار هغه بې عاطفې او دهغه په وړاندې بې پروا وګڼي اوکه داسې وښیي چې بې حوصلې او خلق تنګه ده،بیا به یې پلار وایي:

- بیا ولې بړوسه یې(لکه د ډېر وار نور یې چې ویلي و ).

سردار د لور ویرجنې څېرې ته وکتل او په ملنډو یې وویل:

-څه احمقه نجلۍ ده !

په دې وخت کې هغه ته کمکۍ شهزادګۍ، د زوی ناوې چې په خوړنتون کې نه وه،ورياده شوه او له ځانسره یې وویل:

- هغه یې هم زما له خرابه طبیعته خبره کړې ده.

هغه وپوښتل:

-شهزادګۍ چېرته ده؟ځان پټوي؟

پېغلې بوري ین،په ورین تندي او خوښۍ وویل:

-لږ ستومانه غوندې ده.استراحت کوي،د هغې دامېدوارۍ حالت ته په پام سره دا کومه د پام وړ خبره نه ده.

سردار څو واره وټوخېد ،غاړې یې خلاصې کړې او وې ویل:

-هو کې !هو کې !او د میز تر شا کېناست. قاب یې تر پامه ککړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبرېښېد ،داغ يې وروښود او هغه يې وارتېره.تيخون هغه راونيو او هغه يې چوپړ ته وسپاره.

کمکۍ شهزادګۍ ناروغه نه وه، هغه داسې له مشرسرداره ويرېدله، چې دهغه دبد طبعيت يې وارورېدل، دايې ښه وګڼله چې له خپلې کوټې نه راو نه وزي.

هغې پېغلې بوري ين ته ويلي و:

-په ماشوم مې ډاربږم، خداى پوهېږي که واډاره شم په هغه به څه راشي.

کمکۍ شهزادګۍ، د مېړه په کورکې چې ( دليسه ګورې په سېمه کې پروت و ) له خسره داسې ويرېدله چې سا يې له دې ډاره نه شوه ابستله.هغه که څه هم له خسره کرکه لرله، خو خپله ځکه په دې نه پوهېده چې ويرې او ډار دا کرکه ترې هېره کړې وه.خسر هم له هغې نه کرکه لرله، خو دهغه کرکه دهغه په پرله پسې سپکاوي کې ورکېدله.کمکۍ شهزادګۍ په ليسه ګورې کې دمېشتو کېدو راهيسې له پېغلې بوري ين سره مينه پيدا شوه او ورځې ورځې به يې له هغې سره تېرولې او کله ناکله به يې له هغې نه هيله کوله چې ددې په کوټه کې وېده شي.دا به زياتره وخت له هغې سره دخپل خسر دکړو وړو او هم کله دخپل مېړه په اړه غږېدله.

پېغلې بوري ين، چې پخپلو ګلاليو لاسونو يې دميز سپين دستمالونه غوړول، په پوښتنيز توګه وويل:

-والاحضرت سردار ! مېلمانه را روان دي؟اورېدلي مې دي چې سردار کوراګين او دهغه زوى دلته راتلونکى دى.

سردار په خواشداني او ملنډه وويل:

-دا جلالتماب سردار يو خوار زلمى و...ما په دولتي چارو، کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځای ورتـه پيـدا کړ.اوس نـه پـوهېږم، زوی يـې بيـا دلتـه څـه کـوي؟ کېدای شي شهزادګۍ اليزا وته کرالوونـا (کمکـۍ شـهزادګۍ )او يـاهم شـهزادګۍ ماريـا بـه پوهېږي،خـو زه نـه پـوهېږم زوی ولـې دلتـه راولي،دهغـه زوی زمـا پـه کـار نـه دی او خپلې لورتـه يې چې تکـه سره شوې وه،وکتل او وې ويل:

-څـه در شـوي؟ناروغه يې؟يـا دهغـه لعنتـي آلپـاتيچ پـه وينـا لـه دې "وزيره "ډارېږې

-نه !باباجانه !

که څه هم پېغلې بـوري ين،دخبرو اتـرو پـه ټاکنـه کې پاملرنـه نـه وه کړې،خو بيا هم چوپـه پـاتې نـه شوه،له هر څه يې ويل،دباغچې پـه اړه وغږېده ،دنوې غوړېدلې غوټۍ ستاينه يې وکړه،تر هغه چې تر غرمنۍ نه وروسته دسردار طبيعت لږ ښه شو.

تر غرمنۍ وروسته دخپلې ناوې ديدن ته ورغـی.هغـه ديـوه واړه ميـز ترشـا ناسـته وه او لـه خپلې ماشـا نـومې مينځـې سره غږېده.دخسـر پـه ليدو هکه پکه او رنګ يې والوت.

کمکۍ شهزادګۍ خورا بدلـه شوې وه. دهغـې پخـوانۍ ښـکلا اوس ځان بدرنګۍ ته سپارلې و.غومبوري يې لوېدلي،شونډې يې وتلې او سترګې يې پړسېدلې وې.

دخسر ددې پوښتنې په ځواب کې چې روغتيا يې څنګه ده،وويل:

-سرمې دروند غوندې دی.

-کوم شي خو به دې په کار نه وي؟

-نه !مننه،پلارجانه !

-ډېره ښه !ډېره ښه !

هغه له کوټې نه ووت او هغې بلې کوټې ته چې چوپړان به هلته کارته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس په نامه ولاړ وو، ورننوت. الپاتیچ، د چوپړان هغه مشر، چې مېلمه یې وزیر بللی و، سربښکته هماالته ولاړ و.

-واوره مو بېرته په لاره کې واچوله.

-هو کې، وامو چوله. جلالتماب! له تاسو نه هیله کوم چې ماو ببنئ، ماهسې له ناپوهې نه هغه خبره کړې وه.

سردار د هغه خبره پرې او وموسېد، هماغه، د هغه لاسي موسکا چې د ده خپله ځانګړې موسکا وه او وې ویل:

- نو ښه ده، ډېره ښه ده.

خپل ښی لاس یې ور اوږد کړ او آلپاتیچ، هغه ښکل کړ او د خپل کار دفتر لاړ.

ماښام و چې سردار واسیلي لیسه ګورې ته راورسېد. ګاډیوانان او چوپړان چې لویه لاره یې (په کلیواله ژبه پرشپکت بلله) د هغه هر کلي ته ورغلي و، هغه یې په شروشور په ګاډیو کې چې په لوی لاس په لارو کې په اچولو شویو واورو کې په سختۍ خوځېدې، د ماڼۍ خواته بدرګه کړ.

سردار واسیلي او اناتولي ته جلا جلا کوټې، جلا شوې وې.

اناتول، خپل پوځي واسکټ وویست او لاس تر ملا د مېز تر شا ناست، په برندو ښکلو سترګو یې نامعلوم ځای ته کتل او داسې برېښېدل چې د خیال مرغه یې خدای خبر چېرې بل ځای الوزي. هغه ته خپل ټول ژوند دیوې خیالي خو پرله پسې لوبې په څېر چې خدای خبر چا او ولې ورته جوړه کړې وه، برېښېده. د غه راز د غه ظالم بوډا او د هغې بدرنګې میراث وړونکې ته یې، خپل او سني راتګ هم د دغې لوبې یوه برخه ګڼله او تصوریې کاوه چې د غه هرڅه به د ده په خیر او خوښۍ پای ته ورسېږي، هغه په زړه کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هغه چې داسې بډایه ده، ولې واده ورسره ونه کړم؟هېڅ تاوان نه لري.

په ځانجوړونې او سودا سره چې دده ځانګړتیا وه، ږېره وخریله، عطر یې ووهل، په خورا ورین تندي او دنګه غاړه او ښکلو جوړو شویو څنو، د پلار کوټې ته راغی.دوه چوپړانو چې په ځانګړې توګه سردار واسیلي ته لاس په نامه ولاړ وو، هغه ته جامې وراغوستې او هغه په ځیرمن او مینه ناک غلچک شاوخوا کتل.همدا چې زوی یې راننوت په خورا ورین تندي او موسکایې هغه ته داسې سر وښوراوه چې ته به وایې ، په زړه کې وایي:

-آفرین !ته مې همداسې په کار یې.

اناتول، په فرانسوي ژبه، په داسې یوې اداآ چې ګواکې ددې سفر په اوږدو کې به نور هم څو واره ویل شوي وي، وپوښتل:

-پلار جانه !بې له ټوکو ، دا نجلۍ په رښتیا ډېره بدرنګه ده؟

دا پوره چټیات دي، اپلتې مه وایه.اصله خبره داده چې ددې مشر سردار په وړاندې دیوه مهربانه او عاقل ځوان په توګه واوسې.

-که هغه ترټل او ښکنځل پیل کړي، زه ځم او وځم، هوکې پلاره همدا اوس درته وایم، زه ددې بوډا دلیدو حوصله نه لرم.

-خو دا په یاد ولره چې راتلونکې دې همدا بوډا پورې تړلې ده.

په دې وخت کې د چوپړانو په کوټو کې نه یوازې د وزیر(د چوپړ په وینا هماغه سردار واسیلي ) او دهغه د زوی د راتګ خبرخپور و ، بلکې د دواړو نجونو د تصویرونو انځورونه هم انځور شوي وو.شهزادګۍ ماریا په خپله کوټه کې یوازې ناسته او هسې یې هڅه کوله چې په خپل زړه کې دبل شوي اور شغلې ارامې کړي.هغې په هینداره کې کتل او له ځانسره یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ولې لیک لیکلی و، چې راځي، ولې لیزا د دوی په اړه غږېده؟ ایا د غه شان یو کار شونی دی؟ زه به څنګه مېلمستون کې د هغو هرکلي ته ورشم؟ که مې هغه خوښ شي، څنګه به وکولای شم چې ځان به طبیعي توګه وساتم؟ د هغه د پلار یو غلچک د دې لپاره بس و، چې له ډاره شنډه شي.

کمکۍ شهزادګۍ او پېغلې بوري ین، د هغو په اړه ټول معلومات د ماشا نومې ځانګړې مینځې نه ترلاسه کړي وو. هغوی په دې پوهېدل چې د غه ځوان وزیرزی، په زړه پورې زلمی دی، تانده بشره، توري سترګې او ګڼې وروځې لري. که ښاغلی پلار یې په خواره خوارۍ د زینو د ختلو په وخت ګامونه کشول، ده لکه ځوان باز په چټکۍ درې درې زینې هغه پسې ګامونه اچول. کمکۍ شهزادګۍ او پېغلې بوري ین، د دغو خبرونو تر اورېدو وروسته په خورا مستۍ چې غږ یې په دهلیزونو کې انګازې کولې، په غږېدا، غږېدا د شهزادګۍ ماریا کوټې ته ور ننوتې.

کمکۍ شهزادګۍ له خپلې وتلې خېټې او درنو ګامونو سره وړاندې لاړه، ځان یې په کټ کې واچاوه او وې ویل:

-ماریا! پوهېږې! هغوی راغلل، پوهېږې؟

کمکۍ شهزاده نورنو هغه لویې جامې چې د امېدوارۍ له امله یې هر سهار اغوستې، نه بلکې خپل یو خورا ښکلی کمیس یې اغوستی و. څڼې یې ښې په ځیر سره جوړې کړې وې. په بشرې کې یې د خوښۍ او مستۍ نښې ځرګندې او مړاویتوب او خپتیا ن ترې کوچان شوي وو، خو په ځان جوړونې او په دې جامو کې چې د پترزبورګ بنډارونو ته ځانګړې شوې وې، د هغې د ښکلا او مستۍ رنګېدل لا برالا کېدل. پېغلې بوري ین، که څه هم په خپلو هومره نه ځلېدونکې جامو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپيدا شوه ولې بيا يې هم د هغې ښکلې څېرې ته تاند توب او ښکلا ورښنله.هغې وويل:
-ګرانې شهزادګۍ ! تا خو لا هېڅ په ځان لاس نه دی وهلی؟اوس به راشي او وبه وايي چې هغوی مېلمستون ته راننوتل،بيا بايد تاسې ورښکته شئ،ښه به دا وای چې لږې جامې مو بدلې کړې وای.
کمکۍ شهزادګۍ له څوکۍ پاڅېده،زنګ يې وواهه چې مينځه راشي او په خورا تلوار يې تکل وکړ چې د شهزادګۍ ماريا د جامو او جوړلو غم وخوري.
...ځان يې د پېغلې بوري ين او ليزا منګولو ته وسپاره. د غو دوو مېرمنو دزړه له کومې غوښتل هغه ښکلې او ښايسته وبريښي.هغه، تر دې کچې بدرنګه وه چې دهغوی (ليزا او بوري ين )ديوې په خيال کې هم له هغې سره د سيالۍ خيال نه تېرېده،نو له دې کبله يې په خورا لېوالتيا اودښځو دذهن په دې ساده تصور چې په ښکلو جامو او سينګار کولای شي،بدرنګه بشره ښايسته کړي،هغې ته دجامو په اغوستو اوسينګارکولو کې هڅه کوله.
ليزا ،د څنګ له خوا شهزادګۍ ته په کتو کتو کې وويل:
-نه ! رښتيا وايم،زما ګرانې ! دا کميس رښتيا هم ښايسته نه دی.ته يو ګلابي کميس لري،ووايه چې هغه راوړي.کېدای شي نن دې دبخت ورځ وي، ستا دقسمت ورځ.نه،نه،دا ډېر روښانه ده،دا خو چور ښه نه دی.
خوهغه څه چې ښايسته نه و ،هغه کميس نه و ،هغه د شهزادګۍ څېره او ټول ځان و ،مګر پېغلې بوري ين او کمکۍ شهزادګۍ،يوه هم په دې نه پوهېدل او تصور يې کاوه چې، که په ويښتو يې شنه پټاره راخوره کړ ئ،اوربل يې پورته ووهئ،اودغاړې شينبخون دستمال ،په قهوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کميس را پرېږدئ او نـور نورهرڅه بـه ښـه او ښايـسـتـه شي.هغـوی دوا ړو داهېـره کـړې وه،چـې د ډار شـوې ښـېـرې حالـت او د انـدام ناښـکلاوالی هغه څه نه دي چې ښکلي کـړل شي.کـه هرڅومره د قـاب اډانـه او شـاخوا ښکلي شي،بيايې هم منځپانګـه هماغـه وي چـې وي.لـه دوو درې واروه سينګار بدلولو نه وروسته چې هغې پـه خوښـه غـاړه ورتـه کېښـوده،کله چې يې کوڅې پـه ککرې ورتـولې کـړې(دويښـتـودغـه ډول سـينګاردهغه ښـېـره چـور بدلـه او دهغـې سـادوالی او خـواخـوږي يـې لـه منځـه يـوړه ) شينبخن شال پـه قهـوي کمـيس راوغـوړېد ،کمکـۍ شـهزادګـۍ پـه خپـل واړه او ښايسته لاس دې خوا دکميس کومه ګونځه او آخـوا دشـال څنډه لږ ښکتـه کـړه،دوه درې واره،لـه هغـې نـه تاوراتـاو شـوه، خپـل سـريـې دا خوا ،اخوا ،کوږ،وږ،او هغه يې پـه ځير سره وڅارلـه،پـه پـای کـې يـې دواړه لاسونه په ناهيلـۍ سره پورتـه واچول او پـه زغـرده يې وويل:

-نـه ماري،دا سـينګار،چور تاتـه جـوړ نـه دی،زمـا ، تـه،پـه هماغـه ورځني ايره رنګـه ځلېـدونکي کـمـيس کـې ترهرڅـه زيـاتـه خوښـېږې.هيلـه کوم،هيله کوم داکار زما پـه خاطر وکـړه.مـخ يې کاتيـا نـومې مينځـې تـه ورواړاوه او وې ويل:

- کاتيا !دشهزادګۍ هغه ايره رنګه کميس ورتـه راوړه. پېغلـې بـوري ين،اوس نو ګوره چې زه يې څنګه کار جوړوم.

دهغې له موسکا دا سې برېښېده،چې هغه لـه خپـل نـوي کېـدونکي، شهکار نه مخکې له مخکې خوشاله ده.

خوکلـه چـې کاتيـا غـوښـتـل شـوی کـمـيس راوړ،شـهـزادګـۍ ماريـا هماغه شان بې خوځېدا او چوپـه دهينـداري مخـې تـه ناسـتـه وه،خپلې ښـېرې تـه يـې پـه ځيـر کتـل او لـيـدل يـې چـې اوښـکـې يـې پـه سـترګـو کـې ډنډ،شونډې په رېږدېو او ساندو تـه يې ځان جوړاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې بوري ين، وويل:
-ګرانې شهزادګۍ څه درباندې شوي دي، لږ وخوځېږه.
کمکۍ شهزادګۍ، د مينځې له لاسه کميس واخيست ،د شهزادګۍ ماريا خواته ورغله او وې ويل:
-اوس به وګورې چې ټول کارونه په څومره آسانۍ جوړوو...
شهزادګۍ وويل:
- نه !پرې مې ږدئ !يو ازې مې پرېږدئ...
کمکۍ شهزادګۍ وويل:
-لږ تر لږه دا دخپلو ويښتو سينګار بدل کړه.
هغې پېغلې بوري ين، ته په يو ډول ملامتۍ وکتل او بيا يې وويل:
-ما تاته وويل چې دماريا بشره ،له هغو بشرو نه ده ،چې له دغه راز سينګارونو سره جوړه نه ده ،اصلا نه جوړېږي ،هيله لرم چې بدل يې کړئ.
شهزادګۍ چې په خورا خوارۍ يې دخپلو اوښکو مخه نيوله، ځواب ورکړ:
-يو ازې مې پرېږدئ !دغه شيان ماته هېڅ اهميت نه لري.
دهغې غږ داسې دردمنه او زغرده انګازه لرله چې دالوتونکوله خوښيو ډک اوازونه يې آرام کړل.هغوی دهغې بادامې،ښکلو سترګو ته چې له اوښکواو انديښنونه ډکې او په زاريو دوی ته ځير وې،وکتل،په دې پوه شول چې ټېنګار بې ګټې او آن دبې رحمۍ نښه ده.
کمکۍ شهزادګۍ وويل:
-که نور څه نه کوئ،دا دويښتو سنيګار دې بدل کړه.
شهزادګۍ ژبه لا پسته او خوږه کړه ،مخ يې پېغلې بوري ين،ته وروا ړاوه او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ما تاسو ته وويل چې د ماريا بشره، له هغو بشرو نه ده، چې له دغه راز سينګارونو سره جوړه نه ده، اصلا نه جوړېږي، هيله لرم چې بدل يې کړئ.

ماريا چې نه يې شو کولای د خپلو اوښکو مخه ونيسي ځواب ورکړ:

--يوازې مې پرېږدئ ! دغه شيان ماته هېڅ اهميت نه لري.

پېغلې بوري ين او کمکۍ شهزادګۍ پرته له دې چې دا ومني چې شهزادګۍ خورا بدرنګه ده بله چاره نه لرله..

شهزادګۍ ماريا، يوازې پاتې شوه... هغې نه يوازې خپل ويښته جوړ نه کړل، آن په هينداري کې يې هم خپلې څېرې ته له کتو نه ډډه وکړه. هغې سترګې او لاسونه ښکته واچول او همداسې چوپه په خيالونو کې ډوبه شوه. هغې خپل مېړه ديوه تکړه او له رازونو نه ډک پياوړي ځوان په توګه تصور کړ چې هغه ناڅاپه له ځانسره خپلې له ښاديو نه ډکې غيرمعمولي دنيا ته چې ددې له دنيا نه يې خورا توپير لري، بيايي، خپل ماشوم دخپلې مينځې دهغه ماشوم په بڼه چې پرون يې ليدلی و، تصوروي، پر تې يې کېښکارېږي او خپل مېړه ترخپل څنګه داسې ولاړ انګېري چې نه شي کولای له هغه او خپل ماشوم نه خپل خوږ غلچک يوه شېبه هم وشلوي، هغې له ځانسره ويل:

-اما نه، داسې يو څه هېڅ شوني نه دي، زه خورا ساده او نابښکلې يمه.

په دې وخت کې د دروازې له شا نه ديوې مينځې غږ شو چې ويل يې:

-مهرباني وکړئ، چای ته راشئ، اوس سردار له خپلې کوټې نه راوزي.

شهزادګۍ ماريا خپلو خيالو او تصورته په پام سره په وحشت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. پاڅېده او مخکې له هغه چې ښکته لاړه شي، دلمانځنې ځای ته ورننوته.د حضرت مسیح لوی خړ شمایل ته چې د وړې شمعې رڼا پرې ځلېدله، ځیر شوه.لاسونه یې د دعا په نښه یو پربل کېښودل او څو دقیقې د هغه په وړاندې ودرېدله.د شهزادګۍ ماریا په ګوګل کې د شک او تردید یو زورو توفان را الوتی و.ایا هغه د مینې له لذت نه،له ځمکنۍ او دنارینه له مینې نه خوند اخیستې شي؟ کله به یې چې د واده په اړه فکر کاوه،هغه به د کورنۍ او ماشونو په نیکمرغه خیالونو کې ډوبه شوه،خو د هغې لپاره تر ټولو نه ستره، له رازونو نه ډکه او زړه سوځونکې هیله د دې دنیا مینه وه.هغې به چې څومره له نورو او آن له ځان نه د دغه راز د پټولو هڅه کوله،په هماغه اندازه به،هغه په دې کې لا پسې پیاوړې کېده.له ځانسره به یې ویل:

- اې لویه خدایه،څنګه کولای شم په ځان کې د غه شیطاني احساس وځپم؟ څنګه به وکولای شم،د تل لپاره د غو لعنتي خیالوته شا کړم چې په آرام زړه ستا بې پایه لمانځنه او ارادې ته غاړه کېږدم؟ دې لا دا پوښتنې پای ته نه وې رسولې چې پاک (ج) د هغو ځوابونه د دې په خپل زړه کې ورونغښتل:

-هېڅ څه ځانته مه غواړه،مه یې لټوه،له ګېنۍ او رخې ځان ساته،خپل او د نورو راتلونکی برخلیک باید تاته ناڅرګنده وي،خو داسې ژوند کوه چې د هرې پېښې زغم ته چمتو واوسې،که د خدای اراده دا وي چې تا د واده په مسوولیت وآزمایي،چمتو اوسه او د هغه ارادې ته غاړه کېږده.

شهزادګۍ ماریا د دغو آرام ښوونکو خیالو سره مل(په زړه کې د دې دنیا د منع شویو هیلو د غوړېدو په هیله )یو سوړ اسویلو وکړ،پر ټټر یې د صلیب د نښې په ایستلو ځان مبارک کړ.د جامو او ویښتو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینګاره پرته، بې له هغه چې دا فکر وکړې چې اوس له مېلمنو سره مخامخ کېږي، په دې هیله چې د خدای له ارادې پرته یو وینښته هم د انسان په سر کې نه بې ځایه کېږي، ښکته شوه او هغو ته ورغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

کله چې شهزادګۍ ماريا کوټې ته راننوته، سردار واسيلي او دهغه زوی له پېغلې بوريېن او کمکۍ شهزادګۍ سره په سختو خبرو اترو او مرکو لګيا وو. هغه چې په پوندو خوځېده اودرانه ګامونه يې اخيستل، کوټې ته راننوته، نارينه او پېغلې بوريېن پاڅېدل او کمکۍ شهزادګۍ هغه مېلمنو ته ورو وپېژندله او وې ويل:

-دا هم ماريا !

شهزادګۍ ماريا ټولو ته وکتل، ښه په ځير او ژور وکتل. هغې د سردار واسيلي بشره وليدله چې ددې په ليدو ديوې شېبې لپاره وچه او بې خوځېدا شوه، خو ډېر ژر يې دخوښۍ څپه پرمخ راخوره شوه. کمکۍ شهزادګۍ ته يې وکتل چې دهغه اغېز په لوستلو لګياوه چې د ماريا له ليدلو نه دمېلمنو پر څېرو راڅرګند شوی و. هغې، پېغلې بوريېن، چې له خپلو ښکلو او مينه ناک لټونکي غلچک سره لکه دګونګرۍ په څېر شرنګېدله او اناتول ته يې کتل هم هېره کړې نه وه.

هغې ټول ليدل، خو هغه يې نه ليده، هغه يوازې د يوې ښکلې څېرې، شدلې ځوانۍ او کوټې ته ددې درانو تو په وخت کې ددې خواته په کراره د راپا څېدونکي يوې دنګې ونې په توګه ددې سترګو ته تاوېده. تر هرچا لومړی، سردار واسيلي، هغې ته ور وړاندې شو او هغې يې تک شين سر چې ددې په وړاندې ورخم شوی و، ښکل کړ. هغه يې لاس ښکل کړ او دهغې دسترې مشې ځواب يې ورکړ. هغې يې څېره ياد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وسپارله.بیا اناتول وروړاندې شو،خو شهزادګۍ ماریا لاهغه ته په ځیر نه وکتلي،یوازې یې دا احساس کړه چې یوه پاسته لاس یې له نرمۍ پرته،په کلکه لاس کېښکود او په خورا نرمۍ یې له خپل سپین تندي سره چې ژیړ،ښکلي،غوړ شوي او زړه وړونکي ویښته پرې راخوره شوي و، آشناکړ.کله چې ماریا هغې ته وکتل،د هغه ښکلا دا حیرانه کړه.آناتول،د ښي لاس یوه ګوته د خپل لنډ کوټ په تړلې تنۍ کې اچولې وه،ټټر یې ایستلی،او ړې یې وتلې،خپله یوه پښه یې چې تربلې لږ وروسته و،ښوروله ،سر یې په نرمۍ خوځاوه،په چوپه خوله،خو خوښۍ یې په خورا ځیر دا سې شهزادګۍ ته کتل،چې ګواکې اصلاً د هغې په اړه هېڅ فکر نه کوي.آناتول ،حاضر ځوابه،تکړه او خوږ ژبی و،خو هغه په بنډ ارونوکې د یو بل درانه نعمت څښتن هم و او هغه آرامي او په ځان ډاډ و...دلته هم هغه چوپه خوله و.خپله پښه یې ښوروله او په خورا خوښۍ یې د شهزادګۍ څېو ته کتل.دا سې بربښېده چې هغه تر ډېرې کولای شي همدا سې چوپه خوله پاتې شي او په زړه کې و، وایي:

-که د غه چوپتیا په چا ګرانه تمامېږي،زه یې پروا نه لرم،ښه به داوي چې خپله وغږېږي.

هغه،له ښځو سره په خبرو او کړو وړو کې دا سې و،چې په هغو کې یې د پلټنې،ډار او آن د مینې احساس راپاراوه...هغه په خپلو کړو، ګواکې هغو ته وایي:

تاسو پېژنم،پېژنم،ولې ځان ته زحمت ورکړم،تاسو پرته له دې بل څه هیله نه لرئ.

خو کېدای شي د اناتول په خیال کې به د غه شان خیالونه نه و(او کېدای شي په ریښتیا به نه و،ځکه هغه هېڅ کله خپل ذهن چور په څه نه مشغولاوو )خو د هغه حالت او کړو وړو د دې ښودنه کوله.ماریا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه دا حالت احساس کړ،نو له دې کبله د دې لپاره چې هغه ته دا وښيي چې دا هم دهغې دميني په خيال کې نه ده،نو له پلار سره يې خبرې پيل کړې.که څه هم خبرې هسې دهرڅه او هرچا په اړه وې،خو د کمکۍ شهزادګۍ دخواږه غږاو دهغې له سپينو غاښونو نه دپستې نرې وېښتو لرونکې شونډې پاس خوا ،ته تګ له برکته،ډېرې تودې وې...

کمکۍ شهزادګۍ په فرانسوي ژبې،سردار واسيلي ته وويل:

-ښه دادي ګرانه شهزاده !دادي اوس موږ ستاسو له مرکو نه پوره خوند اخلو ، حال دا چې د آنت په بنډارونو کې له دغه خوند نه،بې برخې وو ،ځکه تاسو هغو بنډارونو ته نه راتلئ،هغه آنت يادوم،هغه مو يادېږي؟

ـهو کې ! خود مې يادېږي !خو پام مو اوسه چې ما د آنت په څېر نه شي کولای دسياست ناندريو ته ورګډ کړئ.

-او هغه زموږ،د چای ميز؟

-هوکې !هوکې !

کمکۍ شهزادګۍ مخ اناتول ته وروااړاوه او له هغه نه يې وپوښتل:

-نو تاسو ولې هېڅکله د آنت کره نه راتلئ؟او خپله يې ستر ګه کېښکودله او زياته يې کړه:

-هو کې پوهېږم !ستاسو ورور،ايپوليت،ستاسو د نه هېرېدونکو چاره راته ويلي دي.هوکې هوکې !خپله ګوته يې هغه ته وځنډله او زياته يې کړه:

-آن په پاريس کې ستا له شيطانيو نه ښه خبره يمه.

سردار واسيلي شهزادګۍ داسې له مړونده راونيوله ،چې ګواکې په زور دهغې دتښتېدو مخه نيسي اوخپل زوی ته يې وويل:

-ايپوليت لا تاته نه دي ويلي؟دا يې نه دي درته ويلي چې هغه څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شهزادګۍ مین و ،داسې لکه لېونی؟خو شهزادګۍ هغه له کوره ایستلی و.او په دې وخت کې یې مخ شهزادګۍ ماریا ته وروا ړاوه او وې ویل:

-شهزادګۍ دټولو ښځو په مینځ کې لکه سره زر داسې ده.

او داچې د پاریس نوم یاد شوی و ،پېغلې بوري ین هم وخت هسې له لاسه نه و ورکړی او هڅه یې وکړه چې د نورو مرکې ته ورګډه شي،نو ځکه یې ځان ته اجازه ورکړه له اناتولي نه وپوښتي:

-ایا ډېر وخت کېږي چې له پاریس نه راغلئ یاست ؟ایا هغه ښار مو خوښ شوی و ؟

آناتول په خورا لېوالتیا د فرانسوي نجلۍ ځواب ووایه،په موسکا یې هغې ته وکتل او د هغې د مینې په اړه یې ،له هغې سره خبرې وکړې.اناتول د ښکلې پېغلې بوري ین، په لیدو ،په زړه کې ویلي و ،چې ان دلته به له داسې ښکلې سره په لیسه ګور کې هم ژوند په زړه پورې وي،عجیب شی دی.حتې خورا بده نه ده، هیله مند یم که له ماریا سره واده هم وکړم،هغه خپله د امینځه له ځانسره راولي. عجبه ښکلې نجلۍ ده.

مشر سردار،چې په تلوار په خپله کوټه کې جامې بدلولې،فکر یې واهه او په دې چرت کې و چې څه وکړي.د دغو مېلمنو راتګ د هغه طبیعت خټه کړی و. هغه له ځانسره بنګېده او ویل یې:

-سردار واسیلي او زوی یې د ما څه کېږي؟ هغوی له مانه څه غواړي؟سردار واسیلي خویو لاپو اوتش سړی دی،نو زوی به یې څه سوغات وي؟هغه دې خبرې خوابدی کړی و چې د دغو مېلمنو راتګ،د هغه په زړه کې یوه جړه او تل زورونکې پوښتنه راسپړلې وه.دا هغه پوښتنه وه چې،ده تل په هغې ځان غولاوه. پوښتنه دا وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا دی به کله دې ته چمتو او راضي شي چې له خپلې لور شهزادګۍ ماریا نه جلا او هغه مېړه ته ورکړي او کنه؟ هغه هېڅکله دې ته نه چمتو کېده چې ددې پوښتنې په اړه سپین وغږېږي او هغې ته په ډاګه او زغرده ځواب وواییي، ځکه هغه مخکې له مخکې پوهېده چې دی به، په دې پرېکړه کې له حقه کار اخلي او په دې برخه کې له حقه کار اخیستنه، نه یوازې دده دزړه له غوښتنې بلکې دده دژوند له دریځ سره اړخ نه لګاوه.نیکولای اندرویچ که څه هم په ورځني ژوند کې له خپلې لور سره لږه خوا خوږي ښودله، خو له شهزادګۍ ماریانه پرته یې دخپل ژوند تصور هم کولای نه شو.هغه به له ځانسره ویل:

-ولې مېړه وکړي؟ددې لپاره چې بدمرغه شي؟ لکه دا لیزا چې داندرې ښځه شوې (دښه مېړه پیدا کول اوس ګرانه خبره ده) ایا لیزا دخپل قسمت نه خوشاله ده؟څوک به په هغې مین شي؟حماقت دی، هوکې کېدای شي کوم څوک هغه، دهغې دکورنۍ دنامه او یاهم دشتمنې په خاطر وکړي او ایا ځینې پېغلې ټول ژوند بې مېړه نه پاتېږي؟ دغه بې مېړو پاتې پېغلې، تر مېړوښو هغو نیکمرغې هم دي. دجاموا غوستو په لړ کې یې دا خبره هم خیال ته راغله چې دغه ځنډول شوی کار، چټک ځواب ویلو ته اړتیا پیدا کوي.دا ښکاره خبره وه، چې سردار واسیلي خپل زوی ددې لپاره له ځانسره راوستی و، چې دهغه لور ورته وغواړي او نن او سبا دمخامخ سپین ځواب غوښتونکي وو.هغه له ځانسره ویل:

-زوم دکورنۍ، نوم او دټولنیز دریځ خاوند دی، په دې اړه څه نه وایم، خو ایا هغه زما دلور وړتیا لري؟ښه دا به وګورو.

وروسته یې په لوړ آواز تکرار کړه:

-ښه دا به وګورو، ښه دا به وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د تل په شان په چټکو ګامونو مېلمستون ته راننوت او د ېر ژر يې په ټولو غلچک وزغلاوه.هم يې د کمکۍ شهزادګۍ د جامو بدلون ته پام شو ،هم يې د بوري بن، د ښو ښکلې پټاره ولیدله، هم د ماريا دوېښتونا ښکلې جوړونې ته ځير شو ،د بوري بن او اناتول ترمنځ بدليدونکې موسکاوې هم ترې پاتې نه شوې، خود ټولو ترمنځ په خبرو اترو کې د خپلې شهزادګۍ يوازې پاتې کېدل يې هم تر سترګو شول.په خورا قهر يې خپلې لورته وکتل او په زړه کې يې وويل:

-احمقې ته ګوره له ځانه يې څه جوړ کړي دي؟شرم او حيا نه شته !او هغه اصلاً ورته ګوري نه !

د سردار واسيلي خواته ورغی او وې ويل:

-سلام، ستړی مه شئ،له ليدو نه دې خوشاله شوم.

سردار واسيلي چې د عادت له مخې تل ژرژر ،ډاډمن او بې له تکلفه غږېده، وويل:

-دا دی زما دويم زوی، هيله لرم چې په غلامې يې ومنئ او تاسو ته ګران واوسي.

سردار نيکولای اندرېويچ،اناتول ته وکتل او وې ويل:

-آفرين !آفرين !راشه چې ښکل دې کړم او خپل غومبوری يې وروړاندې کړ.

اناتول د بوډا مچ کړ او په خورا لېوالتيا ،ځير او آرامۍ يې هغه ته کتل او دې ته سترګه په لارې و ،له هغه نه هغه عجب څه وګوري چې پلار يې ده ته د هغه يادونه کړې وه.

سردار نيکولای اندرېويچ پر خپل هميشيني ځای،د اوږدې څوکۍ په کنج کې کېناست،لاستي لرونکې څوکۍ ته په اشارې سره يې له سردار واسيلي نه پرهغې د ناستې هيله وکړه او له هغه يې د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سياسي نويو حالاتو په اړه پوښتنې پيل کړې. که څه هم هغه داسې ښودله چې ګواکې د سردار واسيلي ټولې خبرې په پام سره اوري، خو کله ناکه به يې شهزادګۍ ماريا ته هم ورکتل. د سردار واسيلي د خبرو وروستۍ جمله يې تکرار کړه چې، له پوتسدام نه داسې ليکي چې، او ناڅاپه پاڅېد ، د خپلې لور خواته ورغی او هغې ته يې وويل:

-تا مېلمنو ته ځان داسې جوړ کړی دی ! آه؟ تا ددې مېلمنو لپاره خپلې څڼې داسې بدلې کړي، ډېر ښه، تا ته وايم ډېر ښه !خو د همدې مېلمنو مخکې درته وايم چې نور نو زما له خوښې او مشورې پرته نه شي کولای جامې او ويښته بدل کړې. کمکۍ شهزادګۍ چې تکه سره اوښتې وه، د هغې مرستې ته ورودانګل او وې ويل:

- باباجانه !دا زما ګناه ده، دا ما هغه سينګار کړې ده.

سردار نيکولای اندريوويچ، په خورا درناوي خپلې ناوې ته وکتل او په داسې حال کې چې ښه يې ډېر بوله هغې ته وويل:

-ستاسو خوښه چې هرڅه کوي، وې کړئ، خو له هغې نه داسې احمقه شيشکه مه جوړوي.

هغه لاړ او بېرته له هغه چې نوردلور له اوښکو ډکو سترګو ته وګوري، په خپل ځای کېناست.

سردار واسيلي وويل:

-تصور کوم چې دا سينګار د شهزادګۍ سره سخت لګي.

سردار نيکولای اندريوويچ مخ اناتول ته وروااړاوه او وې ويل:

-ښه پلارکه !ځوانه شهزادګيه !نوم دې څه دی؟ دلته راشه چې لږ دزړه خواله وکړو چې سره آشنا شو.

آناتول په زړه کې وويل:

-همدلته ده چې لوبې پيل کېږي. پاڅېد او په خندا خندا د مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار تر څنګه کېناست.

مشر سردار چې له نېږدې نه په ځير ځير اناتول ته کتل، له هغه نه وپوښتل:

-هو کې ماته ګرانه !اورېدلي مې دي، چې بهرکې دې زده کړې کړې دي، نه لکه موږ زړو غونډې، ځان او پلار دې يادوم، چې د زده کړو لپاره به کليساته ورتلو، ښه اوس راته ووايه ګرانه !تاسو په سواره پوځ کې افسر ياست؟

اناتول چې په سختۍ يې د خپلې خندا مخه نيوله، ځواب ورکړ:

- نه، اوس مې عمومي پوځ ته ځان بدل کړی دی.

- ښه !ډېر ښه !يعنې تاسو غواړئ، د زړه له کومې او په رښتيا ځار(شاه ) او وطن ته خدمت وکړئ !ښه ده !اوس جګړه روانه ده !آفرين !نور نو زړور ځوانان دا ښه ګڼي چې د زړه له کومې خدمت وکړي !څنګه جبهې ته ځئ؟

-نه ښاغلي سرداره !جبهې ته نه ځم. که څه هم زموږ غونډ تيارسی شوی، خو زه هغه ته ...بدل شوی يم...په خندا يې پلار ته مخ ورواړاوه او وې پوښتل:

-پلار جانه چېرته بدل شوی يم؟

سردار نيکولای اندرېوويچ، وخندل او وې ويل:

-آفرين !ښه خدمت ! پلار جانه چېرته بدل شوی يم؟هه، هه...

آناتول لا په لوړ آواز په کړس کړس وخندل ، خود سردار نيکولای اندرېوويچ تندی ناڅاپه تريو او بشره يې بدله شوه او آناتول ته يې وويل:

-کولای شې لاړ شئ.

آناتول په خندا خندا بېرته ښځو ته ورستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرسردار ،سردار واسیلي ته وویل:
ښه !تاسو هغه په بهر کې روزلې دی،آ !ډېر ښه !
- زما چې څه له لاسه کېدل، هغوی ته مې، هغه مې وکړل، خو غواړم ووایم چې د بهر روزنه، زموږ تر هغې خورا ښه ده.
-هو کې ! په اوسنۍ زمانه کې هرڅه بل ډول دي، ټول په نوې بڼه.هو کې ښه ځوان دی.راځه چې زما کوټې ته لاړ شو.هغه سردار واسیلي له څنګلې ونیو او خپلې کوټې ته یې راوست.
سردار واسیلي چې له مشر سردار سره یوازې پاتې شو، سمدلاسه یې خپله غوښتنه ورسره ګډه کړه.
مشر سردار په خورا خواشداني وویل:
-ته څه فکر کوي، چې ما دهغې مخه نیولې؟ما هغه ځانته ساتلې؟له هغې نه زړه جلا شو کولای نه شم؟هغه په خوابدۍ دوام ورکړ:
-خپله یې تصور وکړه، که زما په زړه وای هم دا سبا به مې چاته ورکړې وای، خو تاته په ډاګه وایم،زه غواړم خپل زوم ښه وپېژنم،ته خو زما په هیلو پوهېږې،هرڅه په ډاګه وایم،سبا ته به ستا ترمخې دهغې نه وپوښتم،چې ماریا خپله څه وایي، که یې خوښه وه،زوی به دې همدلته پاتې شي،چې دواړه ښه سره آشنا شي،هو کې هغه باید یوڅه موده پاتې شي.پربېږده چې پاتې شي،بیا به ګورو.هغه دپوزخند په توګه فه کړل او په هماغه درانه آوازیې چې له خپل زوی سره دخدای په امانۍ په وخت کې چیغه کړې و، په چیغه وویل:
-پرېږده چې واده شي،زه یې هېڅ پروانه لرم.زما یې څه؟
سردار واسیلي، دچالاکه سړي په چم، چې خپلې غوړمالۍ د خپل مرکچي په وړاندې بې اغېزه ویني،وویل:
-دا په ډاګه وایم چې تاسو دخپلې پوهې له برکته دهرچا له زړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانه خبریاست ،غواړم ووایم چې آناتول نابغه نه دی، هغه یو پاک زړی، مهربانه او ښه زوی او خپل دی.

-ښه ده، وبه ګورو !

لکه هغه شان چې تل یو وزرې ښځې، د ډېر وخت لپاره دنارینو نه لرې پاتې وي، د سردار نیکولای اندریوویچ په کورکې مېشتو درې واړو ښځو هم د اناتول په پیدا کېدو سره دا احساس کړه چې د هغه تر پیدا کېدو پورې د دوی ژوند ، ژوند ته ورته نه و. د هغو د تفکر، احساس او څارنې توان په یوه شېبه کې ناڅاپه لس برابره شوی و. د هغو ژوند چې ګواکې تر هغه وخته په تورتم کې ډوب و ، ناڅاپه د رڼا په څپو کې ولمبېد. شهزادګۍ نورنو چور د خپلې بشرې او دوېښتو د سینګار په اړه فکر نه کاوه. د هغې ټول پام د هغه نارینه ښکلې اوزړه راښکونکې څېرې ځانته وراړولی و چې کېدای شو ، ددې مېړه شي.آناتول هغې ته دیو پاک نیته، زړور او ډاډمن ځوان په توګه برېښېده. هغې په دې خبره ښه ډاډه درلود....

له ځانسره به یې ویل:

-ایا زه د هغه په وړاندې خورا بې پروا او سړه نه یم؟زه غواړم چې ډېره حیاناکه وا وسم ،ځکه نورنو دزړه له تل نه ځان هغه ته خورا نېږدې ګڼم، خو هغه له هغه څه نه ناخبره دی، چې زما د زړه په تل کې تېرېږي او کېدای شي دا سې تصور وکړي چې هغه مې نه خوښېږي.ماریا ، هڅه کوله نوې مېلمه ته مهربانه او خوا خوږې و اوسي، خو کولای یې نه شو.

آناتول هغې ته کتل او په زړه کې یې ویل:

- خواره !چې څومره بدرنګه ده.

خو د پېغلې بوري ین، اندیښنو چې هغه هم د آناتول په راتګ خورا لېوالـه شوې وه، بـل کیفیـت لاره.دا څرګنده وه چې د غې نجلۍ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخورو او لويانو په ټولنه کې يې کوم دريځ نه لاره، نه کوم خپل خپلوان، نه ملګري او نه کور کورنۍ لرله، دا تکل نه لاره چې ټول ژوند نيکولای اندريوويچ او هغه ته په کتاب لوستلو تېر کړي او يا هم د شهزادګۍ ماريا مينځه واوسي. هغه له مودو مودو ديوه روس شهزاده راتګ ته سترګه په لاره ناسته وه... چې هغه راشي، دا زړه پرې بايلي او له ځانسره يې بوزي او دادې اوس دغه شان يو شهزاده راغلی و.

د پېغلې بوري ين، يوه کيسه زده وه چې له خپلې ترور نه يې اورېدلې وه او هغې دغه کيسه په خپلو خيالو کې انځوروله. کيسه خو داسې وه چې ديوې خوارې مور لور، له واده پرته، يوه پردي سړی سره تللې وه او هغې خپله لور له دې کبله سخته رټله. پېغلې بوري ين زياتره وخت په خيال کې تصور کاوه چې دغه کيسه خپل خيالي دوکه مار ته وايي او دهغې له اغېز نه يې اوښکې په سترګو کې ډنډ بړي. او اوس خو نه خيالي بلکې يو رښتينی روس شهزاده راپيدا شوی دی. دغه شهزاده هغه تښتوي، بيا خواره مور راپيدا کېږي او شهزاده له خپلې دوکه شوې تښتول شوې سره واده کوي. کله چې پېغله بوري ين له اناتول سره د پاريس په اړه خبرې کولې، خپله راتلونکې يې کټ مټ همداسې تصوروله، خو هغې دا کار د کوم ځانګړي تکل له مخې نه کاوه او آن يوه شېبه يې هم ددې په اړه فکر نه کاوه، بلکې دغه خيالونه مخکې له مخکې دهغه په خيالونو کې ځای پر ځای او چمتو شوي وو او هغې ټول ددې لپاره کارول چې د دغه آناتول هغه خوښه شي.

کمکۍ شهزادګۍ لکه جګړه ځپلې او زاړه آس په خبر چې د اوربل غږيې اورېدلی وي، بې له خياله خپل حال هېر کړی و او ځان يې د ناز، ښکلا او زړه وړو ډګرته داسې چمتو کړی و چې دهېڅ کوم سيال سره يې د سيالۍ او ناندريو، پټ تکل په زړه کې نه لاره او يوازې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا سادګۍ د خوند اخيستو په خيال کې وه.

که څه هم اناتول د ښځو په منځ کې ځان داسې انګېره چې ګواکې دی د ښځوله خورا پام نه سترې شوی دی، خو کله يې چې پر دې درې ښځو خپل اغېزليده، له هغه نه يې بې ساري خوند اخيست او ډېر پرې وياړېده.له هغه نه برسيره د ښکلې او زړه وړنکې بورې ين په ليدو يې کرار کرار داسې احساسوله چې په ګوګل کې يې ديوې اورنۍ غريزې اور په چټکۍ لمبې باسي او هغه کوم ډېربې باکو ،زړورو او ناوړه کړو ته لمسوي.

د چای ترڅکلو وروسته تهول لوی تالار ته لاړل او له شهزادګۍ نه يې هيله وکړه چې پيانو وغږوي.اناتول د پېغلې بوري ين ترڅنګ د شهزادګې مخامخ پر پيانو څنګل ووهله او په خماري سترګو يې شهزادګۍ ماريا ته ځير او په کتو شو.شهزادګۍ ماريا د هغه له زورونکي خوهمهاله لذت ښونک غلچک نه خوند اخيست.شهزادګۍ د خپلې خوښې نغمې غږولې، هغه يې د شعر او شوق بې پايه نړۍ ته بووله او د هغه شهوتناک غلچک د هغه خيالونه لا پسې رنګينول.که څه هم اناتول پر هغې سترګې خښې کړې وې، خو خيال يې له هغې سره هېڅ کار نه لاره. د هغه تهول پام د پېغلې بوري ين ښکلو پښو ته چې تر پيانو لاندې يې ورسره جنګولې، اوښتی و. د پېغلې بوري ين سترګې چې ماريا ته يې کتل هم له لذت او خوند نه ډکې وې.د هغې د ښکلا او له هيلونه ډکې سترګې د ماريا لپاره د ډارونکې خوښۍ او نيکمرغۍ سبب وې.

شهزادګۍ ماريا په زړه کې ويل:

-دې نجلۍ ته څومره ګرانه يم.زه اوس څومره نيکمرغه يم. له دغه راز خور لنډې او له دغه شان مېړه سره به څومره نيکمرغه واوسم، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رښتیا به هغه زما مېره شي؟هغې نه شو کولای مخامخ اناتول ته وګوري، ځکه هغې داسې انګېرله چې هغه دې ته ګوري.

له ماښامنۍ نه وروسته چې کله سره جلا شول، اناتول د شهزادګۍ لاس ښکل کړ او شهزادګۍ خو هېڅ پوه نه شوه چې څنګه يې زړه وکړ، مخامخ د هغه ښکلې بشرې ته چې د هغې نږدې لیدونکو ښکلو سترګو ته خورا نږدې شوې وې، وګوري.ترماریا وروسته اناتول د پېغلې بوري ين لاس راونیو او خپلو شونډو ته يې نږدې کړ(که څه هم دا ښه کار نه و، خو اناتول هر کار په خورا سادګې او آرامۍ ترسره کاوه) پېغله بوري ين له شرمه تکه سره او په ډار يې شهزادګۍ ته وکتل.

د شهزادګۍ ماریا په زړه کې تېره شوه:

-څومره ځیرکه نجلۍ ده.ایا په رښتیا هغه تصور کوي چې زه کېدای شي له هغې سره رخه وکړم او د ځان په وړاندې د هغې په سپېڅلې مهربانۍ او وفادارۍ شک ولرم. پېغلې بوري ين ته ورنږدې شوه او هغه يې په خورا لېوالتیا کلکه کلکه مچ کړه.اناتول تر هغه وروسته د وړې شهزادګۍ لاس ته نږدې شو ، خو کمکۍ شهزاده وویل:

-نه،نه !کله چې دې پلار راته ولیکي چې تاسو ښه سړی یاست،نوبیا به اجازه ولرئ چې زما لاس ښکل کړئ،تر هغه پورې اجازه نه شته.

هغې، هغه ته خپلې ګوتې وښورولې او له کوټې نه ووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

ټـول سـره جـلا شـول.لـه اناتولـه پرتـه چـې کـټ تـه پـه رسـېدو سره، سمدلاسه وېده شو ، نور ټول هغه شپه ترډېره وخته پورې وېښ پاتې شول.

شهزادګۍ ماريا دې خيال زنګوله:

-ايا کېدای شي دغه زما مېړه شي؟هوکې دغه پردی، ښکلی او مهربانه؟ ترټولو غوره دغه مهربان !پر هغې، هغه ويره چې هېڅکله يې نه وه احساس کړې لاس برې شوه.هغې له وېرې غاړه نه شوه غړولی او شاو خوايې کتلی نه شو.هغـې دا سې انګېرلـه چې د پردې شاته،د هغې تياري کوټې په کونج کې څوک ولاړ پـټ دی او دا ، هغـه دی،شيطان او هغه.هغه سپين تندی،توروروځی او سور شونډی ځوان.

هغې زنګ کېښکود ،خپله مينځه يې راوغوښته او له هغې يې هيله وکړه چې له دې سره په کوټه کې پرېوزي.

پېغلې بورې ين هغه شپه تـر ډېرې پورې په باغچه کې هسې چاتـه سترګې په لاره پاتې شوه او د کوم ناپېژندلي شهزاده دراتلو لارې يې وڅارلې،هغه ته وموسېده او يو وخت يې د خوارۍ مور غږ وريـاد کړ چې دا د دې د بې لاريو له امله رټي.

کمکۍ شهزادګۍ خپلې مينځې ته له دې امله غوربېده چې کـټ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم نه دی آوار کړی.هغه نه پر ځنګ او نه پر ټټر، په يوه خوا هم ځملاستی نه شي او هرڅه خورا کاږه واږه او سخت دي.خېټې يې تر هرڅه زيات هغه زورولـه. هغې تر هربل وخت زيات پر هغې درنښت کاوه، ځکه نن شپه اناتول په خپلو کړو هغې ته، هغه زمانې وريادې کړې وې، چې ددې ګېډه آواره او ښکلې وه او هرڅه ددې لپاره اسانه او لمسوونکي وو.هغې چې لمن اوغستې وه، خولۍ پر سر پر ځوکۍ ناسته وه.ځنې يې جړې او د شوګيرو له زوره لېونۍ وه. کاتيا چې تر شونډو لاندې بنګېده ددرېيم ځل لپاره يې دهغې برستن او ګډه وډه توشکه آوار او سم کړل.

کمکۍ شهزادګۍ ټينګار کاوه:

-تاتـه وايم !اوري ! دا کټ او برستن نن شپه داسې لړی لړی دي، هرڅومره چې دوبدبدو هڅه کوم، خوب نه راځي،زه خپله غواړم چې وبده شم،خو نه کېږي، په دې کې زما ګناه څه ده؟

دهغې غږ داسې رېږدېده لکه ماشوم چې غواړي وژاړي.

لـه زاړه سرداره هم خوب کډه کړې وه.د زاړه سردار چوپړتيخون د خوب او ويښتيا په منځ کې اورېدل چې بادار په قهر قدم وهي او د پزې سغهاری باسي.بوډا ، داسې انګېرله چې لورته يې په سپکاوي سره،ده ته هم سپکاوی شوی دی او دغه سپکاوی دهغه له لپاره د زغم وړ نه و.دغه سپکاوی په ده ځکه ګران تمامېده چې هغه نه ده ته،نه بل چاته،دهغه لورته، هغې لورته چې ده ته ترځانه هم ګرانه ده،شوی دی.هغه له ځانسره ژبه کړې وه، چې دا پېښه به په هر اړخيزه توګه څېړې او يوې رښتداني پريکړې ته به رسېږي، خو دې هلوځلو دآرامۍ پر ځای هغه لاپسې ناآرامه و.

له ځانسره به يې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د دغه شان يوه باڅاري په خاطر هم پلار هېروي او هم نور څه، خپل وينښته جوړوي، سينګار کوي او د دې زلمي لپاره څنګ په څنګ اوړي. خوشاله ده چې پلار يوازې پرېږدي او ايله اوس يې پام شوی، چې زما به دې خبرو ته پام شي، (د پېزې سغهاری کوي) خو دا څه فکر کوي؟ زه ړوند يم او نه وينم چې دا احمق زلمی په څه شرم د پېغلې بوري ين پسې ځان لېونی کړی دی؟ څومره بې شرمي او بې همتي. هېڅ ډول غرور نه لري..او زما لور هم په خپل قدر نه پوهېږي..

کله چې تيخون، وچ او له سپينو وينښتنو ډک ټټر سردار ته د خوب کميس وراغوست، بوډا په زړه کې ويل:

-د اخلک خو ما دلته نه دي رابللي، دا دلته شيطان راوستي دي، دوی راغلي چې زما ژوند ګدوډ کړي، زما هغه ژوند چې يو څو ورځې پاتې دی.

سربېره له ګريوانه لا راوتلی نه وه، چې وې ويل:

-بلا پسې، بلا !

تيخون د سردار له دې عادت سره خورا ښه بلد و چې کله ناکله به يې خپل خيالونه په لوړ آواز او چغو څرګندول، نو ځکه کله چې د هغه له پوښتنو او قهر نه ډکې سترګې راوتلې وليدې، حيرت يې ونه کړ. سردار وپوښتل:

-ويده دي؟

تيخون د ټولو وفادارو او دنده پېژندونکو چوپړانو په څېر چې په سترګو کې د خپل خاوند په طبيعت پوهېږي، په دې هم پوه شو چې موخه يې سردار واسيلي او د هغه زوی دي.

-هو کې جلالتمابه !ويده شول او څراغونه يې مړه کړل.

-هېڅ لازمه نه وه، هېڅ !...او خپل کټ ته لاړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم اناتول او پېغله بوري ین یوله بل سره څه ځانګړې خبرې نه وې کړې او د مینه ناکې پېښې او د خوارې مورې ترپیدا کېدو پورې یې په دې اړه څه مخالفت هم نه لاره، ولې په دې پوهېدل چې په دې اړه د پرې خبرې شته چې دوی باید په پټه د زړه خواله پرې وکړي. نو له دې کبله له سهار راهیسې په دې تکل کې و چې یوازې سره وګوري. نو کله چې شهزادګۍ ماریا په ټاکلي وخت د پلار دفتر ته لاړه، اناتول او پېغله بوري ین وخت پیدا کړ چې په باغچه کې سره یوځای شي.

شهزادګۍ ماریا، هغه ورځ سهار په وېرې او رېږد بېدا د پلار دفتر ته نږدې شوه.

هغې ته داسې برېښېده، چې نه یوازې ټول په دې پوهېږي چې نن د هغې بخت څرګندېږي بلکې ټول په دې هم پوهېدل چې هغه خپله په دې باب څه فکر کوي او د غه حالت یې د تیخون او سردار واسیلي د هغه چوپړ په څېره کې چې تو دې او به یې خپل خاوند ته وړې او په دهلیز کې د دې په لیدو د رناوې لپاره ترملا خم شوی و، ولید.

مشر سردار تر بل هر وخته، هغه سهار پر خپلې لور مهربان او خوا خوږی و. شهزادګۍ ماریا د خپل پلار په دغه حالت ښه پوهېده. دا هماغه حالت و، چې کله به ماریا نه شو کولای د ریاضي پوښتنې حل کړي، د پلار په بشرې کې به یې را څرګندېده او بیا به له قهره پاڅېد او په کلکو متو به له هغې لرې او په کرار آواز به یې یو خبره څو وارې تکرار وله.

مشر سردار بې له ځنده اصلي خبرې ته راغی او په داسې حال کې چې لور ته یې تا سو ویل، په خبرو پیل وکړ او وې ویل:

-هغوی ستا ریبارې ته راغلي او پرون یې ما ته وړاندېز وکړ. او تر لږ ځنډ نه وروسته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کېدای شي دومره پوه شوې یې چې هغه خپل روزل شوي(دا نه وه ځرګنده چې ولې سردار نیکولای اندرویچ، اناتول د پلار دلاس روزونکی باله ) زما د ښکلو سترګو دیدن ته نه دی راوستی.تاته مې وویل چې پرون یې له ماسره خپل زوی ته ستا دکړو په اړه ویلي دي، هماغه شان چې زما په کار پوهېږي پرېکړه مې تاته پرېښوده.

د شهزادګۍ څېره تکه سره او سپینه شوه او په ګبنی یې وویل:

-پلاره زه دې په خبرو پوه نه شوم؟

-پلارپه خورا خواشداني چیغه کړه ا وې ویل:

- په خبرو پوه نه شوم، یعني څه؟سردار وا سیلي خپل زوی ته خوښه کړې یې، چې ناوې یې شي، هغوی ریباری ته راغلي، اوس زما په خبره پوه شوئ.زما خبره زغرده او په ډاګ ده !اوس زه له تانه پوښتم چې ته څه په کې وایې؟

شهزادګۍ په ورو ،ترشونډو لاندې وویل:

-پلاره جانه !زه نه پوهېږم هر رنګه چې ستاسو...

- زما خوښه؟ زه دلته څوک یم؟زماخوښې ته به نه ګورې،زه خو مېړه نه کوم،ته باید په خپله ووایې.

شهزادګۍ احساسوله چې د پلاریې دې کار ته خوښه نه ده، خو په هماغه شېبه یې په زړه کې وګرځېده چې دګرد ژوند برخلیک یې اوس ټاکل کېږي، همدا اوس او کنه هېڅ وخت !سترګې یې ښکته وا چولې چې د خپل پلار سترګې ونه ویني، ځکه دې داسې انګېرله چې دهغو تر اغېز لاندې سم فکر او پرېکړه نه شي کولای او دتل په شان به پرته له منلې او اطاعت نه بله لاره ونه لري، هغې وویل:

-زه خو ستا له خوښې پرته بله خوښه نه لرم،خو که اجازه وي، خپل نظر به هم ځرګند کړم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې لا خبرې پای ته نه وې رسولې چې مشر سردار یې خبرې پرېکړې او په لوړ آواز یې وویل:

-ډېره دې مبارکه وي، هغه به تا وکړي، ستا شتمني او مهربه خپل او پېغله بوري ین به ولکه او ښځه به یې کړي او ته به...

مشر سردار په دې اړه خبرو ته ځکه دوام ورنه کړچې پام یې شو، د غې خبرې د هغې پر لور څه ناوړه اغېزه کړې وه. شهزادګۍ سرښکته وا چوا وه او نېږدې و، چې له سترګو یې اوښکې را روانې شي.

مشر سردار زیاته کړه:

-نه !نه !ټوکې کوم. خو یوازې یوه خبره په یاد لره چې زما په اند دا د هرې پېغلې خپل حق دی چې ځان ته د خوښې مېړه خوښ کړي. ته هم په دې کار کې آزاده یې، خو دا په یاد لره چې ستا ټول ژوند ستا ننني پرېکړې پورې تړلی دی. زما از زماد خیالو په اړه هېڅ فکر مه کوه.

-سمه ده پلار جانه !خو زه هېڅ نه پوهېږم.

-بله خبره درته وکړم چې هغه هلک هم خپل واک نه لري، هغه ته چې هرڅه ووایي، هماغه کوي. هغه نه یوازې تا بلکې بله هره هغه نجلۍ چې ورته ووایي، هغه کوي. خو ته اوس پوره واک او دټاکنې حق لرې. لاړه شه خپلې کوټې ته، خپل چرت وواهه، یو ساعت نوروخت لري، بیا راشه او دټولو مخکې خپله خوښه ووایه: یا هو او یا نه ! زه پوهېږم اوس ځې، هلته کېنې او دعاګانې کوي. ښه !دا دې خپله خوښه، هرڅه چې کوي کوه یې، دعا کوي او که ښېرا ، ښه به دا وي چې فکر وکړئ او خبرې خلاصه کړئ.

تر هغه چې شهزادګۍ په تتو خیالونو کې ډوبه د مشر سردار له کوټې وتله او آن د هغې تر وتلو وروسته، هغه په لوړ آواز همدا سې تکرار وله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یا هو او یا نه، یا هو او یا نه...

د ماریا برخیلک څرګند و ،هغه نیکمرغه بریښېده ،خو هغه څه چې د هغې پلار د بوري ین په اړه ویلي و ،هغه خورا وحشتناکه و.هغې نه شي کولای د هغې په اړه فکر ونه کړي.هغه د پلار له دفتره تر وتلو وروسته، په همدې خیالوکې ډوبه، د باغچې له لارې د خپلې کوټې خواته روانه وه چې ناڅاپه د پېغلې بوري ین آشنا بنګهاري او موسکا ،هغه له خیالو رواوویسته.هغې چې سترګې راپورته کړې، وې لیدل چې څوګامه آخوا اناتول،له فرانسوي نجلۍ(پېغله بوري ین )نه غېږ تاو کړې او په کرار کرار یې په غوږو کې څه وایي.آناتول د سر په راپورته کېدو شهزادګۍ ماریا ولیده اوله ډاره وربږدېدا او د بوري ین ملا چې شهزادګۍ یې نه لیدله پرېښنبوده.

د اناتول حالت داسې بریښېده چې ګواکې وایي:

-ودربږئ !دا لا څوک دي او څه غواړي؟

شهزادګۍ ماریا په چوپه خوله هغو ته کتل،خو په دې یې هېڅ سر نه خلاصېده چې څه ویني.مګر په پای کې پېغلې بوري ین چیغه کړه او په تېښتو یې تېښته وکړه.

اناتول په یوې خوږې موسکا د شهزادګۍ ماریا داسې درناوي وکړچې ګواکې له هغې هیله لري،ښه به دا وي، په داسې یو له ملنډو نه ډک کار وخاندئ. بیا یې اوږې پورته واچولې او له هغه وره نه چې دده د کوټې خواته وتلې وه،ووت.

یو ساعت وروسته تیخون شهزادګۍ پسې ورغی او هغې ته یې بلنه ورکړه چې پلاریې غواړي او دایې هم ورته وویل،چې سردار واسیلي سرګیوویچ هم د هغې له پلاره سره دی.کله چې تیخون د شهزادګۍ ماریا کوټې ته راغی،هغه پر څوکې ناسته او له پېغلې بوري ین،نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لـه ژړا شنه وه، غبرګ تـاو کړې وه او دهغې ځنې یې نـازولې.دهغې ښکلو سترګو چې همـاغه پخوانۍ ارامي اوځلایې بیاموندلي وو، پـه خورا مینې اوخواخوږۍ بوري ین ته ګنډل شوې وې.

پیېغلې بوري ین، وویل:

-نه !نه !زه پوهېږم نور، نو مادژوند ترپایه ستا ډاډ له لاسه ورکړ، خو شهزادګۍ ماریا وویل:

-داڅه وایئ؟داسې نه ده !ته له پخوانه لا راتـه ګرانه یې، زه بـه هڅـه وکړم چې هرڅه مې له لاسه کېږي، ستا دنیکمرغۍ پـه لاره کې یـې ونـه سپموم.

-خو تاسو ما ته نور نو پـه سپکه ګورئ، تاسو سپېڅلي یاست چې ما باید هم سپک وګڼئ، ځکه پـه دغـو پـاکو احساساتو چې تاسې یې لرئ، هېڅکله نه شي کولای زما دغـه هوسناک کړه درک کړئ، اې زمـا خوارې ادې...

شهزادګۍ ماریا پـه خواشـداني خو موسکا د شونډو پر سرځـواب ورکړ:

-آرامه شئ، زما ګرانې خورلنډې ! زه لاړم، باید پلارته مې ورشم.

دا یې وویل اوووته.

سردار واسیلي تنبکرومړه پـه لاس، پښـه یې پـه پښـې اړولې وه، پـه ګبڼۍ اوتلوسوکې داسې ډوب و، چې خپله یې پرخپلې خواخوږۍ او مهربانۍ غوښتل وخاندي ،دشهزادګۍ درانـنوتو په شېبه کې یې خورا مینه ناکه، موسکا پر شونډو خوره وه او پـه دوو ګوتـویې پـه چټکۍ لږ مېده تنباکو پـزې تـه کړل.لـه هغـه سره سم پاڅېد ، دشـهزادګۍ ماریا دواړه لاسونه یې ونیول او وې ویل:

-اې زما نازولې مهربانې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوه ساړه اسویلي نه وروسته یې زیاته کړه:

-زما د زوی برخلیک ستاسو په منګلو کې دی، ستاسو خوښه، زما مهرباني، ماته ګراني، زمانازولې ماریا !تاسو تل دخپلې لور په څېر راته ګرانه وئ، ترهغه وروسته له هغې نه لرې شو او په رښتیایې په سترګو کې اوښکې تاو راتاو شوې.

سردار نیکولای اندرېوویچ څو ځله پزه وسغوله او وې ویل:

-سردار دخپل روزل شوي ،دخپل زوی له لوري تاته د واده وړاندېز کوي، اوس ته غواړې چې د سردار اناتول کوراګین مېرمن شې او کنه؟

هغه په لوړ آواز زیاته کړه:

یو ازې وو ایه، هو او که نه !او تر هغه وروسته به بیا زه، په دې اړه خپله خوښه او ناخوښه تاسو ته ووایم.او بیا یې سردار واسیلي ته چې بشرې یې دننوا تو حالت درلود ، وویل:

-هو کې خپله خوښه !یوازې خوښه او ناخوښه؟

شهزادګۍ ماریا په خپلو ښکلو سترګو سردار واسیلي او پلار ته وکتل او په زغرده اوډاډمنه توګه یې وویل:

-ګرانه پلاره !زماخوښه خو داده چې تل له تاسو سره پاتې شم او هېڅکله خپل ژوند ستاسو له ژونده جلا نه کړم،زه نه غواړم مېړه وکړم.

سردار نیکولای اندرېوویچ تندی تریو کړ او چیغه یې کړه:

-اپلتې مه غړوه، دا څه حماقت دی، اپلتې، اپلتې، اپلتې !دا څه اپلتې غړوئ !لور یې له لاسه راونیوله، بې له هغه چې هغه ښکل کړي، دهغې سربې ځان خواته راخم کړ، خپل تندی یې دهغې پر تندي ورکېښود. او دهغې لاس یې داسې کېښکود چې نجلۍ تندی تریو اویوه نرۍ چیغه یې کړه.

سرداروا سیلي له ځایه پاڅېد او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زما مهرباني !غواړم وو ایم چې د غه شیبه به په ژوند کې هېڅکله هېره نه کړم، تر ټولو زمانازولې ! مورې ته متې دو مره هیله راکړه چې کوم وخت وکولای شو ستا مهربان او خواخوږې زړه ته لاره او ځای پیدا کړو.وو ایئ !وو ایئ ،راتلونکې روښانه او له هیلو ډکه ده،وو ایئ !کېدای شي...

- سرداره ! ما دخپل زړه خبره تاسو ته وکړه !له هغه ویاړ چې ماته مو راوباښه مننه !خو غواړم وو ایم چې هېڅکله به ستاسو دزوی ښځه نه شم.

مشر سردار وویل:

- هرڅه څرګند او پای ته ورسېدل،هغه زیاته کړه:

-ګرانه ! ستاسو له لیدو خوشاله شوم،خورا خوشاله ! ماریا ته درځه خپلې کوټې ته،درځه !

په داسې کې حال چې له سردار و اسیلي نه یې غبرګ تاووله، وویل:

-ستاسو له لیدو نه خورا خورا خوشاله یم.

شهزادګۍ ماریا په زړه کې ویل:

-زه نورې هیلې لرم.زما قسمت دادي چې دنورو په نیکمرغۍ کې نیکمرغه واوسم.زه غواړم خپله مینه نوروته په ځان ښندنه او مینې کې پیدا کړم.هرڅنګه چې کېږي زه باید هسې څه وکړم چې پېغله بوري ین نیکمرغه شي.هغې،اناتول سره لېونۍ مینه پیدا کړې ده او په هماغه لېونتوب په هغې پېښمانه ده.زما چې څه له لاسه کېږي ترسره به یې کړم چې ددې بدمرغې نجلۍ ارمان ترسره او له هغه سره واده وکړي.که دغه ځوان پیسې نه لري، زه به پېغلې ته هغه ورکړم،زه به مې له پلاره او له ورور اندرې نه هیله وکړم چې مرسته ورسره وکړي.که دا نجلۍ د اناتول ښځه شي زه به ځان ترټولو نه نیکمرغه وګڼم.هغه څو مره بدمرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، دلتــه پــردۍ پردۍ، یــوازې او خــواره ده.اې پاکــه خدایــه !پــه څــه لېونتوب دا له هغه سره مینه کوي، داسې هغـه ورتـه ګـران دی چې هغـې خپـل ځـان هـم هېـر کـړی دی، کـه زه هـم دهغـې پرځـای وای، مـا بـه هـم همداسې کړي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

درستوف کورنۍ له ډېرې مودې راهیسې له خپل زوی نیکولای جانه هېڅ خبر نه لاره.دژمي نیمایي وه چې ګراف یو لیک ترلاسه کړ او د لیک دشا له کرښو نه یې دخپل زوی دلاسلیک نښه و پېژانده.دلیک د ترلاسه کولو سره سم ،په چټکۍ او وېرې،دپښو په څوکو کرارکرار له دې ډاره چې دچا ورته پام نه شي،خپل دفتر ته لاړ، ځان پسې یې ور پورې کړ او دلیک په لوستو شو.انامیخایلوفنا چې له لیکه خبره شوه(ځکه په کورکې دهغې له خبرتیانه پرته، دهېڅ پېښې کېدنه شونې نه وه ) په کرار کرار دګراف کوټې ته ورننوته او ویې لیدل چې هغه لیک په لاس، سترګې له اوښکو ډکې ،خو په خندا هغه لولي.

انا میخایلوفنا سره له هغه چې اوس یې ژوند ښه شوی و ،خو لاهم درستوف له کورنۍ سره اوسېدله.

په ویرجن او پوښتنیزغږ او په هرغم او خوښۍ کې له خپلو کوربنو سره دګډون د چمتوالي په احساس یې،وویل:

-ګرانه دوسته !

ګراف دهغې په لیدو لا پسې په سلګو شو او وې ویل:

-نیکولای جان !...لیک...ټپي...ټپي شوی..زما دزړه سره،ګرافینې نازینې ! هغه افسر شوی،دخدای شکر،زه اوس خپلې ګرانې ګرافینې ته څنګه ووایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آنا میخایلوفنا دهغه ترڅنګ کېناسته.په دستمال یې دهغې له سترګو ، پرلیک تویې شوې اوښکې او خپلې سترګې وچې کړې،لیک یې خپله ولوست اوګراف ته یې ډاډ ورکړ چې تر غرمنۍ مخکې او کېدای شي،د چای تر ځکلو مخکې ګرافینه دخدای په مرسته ددې خبرو اورېدو ته چمتو کړي.

دچای په وخت کې یې دجګړې د اوازو او نیکولای جان په اړه خبرې وکړې او بیا یې پوښتنه وکړه چې وروستی واریې له هغه نه څه وخت لیک ترلاسه کړی دی...هر وار به چې ګرافینې غوښتل تردغو کنایو وروسته پرېشانه شي،کله به یې ګراف او کله به یې آنا میخایلوفنا ته کتل.انامیخایلوفنا ،په خوراځیرکتیا او کرار دخبرو لړۍ بدله کړه او له څه بې اهمیته خبرو نه به یې خبرې پیل کړې.ناتاشا چې د کورنۍ دنورو غړو په منځ کې په ځیرکتیا مشهوره وه او دخبرو له منځه دهغو په راز پوهېده او دنورو په خبرو کې هرڅه لوستل،د سهارنۍ له پیله دې ته پام کړی و ،چې ددې دپلار او مېلمنو ترمنځ کوم رازشته او دا رازددې ورور نیکولای پورې اړه لري...تر ډوډۍ وروسته یې ځان انامیخایلوفنا ته ورورساوه،په واړه مېلمستون کې ورترغاړې شوه او وې ویل:

-ګرانۍ تروري !ګرانې تروري !راته ووایه څه خبره ده؟

-نه،کومه خبره ګرانې؟

-نه ګرانې تروري،ماته خوږې او دزړه سرې !کله دې پرېږدم،پوهېږم چې کومه پېښه شوې ده.

آنامیخایلوفنا سر وښوراوه او وې ویل:

-عجیبه ځیرکه او هوښیاره نجلۍ یې،ګرانې !

ناتاشا دهغې له بشرې تصور وکړ چې،تصور یې رښتیا ده،چیغه یې کړه او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د نیکولای لیک را رسېدلی دی؟هرومرو همدا خبره ده؟

-خو د خدای لپاره احتیاط کوه.ته پوهېږې چې دا خبر به دې مورته ښه تکان ورکړي.

-کوم یې، مورته مې کوم ! خو که راته ونه وایې چې څه یې لیکلي، نه وراته وایې؟ همدا اوس ځم او ورته وایم.

آنا میخایلوفنا دې ته اړوته چې په لنډه توګه د لیک خبرې هغې ته ووایي، خو له هغې یې هیله وکړه چې په دې اړه هېڅ چاته، څه ونه وایي.

ناتاشا پر ټټر او تندي صلیب وکېښ او وې ویل:

-قسم خورم، قسم، چې هېڅ چاته ونه وایم او په چټکۍ د سونیا خواته ورغله او په ویاړمن او ډاډمن آواز یې وویل:

-نیکولای جان...ټپي...لیک...

د سونیا بشره سمدلاسه تکه سپینه شوه او یوازې یوه خبره یې له شونډو راووته:

-نیکولا !

ناتاشا چې د وروردټپي کېدو د خبر په اورېدو د سونیا د بشرې بدلیدل ولیدل ، د دې خبر غم لړلي اغېز ته یې پام شو.ځان یې د سونیا غېږ یې ته ور وارتېره، د هغې پر ټټر یې سر کېښکوده، په ژړا یې پیل او وې ویل:

-ټپ یې هومره ژور نه دی، حال یې ښه دی او بله دا چې اوس یې دافسرۍ رتبه هم ترلاسه کړې ده.لیک یې هم خپله لیکلی دی.

پیتا چې په درنو او غوڅو ګامو په کوټه کې ګرځېده، وویل:

-ویني !څرګنده ده چې تاسو ټولې ښځې پرته له ژړانه په بل څه نه پوهېږئ.زه په دې ډېره خوشاله یم چې...رښتیا وایم، ډېره خوشاله یم چې ورور مې د نورو په منځ کې دغه شان مېړانه کړې ده.ستاسو له ساندو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګهاري نه پرته بل څه زده نه دي.ناتاشا په ژړا کې،وموسېده.
سونیا وپوښتل:
- تا لیک خپله ولوست؟
-ما لوستی نه دی،خو هغې وویل چې هرڅه په خیر تېر شوي او هغه اوس دافسرۍ رتبه ګټلې ده.
سونیا پر ټټر او تندي صلیب وکېښن او وې ویل:
- دخدای شکر دی،خو که هغه ته تېرویستلې یې،بیا به څنګه وشي؟درځې چې مور ته ورشو.
پټیا چوپ واو همداسې په کوټې کې ګرد ګرځېد ،هغه وویل:
-که زه دنیکولای پر ځای وای،مابه تر ټولو نه زیات فرانسویان وژلي وای،هغه ډېر سپک خلک دي.پټیا خپلې خبرې اوږدې کړې:
-ما به دومره ډېر هغه وژلې وای،چې لوی انبار به مې ترې جوړ کړای وای.
- پټیا چوپ شه !ته خو خورا ساده یې.
-زه ساده نه یم،ساده هغه څوک دي چې په هرڅه پسې هسې ژاړي.
ناتاشا تریوې شېبې چوپټیا نه وروسته وویل:
-هغه ستا ښه یاد ېږي؟
سونیا وموسېده او وې پوښتل:
-ته له مانه پوښتي چې نیکولای مې یادېږي او کنه؟
ناتاشا چې غوښتل یې خپلو خبرو ته زغرده ښه ورکړي،وویل:
-نه،سونیا !زما موخه داوه چې هغه دې هسې یادېږي چې پوره دې یاد شي؟دساري په توګه زه چې نیکولای یادوم،دهغه ټول کړه وړه رایادېږي،خو باریس مې سم نه یادېږي،اصلاً مې نه یادېږي.
سونیا په حیرت وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-څنګه دې باریس نه یادېږي؟
-داسې نه چې نه مې یادېږي، بشره مې یې یادېږي، خو هسې چې مې نیکولای یادېږي هغه مې نه یادېږي.نیکولای، همدا چې سترګې وتړم، وینم چې هغه مې ترمخې ولاړ وي، خو باریس داسې نه دی.خپلې سترګې یې وتړلې او وې ویل:
-وینئ، هېڅ نه وینم، هېڅ...
سونیا وویل:
ناتاشا ! له هغه شېبې نه چې ستا په ورور مینه شوې یم، هرڅه چې له هغه، ماته پېښ شي، پروایې نه لرم او زړه به ترې بېل نه کړم.
ناتاشا په حیرت سونیا ته ځیر او همداسې چوپه خوله وه.داسې یې انګېرله، هغه څه چې سونیا وایي، رښتیا دي او هغه مینه چې هغه انځوروي، رښتیا کېدونکې ده، خو دې لا دغه حال په خپل ژوند کې نه و لیدلی، که څه هم هغې دا منله چې دغه راز مینه وي، خو هغه یې درک کولای نه شوه.هغې وپوښتل:
-ته هغه ته لیک لیکې؟...
سونیا تکه سره شوه او وې ویل:
-نه پوهېږم که هغه یې ولیکي، زه به یې هم ولیکم.
-ته هغه ته دلیک له لیکلو نه، نه شرمېږئ.
سونیا وموسېده او وې ویل:
-نه !
-خو زه په دې شرمېږم باریس ته لیک ولیکم.
-په څه شرمېږئ؟
-همداسې، نه پوهېږم، نه پوهېږم، هسې شرمېږم.
پټیا چې دناتاشا له مخکنۍ خبرو نه خوابدی شوی و، سونیا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل:

-زه پوهېږم، ولې شرمېږئ؟له دې نه شرمېږئ چې لومړي خو هغه په دغه غټ خېټې عینکي (پتیا، خپل همنامی پېير، چې نوی ګراف بېزاو خوف شوی و، په دې نامه نوموه) مینه شوې او اوس په دې سندرغاړې مینه شوې(دلته یې موخه دناتاشا دآواز ایتالوی ښوونکی و )هغه له همدې نه شرمېږي.

ناتاشې وویل:

-پتیا ته احمق یې.

پتیا، چې لا لس کاله یې پوره شوي نه و، دیوه بوډا په څېر وویل:

-احمق خو یم، خو تر تانه احمق نه یم ادکې.

ګرافینه چې لا د سهارنۍ په وخت کې دانامیخایلوفنا له خبرو نه خپه شوې و، همدا چې خپلې کوټې ته ورسېده، پر څوکۍ کېناسته، سترګې یې چې اوښکې په کې راډنډ شوې وې، دخپل زوی له واړه او ښکلي میناتورشوي انځور نه، نه شلولې.آنا میخایلوفنا چې لیک یې په لاس کې و، دپښو پر سر، کرار کرار د ګرافینې کوټې ته ورننېږدې شوه، دهغې د دروازې ترشا ودرېده او بوډا ګراف ته یې چې دې پسې جوخت راروان و، وویل:

-صبر وکړئ، لږ تم شئ.او ور یې ځان پسې ور وتاړه.

ګراف سر د دروازې دکلي په سوري ورکېښود او غوږیې ونیو.

په پیل کې، د ورځنیو خبرو اترو غږ راته، وروسته یې وازې د انامیخایلوفنا مینه ناک غږ چې په هر اړخیزه توګه یې خبرې کولې اورېدل کېدې، بیا دهغې یوه چیغه واورېدل شوه او تر هغه وروسته یوه چوپتیا خوره او سمدلاسه دواړه غږونه په خوښۍ سره ګډ شول، دانامیخایلوفنا دپښو غږ ترغوږه شو او دروازه یې را خلاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه.دهغې په خبره کې،دهغه جراح داکتر غرور او ویاړ لیدل کېده چې ګواکې یو خورا دروند او سخت عملیات یې په بري پای ته رسولي وي او غواړي نندارچیان دخپل هنر دننداري ستاینې ته وروبولي.

دبري له خونده ډکه، په یوه ویاړمنه خوځېدا یې وویل:

-مهرباني وکړئ،کار پای ته ورسېد.

ګرافینې،په یوه لاس کې دزوی،نیکولای په تصویر انځور شوې تنباکرومړه او په بل لاس کې یې لیک نیولی و،خپلې شونډې یې کلک یوه او کله هم بل ته کېښکودې.دګراف په لیدو یې،لاسونه هغه ته وروغځول، دهغه بې ویښتو سر یې په غېږ کې ونیو او د سر له پاسه یې لیک اوپه تنباکرومړې کې د زوی انځور ته کتل.دهغه تک شین سرېې له ځانه په خوراکراری،ددې لپاره پورې واهه چې ښکل یې کړي.ویره،ناتاشا،سونیا او پیتیا کوټې ته راننوتل او دلیک لوستل پیل شول.نیکولای په لیک کې دجګړې او هغو دوو نښتو دحالت په اړه په لنډه توګه لیکلي و،چې ده په کې ګډون درلود،بیا یې دافسرۍ داخیستواو بیا یې ویلي وچې دمورجانې او پلارجان لاسونه ښکلوي او له هغو نه هیله کوي چې ده ته دعا وکړي او یادونه یې کړې وه چې ویره،ناتاشا او پیتیا ته سلامو نه لېږي او هغوی ښکلوي.ددې ترڅنګ هغه ښاغلي شلینګ،مېرمن شوس او خپلې مینځې ته هم سلامونه لېږلي وو.هغه بیا هیله کړې وه چې ګرانه سونیا دپخوا په شان ورته ګرانه ده،هغه یې ډېره یادېږي اوباید دده له خوا ښکل شي.سونیا،ددې خبرې په اورېده تکه سره اوپه سترګو کې یې اوښکې رابښکاره شوې.هغې چې، دې ته د وراوښتل شویو غلچکونو زغم نه درلود،په تېښته لوی تالارته وتښتېده، داخوا،آخویې منډه کړه،وچورلیده،لمنه یې چې له منډو نه پیدا شوې وړمې ووهله، لکه سایوان داسې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوړوله او په خورا خوښۍ او مستۍ په غوړېدلي لمن پرځمکه کېناسته.

ګرافيني ژړل.

وېرې وپوښتل:

-مورې ولې ژاړې؟له هغو خبرنه چې هغه ليکلي،موږ بايد خوشاله شو ،نه دا چې اوښکې تويې کړو.دا په رښتيا چې يوه دحق خبره وه،خو ګراف،ګرافينې او ناتاشا ،ټولو هغې ته د ملامتۍ په سترګه کتل.

ګرافينې خو په زړه کې ويل:

-دانجلۍ چاته پاتېږي؟

دنيکولای ليک په سلګونو وارې ولوستل شو او هر هغه چا چې دهغه دا ورېدو وياړ غوښته،بايد ګرافينې ته چې يوه شېبه يې هم ليک له منګولو ، نه لرې کاوه ،ورنېږدې شوي وای.ښوونکې،مينځې او آشنايان به ټول راتلل او ګرافينې به بيا بيا ليک لوسته اود هر وار لوستلو نه به يې له خوند اخيستو سره په هغه کې د نيکولای دنويو وياړونو رازونه موندل....

دليک يوه برخه يې چې لوسته،بيا به يې وويل:

-څه ښکلې ليکنه؟څنګه هرڅه ښکلي انځوروي او څه لوی روح !دځان په اړه هېڅ نه ليکي،خو ددې دينسوف چې نه پوهېږم څوک دی،څومره ستاينې کوي.حال دا چې دی په خپله به تر ټولو په مېړانه جنګېدلی و.دخپلو زورېدونو په اړه يې هېڅ نه دي ليکلي،رښتيا چې خورا مېړنی...او دنورو زلميانو لپاره دوياړ او سرښندنې نښه دی....

د ټولې کورنۍ په ګډو هڅو ،تر يوې اونۍ وروسته دنيکولای دليک ځواب وليکل شو.هغه لومړی ګډوډ او بيا سيخ او ښکلی ليک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیکه.دګراف په زیار او دګرافینې ترڅارنې لاندې،هرڅه،دورځني ژوند دارتیا وړ واړه توکې، پیسې، جامې،پوځی نښې او کالي نوي افسر شوي ځوان ته چمتو او برابر شول.

انامیخایلو فنا چې په منډو تررو او دآشنایانو او اړیکو په پیدا کولو کې یې ځانګړی مهارت درلود ،په دې بریالۍ شوې وه چې په پوځ کې هم ځان او خپل زوی ته ملاتړ او غمخوران پیدا کړي،آن دا لاره یې هم موندلې وه چې لیک دګار دسترقوماندان شهزاده کانستانتین پاولوویچ په نامه ولیکي...هغه په دې ډاډمنه وه،که دغه لیک دغه قوماندان ته ورسېږي...قوماندان به هغه باریس او باریس به هغه نیکولای ته ورسوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

د نوامبر په دولسمه د کوتوزوف جنګيالى پوځ په الميوخ نومي ځاى کې قرارګاه نيولې وه او دې ته يې ځان چمتو کاوه چې يوه ورځ وروسته د روسيې او اتريش د ټولو اکانو په وړاندې پريېټ سرته ورسوي.

يوه قطعه چې تازه له روسيې نه رارسېدلې وه، هغه شپه يې د اولميوخ په پنځلس ورست واټن کې تېروله، هغې قطعې غوښتل چې سبا ته د سهار په لسو بجو مخامخ له هماغه ځايه د پريېټ ډګر ته لاړه شي.

په همدې ورځ نيکولاى رستوف د باريس له خوا داسې يوليکل شوى ياد ښت ترلاسه کړ، چې د ازماعيل کنډک تېره شپه د الميوخ پنځلس ورست واټن ته نه دى رسېدلى، خو باريس دې ته سترګې په لاره دى چې ده ته رالېږل شوې پيسې او جامې ترلاسه کړي. له جبهې نه تر راګرځېدو وروسته د دوى پوځ ،الميوخ ته نږدې د ځاى پر ځاى کېدلو له امله هغه خورا زيات و پيسو ته ځکه اړتيا لرله، چې هلته اتريشي او يهودي سوداګر ډېر زيات وو او په زړه پورې شيان يې خرخول. د پاولګراد په غونډ کې د نويو ترفيعو، مډالونو او نښانونو داخيستو له امله هره ورځ بنډارونه وو، مېلمستياوې وې، جامونو او شرابونه وو ،اولميوخ ته د مجاري کارولين دليدو په تمه تګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتګ، چې هلته نوی رارسېدلی و او له نازولوښکلو ساقیانو سره یې میخانه جوړه کړې وه. رستوف چې تازه یې دویم برېدګیتوب ته خپله ترفیع لمانځلې وه، د دنیسوف بدوین نومې آس یې اخیستی و، د دوکاندرانو او میخانوپوروړی و، همدا چې دباریس یادښت یې ولوست، له خپل یوه انډیوال سره اولیموخ ته لاړ، ښه ډوډۍ یې وخوړه او یو بوتل شراب یې وڅکل او ترهغه وروسته په ګارډ کې د خپل ماشمتوب د وختونو انډیوال ته یوازې ورغی... کله چې رستوف هلته ور ورسېد، هلته ډېر خلک او له هغه ډلې نه باریس د میز شا او خوا ته ناست وو او د شطرنج لوبه یې کوله... باریس له بیرګ سره لوبه کوله. تو ده لوبه روانه وه. باریس وویل:

-اوس به وګورم چې دې ځای نه څنګه ځان ژغوري!

بېرګ ځواب ورکړ. هڅه به کوو. خپلې ګوتې یې پیاده ته ورنېږدې کړې، خو پېښمانه شو او لاس یې بېرته کړ.

په دې وخت کې دروازه خلاصه او رستوف چیغه کړه:

-بالاخره مې پیدا کړ، واه واه، بېرګ هم دلته دی. درځئ بچیانو، نور نو ویده شئ. دا د نیکولای د ماشتمتوب د مینځې خبرې وې، چې نیکولای او باریس د هغو په اورېدو په کړس کړس خندل او نن یې د هغه په لیدو بیا د خندا لپاره تکرار کړې... باریس د رستوف هر کلي ته پاڅېد، خو د پاڅېدو په وخت کې یې دې ته پام شو چې د شطرنج په دړه ولګېد، هغه پاڅېده، خو ده یې مخه ونیوله او پر ځای یې کېښود. دوی د دود له مخې چې سره مچول یې، دوی سره مچ هم نه کړل او نیکولای ځان شاته کړ... نیکولای غوښتل چې د خپل ملګري د پیدا کېدو په وخت کې داسې یو څه وکړي، چې یوازې دده کړه وي. د ساري په توګه هغه غوښتل چې هغه وسکونډي یا یې پورې وهي او آن هغه یې مچ هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ.باریس برعکس خورا کرار او په مینه له هغه غبرګ چاپېره او درې واره یې رستوف مچ کړ.هغوی لږ ترلږه نیم کال سره نه و لیدلي او دواړه په هغه منګ وو چې زلمیان په هغه کې دژوند لومړني ګامونه پورته کوي،دواړو په یوبل کې خورا زیات بدلونو نه چې دهغوی دکار او زیار دچاپیریال اغېز وو ،ولیدل.هغه ټول دوی ته تازه وو.هغوی دواړه تر وروستي دیدنه وروسته ډېر بدل شوي وو او تلوار یې سره درلود ،چې دغه بدلونو نه یوبل ته وښيي.

رستوف په ختو خپل ککړ پطلون هغه ته ورښود ،په ډېر او زغرد پوځي آوازیې چې دباریس لپاره چور نوی و ،وویل:

-وګورئ !دا څنګه ښکلی،سپېڅلی او پاک دی،ته به وایې چې چکر ته وتلی،ګرځي راګرځي،تاسو چېرې او موږ دجبهې خوار سرتېري چېرې؟دکور اتریشي کوربنې د رستوف دلوړ غږ په اورېدو ،له دروازې نه سر راوویست.

رستوف سترګه کېښکوده او وې ویل:

-واه واه،ښه خوندونه مو کړي دي،ښه شی ده.

باریس وویل:

-دا څه خبره ده چې داسې چغې وهې !په دې شروشور خلک ډاروې.

اوبیا یې زیاته کړه:

-نن مې دې انتظارنه لاره،همدا پرون و چې دکوتوزف یو یاور بالکونسکي، یو یادښت راولېږه،خو هېڅ تصور مې نه کاوه چې داسې ژر به هغه تاته ورسوي...ښه اوس راته ووایه چې،څنګه یې؟څنګه؟کله تر ډزو لاندې راغلي یې؟

رستوف بې له هغه چې،ځواب ورکړي،د ګیورګي صلیب ته چې دپوځي دریشۍ پر ټټر یې ځوړند و ،په سرتېره مېړانه ټکان ورکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړې ته پروت ترلې لاس ته اشاره او بېرګ ته وکتل او وې ویل:

-داده ګوره نو !

باریس په موسکا وویل:

-هو کې هو کې !آفرین د برښه !موږ هم ښه ویاړمنه مېړانه وکړه.هرومرو به خبر شوی یې چې،ولیعهد تل زموږ له کنډک سره روان و ،نو له دې کبله ټولو خوندونو او آسانتیا نه برخمن وو.په پولند کې خو به چې هرچېرې رسېدو ،هرکلي وو او مېلمستیاوې،ماښامنۍ او نڅاوې او بنډارونه !څه درته ووایم،ولیعهد هم له ټولو افسرانو سره ښه خواخوږي کوله.

دواړو اندیوالونو ،هریو دخپل ژوند کیسې او غورې کولې:یوه دخپلو سرښندنو ، نشو او مستیو ،چې د سورو افسرانود ورځني ژوند ځانګړتیاوې دي غورې کولې او بل د سترو شخصیتونو تر لاس او څارنې لاندې د خدمت دښو ځانګړتیاوو ،دخوندونو کیسې کولې.

رستوف وویل:

-هو کې په ګارد کې خو خدمت بل خوند لري،رښتیا ولې شرابو پسې څوک نه لېږې؟

باریس لږ تندی تریو کړ او وې ویل:

-هرمرو نور،شراب غواړې؟

دخپل کټ خواته ورښږدي شو ،دخپل پاک سرو بږدي لاندې نه یې دپیسو وړه کڅوړه راوویسته او سپارښتنه یې وکړه چې شراب راوړي.هغه زیاته کړه:

-هو کې !تاته باید لیک او پیسې هم درکړم.

رستوف،لیک واخیست او پیسې یې پر اوږدې څوکۍ ور وارتېږلې،څنګلې یې پر میز کېښودې او دلیک په لوستلو بوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. دليک څو کرښې يې چې ولوستې، په خورا قهر يې بېرګ ته وکتل او همدا چې دهغه غبرګ کتل يې ځان ته وليدل، مخ يې دليک تر شا پټ کړ.

بېرګ پر څوکۍ له پيسو ډکې پرتې کڅوړې ته وکتل او وې ويل:

-ښې پرېمانه پيسې يې درته رالېږلې دي، خو موږ خوران بايد دعسکرۍ په معاش ژوند وکړو، مګر زه بايد دځان په اړه وو ايم چې...

رستوف په ترخه ژبه او لوړ آواز وويل:

-ګرانه بېرګه !خوږه ملګريه !پوهېږې که تاسو له کوم ځايه او له کوم چانه کوم ليک ترلاسه کړی وای او تاسو دخپل ملګري ديدن ته ورغلي وای او غوښتل مو چې له هغه سره دزړه خواله او غورې وکړئ، نو که زه هلته وای سمدلاسه به مې يو ازې پرېښې وای او تللی به وای، چې ستاسو دخبرو خنډ شوی نه وای. نو اوس غوږ شه !مهرباني وکړئ او کومې خواته لاړشئ ،هرې خواته چې ځئ، يو چېرته لاړشئ او خپله نشه وکړئ، بلا درپسې، ووزئ.

دا خبره يې چې وکړه، سمدلاسه يې لاس پر اوږې ورکېښود او په خورا مينه يې هغه ته وکتل، هغه غوښتل په دې توګه دخپلو خبرو توندوالی لږ نرم کړي، نو زياته يې کړه:

-پوهېږئ !چې خپه نه شئ، ته خو زموږ پخوانی يار يې، ځکه دا سې ډانګ پېبلې او سپينې خبرې درسره کوم.

بېرګ پاڅېد ،په ډک ستوني او مات آواز يې وويل:

-پوهېږم، سرداره !داڅه خبره ده، هېڅ پروانه لري، ښه پوهېږم.

باريس وويل:

- دکور څښتنانو ته ورشه !هغوبللی وې.

بېرګ، خپل پاک ،بې لکو او بې دوړو خړ نري کوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واغوست، دهینداري په وړاندې یې خپلې جړې څڼې دټولو اک الکساندر پالوویچ په شان پورته خواته ږمځ کړې او همداچې پوه شو چې جامې یې د رستوف خوښې شوي دي، په خوښۍ او موسکا له کوټې نه ووت.

رستوف دلیک دلوستلو په لړ کې وویل:

-یو خوسکی رانه جوړ دی.

-ولې څه خبره ده؟

-هسې یو خنځیر رانه جوړ دی، هغو ته مې یو لیک هم نه دی ورلیږلی، ډیر پریښانه شوي دي.

تک سور شو او بیا یې تکرار کړه:

-په رښتیا چې مردار خنځیر رانه جوړ دی، ښه ورکه وه یې، ګوره څه ته ګورئ !دا ګوریل شرابو پسې واستوه چې لږ شونډې لمدې کړو.

د کورنۍ له لیک سره یو سپارښتیز یادښت هم مل و. دغه یادښت زړې ګرافینې د انامیخایلوفنا له لارې دهغې ددوستانو له خوا درستوف دقوماندان باګراتیون په نامه لیکل شوی و...

رستوف چې دغه یادښت ولوست، هغه یې میز لاندې وارتېږه او وې ویل:

-دا لا څه حماقت دی؟زه داسې لیکونو او واسطو ته اړتیا نه لرم.

باریس وویل:

-ولې دې لیک وارتېږه؟

-هسې ددې واسطو، ماسطو لپاره یو یادښت و، زه هغه څه کوم، بلا ورپسې.

باریس یادښت راپورته کړ، هغه یې ولوست او وې ویل:

-څنګه بلا ورپسې؟دا یادښت تاته خورا ګټه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه هېڅ څه ته اړتیا نه لرم او نه د چا یاوري غواړم.
باریس وپوښتل:
-نو ولې؟
-یاوري یعني مزدوري.
باریس سر وښوراوه او وې ویل:
-زه تصور کوم، ته لا تر اوسه هم په خیالونو کې ډوب یې.
رستوف ځواب ورکړ:
-او ته لا هماغه شان دیپلومات چې وې یې! راځه ورکه وه یې، ته څه هیله لرئ؟
-څه وو ایم! دا دي وینئ، تر اوسه پورې هرڅه ښه دي، خو غواړم اعتراف وکړم چې هیله مې لرله، چېرې یاور شم، یاور، نور نه غواړم جبهه کې پاتې شم.
-ولې؟
-ګوره یو وار چې پوځ ته لاړیې، بیا نو باید هڅه وکړې چې کرار کرار لوی منصب ترلاسه کړې.
رستوف چې برېښېده، د خیال مرغه یې بل چېرې الوزي، وویل:
-ښه! نو داسې آ!
په ځیر ځیر یې د خپل دوست سترګو ته سترګې ګنډلې وې او داسې برېښېده چې هسې د هغه په سترګو کې د کومې پوښتنې ځواب لټوي.
په دې وخت کې و، چې زاړه ګاوریل، شراب راورسول.
باریس وویل:
- زه خو شراب نه شم څکلی، نو اوس الفونس کارلیچ پسې یو څوک ولېږه چې هغه یې درسره وڅکې.
رستوف له سپکاوي نه په ډکه موسکا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ولېږه !ولېږه !نو دا وړستركې جرمن سره به...څنګه؟
باريس وويل:
-هغه خورا ښه،صادق او د ښه طبيعت خاوند دی.
رستوف يوځل بيا په ډېر ځيرد باريس ستركو ته ځير شو او يو سوړ اسويلی يې وويست.بېرګ هم بېرته راستون شو ،د بوتل سر يې مات او دغه درې كسيزه مركه توده او توده شوه.د ګارد دوو افسرانو ،رستوف ته د خپلې سفر برۍ او دا چې څنګه په روسيه كې، په پولند كې او له هغه نه بهر په نورو ځايو كې خلكو هغوی ته تود هركلی وايه.هغوی د ټوكو ترڅنګ،د خپلو قوماندانانو د كړو وړو ،د مشر سردار او د هغه د سپېڅلو الي او ځير كتيا نكلونه كول...
بېرګ،خپل پيپ ولګاوه ،په داسې حال كې چې د هغه لوګی يې كړۍ كړۍ مخ پورته لېږه ،وويل:
رستوف،د خپلو نكلونو په منځ كې دلته رسېدلی وچې:
-ته يې تصور هم نه شې كولې چې د يرغل په وخت كې انسان څه يو عجيب او ليونی احساس لري-اندرې بالكونسكي چې باريس ورته ستركه په لارې و ،راننوت.د سردار اندرې دا خوښېدل چې د ځوانانو ملاتړ وي او په دې وياړېده چې كولای شي له هغو سره مرسته وكړي.هغه باريس ته هم چې لنډه موده مخكې يې خوښ شوی و ،ښه نظر لاره او تكل يې لره له هغه سره هم مرسته وكړي.
كوتوزوف،اندرې ته سپارښتنه كړې وه ،چې ځينې اسناد وليعهد ته ورسوي او په لاره كې يې په دې تمه چې باريس به يوازې وګوري،د هغه كوټې ته ورننوت.خو كله چې كوټې ته ننوت د سورو پوځونو...دا كبرجن افسر يې چې په ځانستاينو او خپلو پوځي بريو لګيا و ،وليد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندرې ترسترې مشي نه وروسته باريس ته وموسېد ،خو رستف ته په کتو سره يې تندی تريو شو ،سرېې وښوراوه او په خواره ستومانۍ پر اوږدې څوکۍ کېناست.هغه په دې خواشيني و ،چې د غسې کسانو لکه رستوف سره مخامخ شوی دی.رستوف چې په دې خبره پوه شو ،خوايې بده شوه ،مګر اندرې يو پردی سړی و ،نوځکه يې د دې خبرې هېڅ پروا ونه ساتله...خو د دې ټولو خبرو سره سره وشرمېد ، تک سوراو چوپ شو. باريس د سردار اندرې نه ،په سترې قوماندانۍ کې دنويو او تازو خبرونو پوښتنه وکړه او وې ويل کې امکان لري او له رازه وتلې خبره نه وي،دوی ته دې وواييي.

بالکونسکي داسې ښودله چې ګواکې د هرچا ترمخې غږېدای نه شي،وويل:

-کېدای شي د پرمختګ امر وشي.

ببرګ له وخته په ګټه اخيستو سره په خورا درناوي وپوښتل چې ايا د ټوليو قوماندانانو ته د هغو معاش د دوه برابره کېدو ،آوازه رښتيا ده او کنه؟

سردار اندرې په خندا ځواب ورکړ چې دی هومره لوی منصب نه لري چې په د غو له رازونو نه ډکو پرېکړو خبر وي.ببرګ کړس کړس وخندل.

سردار اندرې،باريس ته مخ ورواړاوه او وې ويل:

-ستاسو په اړه به لږ وروسته وغږېږو. بيا يې رستوف ته وکتل او زياته يې کړه:

-سباته به تر پريټه وروسته ماته راشئ ،هرڅه مې چې له لاسه وشي،وبه يې کړم.

ترهغه وروسته يې شاوخواته ځير شو ،پرته له هغه چې د رستوف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم وزمه بې پروايي ته چې په قهر بدله شوې وه پام وساتي، وويل:
-فکر کوم تاسو د شونګرابينسکي د جګړو په اړه غږېدئ، تاسو هم په هغو جګړو کې ګډون کړی و، که څنګه؟
رستوف له ملنډو نه په ډکه ژبه چې ګواکې هغه يې کوله اندرې خپه کړي، وويل:
-خود مې ګډون درلود.
بالکونسکي د سواره پوځي له قهره ډک حالت ته پام شو، ډېر خندني ترنظره ورغی او له سپکاوي نه په ډکه موسکا يې وويل:
-د دې جګړو په اړه خورا ډېرې کيسې کېږي. رستوف چې له غضب نه ډکې سترګې يې باريس او بالکونسکي ته وراړولې وې، په ډېرلوړ او قهرجن آواز يې وويل:
-هو کې کيسې !کيسې خورا ډېرې دي. خو زموږ کيسې د هغه چا له خولې دي چې د دښمن تر اورلاندې پاتې شوي دي، رښتيانې دي، نه د هغو نازولو له خولې نه چې د جبهو نه لرې په قوماندانيو کې ناست دي، رتبې، نښانونه او مډالونه اخلي.
سردار اندرې په ډېره خوښۍ او موسکا وويل:
-البته ماهم د هغو په ډله کې شمېرې.
هغه کرکه او خوابدي چې د رستوف په زړه کې د دغه افسر په وړاندې ابشدله، اوس د هغه د ارامۍ ترليدلو وروسته له درناوي سره ګډېدله، هغه وويل:
-زه ستاسو په اړه نه غږېږم، تاسو نه پېژنم او د زړه له کومې وايم چې ستاسو د پېژند ګلوۍ لېوال هم نه يم. زه په ټوليزډول د قوماندانۍ د افسرانو په اړه غږېږم.
سردار اندرې چې د ارامۍ د واک شرنګهاري يې په آواز کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربېدل کېده، دهغه خبرې پرېکړې او وې ویل:

-اوس نو غوږ شه.تاسو غواړئ ما ته سپکاوي وکړئ، غواړم ووایم که تاسو ځان ته درناوي ونه کړئ، دا هومره ګرانه خبره نه ده.خو زه دا وایم چې تاسو ددې لپاره نه ښه ځای او نه ښه وخت ټاکلی دی.په راتلونکو څو ورځو کې باید ما او تاسو تر دې نه په یوبل لوی او خورا زغرد دوئل کې ګډون وکړو او ددې ترڅنګ دروبتځکوي چې ځان ستاسو پخواني اشنا بولي په دې کې ملامت نه دی چې زما څېره مو تر سترګو ښه نه برېښي او زه یې درپېژندلی نه یم.

او بیا یې زیاته کړه:

- خو را به شو دې ته چې،نه مې ستا کړه ځانته سپکاوی ګڼلی دی او نه ما خپله تاسو ته کوم سپکاوی کړی دی،خو دیو چا په توګه چې څو کاله تر تاسو نه مشر یم، غواړم تاسو ته ووایم چې په دې خبرو پسې مه ګرځئ،هغه هېره کړئ او بیا یې باریس ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

-ښه !دروبتځوکیه !نو دجمعې په ورځ،تر پریتهه وروسته درته سترګه په لاره یم.بیا یې دواړو ته درناوي وکړ او له کوټې نه ووت.

رستوف ته هغه ځواب چې هغه ته یې ویلای وای،یوازې هغه وخت وریاد شو چې،سردار اندرې وتلی و او له همدې خبرې نه چې دغه ځواب یې هغه ته ویلی نه و ،لاپسې تک شین شو.سمدلاسه یې سپارښتنه وکړه چې آس یې راوستل شي اوله باریس سره تر یوې وچې خدای په امانۍ نه وروسته خپل کورته لاړ.په ټوله لاره کې دغه خیال ډېره زوراه چې ایا:

-سبا سترې قوماندانۍ ته لاړ شي او دغه پر ځان مین یاور ته د دوئل بلنه ورکړي او یا په رښتیا دغه پېښه هېره کړي؟

کله به یې له ډېرې کرکې،دهغه ډار له لذت نه خوند اخیست چې دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تو ما نچې دو ېرې نه دغه کمکی، خوار خو کبرجن انسان ربړېدي. کله به يې بيا په ډېرې حيرانتيا دا احساسوله چې د هغه په ټولو آشنايانوکې داسې څوک نه شته چې د دغه ناآشنا ياور په شان، د ده زړه د هغه د ملګرتيا او دوستۍ غوښتونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

د باریس او رستوف ترکتنې یوه ورځ وروسته، له روسیې نه د نویو رارسېدلو او هغوقواوو په ګډون چې له کوتوزوف سره له جګړې نه راستانه شوي وې، د روسیې او اتریش د پوځونو ګډ پرېټ جوړ شو. د روسیې ټولواک له خپل ولیعهد خاروویچ او د اتریش ټولواک د ارځګیرخوګ په ملګرتیا یو ځای د خپل ګډ اتیا زریزه پوځ د پرېټ ننداره کوله.

سرتېري، په خورا پاکۍ او پاکو جامو له سپیدو نه خوځېدلي او د مشق په ډګر کې، د پرېټ د برندې په وړاندې، هرې ډلې خپل ټاکل شوي ځایونه نیول. د زرګونو سرتېرو ګامونو او زرګونو جنډه لرونکو نیزو اوازونه په خورا هما اهنګۍ په هوا کې انګازې کولې. د افسر په یوه غږ به دریش او یا کوم خواته تاو شول او په ځانګړو واټنونو کې به سره ودرېدل او بله خوا به نور پلي، په نورو خو لاښکلو شنو او سرو جامو کې، او یا سواره، په برګو، تورو یا ژیړو آسو و سپاره چې موزیک یې د تګ ملګرتیا کوله خوځېدل. د اسونو د سمونو هما اهنګوالي او د تورو شرنګهاري اوربدل کېده. بلې خواته د ځلېدونکو توپونو کتارونه، چې د باروت بوي ترې راتـه اوربدل کېده، پرخپلو درنو ارابو بارو، له خوځېدا نه یې ټکانونه خوړل او کړپهاري یې اوربدل کېده. دا توپونه د پلو او سورو ترمنځ، تر تېرېدو وروسته هغه ځایونو ته چې د درېدو لپاره ټاکل شوي وو، درېدل. نه یوازې ځورب او ډنګر جنرالان، له رسمي جامو سره چې ملاوې یې په ملاوستو کې تړلې وې.. ښانونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مډالونه پر ټټر، بلکې غوړځني، ښکلې جامې په غاړه افسران، چې ږېرې يې پاکې وهلې وې، سپېځلې وسلې، چمتو شوي آسونه چې له لرې نه ځلېدل.. په لنډه توګه ټولو داسې انګېرله چې کومه ستره، پرتمينه پېښه تر مخې ده او ټول له سرداره تر سرتېره پورې ځان ددې پرتم يوه برخه بلله....

له هڅوډکې منډې چې له سهاره پيل شوې وې، تر لسو بجو پورې هرڅه سم شوي او بېلابېلې ډلې د پربټ په ډګر کې کتار شوې وې. ټول پوځ په درې کتارونو کې دربدلی وو. ترهرڅه دمخه سواره ولاړ وو، بيا توپچي او ترهغه وروسته پلي پوځونه کتار شوي وو....

د راغلل،راغلل ! شروشور په خورا تلوسې او ګبنۍ لکه باد په ګڼو ځنګلونو کې په ټول پوځ کې انګازې جوړې کړې....

د الموتس له پلوه، يوه ډله سواره چې مخکې راروان وو، راښکاره شول. که څه هم په دې شېبه کې باد نه چلېده، خو يوه نرمه وږمه پر پوځ تېره او پر نيزوغوټه شوې جنډې او لوړ شوي علمونه يې ورپول. تصور کېده چې دادهغه سرتېرو دخوښۍ او خوشالۍ څپې دي چې ښار ته رانېږدې کېدونکې دي. ديوه قوماندان غږ انګازه جوړه کړه:

-تيار سۍ !او بيا دغه غږ لکه په چرګ بانګ کې دچرګ آذان لرې لرې د پربټ په ډګرکې پورته شو ،خو ترهغه وروسته يوه چوپه چوپيا خوره شوه.

په دغه مرګنۍ چوپتياکې دآسونو دسمونو غږ اورېدل کېده. ټولواکان دتيارشوي پوځ يوه اړخ ته رارسېدلي وو او دسواره پوځ دلومړي کنډک دموزيک سندريز اواز چې عمومي مارش يې غږاوه، په هوا کې انګازه جوړه کړه. داسې برېښېده چې دا غږ دموزيک غږ نه بلکې دټول پوځ غږ وچې، دټولواکانو له رانېږدې کېدو نه مست

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی او په طبیعي ډول سندریز شوی و. د مارش د سندریز غږ په منځ کې د ځوان ټولواک آواز چې له ورایه پېژندل کېده، پوځ ته هر کلی وو ایـه او د ژوند ،ژوند غږیې وکړ. لومړي کنډک په یو آواز غږ وکړ:

-هورا !

او د هورا غږ داسې کنهوونکی، پرله پسې او سندریز او له خوښـۍ نه ډک و ، چې خپله پوځیان د هغه له ګنهوالي او پرتم نه په وحشت کې شول.

رستوف چې د کوتوزف د پوځ په لومړنیو کرښو کې ،چې ټولواک هم تـر هر څـه د مخـه هلتـه ورغلـی و ،ولاړ و. د هغـه پـه زړه کـې هـم هماغـه احسـاس تلوسـه کولـه چـې د دې پـوځ د هـر غـړي زړه یـې توخنـاوه.دا احساس د ځان هېرول،د ویاړونو پاربدل او له هغه څاسره بې پایه مینه وه ،چې د غه ستر او له خونده ډک احساس یې په دوی کې راپارولی و.

هغه داسې انګېرله چې د دغه سړي یوه خبره د دې لپاره بس ده چې دو ګړو د غه بې پایه سمندر او له هغې ډلې نه دی چې په دغه سمندر کې یـو څـاڅکی دی، ځـان اور او اوبـه تـه واچـوي، وینې تـویې کړي، ځـان د مرګ منګولو او یا د مېړانې او اتلولـۍ غېږ تـه وسپاري.نو لـه همـدې کبله ،ده نه شو کولای، د دغه رارسېدونکې کلمې تلوسه کې نه شي او د هغه په مینه ناک اور کې لمبه لمبه نه شي.

له هرې خوا نه د خوښـۍ انګازې پورته وې:

-هورا !هورا !هورا !

کنـډکونو پـه خپـل مـارش سـره یـو پـه بـل پسـې د ټولواکـانو د رارسـېدو هرکلی کـاوه او بیـا د هـورا د شـر وشـور ،د مـارش او بیـا هورا ،هورا انګازې، چې پرله پسې یې قوت اخېسته، په یو کنهوونکي اواز بدلیدل.

هر کنډک د ټولواک تر ورسېدو پورې، یوې خاموشې د ښتې ته ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ،خو همدا چې تولواک به ور ورسېد ،ناڅاپه ژوندي کېده او له شور ومستۍ نه لکه د سيلاب څپې په خوځېدا راته....

ځوان ښکلی تولواک ،الکساندر ،د سواره پوځ په ښکلو جامو کې ،درې کونجه خولۍ په سر ،په ورين تندي ،په زغرد ،خو نه لوړ غږ ،د تولو پام ځان ته ور اړولی و.

رستوف ،د موزيک ډلې ته نږدې ولاړ او په خپل تند غلچک يې تولواک له لرې وپېژاند ،د هغه حضور پلو ته ور وړاندې شو او په پرله پسې يې ورته کتل.کله چې رستوف د شلو ګامو په واټن تولواک ته نږدې شو ،هغه په ښه توګه د هغه ځوانه او ښکلې څېره ، د هغې له تولو نښو سره وليده.په زړه کې يې د مينې او لېوالتيا داور داسې شغلو شغلې وو هلې چې تر هغه وخته پورې يې هېڅکله احساس کړې نه وې.د تولواک هرڅه،د هغه د څېرې تر تولو کمکې نښې او غږې او هره خوځېدا ، تولو د ښکلا او پرتم څرګندونه کوله.

تولواک د پاولګراد دغونډ په وړاندې ودرېد او په فرانسوي ژبه يې داتريش تولواک ته څه وويل او وموسېد.

رستوف د تولواک د دې موسکا په ليدو ،بې واکه وغوړېده او له تولواک سره يې د مينې لمبې په زړه لا راخورې شوې.هيله يې لرله چې هرڅنګه کېږي،بايد خپله دا مينه هغه ته څرګنده کړي،خو په دې پوهېده چې دا يوه ناشونې خبره ده،نو له دې کبله يې غوښتل چې له غمه وژاړي.تولواک د غونډ قوماندان ورو غوښت او يو څو خبرې يې ورسره وکړې.

رستوف په زړه کې ويل:

-اې زما ربه !که هغه له ما سره غږېدلای وای، له خوښۍ نه به مې سا وتلې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولواک افسرانو ته وویل:

-ټولو ښاغلو !(رستوف ته دهغه هره خبره لکه آسماني غږ دا سې برېښېده ) له تاسو نه دزړه له کومې مننه کوم.

رستوف که کولای شوای، دا به ورته دویاړ خبره وای چې ځان یې له خپل ټاټوبي ته ځار کړای وای.

ټولواک زیاته کړه:

-تاسو پخوا دګیورګیوفسکي دعلمونو دګټلو ویاړ ګټلی دی او اوس هم د همدا سې یوې ویاړنې ،ویاړېدو ته چمتو یاست.

رستوف تصور کاوه:

-ځان به ورنه ځار کړم،ځان به ترې قربان کړم.

ټولواک بیا څه وویل چې رستوف پرې پوه نه شو ،خو سرتېرو دا سې هورا وویسته چې تا به ویل اوس به یې ستونی څېرې شي.

ټولواک څو شېبې د سورو په وړاندې په شک او تردېد کې پاتې شو.

رستوف په زړه کې وویل:

-دا څنګه کېدا ی شي شک ولري،خو وروسته یې همدا شک دهغه دنورو چارو په شان،تر نظر پرتمین او غوره وبرېښېد.

دټولواک دشک شېبې زیاتې اوږدې نه شوې.دهغه وخت له دود سره ،په ښکلو چرمي ساقدارو ،اوږدو ټونګه لرونکو بوټو کې یې خپلې پتهې پښې، دژېړبخنې آسپې له خېټې سره چې دی پرې سپور و ،وسولولې او په سپینو دستکشو کې مروړلې لاسونو یې، دآس پرېښول شوې جلو ځان خواته راټول کړ او وخوځېد.دهغه دیاورانو بې نظمه سیلاو هم هغه پسې روان شو.ټولواک او له هغه سره مل هملاري کرار کرار لرې کېدل،دنورو غونډونو مخې ته درېدل او په پای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره لرې شول چې دهغه دخولې د سپینې لوړې ننبې نه پرته چې دهغه دګڼو یاورانو او داتریش دټولواک دسرونو دپاسه چې دي یې بدرګه کاوه، بل څه نه لیدل کېدل.

دټولواک دیاورانو په ډله کې، رستوف ته بالکونسکي هم وریاد شو، چې خورا تنبل او شوارې پر آس ناست دی. هغه ته ددوی پرونۍ ناندرۍ وریادې شوې او دا فکرېې وکړ چې هغه سیالۍ ته راوبولي که څنګه؟اوس یې په زړه کې ویل:

-دا ښه کار نه دي. هغه له ځانه دا پوښتنې کولې:

-ایا دا ښه کار دی چې په دې وخت کې دی ددې په اړه فکر وکړي؟او یا په دې اړه وغږېږي؟

په دغه وخت کې چې دغه شان پاک احساسات، مینه او سرښندنه دټولو په زړونو کې راتوخنېدلي دي، دا وړې او بې ځایه خبرې او یو له بل نه خپتیان هېڅ معني نه لري، په دې شېبه کې ټول راته ګران او زه ټول ښښمه.

کله چې ټولواک ټول غونډونه ولیدل، پربېټ پیل شو او رستوف په خپل عربې آس چې نوی یې له دنیسوف نه اخیستی و، په بې شان یکه تازۍ نورو سورو پسې روان و، هغه دټولواک تر سترګو ځانګړې ننداره درلوده.

رستوف چې یو بې ساري آس ځغلونکی و، مخکې له هغه چې دپربېټ په ځانګړي ځای کې دخپل درېدو ځای ته ورسېږي، دوه وار یې خپل آس، په خپلو ځانګړو ټونګه لرونکو بوټو په خېټه وواهه، هغه یې چټکې او نڅا ډوله ځغاستې ته ولمساوه. آس چې شنهېده، له خولې نه یې ځګونه بادېدل، غاړه یې هسکه غړوله، اوربوزیې شاه ته کشاوه، پښې یې یو په بل پسې په داسې ښکلا او نازکۍ هسکولې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکې په ځمکه نه لګېږي او آس په آواره په هوا الوزي. داسې برېښېده چې دې ځاروي هم د ټولواک تند غلچک احساس کړی او په نخا د هغه له مخې تېرېده.

خپله رستوف هم ورنونه شا ته خم کړي او خېټه یې د ننه ویستلې وه، داسې چې تصور کېده له آس سره یو شوی دی، په تریو تندي، لېونۍ وزمه خېرې او خورا بد مستۍ او د دنیسوف په وینا د جوړ شیطان په شان د ټولواک له مخې تېر شو.

ټولواک غږ وکړ:

-افرین دې وي، د پاولوګراد غونډ !

رستوف، په زړه کې ویل:

-لویه خدایه !څه به شوي وای چې داسې راته ویل شوي وای چې ځان اور ته واچوه.

همدا چې پرېټ پای ته ورسېد، له روسیې نه تازه رارسېدل افسران او د کوتوزف پوځ ډله ډله ټولیدل او د هغو جرګې مرکې ټولې د فوق العاده ترفیعاتو، نښانونو او مډالونو په اړه وې....

خوله هر څه زیاتې خبرې د ټولواک الکساندر په اړه وې، ټولو د هغه کړه وړه او یا خبرې اترې تکرارولې او هغه یې د زړه له کومې ستایلې.

ټولو یوه هیله لرله او هغه دا چې د ټولواک تر لارښوونې لاندې ژر ترژره دوی ته پر دښمن د یرغل او اوربل امر ورکړل شي. تر پرېټه وروسته، رستوف او نورو زیاتو افسرانو داسې انګېرله، که ټولواک قومانده واخلي، دښمن چې هر څوک وي دوی به هغه ماتوي.

تر دې پرېټه وروسته ټول په بري ډاډمن وو او په دې یې باور درلود چې دوه ګټونکې جګړې یې ترمخې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

تر پریتهٔ یوه ورځ وروسته، باریس خپلې تر ټولو ښکلې جامې واغوستې او په داسې حال کې چې د هغه ملګري بېرګ هغه ته د زړه له کومې د بري هیله کوله، هغه یې د المتوس په لور په دې هیله بدرګه کړچې له بالکونسکي سره وګوري، د هغه له خواخوږۍ ګټه واخلي، ځانته کوم منصب، په تېره بیا یاوري، چې د ده لپاره په پوځ کې تر ټولو نه خورا ښه او درونډ کار برېښېده، پیدا کړي.

هغه په زړه کې ویل:

-دا به د رستوف لپاره چې پلار یې هر وار لس ګونه زره روبله ورته رالېږي، خورا آسانه وي چې وو ایي، هېڅ ته غاړه نه ږدي، د هېڅ چامزدوري نه کوي او همداسې کبرجن وګرځي.زه چې یو خوار او پرته له خپلې ککري بل څه او څوک نه لرم، باید د سبا او بل سبا فکر هم وکړم، خپله راتلونکې جوړه کړم او له هرې شېبې او بخت نه ګټه واخلم.

هغه ونه شو کولای په هغه ورځ په الموتس کې سردار اندرې پیدا کړي، خو د ښار په لیدو، چې لویه قوماندانې هلته استوګنه شوې وه، ټول سیاسي استازي او دوه ټولواکان، سره له خپلو ملګرو دربار یانو، خپلوانو او بدرګه کوونکو نه هلته مېشت شوي وو، په دې کې دا تلوسه لا پسې لمسوله چې د غې ډله ته نېږدې شي.

هغه هېڅوک نه پېژندل، که څه هم د ګارد ښکلې او ښایسته دریشي یې په ځان وه، خو د غو لوړپوړو درباري پوځیانو، چې ځلېدونکي نښانونه او مډالونه یې پر ټټرونو او جګې خولۍ یې پر سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، په خورا پرتمینو ګاډیو کې د ښار په واټونو کې ښکته پورته کېدل، ده ته چې د ګارډ یو خوار افسر و او هغو ته یې هېڅ څه ورته نه و، چور پام نه کاوه او یا یې نه غوښتل پام وکړي.د کوتوزف په قوماندانۍ کې چې ده د بالکونسکي لټونه کوله، ټولو یاورانو او چوپړانو په داسې یوه سترګه ده کتل چې ګواکې غوښتل ده ته ووایي چې دده په شان افسران دلته خورا بې شمېره ښکته پورته سرګردانه ګرځي او دوی یې له لیدو نه ستړي شوې دي.دد دې ټولو خبرو سره سره ،بله ورځ چې د میاشتې پنځلسمه وه، ترغرمې وروسته، بیا دالموتس خواته ورغی او هغې ودانۍ ته چې کوتوزف په کې مېشت و، ورننوت او د بالکونسکي پوښتنه یې وکړه.سردار اندرې په کور کې و.باریس یوه لوی تالار ته بدرګه شو.شاید پخوا په سوله ایز وخت کې به دغه دنڅا تالار و، خو اوس په کې پنځه کټونه، څو څوکۍ او میزونه او یوه پیانو ایښي وو.

یو یاور چې پارسي اوږد کمیس یې په غاړه، دروازې ته نېږدې یو میز ته ناست او په لیکلو لګیا و.

بل تن، یو سور رنګه څورب افسر چې هماغه نیوفیځکي و، لاسونه یې تر سر لاندې و، پر کټ غځېدلی او څنګ ته ناست افسر ته یې څه ویل او خندل یې.

درییم د پیانو شاته ناست و او ویانا نومې نغمه یې غږوله، څلورم پر پیانو ورپروت و او کومه سندرې یې تر شونډو لاندې ویله.

بالکونسکې، په کوټه کې نه و، په کوټه کې له ناستو او ولاړو نه هېڅچا د باریس په لیدو، هغه ته پام ونه کړ.هغه چې په لیکنه لګیا و، باریس له هغه نه د بالکونسکي پوښتنه وکړه، خو هغه په تریو تندي ورته وکتل او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-بالکونسکي د کشف افسر دی، که څوک غواړي هغه ووینې، له کينې خوانه دې، د هرکليو تالار ته لاړ شي.

باريس له هغه نه مننه وکړه او د هرکلو تالار ته ورغی. په تالار کې لس تنه افسران او جنرالان سترګه په لاره وو.

کله چې باريس تالار ته ورننوت... سردار اندرې هغه ته ورنېږدې شو، هغه يې له مړوند نه ونيو او وې ويل:

-ډېر خوابدی يم چې پرون موونه شو کولای ما پيدا کړئ. پرون مې ټوله ورځ له هغو جرمنيانو سره ورکه شوه. وايروتيرم، ته تللي وو، مورچلونه مو کتل. د جرمنيانو ځيرتيا او دقت خو پای نه لري...

سردار اندرې وموسېد... او وې ويل:

-ښه ګرانه! تر اوسه هم لا غواړئ چې ياور شئ؟ هوکې ما په دې اړه پوره فکر کړی دی.

باريس بې له هغه چې په دې پوه شي، ولې سور شوی دی، وويل:

-هوکې! غوښتل مې له ستر قوماندان نه هيله وکړم... تا به ويل چې ننواتې کوي:

-تاسو پوهېږئ چې د شهزاده کوراګين له خوا زما په اړه يو سپارښتنليک ورته لېږل شوی دی او زما د غوښتنې دليل هم دا دی چې ډارېږم زموږ ګارد به جګړې ته لاړ نه شي.

سردار اندرې وويل:

-ډېر ښه! ډېر ښه! بيا به په دې هکله وغږېږو، يوازې اجازه راکړئ چې د دغه ښاغلي په هکله ستر قوماندان ته خبر ورکړم، بيا به ما او تا سره ګورو.

په هغه شېبه کې چې سردار اندرې، د دغه سورمخي جنرال په اړه ستر قوماندان ته ورننوت... داسې بدبد يې باريس ته چې له اندرې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده د خبرو خندې شوی و ، کتل، چې هغه وېرې پسې و اخیست او له جنرال نه یې مخ واړاوه او تلو سه یې لرله چې اندرې د ستر قوماندان له دفتر نه راستون شي.

کله چې هغه له سردار اندرې سره هغه ستر تالار ته چې پیانو په کې ایښې وه، ورستانه شول، سردار وویل:

-ګوره ګرانه !ما ستا په اړه ډېر فکر وکړ، هېڅ په کار نه ده چې ته ستر قوماندان وګورې. هغه به تا ته کوټه خوږې خبرې وکړي، غرمنۍ ته به دې ورو بولي(باریس په زړه کې وویل...چې دا خو والله که بده خبره وي ) خو دا ټول به هغه څه ته چې تا یې غواړې هېڅ ګټه ونه کړي. ډېر ژر به دا یاوران او دا دامرظابطان دومره ډېر شي، چې له هغو نه به یو جلا کنډک جوړ شي. ما او تا به یو بل کار وکړو:

- زه یو ډېر ښه ملګری لرم، هغه جنرال او د ټولواک یاور دی. هغه خورا ښه سړي او هغه شهزاده دولګه روکوف، نومېږي. ته به خبر نه وي، خو خبره داده چې اوس کوتوزوف، د هغه قوماندانۍ او موږ یو هم کوم اغېز او واک نه لرو ، اوس ټول کار د ټولواک ترڅارنې لاندې ترسره کېږي، نو له دې کبله زه اوس دولګه روکوف ته ورځم ، ما ستا په اړه له هغه سره خبرې کړې وې. وبه ګورم چې هغه کولای شي تا له ځانسره وګوماري او کنه؟ او یا هم په پاسنیو پوړو کې تا ته کوم ښه ځای پیدا کړي...

هغه په خورا ورین تندي د باریس هیله ومنله او د واړه په ګډه د شهزاده دولګه روکوف لیدو ته ورغلل.

ماخوستن وچې دواړه د اولمتوس مانۍ ته چې هلته د واړه ټولواکان او له هغه سره مل ملګري استوګن وو ، ورورسېدل.

داهماغه ورځ وه چې د اتریش د جګړې جرګې د دواړو ټولواکانو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې د خپلو ټولو غړو په ګډون غونډه کړې وه.په دې جرګې کې د دوو زړو سردارانو کوتوزوف او شهزاده شفار څینبېرګ، د خوښې برخلاف پرېکړه شوې وه چې د مګړۍ یرغل پیل او د بناپارت پر پوځونه بریډ وشي.

د جګړې جرګه متې پای ته رسېلې وه چې سردار اندرې او باریس د د دولګه رږکرېف لیدو ته مانۍ ته راورسېدل.د عمومي قوماندانۍ ټول غړي د دغې جرګې د ځوانې ډلې، دهغې ورځې له بري نه په مستۍ کې ډوب وو... پیاوړي او د ناپلیون له پوځونو نه غوره پوځونه ټول په پوځای کې راکوټه شوي وو، سرتېري د دوو ټولواکانو د حضور له امله خورا زړور او له ولولو ډک وو او دیرغل هیله یې لرله.اتریشي جنرال،وای روتر، چې د جګړې قوماندانې یې ترلاسه کړې وه، د عملیاتو له ستراتیژیکو شرایطو او آن تر خورا وړوو ځانګړتیاو سره آشنا شوي و... داسې برېښېده چې ناپلیون د خپلې کمزورۍ او ستومانۍ له امله د هېڅ ډول کړو تکل نه لاره.

دولګاروکوف، چې د سملاسي یرغل له خورا سختو پلویانو نه و ، همدا شېبه له جرګې نه راستون شوی و ، هغه ستړی، ستومانه خو د بري په میو او غرور مست و.سردار اندرې خپل ځوان ملګری هغه ته وروپېژاند ،دولګاروکوف هم د هغه لاس په مینه ښه کلک کېښکود ،خو هېڅ یې ونه ویل.داسې برېښېده ،هغه نه شي کولای له هغو اندیښنو نه ځان وژغوري چې د دغې جرګې نه وروسته دی ورسره لاس وګریوان و ، هغه په فرانسوي ژبه سردار اندرې ته وویل:

- پوهېږئ ګرانه !څومره ګرانه جګړه وه، یوازداني هیله مې داده چې د دې جګړې له پرېکړې نه مخکې راتلونکې جګړه هم داسې وګټو لکه دغه جګړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترهغه وروسته يې، په توده او پرېړ پرېړ ژبه وويل:

-غواړم ووايم ګرانه !زه بايد دا تريشيانو په تېره بيا د واى روتر، په وړاندې خپله ګناه ومنم.پوهېږئ هغوى په څه ځيرتيا ،په څه هراړخيزه توګه، د سيمې او سارا په پېژندنه کې دهغو پوهه، دټولو امکاناتو ،دټولو شرايطو په پوهېدنه او وړو وړو جزئياتو ته په پام ساتنه او شننه کې څومره لوى لاس لري.هوکې ګرانه !ټول او سني شرايط زموږ په ګټه دي.دهېڅ شي په وړاندې بايد مخالفت ونه شي.پوهېږئ اتريشي ځيرکتيا او روسي مېړانه سره يوځاى شوي دي،نورنو څه غواړئ؟

بالکونسکي وويل:

-ښه نو ديرغل لپاره وروستۍ پرېکړه شوې ده؟

دولګه روکوف وويل:

پوهېږئ، ګرانه !زه داسې تصور کوم چې بناپارت چورواک له لاسه ورکړى دى.هغه وموسېد او زياته يې کړه:

-تاسو پوهېږئ ګرانه !چې ټولواک ته دهغه له خوا نه يو ليک رارسېدلى دى؟

بالوکونسکي وويل:

-عجبه ده، ښه نو وايي، هغه څه ليکلي دي؟

-څه کولاى شي وليکي، اپلتې !هسې غواړي موږ بې ځايه بوخت کړي او وخت وګټي، تاسو ته غواړم ووايم، هغه اوس زموږ په ولکه کې دي، په دې پوهېږي، رښتيا وايم.

له دې خبرې سره سم يې په بې پروايۍ وخندل او وې ويل:

-خو دخندا وړ خو لا داده چې هېڅچا نه شو کولاى هغه ته په يوه نامه هم ځواب وليکي، ټولواک خو لا څه کوي ،چې اوس څوک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي هغه آن د قونسل په نامه هم ونوموي.زه تصور کوم چې هغه ته باید د جنرال بناپارت په نامه لیک ولیکل شي.

بالکونسکي وویل:

- خو هغه د ټولواک په نامه نه منل او بیا هغه د جنرال په نامه یادول دا چور جلا جلا خبرې دي.

دولګه روکوف وخندل او تر یوې موسکا نه وروسته یې په چټکۍ وویل:

-ټوله خبره په همدې کې ده ،بېلیبین خو پېژني،خورا ځیرک او هوښیار سړی دی،هغه وړاندېز کړی دی چې ،هغه ته باید د فرانسې د تاج او تخت د تالانګر او د بشر د دښمن په نامه لیک ولیکل شي.

دولګه روکوف،دا وویل او په کړس کړس یې وخندل.

بالکونسکي وویل:

-او همدا ؟

-که له ټوکو تېر شو ،بېلیبین د لیک لپاره خورا ښه سرلیک پیدا کړی دی، هغه نه یوازې ټوکمار بلکې خورا ځیرک هم دی.

-څه سرلیک ؟

شهزاده دولګه روکوف په زغرده خو په ډاډ سره ځواب ورکړ:

-هېڅ،د فرانسې د حکومت مشر ،د آوارۍ خورا ښه لاره ده،څنګه همداسې نه ده؟

بالکونسکي وویل:

-ډېر ښه دی،خو د بناپارت به هغه خوښ نه شي.

-نه، هېڅکله نه !زما ورور هغه ښه پېژني.هغه په وار وار سره د فرانسې له اوسني ټولواک سره په پاریس کې ډوډۍ خوړلې ده.هغه ماته ویل چې تر اوسه پورې یې تر هغه نه ځیرک او دوکه مار دیپلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دی لیدلی. پوهېږئ، هغه فرانسوي ځیرکتیا او ایتالوی هنرمندي دواړه لري...

بالکونسکي وویل:

- ښه شهزاده زه د دغه ځوان د کار لپاره تا سوته راغلی یم.

خو سردار اندرې لاخپله خبره پای ته نه وه رسولې چې ،یو یاور کوټې ته راننوت او شهزاده دولګه روکوف یې د ټولواک حضور ته وباله.

دولګه روکوف، په تلوار پاڅېد ،د سردار اندرې او باریس لاسونه یې کېښکودل او وې ویل:

-آه !څه بد کار وشو. پوهېږئ، هر هغه څه مې چې له لاسه وشي، په خورا خوښۍ به یې ستا او ددې ښکلي ځوان لپاره ترسره کړم او یو ځل بیا یې په خورا خواخوږۍ او لېوالتیا دباریس لاس کېښکود او زیاته یې کړه:

-خو ګورئ؟که...تر بیا لیدو

باریس په هغه شپه کې د واک له لوړپوړ چارواکو سره د دومره نږدې والي نه سختې ګېڼۍ اخیستی و. هغه دلته ځان له هغه خوځوونکي قوت سره یوځای لیده چې د پرګنو ددې سترو څپو چې دي یې په خپل غونډ کې د هغو یو وړوکی څاڅکی، دنه پام وړ او ایل شوې برخه ده ،لارښوونه کوي. هغوی دولګه روکوف، پسې وخوځېدل او یو تیټ وني سرړی یې ولید (چې د ټولواک له هماغې کوټې نه چې دولګه روکوف ،ورننوتلی و ،راووت). د هغه ولسي جامې په ځان وې، له څېرې یې هوښیاري بریښېده ،لاندنۍ ژامه یې داسې تونده وړاندې راوتلې وه، خو بې له هغه چې څېره یې بدرنګه کړي، هغه ته یې ځیرکتیا ښښله. د غه ټیټ ویني سړي دولګه روکوف ته داسې سر وښوراوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکې نېږدې اندېښوال يې دي، وروسته يې په ساړه غلچک سردار اندرې ته وکتل، مخامخ وړاندې ورغی، داسې بريښېده چې هغه دې ته سترګه په لاره و، چې سردار اندرې هغه ته درناوی وکړي او ورته سر ښکته کړي. سردار اندرې، نه دا وکړه او نه هغه، نو دهغه ولسي سړي پرڅېرې بې ساري خوابدی او قهر راخواره شول. له سردار نه يې مخ واړاوه، ځان يې کوږ کړ او دهغه له څنګه تېر شو.

باريس وپوښتل:

-دا څوک و؟

- دا دهېواد يو لوړ پوړی؟پېژندل شوی چارواکی دی، چې زه سخته کرکه ترې لرم، دا دبهرنيو چارو وزير دی، شهزاده آدم چارتوريژيسکي، دی.

کله چې هغوی له ماڼۍ نه وتل، بالکونسکي هغه اسويلي چې ګوګل کې نه شو، پټولی، له ګوګل راوويستل او وې ويل:

-دا هغه کسان دي چې...د ولس برخليک ټاکي.

بله ورځ د روس-اتريش ګډ پوځ يرغل پيل کړ او باريس د استرليځ، تر جګړې پورې ونه شو کولای، نه بالکونسکي ته ورشي، نه دولګه روکوف ووينې او لا دڅه نورې مودې لپاره د ايزماعيل په غونډ کې پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

د میاشتې د شپاړلسمې په سپېدو کې، د دنیسوف سواره چې نیکولای رستوف هم په هغو کې خدمت کاوه او د شهزاده باګراتیون په غونډ پورې یې اړه لرله، د دې لپاره له خپل ځایه وخوځېدل چې جګړې ته ورګډ شي، خو د یو ورست لارې له وهلو وروسته، تر هغو نه شا قوتونو ته سپارښتنه راورسېده چې د لویې لارې په خوا کې تم شي. رستوف، د سورو قزاقانو لومړي او دویمې ډلې، بیا یې پلې کنډکونه، توپچې، تر هغو نه وروسته د باګراتیون جنرالان او جنرال دولګه روکوف او د هغه مل یاوران ولیدل چې د دوی تر څنګه تېر شول. ټول هغه ویره چې لومړي او د جګړې نه مخکې د نیکولای پرزړه خوره وه، د هغه د زړه ګرد سره هڅې چې پر د غې وبرې دلاسبرېدو لپاره راخوټېدلې او د زړورتیا ټول هغه خیالونه چې د یوه زړورسواره په توګه د باید په جګړه کې ښودلي وای، هسې په هوا لاړل. د هغه ټول سواره د جبهې شاته د زیرمېزو قوتونو په توګه پاتې شوي وو او نیکولای رستوف هغه ورځ په غمونو کې ډوبه تېره کړه. لا نهه بجې نه وې، چې د جبهې له لومړیو کرښو نه د ډزو او ((هورا)) د چغو او سورو د شروشور غږ واورېدل شو. ده ولیدل چې ټپیان ګاډیو ته پورته کول کېدل (د هغو شمېر خورا لږ وو) خو په پای کې ښکارېدل چې د فرانسویانو یوه ستر ډله د سلګونو قزاقو په منځ کې ورګډه بېږي. داسې برېښېده چې جګړه پای ته رسېدلې، هغه هومره اوږده او درنه نه وه، خو راستنو شویو سرتېرو د بې ساري بري، د ویشار پرښار د ولکې او د یوه بشپړ فرانسوي ټولي د اسېرېدو خبرې کولې. هغه ورځ آسمان تک شین

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ،د پروني شپې ترمرګنيو سرو نه وروسته،لمرځلېده او دمني ديوې لمريزه ورځې خوښي له بري سره غاړه غړې شوي وو.دا خبر نه يوازې دجګړې دګډوډونکوونکو له خبرو اترو بلکې د سرتېر،افسرانو ، جنرالانو او دهغو دياورانو دخبرو نه چې د رستوف له څنګه د ډګر خواته روان،يا راستنېدل له ورايه ځرګند وو....

دنيسوف،چې هلته دلارې په پای کې د خپلو شرابو دڅکلو لپاره،له خپلو خوړلو سره ناست و ،چيغه کړه:

-رستوفه،راځه چې دغم خونه په شرابو رنګه کړو.

افسران د دنيسوف د دسترخوان په شاوخوا ناست وو.خوړل وو ،څکل وو او جرګې مرکې.

يو فرانسوي دسورو پوځونو يو اسير شوی سرتېری چې دوو قزاقانو پلې روان کړی و ،يوه افسر نوروته ورښود او وې ويل:

-هغه دی، يوبل يې راوست.

يوبل قزاق ديوه قوي او لوړ فرانسوي آس جلو چې له همدې اسير نه اخيستل شوی و ،نيولی و.

دنيسوف پرهغه سرتېري چې دغه آس يې نيولی و ،غږ وکړ:

-دا آس پرما خرڅ کړه.

-هرڅه چې تاسو ښاغلی وواياست.

سرتېري پاڅېدل او له دوو قزاقانو او فرانسوي اسير نه تاو راتاو شول.دغه ځوان،مهربان فرانسوي اسير د الزاخ دسېمې اوسېدونکی و او فرانسوي يې په الماني لهجه ويله.له ډېرې وېرې اوګېڼې نه يې سا بنده بنده او بشره يې تکه سره شوې وه.همدا چې فرانسوي غږېدا يې وا وربېده ،ژرژر يې په خبرو پيل وکړ او هره شېبه يې يو اوبل ته کتل.هغه ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ده هېڅکله دا تصور هم نه کاوه چې اسیر شي، زه په دې کې هېڅ ملامت نه یم چې اسیر شوی یم، ملامت د دوی دلګیمشر دی چې دی یې ولېږه چې له آس نه ځل لرې کړي.

هغه زیاته کړه:

هغه ماته ویلي وچې روسان رارسېدلي دي. هغه له خپلې هرې خبرې نه وروسته ویل چې:

-دازما نازولی آس به نه زوروئ.

تر دې خبرې وروسته به یې خپل آس ونازاوه.

داسې برېښېده چې هغه لا په دې نه و، پوه شوی چې چېرته او د چا په منګلو کې دی. کله به یې له دې کبله ننواتې کولې چې اسېر شوی او کله به یې تصور کاوه چې د خپل قوماندان او مشرانو ترمخې ولاړ دی او هڅه کوي چې خپله مېړانه او د سرتېری زړورتیا ثابته کړي. هغه له ځانسره زموږ د جبهې شاته، دفرانسوي پوځ هغه نوی روح او روان راوړی و، چې موږ ته سخت پردی و.

قزاقانوآس د سرو زرو په دوو سکو خرخ کړ. رستوف چې تازه له کوره پیسې ترلاسه کړې وې، هغه یې واخیست.

کله چې یې آس رستوف ته ورکاوه، هغه الزاسي ځوان په مهربانۍ، وویل:

--دازما نازولی آس به نه زوروئ.

رستوف وخندل، هغه یې آرامه کړ او سواره ته یې پیسې ورکړې.

قزاق د پېښنو په توګه پر اسیر غږ وکړ:

- الیو، الیو. او ورته وویل، درځه، درومه.

په دې وخت کې ناڅاپه د سورو په منځ کې شروشور او نارې شوې:

-ټولواک !ټولواک !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو منډې کړې، په تلوار او لېوالتیا سره وخوځېدل، رستوف شاته وکتل او په واټ کې یې ځوتنه سواره ولیدل، چې سپینې ښکې یې پر خولیو کې ټومبلې وې او ددوی خواته راروان دي، شېبه لا تېره نه وه چې تیار سیږ او سترګه په لاره وو.

د رستوف هېڅ په یاد نه و، چې څنګه خپل ځای خواته په تلوار تللی او پر زین کېناستلی و. د زیاتو آشنایانو په منځ کې یې، له بشرې نه په جګړه کې د نه ګډون له کبله پیدا شوې پښېمانۍ لرې او د ځان په اړه یې ټول خیالونه د سترګو په رپ کې تري تم شول. هغه ټول د ټولواک د رانږدې کېدو په لذتونو کې ډوب و. هغه داسې انګېرله چې د غه نږدې والی، هغه ډالۍ ده چې دده د ننني ورځې د بد مرغۍ بدل ادا کوي. هغه، هغه مین ته ورته و، چې د خپلې مینې د راتګ شېبې شماري. هغه دا زړه نه شو کولای چې غاړه وغړوي، دې خواته هغې خواته یې واړوي او رانږدې کېدونکو کسانو ته وګوري، خو بیا یې هم د ټولواک د شاهانه ذات راتګ احساساوه. د هغه دا احساس، نه دآسونو د سمونو له غږه چې رانږدې کېدل، بلکې له دې کبله وچې د ټولواک د رانږدې کېدو په اندازه ځلا، پرتم، خوښي او جشن په هرڅه او د هغه په شاوخوا کې زیاتېدل. دا د رستوف لپاره هغه لمرته ورته و، چې پر له پسې وړاندې راروان دی او خپلې شاوخواته د شاهۍ مینه، پرتم او رڼا خوروي. اوس ده ځان په دې ځلاوو کې ډوب انګېره، هغه، د هغه غږ، دا خوږ، آرام، پرتمین، ساده او ژوند ښښوونکی غږ اورېده. هماغه شان چې رستوف احساسوله، مرګنۍ چوپتیا هرې خواته لمن وغوړوله او په دې چوپتیا کې د ټولواک دآواز انګازې خپرې شوې.

ټولواک په پوښتنیز ښه غږ کړ:

- د پاولګراد سورو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغه وروسته چې د پاولګراد سورو غږ وکړ، یو بل غږ د هغه په خواب کې وویل:

-زبرمه ستاسو په حضور کې ده !

ټولواک چې رستوف ته نږدې شو، ودرېد. د الکساندر بشره له درې ورځې نه مخکې چې پرېښې یې کوت، لانښایسته شوې وه، مستي، د ځوانۍ لېوالتیا او تاند توب او سادګي د اسې دهغې په بشره کې ځلېدل چې د یوه څورلس کلن زلمي ناارامي یې ښودله، خو بیا هم د ټولواک څېره پرتمینه وه. د ټولواک غلچک چې په کراره پرسوروښوئېده، د رستوف سترګو ته په رسېدو سره، ودرېد، د هغه سترګو سره وجنګېد او یوه دوې دقیقې همالته پاتې شو. ایا په دې پوهېده چې د رستوف په روح کې څه توفان راالوتی دی؟ (رستوف تصور کاوه چې ټولواک په ټولو خبرو پوه شوی دی) هرڅه چې و، و، د هغه شنې سترګې چې له خواخوږۍ نه ډکې وې، هغه ته کتل، خو ناڅاپه یې وروځې برندې کړې، په چپه پښه یې آس په څنګ وواهه او وړاندې لاړ.

ځوان ټولواک نه شو کولای د جګړې دلومړې کرښې دلیدو لپاره دخپلې هیلې مخه ونیسي...لا نورو سورو ته نه ورسېدلی چې څو یاورانو پرهغه د جګړېزو عملیاتو دبریالي پای ته رسېدو زېری وکړ.

دغه جګړه، چې دهغې په لړ کې یوازې یو تن فرانسوي اسیر شوی و، پر فرانسوي پوځ دیوه پرتمین بري په څېر وګڼل شوه، ټولواک او ټول پوځ، په تېره بیا ترهغه وخته چې دباروتو لوګی کنډک کنډک دجګړې پر ډګرلمن غځولې وه. دوی د امنلې وه چې فرانسوي پوځ ماتې خوړلې ده، پوځیان تېښتې ته اړ شوي او شاته تللي دي. د ټولواک د تېرېدو نه څو دقیقې وروسته، هغه پوځ چې د پاولګراد سواره هم د هغه یوه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوله،دجبهې لومړۍ ليکې ته وغوښتل شو.رستوف په وړوکي ويشار نومي الماني ښار کې يوځل بيا ټولواک وليد. دټولواک د رارسېدو دمخه، د دغه ښار په ډګر کې څه سختې ډزې شوې وې،يوڅو مړګ ژوبلې شوې وې،چې دهغو دپورته کولولپاره لاوخت پيدا شوی نه و.ټولواک چې پوځي او غير پوځي ياورانو يې،تر شاوخوا ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه،پر يوې سرې بخنې اسپې سپور و،نه پر هغه آس چې دپربټ په ورځ سپور و.هغه يوې خواته لږ کوږ،خپلې زرينلاستې عينکې يې په يوې ښکلې خوځېدا سترګو ته جوړې او دهغې له شانه يې هغه سرتېري ته چې خولۍ يې لوېدلې،له سره يې وينې بهېدلې او پرمخ پرځمکه پروت و،کتل.ټپي سرتېری،دومره ککړ،وېرجن او جامه يې جنډۍ وې،چې ټولواک ته يې نږدې کېدل،په رستوف خورا ګرانه تمامه او هغه يې سپکاوي وګاڼه.هغه وليدل چې دټولواک اوږې ته به وايي چې د سړو کومه سخته څپه پرې تېره شوې وي، رېږد بدې. چپه پښه يې وخوځېده او آس يې پر ډډه وواهه...يو ياور له آس راکوز شو،ټپي سرتېری يې تر ترخګ لاندې ونيو او هغه يې له ځانسره په راوړې روغتيايي کراچۍ کې څملاوه.دسرتېري زګيروی واورېدل شو.

ټولواک چې تر مرګه په حال کې سرتېري نه،لادردمن او غمجن و،وويل:

-کرار،لږ په کرار !لږ په کراره يې څملولئ نه شئ ؟

دا يې وويل،او له هغه ځايه ولاړ.

رستوف د ټولواک له اوښکو نه ډکې سترګې وليدې او وايې ورېدل چې د لرې کېدو په حال کې يې په فرانسوي ژبه چارتوريژسکي ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا جګړه څه بده بلا ده، ډېره بده بلا !

...مخکښو پوځونو ته، دټولواک مننه او هغو ته دسوغاتونو وعدې، اعلان او سرتېرو ته په هغه ورځ دوه برابره ودکا وویشل شوه. په نغریو کې د وچو خسو او ډکو ترقهاري تر پروني شپې لا سندریزه شوی و او د سرتېرو د سندرو غږ په بې ساري خوښۍ تر آسمانو پورې انګازې کولې.دنیسوف، په هغه شپه، جګړنې ته دخپلې رتبې لمانځنه کوله او رستوف چې تر بد مستۍ پورې مست شوی و، دلمانځنې په پای کې وړاندېز وکړ چې جامونه د ټولواک دروغتیا په هیله پورته شي، هغه زیاته کړه:

-نه هغه شان چې د دود له مخې هره ماښامنۍ کې په رسمي توګه وايو، دټولواک د روغتیا په هیله، نه داسې نه !راځئ، دداغه سپېڅلي، مهربانه او ستر انسان دروغتیا او پر فرانسویانو دهغه دهرمرو بري په هیله دا جامونه پورته کړو.

بیا یې زیاته کړه:

-ترننه پورې چې یو ازې وو، په مېړانه جنګېدو، لکه هغه شان چې مو په شون ګراین، کې دفرانسویانو مخه ونیوله، خو اوس مو چې هغه مخکښ دی، څه به پېښ شي؟ وا، ددښمن په حال ! موږ به خپل ځان او ژوند ترې ځار کړو، دهغه په لاره کې به خپله خوښه، خپله وینه تویې کړو.همداسې نه ده، ښاغلیو؟ کېدای شي چې زیات مې څکلي وي او هغه شان چې ښايي غږېدای نه شم، خو داسې انګېرم، چې تاسې یې هم داسې انګېرئ، د لومړي الکساندر د روغتیا په هیله ! هورا ! هورا !

د افسرانو له ولولې نه ډکو غږونو انګازه جوړه کړه:

-هورا ! هورا !

زاړه تورن کېرستن، چې سره له ټول زوړوالي یې د غږ رښتیاوالي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سند ریزتوب، تر شلن کلن رستوف نه لږ نه و، هم هورا هورا ویل.

...شپه ښه پخه شوې وه چې افسران کرار کرار خواره شول، دنیسوف په خپلو نازکو منګلو رستوف چې ښه اندېوال یې و، پر اوږه ووا هه او وې ویل:

-ښه ! ښه !دا آشنا ، په جګړه کې بل څوک پیدا کولای نه شئ او دې ته اړوزي چې په ټولواک مین شي.

رستوف چیغه کړل او وې ویل:

-ګوره دنیسوفه ! په دې اړه به ټوکې نه کوې،زما دا احساس داسې سپېڅلی او له برم نه ډک دی...دومره له...

-منم یې !خبرې دې منم،ګرانه زما هم تاته ورته احساس دی،تا منم.

- نه ! ته نه پوهېږې.

رستوف، پاڅېد او د سرتېرو دنغریو په منځ کې وخوځېد ، په خیالونو کې ډوب او په زړه کې یې وویل:

-دا به څومره لویه نیکمرغي وای چې،نه د ټولواک دژغورنې لپاره(ده نه شو کولای داسې تصور وکړي )بلکې د هغه د سترګو په وړاندې ځان قربان کړم.هغه په رښتیا په ټولواک زړه بایللی و،دروسیې دویاړنو مین او د هغې دراتلونکې برې نه پرته یې بله هېڅ هیله نه لرله. دا یوازې دی نه و،چې په هغونه هېرېدونکو ورځو کې، د استرلیڅ ترجګړې دمخه، دغه احساس لاره، بلکې د روسي پوځ په سلو کې نوي،که څه هم نه د هغه دلېوالتیا په کچه،خو بیا هم د زړه له کومې په ټولواک او دروس د پوځ په ویاړ مین وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱

بله ورځ ټولواک د ویشاو په ښار کې پاتې شو. د هغه ځانګړی ډاکتر ژو ځله هغه وکوت. په ستره قوماندانۍ او نورو پوځي ډلو کې د هغه د ناروغتیا د خبر انګازې خپرې شوې. لکه هغه شان چې هغه ته نېږدې کسانو ویل، هغه ډوډۍ نه خوړله او پرون شپه یې خوب هم نه و کړی. د هغه د ناروغتیا او خراب طبیعت لامل هغه ژوره خوابدي وه چې د مرګ ژوبلې په لیدو یې، دده په نازک خیال او زړه اغېزه کړې و.

د نوامبر د وولسمې په سهار، یو فرانسوي افسرله سپینې جنډې سره د مرکې په تکل دې خواته راغلی و او وړاند یې لاره چې روسي ټولواک سره وګوري..دا افسر هماغه ساواري و. ټولواک هم دا شېبه سترګې پټې کړې وې، نو ځکه ساواري باید انتظار پاتې شوی و. ماسپښین و، چې ټولواک هغه ومانه او یو ساعت وروسته هغه له شهزاده دولګه روک سره یو ځای د فرانسوي پوځونو لومړیو کرښو ته لاړل.

هغه شان چې آوازو ویل، ساواري د لومړي الکساندر او ناپلیون د کتنې وړاندیز راوړی و. د غه وړاندیز ټولواک نه و، منلی او ټول پوځ په خورا خوشالۍ د دغې نه منني هرکلی کړی و. د ټولواک پر ځای د ویشاو، د ښار فاتح، شهزاده دولګه روکوف، له ساواري سره د ناپلیون د مرکې لپاره ولېږل شو او ورته ویل شوي و. که د غه مرکه او خبرې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتيا د سولې د ټينګښت لپاره وې، له ناپليون سره دې وغږېږي.

ما ښام وچې دولګه روکوف، له راستنېدو سره سم، د ټولواک ديدن ته ورغى او ترډېره وخته له هغه سره يو ازې پاتې شو.

دنوامبر په اتلسمه او نولسمه روسي پوځونه، يو دوه کرښې نورهم وړاندې لاړل او فرانسوي هغه، ترلنډ اخ وډب او ډزو نه وروسته شاته لاړل. دنوامبر دنولسمې ترغرمې نه وروسته وچې د پوځ د لوړپوړو چاروا کو په منځ کې يو شور، ځوږ او ښه لېوالتيا پيدا شوه، چې دبلې ورځې ترسهاره يې دوام درلود، دنوامبر ترشلمې پورې، تر هغه وخته چې د اوسترليڅ، نه هېرېدونکې جګړه ونښته، ...دنوامبر دشلمې شپه وه چې د روس اتريش ګډ اتيازريزه سترپوځ ديوې بې پايې کرښې په بڼه وخوځېد...

جګړېز عمليات هم د ساعت د منځني جوړښت دخوځېدا په بڼه دي. جګړېز عمليات هم لکه د ساعت په شان، همدا چې لومړۍ خوځېدا پيل شوه، له هر دليله پرته، تر وروستۍ پايلې دوام پيدا کوي. هلته هم لکه په ساعت کې، څو دهرې پرزې وار نه وي رارسېدلى، کرار ولاړ او له نورو پرزو سره کار نه لري. څرخونه دخپل محور شا وخوا راچورلي، شروشور کوي، څرخونه يو پربل لګېږي، عقربې له يو بل سره غاړه غړي کېږي، آواز کوي، خو دهغو کوم ګاونډ څرخ هماغه شان بې خوځېدا په خپل ځاى ولاړ وي، داسې آرام چې ته به وايې سل کاله نوربه هم خپلې دې چوپتيا ته دوام ورکوي، خو همدا چې ټاکلى وخت يې رارسېږي، کوم ستر اړم په کوم اغزي کې بند ېږي، هغه ستر څرخ هم دا ړتيا له امله، کومې خوځېدا ته اړېږي او په يوه وچ غږ په خوځېدا راځي او هغه چارې ته چې په ګټې او حاصل يې نه پوهېږي، ورګډ ېږي.

هماغه شان چې د ساعت په جوړښت کې، دبېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرخونو ،عقربو او کړیو پېچېدلي خوځېدا او غړونه، د هغو کړاره او موزونه خوځېدا د وخت له ښودنې پرته بل څه نه دي، همدا سې د دغه یو سلو شل زریزه روسي-فرانسوي پوځ د پېچلو او بېلابېلو کړو ،حاصل هم ،داوسترولیځ، په بایللې جګړه کې چې د درې جګړمارو د جګړې په نامه یادېږي، د دغو خلکو د کبر، بې ځایه ویاړونو نتیجه او د هغو د پیدا شویو سوادوو ، هیلو ، پېښمانیو ، زوربدنو او خواریو ، له حاصله پرته بل څه نه و.دا جګړه د انسان د تاریخ د ساعت پرمخ ،دنړۍ د تاریخ د عقربو ځای پر ځای کېدل دي.

سردار اندرې په هغه ورځ په ستره قوماندانۍ کې نوکریوال او له ستر قوماندانه،نه بېلیده.د ماښام شپږبجو ته نږدې وخت وچې کوتوزف د ټولواکانو ستر قوماندانۍ ته راغی او له ټولواک سره تر لنډې کتنې وروسته،د دربار د تشریفاتو رئیس ګراف تولستوي ته ورغی.

بالکونسکي،له دې وخته په ګټه اخیستو سره،د ولګه روکوف ته ورننوت او له هغه نه یې د هغه د سفر او چارو په اړه پوښتنې وکړې.سردار اندرې په دې پوهېده چې د کوتوزف طبیعت ختّه ،له کوم څه نه نا راضه، په ستره قوماندانۍ کې هغه سره سم کړه وړه نه کېږي او د سترې قوماندانۍ زیاتره غړي،له هغه سره دا سې غږېږي چې ګواکې دی له کوم راز نه چې نور پرې خبر نه دي، خبر وي.سردار اندرې،غوښتل چې په دې اړه هم له شهزاده دولګه روکوف سره وغږېږي.

دولګه روکوف چې له بېلبین سره چای ته ناست وو ، د سردار اندرې په لیدو یې وویل:

-سلام ښاغلیه !مهرباني !دا څه خبره ده، سبا ته جشن دی او ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبوډا طبیعت خته برېښي؟

-نه، تصور نه کوم چې طبیعت یې خته وي، هغه غوښتل چې سترې قوماندانۍ کې یې غړو او ربدل شي.

-دجګړې جرګه کې دهغه خبرو ته ښه غوږنیولی دی او که داصلي خبرو په اړه وغږېږي، بیا به یې هم خبرو ته غوږ شي، خو اوس چې بناپارت له هرڅه زیات له لویې او هر اړخیزې جګړې نه په ویره کې دی، خبرو ته اړتیا نه شته، ځنډول او چاته تمه کول ښه نه برېښي.

سردار اندرې، وویل:

-رښتیا تاسو خو هغه لیدلی، دابناپارت څنګه و؟ تاسو دهغه په اړه څه فکر کوئ؟

دولګه روکوف له ناپیلون سره دخپلې کتنې دپایلو لېوالتیا ته په پام وویل:

-هوکې ومې لید، هغه له هرڅه زیات له یوې لویې او هر اړخیزې جګړې نه په ویره کې دی، که هغه له موږ سره له مخامخ کېدو نه ویره نه لرلای، ولې یې له ټولو اک سره دکتنې هیله کوله؟ ولې یې دخبرو وړاندیز کاوه؟ او تر ټولو دپام وړ دا چې ولې یې دشاتګ پرېکړه کوله؟ حال دا چې دهغه په جګړیز دود کې شاتګ خورا ناروا کار ګڼل کېږي.زما خبره ومنه، هغه ډارېږي، له یوې لویې او هر اړخیزې جګړې نه په ویره کې دی، دهغه درا پرزېدو شېبې رارسېدلي دي.دا په ډاګه درته وایم او ته یې ومنه.

سردار اندرې بیا وپوښتل:

-نوراته ووایه، څنګه او څه ډول؟ دولګه روکوف ، بېلبېن ته یې مخ وروا ړاوه، وموسېد او ځواب یې ورکړ:

- هو ومې لید ، دهغه خاورین لنډ کوټ په غاړه و او خورا لېواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچې زه هغه د (( اعلحضرتا )) په نامه ونوموم، خو له دې ویاړه ځکه بې برخې شو، چې زما له خوا یې هېڅ ویاړمنه ستاینز نوم وانه ورید او بیا یې زیاته کړه:

-دغه زاړه او بوډا کوتوزف ته زما دبې پایه او ځانګړي درناوي سره سره، که دهغه د سپارښتنې له مخې کومې، نه پوهېږم کومې معجزه بڼې پېښې ته سترګې په لارې وای او دښمن ته مو دتیښتې یا دوکې وخت ورکړای وای، اوس به موږ درسوایۍ او ماتې په منګولو کې را ګیر وای، حال دا چې هغه اوس زموږ په منګولو کې رااېسار دی. نه ! نه ! باید سوورف او دهغه جګړیزدود هېر نه کړو: "ځان هېڅکله هغه حالت ته مه راولئ چې په تاسو یرغل وشي، تاسو باید یرغل وکړئ "دا ومنه چې په جګړه کې دځوانانو لېوالتیا او مېړانه د زړو تر تجربو نه زیاته لارښوونکې ده.

اندرې وویل:

-ښه اوس له کوم دریځه پر هغه یرغل کوو ؟ما نن دجګړې لومړې کرښې وکتلې، دا هېڅ نه څرګند بږي، چې دهغه قوتونه چېرته ټول او کوټه دي.

داندرې زړه داغوښته، هغه دجګړې هغه تګلاره دولګه روکوف ته وسپړي، چې ده خپله ابستلې وه، خو دولګه روکوف، خپله پاڅېد او پر میز یې یوه نقشه وغوړوله او په خورا چټکۍ یې په خبرو پیل وکړ:

-دانو څه خبره ده، چې قوتونه یې چېرې کوټه شوي دي؟هېڅ پروانه لري، چې چېرې، ټول اړخونه باید په پام کې وساتل شي، کېدای شي هغه په برن کې وي...

شهزاده دولګه روکوف، په چټکې او یو ګنګ حالت د وای روتر، دنقشې په سپړنه پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدا چې سردار اندرې، دهغه د نقشې د نیمګړتیا او د خپلې تګلارې، چې دوا یروتر، تر هر هغه بد نه وه او یوازداني نیمګړتیا یې دا وه چې منل شوې نه وه، د بښیګنو په سپړه پیل وکړ، نور نو دولګه روکوف هغه ته غوږ ونه نیو او د نقشې پر ځای یې په شک، تردید او نه پام، اندرې ته وکتل.

دولګه روکوف وویل:

-رښتیا، کوتوزف نن جګړیزه غونډه لري، تاسو کولای شئ، خپلې دا خبرې هما لته وکړئ.

سردار اندرې چې له نقشې نه لرې کېده وویل:

-همدا سې به وکړم.

بېلبین، چې تر هغې شېبې په خوښۍ او موسکا، دهغو خبرو اترو ته غوږ و، ددوی د خبرو په یوې برخه کې یې په ټوکه وویل:

-ښاغلیو !تاسو د څه په اړه فکر کوئ؟سبا ته که جګړه وګټو او که یې بایلو، د روسیې ویاړ، تضمین دی.له دې کوتوزفه پرته، بل کوم روسي نوم تاسو، د پوځ د مشرانو په منځ کې وینئ؟ ښاغلی جنرال ویمفن، ګراف لانژورن، سردار لیختین شتاین، شهزاده ګوګینلیو، او نور پرش، پرش، پولندي نومونه.

دولګاروکوف وویل:

-ښه به وي.چې دا خپله زهرلړلې ژبه بنده کړئ.دا خبرې چې ته یې کوې، یوه هم رښتیانه ده.دا میخائیل میلاردوویچ دوختورف، هغه دربیم، ګراف آرکچاییوف، که څه هم اعصاب یې لږ ضعیفه غوندې دي، دانو څوک دي؟ قو ماند انان نه دي؟

سردار اندرې وویل:

-ګمان کوم چې، میخائیل میلاردوویچ، به د ټولو اک له حضوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخصت شوي وي.

هغه تر لنډ ځنډه وروسته زيات کړه:

-ښاغليو ستاسو د نيکمرغۍ او بري هيله کوم.

د دولګاروکوف او بېلبين لاسونه يې کېښکودل او لاړ.

کله چې خپل کورته راستون شو ،نه يې شو کولای له کوتوزفه، چې چو په خوله يې ترڅنګه ناست و ،د سباد ورځې د جګړې په اړه پوښتي ون کړي.

کوتوزف، برند ،برند خپل ياور ته وکتل او تر لږ ځنډه وروسته يې وويل:

-دا سې تصور کوم چې موږ به په دې جګړه کې ماته وخورو.ما په دې اړه ګراف تولستوي ته وويل او له هغه نه مې غوښتنه وکړه چې زما دا نظر ټولواک ته هم ورسوي.فکر کوئ، ماته يې ځواب کې څه وويل:

-ګرانه جنراله !زه د وريځو او غوښې په غم کې يم، د جګړې د ستونزو غم خپله وخورئ، اوس دې وا وربېدل چې هغه څه ځواب راکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

دماخوستن نېږدې لس بجې وې، چې وایروتر له خپلو نقشو سره دکوتوزف قومانداني ته، چې جګړېزه شورا هلته دېره شوې وه، لاړ. دپوځ ټول قوماندانان هم دستر قوماندان، قوماندانۍ ته وربلل شوي وو، له شهزاده باګراتیون پرته چې له دغې غوښتنې نه یې سر غړولی و، نور ټول قوماندانان په ټاکلي وخت راغلي وو.

وایروتر، چې دکېدونکې جګړې مشر طراح و، دکوتوزف، برخلاف چې نا خوښ او خوب‌ولی برېښېده، په خورا شور او لېوالتیا دغونډې مشري او لارښوونه کوله. داسې برېښېده چې وایروتر ځان دهغه خوځون لارښود باله چې نور نو راګرځېدونکې نه و. هغه، هغه آس ته ورته وه، چې په ګاډۍ پورې تړل شوی او مخ ښکته پرځوړ خوشې کړل شوی وي. هغه نه پوهېده چې دی ګاډۍ کشکاږي او یا ګاډۍ دی پورې وهي. یوازې په دې پوهېده چې ښکته ځغلي. ددې وخت یې نه لاره، چې ددغه بهېر دپای اټکل وکړي. په هغې شپې دوه ځله دجبهې لومړیو کرښو ته تللی و، چې په خپله ددښمن مواضع وګوري. دوه درې واره هم دروسیې او اتریش ټولو اکانو حضور ته ددې لپاره ورغلی و، چې په دې اړه هغوی ته سپړنې وکړي. هغه خپل دفتر ته هم تللی، راغلی و، چې خپل منشي ته په الماني ژبه دجګړې پلان ولولي او اوس چې ښه ستړی او ستومانه و، کوتوزف ته راغلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ګواکې داسې بوخت و، چې دستر قوماندان په وړاندې يې هم درناوی هېر کړی و. هغه دستر قوماندان خبرې پرېکولې او بې له هغه چې دخپل مرکچي سترګو او مخ ته وګوري، هغو پوښتنو ته چې ترې کېدې، جړ او بې مفهومه ځوابونه ويل. جامې يې ککړې وې. څېره يې الوتې، دزړه خوږي وړاو کړه وړه يې ګډېنې اخيستي ته ورته و، خو کبرکجن او ډاډمن برېښېده. کوتوزف، او سترليځ ته نېږدې په يوې وړې خو په پوره اندازه پرتمينې ماڼۍ کې استوګن شوی و. هغوی ټول، د وايروتر په ګډون د جګړې دشورا له ټولو غړو سره يوځای ددغې ماڼۍ دهرکليو په تالار کې چې دستر قوماندان دکار دفتر و، راټول شوي وو. چای يې څکه او يوازې دې ته ستر ګه په لار و، چې شهزاده باګراتيون راشي او دجګړې شورا په کار پيل وکړي. دشپې اته بجې کېدونکې وې، چې دشهزاده باګراتيون يو ياور راغی او خبر يې راوړ، چې هغه نه شي کولای په غونډه کې ګډون وکړي. سردار اندرې، تالار ته راننوت او دغه خبر يې ستر قوماندان ورساوه. هغه له هغې اجازې نه په ګټې سره چې مخکې يې له کوتوزف نه اخيستې و ،همالته پاتې شو.

وايروتر، په خورا تلوارله ځايه پاڅېد او هغه ميز ته چې دبرن يوه لويه نقشه پرې غوړېدلې وه، ورنېږدې شو او وې ويل:

-ښکاره ده، چې باګراتيون به رانه شي، نوښه به وي چې کار پيل کړو.

کوتوزف دخپلې پوځي دريشۍ تڼۍ پرانستې وې او تا به ويل چې دهغه دزنې لاندې غوښينې برخې له هغه نه ځان آزاد کړی وي، پر يوې لاستنۍ لوړې څوکۍ ناست و، ځورب او زاړه لاسونه يې دڅوکۍ پر دواړو لاستيو ايښي وو او نېږدې ويده برېښېده. د وايروتر دغږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربدو يې خپله يوازداني سترګه په خورا وغوړله، سر يې وښوراوه او وې ويل:

-هوکې ! هوکې ! هيله کوم، کنه بيا به ناوخته شي.تر دې خبرې نه وروسته يې بيا سر وښوراوه، بانه يې ولوېدل او سترګې يې پټې کړې.

دجګړېزې شورا غړو په پيل کې فکر کاوه چې کوتوزف، هسې دخوب پېښې کوي، دګزارش دلوستلو په وخت کې د هغه د پزې خرهاري، دا ښودله چې په دې شېبه کې د ستر قوماندان ستونزه دجګړې دعملياتو او نورو موضوعاتو تر سپکاوي نه غوره او د پام وړ ده، هغه ستونزه چې دی ورسره لاس ګريوان و ديوې بلې نه ايلېدونکې انساني اړتيا ، يعنې دخوب پوره کول و.هغه رښتيا ويده شوی و.وا يروتر، دهغه کسانو په څېر چې په خپلو کړو کې ډوب وي، بې له هغه چې آن خپله يوه شېبه وخت ضايع کړي، کوتوزف ته ور وکتل او همدا چې دهغه په ويدو کېدو ډاډه شو، خپلې پاڼې يې راواخيستې او په لوړ او يوډول آوازيې د راتلونکې جګړې دعملياتو دکړنلارې لوستل پيل کړل او آن دخپلې ليکنې سرليک يې هم ونه لوست:

-دهغه بريد کړنلاره چې د۱۸۰۵کال دنوامبر په شلمه، د کوبلينيځې او سکولنيځې، په سيموکې، ددښمن پرمواضعو کېدونکې دي.

دبريد دکړنلارې سپړنه چې په الماني ژبه ليکل شوې وه، خورا جړه ، پېچلې او پرهغې سرخلاصېدنه خورا ګرانه وه، هغه داسې وه:

له دې کبله چې ددښمن دپوځونو کينې خوا ، شا پلوته ګڼ ځنګله پورې نښتې ده او ښۍ خوايې دډنډونو آپلو د کوبلينيځې او سکولنيځې پورې پرته ده او دبلې کداني خوانه يې زموږ پوځونه ددښمن دپوځونو ښۍ خواته ولاړ او تر هغو نه قوي دي،نو دا زموږ په ګټه ده چې پردښمن له دې اړخ نه بريد وکړو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايروتر، خپلې لوستنې ته دوام ورکړ او دا ثرګندده وه چې جنرالانو په خورا سختۍ او نه لېوالتيا ددغې ناسپړې او ناثرګندې تګ لارې بيان ته غوږ نيولی و. لوړ وني جنرال بوکسګيفدن، چې ملايې ديوالـه تـه لګولې وه، لګېدلې شمعې ته ځير پاتې و، داسې بربښېده چې وينا نه اورې او آن دا هيله يې هم نه لرله چې ددې ښودنه وکړي چې ګواکې وينا ته غوږ دی. وايروتر ته مخامخ ولاړ سور مخي جنرال ميلورادوويچ، په خوراغچ اخيستونکې بڼه، لاسونه پـه ځنګنـو ابښـي، پـه ځنګلـو مـخ وړانـدې خم، پـه تـاو شـويو بريتونو، لـوړو اوږو، غټـو ځلېـدونکو سـترګو، خپل غلچـک پـر هغـه خښ کـړی و... پـه دې شـېبه کـې ميلورادوويچ، يوه معنې دار غلچک پر نورو جنرالانو وځغلاوه، خو دده له دغه معنې نه ډک غلچ نه دا نـه ثرګند بدل چې دی ديرغـل ددغـې تګلارې ملاتړ دی او کنه، راضې دی او کنه. تر ټولو نه نږدې رايروتـر تـه ګراف لانژورن، چې ښکلې موسکايې دفرانسـي سهيلي خلکـو تـه ورتـه څېـره ورځلوله، ناست و. د تګـلارې دلوستلو پـه ټولـه مـوده کـې دغـه موسکا دهغه له شونډو کډه ونه کړه. هغه په دې ټوله موده کې خپلو نريـو ګوتو تـه چې خپلـه زرينه، هينداره لرونکې تنباکرومړې يې پـه کـې پـه چټکۍ چورلولـه، کتل... د وينـا د يـوه خـورا اوږد مـتن پـه منځ کـې يـې د تنبـاکرومړۍ چورلـول ودرول، سـريې پورتـه کـړ، مـو سـکايې دنريـو شـونډو پـه کونجـو کـې دملنـډو بڼـه پيـدا، دوايروترخبرې پـرې او وې غوښتل چې څه ووايي، خو اتريشي جنرال خپلې خبرې ونـه درولې، پـه قهر سره يې څېره برنده او ځنګلې يـې وځنډلې، ده تـه يـې دخبـرو وخـت ورنه کړ او داسې يې وښوده چې وروسته، وروسته به ماتـه خپلـې خبـرې ووايي، اوس مهرباني وکړئ خبرو ته غوږ او نقشې ته وګورئ. لانژيـرون ، د تعجب په نښه خپلې سترګې پورته کړې او ميلورادوويچ تـه يـې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکې پوښتنه لري وکتل، خو همدا چې، ظاهرا معني لرونکي خو تش غلچک سره مخامخ شو، په خورا خواشداني يې سترګې ببرته ښکته واچولې، بيا يې دخپلې تنباکو مږې چورلول پيل کړل او ترشونډو لاندې، خو پوره په لوړ آواز چې ټولو واورېده، وويل:

-ښاغليه !دجغرافيې درس راکوي !

پرژيبشفسکې، په ډېر درناوي او نزاکت لاس په خپل هغه غوږ چې دو ايروتر، خواته ونيولی او دهغه چا حالت درلود چې ګواکې د ويناوال خبرې سخت خوند ورکوي، ټول غوږ، غوږ و.

لنډه ونې دوختورف، چې مخامخ، وايروتر ته ناست و، په خورا پام او درناوي پر نقشې ورخم او دزړه له کومې يې د قوتونو دځای پر ځای کېدو او د سيمې دپېژندنې، چې ټول ورته نا اشنا و، څېړنه کوله.څو ځله يې له وايروتره هيله وکړه، هغه کلمات او نومونه چې ده نه دي اورېدلي او يا ورته ګران دي، بيا ووايي، وايروترد هغه ددې هيلې په منلو سره هغه تکرارول او ده هغه ليکل.

تر يو ساعت وروسته چې دتګلارې لوستل پای ته ورسېدل، لانژيرون بيا دخپلې تنباکو مږې چورلول ودرول او بې له هغه نه چې وايروتر ته يا په ځانګړي توګه بل چاته وګوري، په غږېدا شو او وې ويل:

-ددغه راز يوه تګلارې سرته رسول به خورا ګرانه وي، ځکه ددښمن ټول ځايونه په نښه شوي، تاکل شوي، خو په حقيقت کې دغه ځايونه ځکه موږ ته څرګند نه دي چې دښمن په خوځېدا کې دی.دوايروتر، په يرغليزې لاره د لانژورون نيوکې، بې بنسټه نه وې، خو دا څرګنده وه چې دنيوکې موخه دا وه چې وايروتر ته دا څرګنده کړي چې دی په داسې ډاډ او ځانغوښتنه خپله تګلاره لولي، بايد په دې پوه شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښـوونځي ماشـومان او يـا کـوم نـاخبره کسـان يـې مخـې تـه ناسـت نـه دي، بلکـې د هغـه او رېـدونکي داسـې کسـان دي چـې کـولای شـي ده تـه دجګـړې دمهـارتونو زده کـړې ورکـړي. کلـه چـې د وايروتـر يـوډولـه آواز کـرار شـو، کوتـوزف، لکـه ژرنـدګـرۍ چـې دژرنـدې دپلونـو پـه درېـدو راويښـېږي، راويښ شو، سترګـې يـې وغړولي، دلانژورن غږېداتـه غـوږ شـو، خو ژريـې سـترګـې بېرتـه وتړلـې او سـريـې ښـکته ولوېـد، ګـواکـې غوښتل وو ايي:

-اې بابا، تاسو لاتراوسه په دې اپلتو لګيا ياستئ.

لانژورون، چې هغه کولـه د وايروتر، پرپـوځي ځانسـتاينې، چې ځان يې د پوځي تګـلارې نوښتګر باله، ملنـډې ووهـي او داسې لاسوند يـې وړاندې کاوه چې بناپارت به هېڅکله زموږ د يرغل په تمه سترګه پـه لار نه شي بلکې په خپله به بريد وکړي او زموږ داټوله تګلاره به هسې خړې اوبـه يوسي. وايروتر، ټولـو هغـو نيوکـو تـه چـې دده پـر پـوځي تګـلارې کېدې، لـه سـپکاوي نـه پـه يـوې داسـې ډکـې موسـکا ځـواب وايـه چـې ګواکې ده مخکې له مخکې دغو نيوکو ته چې پر ځای نيـوکې وې او يـا بېځايه ځان چمتو کړی و. هغه وويل:

-که هغه پر موږ برېد کولای شوای، همدا نن به يې کړای و.

لاژورون وويل:

-نو تاسو داسې انګېرئ چې هغه ضعيفه دی؟

وايروتر، د هغه داکتر پـه څېـر چـې ګـواکـې، واترنر، غـواړي هغـه تـه د طبابت لارې وروښيي، وموسېد او وې ويل:

-ډېر، فکر نه کوم چې تر څلويښتو زرونه يې پوځ زيات وي...

وايروتر وويل:

هرڅه چې وي، زموږ په تګلاره کې کوچنی بدلون هم نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې چې له ډېرې مودې ده ته سترګه په لارې و، چې خپل خبره وکړي، وويل:

-څنګه بدلون نه رائي؟

په دې وخت کې کوتوزف راويښ شو.ژور، ژور وتوخېد، جنرالانو ته يې وکتل او وې ويل:

-ښاغلو !بريد سباته دی، ښه به داوي چې وو ايو، نن دی، ځکه شپه له نيمايي نه اوښتې، هسې هم اوس څه شی دبدليدو نه دي.تاسو ټوله کړنلاره واورېده اومور.ټول به خپلې دندې ترسره کړو، خود جګړې تر پيله مخکې، تر يوه درانده خوب نه پرته، بل هېڅ ښه څه نه شته.

داسې يې وښوده چې غواړي، پاځي.جنرالانو درناوی وکړ او دخوځېدا په تکل شول.سردار اندرې هم له مانۍ نه ووت.

***

سردار اندرې، په جګړيزه جرګه کې دخپلو خبرولپاره، هغه شان چې ده هيله لرله، وخت نه و پيدا کړي،نوځکه دغه کار پر هغه خورا بد او ناڅرګند اغېز پرېښی و.هغه په دې نه پوهېده چې څوک برحقه دی؟وايروتر او دولګه روکوف، يا کوتوزف، لانژورون او که نور جنرالان چې دجګړې له تګلارې سره مخالفه وو ؟هېڅ نه پوهېده،له ځانسره به يې ويل:

-ايا دا شوني نه وه او کوتوزف نه شو کولای چې مخامخ او په ډاګه خپل نظرټولو اک ته ووايي؟ايا په رښتيا دا کار بل ډول کېدونکی نه و؟ايا دا روا وه چې ځينوټکو او خيالاتو ته په پاملرنې سره دلسګونو زرو وګړو او له هغه ډلې نه دما ژوند دمرګ له ګواښ سره مخامخېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو کې کېدای شي، سباته ووژل شم. همدا چې خپل مرګ یې ترسترګو شو، ناڅاپه یې په خیالونو کې خورا لرې، خو په ځان کې یې نغښتې یادونه راتت او ژوندي شول. له خپلو خپلوانو او ښځې سره یې خپله وروستۍ مخه ښه وریاده شوه، له هغې سره یې د خپلې مینې لومړې ورځې وریادې شوې، هغه، د هغې امېدواري وریاده کړه، پر هغې او ځان یې سخت زړه خوږ شو، په خورا خواخوږۍ، زړه خوږۍ خو عصبانیت او ګېنې له هغه دالان چې د نیوفیڅکې سره ګډ او هلته استوګن و، د باندې ووت او د کور مخې ته په ګرځېدو شو.

که څه هم د شپې هوا لړنۍ وه، خو د سپوږمۍ پلو شو خپلې لارې ایستلې. هغه په خیالونو کې زنګېده: هو کې سبا، سباته! خدای خبر کېدای شي سباته ماته هرڅه پای ته ورسېږي، دا ټول یادونه به نور نه وي او دا ټول یادونه به زما لپاره نور هېڅ معني ونه لري. کېدای شي همدا سباته، زړه مې راته وایي، چې همدا سبا کېدای شي ددې وخت پیدا کړم هغه ټول څه چې کولای شم، هغه وښیم.

د جګړې سخت ساعت او انځور یې ترسترګو شو، د روس د پوځ ماته او په یوځای کې د هغو کوټه کېدل او د هغو د قوماندانانو خواره خواري، تریو تندي، ټول، ټول یې ترسترګو شول... دا دې هغه نیکمرغه شېبه او پیرزوینه چې دی ټول ژوند هغه ته سترګه په لاره و، را رسېدلې وه. هغه خپل تکل مخامخ او په سپینه، کوتوزف، وایروتر او ټولو اک ته ویل شي. ټول د هغه تېنګار او د اند ښېنو رښتیاوالي ته حیران پاتېږي، خو هېڅوک دا زړه نه کوي چې د هغه سرته رسولو مشري وکړي، نو هغه وخت دی، د کوم غونډ یا پوځ مشرۍ ته په دې شرط ملاتړي چې څوک یې په چارو، کړو وړو او سپارښتنو کې لاسوهنه ونه کړي، هغه به له خپل پوځ سره مخامخ د دښمن د پوځ پر زړه بربد کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له ځنډه یې برې په برخه کېږي.خو یوبل غږ یې په غوږو کې انګازې کوي او وایي:

-تا دجګړې دکړاو او مرګ ژوبلې په اړه هم فکر کړی دی؟خو سرداراندرې دغه غږ ته هېڅ پام نه کوي او په خپلو بریو کې ډوبېږي.دبلې جګړې تګلاره خپله یوازې جوړوي.هغه چې دکوتوزف په پوځ کې دسترې قوماندانۍ نوکریوال دی،هرڅه یوازې ترسره کوي.بله جګړه یوازې دده د هلوځلو له برکته برې ته رسېږي.کوتوزوف،دپوځ مشرۍ نه لاس په سر او ټولې چارې ده ته سپاري.هغه بل غږ بیا دده په غوږ کې انګازې کوي:

-ښه !نو بیا څه؟دا به و منو چې تر دې مخکې به ته ترلس واره زیات ټپي،یا وژل شوی او یا یې تېرویستل شوی نه یې،نو بیا به څه کېږي؟سردار اندرې خپل ځانته،خپله ځواب وایي:نه پوهېږم وروسته به څه وشي؟نه غواړم او نه کولای شم،پرې پوه شم،خو دا غواړم،زه دویاړونو لېواله او لېونی یم او دا مې خوښېږي چې ټول خلک مې وپېژني، ورته ګران واوسم ،داخو زما ګناه نه ده،چې زه داغواړم،یوازې او یوازې همدا ،زه دهمدې لپاره ژوندی یم،هوکې یوازې دهمدې لپاره ! زه به هېڅکله دا چاته ونه وایم،نو اې لویه خدایه ! زه څه وکړم،چې له ویاړونو او له ماسره دخلکو له مینې پرته،له بل څه سره مینه او لېوالتیا نه لرم.له مرګ،ټپي کېدو ،دکورنۍ تري تم کېدل،له هېڅ څه نه،نه وېرېږم.ماته له هرچانه دزړه له کومې ګران خلک،پلار،خور اوښځه،زما روح پورې تړلي وګړي،ماته ترټولو ګران،که څه هم دا خبره به د طبیعت او انساني ختې برخلاف وبرېښي، خپل تر ټولو نه ګران وګړي،بې له ځنډه دیوې شېبې ویاړ، پر خلکو دبرې او هغو ته دځان دګرانښت دترلاسه کولو لپاره ځاروم.داټول ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ځاروم چې خلکو ته ګران واوسم، هغه خلک چې نه يې زه پېژنم او نه به هغوی ما وپېژني. هغه، غږ ته غوږ شو چې د کوتوزوف، له مانۍ نه واورېدل شو او بيا يې دوام ورکړ:

-هوکې د همدې خلکو د مينې لپاره...

د کوتوزف د چوپړانو غږ راته چې پښتې تړي. يو غږ چې کېدای شو د کوتـوزف د ګـاډيوان بـه و، د کوتـوزوف پـر آشـپز يـې د چټـک کـارغږ کاوه. داد تيت په نامه، يو بوډا اشپز وچې سردار اندرې هم پېژانده.

او اندرې له ځانسره لګيا و:

-په هرحال ماته پر دوی واک او د دغه واک نـه پيـدا شـوی ويـاړ خورا ګران دی، پر دغه واک چې په دې لړوکې پرما خور دی او د هغه په رازمن واک او وياړ، وياړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

رستوف په هغه شپه، له خپلې ډلې سره د جبهې د څارنې لپاره دباګراتيون د پوځ په لومړۍ کرښې کې ګمارل شوی و. د هغه سواره هم جوړه جوړه د جبهې په اوږدو کې ګمارل شوي وو او خپله هم سپور د دغو کرښو په اوږدو کې خوځېده او له خپل نه ايليدونکي سيال، خپل خوب سره چې دده د پرزولو تکل يې کړی و، لاس او ګريوان و. د هغه شاته، بې پايه فضا زموږ د سرتېرو په نغريو کې د بل شويو اورونوله شغلو نه رڼا رڼا وه، خو مخه يې په تپه تيارو کې ډوبه ډوبه وه. څومره به چې رستوف دغو تپو تيارو ته ځيرېده او ځيرېده، هېڅ به يې نه ليدل. کله به يې کومه خړه، کله به يې کومه تياره او کله به يې هلته چې بايد دښمن وي، سپېڅنکو ته ورته کومه رڼاګۍ وليده چې ځلېږي او له ځانسره به يې وويل چې، دا د دې خيال ته ورځي، چې د سترګو مخې ته يې څه ځلېږي. بانه به يې وغړېدل او د خيالونو په بې پايه نړۍ کې به يې، کله اعلحضرت ټولواک او کله هم دنيسوف ليدل، کله به يې بيا د مسکو تېر خيالونه لکه کوډګرزورونکي ترسترګو راپيدا شول، هغه به په چټکۍ خپلې سترګې وغړولې او د هغه آس سر او غوږونه، چې دی پرې سپور دی، ځانته خورا نېږدې وليدل... او له ځانسره به يې وويل:

-ولې نه! کېدای اعلحضرت ما هم د بل هر افسر په څېر وګڼي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه دنده راته وسپاري او راته ووايي:

- "ځه لاړ شه !هلته وګوره، چې څه خبره ده؟

... څه کېدل چې زه يې خپل چوپړۍ ته ګمارلی وای، ما به هغه ته ځنګه دزړه له کومې چوپړ کړای وای، سرښندنه به مې کړای وای، ما به دهغه ساتنه کولای، هغه ته به مې رښتيا ويلای او هغه به مې له دوکه مارو نه ژغوره "رستوف، ددې لپاره چې دټولواک په وړاندې دخپلې سرښندنې ښه او ژوندی انځورو باسي، کوم الماني يا دښمن يې تصوراوه چې هغه يې نه يوازې په لېوالتيا واژه، بلکې دټولواک په وړاندې يې په غومبرو په سختو څپېړو واهه.ناڅاپه يو لرې لرې غږ هغه راويښ کړ، ټکان يې وخوړ او سترګې يې پرانستې، په زړه کې يې وويل:

-زه چېرې يم؟ هو کې ! دجبهې په لومړې کرښه کې، دشپې نوم:

... مالبن، اولميوڅ، افسوس چې سباته زموږ سواره په قطعې کې دي....هغه دخوب او ويښتيا په حالت کې ويل:

-ناتاشا ،ګرانې خورې !زما تورسترګې خورجانې !...کله چې هغې ته ووايم چې ټولواک مې له نېږدې نه وليد ،له حيرته به لېونۍ شي...

په هغې شېبه کې چې رستوف سترګې وغړولې، هغه له هغې خوا نه چې کېدای شو هلته به د دښمن دېره وه، په زرګونه ناارامه غږونه او شروشور واورېد.دهغه آس او دهغه مل سواره آسونه، چې دده ترڅنګ ولاړ و ،د دغه غږونو په اورېدو غږونه،لاتېره کړه.په هماغه سېمه کې چې چېغې پورته وې،اور ولګېد او بېرته مړشو.بيا د فرانسوي پوځونو دجبهې په ټوله کرښه کې، هلته دغرونو په څوکې،د اورونو لګېدل او چېغې سورې دم په دم زياتېدې او لوړېدې.رستوف په دې چېغو کې فرانسوي، خبرې اورېدې، خو نه يې شو کولای په هغو پوه شي. غږونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اندازې زياته خپل شر و شور کې ورک وو. اوس، نو د په، په، په او آ. آ. آ، غړونه او رېدل کېدل.

رستوف، هغه سواره ته چې ترڅنګه يې ولاړ و، مخ ورواړاوه او وې پوښتل:

-دا د دښمن غړونه دي؟ته څه فکر کوئ؟

سواره ځواب ورنه کړ.

رستوف چې تر ډېرې پورې، ځواب ته په تمه و، بيا و پوښتل:

-څنګه ته يې نه اورئ؟

سواره په خوابدي آواز ځواب ورکړ:

-جلالتمابه نه پوهېږم، څه وو ايم؟

رستوف بيا ځواب ورکړ:

-هغه د دښمن لومړۍ کرښې دي، نو رنو دا بايد د دښمن غږ وي.

سواره وويل:

-کېدای شي د دښمن وي، کېدای شي نه وي، کېدای شي بل څه وي. شپه ده، شپه خو خپل رازونه لري.

بيا يې پر خپل آس چې تر ده لاندې يې نا ارامه کوله، چيغه کړل:

-نو !تاته وايم !آرام شه !

د رستوف آس هم د غړونو او شروشور په اورېدو او داورونو په ليدو نا ارامه شوی و. هغه پرکنګل وهلې ځمکې سمونه وهل. چيغې او شروشور لوړېدل او لوړېدل او ديو سترنا پوهېدونکي بنګهاري داسې بڼه يې پيدا کوله چې يوازې ديوڅو سوه زريزه پوځ له خوځېدا نه کېدای شي پيدا شي. د اورونو لمن د هغې کرښې په اوږدو کې چې په اغلب ګمان د فرانسوي پوځونو لومړۍ کرښه وه، غوړېده او غوړېده. خوبونو، نو رنو د رستوف له سترګو کډه کړې وه. د دښمن د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوښۍ او د برې چيغو ، په هغه کې د هوښيارۍ او ځيرتيا ښکالو راتخنوله. رستوف نور نو به ډاګ او زغرده غږونه اورېدل:

-ژوندی دې وی ټولواک !ژوندی وی ټولواک !

خپل څنګ ته ولاړ سواره ته يې وويل:

-هومره لرې نه دي، بايد د سيند دغاړې آه پلو وي.

سواره سوړ اسويلی وويست، هېڅ يې ونه ويل او په خواشدانی وټوخېد.

پر هغې کرښې چې سپور روان و ، د يوآس د سمونو غږ چې په چټکۍ را روان و ، واورېدل شو او ناڅاپه د شپې له تپې تياري نه ، يو ستر پيل ته ورته يو سيوری رااووت.هغه د سورو د ډلې يو افسر و.افسر رستوف ته ورنږدې شو او وې ويل:

-جلالتمابه !جنرالان دي.

رستوف چې پر له پسې د اورونو او چيغو پلو ته کتل،له افسر سره مل يې د هغوڅو لوړپوړو افسرانو هرکلي ته مخه کړه چې د دوی د کرښې پلو راروان وو. د هغو يو تن پر سپين آس سپور و.شهزاده باګراتيون او شهزاده دولګه روکوف له خپلو ياورانو سره د دې لپاره راغلي وو ،دا پته ولګوي چې د دښمن په پوځ کې دا عجيبه اورونه او دا چيغې څه شي دي.رستوف ،باګراتيون ته ورنږدې شو ،هغه ته يې راپور ورکړ او دنورو ياورانو په شان يې غوږ کېښود ،چې جنرال څه وايي. شهزاده دولګاروکوف، باګراتيون ته مخ وروااړاوه او وې ويل:

-دا د دښمن له دوکو پرته بل هېڅ نه دي، هغوی شاتګ کړی دی او خپلو پاتې شوونکو ته يې سپارښتنه کړې ده، چې د دوی تر تګه وروسته اور ولګوي، شروشور او چيغې يې ګډې کړې، چې موږ دوکه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باګراتیون وویل:

- دا ناشوني خبره ده، پرون ما هغه د هغې غونډې په سر لیدل.که هغوی شاتګ کړی وای، هغه ځای به یې هم پرېښی وای.بیا یې مخ رستوف ته وروا ړ اوه او وې ویل:

-ښاغلیه افسره !د دښمن پیرې لا هملته ولاړې دي؟

رستوف وویل:

-پرون شپه خو لا هما لته وې، خو اوس څه نه شم ویلای، امر وکړئ، له څو تنو سورو سره به د پلټنې لپاره ورشم.

باګراتیون، ودرېد او بې له هغه چې څه ووایي، هڅه یې کوله د لړو په تته کې د رستوف سترګو ته وګوري، شېبه ځنډ نه یې وروسته وویل:

-ښه خبره ده، لاړ شئ او وې ګورئ.

-اطاعت کېږي.

رستوف، خپل آس په ګېډه وواهه، برېدګي فدچنکو او دوو نورو سورو ته یې ورغږ او سپارښتنه یې وکړه چې له ده سره لاړ شي.په چټکۍ له لوړې نه د هغو چغو سورو په لور ورشېوه شول، چې لا ترا وسه یې دوام درلود.رستوف ته خورا هیبتناکه او هم د خوښۍ وړ وه چې تر ټولو دمخه له درې تنو نورو سورو سره، د هغو رازونو نه ډکې تتې تیارې غبرګې ته دمخه وردرومي، چې تر دوی دمخه هلته څوک نه و، ورغلي.باګراتیون د غونډۍ د پاسه ورغږ کړل چې، له سینده لرې لاړ نه شي. خو رستوف داسې وښودله چې، ګواکې د هغه غږ یې نه دی اورېدلی، همداسې لرې، لرې مخ ته روان و.هغه ته هرڅه بل ډول برېښېدل او پرې غولیده.د لارې د څنګ نیالګي ترخیاله ونې او پر ګندو یې د سړو ګمان راته، خو بیا به په خپلې تېروتنې پوه شو.د غونډۍ لمنې ته چې ورسېد، نور نو، نه د دوی اورونه ووا و نه د دښمن، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفرانسویانو غږونه او خبرې یې په ډاګه اورېدې.دې شیلې په پای کې یې، سیند ته ورته یوه کرښه ولیدله، خو چې ور ورسېد ،هغه سیند نه،لاره وه.لارې ته وروړسېد ،پرې ودرېد او خپل آس یې هم ودراوه.حیران ولاړ و ،نه پوهېده څه وکړي، په لاره مخامخ لاړ شي، له هغه بل پلو واوړي او که دتورې دښتې په تیارو کې دغونډۍ پلو وخوځېږي.لاره لږ ورته رڼا او بې ګواښه وبرېښېده ،ځکه له غونډۍ نه خلک ورته ښه معلومېدل.هغه غږ وکړ:

-ماپسې راځئ. له لارې نه واوښت او په خورا چټکۍ یې هغه پلو ته چو کړل، چې پرون ماښام هلته یو فرانسوي ولاړ و.

یوه سواره له شا نه غږ وکړ:

-جلالتمابه !هغوی دي،وینئ !

رستوف ددې وخت پیدا نه کړچې دا خوا وګوري چې په پرونۍ تتۍ سیمې کې ناڅاپه ګرز شو ،غږپورته شو او په لرې واټن کې یوه مرمۍ لکه مرمۍ داسې په انګازو شوه او همداسې یې په هواکې غږ ورک شو.دتوپک بل ډز پورته شو او دتوپک له تیره لمبې ووتې.رستوف دآس مخ راواړاوه او په ځغاسته بېرته راستون شو.څلورو ډزو په ټاکلي ځنډ شروشور ګډ کړ او وبنګېدې.رستوف خپل آس چې دده په شان له ډزو نه نا آرامه شوی و ،آرام کړ او په کرار کرار مخ وړاندې لاړ.یوه ناڅرګنده خوښي یې پر زړه خوره شوه او له ځانسره یې وویل:

-دا ولې مو ډزې بس کړې؟خو نورې ډزې ونه شوې.

پرته له هغه چې،آس ته متروکه ورکړي، دباګراتیون پلو ته ورغی.هغه ته چې وروړسېد ،لاس یې د درناوي په نښه دخولۍ پیک ته وروړساوه او هغه ته ور وړاندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلګا روکوف، لا هغه کوله باګراتیون دده دا خبره چې دښمن تښتېدلی دی ومني او پرهغې یې ټینګار هم کاوه، ځکه هغه دلیل راوړ چې دښمن دا اورونه یوازې ددوی د دوکې لپاره بل کړي دي...

باګراتیون وویل:

- ښکاره ده چې لا نه دي تللي، سبا به هرڅه څرګند شي...

رستوف وویل:

-د دښمن پیرې لا همالته دي، جلالتمابه !

-نوم دې، څه دی؟

-ګراف رستوف.

- ډېرښه !له ماسره پاتې شه او د اړیکو افسر اوسه.

دلګا روکوف وپوښتل:

-تاسو دایلیا آندرو ویچ زوی یاست؟

خو رستوف ځواب ورنه کړ....

دد ښمن په پوځونو کې چغې او داورونو بلول ددې لپاره وو، چې کله به د بناپارت فرمان لوستل کېده، ټولواک به خپله د سرتېرو په منځ کې سپور ګرځېده. سرتېرو به د ټولواک په لید، دوښو ګېډیو ته اور ورته کاوه او نارې به یې وهلې:

- تل دې وي ټولواک ! هغه پسې به یې منډې وهلې. دناپیلون فرمان داسې و:

"سرتېرو !

دروسیې پوځ زموږ په وړاندې راپاڅېدلی چې په ئیولم کې داتریش د پوځ دماتې غچ رانه واخلي. دا هماغه ټولي دي چې تاسو په ګولان برون کې مات او تراوسه پورې مو پرله پسې تر دې ځایه پسې اخیستي دي. هغه ځایونه چې موږ لاندې کړي، خورا لاسبري او ټینګ دي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن د دې تکل وکړي چې زما پر پوځ له ښې خوا را تاو شي، هغه به زمونږ تر برید لاندې راشي.

سرتېرو !

په دې حال کې به ستاسو قوماندانې خپله واخلم.که تاسو په خپلې ابدي مېړانې د دښمن کرښې ماتې او تالا کړئ،زه به ځان له اوره لرې وساتم،خو که ستاسو په بري کې آن یوه شېبه هم شک پیدا شو ،خپل ټولواک به وووینئ چې تر ټولو مخکې به د دښمن دلومړیو ګذارونو لاندې ولاړ وي،ځکه بري او ویاړ ته درسېدو په لاره کې د شک او ګمان اجازه نه شته،په تېره بیا هغه ورځ چې په هغې کې د فرانسې د پلیو پوځونو ،چې د فرانسې د ملت د شرافت شمله جوړوي، د شرف او ویاړ خبره یاد ېږي.

د ټپیو د لرې کولو په پلمه خپلې کرښې مه پرېږدئ.تاسو هر یو باید په خپلو خیالو کې دا ونغاړي چې د انګریزانو پر دغه هر یو لاسپوځی ،چې زمونږ د ملت پر وړاندې له کرکې نه ژوندي دي،لاسبري شئ.د دغه بري او لاسبري به دې جګړې ته د پای ټکی کېږدي او مونږ به بېرته خپلو ژمنیو مینو ته ورستانه شو ،هغو ځایو ته به ورستانه شو ،چې هلته اوس نوي فرانسوي قوتونه جوړ ،راټول او له مونږسره به یوځای شي،نو هغه وخت به،هغه سوله چې زه یې ټینګه او غواړمه یې،زما د ملت، ستاسو او زما د ویاړ وړ وي.

ناپلیون "

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

د سهار پنځه بجې لا تپه تياره وه. منځنۍ، زېرمه، ښي اړخ او باګراتيون پوځونو لا په تپه ولاړ وو. خو په کين اړخ کې، پلي، سواره او توپچي قوتونه په خوځېدو شوي وو. تر هرڅه دمخه، هغوی بايد له لوړو سيمې، د دې لپاره چې له ښي اړخ نه يې پر فرانسويانو يرغل کړای ښکته راشيوه شوي وای، او د پوځي اټکل له مخې، هغوی يې د بوګيمسکي تر غرونو پرشا تمبولي وای، هغوی پاڅېدل، بارونه او پنډونه يې تړل، اورونه بلېدل، هر هغه څه چې پيدا کېدل دې نغريو ته ورارتېرول کېدل، دې لوګيو سترګې ړندولې. هوا سړه او تياره لا ولاړه وه. افسرانو په خوراګبنې او تلوار چايونه څکل، سهارنۍ يې خوړله، سرتېرو خپله وچه مړۍ ژوله او له ډېرې يخنۍ نه يې پښې په دې هيله پرځمکه ډبولې که لږې تودې شي. هغوی له نغريو نه راتاو، وو. هر هغه څه: ميز، څوکۍ، کراچۍ، درانه بارونه، لرګي او نور هغه څه چې دوی يا نه شول او يا يې نه وړل، دې نغريو ته ور ارتېرل. اتريشي لارښوونکو، دروسي پوځيانو په منځ کې د دې لپاره ښکته پورته ګرځېدل چې هغو ته دخوځېدو د وخت او دلوري دښودنې په اړه خبر ورکړي. کله چې به يو اتريشي افسر دکوم غونډ دقوماندانۍ په شاخوا کې وليدل شو، په ټول غونډ کې به له ورايه يو خوځون احساس شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سرتېري به په منډه او تلوار د نغرو له شا وخوا نه به پا څېدل، بوټونه او ګېتس به يې وتړل، کڅوړه به يې جوړې، ټوپک به يې شاته او په منډه به کرښو ته شول. افسرانو به خپلې تنې وتړلې، کڅوړې به يې شاته کړې، توري به يې ملاته اچولې او ځانونه به يې ليکو ته ورسول او په چغو چغو به يې سپارښتنې اورولې... ټول پوځ به ټولی ټولی وخوځېد، خو پوځيان به په دې نه پوهېدل چې چېرې روان دي. ددوی له ګڼې ګوڼې او ددوی د اورونو له خورا زياتو لوګيو نه هغه کلي چې دوی ترې خوځېدلي او نه هغه لارې چې دوی پرې روان او دوی ته يې د هر کلي تمه لرله، يو هم دليدو نه و.

سرتېري په خوځېدا کې هماغه شان د خپل پوځ اسير دي، لکه ماڼو چې په بېړۍ کې وي. څومره چې منزلونه اوږده وي، څومره چې برېدونه نا آشنا وي، لارې ټولې پردې، پردی او عجيبې ګوابنمنې مينې، دی اړ دی چې همالته وي، هر وخت او هرچېرې د سرتېری په شا وخوا کې چې څه تېرېږي، بيا هم لکه ماڼو په بېړۍ کې، هماغه پړي، تنابونه، هره وخت او هرچېرې هماغه ملګري، هماغه د برېدو کرښې، هماغه جګتورن ديمتريوويچ، هماغه ژوچکانومی سپي او هماغه قوماندان، ټول ټول په خپلې شاوخوا کې ويني. سرتېري، خورا لږ، خو بيا هم هيله لري د هغې لارې، هغه اندازې ته چې دده بېړۍ يې لاندې کوي، وپېژني، خو کله چې د جګړې شېبه رارسېږي، خدای پوهېږي له کومې او څنګه، د پوځ په روان کې يو، خو د ټولو لپاره داسې روحاني، پرېکوونکی غږ انګازې کوي، چې د کوم پرتمين زيري نښې له ځانسره لري. د غه غږ پوځيان پلټنې او لټونې ته هڅوي. پوځيان د جګړې په ورځ، په لمسوونکي ډول د خپل غونډ له کټو او پرېکړو نه اوړوي او دا پلټنې او پوښتنې هم کوي چې په شاو خوا کې يې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېږي.

لړلي داسې راخوري وي، چې دلمر دراختو سره سره بيا هم لس ګامه وړاندې څه نه ليدل کېدل.د ونو څانګې تر ونو سترې او اوارې ځمکې لوړې، ځوړې بربښېدې. دا کېدای شو چې هرچېرې او له هرې خوا په لسو ګامونو کې ددښمن سره لاس وګرايوان شي، خو په همدې لړو کې ډلې ډلې پوځيانو خورا اوږده لار ووهله، کله لوړه، کله ژوره، کله به لوړاو کله به ځوړ، کله ډاګ او کله غرونه، خو په دې حال کې هېچېرې له دښمن سره مخامخ نه شول.برعکس، مخې، شاته او نورو خواوونه هر پلو به دې چې کتل، روسي پوځونه وو، چې روان وو.هرسرتېری په زړه کې په دې خوشالېده، چې پوهېده، هغه پلو ته چې دی ځي، يعنې ناڅرګنده پلو ته، نور ډېرډېر دموږسړي هم هغه لورته روان وو.

يوځای به واورېدل شو:

-واه ګوره !کورسيان(کورسکايا دروسيې يوه سيمه ده ) راغلل.بل ځای به دې بيا اورېدل:

-يا پرودګاره !ګوره څومره را ټول شوي دي، ماښام چې کله اورونه بل شول، چا تصور هم نه کاوه چې خلک به دومره ډېر وي، داسې ډېر چې پای يې نه ليدل کېږي، لنډه درته وايم، ټول مسکو دلته راغلی.

که څه قوماندانانو له ډلې نه يو تن هم، نه، د سرتېرو روانو ډلو ته نه نږدې کېده او نه يې خبرې ورسره کولې(لکه هغه شان چې مو په پوځي جرګې کې وليدل، پر هغو پربکړو خوابدي وو ، چې دجګړې په اړه شوې وې، نو له دې کبله هغوی يوازې دمشرۍ اوامر پر ځای کول او ددې پروا يې نه لرله چې سرتېري خوشاله وساتي ) خو ددې ټولو خبرو سره سره، بياهم سرتېري دتل په شان يو وارجګړې ته دتګ په وخت، په تېره بيا چې کله به خبره دبريو وه، خورا خوشاله وو ، خو دڅه کم يو ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګ نه وروسته، د سختو لړو له کبله، د پوځ زیاتره برخه دې ته اړوته چې ودرېږي. پرته له دې، پوځ د بې نظمۍ، دغم او خوابدۍ یوه نا اشنا لړه راخوره شوه. د دغه غملړلي احساس پر زړو پوهېدل خورا ګران کار و، خو هغه په ډېرې بې ساري چټکۍ او ځیرتیا سره، چې د ډول ټاکنه یې ګرانه وه خورېده. هغه احساس، نامحسوسه او په شیله کې د شېوه کېدونکو اوبو په څېر نه راګرځېدونکی او نه مهارکېدونکی و. که روسي پوځونو د ټلوالې ملګري نه لرلای، کېدای شو د دغې غملړې احساس او الې ګولې د خورېدو لپاره به زیات وخت ته اړتیا وه، خو اوس یې د دې الې ګولې او پرېشانۍ د خورېدو لویه پړه په خورا لېوالتیا په دې کالباسه (وچه غوښه) خورو المانیانو وراچوله.

-ولې ودرېدل؟ لارې وتړل شوې؟ او یا له فرانسویانو سره مخامخ شوو؟

-نه! نه! هېڅ خبره نه شته، که دښمن وای بې ډزو نه کېده.

-تر اوسه یې تلوار و، چې وخوځېږي، وخوځېدو، اوس مو د دې ډاګ په منځ کې ساتي. ټول د دې لعنت شویو المانیانو له لاسه، په هېڅ څه یې سر نه خلاصېږي.

-که زه زما واک وای، ما به دوی مخې ته لېږلي وای، خو اوس ګوره! دوی ترشا کوټه شوي. اوس نو تشه ګېډه دلته ودرېږه او ورته ټینګ شه.

یو تن افسر وویل:

-نو دا څه وشول؟ پته نه شته چې څه وخت به خوځېږي؟ سره وایي چې سورو لاره بنده کړې ده.

یو بل تن بیا وویل:

-لعنت دې وي، په دې المانیانو، خپل وطن هم نه پېژني او نابلده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.

يو سواره ياورچې رانږدې کېده غږ وکړ:

-تاسو دکوم پوځ يا ستئ؟

-د اتلسم.

نو دلته څه کوئ؟تاسو بايد لا دوخته وړاندې تللي واى،نو اوس تر ماښامه هم وار نه در رسېږي.دا احماقت دى،دا نه سپارښتنه ده او نه لارښوونه ،خپله هم په خپلو کړو نه پوهېږي چې څه کوئ.

افسر ياور دا وويل او لاړ.

ترهغه وروسته يو جنرال راغى او په خورا خواشداني يې په غير روسي ژبه څه چغې وهلې...

له بلې خوا يو ډډ غږ راغى چې ويل يې:

- سپارښتنه وه چې د سهار په نهو بجو کرښو ته ورسېږو ،موږ لا نيمايي لاره نه ده وهلې،دې ته سپارښتنه او لارښوونه وايي.که زه واى ټول به مې ويشتلي واى.

د لېوالتيا او سربښندنې هغه احساس چې دخوځېدا په پيل کې پوځ ته قوت باښه،کرار کرار خپل ځاى د ناسمو فرمانونو په وړاندې قهر او دالمانيانو په وړاندې کرکې ته پرېښود.

ددغې الهګولې علت دا و چې داتريشي سورو په پوځ کې چې په کين اړخ کې روان و ،ستره قوماندانې په دې متهې پوه شوې وه،چې دقوماندې مرکز له ښې اړخ نه خورا لرې دى،نو له دې کبله يې ټول سواره پوځ ته امر کړى و ،چې ښي اړخ ته ورواوړي،نو هماغه و ،چې څو زره تنه سواره دې ته اړ وو چې،له پليو نه مخکې شي او پلي بايد دهغو د تېرېدو او ځاى پر ځاى کېدو پورې صبر وکړي...

هرڅه چې و ،تر يوه ساعت ځنډ نه وروسته،پلي بيا وخوځېدل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډۍ لمنو ته ښکته ورشېوه شول.لړې چې تازه د غرونوله څوکو لمنه ټوله کړې وه، همالته د غونډۍ لمنو ته چې پوځونه رسېدلي وو، ور خوره شوه. د همدې لړو په منځ کې وړاندې یو ډز او بیا بل او وروسته پرله پسې نور ډزونه واورېدل شول. لومړۍ ډزې هسې خورې ورې اوګډې وډې وې:ډز،ډوز،تات،ترات...خو کرار کرار منظمې او چټکې کېدې.اخ وډب د ګلدباخ د واړه نري سیند پې غاړو پیل شوی و.

روسي پوځونو دا انتظار نه لاره چې د غونډۍ په لمنو کې د سیند پر غاړه له دښمن سره مخامخ شي.هغوی که له یوې خوا په سختو لړو کې راایسار شوي وو،نو له بلې خوا یې د خپلو مشرانو او قوماندانانو نه هم کومه دخوښۍ او هڅې او هاند غوږه خبره نه اورېده.د هغو په منځ کې دبېرته پاتې کېدو آوازې خورې شوې وې او له ټولو نه لویه بدمرغي خوا لا دا وه چې په دې لړو کې ایسارېدو دهغو سترګې وړړندې کړې وې او وړاندې او شاوخوا یې له خپلو نه پرته بل څه نه لیدل.روسانو په ډېرې تنبلۍ او کراره پر دښمن ډزې کولې،وړاندې تلل او بیا درېدل.هغوی په خپل وخت له خپلو قوماندانانو نه چې په لړو او نا آشنا سیمو کې راګیر وو،ځکه قوماندانو نه شوه ترلاسه کولای چې کله ناکله به یې آن خپل ټولی یا ملګري هم نه شو پیدا کولای.د لومړې،دویمې او درېیمې ډلې لپاره چې ښکته شیلې ته ورشېوه شوې وې،جګړه په دې توګه پیل شوې وه.څلورمه ډله چې له کوتوزف ورسره و،هلته د پر انځینسکې دغونډیو د پاسه پاتې شوې وه او نه راخوځېدله.

که څه هم دهغو غونډیو په لمنو کې چې اخ و ډب پیل شوی و،لا سختې لړې خورې وې،خو دهغو د پاسه رڼا شوې وه.مګر دهمدې لړو له امله دهغه څه نه چې مخکې تېرېدل،هېڅ نه لیدل کېدل.دنهو بجو پورې هېڅوک په دې نه پوهېدل چې په رښتیا لکه هغه شان چې ستره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندانۍ تصور کوي، دښمن لس ورستې (ورست د اندازه کولو معيار) ته رارسېدلي دي که څنګه؟

د سهار نهه بجې وې. کنډک کنډک لښکرو د غونډۍ په لمنو کېږدې درولې وې، خود غونډۍ پر سر د شلپانځه، په کلي کې چې، ناپليون د خپلو مارشالانو په منځ کې ولاړ و ،رڼا ،رڼا وه. د هغوی پر سر تک شين آسمان او د لمرتبۍ لکه ستر ګردی توپ دلړو په شودو رنګه څپو کې لامبو وهله.

نه يوازې د فرانسې ټول پوځ، بلکې ناپليون له خپلې ټولې قوماندانۍ سره نه د رود پر هغې غاړه چې د سکولنيځ او شلپانځه غونډۍ او کلي پراته وو او موږ غوښتل هلته موضع ونيسو ،برېد وکړو بلکې هغې غاړې ته چې زموږ پوځونو و ،دومره نږدې وو ،چې ناپليون په خپلو سترګو کولای شول زموږ په پوځ کې سواره او پلي سره جلا جلا وويني او توپير يې کړي. ناپليون پر يوه بړګ عربي چټ آس، تر خپلو مارشالانو نه مخکې ولاړ و او هماغه شين بخون کوټ يې اغوستی و ،چې د ايتاليا جګړه يې په کې ګټلې وه. هغه چوپ په خوله هغو غونډيو ته چې ګواکې دلړوله سمندرګي نه يې سر ويستلی و او پر روسي پوځونو لرې لرې خوځېدې، کتل. هغه، په خوراځير، هغو ډزو ته غوږ ابنبی وچې د ننه له شيلې نه راتلې. تر هغه وخته پورې لا د هغه پر ډنګرې بشرې، د هيڅ ډول خوځون او حس نښې نه ښکارېدې. د غه ځلېدونکې سترګې پر يو ځای خښې وې. د هغه ټول اټکلونه، رښتيا شوي وو. د روسي پوځونو څه شمېر، د شيلې د ننه، د چينو او ډنډونو خواته ورشېوه او څه شمېر هم د پراڅينسکې لوړو ته چې خورا ښې حساسې وې او ده تکل لاره برېد پرې وکړې، پرېښودې. هغه د دوو غرونو په منځ کې د سختو لړو سره سره ،د پراڅ د کلي پلو ته په شيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې، د تلونکو ډلو ډلوروسي پوځونو د تګ اواز اورېده او آن د هغو د سرنېزو ځلا يې ليدله، هغه ليدل چې د غه ډلې يو په بل پسې د لړو په سمندرګی کې ډوبېدې. هغه اطلاعات چې ده پرون شپه ترلاسه کړي وو...د روس هغه پوځونه چې پراخ ته نږدې روان وو، د روسي پوځونو مرکز او زړه جوړاوه او دی پوهېده چې دا زړه لا دوخته دا سې کمزوری شوی و، چې پر هغه بريد، هرو مرو بری درلود، خو هغه په پرله پسې بريد ځنډاوه.

هغه ورځ، د ده د خول(تاج) ابښودلو کاليزه او د خورا نيکمرغۍ ورځ وه. تر نيمې شپې وروسته، سپيدو ته نږدې يې څو ساعته سترګې پټې او ويده شوی و. ناپليون په ښه طبيعت، روغ، خوشاله، تاند او په دا سې يو نيکمرغه روحي حالت کې و، چې په هغه کې د هر کار ترسره رسول، کېدونکی ښکاري. هغه په همدا سې يوه حالت پر آس کېناست او د کېدونکې جګړې ډګر خوا ته لاړ. ځای پر ځای ولاړ و، هغو لوړو ته يې چې له لړو نه راوتلې وې کتل او د هغه په نه خوځېدونکې سړې بشرې، پرځان ډاډ چې د بري نښه وه، څرګند و. هغه د غه برې چې د مينې نه د نيکمرغو زلميانو پرڅېرې څرګند وي، د ځان وړ ګانه. مارشالان د هغه تر شا ولاړ وو او زړه يې نه شو کولای د هغه پام واړوي. هغه به کله پراخنسکې غونډيو ته او کله به يې د لمر تبۍ ته چې له لړو نه راوو تله کتل.

کله چې لمر په بشپړه توګه له لړو نه راووت او په سترګبرېښېدونکې ځلاسره پر ډاګ او د لړو پرسيند، وځلېده، هغه، تا به ويل چې ګواکې د اوربل، د غړ لپاره همدې شيبې ته سترګه په لاره و، له خپلو سپينو، ښکلو لاسونو نه، لاسوندي (د ستکش) وويستل، مارشالانو ته يې د اشارې په نښه وښورول او د اوربل غړ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ. مارشالان له خپلو یاورانو سره مل بېلابېلو خوا ووته په منډه او دخو دقیقو نه وروسته، دفرانسې د پوخ غورو ډلو، په ډېرې چټکۍ د پراخنسکې، غونډې خواته، چې کرار کرار روسي پوځونو پرېښودلې او درې ته دننه چپې خواته تلل، وروخوځېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

کوتوزف، د سهار په اتو بجو د میلارادوویچ د ځلورمې ډلې ترمخې پر آس سپور، روان و. دا هماغه ډله وه چې باید د پرژيبيشفسکې او لانژورن د ډلو ځای یې چې شیلې ته شېوه شوې وې، لاندې کړې وای. کوتوزوف له مخکنې غونډ سره تر سترې مه شئ، نه وروسته د خوځېدو سپارښتنه وکړه او هغوی ته یې په دې توګه څرګنده کړه چې تکل لري د دې ډلې مشري به خپله کوي. د پرانخ کلي ته چې ورسېد، همالته ودرېد. سرداراندرې، چې د سترقوماندان، د ډېرو نورو غوره ملګرو له ډلې نه و، د هغه تر شا ولاړ و. هغه له ګېنيتوب او عصبيت سره سره، لکه هغه شان چې انسان خپل ارمان ته د رسېدو په شېبه کې وي، ځان آرام او ډاډمن ښوده. هغه په پوره توګه په دې ډاډمن و چې نن ده د بخت او پر ده د پېرزوينې ورځ ده، خو په دې نه پوهېده، چې د غه بخت څنګه ترلاسه کړي. مګر سره له هغه هم پوره ډاډمن و، چې همدا سې به کېږي. زمونږ د پوځونو ځای، د هغو موضع او خريطې له بل هر چانه ده ته څرګندې وې. د جګړې په اړه خپله هغه تګلاره چې اوس يې نو د هغه د عملي کېدو غوښتنه بابېزه خبره وه، ده هېره کړې او ځان يې د وايروتر د تګلارې منلو ته جوړ کړی و. هغه د بلې هرې نا ببرې پېښې د کېدو اټکل کاوه، د هغه د مخنيوي يا پېښېدو لپاره يې د چټکو، غوره او غوځولارو چارو تصور کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکوزې خوا او کين پلو ته د ناپېژندلو قوتونو ترمنځ يوه نيمه ډزه اورېدل کېده.ده داسې انګېرله چې دجګړې زړه به هماغه ځای او زموږ قوتونه به همالته له دښمن سره مخامخ شي.په زړه کې يې تېرېده:

-ما به دکومې ډلې يا فرقې په مشرۍ هماغلته استوئ،زه به جنډه په لاس تر ټولو نه مخکې درومم او هرهغه خنډ چې په مخه راځي،هغه به نابودوم.

سردار اندرې نه شو کولای دهغو کنډکونو جنډو ته چې دده ترمخې تېرېدل،په بې پروايئ وګوري،هغه به دهغو په ليدو په زړه کې ويل:

-کېدای شي،داهماغه،هماغه جنډه وي،چې زه به يې اخلم اوله هغې سره به ترټولونه وړاندې درومم.دشپې اوخورو شويو لړو او تيارو ، په لوړو ،ژورو کې له کنګله پرته،چې سهار ته ويلې کېدل، بل څه ،پرېښې نه و ،خو همدې لړو په شيلو کې بيا د سپينوشودو دويالو په څېرلمنې غوړولې وې.

دکينې خوا په شيله کې چې زموږ قوتونه ورشېوه شوي او دډز اوډوزغږ ترې راته، هېڅ څه نه ليدل کېدل.دلړو په سر تک شين آسمان او ښۍ خواته دلمر ستره تبۍ ښکارېدل.وړاندې،لرې لرې،دسيند دغاړې آپلو په ګڼو ځنګلونو پټو غونډيو ،دسپينولړوله څادره سر هسک کړی و او داسې تصور کېده چې دښمن هم هلته دېره شوی وي....

کوتوزف،سواره جنرال ته چې ده ته نېږدې کېده په زغرده وويل:

-څه ته ګورئ،ورته وو ايي چې کنډکونه سره منظم او له کلي نه راتاوشي.زه په دې نه پوهېږم، ښاغليه ! جلالتمابه !تاسو ولې پام نه کوئ، کېدای شي دمګړۍ له دښمن سره مخامخ شو ،دا شونې نه ده چې دلته پوځ يوستی شي اوددې کلي له دې نرۍ کوڅې نه تېر شي.

جنرال ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-غواړم تاسو جلالتماب ته ووايم، ماغوښتل چې لومړي له کلي تېر شو او بيا د جګړې قومانده ورکړو.

کوتوزوف له زهرو ډکه خندا وکړه او وې ويل:

-ډېر ښه ! ډېر ښه ! تاسو غواړئ چې خپل قوتونه يو يو او په يووستي بڼه د دښمن تر ډزو لاندې راولئ.

- جلالتماب !تر دښمنه پورې لا خورا ډېره لاره پاتې ده، د نقشې له مخې...

کوتوزف، په خورا قهر چيغه کړل:

-کومه نقشه؟تاسو ته چا ويلي دي؟...هيله کوم هغه فرمان چې قوماندان يې درته وايي، پر ځای کړئ.

-اطاعت کوم، صاحبه !

نيوفيځکې په پټه پټه د سردار اندرې په غوږ کې وويل:

-ګرانه !نن د بوډا طبيعت خورا وران دی.

يو اتريشي افسر چې سپينه دريشي يې په ځان او شنه بڼکه يې په خولۍ کې وهلې وه، په منډه کوتوزوف ته ورنېږدې شو او د ټولواک له نامه نه يې ترې وپوښتل:

-ايا څلورمې ډلې عمليات پيل کړې دي او کنه؟

کوتوزوف، بې له هغه چې د هغه ځواب ووايي، مخ يې واړاوه او ناڅاپه يې پر سردار اندرې چې هغه ته نېږدې ولاړ و، سترګې ولګېدې. د هغه په ليدو يې تونده کتل او سوځونکی غلچک نرم شو. ګواکې په دې پوه شو چې، په هغه څه کې چې اوس پېښ شوي، دده ياور هېڅ ملامت نه دی بې له هغه چې د اتريشي افسر د ځواب په خيال کې وي، بالکونسکې ته يې مخ وروا ړاوه او وې ويل:

-ګرانه لاړ شه او وګوره چې دريېم پوځ له کلي تېر شوی او کنه؟هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریش کړه او قوماندان ته یې وویل چې زما امر ته سترګه په لاره شي.

خو همدا چې سردار اندرې د منډې تکل وکړ، هغه یې ودراوه او زیاته یې کړه:

-له هغه نه وپوښته چې مخکښ ښارونکي یې ټاکلي او کنه؟

همدا سې بې له هغه چې اتریشي افسرته پاملرنه وکړي، له ځانسره یې وویل:

-دا څه کوئ؟څه کوئ؟

سردار اندرې په ځغاسته، ځغاسته لاړ چې خپله دنده ترسره کړي.هغه تر، ټولو تلونکو کنډکونو مخکې شو او درېیمه فرقه یې ودروله او پوره ډاډه شوه چې په رښتیاهم د پوځ مخې ته مخکښ ښارونکي ګمارل شوي نه دي.

دغونډ قوماندان، یوډګروال و چې دلښکرترمخې روان و ، د سترقوماندان له خوا دمخکښو ښارونکو په اړه دخبر په اورېدو سره هک حیران شو ، ځکه هغه په دې ډاډمن و چې تر دوی نه مخکې هم ددوی پوځیان روان دي او دښمن له لسو ورستو نه زیات تر دوی نه لرې، دي.

خو په اصل کې، دهغو مخې ته په رښتیاهم پرته له تشو ځوړو نه چې سختولړو نه ډکې او له سترګو یې پناه کړې وې، بل څه نه لیدل کېدل.سردار اندرې د ستر قوماندان دفرمان درسولو نه وروسته په منډه بېرته راستون شو.کوتوزوف،لا په هماغه ځای ولاړ و...او پوځ هم له خوځېدا پاتې و....

هغه سردار اندرې ته مخ وراواړاوه او وې ویل:

-ډېرښه !ډېرښه ! او هغه جنرال ته چې ساعت یې په لاس و او هره شېبه یې ټینګار کاوه چې وخوځېږو ، ځکه د کینې خوا ټول قوتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیلې ته شپوه شوي وو، وویل:

- جلالتماب ! لا تر اوسه وخت دی، کولای شو. او بیا یې د دویم ځل لپاره وویل:

- لا تر اوسه وخت دی.

په همدې وخت کې، د کوتوزوف شا ته لرې، د کنډکونو د هوراوو غریو او چیغې پورته شوې. د غه نارې او چیغې د روسي پوځ په کتارونو کې په چټکۍ رانږدې کېدې. داسې برېښېده، د هغه چا لپاره ستړي مشئ او هورا ویل کېږي، چې په خورا چټکۍ روان دي. کله چې چیغې وهونکي سرتېري د هغه غونډ مخې ته چې کوتوزوف یې مشري کوله ورسېده، هغه لږ څنګ ته شو او په تریو تندي یې وروکتل. له پراخ نه په راتلونکې لار، د سورو یوه ډله چې رنګارنګ کالایې اغوستي وو، راروان وو. د هغو دوه تنه تر ټولو د مخه څنګ پر څنګ په خورا چټکۍ روان وو. له هغو نه یوه یې توره دریشي اغوستې، سپین تاج یې پر خولۍ ټومبلی او پر انګریزي ډوله سوربخن آس سپور و او هغه بل یې سپینه دریشي اغوستې وه او پر تور آس سپور و. دا دوه ټولواکان او له هغه سره مل ملګري وو. کوتوزوف، په پوځ کې د پخوانیو جنګیالیو سرتېرو بڼه غوره کړې، په شا و خوا کې یې حاضرو سرتېرو ته د خبرداری فرمان ورکړ او خپله یې په سلامۍ د ټولواک درشل ته ور ودانګل. ناڅاپه د هغه بشره او ټول کړه وړه بدل او دیوه لاس لاندی، مطیع او واک نه لرې چا څېره یې غوره کړه. هغه په بې ساره اطاعت ښودنې چې د ټولواک الکساندر، تر پامه ښه ونه برېښېد، هغه ته ورنږدې شو او سلامي یې ووهله.

تر خوابدی نه وروسته ننبې، لکه په شنه آسمان کې پاتې شونې لړو، ډېر ژر د ټولواک له بشرې کډه بار کړه. هغه نن له ناروغی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته، تر هغه وخته چې د اولمويوخ په دښته کې، دلومړي ځل لپاره بالکونسکي له هېواده بهر ليدلی و، لږ څه ډنګر برېښېده...هغه چې خپل آس ودراوه له ستومانۍ نه يې يوه ژوره سا وويسته، مخ يې واړاوه او دخپلو ملګرو څېرو تـه يې چې دده پـه شان ځوانان او تانـد وو، وکتل.چارتورژيسکي، نواسيلڅوف، شهزاده والکونسکي، ستروګانوف او نورچې ټول خوشاله، خورا قيمتي جامې په غاړه، پر ښکلو پالل شويو او دزړه له کومې روزل شويو آسونو سپاره وو... د ټولواک ترشا ولاړوو او پـه خنداخندا يې مرکې سره کولې.ټولواک فرانځ، سوربخن، نری ځوان، چې پر تورښکلي آس خورا نيغ ناست و، په ګېډۍ او خواشيني يې شاوخوا کتل.خپل يو سپين جامې ياوريې وروغوښت او له هغه نه يې د څه شي پوښتنه وکړه.سردار اندرې، چې خپل پخواني آشنا وليد، له هغه سره، په داسې موسکا چې لټولی يې نه شوه، خپله کتنه زياده کړه او په زړه کې يې وويل:

-هغه له خپل ياورنه هرومرو وپوښتل چې پـه څو بجو خوځېدلي يو....

ټولواک الکساندر، اتريشي ټولواک تـه پـه درناوي وکتل او لـه کوتوزوف نه يې وپوښتل:

-څنګه !ميخائيل ايلاريانوويچ، تاسو يې نه پيلوئ؟

کوتوزوف، د درناوۍ په نښه غاړه ټيټه کړه او وې ويل:

- انتظاريم، اعليحضرتا !

ټولواک غوږڅک او تندی تريو کړ او داسې يې وښوده چې ګواکې وايې نه وربېدل.

کوتوزوف تکرار کړه:

- انتظاريم، اعليحضرتا !...(د سردار اندرې دې تـه پام شو، چې کلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتوزوف د انتظاریم کلمه ویلې، دهغه پاسنۍ شونډه، په غیر طبیعي بڼه وربړېدېده )لا تراوسه هم قطعات راټول شوي نه دي.

ټولواک پوه شو، خوداسې وبرېښېده چې دغه شان ځواب یې خوښ نه شو، خپلې لړلوېدلې اوږې یې پورته واچولې او نوا سیلخوف ته، چې ده نه لږ آ پلو ولاړ و، ددې لپاره وکتل، چې ګواکې له کوتوزوف نه ګیله لري.

-ګوره !میخائیل لاریانوویچ !موږ خو څه دڅاریځنه (دمسکو په څنډه وکې دروسي امپرتورۍ د پرېټ ډګر-ژ ) په چمنونو کې نه یو چې څو ټول کنډکونه راټول نه شي، پرېټ به نه کېږي. ټولواک دا وویل او بیا یې اتریشي ټولواک فرانس ته وکتل، تابه ویل، غواړي هغه ته په خبرو کې دګډون بلنه ورکړي او یا که خبرې نه کوي لږ ترلږه ددوی خبرو ته پام وکړي.خو اتریشي ټولواک، همداسې دېخوا، هغې خواته کتل او هېڅ یې نه اورېدل.

کوتوزف، ددې لپاره چې بیا یې غږ ټیټ پاتې نه شي، په درانده اوځېږ آواز وویل:

-معظم ټولواک، له همدې امله یې نه پیلوو.بیا یې غومبوري وربړېدېدل او وې ویل:

- معظم ټولواک !له همدې امله یې نه پیلوو چې موږ دڅاریځنه په چمنونه کې نه یو، دلته پرېټ نه کېږي.

دټولواک ملګرو، یوبل ته وکتل، په څېرو کې یې دملامتۍ او پړتیا نښې راخورې او دهغوچوپتیا دا، ویل:

-څومره چې زوړ وي،وي دي، خو په هېڅ ډول ددغه راز خبرو کولو حق نه لري.

ټولواک، پرله پسې او په خورا ځیرتیا دکوتوزوف سترګو ته کتل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ته ستر ګه په لاره شو چې، بوډا بیا څه وايي او کنه؟خو کوتوزوف د درناوي په نښه سر ټیټ کړ او داسې وبرېښېده چې دی هم ټول غوږ، غوږ دی.چوپتیا لږه اوږده شوه، خو په پای کې کوتوزوف سر راپورته کړ، غږېږي چې د ساده او له تفکر پاتې سردار، خو اطاعت منونکي جنرال غږ ته ورته شوی و، وې ویل:

-معظم اعلحضرتا !خو بیا هم که تاسو فرمان ورکوئ...

هغه آس چو کړ، د قطعې قوماندان میلارادوویچ یې وروغوښت او داورېل غږ یې پرې وکړ.

په سرتېرو کې بیا لېوالتیا او شروشور راپیدا شو.د دنوواګرووه، دغوندو دوه کنډکونه او د اپشیرکون دغونډ یو کنډک وخوځېدل او دټولواک له څنګه تېرشول.

په هماغه شېبه کې چې د اپشیرکون دغونډ کنډک دټولواک له څنګه تېرېده، سوربخن میلارادوویچ، بې له کوټه، خو په خورا ښکلې او په نښانونو ګاڼل شوې دریشۍ کې، چې پر خولۍ یې جګه بڼکه ټمبلې وه، په ځغاسته، ځغاسته راوړاندې شو، په زورتیا دټولواک تر مخې ودرېد او سلامي شو.

ټولواک وویل:

- په خدای مو سپارم، جنراله !

جنرال په ورین تندي، په فرانسوي ژبه وویل:

-اعلحضرتا، معظم ټولواک ! موږ به ټول هغه څه وکړو چې له لاسه مو کېږي !

خو دهغې ګډې وډې فرانسوي ژبې، دټولواک ساتونکي او ملګري موسبدو ته وهڅول.

میلارادوویچ، په زغرده دخپل آس مخ واړاوه او لږڅه لرې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولواکه ودرېد ، چې قطعه یې تېره شي.

د اپشیرکون د قطعې سرتېري چې د ټولواک حضور ، لمسولي وو ، په خورا ټینګو ګامونو او ځانښودنې د هغه او د هغه د ساتونکو او ملګرو تر مخې تېرېدل.

میلارادوویچ، چې ښکاره و ، د ډزو له غږه ، د جګړې د پیل له زېري او د اپشیرکون د قطعې د مېړنو له لیدو نه چې دده د سوورف، د پوځي لیسې ملګري وو او په زړورتیا د ټولواک له مخې تېرېدل، دا سې احساساتي شوی و ، چې آن د ټولواک حضور یې هېر کړی و ، نو په لوړ ، له خوښۍ نه په ډک او ډاډمن آواز یې چیغه کړل:

-زما زلمیانو !بریالي او سئ.دا لومړي مورچل نه دی، چې تاسو یې لاندې کوئ !

-سرښندنې ته چمتو یو !....

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

کوتوزف او د هغه مل یاوران د پلیو د ګامونو د سند ریزې انګازې، په ترنم کې خپلو توپکمارو پسې روان وو.

وروسته له هغه چې د نیم (ورست) په اندازې، قطعې پسې لاړل، د لارې پر سر، په یوې ګرځنې کې، له یوې کنډوالې سره، چې کېدای شي کوم وخت به هغه قهوه تون و، ودرېدل. د دغې ګرځنې دواړه لارې، د غونډیو لمنو ته ورشېوه شوې وې او سرتېرې په دغو دواړو لارو تلل.

لږ کرار کرار لمنه ټولوله او له همدې ځایه، دوه ورسته لرې، د مخامخ غونډیو پر سر، د ښمن ځرګند و. کینې خواته، لږ ښکته دډزو غرېونه اورېدل کېدل. کوتوزوف ودرېد او له یو اتریشي جنرال سره غږېده. سرداراندرې چې لږ شاته ولاړو، د ښمن سرتېري یې څارل، له خپل یوه یاور نه یې وغوښتل چې هغه ته دوربین ورکړي.

دغه یاورچې لرې سرتېرو ته هېڅ پام نه کاوه او یوازې یې خپلې مخې ته د غونډۍ لمنو ته کتل، وویل:- ګورئ! ګورئ! دا خو فرانسویان دي!

جنرالانو او یاورانو هر یو د دوربین پلو ته لاسونه ور اوږده کړل او هر یوه هڅه کوله چې هغه خپل کړي، ناڅاپه بشرې هم بدلې شوې او پر ټولو یوه ویره راخوره شوه. هغوی چې فرانسویان له ځانه دوه (ورسته)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې انګېرل، دا دې ناڅاپه يې ځان ته مخامخ وليدل.

له هرې خوا نه هر ډول غږونه اورېدل کېدل:

-همدا د دښمن سرتېري دي؟ نه !نه !نه يې منم !...ولې ولې، وګورئ !هو کې د ښمن !سمه ده.

سردار اندرې، له دوربينه پرته، ښې خواته، د غونډۍ په لمنو کې، د کوتوزوف په پنځه سوه متری کې، دفرانسوي پوځيانو څه ګڼډې وډې ډلې وليدلې، چې د اپشيرکون، د قطعې په لور پاس خواته راختلې.

سردار اندرې، له ځانسره وويل:

-هغه رښتينه شېبه چې موږ يې سترګه په لاره وو، راورسېده "داده خبره ما پورې رارسېدلې ده "خپل آس يې چو کړ او د کوتوزف پلو ته ورغی او په لوړ آواز يې چيغه کړه:-جلالتمابه ! د اپشيرکون قطعې ته بايد دريش وويل شي.

خو په همدې شېبه کې بيا هرڅه په لوګيو کې ومرورل شول، د ډزو غږ په هوا کې انګازې ګډې کړې او د سردار اندرې څنګ ته په دوو ګامونو کې يوله وېرې ډک غږ چيغه کړل:

-ورونو !ودرېږئ ! هرڅه ګډوډ دي.داسې وبرېښېده چې دا غږ، قوماندہ ده او ټولو تېښتې ته مخه کړه.اله ګوله، شرو شور ګډ شو او په خورا ګڼه ګوڼې ټولو هغې خواته د تښتېدو هڅه کوله چې پنځه دقيقې دمخه، ټولو اک ته په پريټ ولاړو وو، ټولو ځغاستل.په دې ګڼه ګوڼه کې نه يوازې ددې نه مهارېدونکې لښکر مخه نيول ګرانه خبره، بلکې دا هم ګرانه وه چې سړي خپله له هغو سره يوځای نه شي.دبالکونسکي ټوله هڅه دا وه چې د کوتوزوف نه لرې پاتې نه شي او هغه څه ته يې چې دده تر مخې تېرېدل کتل او هرڅه يې چې کول په هغه يې سر نه خلاصېده، چې ولې داسې کېږي.نيسفيڅکي په خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قهر لکه دليونيانو داسې چغې وهلې او کوتوزف ته يې ويل، که دمګکړې له هغه ځايه لرې نه شي، هرو مرو به اسير شي.کوتوزوف، همالته، پر هماغه ځای ولاړ و ،بې له هغه چې ځواب ورکړي، يو دستمال يې راوويست.له اننګو نه يې وينې څڅېدلې.سردار اندرې، ځان هغه ته ورورساوه او مټې يې کولای شو خپله رېږدېدونکې لاندنۍ ژامه آرامه کړي او له هغه نه وپوښتي:

-تاسو... ټپي شوي ياست؟

کوتوزوف، چې دستمال پر خپل ټپي اننګي کېښکود ،وويل:

- ټپ دلته نه دی، هغلته دی.او په داسې حال کې چې دتښتېدونکو ډلې خواته يې لاس نيولی و ،چيغه يې کړل:

-تم يې کړئ،وې دروئ،دريش يې کړئ.

له دې چغې سره سم او همهاله په دې پوهېده چې دهغو درول ناشوني دي،نوځکه يې آس چو کړ او ښۍ خواته لاړ.خو د تښتېدونکو زورور سيند هغه خپلو ببرته څپو کې واخيست اوله ځانسره يې شا خواته يووړ.

دتښتېدونکو سرتېرو اله ګوله او ګڼه ګوڼه داسې زوره وره او تالانګره وه، که يووار څوک په هغه کې راګير شوي وای،نوبيا وتل ترې ګرانه خبره وه، يوه چغې وهلې:

-خوځېږه، څه؟ بند شوي؟

بل تن بيا ،همالته مخ واړاوه، چغې به يې کړې او څو هوايي ډزې به يې وکړې.يوه چا هغه آس واهه چې پخپله کوتوزوف، پرې سپور و. کوتوزوف له خپلو ملګرو سره چې شمېر يې دوه برابره کم شوي و ،په بې سارې قوت او توان ځان له دغې ګڼه ګوڼې نه راوويست او ټولو يو ځای ددغه انساني سيلاو نه ښۍ خواته، هغې خواته چې له هغې نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپونه ډزې راتلې، مخه کړه. سرداراندرې چې هم ځان له دغه ډنډه راويستلی و، هڅه کوله چې د کوتوزوف نه لرې پاتې نه شي. يو روسي نښه ويشتونکی سرتېری يې وليد چې د غونډۍ له لوګونه په ډکو لمنه کې ډزې کوې او فرانسويان په تلوار دهغه پلو په منډو دي. لږ څه بر د روس پلي قوتونه له خوځېدا پاتې ولاړ وو. دوی نه وړاندې دهغه نښان ويشتونکي سره مرسته کولای شوه او نه شاته له تښتېدونکو سره يوځای کېدای شول. يو سپور جنرال له دغې ډلې جلاشو او کوتوزوف ته راغی. د کوتوزوف سره ملګري يوازې څلور تنه پاتې، دهغو هم رنګونه الوتي او په خورا تلوار او وېره يې، په چوپه خوله يو بل ته کتل.

کوتوزوف، چې ژروه ساويستله، تښتېدونکو پرګنو ته اشاره کوله، جګړه مار قوماندان ته يې وويل:

-دا سپک دريش کړه، دا بې شرمه ودروئ.

په دې شېبه ګواکې د دې ښکنځلو دځواب لپاره، دمرغانو دسيل په شان د مردکو کتار، پر کوتوزوف او دهغه پر ملګرو لکه باران را وورېد.

دفرانسويان توپچي يرغل کړی و او چې کوتوزوف يې وليد پرهغه يې هم ډزې وکړې. له دغو سره سم دغونډ قوماندان پښه ونيوه، څو سرتېري ولوېدل، هغه بربدګي چې جنډه نيولی و، هغه يې له لاسه ولوېده، جنډه ورپېده ،ولوېده، خو دګاونډ سرتېری په توپک کې بندشو او سرتېرو بې له هغه چې قوماندې ته ستر که په لاره شي، ډزې پيل کړې.

کوتوزوف، د زړه له تل نه اسويلی وويست، او وې ويل:

-آخ !آخ !

شاوخوا يې وکتل، تالان شوی پوځ او يرغل کوونکي دښمن ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشاره وکړه او په درانه، لړزونکي زاړه آوازيې وويل:

-بالکونسکي دا څه حال شو؟

خو مخکې له هغه چې دکوتوزوف دا خبره پای ته ورسېږي، سردار اندرې، چې دغم او شرم غوټې يې ستونی کېښکوده، له آسه ګام کړل او د جنډې خوا ته يې ورمنډې کړل.هغه جنډه راجګه کړه، په نري او اغېزمن ماشو ورمه آواز يې غږ وکړ:

-زلميانو مخ وړاندې!

هغه چې جنډه راپورته کړه، دمردکو له غږه يې احساسوله چې هغو(مردکو ) دده پلو ته مخه کړې ده، ددغو مردکو غږ، دده په غوږو کې انګازې جوړې کړې، په هغه کې يې خوښي او سرښندنه لاپسې ولمسوله، په زړه کې يې وويل:

-داهماغه شېبه وه چې ما يې انتظار درلود او نور څو سرتېري هم ولګېدل.

هغه چې متې کولای شو درونه جنډه لوړه وساتي، مخکې يې منډې وهلې او پوره ډاډمن و، چې بېشکه به ده پسې ټول کنډک په منډو شي، هغه ناري وهلې:

- هورا !مخ وړاندې !او رښتيا هم هغه لا څو ګامه يوازې منډې نه وې وهلې، چې يو، بيا بل او بيا نور او نور او ټول کنډک دهورا په غږ سره ده پسې وروخوځېدل او يو شمېر خو لا دده نه مخکې شول.د کنډک يوه افسر منډې کړې او داندرې، له پاسته او نازک لاس نه يې درونډ علم (جنډه )چې داخوا هغه خوا کړېده، واخيست، خو دمګرې ولګېد او ولوېد.سردار اندرې بيا علم راپورته کړ، لوړ يې کړ...او له کنډک سره مل شو.تر مخې يې دخپلې توپخانې سرتېري ليدل چې يو شمېر جنګېدل او يو شمېر هغوی يې خپل توپونه پرېښي وو او ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواته په تېښته وو. هغه فرانسوي سرتېري لیدل چې د توپونه آسونه رانیسي او د توپونو مخونه یې اړول. سردار اندرې له خپل کنډک سره د توپونو تر شل ګامۍ پورې رسېدلی و. هغه خپل سرپورې د ګولیو د باران غږ اورېده، خپل شا و خوا یې تېپي سرتېري لیدل او د هغو ژګیروي یې اورېدل، ځینې یې ښۍ او کینې خواته لوېدل. هغه لوېدونکو سرتېرو ته هېڅ پام نه کاوه او یوازې یې هغه څه ته چې د توپ په مخ کې تېرېدل کتل. سوررنګه توپچي یې لیده چې له کوم ګذار نه یې خولۍ یوې خواته کږه شوې ده، د توپ سنبه یې په لاس، په داسې حال کې چې هغه یې خپلې خواته کشوله، له فرانسوي سرتېري سره لاس وګریوان و. فرانسوي یې، سنبې ته لاس وراوچاوه او غوښتل یې هغه ترې خپله کړي. سردار اندرې د هغو دوو کسانو مخونه، پریشانه حالت او قهر ښه لیده چې خپله نه پوهېدل څه کوي.

سردار اندرې، هغو ته کتل او په زړه کې یې ویل:- دا سوررنګی توپچي چې نور بې وسلې شوی، ولې نه تښتي؟ او دا فرانسوي سرتېري ولې خپله توره د هغه په ټټر کې نه ورمنډي؟

خو مخکې له هغه چې وتښتي، فرانسوي سرتېري ته به خپل توپک او توره وریاده شي او د هغه په ګېډه کې به یې ځای پر ځای کړي.

د خدای قسمت به و، چې دویم توره په لاس فرانسوي، د لومړي هغه مرستې ته ور ونه دانګل... سردار اندرې ونه شو کولای د دغه آخ وډب پای وګوري، ځکه د هغه څنګ ته کوم یو سرتېری، هغه همداسې تصور وکړ، په کوم پلن ډانګ ده ته په ککره ګذار ورکړ. ګذار ډېر خوږ نه کړ، خو ډېر ناخوښه و، ځکه هغه ونه شو کولای، هغه څه وګوري، چې دې یې تر پایه د کتو هیله لرله.

خو په زړه کې یې ویل:- دا څه شی دی؟ سرسام یم، لوېږم؟ ځنګنونه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رېږدي او په شا ولوېد.

سترګې یې په دې هیله پرانستې چې وګوري، د هغه توپچي او فرانسوي آخ وډب څنګه پای ته رسېږي.ډېر لېوالـه و، پـه دې پـوه شي، هغه سوررنګی توپچي وژل شوی که لا ژوندی دی، توپونه ژغورل شوي که دښمن لاندې کړي، خوله آسمانه پرته یې بل هېڅ یې ونه لیدل.هغه آسمان چې خړ، وریځ او خورا لوړ و.

هغه بیا په زړه کې تېره کړه:

-څه آرامي، څه سوله او څه پرتم !دا ټول هغه څه ته ورته نه دي چې ما دمنډو او تګ په وخت کې لیدل.په هېڅ ډول زموږ.هغه وخت ته ورته نه دي، چې، تلوارمو کاوه، چغې مو وهلې او په ویرجنو څېرو مویو بل کشول.د سوررنګه توپچي او فرانسوي اخ وډب ته چې دتوپ سنبه یې سره کشوله، هېڅ څه ته، هېڅ ته ورته نه دي.هوکې ! په دې لوړاو شنه آسمان کېوریځې چور بل ډول رغړي.څنګه ما تر دې نه دمخه او پخوا دغه لوړ، آسمان څک آسمان لیدلی نه و؟ زه څومره نیکمرغه یم چې په پای کې مې هغه وپېژاند.هوکې !له دې بې پایه آسمانه پرته، نور هرڅه، دوکه او تش په نوم دي.پرته له هغه نور نو، بل هېڅ، څه، نه شته.دا هم نه شته، هېڅ څه نه شته.هوکې له چوپتیا او کرارۍ پرته بل هېڅ څه نه شته !او خدای شکر دی، چې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

د سهار نهه بجې وې، خو د پوځ ښۍ خواته، د باګراتیون په قطعه کې لا جګړه پیل شوې نه وه. باګراتیون تکل نه لاره د دولګه روکوف په ټینګار جګړه پیل کړي او په دې توګه یې غوښتل سترمسوولیت له غاړې لرې کړي، نو ځکه یې دولګه روکوف ته وړاندیز وکړ چې ځوک، ستر قوماندان ته ور واستوي او په دې اړه د هغه خوښه تر لاسه کړي. هغه په دې پوهېده چې د پوځ له یو اړخ نه تر بل هغه پورې یې واټن له لس (ورست) نه زیات دی، د غه ریبار که ونه وژل شي (دې خبرې ډېر امکان لاره) که هغه ستر قوماندان پیدا کړي، چې دا خورا ګرانه برېښېده، هغه به ونه شو کولای تر ماښامه بېرته راستون شي.

باګراتیون مخ واړاوه، په برندو، خوبولو سترګو یې چې د هېڅ څه، څرګندونه یې نه کوله، خپلو ملګروته وکتل او تر چا نه د مخه یې، بې له هغه چې کوم پخوانی تکل یې لرلای وي، د رستوف ماشوم وزمه څېره چې له ګبنۍ او هیلو نه وچه شوې وه، تر سترګو شوه. هغه یې دې چارې ته وګماره او ستر قوماندان ته یې ور واستاوه.

رستوف د درناوي په نښه، لاس خولۍ ته وروړ رپورته کړ او وې ویل:

-جلالتماب! که تر ستر قوماندان نه د مخه، اعلحضرت ټولواک ووینم، بیا څه وکړم؟

دلګاروکوف، ځان تر باګراتیونه مخکې کړ او وې ویل:

-کولای شئ زموږ پیام ور ورسوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف، ځکه تازه، خوځنده او زړه ور بربښېده، چې سهار دوخته يې د پيرې تر پای ته رسولو وروسته، ددې وخت مونډلی وچې څو ساعته سترګې پټې او ويده شي. هغه پر ځان ډاډه، په دې باوري او هغه روحي حالت کې و چې هرڅه يې تر خياله، کېدونکي، آسانه او سرته رسېدونکي ورتلل.

دهغه ټولې هيلې نن سهار تر سره شوې وې. هغه جګړه چې ده يې هيله لرله پيل او ده په کې سربښندنه کوله. ددې ترڅنګ هغه د يوه خورا زړور جنرال ياور شوی و او تر ټولو نه غوره دا چې کوتوزف او يا کېدای شي خپله ټولواک ته د پيام د رسولو دنده ورسپارل شوې وه. سپيدې رڼې او تر هغه لاندې آس مهربانه او په ګوګل کې يې د خوښۍ او نيکمرغۍ څپو، څپې وهلې. د فرمان د ترلاسه کولو نه وروسته، سمدلاسه، آس ته ور ودانګل، ځان لارې ته برابر او آس يې چو کړ. هغه لومړی دباګراتيون د قطعې په اوږدو کې چې لا ځای پر ځای ولاړه وه او جګړه يې نه وه پيل کړې، روان واو تر هغه وروسته، هغه سېمې ته ورسېد چې د اواروف سواره پوځ لاندې کړې وه. همدا چې د اواروف له سورو نه واوښت، دلويو او وړو توپونو دډزو غږونه، يې چې دده له مخې راتلل او دم په دم زياتېدل، په زغرده اوربېدل....

دغره په لمنې کې، پرګڼ لوګي د توپک ګولۍ دا سې ليدل کېدې چې تا به ويل يو له بله دمخکې کېدو هڅه کوي. د توپونو له خولې نه وتلي لوګي، لومړی لکه د وريځو په شان کنډک کنډک او بيا هر پلو خورې ورې او وروسته به بيا سره يو ځای شوې. پلي پوځونه د هغو د سرنيزو له ځلا او توپچي هغه دهغو دمهماتو له شنو صندوقو نه له ورايه پېژندل کېدل.

رستوف، ددې لپاره خپل آس يوه شېبه پر غونډۍ ودراوه، چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه په غوره توګه وګورې چې دده تر مخې روان دي، ښه وګوري، خو هر څومره به چې ځیر شو ،نه په څه پوهېده او نه یې په څه سر خلاصېده.هغه ته برېښېدل چې د لوګو په هغو لړو کې څوک خوځېږي او دهغو ترمخې او تر شا بیا څه سرتېري روان وو ،خو دا چې څوک وو؟چېرې تلل او څه یې غوښتل؟په دې پوهېده نه ګرانه وه.ددې منظر لیدنه او ددغو غږونو اورېدنه نه یوازې په هغه کې دکوم غم او وېرې لمسونه نه کوله بلکې په هغه کې یې دقوت او لا درېدا زړې کړل.

په زړه کې به یې،د دغو ډزو تر اورېدو وروسته، وویل:

-ډزې !ډزې،ولې،بیا یې ولئ.

هغه بېرته خپله لار ونیوه او آس یې چو کړ او دهغو پوځونو او قطعاتو په اوږدو کې مخ وړاندې روان وو ،چې جګړه یې پیل کړې وه.

هغه له ځانسره یې ویل:

-هېڅ نه پوهېږم،هلته څه خبره ده،خو هرڅه چې وي،د خیر خبره به وي.

د څو اتریشي پوځي ډلو نه تر تېرېدو وروسته،روسي پوځونو ته ورورسېد ،دا هغه قطعه وه چې جګړې ته ورګډه شوې وه.

په زړه کې یې ویل:

-خدای مې ارمان پوره کړ،اوس به جګړه په خپلو سترګو وګورم.

هغه څه کم د جګړې په لومړۍ کرښه کې روان و.یوه ډله سواره مخامخ ده ته،په ځغاستـه کې وو.دا هماغه د اولان(نیزه لرونکي سواره)ډله وه،چې په خورا پرېشانۍ له جګړې نه راستانه کېدل.رستوف دهغو له څنګه تېرېده او تصادفاً یې دهغو یوه تن ته چې ټول په وینو ککړ و ،پام وروا وښت.خو هغه همدا سې وړاندې روان و.

هغه چې له ځانسره وبنګېد ، وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه به دا وي، چې خپل کار پسې لاړ شم.

لا څو سوه ګامه له هغو نه لرې شوی نه و، چې د هغه له کینې خوا نه یوه د سورو ستره ډله چې سپینې ځلېدونکې دریشي یې اغوستې او په تورو آسونو سواره وو رابښکاره شول. هغوی چې ټوله لاره لاندې کړې وه، ډېر ژر د هغه لاره بندوله. رستوف خپل آس ددې لپاره چو کړ، چې په ټول قوت د دغو سورو نه مخکې له دغې لارې واوړي، خو که دغه سواره په خپل هماغه حال روان وای، دی به د هغو تر رارسېدو نه مخکې له دغې لارې اوښتی وای. مګر سورو، آسونو لا چو کړل، آن ځیني هغو خوخپل آسونه په بې سارې توګه یرغه کړل.. دا د دوی سواره وو، چې د راتلونکو فرانسویانو د مخنیوي لپاره ور روان وو... هغوی لا په پوره توګه له رستوفه لرې شوي نه وو، چې د هغوی له خوا د هورا او ویاړونو غږونه پورته شول، هغه چې مخ واړاوه، وې لیدل چې د دوی د ډلې لومړې کرښې له پردو سورخولو سورو نه، چې کېدای شو فرانسویان وو، لاس او ګرېوان شوي وو. نور یې، نور څه ځکه و نه لیدل چې د دغه لاس ګرېوان کېدو سره سم، ټوپونو چې ښکاره نه وه، له کوم ځایه دي، ډزې پیل او د هغو د ګولیو لوګي هرڅه په خپله غېږ کې ونغاړل.

په هغه شېبه کې چې سواره له ده تېر او د لوګیو په غېږ کې ایسار شول، دی هک پک شو، چې هغو پسې لاړ شي او که د خپلې دندې سرته رسولو پسې. دا د روسي سورو هغه پرتمین یرغل و، چې آن فرانسویان یې هم حیران کړي وو. رستوف تر دغه یرغله وروسته، په خورا او ویرېدونکي وحشت له دې خبر شو چې د دغو ښکلو زلمیانو له سترې ډلې، له هغو زرګونو یرغه او نه ایلیدونکو آسونو، ځوانو افسرانو او د حربي ښوونځي او پوهنتون له زده کوونکو او محصلانو نه چې د ده له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې تېر شوي وو، يوازې اتلس تنه ژوندي پاتې وو.

رستوف چې آس لا وړاندې تګ ته لمسوه، له ځانسره غږېده:

-څه به له ماسره ښوک رخه کوي، لامې بخت رپېږي، ډېر ژر به ټولواک ووينم.

همدا سې يې آس يرغه کړ.

کله چې د پيلو قطعې ته ورسېد، پام يې شو چې د هغو شاو خوا او د سر د پاسه د توپونو ګولۍ الوزي....

د همدې پلېو د قطعې ښنګ ته د تېرېدو په وخت کې و، چې يو چا په نامه غږ پسې وکړ:

-رستوفه !

رستوف چې سمدلاسه باريس نه و پېژندلی، و پوښتل:

-څه شي؟...ته..

د باريس پر شونډو خندا خوره وه، هماغه خندا چې جګړې ته د لومړي وار د تګ په وخت کې د هر زلمي پر شونډو خورېږي، هغه وويل:

-ګوره !د جګړې په لومړې کرښه کې يم، زموږ غونډ يرغل ته تللی و.

رستوف ودرېد او وې ويل:

-ښه، وايه، کيسه کوه !

باريس چې پرله پسې غږېده په خورا مينې يې کيسه کوله:

-پوه شوئ، شا ته مو وتنمبول.تصور يې کولای شئ؟...ته چېرې داسې په تلوار روان يې؟

-د نده لرم چې د اعلحضرت ټولواک حضور ته ورشم.

باريس چې د هغه خبره سمه نه وه اورېدلې او تصور يې وکړ چې رستوف د والاحضرت په لټه کې دی، وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-راځه، دا هم والاحضرت !

باریس هغه ته مشرشهزاده چې د سورو دریشي یې په ځان، خولۍ یې پر سر او دهغه په سل متری کې تریو تندی ولاړ و او پر اتریشي سپین جامو ،رنګ تښتېدلو اتریشي پوځیانو یې چغې وهلې،وروښود.

رستوف وویل:

-دا خو مشر شهزاده دی،زه باید ځان دپوځ ستر قوماندان او معظم ټولواک ته ورسوم.دا یې وویل او غوښتل لاړ شي چې په دې وخت کې له کومې خوانه بېرګ را پیدا او دباریس په شان یې په خورا خوښۍ او مستۍ وویل:

-وګورئ !ګراف !ګراف ! ښي لاس مې ټپي شو(دخپل ښی لاس رغوي یې چې په وینو او دستمال کې مروړل شوی و ،وروښود ) خو سره له دې مې هم دجبهې لومړۍ کرښه پرېنښوده.ښاغلیه !ګرافه !اوس نو توره په کین لاس چلوم،مونږ د بېرګو کورنۍ خو په توریالیتوب کې نوموړی یوو.

بېرګ لاهماغسې غږېده،رستوف نور نو هغه ته پام نه کاوه او وخوځېد.له قطعاتو او وروسته له ډاګ نه واوښت،ځکه نور یې نو نه غوښتل دکومې جبهې کرښو ته ورننوزي او بیا لکه دزلمو سورو افسرانو پېښې،په پېښه کې راګیر شي.هغه داحتیاطو قطعاتو په اوږدو کې روان شو او له هغو لارو نه چې دتوپونو اوتوپکو ډزو دغړمبهار او شروشور نه لرې وو ،ځان لرې کړ،خوناڅاپه یې خپلې مخې او زمونږ د پوځونو شاته،په هغه ځای کې چې،په هېڅ ډول د دښمن دشتوالي تصور نه کېده ،دتوپکو سختې ډزې واورېدلې.

رستوف،وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پوه نه شوم، دا څه شي دي؟ د ښمن زموږ د پوځونه منځ ته لاره کړې وه ؟ نا شوني ده. د ځان او د پوځ د برخليک له امله يې پر زړه ويره راخوره شوه او له ځانسره يې وويل:

- هرڅه او هرڅوک چې وي، وي دي. اوس نو له دې ځايه تګ ناروا دی، زه بايد ستر قوماندان پيدا کړم، که ماته مو خوړلې وي، زه بايد له نورو سره يوځای ووژل شم...

همدا چې له هغو روسي او اتريشي سرتېرو سره، چې په خورا ګډوډۍ او الـه ګولې د تېښتې په حال کې و او دده لاره يې هم بندوله، مخامخ شو، وې وپوښتل:

-څه خبره ده؟ څه خبره ده؟ ډزې په چا کېږي؟ په چا ډزې کېږي؟

تښتېدونکو سرتېرو چې دده په شان نه پوهېدل، څه خبره ده، چا په روسي، چا په الماني او چا په چکي ځوابونه ويل:

-يوازې پيريان پوهېږي، چې څه خبره ده ! ټول يې غرق کړل، ټول يې تالا والا کړل.

يو تن چيغه کړل:

-وهئ، دا جرمن وهئ.

-بلا ورپسې، ټول خائينان دي.

يو الماني وبنګېد:

-روسانو پسې دې بلا وي.

څو تنه ټپيان په لاره روان وو. د هغو په سلګونو ښکنځلو، چيغو او زګېرويو، يو ناپوهېدونکی بنګهار جوړ کړی وو، خو په پای کې ډزې پای ته ورسېدې او رستوف تر هغه نه وروسته په دې سرخلاص شو چې روسان او اتريشان خپل منځ کې لوېدلي او يو پر بل يې ډزې کړې وې.

د رستوف په زړه کې تېره شوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-اې خدايه !دا څه دي؟هره شېبه کېدای شي ،اعلحضرت ټولو اک دوی وويني...دا سمه نه ده ،دمنلو وړنه نه ده.څومره چې ژر کېږي،له دوی نه بايد ژر تېر شم. درستوف په خيال کې دماتې او تېښتې خيال نه ځايېدونکی و.که څه هم رستوف، دفرانسويانو پوځونه او وسلې د پرانخ په لوړو ،هماغه ځای کې چې ده بايد ، سترقوماندان لټولی وای ليدل،خوده نه شوکولای او نه يې غوښتل په دې خبره باور وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

رستوف ته سپارښتنه شوې وه چې، د پرانخ د کلي په شاو خوا کې د ټولواک او کوتوزوف پلټنه وکړي، خو هلته نه یوازې هغوی بلکې د بل هېڅ کوم مشر او قوماندانان نښه هم نه وه. برعکس هلته بې شمېره سره ګډې اخیستي او پرېښانه سرتېري پرېمانه وو. هغه خپل تړي او ستومانه آس ته په دې تکل متروکه ورغبرکړه چې څو مره ژر کولای شي، له دې الې ګولې او ګڼه ګوڼې نه ځان وباسي، خو دی به چې هرڅومره مخې ته روان و، دغه ګڼه ګوڼه او پرېښانی به لا زیاتې دي. هغه واټ چې دی په کې روان و، په هغه کې له هره پلوه کراچۍ او هر ډول اسونه، له هرې خوانه روسي - اتریش سرتېري، جوړ او تپي، ډلې، ډلې او خورا خواشیني تلل راتلل. دغه ټول د هغو ډزو او ګولیو دغم زیږونکو وېر، تر باران لاندې خوځېدل چې د ښمن د پراتڅن د غونډیو له شانه دې خواته راورولې. د دوی د زګیرویو، نارو سورو او چغو غږونه یو نه پوهېدونکی ګونګوسی جوړاوه.

رستوف، چې هرڅوک کولای شول، ودروي، درول او ترې پوښتل یې:

- اعلحضرت ټولواک به چېرې وي؟ کوتوزوف چېرې دی؟

خو هېڅ چا ځواب نه ورکاوه. خو په پای کې یې یو سرتېري له ګریوانه را ټینګ کړ او دې ته یې اړ ویست چې سم ځواب ورکړي.

هغه سرتېري چې هېڅ څرګنده نه وه، پر څه خاندي، په دې لړ کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان یې دهغه له منګلو ژغورلی وي، ځواب ورکړ:

-ای بابا ! ګرانه وروره ! کډو سرو ! هغوی لا ترټولو نه دمخه او پخوا تښتېدلي او ځانونه یې پټو ځایونو ته رسولي دي.

رستوف دغه سرتېري، چې له ځوابه یې له ورایه ښکاره و، چې له مستۍ نه بې حاله دی، همدا سې په خپله دنیا کې پرېښود. هغه دیو بل سرتېري آس، چې ښکارېده دکوم مشر چوپړ دی، راونیو او له هغه نه یې پلټنه ګرویزنه پیل کړه. دغه سرتېري ورته وویل:

اعلحضرت یې یو ساعت دمخه په یوې کراچۍ کې په ډېر تلوار له همدې ځایه یوړ، هغه ټپي شوی و.

رستوف وویل:

-دا ناشونې خبره ده، ټولواک څنګه ټپي کېږي؟هرو مرو به بل څوک و.

سرتېري له ملنډو ډکه او په ډاډ خندا وکړه او وې ویل:

ما خپله ولید، ټول عمر خدمت کوم، اوس خو ټولواک پېژنم. ما په پترزبورګ کې مخامخ لیدلی و. په کراچۍ کې و، رنګ یې لکه د مړي په څېر و. څلورو آسونو دهغه کراچۍ لکه باد داسې الوزوله. دبرېښنا په شان زموږ له مخې تېر شوه، تر دومره خدمت نه وروسته خو باید د ټولواک او ایلیا ایوانوویچ کراچۍ وپېژنم. ایلیا یوازې او یوازې دټولواک ګاډیوان دی.

رستوف، سرتېري پرېښود او غوښتل یې چې لاړ شي، خو په دې وخت کې یو ټپي افسرچې دده له څنګه تېرېده، ده ته مخ راواړوه او وې وپوښتل:

-تاسو چا پسې ګرځئ؟که ستر قوماندان پسې ګرځئ، هغه خو دتوپ په یوې ګولۍ ولګېد او ووژل شو. زموږ دغونډ په مخ کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګولۍ په ټټر ولګېده.

یو بل افسر بیا د هغه خبره بابېزه وګڼله او زیاته یې کړه:

-نه، نه ونه وژل شو. یوازې ټپي شو.

-څوک ټپي شو؟کوتوزوف؟

-نه، کوتوزوف نه و، نه پوهېږم نوم یې څه و، ووایئ! پروانه کوي، یوازې څو تنه ژوندي پاتې شول.

هغه د ګوستي رادیک، کلي ته اشاره وکړه او زیاته یې کړه:

-مهرباني وکړئ، هلته لاړ شئ، ټول قوماندانان هلته، په هغه کلي کې راټول شوي دي. افسر دا خبره وکړه او په خپله مخه لاړ.

رستوف، پر خپل آس سپور، کرار کرا وړاندې روان و، خو په دې نه پوهېده چې چېرې او چاته ورشي. ټولواک ټپي شوی او جګړه بایلل شوې وه. دا نو د منلو وړ خبره وه. د هغه کلي څنډو ته، چې ده ته یې ښودلی و او د کلیسا برجونه یې له لرې ښکارېدل، ور روان و. ولې تلوار وکړم؟آن که ټولواک او کوتوزوف ژوندي هم وي او ټپي شوي نه وي، هغوی به څه ووایي؟

سرتېري چیغه کړه:

-جلالتمابه! دې خواته راشئ. له دې لارې نه لاړ شئ، ګوره هلته سمدلاسه وژل کېږې، وژني مو.

یو بل سرتېري غږ وکړ:

-له کومې لارې؟دا سې راشئ، نېږدې کېږې؟

رستوف له لږ فکر نه وروسته، له هماغې لارې چې ویل، وژل کېږي لاړ.

په زړه کې یې ویل:

- اوس نو مرګ او ژوند څه پروا لري؟ په تېره بیا که ټولواک هم ټپي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی وي، دا نو څه ګټه لري چې زه د خپل ژوند د ساتنې په غم کې واوسم.

دا سې یوه ډاګ ته ورسېد، چې له پراخین نه د راتښتېدونکو سرتېرو نه تر ټولو زیات شمېر همالته وژل شوي او خواره واره پراته وو. فرانسویانو لا هغه ځای لاندې کړی نه و او روسي ژوندویو او ټپي پوځیانو هغه ځای تازه پرېښی و. دا ډاګ ښې کولبه شوې ځمکې ته ورته و، چې د غنمو د کودو پر ځای په هر پټي کې لس پنځلس مړي پراته وو. ځینو ټپیانو خاپوړې کولې او دوو، دوو یا درې، درې څنګ په څنګ دا سې زګېروي او نارې سورې جوړې کړې وې، چې کله ناکله به رستوف ته د پېښو په بڼه وبرېښېدې. رستوف خپل آس کرار تګ ته پرېښود چې د غم او ویر له دغې مینې نه وتښتي. د غه حال، هغه له سرسامۍ او له وحشت سره لاس وګریوان کړی و، خو د هغه ویره د خپل ژوند لپاره نه چې، ډېره اړتیا یې ورته لرله، بلکې له دې امله وه چې د ټولو اک ویر او غم به دی ونه شي زغملی.

فرانسویانو، پر دغې دښته کې چې له وژل شویو مړو نه ډکه وه، ځکه ډزې بس کړې وې، چې نور یې هلته کوم ژوند سری نه لیده، خو د دغه سواره په لیدو یې سمدلاسه، هغه ته څو د توپ ګولۍ ورو لېږلې. د دغو وحشتزو ډزو او دده په شا وخوا کې د مړو سرساموونکی منظر، په ده کې، په ځان د زړه سوي احساس ولمساوه. د خپلې مور وروستی لیک وریاد شو او وې ویل:

-موربه مې څه احساس کړې وای، که زه یې اوس دلته، په دې ډاګ کې، د دې ګولو ترباران لاندې لیدلای وای؟

د ګوستې رادیکې، په کلي کې له جګړې نه راستانه شوي، روسي پوځیان سره له هغه چې پرېښانه او ستومانه برېښېدل، خو تر پخوا نه لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښه نظم روان وو. د فرانسویانو ډېزې دلته نه را رسېدلې او دډزو غږونه خورا لرې لرې وو، دلته په ډاګه نه اوربدل کېدل او ویل کېدل چې جګړه بایلل شوې ده. رستوف، له هرچا پوښتنه کوله، خو هېچا د ټولواک او کوتوزوف د ځای ښنه ورته ویلای نه شوه. ځینو د ټولواک، د ټپي کېدو آوازې رښتیا او ځینو هغه نه منله... خو یو تن افسر رستوف ته وویل چې دکلي د چپې خوا د باندې پلو ته یې په لاره کې یو لوړ پوړی، قوماندان لیدلی دی. رستوف، د کوم قوماندان د پیدا کولو او د خپل وجدان د آرامۍ په هیله هغه خوا ته مخه کړه. درې (ورست) مزل یې چې وواهه او د وروستي روسي سرتېري نه چې تېر شو، دیو پالیز ترڅنګه په یوې کنده کې چې ځالۍ تري تاو، وه، دوه ولاړ سرتېري ولیدل. یو سرتېری، چې سپینه خولۍ یې پر سر وه، ده آشنا ته وبرېښېد، بل سرتېری چې پر سره اصیل آس سپور و، ده و نه پېژاند. (دا آس هم رستوف ته آشنا ښکارېده) د کندې خوا ته ورغی، ...او په خورا درناوي یې هغه سرتیري ته چې سپینه خولۍ یې پر سر وه، څه وویل... د غه سپور سرتېري چې سر او څېره یې رستوف ته آشنا و، بې له ارادې سر او لاس د "نه" په نښه وښورول او د همدې خوځېدا او ښورولو له نښې نه و، چې رستوف، په یوه شېبه کې خپل ټولواک، چې لمانځنه کوله او دی د هغه په وير کې ډوب او له غمه یې لېونی و، وپېژاند.

رستوف له ځانسره وویل:

-دا ناشونې خبره ده، څنګه ټولواک په دې ډاګ کې یوازې پاتې شي؟

او په دې شېبه کې، الکساندر د رستوف خوا ته مخ وروا ړاوه. هغه، د هغه شاهانه او خوږه څېره چې د رستوف په ذهن کې ژوره انځور شوې وه ولیدله. ټولواک ناروغ و، غومبوري یې لوېدلي او سترګې د سر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کا سو کې خښې شوې وې، خو دې ټولو دهغې دځېرې او طبیعت ښکلا لا پسې زیاته کړې وه. رستوف، ځان له دې کبله خورا په خوښیو کې ډوب لیده، چې د ټولو اک د ټپي کېدو خبره رښتیا نه ده. هغه نیکمرغه و چې هغه رک روغ ویني. دی په دې پوهېده، چې کولای شي او آن باید په مخامخ تو ګه له هغه سره وغږېږي او هغه څه ورته ووايي چې ده ته د دولګه روکوف، له خوا دهغه سپارښتنه شوې وه. هغه د تاند زړه بایللي زلمی په څېر چې له لېوالتیا نه په ډک خیال کې اوسي او د مئینې سره دلیدو د بخت د نصیب په وخت کې ټول په رېږدېدو او دهغه څه توان ترې ورک شي چې شپې شپې یې دهغه د ویلو تکل کړي وي. له ډاره په ډک زړه هرپلو ددې لپاره ګوري چې مرسته ورسره وشي، که وکولای شي د راز سپړل بل وخت ته پرېږدي او د تېښتې لاره پیدا کړي. رستوف هم چې اوس دخپلو ارمانو او هیلو دغوټیو ګل کېدل لیدل، نه پوهېده چې څنګه ټولو اک ته نږدې شي، خو هغه په زړه کې په سلګونو پلمې پیدا کولې چې دغه کار ناوړه، بې ځایه او ناښکلی وبولي.

څنګه کېدای شي؟ دا دې ته ورته ده چې زه دهغه له ستړیا، ستومانۍ او یوازېتوب نه ګټه واخلم. کېدای شي او س، په دې خواشیني او ویرمن وخت کې دهغه لپاره له یوه نا آشنا سره مخامخ کېدل، خورا ګران وي. بله خبره دا چې، یوازې هماغه یوه لنډه کتنه ددې لپاره بس وه چې زما زړه ودرېږي او ژبه مې وچه شي. دهغو زرګونو ویناوو نه چې هغه اعحضرت ټولو اک سره د مخامخ کېدو لپاره یې په زړه کې کرلې ریبلې وې، یوه هم نه وریاد ېده. دغه خیالي ویناوې، د هغو حالاتو لپاره وې، چې له اوسني حالت نه یې ډېر توپیر درلود. هغه ویناوې چې ده په خیالونو کې کرلې ریبلې وې، ټولې پر دښمن د برې او د برې د پرتم په ویاړ جوړ شوې وو. زیاتره خو یې ددې لپاره وې، چې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ټپي شوی، مري او ټولواک له هغه نه دهغه دمېړنیو سربښندنو په ویاړ مننه کوي او دی د ژوند د وروستۍ سلګۍ په شېبو کې، هغه ټولواک ته دخپلې مینې دڅرګندولو او وړاندې کولو په نامه ډالۍ کوي.

بله خبره دا چې او س نو دا څه معني لري چې زه له ټولواک نه دښې لاس دپوځونو په اړه پوښتنه وکړم. هغه هم په داسې وخت کې چې ورځ تللې، دمازدیګر ځلور بجې او جګړه بایلل شوې ده. په پای کې یې له ځانسره دا پرېکړه وکړه چې نه !ورنږدې کېږم به نه ،دهغه خیالاتو ته به تاوان نه رسوم.نه، نه !ښه به دا وي چې زرځله ومرم، خو ځان ته، دهغه خواشیني کاته ونه وینم.په خورا خواشیني طبیعت او له هیلونه په ډک زړه له هغه ځایه لرې شوا او څومره چې لرې کېده، په هماغه اندازه یې مخ شاته اړاوه او ټولواک ته یې، چې هک حیران ولاړ و ، کتل.په هماغه وخت کې چې رستوف په خواشیني او دردمند زړه له ټولواکه لرې کېده، تورن تول، ناڅاپه او تصادفآ هلته ور ورسېد ، ټولواک یې ولید او دهغه په چوپړ کې شو.له هغه سره یې مرسته وکړه چې هغه پلی له کندې او ویالې نه تېر شي. ټولواک چې ډېر ستومانه و ،سخت استراحت ته اړتیا لرله، دمڼې تر ونې لاندې کېناست او تول یې هم ترڅنګه کېناست.رستوف له لرې نه په خورا رخې او پښېمانۍ سره لیدل چې تول، تر ډېره وخته له هغه سره توده مرکه کوي، ټولواک ژاړي .په یوه لاس یې خپلې سترګې پټې کړې وې او په بل یې د تول، لاس کېښکود.

رستوف، تصور کاوه:

-که زه هم هغه ته وروړاندې شوی وای، زما لاس به یې هم کېښکودلای وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه يې دومره په ټولواک سوه، چې نه يې شو کولای له سترګو نه د راڅڅېدونکو اوښکو مخه ونيسي. په ناهيلۍ او لالهاندۍ کې ډوب همداسې وړاندې لاړ او اصلا په دې نه پوهېده چې چېرته او د څه د پاره ځي.

د هغه ناهيلي له دې کبله هم د م په دم زياتېده چې، هغه احسا سوله، د هغه خپله رواني کمزوري ټولواک ته د ده د نه ورنېږدې کېدو لامل و.

هغه کولای شو، نه يوازې هغه کولای شو، بلکې بايد هغه ټولواک ته ورووړاندې شوی وای او دا يوازنۍ شېبه وه چې بايد ټولواک ته يې خپله سربښندنه څرګنده کړې وای، خو هغه ونه شو کولای له دې شېبې نه ګټه واخلي، هغه په زړه کې وويل:

-ښه !ښه !نو دا مې څه وکړل؟

هغه د آس مخ راواړه، چو يې کړل او هغې خواته وروخوځېد چې هلته يې ټولواک ليدلی و. کله چې ور ورسېد وې ليدل چې د هغې کندې شاته هېڅوک هم نه و. يوازې او يوازې باروړونکې کراچۍ او آسونه هلته روان وو. د يو لوژستيکي افسر نه، رستوف دا پته ولګوله چې، د کوتوزف قوماندانۍ، په هغه کلي کې مېشته شوې ده، چې همدا د تجهيزاتو کتارونه ور روان دي. رستوف هم همدې کتارونو پسې وخوځېد.

د کتار په سر کې د کوتوزف، خپل څاروان روان و...د هغه شاته يوه ګاډۍ او ګاډۍ پسې يو بوډا چوپړ چې لنډ پوستين يې اغوستی او پيک داره خولۍ يې پر سر وه، پلی روان و. پښې يې کږې وې.

څاروان غږ وکړ:

-تيته !آ تيته !

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا چې په خپلو خيالونو کې ډوب و، ځواب ورکړ:
-څه وايې؟...

يو څه موده همداسې پټه خوله روان وو، خو وروسته يې بيا همدا ټوکې سره پيل کړې.

د ماښام تر پنځو بجو پورې په ټولو جبهاتو کې ماته خوړل شوې وه او زموږ له سلو نه زيات توپونه د فرانسويانو لاس ته ورغلي وو.

پرژيبيشفسکي او د هغه ټولې قطعې وسلې ايښې او له جګړې نه يې لاس اخيستی و. نورو قطعاتو چې تر نيمايي نه زيات سرتېري او پوځيان يې له لاسه ورکړي وو، د ګډو وډو ډلو په بڼه شاتګ کاوه او په ولسي خلکو کې ورګډ بدې.

د لانژرون او دختوروف، د قطعو پاتې شونې سره ګډې وډې او د اوګوسته د کلي د ساحل د بندونو او چينو په شاوخوا کې ګڼه ګوڼه جوړه کړې او راکوټه شوي وو. لا اوه بجې نه وې، چې د کلي د بندونو ترځنګ د توپونو، هغه هم يوازې د فرانسوي هغو، د ډزو غږونه اوريدل کېدل. د ښمن د پراخينسکي د غونډيو په لمنو کې خپل ډېر توپونه ځای پر ځای کړي وو او زموږ پر هغو پوځيانو يې ډزې کولې چې ترماتې وروسته شاته روان وو.

دختوروف او ځينو نورو قوماندانانو د شاته تلونکو پوځيانو تر شا، خواره شوي ټولي بېرته راټولول، په هغو کې يې د نظم راوستولو هڅه کوله او په هغو فرانسويانو يې ډزې کولې چې زموږ تښتېدونکي پلې پوځ يې پسې اخيستی و. هوا شېبه په شېبه تياره کېده. د اوبو په هغه ډنډ کې چې هلته هغه ژرندګړی چې د لمځي خولۍ يې بر سر وه او کلونه کلونه يې په سوله او سپېڅلتيا کې کبان نيولي وو، لمسې يې بډوهلي لستوني، د غه سين رنګه الوتونکي کبان په جالۍ کې اچولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ،پر هماغه بند او نهر چې کلونه کلونه، خړجامې او لوړ خولي کليوال له خپلو دوآسيزه اسونو سره په غنموبار کراچيو کې تېرېدل او په دوړ سپين شوي سرونه او مخونه بېرته راستنېدل، داوبو په همدې نرۍ نهر کې، نن يو شمېر وګړي چې د مرګ ارواح يې په ځېرو راخورې وې، د کراچيو ،توپونو ،دځټو ،چپکړواو دآسونوتر پښو لاندې يې لاس وپښې وهلې، يو بل يې پورې وهل، د مرګ په درشل کې يې دژوند په هيله ،خپل مرګ په حال کې ملګري تر پښو لاندې کول، په هغو تېرېدل او له هغو يې وروستي سا ددې لپاره اخيستله چې خپله يو څوګامه نورهم ژوندي پاتې شي او بيا ددوی په شان سا ورکړي.

په هره لسو ثانيو کې دتوپ يوې ګولۍ دهوا ټټر سوری کاوه، ښکته راتله او ددغو پرګنو په منځ کې چاودېده، څو تنه يې وژل او دهغو په شاوخوا کسانو يې وينې ورشيندلې.دولوخوف چې اوس بيا افسر شوی و او څو تنه يې ترقوماندې لاندې و، پلی و او لاس يې ټپي شوی و.هغه ددوی دغونډ سپور قوماندان او دده تر قوماندې لاندې دولس تنه نور، يوازيني کسان وو ،چې ددوی له غونډه ژوندي پاتې وو ،خو د وګړو اله ګولې او ګډووډو ډلو او دهغو پورې وهلودوی د ډنډ خوا او غاړې ته ورپورې وهلې وو.د دغې لارې په پيل کې، دهر اړخيز زورزياتي له امله له تګ نه پاتې شول، ودرېدل، ځکه له دوی نه څو ګامه لرې، يو آس توپ لاندې شوی و او سرتېرو هڅه کوله هغه له توپ لاندې راوباسي.دهغو شاته يو څوک دتوپ په ګولۍ لګېدلی واو بله ګولۍ يې ترمخې ولګېده او وينه يې پر دولوخوف ورواوله.ډلو له زوره او په وحشت وزمه انساني څپو سره، وړاندې زور واهه او هرڅه چې يې پرمخ ورتلل پورې وهل يې.....

د دغو تښتېدونکو هريوه په زړه کې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کېدای شي یو ازې سل ګامه نور، ژوندي پاتي شو، خو که یو دوې دقیقې نورې دلته پاتې شو، نو شاید ووژل شو.

دولوخوف، چې د ګڼه ګوڼې په منځ کې ولاړ و، دوه سرتېرې یې پورې وهل او ځان یې په زوره داوبو غاړې ته ورساوه، د کنګل هغې ټوټې ته یې چې په اوبو کې ښپښپانده وه، ورودانګل او یو توپچي ته یې ورغږ کړ:

-د توپ مخه دې واړوه او راښکته شه. دې خواته، کنګل ته راودانګه.

هغه د کنګل پر هغې توټې چې ترپښو لاندې یې، ماتېده، توپونه وهل او وې ویل:

-راځه! نه ماتېږي.

کنګل د هغه د درېدو توان لاره، خو زنګېده او کرار کرار ماتېده. خو دا ښکاره خبره وه چې نه یې د توپ او نه یې د نورو ګڼو سرتېرو او آن چې ډېر ژر به یې دده د وزن زور هم نه لرلای. ټولو هغه ته کتل او داوبو خواته یې یرغل وروړ، خو دا زړه یې نه کاوه چې پر کنګل ګام ورکېږدي. د غونډ قوماندان پر خپله آس سپور، په اوبو کې بند و، لاس یې لوړ او خوله یې پرانستې وه، چې دولوخوف ته څه ووایي. په دې وخت کې ناڅاپه دوی ته نېږدې د خلکو په سر د توپ یوې ګولۍ داسې غړمبهار جوړ کړ، چې ټول سر ټیټېدو ته اړ شول. یو بل څه هم راغوځار شول، داسې شرپ یې وکړ، چې تا به ویل په کوم لامده ځای یا شي لګېدلي وي. جنرال او آس په وینو کې ولوېدل. هېڅچا ورونه کتل او نه یې څوک د راپورته کېدو په خیال کې شول.

د جنرال تر لګېدو وروسته یو شرو شور جوړ شو:

-ښکته لاړ شه! کنګل ته وروا وړه! تاته وایم کنګل ته وروا وړه! نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوري، څه وايم؟درځه !ناري وي، چغې وي او نه پوهېدل چې څوک څه وايي او څه غواړي.

د شا له خوا نه داوبو ورخ ته رارسېدلی یوبند شوی توپ،لاره بدله کړه او پر کنګل وروخوت. هغه سرتېری چې تر ټولو نه مخکې و ، کنګل یې تر پښو لاندې مات او یوه پښه یې په اوبو کې ډوبه شوه. سرتېري هڅه وکړه چې پښه له اوبو راوباسي، بیا سم ودرېږي، خو تر ملا پورې په اوبو کې ډوب شو. هغه سرتېري چې هغه ته نږدې وو ، په شک او ګمان کې شول او قدمونه یې سست کړل. هغه سرتېری چې له توپ وړونکي آس سره مل و ،ودرېد ،خو د هغه له شانه یوه چیغه واورېدل شوه:

-درځه !وړاندې درځه ولې ودرېدئ ؟

- ژرکوه ،ښکته خوا ته لاړ شه. د خلکو له ډلې نه، له وېرې ډکې چغې او ناري اورېدل کېدې. هغه سرتېري چې له توپ نه راتاو وو ،د لاسونو په خوځولو ،ټېلو او وهلو ټکولو آسونه وړاندې تګ ته هڅول. په پای کې آسونه کنګل ته ور وختل. کنګل چې لاتر اوسه د پلیو د درېدو زور درلود ،دآسونو پر ورختو سره مات، یوه لویه ټوټه ترې ببله او په اوبو کې ډوبه شوه. هغه دیرش څلویښت تنه سرتېري چې پر هغه ولاړ وو ،چا ځان وړاندې، چا وروسته، چایو پلو او چا بل پلو ارتېرل، ځینو خو پر یو بل پورې ځانونه ځوړندول او ځان او نوریې ډوبول. د توپ ګولیو په پرله پسې ډول غړمبهاري او شروشور جوړ کړی و او د کنګل پرمخ، په اوبو او په تېره بیا دهغو سرتېرو په منځ کې چې په اوبو او یا ساحل کې راګیر شوي وو ،لوېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

سردار اندري بالکونسکي، د پرانخ پر غونډۍ، پر هماغه ځای کې چې، علم(جنډه ) په لاس لوېدلی، پروت و. له ټپو نه یې وینې بهېدلې او خپله هم نه پوهېده چې له زړه زورونکي درد نه، د ماشومانو په څېر نری نری زګېروی کوي.

لمر لوېد ،نېږدې و ، چې زګېروی یې بند شو. سردار اندري په دې نه پوهېده چې ،هغه څه موده بې سده و. ناڅاپه یې بیا د ژوند یتوب احساس وکړ. له هغه درد نه چې ککره یې ورته الوزوله، سخت زورېده.

هغه لومړنی خیال یې چې پرذهن راخور شو ،دا وچې:

-چېرې دی هغه هسک آسمان چې لاتر اوسه ما نه پېژانده او نن مې ولید ؟

هغه له ځانسره ویل:

-دا زورېدل هم مانه پېژندل، هو کې، ماهېڅ څه، هېڅ څه تر اوسه نه پېژندل.دا زه چېرې یم؟

غوږونه یې ځک کړل او د رانېږدې کېدونکو آسونو دګامونو او په فرانسوي دغږېدا غږ یې واورېد. سترګې یې پرانستې ،هماغه هسک آسمان یې پر سر ولاړ و چې تر پخوانه لوړ کنډک کنډک وریځ یې په کراره په غېږ کې ګرځېدلې. مخ یې وانه ړاوه ،خو هغه کسان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دآسونو د سمونو او ددوی د خپلې غرېدا غږ، ده ته راته، دده خواته راغلل. هغوی که څه هم دده پر سر ولاړ وو، خو ده نه لیدل.

ده ته نږدې شوي سپاره، ناپلیون او د هغه دوه یاوران وو. بناپارت دجګړې ډګرکوت، د اوګوست پرنهر، دیرغل کوونکو توپونو دپیاوړتیا وروستي فرمانونه یې ورکول او د وژل شویو او په ډګر کې د پاتې شویو ټپیانو ننداره یې کوله.

یوه وژل شوي روسي سرتېري ته یې چې پر ټټر لوېدلی، بشره یې په خاورو کې خښه شوې، څټ یې تور شوی او لاس یې چې اوس نو، چور شنډ شوی و، وویل:

-څه ویاړمن وګړي دي!

په دې وخت کې له هغه توپچي پوځونو نه، یو سپور یاور چې د اوبو پر نهر یې ډزې کولې، راورسېد او وې ویل:

-معظم ټولواک! نور نو، د توپونو ګولۍ خلاصې شوې دي.

ناپلیون وویل:

-لاړ شه! او له زېرمونه ګټه واخلئ.

څوګامه وړاندې راغلی. د سردار اندرې ته نږدې چې، پر شا پروت و او د پوځ جنډه یې ترڅنګ پرته وه، ودرېد. خپله جنډه فرانسویانو وړې وه.

ناپلیون چې بالکونسکي، ته وکتل، وې ویل:

- څه پرتمین مرګ!

سردار اندرې، پوه شو چې ناپلیون دی او دده په اړه غږېږي. او رېدل یې چې ددې خبرو ویناوال ته "اعلحضرت" وایي، خو دده په غوږ کې داوینا لکه د مچانو، بنګهاري داسې راته. هغه نه یوازې دا چې د بناپارت خبرو ته پاملرنه ونه کړه، نو سمدلاسه یې هغه هېرې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې.هغه دا سې انګېرله چې سريې اوراخيستی دی.هسې يې احسا سوله چې وينه يې په ځان کې وچه شوې ده او لړې لړې يې هسک هسک آسمان سرپورې ليده.هغه پوهېده چې دانا پليون و.دده دخيالونو اتل، خو په دې شېبه کې ناپليون،دهغه څه په پرتله چې دده،دبې پايه هسک آسمان او په هغه کې د زغليدونکو وريځو ترمنځ تېرېدل دده تر سترګو خوراکوچنی اوبېنوا وبرېښېد.

په هغه شېبه کې، دهغه لپاره دې هېڅ اهميت نه لاره چې څوک يې سر پورې ولاړ دي،دهغه په اړه څه وايي،خو دی يوازې په دې خوشاله و ،چې خلک ده ته نېږدې ولاړ وو ،مرسته يې ورسره کوله،دژوندي کېدو هڅه يې کوله،هغه ژوند چې اوس يې تر سترګو خورا ښکلي برېښېده.هغه اوس ژوند ته په بله سترګه کتل او له هغې نه يې بله معني اخيسته.خپل ټول توان يې راټول کړ،چې وخوځېږي او ژوندويو ته خپل غږ ورورسوي.پښه يې لږ وښوروله، د زړه له تل نه يې له درد او رنځ نه ډک زګيروي راويستل.دا سې رنځور زګيروي چې خپله يې هم په ځان زړه خوږ شو.

ناپليون وويل:

-او !ژوندی دی،دا ځوان پورته کړئ او دلومړنيو مرستو مرکز ته يې ورسوئ.

ناپليون دا وويل اودمارشال لينو ،هرکلي ته چې خولۍ يې له سره پورته کړې او په موسکا موسکا يې ده ته دبرې مبارکي ويله او دده خواته راروان و ،ورغی.

سردار اندرې،نور نو په هېڅ څه نه پوهېده ، هغه يې پر کراچۍ وغځواوه،دکراچۍ ټکانونو او دهغه دپرهارو درد هغه چور بېسده کړی و.نېږدې ماښام و ،چې هغه يې روغتون ته،نورو ټپي روسي اسيرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسرانو ته وروست.په سد شو.دلېږدېدو په اوږدو کې و ،چې په حال شو ،ويې کولای شو سترګې وغړوي،سر يې واړاوه، شاوخوايې وکتل او آن خبرې يې پيل کړې.

هغـه لـومړنی خبـرې چې سـردار انـدرې لـه بېسـد تيانه تـر راوتلـو وروسته واورېدې،دلوژستيک دافسر خبرې وې،چې تند ،تند غږېده او ويل يې:

- همدلتـه بايـد ودرېږو ،اعليحضـرت ټولـواک اوس لـه همـدې ځايـه تېرېږي او ددغو ښاغلو اسيرانو له ليدو به خوند واخلي.

يو بل افسر وويل:

-نن روسي پوځي اسيران دومره ډېر دي،چې شمېريې هم نا څرګند دی،داسې تصـور کېـږي چې د روس ټول پـوځ اسـير شـوی وي،کېدای شي ټولواک ددوی په ليدو بې حوصلې شي.

لومړی افسر،يوروسي ټيپي اسيرته چې،دسورو سپينه دريشـي يـې اغوستې وه،اشاره وکړه او وې ويل:

- خو خلک داسې وايي چې،دغه د ټولواک الکساندر د پوځ يو ستر قوماندان دی.

بالکونسکي،شـهزاده رپـنين وپېژانـد ،ده هغـه،دسـن پـترزبـورګ لـه وختونـو نـه پېژانـد.دهغـه ترخنـګ يـو نـولس کلـن ځـوان ولاړو.هغـه هـم پوځي افسرو او ټيپي شوی و.

بناپارت،يرغه راته او آسپ يې ودراوه.

هغه داسيرانو په ليدو وويل:

-مشر مو څوک دی؟

ډګروال، شهزاده رپنين ته ورغږ کړ.

ناپليون وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو دټولواک الکساندر، دغونډ قوماندان یاستئ؟
رپنین ځواب ورکړ:
-زه د سواره پوځ قوماندان وم.
ناپلیون وویل:
- ستاسو غونډ، خپله دنده په مېړانې او سربښندنې ترسره کړه.
رپنین وویل:
-د یوه لوی مشر قوماندان ستاینه، دهغه د سرتېرو لپاره ترټولو ستر سوغات دی.
ناپلیون وپوښتل:
-خورا خوشاله یم، چې دغه سوغات تاسو ته ډالۍ کوم.ښه! دغه ستاسو په څنګ کې ځوان څوک دی؟
شهزاده رپنین، بربډګی سوختلن ور وپېژاند.
ناپلیون، هغه ځوان ته وکتل او په خندا یې وویل:
- په دې کم عمر راغلی چې له موږ سره وجنګېږي.
سوختلن په پرې پرې غږېدا وویل:
- ځواني، دمېړانې مخه نه نیسي.
ناپلیون، وویل:
-خورا ښه ځواني لري، ځوانه! لویو منصبونو ته به ورسېږي.
سرداراندرې چې داسیرانو د درناوي په نامه په لومړي کتار کې درول شوی و، هرو مرویې ځان ته پام وراړاوه.دا ښکاره خبره وه چې د اسیرانو په اړه ناپلیون ته په سپارل شوې پاڼه کې به د سرداراندرې په اړه معلومات وړاندې شوي و، نوځکه یې له هغه سره هم دمخامخ کېدو په وخت کې د "ځوان "کلمه وکاروله او داندرې په لیدو به فرانسوي اعلیحضرت ته ددوی لومړنۍ کتنه هم وریاده شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپليون وويل:

-ښه ځوانه ! تاسو څنګه ياست؟حال مو څنګه دى بازه؟

که څه هم سردار اندرې پنځه دقيقې مخکې هم، هغو سرتېرو ته چې دى يې لېږداوه، يو څو خبرې وکړې، اوس يې مخامخ د ناپليون سترګو ته کتل او چوپه خوله و.هغه څه چې د سردار اندرې خيال يې پسې اخيستى و، هغه خپله ناپليون و، چې د اندرې لپاره يو اتل و، د هغه وروستۍ برياوې،دا ټول او ټول د هغه مينه ناک،له ټولو بندونو نه خپلواک او هسک آسمان په وړاندې چې ده اوس ليده،دومره خوار، سپک او نه ځلېدونکي وبرېښېدل چې ويې نه شو کولاى،ځواب ورته پيدا کړي....

اندرې ته هرڅه بې معنې او سپک برېښېدل.هغه د ناپليون سترګو ته کتل او د پرتم بې پرتمۍ او دژوند سپکاوي ته چې، هېڅوک د هغه په راز نه پوهېدل او د مرګ پر بابېزوالي يې چې ژوندي له هغه ناخبره او د هغه په اړه ناپوه وو ،فکر کاوه.

ټولواک،ځواب ته سترګه په لاره نه شو ،مخ يې واړاوه او لرې لاړ او يو قوماندان ته يې وويل:

- د دې ښاغلو ځارنه او پالنه وکړئ،هغوى زما قرارګاه ته ولېږدوئ او سپارښتنه وکړئ چې زما ځانګړي داکتر "لاره "د هغو ټپونه وګوري.شهزاده رپنينه دليدو په هيله !

دا يې وويل،آس يې په ګېډه وواهه او په ترات لاړ.

د هغې پر څېرې،دبرى ،ځانستاينې او غرور څپې راخورې وې.

هغو سرتېرو چې سردار اندرې يې په کراچۍ کې لېږداوه،له هغه نه يې هغه سپېڅلى شمايل چې شهزادګۍ ماريا غاړه کې وراچولى و ،پټ کړى و ،خو کله چې يې د ټولواک ځانګړې پاملرنه د اسيرانو په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدله، هغه غنیمت یې بېرته خاوند ته وروسپاره.

سرداراندرې ونه لیدل چې چا او څنګه هغه سپېڅلی شمایل بېرته دده په غاړه کې ورځوړند کړی و، خو هرڅنګه چې و، هغه ناڅاپه شمایل دجامو پر سر په زرین تار کې په خپل ټټر ولید.

سردار اندرې، دغه شمایل ته چې خوریې په خورا ژور احساس او د زړه له کومې دهغه په غاړه کې وراچولي و، وکتل او ځانسره یې وویل:

- څومره به ښه وای، که ټول شیان هغه شان آسانه او ساده وي، چې شهزادګۍ ماریا دهغې تصور کوي.څومره به ښه وای که انسان پوهېدای، په دې نړۍ کې دمرستې او خواخوږۍ لپاره چېرته او چاته ورودانګي او له مرګه وروسته دخاورو په زړه کې څه ته سترګه په لاره واوسي.زه به څومره نیکمرغه او آرامه وای، که مې په دې شېبه کې ویلای شوای:

-یاپروردګاره(ج ) رحم وکړه !څه لویه نیکمرغي او هوساینه !نه پوهېږم کوم دربارته د خوارۍ او بندګۍ غاړه کېږدم؟دلوی قدرت په وړاندې، په رازونو کې نغښتې او زموږ له تصور نه لرې ،داسې لرې چې نه یوازې نه شم کولای هغه ته پناه ورووړم،له هغه سره دزړه خواله وکړم، بلکې نه شم کولای د "ستر " او "هېڅ "په نامه وستایمه "،او یا د همدغه شمایل په وړاندې چې زما پر همدې ټټر ځړوند دی او شهزادګۍ ماریا زما په دې غاړه کې ځوړند کړی دی؟هېڅ څه، هېڅ څه، پرته له هغه بې معنی والي نه چې زه پرې پوهېږم، بل څه حقیقت نه لري...

کراچۍ وخوځېده.دهغه هرټکان زغم نه منونکی درد له ځانسره لاره. تبه او اپلتې یې لا زیاتې شوې.دپلار، مېرمنې، خور، دخپل راتلونکي ماشوم ،د جګړې مخکې دشپې ښکلي او ښایسته خیالونه، دناپلیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمکی، سپک او خوارځان او دا هسک لوړ آسمان دهغه دخیالاتو، خیالونه وو.

دلیسه ګورې په ځنګلونو کې یې آرامه نیکمرغه کورني ژوند وریاد شو. د همدې نیکمرغۍ په خیالونو کې ډوب و چې ناڅاپه دناپلیون،دهغه کمکی ځان،دهغه تنګې ځیرمنې سترګې او دنورو له بدمرغۍ نه خوشاله څېره ،دهغه سترګو ته ودرېده اوله هغه سره مل بیا پر هغه د درد ،عذاب او شک درنه څپه راخوره شوه.یوازې هسک آسمان و چې د آرامۍ زیری یې درلود.سپیده داغ و چې دخیالونو څپې لاهو او په یو تورتم بدلې شوې،نه یوازې تورتم،بېسدۍ، هېرتیا او دناپلیون دځانګړي ډاکتر په وینا ، زیاتره د مرګ نوغي وو ، نه د روغتیا زېری.

ډاکترلاره وویل:

-دا ناروغ عصبي او د صفرا ناروغي لري،هغه به ژوندی پاتې نه شي.

سرداراندرې یې له هغو نورو ناهیلو ناروغانو سره چې دجوړېدو تمه یې نه وه، د سیمه ییزو خلکو څارنې ته وسپارل.

## د لومړي ټوک پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library